Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

# مکاشفة القلوب

## (مکمل)

## په قندهاري پښتو

تالیف:

حجة الاسلام حضرت امام غزالي رحمة الله علیه



مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روډ. کوئټه 0321-8031735

بسم الله الرحمن الرحيم

# مكاشفة القلوب

## مكمل

## په قندهاري پښتو

### تاليف

حجة الاسلام حضرت مولانا امام غزالي رحمه الله

نشرونكي

المكتبة السلطانية الهاشميه

كاسي روډ كوټه

فون

۰۳۱۴۸۰۲۹۷۳۲

۰۳۲۱۸۰۳۱۷۳۵

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

# دکتاب پیږندنه

دکتاب نوم ........................مکاشفة القلوب

تالیف..........حجة الاسلام حضرت مولانا امام غزالي رحمه الله

کمپوز .......................عابد زابلی

تصحیح اوسمون..............مولوي عبدالدیان(حلیم)

نشروونکی .................. مکتبه سلطانیه هاشمیه
ادرس ذکرسوي مکتبه کاسي روډ کوټه

اللهم احفظنا من شر کل شریر

تمت بالخیر

بسم الله الرحمن الرحيم

# دکاتب ليکنه

دامام غزالي رحمه الله تصانيف خولاتعد ولاتحصی دي لکن دده مبارک همدا کتاب مکاشفة القلوب چي موږ دهمدي کتابت وکړ په زياته اندازه باندي جالب او پرزړه کښونکوحکاياتو باندي مشتمل دی علت او سبب يه همدادی چي داکتاب دهغه تصوفي عالم اوهغه سي د ديانت، اوتقوی، رياضت، او دالله جل جلاله سره دهغه سي خاص رابطه لرونکي شخص کتاب دی چي د ده مبارک هغه مکمل سوابق اوهغه د ده په خپل ژوند کي د زندګي کارنامي دليکوال اوکاتب دتوان اوطآقت څخه د باندي خبره ده د ډيره وخته په همدي کوشش باندي وم چي دهمدي وتلي شخص دکتابونو څخه ديو کتاب مطآلعه اوياړونه وکړم د ډيره وخته وروسته دالله جل جلاله په همکاري باندي زه وهمدي مطلب ته ورسيدم چي دا حاضرکتاب مکاشفة القلوب ته مو په قندهاری پښتو کي خدمت وکړ په پښتو زبان کي مو د دي کتابت وکړ.
الله جل جلاله دي دمؤلف او داسي نورو کوشش کونکو دپاره وسيله اوسبب د خير و ګرزوي او الله جل جلاله دي سبب دخپلي رضا وګرزوي امين.

کاتب الحروف مولوي عبدالديان (حليم)
فاضل جامعه محمديه منان چوک کوئټه
فون شميره
۰۳۴۴۸۰۱۹۷۸۷

بسم الله الرحمن الرحيم

# دامام غزالي رحمه الله لنډه پیژندنه

ابوحامد محمدبن محمد الغزالي چه لقب یې حجة الاسلام زین الدین طوسي وو یونوي فقیه، اصولي، صوفي، حکیم، متکلم، له ګڼو علوموڅخه خبردار وو په طوس کي په کال(۴۵۰ه)کي زېږېدلی دي.

حکایت ده چه دهغه رحمه الله پلار یونیک اوصالح سړئ ووهغه به دخپل لاس په محنت اوخواري روزي پیدا کوله خوړله به یې دهغه کسب دوړیو پیچل اوپه دوکان کي خرڅول وو کله چه هغه مرګ ته نژدي سو دخپل قوم یومشر چه حامد زارکاني نومیدي دخپلو دواړو زامنو شیخ احمدْ غزالي اوشیخ محمد غزالي په اړه یې هغه ته وصیت وکړ چه په دغو دواړو دي دیني سبقان ووایې څه چه ماپه میراث کي پري ایښي دي هغه دي دعلم په زده کړه کي مصرف کي په هغه وخت کي دمحمد غزالي عمرپنځلس کاله دهغه دکشر ورور عمر دوولس کاله وو کله چه دهغوي دپلار او دهغه ددوست زارکاني سرمایه خلاصه سوه دطوس په مدرسه کي یې داخل کړل غزالي رحمه الله دامدرسه پرېښووله جرجان ته ولاړئ هلته یې دمشهور عالم دین استاد امام ابونصر اسماعیل څخه علوم زده کړل دعلم لویه زخیره یې له ځانه سره ولیکله بیرته طوس ته راغئ له هغه ځایه نیشاپورته ولاړئ هلته یې دامام الحرمین ابو المعاني جویني څخه چه ډیرلوي اوستر دیني عالم وو خپله علمي تنده ماته کړه دنورو علوموترڅنګ یې دمناظري علم، علم الکلام، اوفلسفي درسونه وویل اوپه دغه علوموکي یې دومره مهارت ترلاسه کړ چه په دري سوه شاګردانو کي یې لمړئ نمبر ترلاسه کړامام صاحب داته ویشت(۲۸)کالو په عمرکي ټول متداول علمونه زده کړل اودده مبارک دپوهني او زیرک والي اوازي په هرځای اوهرمحل کي خپري سوي کله چه په(۴۷۸ه)امام الحرمین وفات سونو دعلم سره مینه لرونکي خواجه نظام الملک له محمد غزالي څخه غوښتنه وکړه چه هغه دبغداد دمدرسي صدارت په غاړه واخلی مګرامام غزالي رحمه الله ددي څخه انکار وکړ کله چه دبغداد لوی مدرس

علامه حسين بن علي طبري وفات سو نوخواجه نظام الملک طوسي امام غزالي دهغه پرځاي مقررکړ هغه دامنصب قبول کړ په سنه(۴۸۴هـ)کي يې عملا تدريس شروع کړ تر(۴۸۸هـ)پوري يې دغه خدمت ته دوام ورکړ په دي وخت کي هغه زيات کتابونه هم تصنيف کړل زياته مطالعه يې وکړه حجة الاسلام د(۵۵) کالوپه عمر دسهارپه وخت ددوشنبي په ورځ دجمادي الاولي په(۱۴)تاريخ (۵۰۵هـ) کال کي ددنيا څخه سترګي پټي کړي په طوس کي دايران دمشهور شاعر فردوسي قبرته نژدي خاوروته وسپارل سوعلامه ابن جوزي رحمه الله په خپل کتاب(الثبات عندالممات) کي دامام غزالي دمرګ په اړه دهغه دورور احمد غزالي د خوني ليکي چه زماورور ابوحامد غزالي ددوشنبي په ورځ دسهار په وخت اودس وکړ لمونځ يې وکړ بيايې خپل کفن راواخستئ هغه يې مچ کړ پرسترګو يې کښېښوو ي سمعنا او اطعنايې وويل مخ په قبله سو پښي يې وغزولي خپل روح يې الله جل جلاله ته وسپارئ.

## دامام غزالي رحمه الله تصنيفونه

(۱)احياء علوم الدين .(۲)البسيط فی الفقه.(۳)مقاصد الفلاسفة .(۴)تهافة الفلاسفة .(۵)بداية الهداية .(۶)المنقذمن الضلال .(۷)معارج القدس فی احوال النفس .(۸)الفرق بين الصالح وغيرالصالح .(۹)الاملاء عن اشكالات الاحياء .(۱۰)المستصفي من علم الاصول.(۱۱)المقصد الاسني في شرح اسماء الله الحسني .(۱۲)الوقف والابتداء في التفسير .(۱۳)ميزان العمل .(۱۴)الاقتصاد في الاعتقاد .(۱۵)تنزيه القرآن علي المطاعن .(۱۶)الدرة الفاخرة في کشف علوم الآخرة .(۱۷)رسالة ايها الولد .(۱۸)التبرء المسبوک في نصيحة الملوک .(۱۹) المستضنون به علي غير اهله.(۲۰)فضايح البانية.(۲۱)فيصل التفرقة بين الاسلام والزندقة .(۲۲)عقيدة اهل السنة .(۲۳)شفاء العليل في اصول الفقه . (۲۴) تلبيس ابليس .(۲۵)محک النظر .(۲۶)المنخول من علم الاصول .(۲۷) الغاية القصوي .(۲۸)الجام العوام عن الکلام .(۲۹)خلق المسلم.

## باب اول دخوف يعني(واهمې)بيان

دنبي کريم صلی الله علیه وسلم څخه روايت ده چه الله جل جلاله يوه ملائکه پيداکړيده ددوارو وزرو تر منځ يې دآسمان اومځکي په شان فاصله ده سريې ترعرش لاندي پښي يې په تحت الثري کي دي دمځکي دمخلوق دسرو په اندازه دهغې پښي دي زمادامت څخه چه کوم سړي يابنځه پرما درود ووايې دغه ملائکي ته دالله جل جلاله حکم کيږي ترعرش لاندي په بحرکي غوټه سي کله

چه هغه په دي بحرکي غوټه سي بيابيرته راووزي خپل وزر وڅندي له هغه څخه څاڅکي تونيږي الله ﷻ دهغه دهري قطري څخه يوه يوه ملائکه پيدا کوي هغه ترقيامته پوري ده ته دمغفرت دعاکوي ديوهوښيار سړي وينا ده چه دجسم سلامتيا په لږ خوراک کي اودروح بقا په لږو ګناهونوکي ده دايمان سلامتيا پرمحمد ﷺدرود اوسلام په ويلوکي ده الله ﷻ فرمايي : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ ژباړه : اي مؤمنانو له الله ﷻ څخه وبيريږئ په زړه کي ويره پيداکړئ دهغه اطاعت اوفرمانبرداري وکړئ : والتنظر نفس ماقدمت لغد انسان دي وګوري چه هغه دصبالپاره څه کړي دي مطلب داچه دحساب اوکتاب دورځي لپاره يي څه کړي دي ددي مطلب داده چه خيرات اونيک عمل کوئ څکه چه دقيامت په ورځ مڅکه، ملائکي، آسمان، شپه، ورځ، ټول په دي خبره شاهدي ورکوي چه انسان دغه ټول کارونه که دنيکۍ وي که دبدۍ دالله ﷻ اطاعت يي کړي وي اوکه نافرماني آن داچه دانسان اعضاء هم دهغه په خلاف شاهدي ورکوي دايماندار اومتقي انسان په حق کي مڅکه شاهدي ورکوي مڅکه وايي چه دغه انسان زماپر سرلمنځونه کړي دي اوس دده لپاره هلاکت اوبربادي ده که الله ﷻ سخت حساب اوکتاب ورسره وکي دايمان خاوند هغه ده چه دجسم دټولو اعضاوو سره دالله ﷻ څخه وبيريږئ لکه فقيه ابو الليث چه فرمايي په اوو شيانو کي دالله ﷻ دخوف بيري علامي معلوميږي دهغه ژبه له غلطوخبرو، غيبت، چغلي، تهمت، او چټياتو، څخه محفوظ وي دهغه له زړه څخه عداوت، بهتان، حسد. ووزي څکه چه حسد نيکي خوري دمحمد ﷺ ارشاد ده : الحسد يأكل الحسنات كما تأكل النار الحطب حسد نيکياني داسي سوځي لکه څنګه چه اور لرګي سوځي حسد دزړه له ډيرو بدو ناروغيو څخه ده دزړه دوايي يوازي او يوازي په عمل سره کيداي سي دهغه نظر اوسترګي بايد دحرامو شيانو څخه محفوظي وي دنياته دلالچ اوتمي په سترګه ونه ګوري بلکه يوازي دعبرت اخستو لپاره ورته وګوري لکه نبي کريم ﷺچه فرمايلي دي : من ملأعينيه من الحرام ملأالله تعالى يوم القيامة عينيه من النار. ژباړه : چاچه خپلي سترګي په حرامو ډکي کړي الله ﷻ به دقيامت په ورځ دهغه سترګي له اوره څخه ډکي کړي دهغه په ګيډه کي بايد حرامه غذا ولاړه نسي څکه چه دحرامو غذا خوړل لويه ګناه ده نبي کريم ﷺفرمايلي دي : اذا وقعت لقمة من الحرام في بطن ابن آدم لعنه كل ملك فى الارض والسماء مادامت تلك اللقمة في بطنه وان مات علي تلك الحالة فمأواه جهنم ژباړه : يعني کله چه بني آدم حرام خوراک وکړي دمځکي اوآسمان ملائکي پرهغه لعنت وايي ترهغه وخته پوري ترڅو چه دغه خوراک دده له نس څخه وزي

که په دا حال کي مړسي د هغه ځاي به جهنم وي حراموته به لاس نه ورووړي بلکه کوشش به کوي چه خپل لاس دالله ﷻ په اطاعت کي خپل لاس اوږده کي دحضرت کعب احبار ﷺ څخه روايت ده چه الله تبارک وتعالی شنو زبرجد و يو محل پيدا کړي ده په هغه کي کورونه دي په هرکورکي اويازره کوتي دي په دي کي به داسي خلګ داخليږي چه هغه دالله تبارک وتعالی بيري له وجه له حراموڅخه ځان ساتلئ وي دهغه قدم دالله تبارک وتعالی په نافرماني کي پورته نسي بلکه دهغه داطاعت اوخوشحالي لپاره پورته سي هغه ته خالص دالله تبارک وتعالی عبادت پکارده له منافقت اورياکاري څخه دي ځان ساتي که داسي وکړي په هغو خلګو کي به شامل سي چه دهغو په حق کي الله ﷻ فرمايلي دي : وَالآخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ آخرت دمتقيانو لپاره ده په بل آيت شريف کي الله ﷻ فرمايي : إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ متقيان به دامن په ځاي کي وي الله ﷻ فرمايي چه دغه متقيان او پرهيز ګاران خلګ به دقيامت په ورځ له دوږخ څخه نجات پيداکوي ايماندارسړي ته په کارده چه د اوميداوبيري په حالت کي اوسي له الله ﷻ څخه دي نه نااميده کيږي دالله ﷻ عبادت دي وکي له بدوکاروڅخه دي ځان وساتي په بشړه توګه دي دالله ﷻ بندګي وکي.

## باب دويم دالله ﷻ څخه دبيري بيان

جناب ابو الليث رحمه الله فرمايي چه په اووم آسمان کي دالله تبارک وتعالی داسي ملائکي دي چه دکوم وخت څخه الله تبارک وتعالی هغه پيداکړي دي تراوسه پوري پرسجده پرتي دي دالله تبارک وتعالی له عذابه بيريږي کله چه دقيامت په ورځ سرله سجدي راپورته کي نوووايي سبحانک ماعبدناک حق عبادتک اي الله تبارک وتعالی پاکي ده تاله موږ ستا کماحقه عبادت نه ده کړي دالله تبارک وتعالی مبارک آيت شريف ده يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ملائکي له خپل رب تبارک وتعالی څخه بيريږي دکوم شي امرچه ورته وکي هم هغه کوي ديوي لمحي لپاره هم سرغړونه نه کوي رسول الله ﷺ فرمايي اذا اقشعر جسد العبد من خشية الله تعالى تحاتت عنه ذنوبه کما يتحات عن الشجرة ورقها کله چه يوانسان دالله تبارک وتعالی له بيري څخه ولړزيږي دهغه ګناه داسي تويږي لکه درخته چه وښوروي اوپاڼي څني توئيږي. **حکايت**: يوځوان پريوي ښځي عاشق سوهغه ښځه له يوقافلي سره يوخوا ته ولاړه چه هغه ځوان خبرسو هغه هم وړسي ولاړي قافله چه دشپي ويو دښت ته ورسيده هغه شپه يې هلته واړول چه خلګ بيده سول هغه ځوان وهغي ښځي ته ځان ورساوو ورته ويې ويل چه زه له تاسره ډيره مينه لرم ځکه زه له قافلي سره يوځاي په تاپسي راغلم ښځي وويل چه ته وګوره څوک خوويښ نه دي ځوان په ډيره

خوشحالي سره پرقافله شاوخوا راوګرځيدي راغلئ ښځي ته يې وويل چه ته‌ولـه قافله ليدله ده ښځي ورته وويل دالله ﷻ په باره کي ستاڅه خيال ده ايا هغه هم ليدلى ده؟ ځوان وويل چه الله ﷻ خو نه ليدل کيږي ښځي ورته وويل له هغه څخه ويره په کار ده هغه خو موږ وينې ځوان چه دښځي خبري واوريدي دالله ﷻ له ويري څخه په لړزه سو له خپلې غلطي ارادي څخه واوښتئ واپس کورته راغئ روايت ده چه کله هغه ځوان مړسو چاپه خوب کي وليدئ پوښتنه يې ځني وکړه چه پرتاڅه تيرسول ځوان جواب ورکړ چه ما دالله ﷻ له ويري څخه يوه ګناه ايله کړه دهغه په وجه الله ﷻ زما ګناه معاف کړه . **حکايت**: په مجمع اللطايف کي دي چه په بني اسرائيلوکي يوعابدسړي ووهغه عيالداروو غريب سو چه هغه ډيرزيات پريشانه سو خپلي ښځي ته يې وويل ولاړه سه له يوچاڅخه يوشئ وغواړه ښځه ولاړه له يوتاجرڅخه يې يوشي وغوښتل تاجر ورته وويل که ته زماحاجت راپوره کړي زه به ستاهره غوښتنه ومنم ښځه بيرته په پټه خوله خالي لاس کورته ولاړه ماشومانو چه خپله مور خالي لاس ونيده په ژړاسول ورته ويې ويل اي موري موږ له لوږي مړو موږ ته څه خواړه راکه ښځه يـ دمجبوريت په خاطردهغه تاجرخواته ولاړه دخوړلو سوال يې ورڅخه وکړ تاجر يـا هغه خبره ورته وکړه ښځه داوار دمجبوريت په خاطر رضاسوه کله چه دوي دواړه کوټي ته سول پرښځه لړزه راغله تاجرپوښتنه ځني وکړه له څـي ويريږي؟ هغي ورته وويل دهغه لايزال خداي ﷻ څخه ويريږم چه موږ يې پيداکړي يوتاجر وويل ته چه دغربت په حالت کي هم دومره له الله ﷻ څخه ويريږي نوماته هم پکارده چه دالله ﷻ څخه وويريږم داخبره يې وکړه ښځي ته يې ډيرمال ورکړ په ډير عزت سره يې رخصت کړه الله ﷻ دهغه وخت پيغمبر موسى عليه السلام ته وحي وليږله چه فلانى دفلاني زوي ته ورسه هغه ته زماسلام ورايه زيري ورکه چه ما دهغه ټول ګناهونه وبخښل موسى عليه السلام دالله ﷻ دحکم مطابق تاجر ته ورغى ورته ويې ويل ايا تاکومه نيکي کړيده چه دهغه په وجه الله ﷻ ستاګناهونه معاف کړيدي؟ تاجردموسى عليه السلام په جواب کي خپله ټوله واقعه بيان کړه حضرت محمد ﷺ فرمايلي دي چه الله ﷻ فرمايي زه پرخپل بنده دوي ويري اودوه امنه له جمع کوم کم سړي چه په دنيا کي زماد عذابه ويريږي هغه زه په آخرت کي له ويري څخه په امن کي کوم ليکن کوم سړي چه په دنياکي زمادعذابه څخه نه ويريږي هغه زه دقيامت په ورځ ويروم عذاب ورباندي نازلوم الله ﷻ فرمايي فَلاَ تَخۡشَوُاْ النَّاسَ وَاخۡشَوۡنِ تاسي دخلکو څخه مه ويريږئ بلکه له ماڅخه وويريږئ فَلاَ تَخَافُوهُمۡ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ که تاسي مؤمنان ياست نو د خلکو څخه مه ويريږئ بلکه له ماڅخه وويريږئ.

**له الله ﷻ څخه دحضرت عمر ؓ ویره**:کله چه به حضرت عمر ؓ دقرآن کریم کوم آیت وایه له ېیرې څخه به بیهوښه سویوه ورځ یې یو ډیک ونیوی اوویې ویل کاشکي زه دغه ډیک وای کاشکي زه مورنه وای پیداکړې هغه به دالله ﷻ له ېیرې څخه دومره وژړل چه دهغه ؓ پرمخ باندې به داوښکو دبهیدو له امله دوې توري نښې پیداسوې وې نبي کریم ﷺ فرمایلې دي لايلج النار من بكي من خشية الله حتي يعوداللبن في الفزع کوم سړي چه دالله ﷻ له ېیرې څخه ژاړي هغه به هیڅکله هم په جهنم کې داخل نسي لکه شیدې چه دوبره په غولانځه نه داخلیږي په دقایق الاخبارکي دي چه دقیامت په ورځ به یوسړی راوستل سي چه دهغه اعمال وتلل سي دهغه دبدیو تله به درنه سي حکم به وسي چه په جهنم کي دي واچول سي په دي وخت کي به دسترګو یوبانه دالله ﷻ په حضورکي عرض کوي وبه وایې اې ذوالجلاله ربه ستانبي محمد ﷺ فرمایلې وه چه څوک دالله ﷻ له وهم څخه وژاړي الله ﷻ پرهغه باندې دجهنم اور حراموي ځکه چه هغه ستاله ېیرې څخه جړلې وو دالله ﷻ درحمت دریاب به پرجوش راسي هغه سړی به دجهنم له اوره څخه خلاص کي په دي وخت کي به جبرائیل ؑ آوازوکي چه فلانې دفلاني زوی دیوه بانو له کبله نجات پیداکړیه هدایة البدایة کي دي چه کله دقیامت په ورځ جهنم حاضرکړ سي له هغه څخه به یو هیبتناکه آواز راووزي خلګ به پرهغه دتیریدو څخه بیره کوي الله ﷻ فرمایې: وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً كُلُّ أُمَّةٍ تُدْعَىٰ إِلَىٰ كِتَابِهَا **ژباړه**:کله چه خلګ جهنم ته نږدي کیږي سخته ګرمي محسوسه وي هیبتناک آوازونه اوري چه په پنځه سوه کاله اوږد سفرکي اوریدل کیږي په دي وخت کي به هرنبي د نفسي نفسي نعري وهي اونبي کریم ﷺ به دامتي امتي اوازکوي له جهنم څخه به یواوورراپورته سي دمحمد ﷺ دامت خواته به روان سي دهغه ﷺ امت به دهغه په دفاع کي وایې ای اوره موږ تاته دلمونځ ګذارانو، روژه نیونکو، خیرات ورکوونکو ، له الله ﷻ څخه دبیریدونکو، خلګو واسطه نیسو ته له موږ څخه لیري سه مګراور به نه لیري کیږي پسي روان به وي جبرائیل ؑ به محمد ﷺ ته داوبو یوه پیاله ورکړي عرض به ورته وکړي اي دالله ﷻ نبي په دي اوبو سره دااور مړکه هغه ﷺ به پراور باندي اوبه واچوي اور به مړسي بیابه نبي کریم ﷺ ددغو اوبو په اړه پوښتنه وکي چه داڅه دي هغه ؑ به ورته ووایې چه داستادامت اوښکي دي چه دالله ﷻ دبیري له وجه یې توي کړي دي ماته حکم وسو چه دغه اوبه ستاپه خدمت کي حاضري کم ته په دي سره اور مړکي محمد ﷺ به دعاکوله چه اي الله ﷻ داسي سترګي راکي چه ستاله بیري څخه

وژاړي.

عيني هل لاتبكيان على ذنبي »«تناثر عمري من يدي ولاادري

ژباړه: اي زما دواړو سترګو زما پر ګناهونو ولې نه ژاړئ؟ زما عمر ضائع سو زه په هيڅ خبر نه يم په حديث شريف كې دي چه داسي كوم مؤمن نسته چه دهغه له سترګوڅخه دالله ﷻ دبيرې په وجه دمچ دوزر په اندازه اوښكې توې سي دهغه ګرموالې دي دهغه مخ ته ورسيږي بيا دي هم هغه په اوركې وسوځل سي كله چه به محمدبن المنذر رحمه الله دالله ﷻ له بيرې څخه ژړلځېلې اوښكې به يې په ږيره پورې موښلې ويل به يې ماورېدلې دي چه دوجود په كومه برخه چه اوښكې توې سي هغه دجهنم په اوركې نه سوځول كيږي دهرمؤمن لپاره ضروري ده چه دالله ﷻ له عذابه څخه وبيرېږي خپل ځان له نفساني خواهشاتوڅخه وساتي الله ﷻ فرمايي: فَأَمَّا مَن طَغَىٰ وَآثَرَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا فَإِنَّ الْجَحِيمَ هِيَ الْمَأْوَىٰ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَىٰ فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَىٰ. **ژباړه**: چاچه نافرماني وكړه ددنياژونديې هرڅه وګڼي دهغه ځاى به جهنم وي څوك چه دخپل رب ﷻ په مخ كې ددرېدوڅخه وبيريدى خپل نفس يې له خواهشاتوڅخه بندكړ دهغه ځاى به جنت وي كوم انسان كه غواړي چه دالهي عذاب څخه ځان وساتي اوثواب ترلاسه كړي نوهغه ته په كار ده چه په دنياوي مصيبتونو باندي صبروكړي دالله ﷻ عبادت وكي له ګناهونو څخه دي ځان وساتي په زهرالرياض كې يوحديث شريف ده چه كله جنتيان په جنت كې داخليږي ملائكې هغوي ته ډول ډول نعمتونه وړاندي كوي دهغه لپاره فرشونه غوړوي منبرونه ورته ايږدي هرډول ميوې نعمتونه مخ ته ورته ږدي په دي وخت كې به جنتيان حيران سي الله ﷻ به وفرمايي اي زمابندګانو ولي حيران ياست جنت خودحيرانتيا ځاى نه ده مؤمنان به عرض وكړي اي الله ﷻ تاچه يوه وعده كړې وه دهغې وعدي وخت رارسيدلئ ده په دي وخت كې به دالله ﷻ حكم وسي چه ددوي له مخانو دي پردي ليري سي ملائكې به عرض وكړي چه ياالله ﷻ دوي به ستاديدار څنګه وكړي؟ حال داچه په دوي كې ګنهګاروه په دي وخت كې به دالله ﷻ حكم كيږي تاسي حجاب پورته كئ هغه ذكر كوونكې، سجده كوونكې. زماله بيرې څخه جړېدونكې، زماددېدار اميدواران وه پردي به پورته سي جنتيان به دالله ﷻ په ديدارسره سم سرونه په سجده كې الله ﷻ به ورته ووايي سرونه پورته كړئ جنت دعمل كورنه ده بلكه دجزاء كورده هغه به خپل رب ﷻ بلاكيفه ويني الله ﷻ به وفرمايي: سلام عليكم عبادي فقد رضيتم عنكم فهل رضيتم عني **ژباړه**: اي زمابندګانو پرتاسي دي سلامتي وي زه له تاسوڅخه راضي يم اياتاسو له ماڅخه راضي ياست؟

جنتیان به عرض وکړي موږ به څنګه نه رضا کیږو حال دا چه تاموږ ته داسي نعمتونه راکړي دي چه نه سترګو نیدلي دي او نه غوږونو اوریدلي دي نه دچا په زړه کي دهغه خیال تیرسوی ده دغه دالله ﷻ د فرمان مقصد ده چه فرمایي،

رضي الله عنهم ورضوا عنه المائدة (۱۱۹) او فرمايي ،سلام قولا من رب رحیم یسن (۵۸).

## دریم باب دصبر او مرض بیان

کوم سړئ که غواړي چه له الهي عذاب څخه محفوظ پاته سي ثواب او رحمت ترلاسه کي جنتي سي هغه ته پکار ده چه خپل ځان له خواهشاتو څخه وساتي ددنیا په دردونو باندي صبر وکړي الله ﷻ فرمایي :والله یحب الصابرین آل عمران (۱۳۶) الله ﷻ صبرکوونکي خوښوي.

**دصبرقسمونه یعني صبر پرڅو قسمه ده**:دصبرڅو قسمونه دي دالله ﷻ پر اطاعت صبرکول، له حرامو شیانو څخه ځان ساتل، پرتکالیفو صبرکول، له اول وخت څخه پرتکلیفونو صبرکول، کوم سړئ چه پرالهي عبادت صبرکوي هروخت په عبادت کي مشغول وي هغه ته دقیامت په ورځ دري سوه داسي درجي ورکوي چه دهري یوي ترمابین به دمځکي اوآسمان فاصله وي کوم سړئ چه دالله ﷻ له حرامو شیانو څخه ځان ساتي صبرکوي هغه ته به شپږسوه درجي اومرتبي ورکول کیږي چه دهري درجي اومرتبي ترمنځ به له اووم آسمان څخه تر اوومي مځکي پوري فاصله وي کوم سړئ چه پرمصائبو باندي صبرکوي هغه ته اووه سوه درجي اومرتبي ورکول کیږي چه دهري درجي ترمنځ به دتحت الثري څخه ترعرشه پوري مسافه وي.

**قیصه**:کله چه حضرت زکریا ؑ دیهودو دحملي دوجه څخه له ښاره دباندي ووتئ چه خپل ځان پټ کړي هغه یوي درختي ته پناه یووړه ورته ویې ویل اي درختي ماته په خپله ګیډه کي پناه راکه درخته دوه خواسوه دي هلته پټ سو کله چه یهودیان هلته ورسي ورغلل شیطان ورته وویل دغه درخته په آرئ سره آره کئ هغه ووچه درخته یې په آرې سره پرې کړه داکار څکه وسو چه زکریا ع له خپل رب ﷻ څخه پناه نه وغوښتله له درختي څخه یې وغوښتله هغه خپل ځان په مصیبت کي واچاوو پرمنځ دوي توتي سو په حدیث قدسي کي الله ﷻ فرمایي کله چه زمابنده په مصیبت کي له ماڅخه سوال وکي زه یې هغه ته دغوښتلو څخه مخکې ورکوم دعایې قبلوم کوم سړئ چه دمصیبت په وخت کي زماله مخلوق څخه مرسته وغواړي زه پرهغه دآسمانو دروازي بندوم.

**وحضرت زكرياء عليه السلام ته داف ويلوممانعت**: روايت ده چه كله آره دزكرياء عليه السلام سرته ورسيده هغه يوآه وكړ الله ﷻ ورته وفرمايل چه اي زكرياء عليه السلام مخكې دي ولي پرمصيبت باندي صبر ونه كړچه اوس فريادكوي؟ كه دي دوهم وار فرياد وكړ ستانوم به دصابرينو له دفتره څخه وباسم ددي خبرپه اوريدو سره هغه عليه السلام خپلې شونډې بندي كړي دوي توټې سو له خولي څخه يې آه نه وايستئ هر عقلمند سړي ته په كارده چه پرمصيبتونو باندي صبروكړي په ژبه شكايت ونه كې ترڅو دآخرت له عذابه څخه نجات پيدا كي څكه چه په دي دنيا كي پرانبياء عليهم السلام اواولياء الله باندي زيات مصائب راغي .

**دصوفيانوپه نظركي دمصيبتونو حقيقت**: دحضرت جنيد بغدادي رحمه الله قول ده چه مصائب دعارفينو لپاره چراغ، دمريدانو لپاره بيداري، دمؤمنانو لپاره اصلاح، دغافلينو لپاره هلاكت ده مؤمن ترهغه پوري دايمان په حلاوت نه پوهيږي ترڅوچه پرمصيبتونو باندي صبر ونه كړي په حديث شريف كي دي چه كوم سړئ تو له شپه ناجوړه سو پرهغه يې صبر وكړ دالله ﷻ درضا غوښتونكئ سو هغه له ګناهونو څخه داسي پاكيږي لكه له موره څخه چه پيدا سوئ وي كله چه تاسي بيماره سئ دعافيت اوروغوالي طمعه مه كوئ علامه ضحاك رحمه الله وايي كوم سړئ چه په څلويښتو شپو كي يوه شپه په ناروغې اوتكليف اخته نه سي دهغه لپاره دالله ﷻ په نزد هيڅ نېكي نسته .

**دناروغه مؤمن ګناه نه ليكل كيږي**: دحضرت معاذبن جبل رضي الله عنه څخه روايت ده چه كله مؤمن بنده په ناروغۍ اخته سي دهغه دچپه اړخ ملائكي ته ويل كيږي چه دهغه د ګناهونو ليكل بندكړي دراسته اړخ ملائكې ته يې ويل كيږي چه دهغه په عمل نامه كي هغه غوره اوبهترا عمال وليكي چه هغه كړيدي په حديث شريف كي دي چه كله كوم سړئ مريض سي الله ﷻ دوي ملائكې رالستوي وګورئ چه زمابنده څه كوي كه بنده الحمدلله وايې نوملائكې دالله ﷻ په حضوركي دهغه داقول وړاندي كوي الله ﷻ ورته وفرمايي كه چيري مادغه بنده په دي مرض كي مړكئ په جنت كي به يې داخلوم كه مي صحت وركړ هغه ته به ترپخواني حال ښه غوښه اووينه وركوم ګناهونه به يې بخښم .

**يوه عبرتناكه قصه**: په بني اسرائيلو كي يوډير بد فاسق، فاجر، انسان وو له خپلې بدعملۍ څخه يې هيڅكله لاس نه اخستئ ښاريان چه كله دهغه دبد عملۍ څخه خبرسول ورڅخه تنګ سول الله ﷻ ته يې ددغه ښاردمحفوظه اومأمون كيدو دعاوكړه الله ﷻ حضرت موسي عليه السلام ته وحي وليږله چه په فلانكې ښاركي يوبدكار ځوان وسيږي هغه له ښاره څخه وباسه ترڅو چه دښارخلګ دهغه له بدعملۍ څخه خلاص سي دهغه له كله

پرښارباندي اورونه اوريږي حضرت موسی ﷺ هلته تشريف يوورړ هغه يې دکلې څخه وايستئ هغه يوغارته ولاړئ هلته نه انسان وو نه بل کوم حيوان وو شاوخوا دانسانانو ابادي هم نه معلوميده شن بوټئ هم نه معلوميدئ هغه ځوان په دغه غارکي ناروغه سو دهغه پوښتني ته هيڅوک نه راغئ نه داسي څوک وو چه دهغه خدمت يې کړئ واي هغه ډير ضعف اوکمزورئ دوجه څخه پرمخکه پرمخې غورځارسو ويې ويل کاشکي اوس زمامور موجوده واي هغې به زمامددکړئ واي که زمابنځه واي هغې به زماپرجدايې باندي جړلې واي که زماپلار زماپه څنګ کي موجوده واي هغه به پرماشفقت کړئ واي زماپردي حالت به يې ژړلې واي زمامدد به يې کړي واي که زمابچيان واي هغوي به الله ﷻ ته دعاکړي واي چه اي الله ﷻ زمادپلار ګناهونه معاف کړي هغه به زماله جنازي سره راغلې واي راپسې جړلي به يې واي بياهغه سړي وويل اي الله ﷻ تاخوله ماڅخه زمامور، پلار، لور، ښځه، اوماشومان جلاکړيدي ماله خپله فضله څخه مه ليري کوه زمازړه دي دخپلو عزيزانو په جدايې کي سوځلئ ده ياالله ﷻ زمابدن په اورکي مه سوځوه په دي وخت کي الله ﷻ يوه ملائکه دهغه دپلارپه شکل بله دهغه دمورپه شکل يوه ملائکه دهغه دښځې په شکل دجنت څوغلمان يې دهغه دزامنوپه شکل ورته راوليږل داټول دهغه پرشاوخواراټول سول دهغه پرتکليف يې خفګان اوژړاپيل کړه هغه په دي باندي ډيرخوشحاله سو روح يې له تنه والوتئ الله ﷻ موسی ﷺ ته وحي وليږله چه په فلانکې ښارکي فلانکې ځاي ته ولاړسه هلته زمايودوست مړده دهغه دتدفين اوتکفين انتظام وکه دالله ﷻ دحکم مطابق موسی ﷺ غارته ولاړي هغه ځوان يې وليدي هغه له ښاراوکلي څخه چه يې شړلئ وو دهغه پرشاوخواتعزيت کوونکي ناست وه موسی ﷺ دالله ﷻ په حضورکي عرض وکړ چه اي الله ﷻ داخوهغه ځوان ده کوم چه ماستاپه امر له ښارڅخه وايستی الله ﷻ ورته وفرمايل اي موسی ﷺ مادهغه دډيري ژړا اودخپلو خپلوانوڅخه دجدايې په خاطر پرهغه باندي رحم وکړ ملائکي مي دهغه دوالدينو دښځي اوزامنوپه شکل کي ورته راوليږلي چه په غربت کي دهغه پربد حالی باندي وژاړي کله چه هغه مړسو دهغه په بيچارګئ باندي دمځکي اوآسمان اوسيدونکو وژړل زه چه ارحم الراحمين يم نوڅنګه به دهغه پرحال رحم نکوم کله چه مسافر مرکيږي الله ﷻ ملائکوته وايې چه دا بيچاره مسافرده خپل اهل وعيال، والدين، يې پري ايښي دي کله چه دي مړشي دهغه په بيچاره ګی به څوک ژړا کوونکي نه وي الله ﷻ ملائکې دخپلوانو په شکل کي ورته راليږي کله چه دي هغه پرخپل شاوخوا ووينې ډير زيات خوشحاليږي په دي خوشحالي کي يې

روح پروازکوي بياهغه ملائکې دژړا اوخفگان په حالت کې دده له جنازې سره ځي ترقبرمته پورې دده لپاره دمغفرت دعاکوي الله ﷻ فرمايي [الله لطيف بعباده] الله ﷻ پرخپلو بندګانو باندې مهربان ده ابن عطار رحمه الله فرمايي چه دانسان صدق اوکذب دهغه دمصيبت اوخوشحالۍ په وخت کې ښکاره کيږي کوم سړي چه په خوشحالۍ کې دالله ﷻ شکراداء کوي مګر دمصيبت په وخت کې فريادکوي هغه درواغجن ده که چيرې يوچاته ددوو عالمانو علم ورکړل سي بياچه کله پرهغه باندې مصائب حمله وکړي هغه فريادوکي هغه ته دهغه علم هيڅ ګټه ونه کړه داهسې بيکاره علم ده حديث قدسي ده چه سه رب فرمايلي دي څوک چه زماپه قضا راضي نسي زماپه ورکړه شکر ونه کاږي هغه دې نه مابغير بل خداې پيدا کړي.

**قصه**: دوهب بن منبه رحمه الله قول ده چه يونبي ترپنځوسو کالوپورې دالله ﷻ عبادت وکړ الله ﷻ ورته وفرمايل ماته وبخښلي نبي عرض وکړ چه اې الله ﷻ ماخوکومه ګناه نه وه کړي تا زما څه راوبخښل؟ الله ﷻ دهغه يوړګ بند کړچه ددرد له کبله يې توله شپه تيره کړه آرام يې ونه کړ سهارچه دهغه خواته ملائکه راغله هغه دړګ دبنديدو فرياد ورته وکړ ملائکو ورته وويل الله ﷻ فرمايي ستادپنځوسو کالو له عبادت څخه داشکايت زيات ده ته خوپه خپل عبادت باندې نازيدلي.

## څلورم باب رياضت اونفساني خواهشات

**وموسی ﷺ ته ددرود ويلو حکم**: الله ﷻ حضرت موسی ﷺ ته وحي ليږله چه اې موسی ﷺ که ته غواړې چه زه ستا دژبې له خبرو څخه ستا دزړه له خيالاتو څخه ستا دبدن له روح څخه ستا دسترګو له نورڅخه ستا دغوږو له اوريدو څخه تاته زيات قريب سم ته پرمحمد ﷺ باندې په کثرت درود وايه الله ﷻ فرمايي [ولتنظر نفس ماقدمت لغد] هرسړی دې وګوري چه هغه دقيامت لپاره څه کړيدي؟ اې انسانه ښه ځان پوه که چه دبد عمل طرف ته دبللو لپاره ستانفس ستادشيطانه څخه زيات لوي دښمن ده شيطان ته پرته ستا دخواهشاتو له کبله غلبه حاصليږي کوم سړي چه دالله ﷻ څخه غافله سي هغه بيادخپل نفس پيروي کوي دهرانسان هره دعوه ددرواغوده که چيرې دخپل نفس په رضاکې دخپل نفس اوخواهش پيروي وکي هلاک به سي که دخپل حساب څخه غافله سي نودګناه په درياب کې به دوب سي که ته دخپل نفس دخواهشاتو پيروي وکي تابه دجهنم اورته ورسوي نفس دښوپرطرف رغبت نه کوي بلکه دادمصائبو اوشرمندګۍ اوهرقسم بدي

ځاي او دشيطان خزانه ده الله ﷻ فرمايي ﴿وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ﴾ دالله ﷻ څخه وبيريږئ بېشکه هغه خبردار ده په هغو اعمالو کوم چه تاسي يې کوئ دابو الليث رحمه الله په تفسير کي دي چه کله کوم سړئ د آخرت په طلب کي پرتير عمل باندي غور او فکر کوي دافکر دهغه زړه ته دعسلو کار ورکوي لکه نبي ﷺ چه فرمايي يوساعت فکر ديوه کال دعبادت څخه افضل ده ځکه هرعقلمند سړي ته په کارده چه دخپلو ګناهونو مغفرت وغواړي دکوم شي چه اقرارکوي پرهغه دي غوروکي دقيامت لپاره دي توبنه برابره کي اميدونه دي کم کي دتوبې په ايستلوکي دي تلوار وکي دالله ﷻ ذکر دي وکي له حرامو شيانو څخه دي ځان وساتي خپل نفس دي په صبرباندي عادت کي دنفساني خواهشاتو اتباع دي نه کوي ځکه څوک چه دنفس اتباع کوي ګواکه هغه دبت عبادت کوي څوک چه په اخلاص سره دالله ﷻ عبادت نه کوي هغه پرخپل نفس باندي جبرکوي .

**قصه**: حضرت مالک بن دينار رحمه الله يوه ورځ دبصري تربازار تيريدئ اينځر يې وليدل زړه يې وغوښتل چه انځر وخوري دوکاندار ته ورغئ ورته ويې ويل ماته ددغو څپليو په بدل کي انځر راکه دوکاندار چه څپليو ته وکتل هغه زړي وي ورته ويې ويل ددي زړو څپليو په بدل کي هيڅ نسم درکولاي هغه ددغه جواب په اوريدوسره روان سو يوچادوکاندار ته وويل تاداسړي وپيژندي؟هغه دوکاندار وويل يامانه ده پيژندلي هغه ورته وويل دامشهور مدني حضرت مالک بن دينار رح ده دوکاندار چه داخبره واوريده له اينځرو يوه دکه ټوکرۍ يې وخپل غلام ته ورکړه هغه رحمه الله ته يې وليږل ورته ويې ويل که تادغه داينځرو ټوکرۍ مالک بن دينارته ورکړه زه به تاآزادکم غلام په منډه منډه په هغه پسي راغئ ورته ويل يې جناب دااينځرقبول که هغه رحمه الله ورته وويل زه دانه اخلم غلام ورته وويل که ته دا قبول کي نوزمادازاديدو سبب به سي هغه ورته وويل په دي کي ستاپاره ازادي ده مګر زمالپاره هلاکت ده چه غلام ډير ورته ټينګ سو نوهغه رحمه الله وويل ماقسم اخستئ ده چه ددين په عوض کي به اينځرنه خورم ترمرګه پوري به انځر وانه خلم .

**دژوند په آخري شيبوکي صبر**: حضرت مالک بن دينار رحمه الله ته دمرګ دناروغۍ په وخت کي خواهش پيداسو چه دګرمي دودۍ ټريد وخوري چه شات اوشيدي هم پکښي وي دهغه رحمه الله په حکم سره خادم داټول تيارکړل هغه رحمه الله يوڅو دقيقي وهغوشيانو ته وکتل بيايې وويل اي نفسه تاخو ترديرشو کالوپوري صبرکړي ده ايا اوس دژوند په آخري شيبوکي صبر نسو کولاي هغه داخبره وکړه دټريدو پياله يې له خپل لاسه ليري کړه لږوخت وروسته وفات سو دحضرت سليمان عليه السلام قول ده چه کوم سړي پرخپل نفس باندي غالب

سو هغه له هغه شخص څخه قوي ده چه په يوازي سر يو ښار فتح کي د حضرت علي ﷺ قول ده چه زه د خپل نفس سره د بزو په رمه کي د هغه څوان په شان يم چه هغه خپله رمه سره يو ځاي کوي هغه بيرته جلا کيږي کوم سړي چه خپل نفس پناه کي هغه يې د رحمت په کفن کي پيچي د کرامت په مځکه کي يې ښخوي کوم سړي چه خپل زړه ختموي هغه د لعنت په کفن کي پيچي د عذاب په مځکه کي يې ښخوي جناب يحيى بن معاذ رازي رحمه الله وايې چه له خپل نفس سره مقابله د رياضت، شب بيداري، لږ خبري، د خلکو تکاليف زغمل، لږ خوراک نوم ده په لږ خوب سره خيالات صفا کيږي په لږو خبرو سره انسان له افتونو څخه محفوظ کيږي د تکليفو په زغملو سره درجي پورته کيږي په لږ خوراک سره نفساني شهوات ختميږي ځکه چه زيات خوراک په زړه کي تور والي او تياره پيدا کوي لوږه د حکمت رڼا ده او په مړه ګيډه خوراک کول سړي له الله ﷻ څخه ليري کوي د نبي کريم حديث مبارک ده

نوروا قلوبكم بالجوع وجاهدوا انفسكم بالجوع و العطش واديموا قرع باب الجنة بالجوع فان الاجر في ذلک کاجر المجاهد في سبيل الله وانه ليس من عمل احب الى الله من جوع وعطش ولن يلج ملكوت السموات من ملا بطنه وفقد حلاوة العبادة

خپل زړونه په لوږه منور کړئ د خپل نفس مقابله په لوږه او تنده سره وکړئ هميشه د لوږي په ذريعه د جنت دروازي وټکوئ څوک چه ځان ساتي هم هغه ته د مجاهد في سبيل الله په اندازه ثواب ورکول کيږي د الله ﷻ په نزد د لوږي او تږي پاته کيدو څخه بل ښه عمل نشته د آسمان ملائکه د هغه چاڅنګ ته نه راځي چه په مړه ګيډه يې ډوډۍ خوړلي وي او د عبادت خوند يې له لاسه ورکړي وي په منهاج العابدين کي د حضرت ابوبکر صديق ﷺ قول ده چه ماله کومه وخته ايمان راوړي ده هيڅکله مي په مړه ګيډه ډوډۍ نه ده خوړلې ترڅو زه د خپل رب ﷻ په عبادت کي خوند واخلم همدا راز د خپل رب ﷻ په ديدار کي مي کله هم په مړه ګيډه او به نه دي چښلي ځکه چه په ډير خوراک او چښاک سره په عبادت کي کمي راځي کله چه يو سړئ په مړه ګيډه ډوډۍ وخوري د هغه بدن درونډ سي سترګې يې له خوبه ډکي سي په وجود کي يې يو قسم سستوالئ پيداسي ياد کوشش باوجود د خوب څخه علاوه بل هيڅ نسي کولاي د هغه مردار په شان سي لکه په لاره کي چه پروت وي په منية المفتي کي دي چه جناب لقمان حکيم خپل زوي ته وويل خوراک، چښاک، خوب، پر خپل ځان باندي کم که ځکه چه کوم سړئ زيات خوراک کوي او زيات خوب کوي هغه د قيامت په ورځ د نيکو اعمالو څخه خالي لاس ګرځي د رسول الله ﷺ ارشاد ده چه خپل زړونه په زيات خوراک او چښاک مه هلاک کړئ لکه څنګه چه په ...

خوراک اوچښاک سره زړه هلاکېږي دانسان معده دهغې کټوي په شان ده چه خوټېږي دهغه توښ زړه ته رسيږي يادهغه توښ له کبله زړه غليظ اوکثيف کيږي په زيات خوراک سره په علم اوفکر کي کمي واقع کيږي په مړه ګيډه ډوډۍ خوړل فطانت اوذکاوت له منځه وړي. **قصه**: حضرت يحيى بن زکريا عليه السلام شيطان وليدئ هغه ډيري لومي يوځاي کړي وي حضرت يحيى بن زکريا عليه السلام پوښتنه ځني وکړه چه داڅشي دي؟ هغه ورته وويل داشهوات دي چه ابن آدم پکښي بندي کوم هغه ع ورته وويل ايا زمالپاره هم لومه پکښي شته؟ هغه ورته وويل يانشته مګر يوه شپه دي په ماړه نس ډوډۍ خوړلې وه چه دهغه په وجه په لمانځه کي تاته سستي پيداسوه يحيى عليه السلام وويل زه به بياهيڅکله هم په مړه ګيډه ډوډۍ ونه خورم شيطان ورته وويل زه به هم بياهيڅکله بني آدم ته نصيحت ونه کم دادهغه پيغمبر حال ده چه په ټول عمرکي يې صرف يووار په مړه ګيډه ډوډۍ خوړلې وه دهغه چابه څه حال وي چه ټول عمر په ماړه نس ډوډۍ خوري.

**قصه**: حضرت يحيى ع يوه شپه داوربشو ډوډۍ په مړه ګيډ وخوړه دالله ﷻ په عبادت کي مشغول نه سو الله ﷻ وحي ورته وکړه چه ايا تادغه دنيا ترآخرت بهتره وګڼله اوکه دي زما درحمت له دربارڅخه بغير بل درحمت دربار پيداکړ په خپل ذات مي دي قسم وي که ته دجنت الفردوس منظره وکي اوجهنم ته وګوري نودسترګوڅخه به دي داوښکوپرځاي ويني رواني سي اوددغه مرقع پرځاي به داوسپني جامې واغوندي.

## باب پنځم دنفس غلبه اودشيطان دښمني

هرعقلمند ته په کارده چه هغه خپل ځان وړئ پرېږدي اوشهوات له بيخه وبلسي لوږه دنفس لپاره تهردي دشيطان لپاره ترټولو لويه وسله همدغه خواهشات زيات خوراک اوچښاک دي دنبي کريم ﷺ ارشادده چه شيطان ستاسي په وجودکي دوينيّ په شان ګرزي دهغه لاري دلوږي په واسطه بندي کئ ييشکه دقيامت په ورځ الله ﷻ ته هغه خلک نژدي دي چه لوږه اوتنده پرراغلې وي دانسان لپاره ترټولو زيات هلاکونکي دهغه خواهشات دي ددغه نس له امله آدم عليه السلام اوحواء رضي الله عنها دواړه دجنت څخه وايستل سول کله چه هغوي الله ﷻ دواړه ديوي درختي دميوي دخوړلو څخه منع کړل هغوي دګيډي دخواهشاتو له کبله هغه وخوړل دغه ګيډه په حقيقت کي دشهوانو منبع اومرکزده.

**حکيمانه اقوال**: ديو دانا اوپوه شخص قول ده چه پرکوم سړي باندي دهغه نفس غالب سي نوهغه دشهواتو اوچتياتو تابع وګرځي دهغه زړه دټولو ګټو څخه محروم ګرځي هرچاچه خپل اعضاء په شهوانې اوبو سره خړوبه کړل هغه حقيقتًا په خپل زړه کي دندامت

تخم کړي .**الله ﷻ دري قسمه مخلوق پیداکړي دي**:(۱)ملائکې چه هغوي ته عقل ورکړي ده مګر دشهواتو څخه یې خالي کړي دي .(۲) حیوانان هغوي ته یې شهو ورکړي ده مګر له عقل څخه یې خالي وساتل .(۳)انسانان چه په هغه کې یې شهو اوعقل دواړه کښېښوول دکوم انسان چه عقل پرشهوت غالب سي هغه له ملائکو څخه افضل ده دکوم انسان چه شهوت پرعقل غالب سي هغه ترحیوان هم بدوي .

**قصه**:ابراهیم خواص رحمه الله وایې چه زه دالشکام په غرونو کې وم ماهلته انار ولیدل هغه تریو وو هغه مې وغورځاوو له دې ځای څخه روان سوم څوګامه وړاندې ګورم یو سړي پروت ده غالبوزي پرمښتې دي ماسلام ورواچاوو هغه زمانوم واخستی اوزما دسلا جواب یې راکړ ماپه تعجب سره له هغه څخه پوښتنه وکړه چه ته ماڅه پیژني؟ هغه را وویل څوک چه الله ﷻ وپیژني دهغه څخه بیاهیڅ شي هم نه پټیږي ماورته وویل چه یاره دالله ﷻ په وړاندې ستالوړ مقام ده ته دالله ﷻ څخه ولې نه غواړې چه ستاپروجود ناسته غالبوزي درڅخه لیري کې هغه راته وویل زه پوهیږم چه دالله ﷻ په نزد ستاهم لوړ مقام تاولې دالله ﷻ څخه سوال نه وکړ چه ته یې دانار له خوراک څخه ساتلی وای دغالبوز عذاب خو دنیوي دي مګر دانار خوړلو عذاب اخروي دي غالبوزي خو دانسان په وجو خولې لګوي مګر خواهشات دانسان زړه چیچې ماچه دهغه دادنصیحت څخه دکې خبر واوریدې په خپله لار روان سوم .**شهوات پاچهان فقیرانوي اوصبر فقیران پاچها کوي**:تاسي به دحضرت یوسف علیه السلام اوزلیخا قصه اوریدلې وي چه یوسف علیه السلام دص کولو له امله پاچاسو زلیخا دخواهشاتو له کبله عاجزه اورسوا سوه دسترګو نظریې ولاړ بوده سوه داځکه چه زلیخا دیوسف علیه السلام سره په محبت کي صبر ونه کړ حضرت ا الحسن بصري رازي رحمه الله وایې چه ماخپل پلار دوفات څخه وروسته په خوب کې ولید چه په بدن کې یې دجهنم دقیرلباس وو ماپوښتنه وکړه چه پلاره داولې؟ هغه په جواب کې راته وویل زویه زه خپل نفس جهنم ته ورسولم کله هم دنفس په دهوکه کې نسي .

اني ابتليت باربع وما سلط
الا لشدة شقوتي وعن
ابليس والدنيا ونفسي والهو
كيف الخلاص وكلهم اعدائي

**ژباړه**:زه دځلورو دښمنانو په محاصره کي راغلئ يم چه زمادبدبختۍ اوزياتي ګناه له امله پرماغالب سوي دي شيطان، نفس، دنيا، خواهشات، ددغوټولوڅخه به ځنګه خلاصون پيدا کم حال دا چه داټول زمادښمنان دي زه وينم چه خود ېـني اوشهوات په ظلمت کي زما دزړه خواهشات خپل طرف ته رابولي دجناب حاتم اصم رحمه الله قول ده چه نفس زماخور ده، علم زماوسله ده، نااميدي زماګناه ده، شيطان زمادښمن ده، زه له نفس سره فريب کوونکئ يم اودهوکه ورکوم .**عارفانه نقطه**:ديوعارف بالله قول ده چه دجهاددري قسمونه دي:(۱)له کفارو سره جهاد داظاهري جهاد ده الله ﷻ فرمايي وجادلهم بالتي هي احسن.(۲)ددرواغجنو اوجاهلو خلګو سره په علم اودلايلو سره جهادکول لکه الله ﷻ چه فرمايي وجادلهم بالتي هي احسن.(۳)دبدئ طرف ته راکشونکي سرکښ نفس سره جهادلکه الله ﷻ چه فرمايي والذين جاهدوا فينا لنهدينهم سبلنا دنبي کريم ﷺ ارشادده افضل الجهاد جهادالنفس له نفس سره جهاد کول ترټولو جهادونو افضل ده کله چه به صحابه کرام له جهاد څخه بيرته کورونوته راغله نوويل به يې دجهاد اصغرڅخه جهاد اکبر ته راغلو اصحابو کرامو رضي الله عنهم دخپل نفس سره جهاد ته جهاد اکبر ځکه وويل چه له نفس سره جهاد دهميشه لپاره وي له کفارو سره کله کله جهاد وي بله وجه داده چه له کفارو سره په جهادکي غازي خپل دښمن ويني مګر شيطان نه ليدل کيږي کوم دښمن چه په سترګو نه ليدل کيږي له هغه سره جنګ ترهغه دښمن ګران وي چه هغه په سترګو ليدل کيږي بله وجه داده چه دغازي په زړه کي پردښمن باندي هيڅ قسم نرمي نه وي مګرله شيطانه سره په جهادکي نفس اوخواهشات دشيطان ملګري کوي نوځکه دشيطان مقابله ډيره ګرانه ده بله وجه داهم ده که غازي کافر ووژني نودغنيمت مال اوکاميابي به ترلاسه کي که شهيد سي نودجنت مستحق به سي مګر په جهاداکبرکي هغه دشيطان په وژلو قادرنه وي که شيطان هغه ووژني يعني دحقي لاري څخه يې واړوي بنده دالله ﷻ دعذاب مستحق ګرځي ځکه ويل سوي دي چه دجنګ په وخت کي چه دچاآس وتښتي هغه دکفارو لاس ته ورځي مګر دچاچه ايمان وتښتي هغه دالله ﷻ په عذاب کي رامبنلې شوک چه دکافرانو په لاس ورسي دهغه په لاسو اوپښوکي زنځيرونه اچوي هغه وږي تږي اوڅغ نه ساتل کيږي مګر څوک چه

دالله ﷻ د غضب مستحق سي دهغه مخ توريږي اوپه زنځيرونو تړل کيږي دهغه په پښو کي داور طوقونه اچول کيږي دهغه خوراک، څښاک، لباس ټول دجهنم له اور څخه جوړيږي.

## شپږم باب دغفلت بيان

له غفلت سره شرمندګي زياتيږي اونعمتونه زائليږي دخدمت جذبه له منځه ځي حسد ملامتي اوپښيماني زياتيږي. **ترټولو غمو لوي غم**: يوه نيک سړي خپل استاد په خوب کي وليدي پوښتنه يې ځني وکړه چه ستاپه نزد ترټولولوي غم دڅشي ده؟ استاد جواب ورکړ چه دغفلت غم ترټولو لوي غم ده روايت ده چه يوځا حضرت ذوالنون مصري رحمه الله په خوب کي وليدي پوښتنه يې ځني وکړه چه الله ﷻ له تاسره څه سلوک وکړ؟ هغه جواب ورکړچه الله ﷻ په خپل حضورکي ودرولم اوويې فرمايل اي درواغجنه تاخو زما دميني دعوه کړي وه مګرپياغافل سوي.

انت في غفلة وقلبک ساهي ذهب العمر والذنوب کماهي

ته په غفلت کي پروت يې ستا زړه هيرونکي ده عمر ختم سو مګر ګناهونه هغسې پاته دي.

**قصه**: يوصالح سړي خپل پلار په خوب وليدی پوښتنه يې ځني وکړه چه اي پلاره څنګه يې؟ پلار جواب ورکړ چه موږ خپل ژوند په غفلت کي تيرکړي ده اوپه دي غفلت کي مړه سوي يو. **دمرګ قاصد**: په زهرالرياض کي دي چه ديعقوب عليه السلام له ملک الموت سره دوستانه اړيکې وي يوه ورځ هغه ته ملک الموت حاضرسو يعقوب عليه السلام پوښتنه ځني وکړه چه ته دملاقات لپاره راغلي يې که دروح قبض کولو لپاره؟ عزرائيل عليه السلام ورته وويل دملاقات لپاره راغلي يم هغه عليه السلام ورته وويل زه يوخواهش درڅخه کوم هغه ورته وويل څه خواهش لري؟ يعقوب عليه السلام ورته وويل کله چه زمامرګ نژدي سي ته زمادروح قبض کولو لپاره راځي ماته يوڅه وخت مخکې خبرراکه ملک الموت ورته وويل ډيره ښه ده زه به تاته ترراتلوله مخه دري څلور قاصدان راوليږم کله چه ديعقوب عليه السلام مرګ رانژدي سو ملک الموت دروح اخستولپاره راغئ هغه عليه السلام ورته وويل تاخووعده کړي وه چه ترراتلو له مخه دري قاصدان راليږم عزرائيل عليه السلام ورته وويل ماهمداسي وکړه زمااول قاصداوو چه ستا دسر ويښتان سپين سول بياستا دبدن قوت کم سو داستالپاره زمادوهم قاصدوو بياستا وجود کمزوري سو دازما دريم قاصدوو اي يعقوب ع زه هرانسان ته اول دادري قاصدان ليږم. شعر:

مضي الدهر والايام والذنوب حاصل وجاء رسول الموت والقلب غافل

نعمک في الدنيا غرور وحسرة وعيشک في الدنيا محال باطل

يعني زمانه تيره سوه او گناهونه يې شاته پرې نښوول د مرگ قاصد راورسيدئ زړه له الله ﷻ څخه غافل سو ستادنياوي نعمتونه دوکه او فريب دي په دنياکي دهميشه لپاره ستاپاته کيدل گرانه خبره ده محضې درواغ دي شيخ ابو علي دقاق رحمه الله وايې چه زه ديوداسې سړي پوښتنې ته ولاړم چه هغه له غټو مشائخو څخه شميرل کيدي ماد هغه پرشاوخوا وليدل چه شاگردان يې ناست وو شيخ رحمه الله ژړل ماورته وويل اي شيخه ولې ژاړې ؟ اياته ددنيالپاره ژاړې؟ هغه راته وويل نه زه ددنيالپاره نه ژاړم بلکه دخپلو لمنځونو په قضاء ژاړم ماورته وويل ته خو عابد سړي يې له تا څخه لمنځونه څنگه قضاشول؟ هغه راته وويل ماهره سجده په غفلت کې کړې ده اوله هرې سجدې څخه مې په غفلت کې سرپورته کړې ده اوس دغفلت په حالت کې مرکيږم بيايې ترخوله آه وواتې داشعريې ووايه :

تفكرت في حشري ويوم قيامة ...... واصباح خدي في المقابر ثاويا

فريدا وحيدا بعد عزو رفعة ...... رهينا بجرمي والتراب وساديا

تفكرت في طول الحساب وعرضه...... وذل مقامي حين اعطي كتابيا

ولكن رجائي فيک ربي وخالقي......... بانک تعفو يا الهي خطائيا

**ژباړه** :ما دخپل حشر دقيامت دورځې اوپه قبر کې داوسيدو په هکله فکر وکړ کم عزت لرونکې چه په وجود سره دخاورې رهين سې نو خاوره به دهغه تکيه سې ما دحساب دورځې په اوږد والي فکر وکړ دهغه وخت درسوايې خيال مې وکړ کله چه به ماته عمل نامه راکول کيږي مگر اي ذوالجلال ربه زمااميد ده ستاورحمت ته هم ته زما خالق يې زما دگناهونو بخښونکې يوازې ته يې **.يوازې دعوې بيکاره دي** :په عيون الاخبارکې دي چه حضرت شفيق بلخي رحمه الله فرمايې خلک درې خبرې هسې په ژبه کوي خو عمل دهغو په خلاف کوي :(١)داوايې موږ دخداي بندگان يو مگر کارونه دبنده په شان نه کوي بلکه دآزاد په شان د خپلې خوښې کار کوي .(٢)وايې چه الله ﷻ موږ ته رزق راکوي مگر زړونه يې ددنيا او د هغې دسامان پرته نه مطمئن کيږي دادهغو له اقرار څخه مخالف ده .(٣)هغه وايې چه موږ بالآخره مره کيدونکې يو ليکن کارونه داسې کوي چه گواکې هيڅکله نه مرې اي مخاطبه لږ فکر وکه ته به الله ﷻ ته په کم مخ ولاړسې اوپه کمه ژبه به جواب ورکې؟ په هغه وخت کې چه الله ﷻ له تا څخه دغټې اوکوچنۍ خبرې پوښتنه کوي دهغوپوښتنو لپاره له اوس څخه لابنه بنه جوابونه پيداکه چه بياپه هغه وخت کې رسوا اوشرمنده نه سې واتقوا الله ان الله خبير بماتعملون له الله ﷻ څخه ويريږئ بېشکه الله ﷻ خبرده په هغه کارو چه تاسې يې

کوئ الله ﷻ مؤمنان پوه کړل چه دهغه الله ﷻ حکمونه پري نږدي په هرحالت کي دالله ﷻ د وحدانيت اقرار وکي.
**دالله ﷻ داطاعت ثمره** :په حديث شريف کي دي چه دالله ﷻ دعرش پرپايه باندي ليکل سوي دي کوم سړي چه زما اطاعت وکي زه به دهغه هره غوښتنه پوره کم څوک چه له ماسره محبت کوي زه به له هغه سره محبت کوم څوک چه له ما څخه څه وغواړي هغه به ورکوم څوک چه له ما څخه بخښنه وغواړي زه هغه بخښم ددغه نبوي فرمان دمخي پرهر چاباندي لازم دي چه په پوره اخلاص اوصداقت سره دالله ﷻ عبادت وکي دالله ﷻ په قضاء دي راضي سي پرمصيبتونو دي صبر وکي دالله ﷻ دنعمتونو شکر دي اداکي په خپل قسمت دي راضي سي الله ﷻ فرمايي څوک چه زما په قضاء راضي اوزما په نعمتونو شاکر نه وي هغه دي له ما بغير بل رب ځان ته پيداکي دحضرت حسن بصري رحمه الله يو په زړه پوري جواب يوه سړي حضرت حسن بصري رحمه الله ته وويل حيرانتيا ده چه زه په عبادت کي خوند اومزه نه محسوسوم هغه رحمه الله جواب ورکړ داځکه چه ته دعبادت بندگي کوي نه دالله ﷻ ته يوازي دالله ﷻ عبادت وکه بياوگوره چه په عبادت کي څومره خونده ده يوچا جناب ابويزيد رحمه الله ته وويل چه زه په عبادت کي لطف نه محسوسوم هغه رحمه الله ورته وويل شايد تاداسي څوک ليدلي وي چه هغه له الله ﷻ څخه نه ييريږي دبندگي حق داده چه دالله ﷻ درضالپاره داټول شيان پري ښوول سي. **دالله ﷻ عبادت اوکه دمخلوق عبادت**؟يوه سړي لمونځ شروع کړ چه واياک نعبد واياک نستعين ته ورسيدئ دهغه په زړه کي راغئ چه زه يوازي دالله ﷻ عبادت کوم يو غيبي آواز ورته وسو چه تادرواغ ويلي دي ته دمخلوق عبادت کوي هغه له دي وروسته له مخلوق څخه خپلي اړيکي پري کړي پرلمانځه ودريدي بياچه کله هغه آيت ته ورسيدي بيايي په زړه کي راغله چه زه حقيقتًا دالله ﷻ عبادت کوونکي يم آواز ورته وسو چه ته درواغجن يي ته دخپلو جامو عبادت کوي هغه دبدن له جامو پرته نوري جامي ټولي خيرات کړي بياچه هغه آيت ته ورسيدئ بياآواز ورته وسو اوس ته پخپله دعوه کي رښتونئ يي په رونق المجالس کي دي چه ديوو سړي چپنه ورکه سوه دامعلومه نه وه چه چاوړي وه کله چه هغه پرلمانځه ودريدئ هغه ته پيادسوه چه له لمانځه څخه فارغ سو خپل غلام ته يي وويل ولاړسه له فلانکي سړي څخه زما چپنه راوړه غلام ورته وويل ستا کله داخبره په يادسوه؟ هغه ورته وويل په لمانځه کي غلام ورته وويل چه ياخوتا لمونځ دچپني لپاره کړي ده نه دالله ﷻ لپاره هغه ددي خبري په اوريدو سره غلام بالفور ازاد کړ هر ذي فهم اوهوښيار سړي ته په کارده چه دنيا پريږدئ

دالله ﷻ عبادت وکئ دراتلونکي لپاره غور اوفکر وکئ خپل آخرت بنایسته کئ الله ﷻ فرمايي: مَن كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الْآخِرَةِ نَزِدْ لَهُ فِي حَرْثِهِ وَمَن كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِن نَّصِيبٍ. ژباړه، کوم سړي چه دآخرت دفصل اراده کوي موږ دهغه فصل زیاتوو کوم سړي چه ددنيا دفصل اراده کوي موږ هغه ته له دي څه حصه ورکوو په آخرت کي دهغه هيڅ برخه نسته يعني دهغه له زړه څخه دآخرت محبت ايستل کيږي څکه خوحضرت ابوبکر صديق ﷺ دنبي کريم ﷺ په ذات باندي څاوينبت زره ديناره بنكاره اوڅلويښت زره ديناره په پټه خرڅ کړي وه تردي چه دهغه ﷺ سره هيڅ نه ووپاته نبي کريم ﷺ اودهغه اهل بيت ددنيا اودهغې له خواهش څخه په بشپړه توګه پرهيزکاوه څکه خو دحضرت فاطمي ﷺ دواده مهر دپسه يوه رنګ سوي څرمن اويوبالښت وو چه دخورما دپوستکو څخه ډک وو.

## اووم باب فسق، نفاق، اودالله ﷻ هيرول

يوه ښځه حضرت حسن بصري ﷺ ته راغله اوورته ويې ويل زماڅوانه لور وفاته سوي ده زه غوارم چه هغه په خوب کي ووینم يوه داسي دعاراته وښيه چه په هغه سره زماداارمان پوره سي هغه ﷺ يوه دعا وروښووله هغې ښځي دشپې هغه دعا وويله خپله لوريې په خوب کي وليدله دهغې حال داوو چه دجهنم دقير لباس يې اغوستئ وو دهغې په لاسو اوپښو کي داورزولني وي ښځې سهار دغه خوب وهغه ﷺ ته بيان کړ هغه ﷺ ډير خفه اوغمګين سو څه وخت پس حضرت حسن بصري ﷺ هغه په خوب کي وليدله دهغې پرسر يوتاج وو هغې ورته وويل ته ماپيژني؟ زه دهغې ښځي لوريم چه هغې زماحال تاته بيان کړئ وو هغه ﷺ پوښتنه وکړه چه ستاحالت څنګه بدل سو؟ هغې وويل په قبرستان کي يوصالح سړئ تيريدي هغه پرحضرت محمد ﷺ باندي درود شريف ووايه دهغه په برکت سره الله ﷻ زموږ له پنځه سوو مړيو څخه عذاب ليري کړ. **نکته**، دغور اوفکر ځاي ده چه پرمحمد ﷺ باندي په يووار درود ويلو په برکت سره دومره ډير خلک وبخښل سول اياهغه شخص چه دپنځه سوو کلو راهيسي پر محمد ﷺ باندي درود شريف وايې په قيامت کي به دهغه مغفرت اوبخښنه نه کيږي؟ الله ﷻ فرمايي ولاتکونوا کالذين نسوا الله دګناه په کولوکي دمنافقانو په شان مه کيږئ چاچه دالله ﷻ حکمونه پريښوول دهغه په خلاف يې عمل وکړ ددنيا دشهواتو څخه يې خوندونه واخستل فريبکارئ ته مائل سو.

**دمؤمن اومنافق ترمينځ فرق**، درسول الله ﷺ څخه دمؤمن اومنافق په اړه پوښتنه

وسوه هغه ﷺ وفرمايل دمؤمن همت دلمانځه اوروژي په طرف وي اودمنافق همت دحيوان په شان دخوراک اوڅښاک طرف ته وي اوهغه دلمونځ اوروژي په طرف نه چمتو کيږي مؤمن دالله ﷻ په لاره کي دبخښني په غوښتو کي بوخت وي مگر منافق په حرص اوهوس کي مشغول وي مؤمن دين پرمال مقدم گڼي منافق مال ته تردين ترجيح ورکوي مؤمن له الله ﷻ څخه علاوه له بل چاڅخه بيره نه کوي مگر منافق دالله ﷻ څخه پرته بل له هرچاڅخه بيريږي مؤمن نېکي کوي الله ﷻ ته ژاړي مگر منافق گناه کوي خوشحاليږي مؤمن خلوت يوازي توب خوښوي مگر منافق مجلسونه خوښوي مؤمن تخم کري دفصل له تباهي څخه بيريږي مگر منافق دفصل له ورانولو څخه وروسته دريبلو اميدکوي مؤمن ددين له تدبيرسره دنيکي حکم کوي له بديوڅخه خلک منع کوي اواصلاح يې کوي مگر منافق دځپلي لويې لپاره فتنه اوفساد پيداکوي خلک له نيکۍ څخه بندوي دبدۍ حکم ورته کوي الله ﷻ فرمايي منافق سړي اوښځه يودبل ملگري دي له نېکي څخه خلک منع کوي دبدۍ حکم ورته کوي هغوي الله ﷻ له ياده ايستلئ وي الله ﷻ هغه له ياده ايستلي وي بېشکه منافق فاسق ده الله ﷻ دمنافق سړي اومنافقي ښځي لپاره دجهنم داور وعده کړي ده دادهغو لپاره کافي ده چه الله ﷻ پرهغوي لعنت کړي ده دهغوي لپاره هميشه هميشه عذاب ده په يوبل آيت شريف کي دهغوپه باره کي ارشادده بېشکه الله ﷻ ټولو منافقانو اوکافرانو لره په جهنم کي راجمع کوونکې دي الله ﷻ په خپل ارشادکي لومړي دمنافقانو ذکر کړيده داځکه چه منافقان له کفارو هم زيات بدبخته دي الله ﷻ دهغولپاره دجهنم عذاب تيارکړي ده دالله ﷻ ارشادده چه بېشکه منافق دجهنم په لاندينۍ حصه کي دي هيڅوک به دهغه لپاره مرسته کوونکې نه وي دمنافق لغت د(نافق اليربوع)څخه اخستل سوی ده وايې چه دځنگلي موږک په غارکي دوي خولي وي يوه دداخليدو لپاره بله دتښتلو لپاره دغار په يوه خوله وزي په بله ننوزي منافق ته هم ځکه منافق وايې چه هغه خوظاهرا مسلمان وي مگر په باطن کي له کفارو سره وي په حديث شريف کي دي چه دمنافق مثال دهغه مرغومي په شان ده چه ددوو رمو په مابين کي وي کله له يوې رمي سره ځغلي کله له بلې رمي سره يعني له يوي سره هم نه شمارل کيږي همداسي منافق ده چه نه له مسلمانانو سره وي نه له کفارو سره وي .

**دجهنم اووه دروازي**: الله ﷻ جهنم پيداکړ اووه دروازي يې ورکړي لکه الله ﷻ چه فرمايي [ولهاسبعة ابواب] دجهنم دروازي له اورسپني څخه دي پرهره يوه لعنت نوشته سوي ده ظاهريې له اوسپني څخه اوباطن يې دسرپوڅخه ده دجهنم په ژور والي کي دالله عذاب

دهغه په لوړ والي کي دالله ﷻ خفګان ده دجهنم مځکه داوسپيني څخه ښيښي يې دپولادو اوسرپو څخه دي په هغه کي داوسيدونکو لپاره لاندي باندي راسته او چپه طرف ته اورونه دي په هغه کي څو منزلونه اوطبقي دي چه په ټولو کي لاندي طبقه يې دمنافقانو لپاره ده په حديث شريف کي دي چه نبي کريم ﷺ دجبرائيل ؑ څخه پوښتنه وکړه دجهنم دګرمي په باره کي جبرائيل ؑ ورته وويل الله ﷻ لمړي جهنم پيداکړ بيايې ترزرو کالوپوري په اورسره ګرم کړ هغه له ډيري ګرمي څخه تور تاريک سو په هغه رب مي قسم چه ته يې په حقه نبي پيداکړي يې که ددوزخيانو يوقميص ياپرتوګ دي دنياته راواستول سي نو ددنياټول خلګ به فناسي که دجهنم داوبو يو څاڅکي ددنياله اوبو سره يو ځاي سي ټولي اوبه به زهرجني سي هرڅوک چه هغه وچښي پوراً به مړشي که دجهنم دزنځيرونو يوه ټوټه د دنياپرغره واچول سي هغه به ويلې سي که يوجهنمي له جهنم څخه دنياته راوستل شي د هغه له بدبويي څخه به ټول مخلوق مړه سي دجهنم دزنځيرونو په اړه الله ﷻ فرمايي[ في سلسلة ذرعها سبعون ذراعا ] دهري ټوټي اوږدوالئ به له مشرقه ترمغربه پوري وي محمد ﷺ جبرائيل ؑ ته وويل ايا دجهنم دروازي زموږ ددروازو په شان دي ؟ جبرائيل ؑ عرض وکړ نه هغه له څوپوښتيو څخه جوړي شوي دي څه لاندي څه باندي ديوي دروازي درمياني فاصله اوياکاله ده هره يوه دروازه له بلې دروازي څخه اوياواره زياته ګرمه ده هغه ﷺ په هغودروازوکي د اوسيدونکو په هکله پوښتنه ځني وکړه جبرائيل ؑ عرض وکړ (۱) ترټولو دلاندي دروازي نوم هاويه ده په دي کي به منافقان وسيږي لکه الله ﷻ چه فرمايي: [ ان المنافقين في الدرک الاسفل من النار ].(۲)ددي طبقي نوم جحيم ده په دي کي به مشرکان وسيږي.(۳) ددي طبقي نوم سقر ده په دي کي به صائبان وسيږي .(۴)ددي طبقي نوم لظي ده په دي کي به ابليس اودهغه پيروان مجوسيان وسيږي . (۵)ددي نوم حطمه ده په دي کي به يهوديان وسيږي .(۶)ددي نوم سعير ده په دي کي به نصاري وسيږي بياجبرائيل ؑ چپ سو هغه ﷺ پوښتنه ځني وکړه اياته ماته داوومي طبقي په باره کي معلومات نه راکوي جبرائيل ؑ وويل يارسول الله ﷺ په دي اړه پوښتنه مه کوه هغه ﷺ وويل بياهم ته خو لږ راته ووايه جبرائيل ؑ ورته وويل په دي طبقه کي به ستاهغه امتيان وي چه لوي لوي ګناهونه يې کړي وي له توبې بغير مړه سوي وي روايت ده کله چه داآيت نازل سو [ وان منکم الاواردها ] نومحمد ﷺ دخپل امت په باره کي ډير زيات وبيريدي ډير زيات يې وژړل کوم سړئ چه دالله ﷻ له ګرفت څخه بيريږي که دهغه ﷻ دقهر

ځنځه خبرسي نو ترهغه به زيات وبيريږي په خپلو ګناهونو باندي به وژاړي پښيماني به وكي له دي ځنځه مخکي چه جهنم ووينې دهغه بيرونكي ځايونه ووينې چه دده لپاره جوړسوي دي دحقيقي منتقم په وړاندي پيش کړسي جهنم ته واستول سي. **له هرګه وروسته تاسف كول** ،ډير سپين ږيري به په جهنم کي فريادكوي ډيرځوانان به دخپل ځواني په ضائع كيدو باندي آه اوژړا کوي ډيري ښځي به پرخپلو بدو عملونو ژړاکوي په داسي حال کي چه ددوي مخونه اوبدنونه به هم تيرسوي وي نه به دسپين ږيرو عزت كيږي نه پرځوانانو رحم. اي الله ﷻ موږ له خپل عذاب ځنځه اوله هرهغه كارځنځه چه موږ داور پرطرف روانوي دخپل رحم په بركت سره موږ ساته اودجنت خواته موبوزه اي عزيز ﷻ، اي غفار ﷻ، اي الله ﷻ زموږ پرعيبونوپرده واچوه موږ ته له خوپه نجات راكه موږ له ګناهونو اولغزشونو ځنځه وساته آمين يارب العالمين.

## اتم باب دتوبه بيان

پرګناهونو توبه كښل پرهرمسلمان نارينه اوښځه باندي فرض ده لكه الله ﷻ چه فرمايي، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحًا اى مؤمنانو الله ﷻ ته توبه نصوحه وباسئ په بل آيت شريف كي فرمايي ولاتكونوا كالذين نسوا الله دهغو خلكو په شان مه كيږئ چه الله ﷻ يې له ياده ايستلئ وي دهغه ﷻ نازل سوي كتابونه يې شاته غورځولي وي ګواكي هغوي پرخپل ځان باندي رحم ونه کړ خپل ځانونه يې له ګناهونو ځنځه ونه ساتل دآخرت لپاره يې هيڅ نيكي ونكړه دنبي كريم ﷺ حديث مبارك ده چه ځوک له الله ﷻ سره ملاقات نه خوښوي الله ﷻ هم له هغه سره ملاقات نه خوښوي الله ﷻ فرمايي اولئك هم الفاسقون همدغه خلک فاسقان دي. **دفاسقانو قسمونه**،فاسقان دوه قسمه دي اول فاسق كافر، دوهم فاسق فاجر فاسق كافر هغه ده چه پرالله ﷻ اودهغه پررسول ﷺ باندي ايمان نه لري هدايت يې پري ايښئ وي په ګمراهي پسي روان وي لكه الله ﷻ چه فرمايي ففسق عن امرربه فاسق اوفاجرهغه ده چه شراب څښي حرام مال خوري بدكار کوي عبادت نه کوي هروخت په ګناهونوكي اخته وي مګر له دي ټولو سره سره الله ﷻ واحد ګڼي بل ځوک نه ورسره شريک کوي ددي دواړو فرق داده چه دكافر فاسق بخښنه دمرګ ځنځه مخكي مخكي دشهادت له كلمي بغير ناممكنه ده دفاسق فاجر مغفرت له مرګ ځنځه مخكي په توبه اوندامت سره ممكن ده هرهغه ګناه چه بنياديې تكبر اوخود بيني وي دهغه مغفرت ناممكن ده ځكه چه دشيطان نافرماني وجه هم دغه تكبر اوخود بيني وه اي انسانه تاته

پکارده چه دمرګ څخه مخکې توبه وکاږي شاید الله ﷻ ستا ګناهونه معاف کي لکه دالله فرمان چه ده |هوالذي یقبل التوبة عن عباده ویعفوا عن کثیر| الله ﷻ هغه ده چه دخپلو بندګانو توبه قبلوي دهغو ګناهونه معافوي نبي کریم ﷺ فرمایلې دي له ګناهونو څخه توبه کوونکې دهغه چاپه شان دي چه ګناهونه یې نه وي کړي. **قصه** یو ځوان وو کله چه به هغه ګناه وکړه هغه به یې پخپله کتابچه کې لیکل یووخت هغه یو ګناه وکړه دهغې ګناه دلیکلو لپاره چه یې کتابچه خلاصه کړه نوګوري چه په کتابچه کې داآیت شریف لیکل سوي ده |فاولئک یبدل الله سیئاتهم حسنات| الله ﷻ دهغو بدی په نیکې وربدلوي دشرک پرځاي ایمان، دبدکاری پرځاي بخښنه، دګناه پرځاي عصمت، اونیکی لیکل کیږي.

**دیوځوان شرمیدل**، یو وخت حضرت عمر ﷺ دمدیني تریوه کوڅه تیریدي هغه یوځوان ولیدي ترخپلو کپړو لاندي یې دشرابو بوتل پټ کړي وو هغه ﷺ پوښتنه څني وکړه اي ځوانه په دي بوتل کي څشي دي؟ ځوان ډیر وشرمیدي په زړه کي یې وویل زه څنګه ووایم چه په دي کې شراب دي په دي وخت کي هغه په زړه کي دادعا وکړه چه اي الله ﷻ داوار مادحضرت عمر ﷺ په مخ کي دخجالت اوشرم څخه وساته زه به بیا هیڅکله شراب ونه چښم ځوان وویل اي امیرالمؤمنین په دي بوتل کي سرکه ده هغه ﷺ ورته وویل ته یې ښکاره که هغه چه دبوتل سر خلاص کړ که ګوري چه په بوتل کي سرکه ده اي انسانه لږ غور وکه یوبنده دبل بنده څخه دېیرې له کبله په خلوص سره توبه وایسته الله ﷻ دهغه شراب په سرکه بدل کړل همدارنګه که کوم ګنهګار په خپلو ګناهونو ندامت وکي اوتوبه وباسي الله ﷻ به دهغه دنافرمانۍ شراب دفرمانبرداری په سرکه وربدل کي لکه له هغه ځوان سره چه وسوه کوم چه خپل ګناهونه یې په خپله کتابچه کي لیکل.

**قصه**؛حضرت ابوهریرة ﷺ فرمایې چه یوه ورځ زه له محمد ﷺ سره یوځاي له لمانځه وروسته دباندي ووتم په لاره کي مو یوه ښځه ولیده هغې له ماڅخه پوښتنه وکړه چه مایوه ګناه کړي ده ایازه توبه کېدلاي سم؟ ماپوښتنه څني وکړه تاڅه ګناه کړي ده هغې ښځي راته وویل مازناکړي وه له هغې زناڅخه زماکوچنی پاته سوي وو کله چه هغه کوچنۍ پیدا سو هغه مي قتل کړ ماورته وویل چه ته خوتباه سوي یې ستالپاره هیڅکله توبه نسته هغه ښځه بیهوښه سوه پرمځکه وغورځیده زه پرلارځني روان سوم پر لاره مي په خیال کي راغله چه ماولي دمحمد ﷺ دپوښتني بغیر داخبره وکړه زه دمحمد ﷺ په حضور کي حاضرسوم توله قصه مي هغه ﷺ ته وکړه محمد ﷺ وفرمایل تادیر بدکارکړئ ده ایاتادا آیت نه ده ویلي ؟ |الذین لایدعون مع الله الها اخر| کوم خلک چه له الله ﷻ سره نورخدایان نه بولي

ابو هریره ﷺ وایي چه څنګه ماداخبره واوریده زه دهغې ښځي په تلاش کي ووتم له هرچاڅخه مي پوښتنه کوله چه دهغې ښځي په اړه معلومات راکي ترديي اندازي پوري وګرځیدم چه ماشومانو پرماوخندل اودلیوني ګمان یې راباندي وکړ بالآخر مي هغه ښځه پیدا کړه اوهغه آیت شریف مي ورته ووایه کله چه دغې حصي ته ورسیدم فأولئک یبدل الله سیئاتهم حسنات هغه له ډیري خوشحالۍ څخه لیونۍ سوه اوویې ویل ماڅپل باغ الله ﷻ ته اودهغه رسول ﷺ ته بخښلی ده . **دعتبه ﷺ یوه عجیبه واقعه** :عتبه ﷺ چه په فسق اوفساد سره ډیر مشهور وو شراب به یې هم څښل یوه ورځ دحضرت حسن بصري ﷫ مجلس ته حاضرسو په هغه وخت کي حضرت حسن بصري ﷫ دغه آیت شریف وایه الم یأن للذین امنوا ان تخشع قلوبهم لذکرالله ددي تفسیر یې بیاناوو هغه ﷫ ددي آیت شریف داسي تفسیر وکړ چه خلک په ژړاسول یوځوان ولاړسو ویې ویل اي مؤمن بنده ایا زماپه شان فاسق اوفاجر که ته وکاږي الله ﷻ یې قبلوي؟ هغه ﷫ ورته وویل هو الله ﷻ ستاګناهونه هم معافوي کله چه عتبه غلام داخبري واوریدي دهغه مخ ژړ سو پروجودیې لړزه راغله پرمځکه پریوتۍ کله چه هغه په هوښ راغئ نوحسن بصري ﷫ دهغه څنګ ته ولاړوو داشعریې ووایه :

| | |
|---|---|
| ایاشباالرب العرش عاصي | اتدري ماجزاء ذوي المعاصي |
| سعیر للعصاة لهازفیر | وغیظ یوم یؤخذ بالنواصي |
| فأن تصبر علي النیران فاعصه | والا کن عن العصیان قاصي |
| وفیما قد کسبت من الخطایا | رهنت النفس فاجهد في الخلاص |

**ژباړه**: اي دالله ﷻ نافرمان ځوانه درمعلومیږي دالله ﷻ دنافرمانۍ څه سزاده؟ دنافرمانو خلکو لپاره خوتیدونکې شور کوونکې جهنم ده اودحشر په ورځ به الله ﷻ ډیر ورڅخه خفه وي که چیري ته دجهنم په اور خوشحاله یې نوګناهونه کوه اوکه نه یې خوشحاله نوګناهونه مه کوه تادخپلو ګناهونو په بدله کي ځان ګرو ایښي ده دهغه دخلاصولو کوشش وکه عتبه یوه چیغه وکړه بیرته بیهوښه سو کله چه هغه په هوښ باندي راغی داسي یه وویل چه ای شیخه! ایاالله جل جلاله دغه زماپه رقم دیوه بدبخته انسان توبه نه قبلوي هغه رحمه الله ورته وویل چه عفوه کونکی الله جل جلاله دهغه خپل ظالم بنده توبه قبلوي په همدي وخت کي هغه شخص خپل سر واسمان ته ونیوی وخپل الله جل جلاله ته یه دري دعاوي وکړي: (۱) ای الله جل جلاله که تازما ګناهونه رامعاف کړي وي اوزمام توبه قبوله وي نوماته داسي عقل

اوحافظه راکړي چي زه قران کریم اوهرڅه چه دیني علوم دي هغه واورم اوهغه مي په یادوي هیرمي نه سي.(۲) ای الله ﷻ وماته داسي اواز راکه چه په هغه باندي هغه زیات سخت زړه والا انسانان ډیر نرم د له سي.(۳) ای الله ﷻ وماته رزق حلال رانصیب کړه اوهغه رزق له داسي لاري څخه راکړه چه دهغه بالکل زما په زړه کي خیال هم نه وي الله ﷻ دعتبه دري سره دعاوي قبولي کړي حافظه یه قوي او عقل یه زیات سو کله چه به ده قران کریم تلاوت کاوه هراوریدونکی به دهغه په خاطرباندي توبه ایستله هره ورځ دهغه په کورکي یوه کاسه شوروا اودوي داني ډوډۍ زیادت کیدلي هغه به هم دحلال رزق څخه وي ویوچاته نه معلومیدله چه دا دکوم طرف څخه دي اودکوم طرف څخه راځي عتبه په ټول ژوندکي په همدي رقم باندي وودا دهغه شخص حال وو چه والله ﷻ ته یه امید درلودی.

إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلًا یه تحقیق سره موږ نه ضائع کوو اجرت دهغه چا چه هغه نیک عمل کونکی وي. **سوال**: دلته دیوعالم څخه چاسوال وکړ چه یوبنده کله توبه وکاږي ایادهغه بنده دتوبي دقبلیدلودپاره یودلیل هم سته اوکنه؟ **جواب**: هغه جواب ورکړ چه داسي کوم یومکمل دلیل خووجود نلري البته یوه اندازه علامي اونښاني سته چي دهغوی څخه دتوبي قبلیدل معلومیږي یعني اندازه کیږي هغه خپل ځان دګناهونو څخه ساتي اودهغه دزړه څخه خوشحالي خاتمه پیداکوي دغه شخص هروخت ا لله ﷻ حاضر اوناظربولي نیکي یه خوښه وي او دبدۍ څخه ځان ساتي په دنیاکي هغه کم نعمتونه زیات حسابي اوخپل زړه دټول وخت دپاره دفرائضو د اداکولو دپاره مصروف ساتي اوهغه خپل زبان دبیهوده اوبي فائدي خبرو څخه محفوظه ساتي په هروخت کي پرهغه خپلو تیروسویو ګناهونو باندي غور اوفکر کوي دهمدي سبب په خاطرباندي دی خپل ځان دپاره غم لازم بولي.

## نهم باب دمحبت په بیان کي

ویل سوي دي چي یوه سړي په جنګل کي یوبدشکله بدهیئته شی ولیدی سوال یه څني وکړچي ته څوک یي؟ هغه په جواب کي ورته وویل چي ستاهغه بدعمل یم هغه پوښتنه څني وکړه چي ایاستاڅخه یوه دنجات لاره هم سته اوکه نسته؟ ده په جواب کي ورته وویل چي پرسیدالبشرمحمد ﷺ باندي درود شریف ویل زماڅخه دخلاصون لاره دڅکه دسیدالبشر ﷺ ارشادمبارک دی چي پرماباندي درود شریف ویل دپل صراط دپاره رڼاده څوک چي دجمعي مبارکي په ورځ باندي (۸۰) واره دورود شریف پرماباندي ووایي الله ﷻ دهغه د(۸۰) کالو ګناهونه ورمعاف وي.

**دسیدالبشر ﷺ اعراض دهغه نه درودویونکي څخه** یو سړي به پرسیدالبشر ﷺ باندي درود شریف نه وایو یوه شپه هغه سیدالبشر ﷺ په خوب باندي ولیدی ده محمد ﷺ دهغه وطرف ته څه توجوه ونکړه هغه سوال وکړ چي یارسول الله ﷺ زما څخه ولي خفه یي؟ هغه مبارک په جواب کي ورته وویل چي زه تا نه پیژنم ده عرض ورته وکړ چي یارسول الله ﷺ ته ماولي نه پیژني حال دادی چي ما دعلماء کرامو څخه اوریدلي دي چي تاسو خپل امتیان ترهغه خپلومیندو لاهم زیات بنه پیژنی سیدالبشر ﷺ ورته وویل چي علماءکرامو رښتیاخبره کړي ده لکن ته هغه څوک یي چي ته پرماباندي درود نه وایي له دي وجي څخه زه تا نه پیژنم زما دامتیانو څخه چي څوک ډیرزیات درود پرماباندي وایي هغه دغونه یه زه بنه پیژنم هغه دسیدالبشر ﷺ داخبره واوریدله دهغه وروسته یه هره ورځ پرسید البشر ﷺ باندي سل واره درود شریف وایه څه وخت وروسته یه بیاسیدالبشر ﷺ په خوب باندي ولیدی هغه مبارک ورته وویل چي زه وُس تا بنه پیژنم اوستا شفاعت هم کوم داله دي وجي چي هغه دسیدالبشر ﷺ محب جوړسو الله ﷻ فرمایلي دي (قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ) سوره ال عمران اية نمبر(۳۱) ژباړه: ورته ووایه ای محمد ﷺ که چیري تاسو الله ﷻ دوست بولی زمامتابعت وکړئ الله ﷻ به ستاسو سره دوستي وکړي ستاسو گناهونه به ټول درمعاف کړي دهمدي اية کریمه شان نزول دادی چي سیدالبشر ﷺ کعب اشرف اودهغه وملګروته داسلام دعوت ورکړ هغه وویل چي موږ دالله ﷻ دزامنو په رقم باندي یو اودهغه الله ﷻ سره زیاته مینه کوو په همدي وخت کي الله ﷻ وسیدالبشر ﷺ ته وحي وکړه چي ته ودوی ته ووایه که چیري تاسو دالله ﷻ سره محبت اومینه کوی تاسو زماپیروی وکړئ زه دالله ﷻ رسول یم وتاسو ته دالله ﷻ دجانب څخه دحجت په طورباندي راغلی یم که تاسوزماپیروي وکړ ی نو الله ﷻ به تاسو خپل محبوبین وګرزوي اوستاسو ګناهونه تقصیرات به درته معاف کړي الله ﷻ خوغفور اورحیم ذات دی دالله ﷻ سره دمؤمنانو محبت همدادی چي دهغه په حکمونو باندي عمل وکړي دهغه رب ﷻ عبادت دي وکړي اودهغه الله ﷻ درضاپه کوشش کي دي وُسي دالله ﷻ دمؤمنانو سره محبت هم دادی چي دهغوی تعریف وکړي اوثوابونه ورته ورکړي ګناهونه ورته معاف کړي وهغوی ته دخپل رحمت څخه بنه حصه ورکړي امام غزالی ﷫ په احیاء العلوم کي داسي فرمایي چي کوم څوک دځلورو شیانو څخه بغیر دځلورو دعوه کوي هغه کاذب دی دجنت دعوه کوي لکن نیکي نه کوي اودسیدالبشرمحمد ﷺ سره د دوستي دعوه دار وي لکن دعلماء کرامو سره دوستي نه

کوي داور څخه دواهمي دعوه کوي لکن دګناهونو څخه پرهیز نه کوي دالله ﷻ سره دمحبت دعوه کوي لکن دمشقاتو څخه شکایت کوي په دي باره باندي ربیعه شاعر وایي:

تعصي الاله وانت تظهر حبه
هذا العمري في القياس بديع
لوكان حبك صادقا لاطعته
ان المحب لمن يحب مطيع

**ژباړه**: ته دالله ﷻ نافرماني کوي خو ظاهرا بیا دالله ﷻ سره دمحبت دعوه کوي زما دي په خپل عمر باندي قسم وي دانو یه خبره ده که ستا محبت دالله ﷻ سره رښتیا وای نو به دي دهغه اطاعت کړی وای ځکه څوک چي دچا سره محبت کوي نو دهغه اطآعت هم کوي دمحبت نښاني اوعلامي هغه دمحبوب سره موافقت او ورسره نه مخالفت دی. دشبلي رحمه الله سره دمیني کولو دعوه : یوه ډله خلک د شبلي رحمه الله پرطرف باندي راغلل او وهغه ته یه وویل چي موږ ستاسره زیاته مینه لرو هغه رحمه الله وویل چي دوی ته وکتل نو یه په کاڼو باندي وویشتل هغه وتښتیدل شبلي رحمه الله ورته وویل که تاسو زماسره مینه اومحبت درلودای نوبه زما څخه په دي لږ تکلیف باندي ولي تښتیدلاست بیا شبلي رحمه الله ورته وویل چي محبت کونکو چي دمحبت پیاله وڅښله ځکه وریاندي تنګه سوه هغوی الله ﷻ داسي وپیژندی لکه څنګه چي دهغه حق وو هغه دالله ﷻ په عظمت کي سرګردانه وو ناودالله ﷻ وقدرت ته متحیر وو هغوی هغه دمحبت جام نوش کړ دهغه الله ﷻ دالفت اومحبت په دریاب کي غرق شول دالله ﷻ د دربار څخه یه دهغه مناجاتو دخوږو څخه خوند واخستی دهغه وروسته یه دا شعر ووایه:

ذکرالمحبة یامولای اسکرني وهل رأیت محبالیس سکران

**ژباړه**: ای الله ﷻ ستا دمحبت یاد زه بیهوښه کړم ایاتاسو محب لیدلی دی چي هغه بي هوښه نه وي ویل سویدي چي اوښ مست شي ترڅلویښتو ورځو پوري وابه اونورڅه شی نه خوري که چیري په دي وخت کي پرهغه باندي دهغه اول په اندازه باندي ترهغه هم زیات بار واچول سي نودی هغه هم پورته کولی سي داله دي وجي څخه چي دهغه زړه دخپل محبوب په یادو باندي اخته وي دهغه نه وښوته ارزو وي اونه دبار څخه خبروي کله چي ښ دخپل محبوب په یادونه کي خپل خواهشات پریږدي درونډ بار پورته کړي ایاتاسوهم دالله ﷻ درضا په خاطرباندي یو وخت هم نفساني خواهشات ایله کړي دي کله دي هم خوراک اوڅښاک پرېښی دی کله دي هم درونډبار پرځان باندي اچولی دی که چیري دغه

ذکر سوي شیان تایو هم نه وي کړی نوستا هغه دعوه غلطه ده دا نه په دنیاکي فائده درته رسوي اونه یه په اخرت کي درته رسوي دانه دمخلوق په نزد باندي فائده لري اونه دالله ﷻ په حضورکي فائده درته کوي حضرت علي رضي الله عنه فرمایلي دي چي څوک دجنت امیدلرونکی وي هغه په نیکي کي تلوارکوي اوڅوک چي دجهنم څخه ویرېږي هغه دمنکراتو اوناجائزه اعمالو څخه اجتناب کوي اوڅوک چي په مرګ باندي یقین کوي هغه دنیائي لذتونه پرېږدي دابراهیم خواص رحمه الله څخه دمحبت په باره باندي سوال وسو هغه په جواب کي ورته وویل چي محبت نوم دي دخپلو ارادو دختمولو دهغه ټولو صفتونو او حاجتونو دمړه کولو اوهغه خپل خواهشات داشاراتو په سمندرکي دغرقولو څخه همدایه تعریف دی.

## (۱۰) باب دعشق او دمحبت په باره کي

**تعریف دمحبت**:محبت دښه شي وطرف ته دمیلان کولونوم دی که چیري دامیلان زیات سي وهغه ته عشق ویل کیږي په دي کي کمالي اوزیاتوالی راځي تردي چي عاشق دخپل معشوق ترڅلی غلام ګرزي خپل مال اودولت ترهغه قربانوي تاسو دزلیخامثال وګورئ چي هغي دیوسف علیه السلام په محبت کي خپل ښایست مال اودولت ټول قربان کړل اودا ویل سوي دي چي دزلیخاسره داویا(۷۰) اوښانو دبار په اندازه باندي لعل جواهر اوملغلري وي هغه یه ټول دیوسف علیه السلام په عشق کي قربان کړل هرڅوک چي به داسي وینااوو چي مایوسف علیه السلام په فلاني ځای کي ولیدی دي به وهغه ته یو دزیات قیمت امیل ورکاوی ترداسي یه مال قربان کړ چي هیڅ هم نه سول ورسره پاته هغي ته به هرڅوک یوسف علیه السلام معلومیدی هغي دزیات محبت په خاطرباندي هرڅه دیاده ایستلي وو هیڅ یه هم نه وویاد کله چي به یه واسمان ته کتل هم به وهغي ته په هرستوري کی دیوسف علیه السلام نوم ښکاره کیدی ویل سوي دي چي کله زلیخا ایمان راوړی او دیوسف علیه السلام سره یه نکاح وکړه دالله ﷻ دعبادت ریاضت توبي څخه بغیریه نورهیڅ نه کول کله چي به یوسف علیه السلام دورځي دخپل ځان دپاره راوغوښتله هغي به ورته ویل چي سبابه درسم یوسف علیه السلام ورته وویل چي ای زلیخاته خوزماپه مینه کي لیونی وي وُس دي زه راغواړم ته واسبابه درسم هغي په جواب کي ورته وویل چي داهغه وخت وو چي زه دمیني دماهیت څخه نه وم خبره وُس مادمیني حقیقت معلوم کړ ځکه خوزه وُس په محبت کي ستاګډون نه سم زغملای یوسف علیه السلام ورته وفرمایل چي وماته الله ﷻ دهمدي کار امرکړی دی اوراته ویلي یه دي چي ستادنس څخه به الله ﷻ دوه هلکان پیداکړي ودواړوته به دنبوت هغه لوړه مرتبه

وركړي زليخ وويل كه دادالله ﷻ حكم وي اوپه دي كي دالله ﷻ داحكمت هم وي خوزه تسليمه يم .**مجنون خپل ځان ته ليلاوويل**: مجنون څخه يوچاپوښتنه وكړه چي ته څوك يي ستړسوڼه دی؟ هغه په جواب كي ورته وويل چي زمانوم ليلي دی يوه ورځ يوچاورته وويل چي ايا ليلي مړه سوه؟ ده ورته وويل چې ليلي نه ده مړه خوزمايه زړه كي ده اوزه همدغه زه ليلي يم يوه ورځ مجنون دليلي دكورله څنګه تيريدی هغه داسمان ستوروته كتل دهمدي ځای څخه تيرسوچاورته وويل چي لاندي وګوره شايدچي پرليلي دي خپل نظربرابرسي مجنون ورته وويل چي زمادپاره هغه دليلي پركوربانديږ لوړ ځليدونكي ستوری كافي دی دميني شروع اوپای: كله چي منصور حلاج په قيدخانه كي (۱۸) ورځي تيري كړي نوامام شبلي رحمه الله وهغه ته ورغی اوپوښتنه يه ځني وكړه چي ای منصوره مينه څه شی دی؟ منصورپه جواب كي ورته وويل چي دهمدي سوال پوښتنه سباته راڅخه وكړه كله چي سباسواوهغه يه دمقتل پرطرف باندي روان كړی وو هلته امام شبلي رحمه الله منصور ولیدی ورته ويه ويل چي دميني ابتداء سوځيدل اوانتهايه قتل دی .**اشاره**: كله چي دمنصور هغه حق بين نظر داحقيقت وپيږندی چي دهغه تنها الهي ذات څخه نور هرڅه باطل دي په دي وخت كي دهغه څخه خپل نوم هم هيرسو په دي وجه باندي چي كله به دهغه څخه دخپل نامه پوښتنه وسوه هغه به په جواب كي ورته ويل چي زمانوم حق دی خلاصه داده چي دمحبت صدق په دريو شيانو كي دی (۱)چي محب دخپل محبو ب خبري ترټولو خبرونه بولي.(۲)دهغه مجلس دهرچا ترمجلس ښه بولي.(۳) دهغه رضا دنوررو تر رضا مخته بولي. ويل سوي دي چي عشق پرمحبت باندي زيات دی رازونه افشاكوي.**وجد**:د ذكر دشرين والي په وخت كي دروح غلبه دشوق دبار دپورته كولوڅخه عاجزيږي ترداسي وخته چي كه دوجد په حالت كي دانسان يواندام پريكړل سي هغه په دی وخت كی په يورقم درد باندي هم نه پوهيږي .**قصه**: يوسړی دفرات په درياب كي لمبيدی هغه واوريدل چي څوك دا اية كريمه وايي ﴿وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ﴾ سورة يس اية نمبر(۵۹) **ژباړه**: ای مجرمانو جداسئ. دهمدي اية كريمه په اوريدلو سره هغه سړي غرغره وكړه او وفات سو محمدبن عبدالله بغدادي وايي چي مابه بصره كي پريوځای باندي ولاړ ځوان وليدی وخلكوته يه ويل چي هرڅوك چي دعاشقانو په مرګ باندي مرګ غواړي هغه دي همداسي مرسي څكه چي په عشق كي دمرګ څخه بغير هيڅ خوند نسته دايه وويل اودهغه ځای څخه يه خپل ځان خطاكړ خلكوچي دی راپورته كړ دهغه روح تللی وو. دجنيدبغدادي رحمه الله څخه نقل سوي دي چي تصوف دخپل خوښي دشي دپريښودلو نوم

دی. **قصه**:په زهر الرياض کي راغلي دي چي حضرت ذوالنون مصري رحمه الله وايي چي زه
يوه ورځ په خانه کعبه کي داخل سوم ماهلته دستني وطرف ته پروت يولځ شخص وليدی
دهغه دسيني څخه دژړا اوازونه راپورته کيدل زه دهغه پرطرف باندي ولاړم وهغه ته مي
سلام ورواچاوی پوښتنه مي ځني وکړه چي ته څوک يي؟ هغه راته وويل چي زه
يو مسافرعاشق يم زه دهغه په خبره باندي پوه سوم ماورته وويل چي زه هم ستاپه رقم يم
هغه په ژړاسو دهغه دژړاپه وجه باندي وماته هم ژړا راغله هغه ماته وويل چي ته ولي
ژاړي؟ ماورته وويل چي ځکه زماا و ستا مرض يودی هغه يوه چغه وکړه روح يه قبض شو
ماپرهغه باندي خپل پټو هوار کړ دکفن داغستلودپاره ولاړم کله چي زه بيرته راغلم دی
پرهغه ځای باندي نه وو زما دخولي څخه ناڅاپه سبحان الله ووتله په دي وخت کي ماداسي
هاتفي غيبي اواز واوريدی هغه وويل چي ای ذوالنون دهغه په ژوندکي شيطان دهغه په
طلب کي وو خو پيدايه نکړ د دوذخ ملائکه وو هغه پسي طلب وکړ پيدايه نکړ دجنت
ملائکو هغه نه وليدی ماسوال وکړ چي هغه څه سو په جواب کي راته وويل سوو چي (في
مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ) سورة القمر اية نمبر(٥٥) هغه دخپل عشق دزيات عبادت او دتوبي
دتعجيل په خاطرباندي دهغه قادر الله جل جلاله وحضورته ورسيدی. **عاشق اودهغه پيژندنه**:
ديو شيخ څخه دعاشق په باره باندي سوال وسوهغه په جواب کي ورته وويل چي عاشق
هروخت دخلگو څخه ليري اوتنهاؤسيدونکی په غور اوپه فکر کي دوب اوغلی وي کله
چي وهغه ته وکتل سي په نظرباندي نه معلوميږي کله چي اواز ورته وسي هغه نه اوري
اوکله چي خبره ورته وسي نه ورباندي پوهيږي کله چي ورباندي مصيبت راسي غمگين
کيږي هغه دلوږ والي لوږي اوتندي پروانه کوي دچا داختار ورکولو څخه نه ويريږي کله
چي تنهاوي والله جل جلاله ته التجاکوي دالله جل جلاله درحمت سره په مينه زياته وي محبت ورسره
لري هغه د دنيا دپاره د دنيادارو سره جنګ نه کوي جناب ابوتراب بخشي رحمه الله د عاشق
دنښانو په باره باندي يوڅو شعرونه ويلي دي چي دهغوی ژباړه داسي ده :په ه دوکه مه
ورکوه ځکه چي دمحبوب سره دلائل اودعاشق سره دتحفو وسائل دي يوه نښانه يه داده
چي هغه دخپل تريخ ازمويښت څخه خوند اخلي اومحبوب چي په څه کوي په هغه باندي
خوشحاله کيږي دهغه څخه نه منعه کول هم يواندازه ورکړه ده اوفقر دهغه دپاره دعزت او
دابرو زياتوالی دی اوفی الحال نيکي ده يوه نښانه اونښه يه هم داده چي هغه به هروخت
په خنداکي ويني که څه هم دهغه په زړه کي دمحبوب اوربل وي . بله نښانه يه همداده چي
ته به دګنهګارو په خبرو باندي هغه يوهيدونکی ...

هغه هرهغه خبره ساتي چي هغه دي يه کوي . **قصه:** حضرت عيسى ﷺ ديوځوان ترڅنګ تيرسو هغه ځوان باغ اوبه کاوی هغه باغوان دعيسى ﷺ څخه سوال وکړچي يوه دعا راته وکړه اوداسي دعاراته وکړه چي الله ﷻ ماته دخپل عشق يوه زره راکړي هغه ورته وويل چي يوه زره خو ډيرلوی شی دی دهغي به ته تاب اوطاقت نه ولري هغه سوال وکړچي دنيمي زري دعاراته وکړه چي الله ﷻ نيمه زره راکړي حضرت عيسى ﷺ خپل رب ﷻ ته سوال وکړ چي ودي بنده ته نيمه زره دخپل عشق څخه ورکړه عيسى ﷺ دا دعاوکړه له همدي ځای څخه روان سو ډيدديوڅه وخت دتيريدلو څخه وروسته عيسى ﷺ بيرته پرهمدي لاره باندي تيريدی دهغه ځوان په باره باندي يه معلومات وکړ خلکو ورته وويل چي هغه خوليونی سلوی دی وغرونو ته ختلی دی حضرت عيسى ﷺ وخپل رب ﷻ ته سوال وکړ چي ياالله ﷻ زما ملاقات دهغه شخص سره وکړه نويه هغه وليدی چي هغه پريوه ډبره باندي ولاړوو واسمان ته يه کتل عيسى ﷺ سلام ورواچاوی لکن هغه هيڅ جواب ورنه کړ ده مبارک ورته وويل چي ته ماپيژني زه عيسى ﷺ يم الله ﷻ په دي وخت کي وعيسى ﷺ ته وحي وکړه چي ای عيسى ﷺ دچاپه زړه کي چي زمانيمه زره محبت موجود وي هغه دانسان خبره څنګه اوريدلی سي زما دي په خپل عزت اوجلاليت سره قسم وي که يه په چاړه سره هم ټوټي ټوټي کړي هغه به هيڅ درد هم محسوس نکړي کوم څوک چي د درو خبرو دعوه کوي هغه اوخپل ځان دهمدي دريو شيانو څخه نه ساتي دهغه دعوه باطله ده (۱) کوم څوک چي دالله ﷻ دذکر دحلاوت شرين والي دعوه کوي ليکن دد نياسره هم محبت کوي .(۲) څوک چي په خپلو اعمالو کي داخلاص دعوه کوي لکن دخلکو څخه دخپل عزت مطالبه کوي . (۳) څوک چي دخپل خالق دمحبت دعوه کوي لکن خپل نفس نه ذليله کوي دسيدالبشر ﷺ قول دی چي زما پرامت باندي نژدي داسي زمانه راتلونکي ده چي هغه به دپنځو شيانو سره محبت کوي اوپنځه شيان به بالکل نه يادوي:(۱) د دنياسره مينه کوي خو اخرت يه هيرکړی وي.(۲) دمال سره يه محبت وي خو هغه دحساب ورځ يه دياده ايستلي وي .(۳) دمخلوق سره محبت کوي خودخالق محبت يه هيرکړی وي .(۴) دګناهونوسره محبت کوی لکن توبه يه هيره وي .(۵) دسرايونو اوبنګلوسره محبت کوي خوهغه وران قبريه هيرکړی وي.حضرت منصور بن حماد ﷫ يوځوان ته نصيحت کاوی داسي يه ورته وويل چي ای ځوانه تادي خپله ځواني په دوکه کي نه اچوي ډيرځوانان وه چي توبه ، وروسته کړه هغه خپل اميدونه يه اوږده کړل مرګ يه دياده څخه ايستلی وو دابه يه ويل چي سبايابل سبابه توبه وباسم ترڅوچي ملک الموت

ورته راغی هغه به په هغه توره تایکه کي داخل کړ وهغه ته نه دهغه مال اونه دهغه غلامانونه اولادونو نه مور او پلار اونه نورو داسي شیانو فائده وکړه دالله ﷻ امردی (يَوْمَ لاَ يَنفَعُ مَالٌ وَلاَ بَنُونَ إِلاَّ مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ) اية نمبر(٨٨/٨٩سورة الشعراء. **ژباړه**: ای الله ﷻ موږ ته دمرګ څخه مخکي دتوبي کولوتوفیق راکړه موږ دغفلت دخوب څخه رابیدارکړه دسیدالبشر ﷺ شفاعت زموږ نصیب کړه دمومن تعریف دادی چي هغه هره لمحه اوهره شیبه توبه کوي اوپه خپلو تیرو ګناهونوباندي پښیماني وکړي د دنیاپه هغه لږمال باندي راضي وي اودنیایي شغل یه پریښی وي داخرت په فکر کي مشغول وي په هغه پوره اخلاص سره دالله ﷻ عبادت کوي. **دیوبخیل منافق قصه**: یومنافق ډیر زیات بخیل وو هغه وخپلي ښځي ته وویل چي که تاصدقه ورکړه اویادي وچاته خیرات ورکړ بیاپرماباندي طلاقه يي یوه ورځ یوسائل دي طرف ته مخ کړ دالله ﷻ په نامه باندی یه خیرات وغوښتی ښځي وهغه ته دري ډوډی ورکړي په لاره کي وفقرته هغه بخیل په مخه باندي ورغی پوښتنه یه څني وکړه چي دغه ډوډی چادرکړې؟ سایل دهغه کورپرطرف باندي اشاره وکړه چي هغه کور والاراکړي هغه کورکي ښځه وه هغي راکړي بخیل په تلوار باندي وخپل کورته راغی خپلي کوروالاته یه وویل چي تاته مانه وو ویلي چي وچاته به څه نه ورکوي؟ ښځي ورته وویل چي سائل دالله ﷻ په نامه باندي سوال وکړ ماوهغه ته ډوډی ورکړه هغه بخیل تنورسور کړ وهغه خپلي ښځي ته یه وویل چي دالله ﷻ په نوم باندي په دي تنور کي ځان واچوه ښځه بیداره ولاړه سوه اوهغه خپل سره زر یه دځان سره واخستل وتنور ته روانه سوه خاوند ورته وویل چي ته زر ولي په تنورکي دځان سره اچوي ؟ ښځي ورته وویل چي زه دخپل محبوب سره دملاقات دپاره په زرو باندي ښائسته ځم او دهمدي خبري سره سم یه ځان وتنور ته ایله کړ خاوندیه د تنور سر ورپسي بندکړ تر درو ورځو پوري هغه سر بند و ساتی کله چي یه دري ورځي بعد دتنور سر خلاص کړ که ګوري چي په هغه کي هغه ښځه دالله ﷻ په قدرت سره روغه رمټه ناسته ده هغه بخیل حیران سو په دي وخت کي یو هاتفي اواز وسو چي ایاته نه يي خبر چي اور زما دلاري انسانان زمادوستان نه سوځي.

**دحضرت آسيي رضي الله عنها ایمان دهغه مکمل بیان**: حضرت آسيي رضي الله عنها خپل ایمان دخپل خاوند فرعون څخه پټ ساتلی وو کله چي فرعون دهغي په ایمان راوړلو باندي خبرسو نویه داسي حکم صادر کړ چي دي ته دي ترهغه وخته پوري ډول ډول عذابونه ورکړل سي ترڅو چي دا ایمان پریږدي لکن آسیه رضي الله عنها داسي ثابت قدمه پاته سوه فرعون میخونه

راوغوښتل دهغې پرېدن باندې په ورتکوهل واسيې ﷺ ته په وويل چې وس هم وتاته
داسې موقع او وخت سته چې ته دخپل ايمان او عقيدې څخه واوړې آسيې ﷺ په جواب
کې ورته وويل چې ته خو زما پرظاهري بدن باندې قدرت لرې لکن زما زړه زما درب ﷻ په
قبضه کې ده که ته زما ټول اندامونه پرېکړې زما عشق اومحبت نورهم زياتېږي په دې
وخت کې موسی ﷺ پردې لاره باندې تيريدی آسيې ﷺ پوښتنه څنې وکړه چې
زمارب ﷻ زماڅخه راضي دی؟موسی ﷺ ورته وويل چې داسمان ملائکي ستاپه
انتظارکې دي الله ﷻ ستا په کردار او کارناموباندې فخرکوي ته سوال وکړه ستابه
هرحاجت اومشکل حل سي آسيې ﷺ دعاوکړه چې ای الله ﷻ ماته په خپل څنګ کې
دجنت مقام راکړه اودفرعون اودهغه دظلمونو څخه نجاتراکړه حضرت سلمان ﷺ فرمايي
چې حضرت آسيې ﷺ په سخته ګرمي کې ولمرته درول کيده او کله چې به خلک ور څخه
تلل ملائکه ووبه پرهغې باندې دخپلو وزرونو سايه کوله اوهغې به په جنت کې خپل
کورليدی حضرت ابوهريرة ﷺ وائي چې کله فرعون دبې بي آسيې ﷺ پروجود باندې
څلور ميخونه ټک وهل اودهغې په سينه باندې په ميچنه کېښنوله اسيې ﷺ داسمان
پرطرف باندې وکتل داسې په وويل ﴿رَبِّ ابْنِ لِي عِندَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ﴾ سورة التحريم اية نمبر(۱۱)
ژباړه: ای زماربه ماته په خپل څنګ کې په جنت کې کور جوړکړه حضرت حسن
بصري ﷺ فرمايي چې الله ﷻ دهمدې دعا په برکت سره اسيې ﷺ ته دفرعون څخه
نجات ورکړی او دې ته يې په جنت کې ځای ورکړ هغه ﷺ هم هلته خوراک اوڅښاک کوي
دهمدې خبرې څخه دا خبره معلومه سوه چې په مصيبتونو او مشکلاتو کې دالله ﷻ څخه
پناه غوښتل او الله ﷻ ته اميد کول دمومنانو اودصالحينو کار اوکسب دی.

## (۱۱)باب دالله ﷻ اطاعت، دالله ﷻ محبت، اودهغه درسول ﷺ سره محبت

الله ﷻ فرمايي ﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ﴾ سورة ال عمران اية نمبر(۳۱) **ژباړه:**
ورته ووايه ای محمد ﷺ که چيرې تاسو دالله ﷻ سره مينه لرئ نوتاسو زما اتباع وکړئ
الله ﷻ دې پرتاسو باندې رحم وکړي تاسو په دې باندې خپل ځان پوه کړئ چې دالله ﷻ
اودرسول ﷺ سره مينه داده چې دهغوی اطاعت وکړئ اوحکم يې قبول کړئ او دبنده ګانو
سره دالله ﷻ مينه داده چې خپل رحم اوفضل ورباندې وکړي کله چې يوڅوک داخبره مني
چې هغه حقيقي کمالات خاص الله ﷻ لره دي اودمخلوق کمالات هم په حقيقت کې
دالله ﷻ کمالات دي الله ﷻ ورکړي دي دهغه سره محبت دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ
سره خاص کيږي همدا خبره ده چې بايدبنده دالله ﷻ عبادت وکړي او دالله ﷻ داحکامو

سره مینه وکړي ځکه چې محبت ته د اطاعت نوم ورکول سوی ده او د الله ﷻ سره اخلاص عبادت د رسول الله په اتباع سره شرط سوی دی د حضرت حسن بصري رحمه الله قول دی چې څه خلکو و محمد ﷺ ته عرض وکړ چیي موږ د الله ﷻ سره محبت کوو الله ﷻ دا ایة کریمه ورته نازل کړ چي د سیدالبشر ﷺ اتباع د الله ﷻ د محبت سبب دی ترڅوچي د سیدالبشر ﷺ اتباع ونه سي د الله ﷻ مینه نه سي ترلاسه کیدلاي .حضرت بشر حافي رحمه الله ته لوړ مقام څنګه نصیب سو؟ دي وایي چه ما محمد ﷺ په خوب کي ولیدي هغه ﷺ له ما څخه پوښتنه وکړه چه اي بشر حافي ته پوهیږي چه الله ﷻ ولي ستا مقام ترنورز لوړ کړ ؟ما وویل چه یارسول الله ﷺ نه پوهیږم رسول ﷺ و فرمایل دا ځکه چه ته د نیکانو خلکو خدمت کوي دوستانو ته نصیحت کوي زما د سنت او اهل سنتو سره مینه لري او د خپلو دوستانو سره ښه سلوک کوي نبوي فرمان ده هرچاچه زما سنت ژوندي کړ هغه له ما سره محبت وکړ او چاچه له ما سره محبت وکړ هغه به د قیامت په ورځ له ما سره وي په شرعة الاسلام او اثار مشهوره کي دي چه کله په مذهب کي فتني پیداسي او په خلکو کي اختلاف رامنځه ته سي په دي وخت کي د رسول ﷺ په سنتو باندي عمل کولو ثواب له سلو شهیدانو سره برابریږي نبي ﷺ فرمایلي دي چاچه زما اتباع وکړه هغه به جنت ته ځي او چاچه زما نافرماني وکړه هغه انکار وکړ هرهغه عمل چه زما پرطریقه نه وي هغه ګناه ده د یو عارف قول ده که چیري ته یو څوک په هواکي دالوتو او په سمندر کي داوبو پر سر روان وویني یا په اور کي دننه روغ رمټ سالم وي لیکن هغه قصدًا د الله ﷻ د فرضو او یا د نبي ﷺ د سنتو تارک وي هغه درواغجن ده د هغه د ولایت او محبت دعوه باطله ده او دا د هغه کرامت نه بلکه استدراج ده یعني هغه د عادت څخه مخالف کار چه د کم کافر څخه صادر سي د حضرت جنید رحمه الله قول ده چه د سنت د اتباع څخه بغیر هر عمل باطل ده د نبي کریم ﷺ فرمان ده چه هرچا سنت ضائع کړل د هغه لپاره زما شفاعت حرام ده .

**د الله ﷻ یو لیوني عاشق**: یو سړي د یو لیوني څخه داسي عمل ولیدي چه هغه د عادت مخالف وو هغه معروف کرخي رحمه الله ته راغي ټوله قصه یې ورته وکړه هغه ورته وویل د الله ﷻ دیر داسي عاشقان سته چه ځیني غټ دي او ځیني کوچني بعضي یې عقلمند دي او ځیني یې لیوني کوم سړي چه تالیدلي ده هغه د الله ﷻ لیوني عاشق ده. **قصه**: حضرت جنید بغدادي رحمه الله وایې چه زموږ یو شیخ سري سقطي رحمه الله ناجوړه سو موږ د هغه د ناروغۍ په وجه نه پوهیدو یو چا موږ ته دیو پوه طبیب پته راکړه موږ د شپي په یوه بوتل کي د هغه «بولي» و هغه طبیب ته یو وړي حکیم په دیر غور سره وکتلي او بیایې وویل ماته

دادیوعاشق قاروره رامعلومیږي ددغي خبري په اوریدو سره زه بیهوښه سوم بوتل زمادلاس څخه ولویدي ماچه په واپسي کي سري سقطي ته دحکیم خبره وکړه هغه وخندل اوویې ویل الله ﷻ دي هغه پوه کي هغه ته څنګه معلومه سوه چه زه لیوني یم ماپوښتنه وکړه ایا دمحبت اثرات په بولو کي نه وي دحضرت فضیل رحمه الله قول ده که څوک له تا څخه پوښتنه وکي چه ستا له الله ﷻ سره مینه سته ته چپ اوسه ځکه که ته دنفي جواب ورکي داکفر ده اوکه مثبت جواب ورکي نوپه تاکي دعاشقانو کم عمل اوحرکت نسته تاته په کارده چه ته خاموشي اختیار کي دحضرت سفیان رحمه الله قول ده چه کم سړي دالله ﷻ له دوست سره دوستي کوي اودالله ﷻ داحترام کوونکي احترام کوي هغه په حقیقت کي دالله ﷻ احترام کوي دعلامه سهیل قول ده چه دالله ﷻ سره دمیني لویه نښه دقرآن کریم سره مینه ده دالله ﷻ اودقرآن کریم سره مینه دمحمد ﷺ سره مینه ده دنبي کریم ﷺ دمیني نښه دهغه ﷺ دسنت سره مینه ده دسنت سره دمیني نښه دآخرت سره مینه ده دآخرت سره دمحبت نښه ددنیاسره بغض ده ددنیاسره دبغض نښه په لږشي باندي قانع کیدل اودآخرت لپاره ددنیامصرفول دي دحضرت ابوحسن زنجاني رحمه الله قول ده چه د عبادت بنیاد دري شیان دي سترګه، زړه، اوژبه، سترګه دعبرت لپاره، زړه د فکر لپاره، اوژبه دربښتیا ویلو اودالله ﷻ دذکر لپاره لکه الله ﷻ چه فرمایي: اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلاً سورة الاحزاب آية(٤٢/٤١). **قصه**: حضرت عبدالله او احمد بن حرب دواړه یوځاي ته ولاړل احمد بن حرب هلته دچو وښو یودکي وربیله حضرت عبدالله واحمد ته وویل تاته پنځه شیان حاصل سول ستاپه دي کار سره ستا زړه دالله ﷻ څخه غافل سو تاخپل نفس دالله ﷻ دذکر څخه پرته په نور څه اخته کړ تادخپل ځان لپاره یوه لاره جوړه کړه چه هغه به په تاپسي کیږي تاهغه دالله ﷻ دتسبیح څخه بنده کړه اودقیامت لپاره خپل نفس ته دي درب ﷻ په حضور کي یوحجت ورکړ حضرت شیخ سري سقطي رحمه الله ویلي دي چه ماشیخ جرجاني په خواکي دوړو ستو ولیدي ماپوښتنه ځني وکړه چه تاسي دستو څخه بغیر نورشي نه خورئ؟ هغه وویل ددودئ په خوراک اودهغه په ژوولو کي داتاوان ده چه له ماڅخه اویاتسبیح پاته کیږي دڅلویښتو کالو راهیسي مي دودئ نه ده خوړلي ترڅو له ماڅخه تسبیحات پاته نه سي حضرت سهل بن عبدالله رحمه الله به پنځلسو ورځوکي یووار دودئ خوره کله چه به دروژي مبارکي میاشت راغله په میاشت کي به یې صرف یووار دودئ خوړله ځني وخت به یې تراویااورځوپوري شي نه خوړ کله چه به هغه دودئ یابل شي وخوړ کمزوري به سواوچه وږي به پاته کیدي قوي به سوحضرت ابوحماد

الاسود رحمه الله دیرش کاله د کعبي په څنګ کي وو مګر هیڅ هغه د خوراک په حالت کي نه دي لیدلي دیوني شپي لپاره به هم د الله ﷻ د ذکر څخه نه غافله کیدي.
قصه: حضرت عمرو بن عبید الله رحمه الله به د درو کارونو څخه پرته کله هم د کور څخه نه واتي د جمعي د لمانځه لپاره د ناروغ د پوښتني لپاره په جنازه کي د شرکت لپاره هغه به ویل ما خلک غله او لار شکونکي لیدلي دي عمر یو بېه جوهر ده د هغه هیڅ قیمت نسته ځکه په کارده چه په دي سره دي د آخرت لپاره ذخیره جوړه کړه سي د آخرت د طلبګار لپاره په کارده چه هغه په دنیاکي ریاضت وکي ترڅو چه د هغه ظاهر او باطن یو سي ځکه چه پر ظاهر او باطن باندي د مکمل کنټرول څخه بغیر د حالاتو سمبالول ګران کارده د حضرت شبلي رحمه الله قول ده چه د ریاضت په اولو ورځو کي چه به ماته خوب راغي ما به خپلي سترګي د مالګي په رانجه تورولي کله چه به خوب زیات تنګ کړم نو ګرمه سلائي به مي په سترګو پوري کوله د حضرت ابراهیم بن حاکم رحمه الله قول ده چه کله به زما پلار ته خوب راغي نو دریاب ته به د ننه ولاړي هلته به یې د الله ﷻ ذکر کاوه د هغه د تسبیح په اوریدو سره به ماهیان راجمع کیدل تسبیح به یې ویلي حضرت وهب بن منبه رحمه الله خپل رب ﷻ ته دعا وکړه چه د شپي خوب مي ختم سي الله ﷻ د هغه دعا قبوله کړه هغه څلویښت کاله خوب ونه کړ ټول عمر یې د الله ﷻ په عبادت کي تیر کړ حضرت حسن صلاح رحمه الله خپل جسم د لاسو څخه نیولي ترزنګنو پوري په دیارلسو ځایو کي په زنځیرونو تړلي وو په دي حالت کي به یې په شپه او ورځ کي زر رکعته لمونځ کاوه بیرته به کورته راتلي حضرت حبشي بن داؤد رحمه الله ترڅلویښتو کالو پوري د ماختن په اوداسه سره د سهار لمنځونه اداکړي دي ځکه هر مؤمن ته په کارده چه هغه با اودسه وي کله چه بي اودسه سي فورًا دي اودس وکي او دوه رکعته لمونځ دي اداکي په هر مجلس کي دي مخ پر قبله کښیني په پوره حضور او مراقبي سره دي دا تصور په زړه وکي چه هغه د محمد ﷺ په وړاندي مخامخ ناست ده تحمل او بردباري دي پر خپل ځان لازم وګرځوي تکلیف دي وزغمي خود بدي جواب دي په بدي نه ورکوي د ګناهونو څخه دي استغفار وغواړي خود بیني او ریاته دي نه نژدي کیږي ځکه چه خود بیني د شیطان عمل ده خپل ځان دي کم او نورو نیکو خلکو ته دي د احترام په نظر ګوري کوم سړي چه د نیکانو احترام نه کوي الله ﷻ هغه د هغو له صحبت څخه محروم ګرځوي کوم سړي چه د عبادت حرمت او عظمت نه پیژني الله ﷻ د هغه له زړه څخه د عبادت خوند لیري کوي د حضرت فضیل بن عیاض رحمه الله څخه چا پوښتنه وکړه چه سړي کله نیک کیږي؟ هغه ورته وویل کله چه د هغه په نیت کي نصیحت، په زړه کي خوف، په ژبه یې

ربښتیا او دهغه داعضاوڅخه صالح اعمال صادر سي دمعراج په شپه الله ﷻ محمد ﷺته وفرمایل اي محمده که ته غواړي چه ته ددنیا دټولو خلکو څخه زیات پرهیز ګاره سي نود دنیا څخه بې رغبتي اوداَخرت سره رغبت پیدا که هغه ﷺعرض وکړ یاالله ﷻ د دنیاسره بې رغبتي څنګه وي؟الله ﷻورته وفرمایل چه ددنیا دمال څخه دخپل صورت په مطابق ګټه واخله دصبا لپاره یې مه ذخیره کوه زما ذکر کوه محمد ﷺپوښتنه وکړه په ذکر باندي به څنګه تداوم کوم؟ الله ﷻورته وفرمایل دخلکو څخه علیحدګي اولیري والي خوښ که لمونځ اولوږه خپل غذا وګرځوه.

دمحمد ﷺارشاددی ددنیاڅخه ګوښه کیدل دجسم اوروح تازګي ده اوددنیاسره رغبت فکر اوغم زیاتوي ددنیامحبت دټولو بدیو اصل اوبیخ ده ګوښه کیدل دخیراوبرکت سبب ده. **دناروغه زړه علاج**:یوصالح سړي دیوي دلي له څنګه تیریدي هلته یوطبیب دناروغیو اودهغه د علاجونو خبري کولي ده پوښتنه ځني وکړه چه ایاله تاسره دزړه دناروغیو علاج هم سته؟ هغه ورته وویل هو ستا دزړه څه ناروغي ده؟ صالح سړي ورته وویل دګناهونو تیاري زمازړه سخت کړي ده طبیب ورته وویل ددي علاج سهار اوماښام ژړازاري اواستغفاردالله ﷻپه اطاعت کي کوشش اودخپلو ګناهونو عفو غوښتل دي دوایي داده خوشفا دالله ﷻ سره ده هغه ځوان ددغه خبرو په اوریدو سره بې حاله سو اوویې فرمایل ته ربښتیا ښه طبیب یې تادیر ښه علاج را وښوولی طبیب وویل دادهغه زړه علاج ده چه توبه یې کښلي وي اودالله ﷻپه حضورکي حاضرسوي وي. **ددوو بادارانو خدمت**:یوو سړي یوغلام واخستي غلام وویل اي زمابادارہ زمادري شرطونه دي اول داچه دلمانځه وخت راسي مادهغه له اداکولو څخه مه بندوه دوهم دورځي چه څومره خدمت له ماڅخه اخلي صحیح ده خودشپې مي په قراره پریږده دریم ماته داسي کوټه راکه چه له ماڅخه بغیر بلڅوک نه وي پکښي مالک دهغه دري سره شرطونه قبول کړل اوورته ویې ویل په کورکي دځان لپاره کوټه واخله غلام یوه ادني اوخرابه کوټه ځان ته خوښه کړه مالک ورته وویل تاخرابه کوټه ولي خوښه کړه ؟ غلام ورته وویل اي مالکه دغه خرابه کوټه دالله ﷻپه نزد چمن ده هغه به دورځي دخپل بادار خدمت کاوه اوشپه به یې دالله ﷻپه عبادت کي تیرولہ یوه شپه دهغه بادار دده له کوټي سره تیریدي ګوري چه په کوټه کي ړناده غلام پرسجده پروت ده دهغه پرسر یونوراني قندیل ځلیږي هغه په آه اوژړا سره وایي اي الله ﷻتاپرمادمالک خدمت واجب کړي ده که دهغه خدمت پرماواجب نه واي نومابه شپه اوورځ ستا عبادت کاوه اي الله ﷻزما عذر په خپل دربار کي قبول که

مالک تولہ شپہ دهغه عبادت ته کتل تردي چه سهار سو قنديل مړسو دکوتي حالت بيرته
ډيخواپه رکم سو هغه بيرته کورته راغي اوتوله قصه يې خپلي ښځي ته وکړه کله چه دوهمه
شپه راغله هغه له خپلي ښځي سره دلته راغي چه ويې کتل غلام پرسجده پروت ده
اونوراني قنديل ځړېږي دوي دواړه پردروازه باندي ودريدل توله شپه يې دهغه عبادت ته
وکتل ژړل يې کله چه سهارسو هغه غلام يې راوغوښتي اوورته ويې ويل موږ ته
دالله ﷻ په نامه ازادکړي يې ترڅو چه ښه په فراغت سره دالله ﷻ عبادت وکي غلام خپل
لاسونه احسان ته پورته کړل اوويې ويل

يا صاحب السران السر قد ظهرا »« ولااريد حياتي بعد مااشتهرا

اي دراز مالکه راز ښکاره سو اوس زه ددي راز اوشهرت وروسته ژوند نه غوارم بيايې
وويل اي الله ﷻ ماته مرګ راکي دايې وويل پرمځکه غورځار سو اووفات سو ربښتيا چه
دواقعي صالح اوعاشق اودمولي دطلبګارانو حال هم دغسي وي.

**حضرت موسي عليه السلام ته دهغه ددوست فرمائش**: په زهر الرياض کي دي چه د موسي
عليه السلام يوعزيز اوخوږ دوست وو يوه ورځ هغه موسي عليه السلام ته وويل اي موسي عليه السلام ماته دعا
وکه چه الله ﷻ ماته خپل معرفت نصيب کي هغه عليه السلام دعا ورته وکړه الله ﷻ دهغه
دعاقبوله کړه هغه سړي له ابادي څخه غره ته ولاړي هلته له حيوانانو سره وسيدي کله چه
موسي عليه السلام هغه نه وليدي نويې الله ﷻ ته التجاء وکړه چه يا الله ﷻ زمادوست څه سو
؟الله ﷻ ورته وفرمايل اي موسي څوک چه ماپه صحيح معني سره ويېژني هغه هيڅکله له
مخلوق سره ژوند نه خوښوي ځکه هغه له تااوله نور مخلوق سره دوستي ختمه کړه په
حديث شريف کي دي چه حضرت عيسى عليه السلام اويحيى عليه السلام دواړه يوځاي بازارته روان وه
يوي ښځي په زور هغه له لاري څخه ليري کړل حضرت يحيى عليه السلام وفرمايل په خداي قسم
چه زه بالکل په دي پوه نه سوم حضرت عيسي عليه السلام وويل سبحان الله ستابدن خوله ماسره ده
مګر زړه دي چيري ده يحيى عليه السلام جواب ورکړ اي دخاله زويه که زمازړه ديوي شيبي لپاره
دالله ﷻ څخه جلاسي نوزه پوهيږم چه ماخپل رب نه ده پيژندلي ويل سوي دي چه
ربښتيامعرفت داده چه انسان دنيا اوآخرت پريږدي يوازي دالله ﷻ سي اودمحبت داسي
شراب وڅښي چه دالله ﷻ دليدلو څخه بغير په هوش کي رانه سي همدغه سړي هدايت
يافته ده.

## دوولسم باب شيطان اودهغه عذاب

الله ﷻ فرمايي: ﴿فَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ﴾ سورة آل عمران آيه(٣٢).

که چیري تاسي دالله ﷻ او دهغه د رسول ﷺ د اطاعت څخه اعراض وکئ نو الله ﷻ تاسي نه بخښي اونه ستاسو توبه قبلوي څنګه چي د تکبر او کفر په خاطرباندي د شیطان توبه نه سوه قبوله او د دادم علیه السلام توبه دهغه دخپلي غلطی داقرار په خاطرباندي او دهغه دندامت په وجه باندي الله ﷻ قبوله کړه که څه هم دصحیح قول په مطابقت باندي چي ادم علیه السلام حقیقتا ګناه نه ده کړي ځکه چي انبیاء علیهم السلام دنبوت څخه وړاندي او وروسته دهرقسم ګناه څخه پاک دي لیکن دهمدي کار صورت او شکل دګناه په رقم و و ځکه ادم علیه السلام دالله ﷻ په دربارکي عرض وکړ: رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ سورة الاعراف اية نمبر٢٣ ادم علیه السلام په خپله غلطی باندي خپه اوپریشانه سو دالله ﷻ د رحمت امیدیه وکړ او دتوبي په ایستلوباندي په تلوار وکړ دالله ﷻ څخه ناامیده نه سو لکه چي الله ﷻ فرمائي لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ سورة الزمر اية نمبر٥٣ د الله ﷻ درحمت څخه مه ناامیده کیږئ لیکن شیطان علیه لعنة خپله غلطي نه ومنله توبه یې نه وکښله دتکبرپه خاطرباندی دالله ﷻ درحمت څخه ناامیده سو ن هم دهغه چاحالت چي دشیطآن په رقم باندي وي دهغه توبه نه قبلیږي لکن څوک چي د ادم علیه السلام په شکل باندي وي دهغه توبه قبلیږي ځکه چي هرهغه ګناه چي هغه دخواهشاتوسره تعلق لري دهغه مغفرت ممکن دی اوکومه ګناه چي دهغي تعلق دتکبراوخودبینیی سره وي هغه په هغه ناممکنوکي حساب دی دشیطآن لعین غلطي همداوه او دادم علیه السلام غلطي دنفس دخواهش څخه وه دتکبراوعلوي په خاطرنه وه. **قصه**: حضرت موسی علیه السلام ته ابلیس راغی او ورته ویې ویل چي ته د الله ﷻ غوره رسول یې تا ته الله ﷻ سره دخبرو کولو شرف حاصل شوی دی زه غواړم چي تو به وباسم، ته الله ﷻ رب العزت ته زما د توبې د قبلید لو لپاره سفارش وکړه، حضرت موسی علیه السلام د شیطان په دغه پریکړه چي زه تو به کاږم ډېر خوشحاله شو ویل که چیري ابلیس تو به وباسي نو د ګنا هونو کورګی به ختم شي، نو یې اودس تازه کړ لمونځ یې وکړ اوپه دعا کي مشغوله شو، الله ﷻ وفرمایل چي ای موسی علیه السلام ابلیس درواغجن دی او تا ته دوکه درکول غواړي که چیري ته له ده څخه امتحان اخیستل غواړي نو ده ته ووایه چي د ادم علیه السلام وقبر ته سجده وکړه موږ د ده تو به قبلوو. حضرت موسی علیه السلام ډېر خوشحاله شو چي دا سپک شرط خو به ابلیس ضرور قبول کړي، نو هغهؤ چي ابلیس ته یې د الله ﷻ پیغام ورساوه، ابلیس چي دغه پیغام واورېد په غصه شو مغروره شو او ویې ویل چي هغه ته خو ما د هغه په ژوند کي لاسجده ونه کړه نو تر

مرکه وروسته به زه وهغه ته څنګه سجده وکړم.روایت سوی دی چي په جهنم کي ب
وشیطان ته سخت عذاب ورکول کیږي له ده څخه به سوال وکړل سي چي څنګ
عذاب دی دی به په جواب کي ورته ووایي دیر سخت عذاب دی هغه ته به وویل سي چ
ادم علیه السلام په جنت کي دی ورسه و هغه ته سجده و کړه دخپل کبر اولویي څخه واوړه په هغ
تیروسویو اعمالو باندي پښیماني وکړه چي ستادپاره مغفرت وشي لیکن شیطان به بیاه
دتوبي کولو څخه انکاروکړي د دي څخه ورسته به وهغه ته دنورو جهنمیانو په نسبت
باندی اویا درجي سخت عذاب ورکول سي په یوه روایت کي راغلي دی چي الله ﷻ به ز
کاله وروسته شیطان ددوذخ څخه راوباسي او وادم علیه السلام ته دسجدي کولو امربه ورت
وکړي لیکن هغه بدبخته به بیاهم انکار وکړي بیرته به وجهنم ته واستول سي که تاسو
دابلیس څخه نجات غواړی نو دالله ﷻ درحمت لمن ونیسئ پناه ورڅخه طلب کړئ کله چي
دقیامت ورځ راسي وشیطان ته به داور چوکی کښیښوول سي هغه به ورباندي کښیني
ټول شیطانان او کافران به هلته راجمع کړل سي شیطان به دخره په رقم باندی رمباړي وهي
اوداسي به وایي ای دوذخیانو تاسو دخپل رب ﷻ وعده پیدا کړه هغه به ورته ووایي چي
بلکل په رښتیاباندي بیابه هغه ووایي چي زه نن دالله ﷻ درحمت څخه ناامیده سوی یم په
دی وخت کي به دالله ﷻ دجانب څخه وملائکه وو ته وویل سي چي دهغه پرپیروانو باندي
داور دلرګیو وارونه وکړئ هغه ته به هیڅکله دهمدي ځای څخه دوتلو حکم نه وسي
اوهمیشه به په دوذخ کي وي په یوه روایت کي راغلي دي چي شیطان به دقیامت په ورځ
باندي راحاضر کړه سي دهغه په غاړه باندی به طوق وي داور پرچوکی باندي به ناست وي
الله ﷻ به دجهنم وملائکه وو ته امروکړي چي دهغه چوکی په اورکي واچوئ لیکن هغوی
به دزیات کوشش باوجود هم داکار ونه کړای سي بیابه ببرائیل علیه السلام ته داویازره
ملائکه ووسره حکم وسي مګر هغوی به هم داکار ونکړي بیابه اسرافیل علیه السلام
اوبیا عزرائیل علیه السلام ته داتیازرو ملائکه وو سره هم دا حکم وسي لیکن هغوی به هم
په دي کارباندي کامیاب نه سي بیابه دالله ﷻ حکم وسي چي که زمادهغه پیداکرده
ملائکه وو څخه نوري هم راسي خو بیابه هم داکارونکړای سي ځکه چي دهغه په غاړه کي
دلعنت طوق دی او دهغه دروندوالي په وجه باندي دهمدي ځای څخه حرکت نکوي.

**شیطان اودده په اسمانوکي نوم**: د ده نوم په اول اسمان کي عابد په دویم اسمان کي
زاهد په دریم اسمان کي عارف په څلورم اسمان کي ولي په پنځم اسمان کي متقي په شپږم
اسمان کي عزازیل او په لوح محفوظ کي ابلیس وو هغه دخپل عاقبت او اخر څخه بي فکره

وو کله چي وهغه ته دادم عليه السلام دسجدي امروسو هغه وويل چي ای الله ﷻ تا وهغه ته پرماباندي فضيلت ورکړی دی اوحال دادی چي زه ترهغه بهتري لرم تا زه داور څخه پيدا کړی يم او هغه دي دخاورو څخه پيدا کړی دی الله ﷻ به ورته وواييي زه چي څه وغواړم هغه سي کوم شيطان خپل ځان ترادم عليه السلام بهتراوبنه وبالی دتکبرپه وجه باندي يه دادم عليه السلام څخه مخ وګرزاوی کله چي ملائکه وو ادم عليه السلام ته سجده وکړه ويه کتل چي شيطان سجده نه وه کړي نوهغوی دويم وار دشکر سجده وکړه ليکن شيطان بياهم هغه رنګه په کبرسره ولاړ وو پرهغه خپل کارباندي يه هيڅ پښيمانتيا ونکړه الله ﷻ دهغه شکل منسخ کړ هغه يه دخنزير په شان کړ سريه داوښ اوسينه يه داوښ دبوک په رقم پزه ا وتندی يه دبيزو په شان سترګي يه وتلي اوشړمه يه دناييي دجام په رقم شونډان يه دغوا دشونډو په رقم دي غابښونه يه دخنزير دغابښونو په رقم دي ژيره يه صرف اوه تاره دي په همدی شکل باندي دجنت څخه و دوذخ ته و غورزول سو بلکه داسمان څخه مځکي ته دهغي دجزيرو پرطرف باندي وغورزول سو هغه دخپل کفر دوجي پرمځکه باندي پټ پټ ګرزي اوترقيامته به ورباندي دالله ﷻ لعنت وي شيطان په څه اندازه باندي نبائسته اود ملائکه ووسردار کثيرالعبادة دمقربينو مشر لکن هغه ده ته يوه هم په بنه نه ورغله دخپل کبراوغرور په خاطرباندي دالله ﷻ دقهر اوغضب مستحق جوړسو بيشکه په دي کي دعاقلانو دپاره مهم عبرت دی په يو روايت کي راغلي دي چي کله الله ﷻ پرابليس باندي خپل قهر اوغضب وکړ جبرائيل اوميکائيل عليهما السلام دواړه په ژړاسول الله ﷻ ورته وويل چي تاسوولي ژاړی؟ هغوعرض وکړ چي ياالله موږ ستا دګرفت اوديري څخه ژاړو الله ﷻ ورته وويل چي همداسي زما ديري څخه هروخت ژړاکوئ.

**دادم عليه السلام پراولادباندي دشيطان لعين غلبه** شيطان والله ﷻ ته وويل چي ای الله ﷻ تازه دجنت څخه دادم عليه السلام په سبب باندي و ايستلم وُس وماته دهغه پراولادباندي غلبه راکړه الله ﷻ ورته وويل چي مارتاته دانبياؤ څخه رالاندي پرنوررو ټولو انسانانو باندي غلبه درکړيده شيطان وويل چي نوره هم راکړه الله ﷻ ورته وفرمايل څومره چي دادم عليه السلام اولاده ده دغومره به ستاهم وي شيطان ورته وويل چي نوره هم راکړه الله ﷻ ورته وويل چي مادهغوی سينې ستادپاره دسکونت ځای ګرزولی دی ته به دهغوی په وجود کي دويني په شان باندي جريان لري شيطان ورته وويل چي نوره هم راکړه الله ﷻ ورته وويل چي ستاڅخه علاوه خپل ټول پياده اوسپاره فوجونه راوغواړه اودهغوی په مدد کومک باندي هغه دحرامو په ګټلو باندي اخته کړه اودحيض په شپو کي دجماع په خاطرباندي

ورته حرام اولادونه ورکړه اودحرام کارې وسايل ورته برابرکړه هغوی ته دشرک تعليم ورکړه لکه عبدالعزی اونورهغوی دګنده اوبدو خبروڅخه اودخرابو افعالو اوغلطو مذهبونو په خاطرباندې ګمراه کړه هغوی ته د درواغو اميدونه ورکړه لکه دباطلو معبودانوشفاعت اودابااواجدادو په کراماتو باندې فخرکول اود اژدو اميدونو په خاطر باندې په توبه کې ځنډ اوتاخيرکول اوداسې نور داټول دتهديدپه توګه باندې وو لکه چې الله ﷻ فرمايي، (اعملوا ماشئتم) څه چې مو زړه وغواړي هغه کوئ ادم ﷺ عرض وکړ چې ای الله ﷻ تازما پراولاد باندې ابليس مسلط کړ دهغه څخه نجات ساتنه ستا درحمت څخه بغير نه سي کيدلای الله ﷻ وويل چې زه به ستا هراولاد ته محافظه ملائکه وليږم ادم ﷺ وويل چې نور کومک هم وکړه الله ﷻ ورته وويل چې ديوې نيکۍ ثواب به لس چنده ورکړم ده ورته وويل چې نورهم الله ﷻ وويل چې دژوند تراخري سلګيو به دهغه توبه قبلوم بيامه ورته وويل چې نور هم کومک وکړه الله ﷻ ورته وويل چې چې دهغوی دپاره به مغفرت اوبخښنه زياته اوعامه کړم زه بې نيازه يم ادم ﷺ وويل ای الله ﷻ همدا کافي ده شيطان وويل چې ای الله ﷻ تادادم ﷺ په اولاده کې نبي پيداکړاوپرهغه باندې دې کتابونه نازل کړل زماکتابونه اونبي به څوک وي ده ته جواب ورکړل سو چې کهان به ستارسول وي او کتاب به دې وشم وي دروغ به ستا حديث وي شعرونه به ستاقران وي موسيقي به دې مؤذن وي بازار به ستامسجدوي حمام به دې کوروي اوطعام به دې هغه خورک وي چې پرهغه باندې بسم الله نه وي باندې ويل سوي شراب به دې نشه وي ښځې به ستاجال اونومي (تلکي) وي.

## (۱۳) باب دامانت په بحث کې

الله ﷻ فرمايي ﴿إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا﴾ سورةالاحزاب اية نمبر(۷۲) **ژباړه:** الله ﷻ پراسمانونواومځکو،غرونو،باندې امانت پيش کړ خوهغوی ټولو دهغه دقبلولو څخه انکار وکړ هغوی وويريدل چې دامانت حق به نه کې ادا بيابه دعذاب مستحق وګرزي يا وهغوی ته دخيانت واهمه پيداسوه چې زموږ څخه خيانت صادر نه سي په دې اية شريف کې دامانت معنی ده عبادت اوفرائض چې دهغوی په اداکولو اونه اداکولوسره ثواب اوعذاب مرتب کيږي دقرطبي رحمه الله قول دی چې امانت ددين دټولوشرائطو اوعبادتونو نوم دی او دا دجمهوروقول دی خو د دې په تفصيل کې يوه اندازه اختلاف سته ابن مسعود رضي الله عنه ويلي دي چې دا دمال امانت دی لکه امانت ايښوول سوی مال دهغه رضي الله عنه څخه داقول هم روايت سوی دی چې په فرائضوکې دټولو

څخه مهم مال امانت دی د ابو الدرداء ﷺ قول دی چي دجنابت غسل امانت دی دابن عمر ﷺ قول دی چي دټولو څخه مخته الله ﷻ دانسان عورت پیدا کړ اودا یې وفرمایل چی دا امانت دی چي زه یې تاته درکوم هغه دبې لاري توب څخه وساته که تا دهغه حفاظت وکړ زه به ستا حفاظت وکړم څکه نو عورت امانت دی غوږ امانت دی ژبه امانت دی نس لاسونه اوهم پښي داټول امانت دي څوک چي دامانت خیال نکوی په هغه کي ایمان نسته دحضرت حسن ﷺ قول دی چي کله امانت غرونو اسمانونو ته مځکوته وړاندي کړل سو داټول اوځه چي په دي کي وو مضطرب سول الله ﷻ وهغوی ته وفرمایل چي که تاسو بنه عمل وکړ تاسوته به اجر درکړم اوکه موبدعمل وکړ زه به تاسوته عذاب درکړم هغوی دهمدي دپورته کولو څخه انکار وکړ دمجاهد ﷺ قول دی چي کله الله ﷻ ادم ﷺ پیدا کړ اوهغه ته یه دا امانت وړاندي کړل همدا خبره یه ورته وکړه هغه قبوله کړه اوداسي یه وویل چي زه دا بار پورته کوم داخبره یادولرئ چي ومځکوغرونو اسمانونوته دامانت په قبلولو اونه قبلولو کي اختیار ورکول سوی وو هغوی مجبوره کړل سوي نه وو که پرهغوی باندي دمنلوحکم سوی وای بیاهغو د دي څخه انکار نه سوای کولای دقفال ﷺ اونورو داسي قول دی چي په دی ایه‌کریمه کي دعرض مثال ورکول سویدی چي که پرمځکه اسمانونواوغرونوباندي دهغوی د داقوي صورتونو جسمونو باوجود دپاک شریعت داحکامو زمه واري اچول سوي وای نودعذاب اوثواب له وجي به پرهغوی ډیرګران اودروند تمام سوی وای لکن انسان هغه قبول کړ لکه چي الله ﷻ فرمایي ﴿وَحَمَلَهَا الْإِنسَانُ﴾ انسان هغه قبول کړ ادم ﷺ ته دا امانت په هغه وخت کي وړاندي کړل سوو کوم وخت چي دادم ﷺ اولاده دسرو میږیانو په شکل کي وه هغوی دملا څخه ایستل سوي وه ادم ﷺ دا امانت قبول کړ لکه چي الله ﷻ فرمایي ﴿إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا﴾ (پاره:بیشکه چي انسان دهمدي بار په پورته کولو کي پرځان باندي ظلم وکړ اود همدي دروند بار اندازه یې نه وکړه دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دا روایت دی چي دا امانت ادم ﷺ ته پیش کړل سوو فرمان یه ورته وکړ چي دا په پوره توګه باندي قبول کړه که چیري تا اطاعت وکړ زه به تا وبخښم اوکه دي نافرماني وکړه عذاب به درته راولم ادم ﷺ عرض وکړ یاالله ﷻ داماپه مکمل دول باندي قبول کړی دی دهغي ورځي دمازیګر څخه بیاترشپي پوري وخت تیرسوی وو چي ادم ﷺ دهغه درختي ممنوعي څخه خورک وکړ الله ﷻ پرهغه باندي خپل رحم وکړ ادم ﷺ توبه وکښله پرسیده لاره باندی روان سو . **دامانت معنی**:امانت دایمان څخه مشتق دی کوم څوک چي دالله ﷻ دامانت حفاظت کوي الله ﷻ دهغه دایمان حفاظت

کوي دسيد البشرﷺ قول دی: هغه څوک چي ايمان نلري چي دامانت خيال نه ساتي هغه
چه دين نسته چي هغه پروعده باندي ونه دريږي په دي باره باندي شاعر وايي:

تبالس رضا الخيانة مهيما — وازور عن صون الامان جانبه.
رفض الديانة والمروئة فاعتدى — تغري عليه من الزمان مصائبه

الله ﷻ دي هغه څوک هلاک کړي چي خيانت خپل پناه گاه گرزوي او دامانت د حفاظت څخه ليري
کيږي هغه ديانت اومروت پريښوي پرهغه باندي دزماني مسلسل مصيبتونه راغلل يوبل شاعر
وايي:

اخلق بمن رضا الخيانة شيمة — ان لايري الاصريع حوادث
مازالت الارزاء ينزل بوسها — ابدابغادر ذمة اوناكث

څوک چي خيانت خپل عادت جوړوي هغه د دي قابل دی چي دزماني دحوادثو ښکار سي
څوک چي وعده خلافي کوي پرهغه باندي مسلسل دغمونو باران وي سيدالبشرﷺ
فرمايلي دي چي زملامت به ترهغه وخته په فائده کي وي ترڅوچي هغه دامانت اوغنيمت
مال اوصدقه تاوان نه وبولي دسيدالبشرﷺ بل ارشادمبارک دی چي ته يوچا امين
وگرزولي دهغه امانت واپس ورکړه اوچاچي ستاسره خيانت وکړ دهغه سره خيانت مکوه
دهمدي حديث شريف روايت بخاري اومسلم دوارو کړی دی دمنافق دري علامي دي هغه
چي خبري کوي دروغ وايي اوکله چي وعده وکړي ورباندي وفانکوي کله چي يه څوک
امين وگرزوي هغه خيانت کوي يعني کله چي څوک هغه ديوي خبري امين وگرزوي هغه
نه پټوي بلکه هغه په خلکو کي افشا کوي ياکم مال چي خلکو ورسره ايښی وي دهغه
ڎورکولو څخه انکارکوي نه يه ورکوي ياپه خپل کار کي خيانت کوي په هغه صحيح توگه
باندي يه سرته نه رسوي اوداسي نور دامانت ساتل دمقربوا ملائکه وو انبياؤ اونيکانو
خلکو صفت دی الله ﷻ فرمايي ﴿ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا ﴾ سورة النساء اية نمبر(٥٨) ژباړه:
الله ﷻ تاسوته حکم کوي چي تاسو اماتونه دهغو وخلکوته وسپارئ مفسرين وايي چي
... ني اية کريمه کي ديرشرعي احکام موجود دي او ددي خطاب په عمومي توگه ټولو
واليانو حکمانو نورو مسئولينوته دی څکه چي واليان ته پکاردی چي دمظلومانو سره
انصاف وکړي دحق داظهار څخه دي انکارنه کوي څکه دا دهغوی سره امانت دی په
عمومي توگه دي دټولومسلمانانو اويتيمانو دمال خصوصي حفاظت وکړي
پرعلماؤباندي لازمه ده چي دوی خلکو ته د ديني احکامو تعليم ورکړي څکه علماء کرام
... ي دروندکار عهده اخستي ده دپلاردپاره لازم دی چي دخپلو اولادونو سره ښه

سلوک وکړي اوښه تعلیم ورلره ورکړي ځکه چي اولاد دهغه سره امانت دي سید البشر ﷺ فرمایلي دي چي (کلکم راع کلکم مسئول عن رعیته) خبروسئ ستاسو څخه هرسړی حاکم دی اوهریو دخپل رعیت جواب ورکونکی دی ستاسو څخه دخپل رعیت په باره باندي پوښتنه کیږي په زهرالریاض کي راغلي دي چي دقیامت په ورځ باندي به یوسړی راوستل سي دالله ﷻ حضورته ورته وبه ویل سي ایاتادفلانکي سړي امانت واپس ورکړ؟ هغه بنده به ووایي چي یانوبه الله ﷻ وملائکه وو ته امروکړي چي هغه وجهنم ته واستوئ هغه به هلته دجهنم په بیخ کي هغه امانت ویني دهغه امانت په طرف باندي به روان سي اویاکاله بعدبه هلته ورسیږي بیابه هغه امانت راواخلي راپورته به سي کله چي دجهنم وخوکي ته را ورسیږي دهغه پښه به خطاسي بیرته به دجهنم وهغه لاندي حصي ته ورسیږي همدارنګه به بیابیاراپورته کیږي اولویږي به ترداسي وخته چي دسیدالبشر ﷺ په شفاعت سره به هغه ته نجات حاصل سي اوهغه دامانت مالک به ورڅخه راضي شي.

**دقرض څخه بغیردشهیدهره ګناه بخښل کیږي**: حضرت سلمه رضی الله عنه روایت کوي چي موږ دسیدالبشر ﷺ په خدمت کي حاضرسوو په دي وخت کي یوه جنازه راغله چي لمونځ ورکړي سیدالبشر ﷺ سوال وکړ چي پرده باندي دچاقرض پاته دي؟ یوچاورته وویل چي هوزماقرض سته ورباندي سیدالبشر ﷺ سوال وکړ ایاده څه میراث پریښی دی ؟ په جواب کي ورته وویل سوو چي دري دیناره یه پر یښي دي سیدالبشر ﷺ دهغه دجنازي لمونځ اداکړ یوه بله جنازه راوړل سوه سید البشر ﷺ وویل چي پرده باندي قرض سته ؟ عرض ورته وسوچي یه نسته ؟ سید البشر ﷺ دهغه دجنازي لمونځ اداکړ دهغه وروسته دریمه جنازه راغله سیدالبشر ﷺ وفرمایل چي پردي باندي قرض سته اوکه نسته ؟ صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړ هوپرده باندي قرضي سته سیدالبشر ﷺ وفرمایل ایاده وشاته څه پریښي دي ؟ خلګوورته وویل چي نه هیڅ یه هم نه دي پریښي سیدالبشر ﷺ اصحابوته وویل چي دده دجنازي لمونځ تاسو اداکړئ اوپخپله یه ادانه کړ قتاده رضی الله عنه وایي چي یوچادسیدالبشر ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي که زه دالله ﷻ په لاره کي صابر، شاکر، د ایمان اوثواب په امید باندي مړسم الله ﷻ به زماګناهونه رامعاف کړي ؟ سید البشر ﷺ ورته وفرمایل چي هو کله چي هغه ځوان دده څخه رخصت سو سیدالبشر ﷺ اواز ورته وکړ چي الله ﷻ دشهیدهره ګناه دقرضو څخه بغیر ورته معافوي.

## (۱۴) باب په لمانځه کي خضوع او خشوع

الله ﷻ فرمايي: ﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ ۝ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ﴾ سورة المؤمنون اية نمبر ۱/۲.
**ژباړه:** هغه مؤمنان نجات ترلاسه کوي چي هغه خپل لمونځ په خشوع او په خضوع سره ادا کوي علماء کرام فرمايي چي خشوع په دوو معني وو سره مستعمليږي ځني علماء کرام هغه دزړه په افعالو کي شمارکړي ده لکه بيره انبساط اوداسي نور اوبعضو په ظاهري افعالو کي شمارکړي ده لکه په اطمئنان سره دريدل دبي فکرۍ اوغفلت څخه ځان ساتل دخشوع په معنی کي يودا اختلاف هم دی چي داد لمانځه په فرائضو کي شمارسوي ده دهغوی شمار کونکو دليل همدا لاندي حديث دی، (ليس لعبده من صلواته الاماعقل) ديومسلمان بنده لمونځ ترهغه نه صحيح کيږي ترڅوچي هغه ښه وربا ندي پوه نه سي اوالله ﷻ فرمايي ﴿وَلَا تَكُن مِّنَ الْغَافِلِينَ﴾ اية نمبر ۲۰۵) سورة الاعراف. ژباړه ته دغافلينو څخه مه کيږه په همدی سره دوی وايي چي فرض دی .بيهقي دمحمدبن سيرين څخه روايت کوي چيکله به محمد لمونځ کوی داسمان پرطرف باندي به يه کتل بيادا اية کريمه نازل سوعبدالرزاق په دي روايت کي دا زياته کړي ده چي سيدالبشر ﷺ ته دخشوع حکم ورکړل سوی وو د دي وروسته سيدالبشر ﷺ مخکي او هغه دسجدي ځای ته کتل حاکم اوبيهقي دحضرت ابو هريره ﷺ څخه روايت کوي چي نبي ﷺ چي به لمونځ کاوی واسمان ته به يه کتل نوځکه الله ﷻ همدا اية کريمه وربا ندي نازل کړ د دي څخه وروسته به سيدالبشر ﷺ کښته او مخکي ته کتل حضرت حسن ﷺ فرمايي چي دنبي ﷺ مبارک حديث دی هرچاچي دوه رکعته لمونځ وکړ چي دپنځولمنځونو مثال داسي دی لکه لکه چي ستاسو څخه ديوچاپه کورکي يوه ويا له روانه وي اوهغه شخص په همدي والي کي دورځي پنځه واره ځان صفاکړي ايادهمدي شخص پربدن باندي به څه خيری پاته سي ?ځکه نوکله چي په ښه خشوع اوخضوع سره لمونځ وکړل سي نو انسان دکبيره ګناهونوڅخه بغير دټولو څخه پاکيږي دخشوع څخه علاوه لمونځ نه قبليږي دسيد البشر ﷺ حديث مبارک دی هرچاچي دوه رکعته لمونځ په وکي اودهغه په زړه کي دنياوي خيال نه راغی دهغه شخص هغه تيرسوي ګناهونه ټول بخښل کيږي دسيدالبشر ﷺ فرمان دی چي دلمانځه فرضيت دحج حکم طواف اودحج دنورو مناسکو حکم دالله ﷻ د ذکر دپاره ورکول کيږي که دهغوی داداکولو په وخت کي په زړه کي هيبت اوعظمت نه وي نود دي عبادت هيڅ قدر اوقيمت نسته دسيدالبشر ﷺ ارشادمبارک دی چي کوم چاچي دبدو اوفحشو کارونو څخه ځان ږنه ساتی هغه دالله ﷻ څخه ليري کيږي دحضرت بکر بن عبدالله

قول دی چي ای انسانه که ته غواړې د خپل مالک په حضور کي د هغه د اذن او ترجمان څخه بغیر حاضر سي نو د هغه په دربار کي داخل سه پوښتنه وسوه چي دا په څه رقم باندي کیږي؟ هغه ورته وویل چي اودس وکړه اوبیا و مسجد ته ولاړسه همدا دالله ﷻ دربار دی او د ترجمان څخه بغیر ورسره خبري وکړه د حضرت عائشي رضي الله عنها قول دی چي موږ او نبي ﷺ په خپل مابین کي خبري کولي کله چي به د لمانځه وخت سو نو دالله ﷻ د عظمت په خاطر باندي به موږ داسي کیدلو لکه چي موږ په خپل کي یو د بل سره نه پیژنو د سید البشر ﷺ حدیث دی چي الله ﷻ دهغه لمانځه پرطرف باندي نه ګوري چي په هغه کي دانسان زړه دهغه دبدن سره په عبادت کي شامل نه وي کله چي به حضرت ابراهیم علیه السلام دلمانځه دپاره ودریدی دکافي وخت څخه وروسته به په دزړه څخه درزی اوریدل کیدی وایي چي کله به سعید رحمه الله په لمانځه کي ودریدی دهغه مبارک دسترګو څخه به اوښکي دهغه په ږیره کي توئیدلي سیدالبشر ﷺ یوسړی ولیدی چي هغه په لمانځه کي پخپله ږیره سره بازۍ کولي سیدالبشر ﷺ وفرمایل چي که دده په زړه کي خضوع وای نو به یې اعضاء په سکون او ارام باندي وای . دحضرت علي رضي الله عنه لمونځ اودهغه اداکیدنه: کله چي به دلمانځه وخت راورسیدی دحضرت علي رضي الله عنه رنګ مبارک به بدل سو دلړزي په حالت کي به سو له ده څخه سوال وسو چي ای علي رضي الله عنه په تا باندي څه کیږي؟ ده مبارک ورته وویل چي دالله ﷻ دهغه امانت وخت را رسیدلی دی کوم چي پرمځکه او اسمان باندي پیش کړل سو ورته وړاندي کړل سو خو هغوی یې دقبلولو عذر وغوښتی او ما هغه امانت قبول کړ روایت سوی دی چي کله به علي بن حسین رضي الله عنه اودس وکړ دهغه رنګ مبارک به ژیړسو دهغه کور والاپوښتنه څني وکړه چي دي وخت کي ستاحالت ولي داسي بدل سي؟ ده مبارک ورته وویل چي ایاتاسو نه پوهیږئ چي دچاپه حضور کي د دریدلو تیاری او اراده کوم.

**دحضرت حاتم اصم رحمه الله لمونځ:** له حضرت حاتم اصم رحمه الله څخه دلمانځه په باره باندي سوال وسو هغه ورته وویل چي کله دلمانځه وخت راسي زه پوره مکمل اودس وکړم او هغه ځای ته راځم چي هغه زه ورباندي لمونځ کوم کله چي زمااندامونه ارام کړل سي زه دلمانځه دپاره دریږم په فکر کي دا راولم چي کعبه معظمه مخامخ، اوپل صراط ترخپلو قدمونو لاندي، جنت وراسته طرف ته، دوږخ وچپه طرف ته، ملک الموت شاته، اودا زه اخري لمونځ بولم یعني مرګ داسي نږدي فرض کم دخوف او امید په مابین کي ودریږم دزړه څخه په ښه تصدیق سره تکبیروایم کرارکرارتلاوت کوم په تواضع سره رکوع کوم په خشوع سره

سجده کوم په چپه ورانه باندي کښینم راسته پښه دروم دسرڅخه بیاترپښو پوري په اخلاص سره دریږم لکن دومره نه پوهیږم چي زمالمونځ قبول سوی دی اوکه نه .دحضرت ابن عباس ﷺ څخه قول دی چي په خضوع سره دوه رکعته لمونځ کول دتوري شپي دټول عبادت څخه بهتردی سید البشر ﷺ فرمایلي دی چي په هره زمانه کي به زمادامت څه خلک داسي وي چي په مسجدونو کي به حلقي جوړوي اوهغه د دنیا اودهغي دمحبت بیانونه به کوي خبرؤسئ دهغوی مجلسونو ته مه ورځئ په هغو مجلسونو کي شرکت مه کوئ الله ﷻ هغوی ته هیڅ ضرورت هم نلري.

**په غلوکي هغه لوی غل وپیژنه**:حضرت حسن ﷺ څخه روایت سوی دی چي سید البشر ﷺ وفرمایل چي ایازه وتاسوته هغه بدترین غل دغلو دروښیم؟ صحابه کرامو ﷺ پوښتنه وکړه چي راته معرفي یه کړه هغه څوک دی ده مبارک ورته وویل چي هغه دلمانځه غل دی بیاپوښتنه وسوه چي ای سید البشر ﷺ په لمانځه کي څنګه غلاکیږي؟ ده مبارک وفرمایل چي هغه په لمانځه کي رکوع اوسجده په ښه طریقه سره نه اداکوي دسیدالبشر ﷺ امر دی چي دقیامت په ورځ باندي ترهرڅه دمخه دلمانځه سوال کیږي که یه لمونځونه مکمل وي نور حساب به یه هم که دالله ﷻ رضاوه په سهولت سره وي اوکه یه په لمونځ کي څه اندازه کموالي اونقص وي نوالله ﷻ وملائکه وو ته امروکړي چي که زمابنده څه نوافل لري په هغوی سره دهغه لمنځونه پوره اومکمل کړئ دسیدالبشر ﷺ فرمان دی چي دبنده دپاره د دوه رکعته لمونځ داداکولو دپاره توفیق ورکول ترهرڅه لوی اوعالي انعام دی حضرت عمر ﷺ چي به کله هم دلمانځه د اداکولو اراده وکړه دهغه جسم مبارک به په لرزه باندي وو اوغاښونه مبارکان به یه کړیبدل دهغه څخه په دي باره باندي سوال وسو چي داڅه کیفیت دی؟ هغه مبارک وفرمایل چي دامانت د اداکیدلو اوقرض د ورکولو وخت نږدي سوی دی زه په دي باندي نه پوهیږم چي دابه څه رنګه اداکړم.

**قصه**:حضرت خلف بن ایوب ﷺ پرلمانځه باندي ولاړوو حیوان وخوړ د ده له هغه مبارک وجود څخه ویني رواني سوي لکن هغه هیڅ ورباندي پوه نه سو ترداسي وخته چي ابن سعید له دباندي څخه راغی ده ته یه وویل هغه مبارک هغه خپلي په وینو باندي رنګ سویه اولړلي جامي پریوللي له ده مبارک څخه پوښتنه وسوه چي ته حیوان خوړلی یي اووینه درڅخه روانه ده ته نه یي ورباندي خبر داڅه وجه ده؟ هغه مبارک ورته وویل چي څوک دالله ﷻ په حضورکي ولاړوي اودهغه وشاته ملک الموت عزرائیل ﷺ چپه طرف ته جهنم اوترپښولاندي پل صراط وي هغه به څنګه پوه سي چي یاحیوان وخوړلم اویابل څه

حضرت عمر بن ذر رحمه الله چي يولوړ عابدوو دهغه په لاس كي يوداسي زخم پيداسو چي طبيبانو دلاس پريكولو حكم ورته وكړ ده مبارك ورته وويل چي پري يه كړئ طبيبانو ورته وويل چي موږ به تاپه رسيواو تنابونو باندي وتړو سي ته ونه ښوري ده مبارك ورته وويل چي زماوتړلو ته هيڅ ضرورت نسته كله چي زه پرلمانځه باندي ودريږم تاسو زمالاس پريكړئ كله چي دى پرلمانځه باندي ودريدى طبيبانو دهغه لاس ورپريكړ هغه هيڅ وربانديپوه سوى هم نه ده په دي حالت كي يه هيڅ جذع او فريادنه دى كړى.

## پنځلسم باب امر بالمعروف اونهي عن المنكر

حضرت انس بن مالك رضي الله عنه وايي چه نبي ﷺ فرمايل چه كله يوبنده پرمايووار درود وايي الله جل جلاله دهغه په ساه كي يوسپينه وريځ پيداكوي بياهغه ته درحمت له بحرڅخه داستفادي كولو حكم كيږي له هغه وروسته بياهغه ته داوريدو حكم كيږي دهغه هره قطره چه پرمځكه ومښلي له هغه څخه سپين زر پيداكوي كومه قطره چه پركافرباندي ولويږي هغه ته دايمان دولت وركول كيږي الله جل جلاله فرمايي:

| كنتم خيرامة اخرجت للناس تأمرون بالمعروف وتنهون عن المنكر وتومنون بالله |
|---|

دحضرت حلبي رحمه الله قول ده چه په دي آيت كي پرنوررو ټولوامتونوباندي دمحمدي امت فضيلت بيان سوي ده اوټول مسلمانان امت علي العموم پرنوررو ټولو امتوباندي فضيلت لري دنوررو امتونو په نسبت ددغه امت ابتداء اوانتهاء دواړه ښه دي اګركه ځني اشخاص دډير زيات فضيلت اوكمال مالكان وه لكه اصحاب كرام چه دهغوي په متعلق احاديث موجوددي داخرجت معني ده په ټولوختوكي خلګو ته دخيراوښكي رسولولپاره ديو ممتاز حيثيت په توګه وليږل سوه الله جل جلاله فرمايي: تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ دامستانفه جمله ده په دي كي دا بيان سوي ده چه دمسلمان امت فضيلت له دي كبله ده چه هغه دنېكۍ حكم كوي له بدو څخه منع كوي اوپرالله جل جلاله ايمان لري كه دالاره پريږدي نودغه فضيلت يي نه پاته كيږي هغه له كافرانو سره جهادكوي ترڅو له ظلم څخه لاس واخلي اواسلام قبول كي ځكه هغه ته پرنوررو باندي ترجيح وركول سوي ده دنبي ﷺ فرمان ده چه بهترين انسان هغه ده چه خلګوته ګټه رسوي اوبدترين انسان هغه ده چه خلګوته نقصان رسوي تومنون بالله هغه دالله جل جلاله دتوحيدتصديق كوي اوپرهغه ثابت قدمه پاته كيږي اودمحمد ﷺ دنبوت اقرار كوي ځكه چه هرڅادمحمد ﷺ نبوت ونه مانئ هغه الله جل جلاله نه ده منلئ داپه دي خاطر چه هغه په حقيقت كي پرمحمد ﷺ باندي نازل سوي كتاب قرآن نه مني دنبي كريم ﷺ امرده چه له تاسو څخه كوم سري بدكار ووينې

هغه دي په لاس منع کي که يې ددي طاقت نه وو نو دي په خبرو منع کي که يې دا هم نسو کولاي نو دي په زړه کي بد ورڅخه وکي داکمزورئ ايمان ده ځينو ويلې دي چه په لاسو سره دبدو ختمول دحاکمانو لپاره په ژبه سره دبدي په خلاف جهاد دعلماوو لپاره اوپه زړه کي ورڅخه کرکه دعوامو لپاره ده ځيني وايې چه کوم سړئ دهريوو قوت مالک وي له هغه څخه دي کاراخلي اودبدو مخه دی نيسي الله ﷻ فرمايې: وتعاونوا علي البروالتقوي ولاتعاونوا علي الاثم والعدوان دلته له تعاونه څخه مرادنيکي ته ترغيب ورکول دي اودنيکو لارو اسانه کول اودشر اوفساد ختمولو لپاره دطاقت په اندازه کوشش کول دي په يو حديث شريف کي دي چه نبي ﷺ وايې چاچه له سنتو مخالف خبري کوونکي سړئ وتراټه الله ﷻ دهغه زړه دايمان اواطمينان څخه ډکوي کوم سړي چه دداسي سړي توهين وکي الله ﷻ د قيامت په ورځ هغه دهرقسم بيري څخه محفوظ ساتي اوچاچه دنېکي حکم وکړ هغه په مځکه کي دالله ﷻ خليفه دي دحضرت حذيفه رضي الله عنه قول ده چه داسي يو وخت رانږدي کيدونکئ ده چه خلکوته به دنېکي پرطرف دحکم کوونکي اوله بدو څخه دمنع کوونکي ترمومن به دخره پلان زيات خوښوي حضرت موسی عليه السلام عرض وکړ ياالله ﷻ دهغه شخص بدله به څه وي چه خپلو ورونوته دنېکي حکم وکي اوله بدو څخه يې منع کي؟ الله ﷻ ورته وفرمايل دهغه دهري کلمي په عوض کي به ديوه کال عبادت اجر ليکل کيږي زمارحمت به هغه جنت ته ورسوي اودجهنم اورته به يې نه پريږدي حديث قدسي ده چه الله ﷻ فرمايې اي انسانه دهغه چاپه شان مه کيږه چه په توبه کي تاخير کوي اوږده اميدونه ساتي اودکم عمل څخه پرته آخرت ته سفرکوي خبري دنېکي کوي مگرپه خپله دمنافقانو په شان عمل کوي که رزق اوروزي ورکړه سي نوشکرنه کوي اوکه نه ورکول سي صبرنه کوي هغه خونور خلک له بدو څخه منع کوي مگرخپله له هغه څخه نه منع کيږي

**دآخري زماني په باره کي دمحمد ﷺ ارشاد**: دلته ديوحديث شريف بيانول مناسب دي خودحديث بيانولو مخکې ددي حديث راوي حضرت علي رضي الله عنه فرمايلې دي چه قسم په خداي پرماباندي ترغره غورځيدل اسانه دي خوپرمحمد ﷺ ددرواغو حديث تړل اوهغه ته منسوبول ديرگران دي بيايې وفرمايل ماد محمد ﷺ څخه اوريدلې دي چه په اخيره زمانه کي به دکم عمر اوناپوه خلکو يوه ډله پيدا سي چه خبري به ښې کوي مگر ايمان به يې ترحلق نه وي کښته سوي هغه به له دين څخه داسي وزي لکه غشئ له ليندي څخه تاسي چه هرځاي داخلک پيداکئ قتل يې کړئ ځکه چه دقيامت په ورځ ددي لپاره اجر اوثواب

وکي دنبي ﷺ قول ده چه مادمعراج په شپه داسي خلک وليدل چه دهغو شونډي يې داوريه قينچيانو سره پري کولي ماله جبرائيل عليه السلام څخه پوښتنه وکړه چه دا خلک څوک دي ؟ هغه راته وويل داستادامت خطيبان دي چه خلګوته يې دنيکي حکم کاوو مګرخپل ځانونه يې له ياده څخه ايستلي وه الله ﷻ فرمايي: أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَابَ أَفَلَا تَعْقِلُونَ اياتاسي خلګو ته دنيکي حکم کوئ اوخپل ځانونه موهيرکړي دي حال داچه تاسي قرآن واياست اياتاسي عقل نه لرئ دمؤمن لپاره ضرورده چه هغه دنيکي حکم وکي اوله بدو څخه منع وکي مګر خپل ځان دي هم نه هيروي لکه الله ﷻ چه فرمايي :

وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ مؤمن نارينه اومؤمني ښځي ټول يودبله ملګري دي دنيکي حکم کوي اوله بدو څخه منع کوي لمنځونه اداکوي په دي آيت کي الله ﷻ دمؤمنانو داصفت بيان کړي ده چه هغه دنيکي حکم کوي څوک چه دنيکي حکم ونه کي هغه له دي ممدوحه ډلي څخه نه ده او الله ﷻ دهغو خلګو مذمت کړي ده چه امربالمعروف اونهي عن المنکر نه کوي لکه الله ﷻ چه فرمايي: كَانُواْ لاَ يَتَنَاهَوْنَ عَن مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُواْ يَفْعَلُونَ دوي له منکراتو څخه خلک نه منع کوي بد دي هغه څه چه دوي يې کوي دحضرت ابوالدرداء ﷺ روايت ده چه داسي خلک نيکي ته رابولي اوله بدي څخه يې منع کوي که داسي ونه کي نو الله ﷻ به پرتاسو باندي داسي حاکمان مقررکي چه ستاسو دمشرانو احترام به نه کوي اوستاسي پرکشرانو به رحم نه کوي ستاسي مشران به راوغواړي خو خبري به يې نه مني هغه به مددوغواړي ليکن دهغوي مددبه نه کيږي هغه به بخښنه وغواړي ليکن بخښنه به نه ورته کيږي دحضرت عائشي ﷺ څخه روايت ده چه محمد ﷺ فرمايلي دي الله ﷻ ديوکلي پرخلګو عذاب وليږئ په هغوکي اتيازره خلک داسي هم وو چه هغو دانبياؤ په شان عملونه کړي وه پوښتنه وسوه چه داڅنګه؟ هغه ﷺ وويل داځکه چه دوي به خلک له بديو څخه نه منع کول اودهغو بدعملي يې بدګڼل .

**پرمځکه باندي ترشهيدانو لوړي مرتبي والامجاهدين:** حضرت ابوذر غفاري ﷺ وايي چه ابوبکر صديق ﷺ دمحمد ﷺ څخه پوښتنه وکړه چه له مشرکينو سره دجهاد کوونکي پرته بل مجاهد هم سته ؟ محمد ﷺ وفرمايل هوسته اي ابوبکره دالله ﷻ پرمځکه داسي مجاهدين سته چه ترشهيدانو افضل دي پرمځکه ګرزي اورزق خوري الله ﷻ دملائکوپه ډله کي په هغوي فخرکوي دهغوي لپاره جنت ښايسته کيږي څنګه چه ام سلمة ﷺ دمحمد ﷺ لپاره تياره کړه سوي وه ابوبکر ﷺ پوښتنه وکړه يارسول الله ﷺ دا خلک

څوک دي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل هغه دنيکې حکم کونکي دي يـايې وفرمايل په هغه لوي خداي قسم چه دهغه په قدرت کي زمانفس ده داسي خلک به دجنت په لوړو بالاخانوکي دشهيدانو تربالاخانوبه هم پورته وي دهغوي به دياقوتو اوزمرودو دري سوه دروازي وي هره دروازه به له نورڅخه معموره وي هلته به له هغه دري سوه پاکو حورو سره واده کوي کله چه هغه حوري ته ګوري هغه به ووايې اياستاهغه ورځ په يادده چه دنيکو حکم اوله بدوڅخه دي منع کونه؟ بله به ووايې اياستاهغه ځاي په يادده چه تاامربالمعروف اونهي عن المنکر کاوه روايت ده چه الله ﷻ موسی ﷺ ته وويل ايا تا زماپاره عمل کړي ده موسی ﷺ ورته وويل ياالله ﷻ ماستاپاره لمنځونه کړي دي روژي مي نيولي دي صدقي مي ورکړي دي ستاپه وړاندي مي سجدي کړي دي ستاحمد مي ويلئ ده ستاکتاب مي تلاوت کړي ده ستاذکرمي کړي ده الله ﷻ به ورته وفرمايې اي موسی ﷺ لمونځ ستاپاره دليل، روژه ستاپاره دال، صدقه ستاپاره سايه، تسبيح ستا لپاره په جنت کي درختي، دکتاب تلاوت ستاپاره دجنت حوري، زماذکر ستاپاره نورده ووايه تازماپاره څه کړي دي موسی ﷺ عرض وکړ اي الله ﷻ ماته ووايه هغه کم عمل ده چه زه يې ستاپاره وکم؟ الله ﷻ ورته وويل اياتازماپه خاطر له يوچاسره محبت کړي ده ؟ ايازماپاره دي له يوچاسره دښمني کړي ده ؟ موسی ﷺ پوه سوچه ترټولو ښه عمل دالله ﷻ درضاپه خاطر محبت اودښمني کول دي حضرت ابوعبيده بن الجراح ﷺ وايې چه له محمد ﷺ څخه پوښتنه وسوه چه دالله ﷻ په درباركي دکم شهيد زيات عزت ده هغه ﷺ وفرمايل هغه ځوان چه ظالم حاکم ته دنيکې حکم وکي اوله بدوڅخه يې منع کي په دي کارکي هغه قتل سي که هغه ونه وژل سونوترڅوپوري چه ژوندي وي دهغه ګناهونه نه ليکل کيږي حضرت حسن بصري ﷺ وايې چه محمد ﷺ فرمايلې دي چه زماپه امت کي ترټولو افضل شهيد هغه ده چه دظالم حاکم څنګ ته ورسي اوهغه ته دنيکې حکم وکي له بديوڅخه يې منع کي په همدي وجه هغه قتل سي دداسي شهيد اجر اوځاي جنت ده دحضرت حمزه اوحضرت جعفر ﷺ په مينځ کي به وي الله ﷻ حضرت يوشع بن نون ﷺ ته وحي وکړه چه زه ستادامت څلويښت زره ښکان اوڅلويښت زره بدان هلاکوم حضرت يوشع ﷺ وويل دښکانو څه ګناه ده ؟ الله ﷻ ورته وفرمايل هغو زمادښمنان خپل دښمنان نه دي ګڼلې اوله هغوي سره يوځاي ګداوسي حضرت انس ابن مالک ﷺ وايې چه موږ محمد ﷺ ته عرض وکړ يارسول الله ﷺ ايامونږ صرف په هغه وخت دنيکي حکم وکړچه موږ په خپله په کلکه توګه په هغه نيکي عمل کړي وي ؟ اوله بديو څخه هغه وخت منع وکو چه موږ پخپله له هغه څخه لاس اخستئ وي ؟ محمد ﷺ وفرمايل تاسي دنيکئ حکم کوئ اګرکه تاسي پخپله په کلکه هغه نيکي نسئ کولاي تاسي خلک له بدوڅخه منع کوئ اګرکه تاسي پخپله په بشپړه توګه له هغه څخه لاس نه وي اخستئ يوصالح سړي خپلو زامنوته نصيحت کاوئ چه کله له تاسي څخه کوم يودنيکي حکم کول غواړي نوهغه ته په کارده چه لمړئ

خپل ځان په صبر باندي عادي کي او الله ﷻ ته دي دصبر اميد وکي کوم سړي چه په الله ﷻ باندي اعتماد کوي هغه هيڅکله هم په تکليف نه اخته کيږي.

## شپاړسم باب دشيطان عداوت

دهر مؤمن لپاره ضروري ده چه له علماوو اوصلحاوو سره مينه وکي دهغوپه مجلسونو کي دي کيني په څه چه نه پوهيږي له هغوي څخه دي پوښتنه کوي دهغوي له نصيحتونو څخه دي ګټه اخلي له بدو کارونو څخه دي ځان وساتي شيطان دي خپل دښمن وګڼي لکه الله ﷻ چه فرمايي: إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا يعني شيطان ستاسي دښمن ده هغه خپل دښمن وبولئ يعني دالله ﷻ عبادت په کولو سره په صدق دل سره هميشه دخپلو عقائدو او اعمالو حفاظت کوئ کله چه کوم کار کوئ په هغه کي له رياڅخه ځان ساتئ ځکه چه رياشرک ده هيڅ ثواب نه پرمرتبيږي حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه واي چه محمد ﷺ زموږ په وړاندي يوه کرښه وليکله ويې ويل چه دادالله ﷻ لاره ده بيايې ددغي کرښي راسته اوچپه طرف ته نوري کرښي وکښلې ويې ويل چه دا دشيطان لاري دي خلک له سيده لاري څخه اړوي بيا هغه ﷺ داآيت شريف ووايه: وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ محمد ﷺ زموږ لپاره دشيطان ديري لاري بيان کړي دي ترڅو دهغه په فريب کي راګيرنه سو.

**دشيطان دوسوسې انجام:** دنبي ﷺ څخه روايت ده چه شيطان دبني اسرائيلو د يوزاهد دګمراه کولو لپاره له دي چل څخه کار واخستئ چه يوه انجلۍ يې دنس په ناروغي اخته کړه دهغې دکورروالاوو په زړه کي يې دا خبره واچوله چه ددغه ناروغي علاج له دغه شيخ څخه پرته بل څوک نسي کولاي خلکو هغه انجلئ زاهدته راوړه زاهد دهغې له علاجه اوپه خپله خواکي دهغې له پرېښوولو څخه انکار وکړ دهغو دزيات اصرار اوزاريو له کبله دهغه زړه نرم سو انجلۍ يې دعلاج په خاطر په خپل کورکي قبوله کړه کله چه به انجلۍ دعلاج اودم لپاره زاهدته ورتله شيطان به هغه ديره ورته ښايسته کوله تردي چه زاهد دهغې له ښايست اوحسن څخه متاثره سو ډيره يې خوښه سوه بالآخر خبره دي ته ورسيده چه مجامعت يې ورسره وکړ انجلۍ حامله سوه شيطان دهغه په زړه کي وسوسه پيداکړه چه داخو ديره بده خبره ده چه زماپه زاهدي اوتقوي باندي تور داغ ولګيدئ پکار ده چه داانجلۍ ووژنم اويوپټ ځاي يې ښخه کم چه دهغې کورني خلک راسي نوورته وبه وايم چه هغه خومړه سوه زاهد د شيطان په شيطانت سره هغه انجلۍ قتل کړه يوځاي يې دفن کړه هلته شيطان دهغې د کور دخلکو په زړه کي دغه ورواچول چه دهغوي لور زاهد قتل کړيده يوځاي يې دفن کړيده هغه زاهد ته راغلل اودخپلي لورپوښتنه يې وکړه زاهد ورته وويل چه هغه خومړه سوه ليکن هغوي پرزاهد باندي سختي وکړه هغه يې ديته اړ کو چه ووايي انجلۍ ماوژلي ده هغو زاهد ترلاس ونيوئ دقصاص اخستو عزم يې ورته وکړ شيطان راغئ زاهدته يې وويل هغه مادنس په بيماري اخته کړي وه ماستاپه جرم باندي دهغې کورروالاخبرکړل اوس ته زماخبره ومنه

زه به دي له دوي څخه خلاص کم زاهد وویل څه وکم؟ شیطان ورته وویل ماته سجده وکه زاهد د خپل ځان د خلاصون لپاره شیطان ته دوي سجدي وکړي شیطان په ډیره خوشحالي سره وویل چه ستاله ټولو عملونو څخه بیزاریم لکه الله ﷻ چه فرمایي ، إِذْ قَالَ لِلْإِنسَانِ اكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكَ کله چه یې انسان ته ، ویل کفر وکه کله چه هغه کافرسو هغه ورته وویل زه له تاڅخه بیزاره یم. **له امام شافعي ﷫ سره دشیطان خبري** ،شیطان له امام شافعي ﷫ څخه پوښتنه وکړه چه ستا هغه ذات په متعلق څه خیال ده چه زه یې دخپلې خوښي مطابق پیداکم او څه چه یې خوښ وي په مایې کوي که هغه وغواړي نومابه جنت ته بوزي یادوزخ ته ایاداسي عدل کونکي ده که ظالم ده؟ امام شافعي ﷫ لږ توقف وکړ وروسته یې ورته وویل چه اي سوال کونکي که الله ﷻ ته ستا دمنشا په مطابق پیداکړي یې نوته ربښتیامظلوم یې اوکه هغه ته دخپل قدرت په اراده سره پیداکړي یې نو دهغه خوښه ده چه هرڅه کوي شیطان له ډیره شرمه اوبه اوبه سواو ویې ویل په همدغه سوال مااو یازره عابدان ګمراهان کړي دي .

**دانسان زړه یوه قلاده**،دانسان زړه دیوي قلاپه شان ده شیطان یې یودښمن ده چه پردي قلابندي قبضه کول غواړي دقلا حفاظت ددروازو دبندولو اودهغي په ټولو لارو باندي له نظره پرته نه کیږي داکارهغه څوک کولاي سي چه دد ي کلا له ټولو لارو څخه خبروي ځکه نو دشیطان له حملې څخه زړه خبرساتل دهرهوښیار اوعقلمند مؤمن لپاره ضروري اوفرض عین ده دشیطان دیرغل مقابله ترهغو نسي کیداي ترڅوچه دهغه له ټولو لارو څخه سړي خبرنه وي پرهرمسلمان باندي فرض ده چه دشیطان له ټولو لارو اوځایونو څخه ځان خبرکي دشیطان دغه لاري دانسان خپل کړونه دي لکه درد اوشهوت درد عقل ختموي ځکه دشیطان لښکرهغه وخت پرانسان حمله کوي چه انسان ته درد ورسي کله چه انسان ته درد ورسي شیطان په هغه داسي لوبې کوي لکه کوچني چه په ګین باندي بازي کوي یوه سړي له شیطان څخه پوښتنه وکړه چه ته ماته وایه چه ته پرانسان څنګه غالبه کیږي هغه ورته وویل زه په هغه وخت کي پرغالب کیږم چه کله په درد یا شهوت کي راسي دشیطان له لارو څخه یوه لار دحرص اوحسد ده ځکه چه حرص انسان په سترګو ړندوي اوپه غوږو یې کڼوي شیطان دغه فرصت دځان لپاره غنیمت ګڼي دده ټولي بدیاني دحرص په مخ کي په ښکلې طریقه سره وړاندي کوي هغه یې په دي قبلوي چه دا ښه ده .

**شیطان دنوح ﷺ په کښتۍ کي** روایت ده چه نوح ﷺ دالله ﷻ په حکم سره اول د هرجنس یوه یوه جوړه په کښتۍ کي سپاره کړل پخپله هم په داکښتۍ کي سپورسو هغه یو بیګانه بوداسړي ولیدي پوښتنه یې څني وکړه چه ته دلته چاراخیژولی یې ؟ هغه ورته وویل زه دلته ځکه راغلی یم چه ستاد ملګرو پرزړونو باندي قبضه ولکوم زړونه به یې له ماسره وي بدنونه به یې له تاسره وي نوح ﷺ ورته وویل اي دالله ﷻ دښمنه له کښتۍ څخه کښته سه ابلیس ورته وویل اي نوح ﷺ پنځه شیان داسي دي چه په هغو زه خلک په ګمراهي اخته کوم دري درته وایم اودوه نه درته وایم

په دي وخت کي الله ﷻ نوح علیه السلام ته وحي وکړه ورته ووایه ماته دهغو دري شیانو ضرورت نسته ماته صرف هغه دوه شیان راوښیه شیطان ورته وویل هغه دوه داسي شیان دي چه هیڅکله مانه دروغجن کوي اونه مي ناکامه کوي په هغه سره زه خلک تباهي ته راولم له هغو دوو څخه یو حسد ده ددغه حسد په وجه خوزه دالله ﷻ له دربار څخه وشړل سوم ملعون وګرځیدم بل حرص ده ددغه په وجه ادم علیه السلام ته دممنوعه درختي څخه دخوړلو خواهش پیداسوزما ارزو پوره سوه دشیطان یوه لاره دانسان مړه ګیډه ده اګرکه دحلال رزق څخه وي ځکه چه موږ ته شهوتونه زیاتوي دشیطان هم دغه لویه وسله ده په ماړه نس ډوډۍ خوړل هم انسان دشیطان په لومه کي مبتلوي روایت ده چه حضرت یحیی بن زکریا علیه السلام شیطان ولیدي هغه ډیري لومي یوځاي کړي وي هغه علیه السلام پوښتنه ځني وکړه چه داڅشي دي؟ هغه ورته وویل داشهوات دي چه ابن ادم پکښي بندي کوم هغه علیه السلام ورته وویل ایازمالپاره هم لومه پکښي سته؟ ابلیس ورته وویل یانسته مګریو شپه دي په ماړه نس ډوډۍ خوړلې وه چه دهغه په وجه په لمانځه کي تاته سستي پیداسوه یحیی علیه السلام وویل زه به بیاهیڅکله په مړه ګیډه ډوډۍ ونه خورم شیطان ورته وویل زه به هم بیاهیڅکله بني ادم ته نصیحت ونه کم دشیطان یوه لاره ددنیاپر مال عاشق کیدل دي چه کله شیطان دانسان زړه دمال پرطرف مایل کي هغه دامال دهغه په مخ کي په ډیر ښایسته شکل پیش کي کوشش کوي چه هغه دلویو لویو بنګلو ددنیاپه زیب اوزینت کي راګیر کي دبنګلو بنګلو جامو اواوږد عمر په امید یې اخته کي کله چه یوانسان دغه حدته ورسیږي نوبیا دالله ﷻ په لاره کي دهغه تلل ډیر ګران وي ځکه چه دهغه یوامید لانه وي پوره سوي چه دبل امید دپوره کیدو کوشش کوي آن تردي چه دمرګ نیټه یې راورسیږي اوله دي دنیاڅخه سفر وکي دشیطان یوه بله لار له خلګو څخه امید کول دي حضرت صفوان بن سلیم رحمه الله فرمایي چه شیطان عبدالله بن حنظله ته راغي اوورته ویې ویل چه زه تاته یو نصیحت کوم هغه په یاد وساته ده ورته وویل ماته دهیڅ نصیحت ضرورت نسته شیطان ورته وویل ته یې واوره که ښه نصیحت وو نو قبول یې که اوکه نه وي ښه نو مه یې قبلوه.

## حضرت صفوان بن سلیم رحمه الله ته دشیطان ملعون نصیحت

هغه نصیحت داده چه دالله ﷻ پرته بل چاته دخواهشاتو سوال مه کوه دي ته ګوره چه په غصه کي ستاڅه حالت وي ځکه چه زه دغسي په وخت کي پرانسان غالب کیږم دشیطان یوه بلاه لار په انسان کي دثابت قدمۍ فقدان اووار خطایي ده دنبي کریم ﷺ حدیث شریف ده چه تلوار شیطاني فعل ده تحمل دالله ﷻ ورکړه ده په تلوار کي شیطان انسان بدي ته داسي اسن مائله کوي چه هغه خبرېږي لانه روایت ده چه کله حضرت عیسی علیه السلام پیداسو دشیطان ټول شاګردان دهغه شاوخواته راغلل اوپه خپل مابین کي یې وویل چه نن ټول بتان سرنګون سول شیطان وویل داسي معلومیږي چه یوه لویه حادثه سوي ده تاسي دلته ودریږئ زه به معلومات وکم هغه له مشرقه ترمغربه څرخ وخوړ

مگر هیڅ معلومات نه ورته وسو تردي چه دحضرت عیسی ﷺ دولادت ځاي ته ورسیدي هغه په دي خبره ډیر حیران سو چه ملائکو حضرت عیسی ﷺ په خپل احاطه کي اخستي وو هغه واپس خپلو شاګردانو ته راغي ورته ویل چه تیره شپه یونبي پیداسوي ده زه دهرماشوم دولات په وخت کي موجودیم مګر دهغه له پیدائشه هیڅ خبرنه سوم له دي شپي وروسته به نور دبتانو عبادت ختم سي له دي وروسته به پر انسان هغه وخت حمله کوئ کله چه هغه تلواري او لا پرواوي دشیطان یوه بله لاره پسه او مځکه ده ځکه چه کوم شي دانسان له حاجت څخه زیات سي له هغه څخه دشیطان داوسیدو ځاي جوړیږي دحضرت ثابت البناني ﷺ قول دی چه کله الله ﷻ نبي کریم ﷺ مبعوث کړ شیطان خپلو شاګردانو ته وویل نن لویه واقعه راپیښه سوي ده ولاړسئ وګورئ چه څه پیښه سوي ده هغه ټول ددي په لټه کي ووتل مګر واپس ناکام راغلل اوویې ویل چه هیڅ مونه ولیده شیطان ورته وویل تاسي ودریږئ زه به معلومات وکم هغه چه راغئ خپلو شاګردانو ته یې وویل نه ﷻ محمد ﷺ مبعوث کړي ده شیطان خپل شاګردان ټول په اصحاب کرامو پسي واچول چه دغه خلک ګمراه کئ مګر کله چه به واپس راغلل نوویل به یې چه اي استاده موږ تراوسه پوري داسي ځکه مي نه وه لیدلي کله چه هغه پرلمانځه ودریږي زموږ ټول کوششونه هدر ولاړسي شیطان ورته وویل ښیره مه کوئ لږ نور انتظام هم وکئ ډیر ژر به دهغوي مال اودنیا ډیره سي هغه وخت به زموږ کوششونه کامیابه سي روایت ده چه یوه ورځ حضرت عیسی ﷺ یوه کاڼي ته تکیه لګولې وه شیطان دهغه ﷺ له خواڅخه تیرسو ورته ویې ویل اي عیسی ﷺ تادنیا مرغوبه ګڼلي ده؟ عیسی ﷺ هغه تیڼګ ونیوي په څټ کي یې په سوک وواهه ورته ویې ویل دادنیاله ځانه سره واخله داستاپاره ده دشیطان بله لار له فقر اولوږي څخه ډیره اوبخیلي ده داځکه چه داشیان انسان یوخداي په لارکي دخرڅولو څخه منع کوي اوبل داچه هغه ته مال اودولت دذخیره کولو دعوت ورکوي چه ددردناک عذاب سبب ګرځي دبخل له ټولو څخه لوي نقصان داده چه هغه دمال اودولت دراټولولو لپاره په کوڅو اوبازارو کي ګرزي داټول شیان اسباب دي دانسان دګمراه کولو لپاره او څخه ګټه اخستل کیږي.

دشیطان بله لار دمذهب څخه نفرت، دخواهشاتو پیروي، له خپلو مخالفینو سره بغض او حسد مغوته دحقارت په سترګه کتل دي داهرڅوک که هغه عابد وي اوکه فاسق هلاکوي یې دحضرت حسن ﷺ قول ده چه شیطان وویل مادمحمد ﷺ امتیان په ګناهونو کي ککړ کړل مګر هغوي دالله ﷻ څخه مغفرت وغوښتئ ماته یې په دي استغفار سره شکست راکړ له دي څخه وروسته مي په هغوپسي داسي ګناهونه واړول چه هیڅکله به استغفار ونه کي دادهغو ناجایزه خواهشات دي دشیطان ملعون خبره بالکل صحیح ده ځکه چه په عامه توګه خلک په دي نه پوهیږي چه همداخواهشات سړي دګناه خواته مائل کوي دشیطان یوه لاره دمسلمانانوپه باره کي بدګماني ده که چیري تاسي ووینئ چه یوسړي دخلکو عیبونه لټوي اوبد ګماني پیداکوي نوپوه سئ چه

هغه سري پخپله ښه نه ده داکار دهغه پربدوالي باندي دلالت کوي ځکه هرمسلمان ته په کارده چه هغه دشیطان دداخلیدو ټولي لاري بندي کي دالله ﷻ په یاد اوذکر سره خپل زړه بوه محفوظه قلاوګرځوي.

**په دارالندوة کي قریشوته دشیطان مشوره**،دابن اسحاق ﷫ روایت ده چه کله دمکي قریشو دمحمد ﷺ اصحاب ﷡ په هجرت کولو مجبور کړل ډیر خلک یې دمسلمانانو په صف کي ولیدل هغوي ته داخطر پیښ سو چه هسي نه محمد ﷺ هم هجرت وکي هلته یو قوي اومنظمه ډله جوړه نه کي چه بالآخر موږ ته شکست راکي دوي له همدغي بیري له کبله په دارالندوة کي چه دقصي بن کلاب کور وو (دارالندوة ځکه ورته ویل کیده چه قریشو به دلته دخپلو مسائلو په اړه مشوري کولي په دي کي به ترڅلویښتو کالو کم عمر والاسړی نه سو داخلیدای ) داټول خلک به دهغتي په ورځ له ابوجهل سره کښیناستل ځکه ودي ورځي ته ددوکي اوفریب ورځ ویل کیږي له دغو خلګو سره به ابلیس هم په مجلس کي شریکیدي ددغه ملعون دشراکت قیصه داوه چه کله دمکي قریش په دارالندوة کي دروازي ته ورسیدل ګوري چه یودروند بوډا سړي پرکمبله ناست ده یوروایت وایي چه دظلمستان وریښمن څادریې پروړه وو هغو پوښتنه وکړه تاسي څوک یاست؟ هغه وویل دنجد شیخ یم تاسي چه دکومي خبري اراده کړي ده هغه مي اوریدلې ده اوزه ددي لپاره راغلی یم چه ستاسي خبري واورم تاسوته مشوره درکم دا خلک ننوتل اومشوري شروع سوي په یوروایت کي دي چه داټول سل کسان وو په بل روایت کي دي چه پنځلس کسان وو ابو البختري چه دبدر په غزاکي وژل سوي وو محمد ص وویل چه داورسپیني په پنجره کي یې بند کئ دهغه انتظار وکئ چه دده انجام هم دنورو شاعرانو په شان سي شیخ نجد وویل په خداي چه داخبره صحیح نه ده که تاسي هغه داوسپیني په پنجره کي بند کئ هغه به یرته راووزي اوخپلو اصحابو ﷡ ته به ځان ورسوي ابوالاسود ربیعة بن عمرو العامري رأي وړاندي کړه چه محمد ﷺ له وطن څخه وشړئ هرچیري چه ځي موږ یې څه پرواه کوو صرف زموږ په دي ښاروکي دي نه اوسیږي شیخ نجد وویل ایاتاسي دمحمد ﷺ خوږي خبري ښه اخلاق، له هغه سره دخلګو مینه نه ده لیدلي؟ که تاسي هغه جلاوطن کئ اوورڅخه مطمئن سئ دابه ستاسولویه غلطي وي هغه به یوقبیلي ته ولاړسي په خپلو خوږو خبروبه خلک پرځان عاشقان کي له یوي لویې ډلي جوړولو وروسته به پرتاسي حمله وکي تاسوته به شکست درکي ستاسو داشان اوشوکت به له منځه ولاړسي څه چه هغه غواړي له تاسو سره به یې وکي ابوجهل وویل زماپه دماغ کي داسي یوخبره ګرځي چه بل چانه ده کړي هغه داچه له هري قبیلي څخه تکړه تکړه خلک راجمع سي اوهغه ټول په جمعواري سره پرمحمد ﷺ باندي دتورو حمله وکي هغه ووژني موږ به هم له هغه څخه خلاص سو اوبنو عبدمناف به له ټولو قبیلو سره جنګ ونه کړسي اودیت اخستلو ته به مجبورسي موږ به په ګډه دهغه دیت ورکو شیخ نجد ددغي خبري په اوریدو سره په کټ کټ وخندل اوویې ویل دغه خبره

بنکل صحیح ده په یوو اتفاق داخبره ومنل سوه اوخلک خپلو کوروته ولاړل جبرائیل ع فوراً محمد ﷺ ته راغئ محمد ﷺ ته یې وویل اي دالله ﷻ رسوله نن ته په دي کټ کي استراحت مه کوه کله چه شپه سوه دقریشو ځوانان دمحمد ﷺ دکور پرشا وخوا راوګرځیدل په دي انتظار ولاړوو چه کله محمد ﷺ دباندي راووزي قتل به یې کي محمد ﷺ په دي شپه علي ؓ په خپل کټ کي پیده کړ شین ځادریې ورباندي واچاوو بیاوروسته علي ؓ داختر اوجمعي په ورځ هغه ځادر پراوړه کاوو علي ؓ لمړي شخص وو چه دخپل ځان په بیه یې دمحمد ﷺ حفاظت وکړ لکه علي ؓ چه دخپلو احساساتو اظهار په لاندي ډول په شعروکي کړي ده :مادخپل ځان په بدله دهغه خیرالخلائق نبي ﷺ حفاظت وکړ چه دالله ﷻ پرمخکه ترټولو ښه ده چه دهرطواف کوونکي اوحجر اسود مچوونکي څخه بهتر ده محمد ﷺ ته دقریشو دمکر اوفریب څخه اندیښنه پیدا سوه نو ــه ﷺ هغه دهغو له فریب څخه وساتئ دالله ﷻ رسول په غارکي په نهایت اطمینان سره دالله ﷻ په حفاظت کي شفه تیره کړه ځوزه دمکي دقریشو په وړاندي مخامخ پروت وم اوپه دي خاطر ماخپل ځان دقتل کیدو یاېندي کیدو لپاره تیارکړ الله ﷻ دقریشو دغه ځوانان رانده کړل ومحمد ﷺ دقریشو په دي بهادرانو باندي دخاورو په شیندلو اوددي آیت په ویلو سره ووتئ:

فاغشینهم فهم لایبصرون په دي وخت کي یوسړئ راغي له هغو څخه یې پوښتنه وکړه چه تاسي دلته څه کوئ؟ هغوي وویل موږ دمحمد ﷺ انتظار کوو هغه ورته وویل قسم په خداي چه هغه دخاورو په شیندلو له تاسو څخه دباندي تللئ ده الله ﷻ تاسي ذلیل اورسوا کړي یاست اوس تاسي دلته څه کوئ؟ هغوي په خپلو سروباندي لاسونه ووهل که ګوري ورئ ورباندي پرتي دي هغو چه په کټ کي په شنه ځادر کي حضرت علي ؓ ولیدي نویې وویل په خداي چه همدامحمد ﷺ ده کله چه سهار سو که ګوري چه هغه حضرت علي ؓ وو هغوي وویل هغه سړي موږ ته رښتیاویلي دي په دي واقعه باندي دالاندي آیت شریف نازل سو: واذیمکربک الذین کفروا لیثبتوک اویقتلوک **ژباړه**:کله چه دمکي کفارو له تاسره فریب کاوو چه هغه تاسخت زخمي اویاقتل کړي. **شعر**:بیره مه کوه له هرمشکل څخه وروسته اساني وي اوهرشي ترېومقرروخته پوري وي مقدر تر موږ زیات باخبرده زموږ پرتدبیرونو دالله ﷻ تدبیر غالب ده دالله ﷻ فرمان ده :وقل رب ادخلني مدخل صدق واخرجني مخرج صدق واجعل لي من لدنک سلطانا نصیرا. **ژباړه**:خپل عرض داسي وکه چه اي زمارب ماپه صدق سره داخل که اوپه صدق سره مي دباندي وباسه ماته له خپل طرف څخه کومک اوغلبه راکه دحاکم روایت ده چه حضرت علي ؓ ویلي دي چه محمد ﷺ دجبرائیل ﷺ څخه پوښتنه وکړه چه له ماسره به په هجرت کي څوک ملګرتیاوکړي ؟ هغه ورته وویل ابوبکر صدیق ؓ نبي کریم ﷺ علي ؓ له خپل هجرت څخه خبرکړئ اوورته ویې ویل چه له ماسره دخلګو دامانتونو ورکولو څخه وروسته ته هم هجرت وکه زماځنګ ته ځان

راورسره .**وابوبکر صدیق رضی الله عنه ته دمحمد ﷺ تشریف راوړل**:دحضرت عائشې رضی الله عنها څخه روایت ده چه موږ په کورکي ناست وو دغرمي وخت وو اوطبراني دحضرت اسماء رضی الله عنها روایت نقل کړي ده چه محمد ص به په مکه کې دوه واره سهار اوماښکر تشریف راووړ مګر په دي ورځ يې غرمه تشریف راووړ ماخپل پلار ابوبکر رضی الله عنه ته وویل چه محمد ﷺ نن دعادت خلاف زموږ کره راغئ مخ یې پټ کړي وو ابوبکر رضی الله عنه وویل په الله ﷻ قسم چه محمد ﷺ دیومهم کارلپاره راغلئ ده هغه رضی الله عنه دمحمد ﷺ لپاره خپل کټ خالي کړ کله چه محمد ﷺ په کټ کي کښېنستي نوویې ویل چه دغه دواړه دباندي وباسه ابوبکر رضی الله عنه وویل دغه دواړه خوستاکورني. ده په یوه روایت کي دي چه تاسي له دوي څخه مطمئن اوسئ دازمالوڼي دي له دوي څخه هیڅ قسم یېره مه کوه محمد ﷺ وفرمایل ماته الله ﷻ دهجرت کولو اجازه راکړي ده ته به له ماسره ځي عائشه رضی الله عنها وايي چه زماپلارچه دمحمد ﷺ څخه داخبره واوریده له سترګو څخه یې اوښکي رواني سوي عرض یې وکړ یارسول الله ﷺ زمادسپرلیو څخه یوه ځانته خوښه که هغه ﷺ وویل چه زه به یې قیمت درکوم په یوه روایت کي دي چه محمد ﷺ وفرمایل یوه یې پرماخرڅه کړه هغه ﷺ مکمل قیمت اداکړ ترڅوهغه ته دهجرت ثواب حاصل سي ددي ابتداء دځان او مال له قرباني څخه شروع سي عائشه رضی الله عنها وايي چه موږ ژر ژر دسفر سامان وتاړئ په یوه روایت کي دي چه موږ دمحمد ﷺ اوابوبکر صدیق رضی الله عنه لپاره دسفر ښه سامان تیارکړ په یوه بوری کي مو واچوي .**دهجرت په سفرکي دلاري توښه**:دواقدي رحمه الله بیان ده چه دسفر په توښه کي یوکباب سوي پسه ووحضرت اسماء رضی الله عنها دخپلي ملا کمربند خلاص کړ اودبوری خوله یې په وتړله ځکه حضرت اسماء رضی الله عنها ته ذات النطاقین ویل کېږي حضرت عائشه رضی الله عنها فرمايي چه محمد ﷺ اوابوبکر صدیق رضی الله عنه دري شپي په غارثورکي تیري کړي په دي غار کي ثور ابن عبدالمناف اوسېدئ ځکه هغه ته غارثور وايي روایت ده چه محمد ﷺ اوابوبکر رضی الله عنه دشپي دکور له وروستې کړکۍ څخه دهجرت په سفروتلي وه په لاره کي ابوجهل روان وو مګرالله ﷻ هغه په سترګو ړوندکړ اودوی په خیریت سره ترتیرسول اسماء بنت ابو بکر صدیق رضی الله عنه وايي چه ابوبکرصدیق رضی الله عنه پنځه زره درهم له ځان سره وړي وه سهار چه قریشو محمد ﷺ پیدانکړ هغوي دمکې څلورطرفه وکتل په هغه پسي یې جاسوسان واستول کوم خلک چه دغار ثورپه طرف تللي وه هغو دمحمد ﷺ اوابوبکر رضی الله عنه دپښوچاپونه لیدلي وه دغارثورپه طرف روان سول کله چه غارته نژدي ورسیدل دپښو چاپونه ځني ورک سول قریش دمحمد ﷺ په هجرت ډیر غصه وو دمحمد ﷺ دپیداکوونکي لپاره یې سل اوښان انعام ایښي وو له قاضي عیاض رضی الله عنه څخه روایت ده چه جبل شبیرمحمد ﷺ ته عرض وکړ چه تاسي زماله شاڅخه کښته سئ هسې نه چه خلکه موشهیدان نه کي ماته عذاب رانکړ سي غارحراء التجاء وکړه یا رسول الله ﷺ تاسي ماته تشریف راوړئ روایت ده چه کله محمد ﷺ اوابوبکر صدیق رضی الله عنه په غارثورکي دننه سول الله ﷻ دغارپه خوله کي یوبوټي پیداکړ چه هغه یې دکفارو له

نظره څخه پټ کړل د الله ﷻ په حکم سره جولاګی دغار په خوله کي ځاله جوړه کړه ځنګلي کوترو
دغار په خوله کي ځالي جوړي کړي دغو کوترو ته الله ﷻ داسي ښه اجر ورکړ چه ترننه پوري په حرم
کي چه څه کوتري هغه ټول ددغه دوارو کوترو نسل ده څنګه چه هغو د محمد ﷺ حفاظت کړئ وو
همداسي الله ﷻ په حرم کي دهغو ښکار حرام کړ دقریشو ځوانان دلرګیو سره څلور طرفته روان
سول له هغو څخه څه ځوانان دغار ثور په طرف روان سول هغو دغار په خوله کي دکوترو هګی
ځالي ولیدي بیرته واپس سول او ویې ویل چه محمد ﷺ هلته نه وو ځکه چه موږ دغار په خوله کي
دکوترو هګی او ځالي ولیدې که هلته څوک داخل سوي واي خامخا به کوتري تښتیدلې واي
محمد ﷺ دهغو داخبري واوریدي او ویې ویل چه الله ﷻ مشرکین زموږ په پیداکیدو کي ناکام
کړي دي یوه نفر وویل تاسي په غار کي دننه وګورئ چه څوک پکښي سته او کنه؟ په جواب کي
امیه ابن خلف وویل په غار کي ددننه کیدو هیڅ ضرورت نسته دغار په خوله کي چه دجولاګي کومه
ځاله ښکاریږي هغه خود محمد ﷺ دپیدائش څخه مخکې ده که غار ته څوک ننوتلي واي
نو داځاله او داهګی به نه واي داپه حقیقت کي دقریشو دماتي لویه معجزه وه دالله ﷻ قدرت ته
وګورئ چه محمد ﷺ څنګه کامیاب سو دهغه دښمن څنګه ناکام او نامراد سو ؟ جولاګی
دقریشو په مخکې دغار خوله بنده کړه پلټونکي داسي حیران سول چه دغار ترخولي وروړسیدل
بیرته پرشا راغلل جولاګی ته لازوال سعادت په نصیب سو ابن نقیب څومره ښه شعر ویلي ده :
ژباړه: دوریښمو چنجیو داسي ابریشم وایسته چه په ښکلاکي مثال نلري مګر جولاګی ترهغه په
نکونو مرتبو ښه ده ځکه چه هغه په غار ثور کي دمحمد ص دحفاظت لپاره ځاله جوړه کړه په بخاري
او مسلم کي له حضرت انس ؓ څخه روایت ده چه ابوبکر صدیق ؓ وویل موږ په غار کي وو ما
محمد ﷺ ته عرض وکړ یا محمد ﷺ که دوي خپلو قدمونو ته وګوري دوي به موږ خامخا ویني
محمد ﷺ ماته وفرمایل اي ابوبکره ستا دهغه دووتنو په باره کي څه خیال ده چه دریم ملګري یې
الله ﷻ وي ځینو سیرت نګارانو لیکلي دي چه کله ابوبکر صدیق ؓ دااندیښنه ښکاره کړه
نو نبي ﷺ وفرمایل که داخلک له دي لاري څخه داخل سي نو موږ به له بلي لاري څخه ووزو ابوبکر
صدیق ؓ بل طرف ته وکتل یوه دروازه یې ولیده چه مخ ته یې یولوي سمندر وو ددي غار
ددروازي په مخ کي یوه بیړی ولاړه وه پر محمد ﷺ باندي قربانیدل دابوبکر صدیق ؓ ارمان وو
حضرت حسن بصري ؒ فرمایي چه داخبرو رسیدئ چه کله ابوبکر ؓ د محمد ﷺ سره یو ځای
دغار په طرف روان وو نو ابوبکر صدیق ؓ به کله د محمد ﷺ په مخکي روانیدي او کله شاته
محمد ﷺ پوښتنه ځني وکړه ولي داسي کوي؟ هغه ورته وویل کله چه ماته ستا دطلب کوونکو
خلکو خیال راسي زه په تاپسي روانیږم چه کله په مورچل کي دناستو دښمنانو خیال راسي
نو مخکې کیږم ددي لپاره چه تاته څوک تکلیف ونه رسوي محمد ﷺ ورته وفرمایل ایا دخطر په
وخت کي زما په خاطر زما په مخ کي مړکیدل غواړي ؟ ابوبکر ؓ عرض وکړ په خداي قسم چه

زما دا آرزو ده کله چه غار ته ورسیدل نو ابوبکر صدیق ؓ وویل تاسي دلته ودریږئ زه به اول غار پاک کم هغه چه غار ته ننواتئ نو په خپلو لاسویې په ډیر خیال سره پاک کړ چیرته چه به یې سورروي ولیدي نو ته به یې کي کښینوو له هغه به یې بند کړتول سوریان یې بند کړل یو سوري پاته سو هلته یې خپله پښه کښیښووه داددي لپاره چه محمد ﷺ ته کوم شي تکلیف ونه رسوي محمد ﷺ په غارکي ننوتئ دابوبکر صدیق ؓ په غیږکي یې سر کښیښووي بیده سو له هغه سورروي څخه چه ابوبکر ؓ پښه کي ایښي وه مار وچیچي مگر هغه خپله پښه لیري نکړه هسي نه چه محمد ﷺ له خوبه راویښ سي ډیر درد او تکلیف له کبله دابوبکر صدیق ؓ له سترګو اوښکې وبهیدلې او د محمد ﷺ پر مخ مبارک باندي توي سوي هغه ﷺ راویښ سو او پوښتنه یې وکړه چه څه خبره ده هغه ؓ ورته وویل مار وخوړلم محمد ﷺ د دخپلي خولي مبارکي ناړي ورباندي ومونښلي په دي نارو سره دزهرو اثر ختم سو حضرت حسان ؓ خو مره ښه شعرونه ویلي دي دابریښمو دچینجي دوریښم څخه ښایسته لباس جوړیږي مگر جولاګي ته دهغه څخه زیات فخر حاصل ده ځکه چه هغه دمحمد ﷺ دحفاظت په خاطر ځاله جوړه کړي وه نبي ﷺ دپنجشنبي په ورځ له کلي څخه هجرت وکړ دري ورځي یې په غارثور کي تیري کړي دربیع الاول په لمړي تاریخ ددوشنبي په ورځ له هغه ځایه څخه روان سو په دوولسمه دربیع الاول مديني منوري ته ورسیدي دذکریا په نوم یو مشهود زاهد تیرسوي ده له سختي ناروغي وروسته چه کله پر هغه دمرګ سلګی ولګیدي دهغه یو دوست دکلمي تلقین ورته وکړ مگر هغه خپل مخ بل طرف ته واړوي دوست دوهم وار دکلمې تلقین ورته وکړ هغه بیا مخ څني واړوي دوست دریم وار دکلمې تلقین ورته وکړ هغه زاهد ورته وویل زه کلمه نه وایم دوست چه دهغه دا خبره واوریده بیهوښه سو پر مځکه وغورځیدي څه وخت بعد زاهد بیرته ښه سو هغه سترګي خلاصي کړي اوورته ویې ویل تاماته یو څه ویلي وه؟ هغه ورته وویل هو ماتاته دکلمي ویلو تلقین وکړ مگر تادوه واره مخ وګرځاوو دریم وار دي وویل چه زه یې نه وایم زاهد وویل خبره داده چه شیطان ماته داوبو جام ښکاره کړ راته ویې ویل ایاتاته داوبو ضرورت سته ؟ ما ورته وویل هو سته هغه راته وویل ته ووایه چه عیسی عليه السلام دالله ﷻ زوي ده ما مخ ورڅخه وګرځاوو هغه چپه اړخ ته راغئ داخبره یې راته وکړه ما بیا مخ ورڅخه راواړوو کله چه دریم وار ماته مخامخ سو ما ورته وویل زه داسي نه وایم هغه زما په دي خبره داوبو جام پر مځکه وغورځاوو راڅخه ولاړي ماداخبره شیطان ته وکړه نه تاته تاته مي نه ده کړي بیایې دشهادت کلمه وویله دحضرت عمر بن عبدالعزیز ؒ څخه روایت ده چه یوچا دالله ﷻ څخه سوال وکړ چه ماته دانسان په زړه کي دشیطان ځاي راوښیه هغه په خوب کي دچښي په شان صاف اوستره انسان ولیدي چه له دننه اودباندي څخه یوړکم معلومیدي شیطان یې ولیدي چه هغه ددغه انسان دراسته طرف اوغوږ ترمنځ ناست وو په خپله اوږده پزه سره یې دهغه په زړه کي وسوسي اچولي کله چه به هغه انسان دالله ﷻ ذکر کاوه هغه به فورًا شاته کیدي اي الله ﷻ موږ ته په خپل فضل

اوکرم سره دشیطان مردود څخه نجات راکه موږ دحاسد له ژبي څخه وساته دخپل ذکر اوشکر کولوتوفیق راکه آمین یارب العلمین.

## اوولسم باب امانت اوتوبه

**ددرود شریف فضیلت،** علامة محمد بن المنکدر رحمه الله دخپل پلار څخه روایت کوي چه حضرت سفیان ثوري رحمه الله دکعبي دطواف کولو په وخت داسي یوځوان ولیدي چه په هرقدم کي به یې درود شریف وایه سفیان ثوري رحمه الله وایې چه ماورته وویل اې ځوانه ته دتسبیح اوتهلیل پرځاي باندي ولي درود شریف وایې ددي څه وجه ده؟ ځوان راته وویل ته څوک یې؟ ماورته وویل زه سفیان ثوري یم هغه راته وویل که ته دالله ﷻ له نیکو خلکو څخه نه واې نوما به تاته هیڅکله دغه راز نه واي ویلاي خبره داده چه یووخت زه دخپل پلار سره دحج په سفرروان سوم په لاره مي پلار سخت ناروغ سو ما دیر کوشش وکړ چه هغه له مرګ څخه وساتم مګرهغه وفات سو له مرګه وروسته دهغه تک ونه سو ماانا لله واناالیه راجعون وویل سرمي ورته پټ کړ کښینستم دغم په وجه ماته خوب راغئ په خوب کي مي داسي بنایسته شخص ولیدي چه دهغه په رنګ بنایسته مي بل څوک نه وو لیدلي لباس یې دیر نفیس وو له بدن څخه یې دیره خوشبویې راتله هغه راغئ زمادپلار له مخ څخه یې پرده پورته کړه په لاس سره یې دهغه مخ ته اشاره وکړه په دي اشاره سره زمادپلار مخ سپین سو کله چه هغه بیرته روان سو مایې لمونه ټنګه ونیوه ورته ومي ویل ستاسي په وجه الله ﷻ زمادپلار مخ سپین کړتاسي څوک یاست؟ هغه راته وویل ته مانه پیژني؟ زه د الله ﷻ نبي محمدبن عبدالله ﷺ یم اګرچه ستاپلار دیر زیات ګنهګار وو مګر پرمابه یې دیر درود وایه کله چه پرهغه مصیبت نازل سوله ماڅخه یې دمدد طلب وکړ زه دهغه چامرسته کوم چه پرمادرود وایې ځوان وویل له دي پس زه له خوبه راویښ سوم ګورم چه زمادپلار مخ سپین سوي وو حضرت عمرو بن دینار رحمه الله دابوجعفر رحمه الله څخه روایت کوي چه محمد ﷺ وفرمایل چاچه پرمادرود ویل له یاده وایستو هغه دجنت لاره ورکه کړه.

**دامانت تعریف،** امانت دامن څخه مأخوذ ده هیڅوک دحق په پریښوولو سره مأمون کیداي نسي دامانت ضد خیانت ده چه دخون څخه مشتق ده معني یې دیوشي کمول ده کله چه تاسي په کم شي کي خیانت کوئ هغه کمیږي.

**دامانت په باره کي دنبي کریم ﷺ ارشادات،** دنبي ﷺ فرمان ده چه دوکه فریب او خیانت ددوږخیانو عادت ده چاچه له خلکو سره په خرید اوفروخت کي ظلم ونه کړ هغو ته یې درواغ ونه ویل هغه مرادته ورسیدل عدالت یې ظاهر سو له هغو سره ورور ولي کول ضرور ده یواعرابي دیرقوم په تعریف کي وایې هغه امین ده له چاسره دوکه نه کوي دمسلمان عزت نه پایمالوي دچاحق ورباندي نسته هغه بهترین قوم ده نن سباخوحالت تردي حده رسیدلي دي چه دانسان په لباس کي لیوان ګرزي لکه یوشاعرچه وایې،

بمن يثق الانسان فيما ينوبه ...... ومن اين للحر الكريم صحاب

وقد صار هذا الناس الا اقلهم ...... ذئابا على اجساد هن ثياب

دهغه چاپاره پرانسان باندي دهغه دانابتونو باوجود بروسه كوي نوبيا دعزت داراز دسري لپاره چيري ځاي پاته كيږي دځو انسانانو پرته نور تول دانسان په جامه كي ليوان دي يوبل شاعروايي

ذهب الذين يقال عند فراقهم ...... ليت البلاد وما بها تتصدع

هغه خلک ولاړل چه دهغو په فراق كي ويل كيدل كاشكي دابنار وران سوي واي اوقيامت راغلي واي دحضرت حذيفه رضي الله عنه څخه روايت ده چه محمد ﷺ وفرمايل ژر ده چه اماتونه به پورته سي خلک به په خپل منځ كي تجارت كوي مگر امين به هيڅوک نه وي پكښې تردي پوري چه ويل كيږي به په فلاني قبيله كي فلانكي سړي امين ده يعني امين سړي به په ډيره لټه نه پيداكيږي

**دتوبي وجوب**: دتوبي وجوب په قرآني آيت اواحاديثو سره ثابت ده الله ﷻ فرمايي: توبوا الى الله جميعا ايها المؤمنين لعلكم تفلحون په دي آيت شريف كي الله ﷻ مؤمنانو ته فرمايي چه هغه توبه وكي ترڅو چه كاميابي يې په نصيب سي په دوهم آيت كي دي: يا ايها الذين امنوا توبوا الى الله توبة نصوحا دنصوح لفظ دنصح څخه مأخوذ ده معنى يې ده خاص دالله ﷻ لپاره توبه كول دتوبي فضيلت ددي ايت څخه ثابتيږي: ان الله يحب التوابين ويحب المتطهرين بيشكه الله ﷻ توبه كوونكي اوپاک اوسيدونكي خوښوي دنبي ﷺ ارشادده چه توبه كوونكي دالله ﷻ دوست ده دهغه شان داده چه هيڅ گناه يې نه وي كړي. **دتوبي په باره كي نبوي ارشادات**: دنبي ﷺ فرمان ده چه الله ﷻ د يوچاپه توبه ترهغه زيات خوشحاليږي چه هغه په يوسخت سفرروان وي اوپه خپله سپرلۍ باندي يې دخوراک اوڅښاک سامان برابر كړي وي په يوځاي كي دارام لپاره خپل سركښيږدي كله چه راويښ سي دهغه سپرلۍ له سامانه سره وركه سوي وي هغه دهغې په لټه كي ورزي تردي چه دگرمي دسختوالي له امله ډير تږئ سي اويرته بې حاله هم هغه ځاي ته راسي چيري چه دي بيده سوي وو بيادمرگ په انتظارسره خپل سرپرخپل څنگل باندي كښيږدي ناڅاپه هغه خپله سپرلۍ اوسامان وويني ډيرزيات خوشحاله سي له حضرت حسن رحمه الله څخه روايت ده چه كله الله ﷻ دحضرت ادم عليه السلام توبه قبوله كړه ملائكو هغه ته مباركي ورويله جبرائيل عليه السلام او ميكائيل عليه السلام دواړه حاضرسول ويې ويل اي ادم عليه السلام تاچه پخپله سترگې يخې كړي ادم عليه السلام ورويل كه ددي توبي دقبليت څخه وروسته الله ﷻ ته بيادسوال كولو حاجت پيداسونوڅه به كوم؟ الله ﷻ پرادم عليه السلام باندي وحې وكړه ورته ويې ويل اي ادمه تاخپل اولاد دمحنت اوتكليف وارث وگرځول موږ هغوي ته توبه عنايت كړه هرڅوک چه ماته فرياد وكړي زه به ستادفرياد په شان دهغوي فرياد هم اورم څوک چه له ماڅخه دمغفرت سوال وكي زه به هغه نه نااميده كوم ځكه چه زه

قریب یم اودوعاګاني قبلوم زه توبه کوونکي له خپلو قبروڅخه داسي پورته کوم چه په خندا او خوشحالي روان وي دهغوي دعاګاني به قبولي سي دنبي ﷺفرمان ده چه دالله ﷻدرحمت لاسونه له ماښامه ترسهاره له سهاره ترماښامه پوري دګنهګارانو لپاره خلاص وي دابه ترقیامته پوري وي یعني ترقیامته پوري دخپلو بندګانو توبه قبلوي دمحمد ﷺفرمان ده که تاسي دآسمان په اندازه ګناه وي کړي وي بیاتوبه وکاږئ الله ﷻبه ستاسي توبه قبوله کي نبي ﷺوفرمایل یوسړي ګناهونه کوي بیادهغه ګناه په سبب په جنت کي داخلیږي پوښتنه ورڅخه وسوه یارسول الله ﷺدا څنګه؟ هغه ﷺوفرمایل له ګناه څخه وروسته به فوراًدهغه سترګي دالله ﷻپه دربارکي لندي شي یعني په خپل ګناه پښیماني وکړي اوژاړي دنبي ﷺفرمان ده چه ندامت دګناهونو کفاره ده دنبي ﷺارشادده چه له ګناهونوڅخه توبه کونکي داسي ده لکه چه دسره یې ګناه کړي نه وي دنبي کریم ﷺپه حضورکي یوحبشي حاضر سو عرض یې وکړ یارسول الله ﷺزه ګناه کوم ایازماتوبه قبلیږي؟ هغه ﷺوفرمایل هو هغه دلږ وخت تګ څخه وروسته بیرته راغی اوپوښتنه یې وکړه چه که زه ګناه کوم الله ﷻماویني هغه ﷺوفرمایل هو تاویني حبشي چه دمحمد ﷺداخبري واوریدي نویوه چغه یې وکړه روح یې والوتئ :

**دژوند تراخیري سلګی پوري توبه قبلیږي**:روایت ده چه کله الله ﷻابلیس ملعون کړهغه ترقیامته پوري مهلت وغوښتئ الله ﷻهغه ته مهلت ورکړ شیطان وویل ستاپه جلال قسم ترڅوپوري چه انسان موجودوي دهغودژوند ترآخري سلګیوپوري به یې له توبي څخه اړوم دنبي کریم ﷺحدیث شریف ده چه نیکیاني ګناهونه داسي مینځي لکه اوبه چه خیره پاکوي دسعید بن المسیب (رض)څخه روایت ده چه داآیت شریف: انه کان للاوابین غفورا دهغه چاپه باره کي نازل سوي ده چه ګناه یې کوله بیایې توبه کښله بیایې ګناه کوله بیایې توبه کښله دحضرت فضیل (رح)قول ده چه دالله ﷻارشادده ګناهګارانوته زیري ورکه که هغه توبه وکاږي زه یې قبلوم صدیقانو ته خبر ورکه که مادهغو اعمال وتلل نوله عذاب څخه به یې څوک خلاص نکړي د حضرت عبدالله ابن عمر (رض)فرمان ده چه هرڅوک په خپلو ګناهونوباندي پښیمانه سي زړه یې دالله ﷻله بیري څخه ولړزیږي دهغه ګناهونه بخښل کیږي له ګناهونوڅخه ساتونکي الله ﷻده روایت ده چه دالله ﷻله یونبي څخه خطاوشوه الله ﷻوحي ورته وکړه که تادوباره داخطا وکړه نوزماله عذابه څخه به خلاصه نسي نبي عرض وکړ چه اي الله ﷻته ته یې اوزه زه یم زمادي ستاپه عزت اوجلال قسم وي که ته ماله ګناهونوڅخه ونه ساتي زه به هیڅکله خلاص نسم په دي خبره الله ﷻهغه دګناهونو له خیالاتو څخه محفوظه کړ .

**دتوبي دروازه هیڅکله هم نه بندیږي**:له حضرت ابن مسعود (رض)څخه یوسړي پوښتنه وکړه چه زه پخپلو ګناهونو ډیر شرمنده یم ایا زمالپاره توبه سته؟ هغه (رض)مخ څني واړوو هغه چه دوهم

وار دهغه پر طرف وکتل دهغه له سترګو څخه اوښکي رواني وي ويې فرمايل دجنت اته دروازې دي خلاصولاي يې هم سي بندولي يې هم سي ماسوا دتوبې ددروازې هغه کله هم نه بنديږي عمل کوه اودخپل رب ﷻ له رحمت څخه مه مايوسه کيږي روايت ده چه په بني اسرائيلو کي يوځوان سړي شل کاله متواتر دالله ﷻ عبادت وکړ بيايې شل کاله په ګناه کي تيرکړل يووخت يې په هينداره کي وکتل په ږيره کي يې سپين ويښتان پيداسوي وو ډير غمګين سو اودالله ﷻ په حضور کي يې عرض وکړ اي الله ﷻ ماشل کاله ستا عبادت وکړ بيامي شل کاله ګناهونه کړي دي اوس که زه بيرته تاته رجوع وکم نوزما رجوع به قبوله سي؟ هغه يوغيبي اواز واوريدي چه ويې ويل تاله ماسره محبت وکړ ماته خپل محبوب وګرځولي تاموږ پري ښوولو موږ ته پري ښوولي تاګناه وکړه موږ مهلت درکړ اوس که ته واپس زموږ بارګاه ته راځي نوموږ ستا راتګ قبلوو.

**دتوبې په باره کي دحضرت محمد ﷺ ارشاد:** له حضرت عباس ﷺ څخه روايت ده چه نبي ﷺ و فرمايل کله چه بنده توبه کاږي الله ﷻ دهغه توبه قبلوي محافظي ملائکي دهغه تير ګناهونه له ياده باسي دهغه دجسم، اعضاء دهغه ګناهونه هيرکي دمځکي هغه ټوټه چه ګناه يې وربانډي کړي وي دآسمان هغه ټکړه چه ترهغه لانډي يې ګناه کړي وي له ياده يې باسي کله چه هغه دقيامت په ورځ راځي نودهغه پرګناهونو بانډي شاهدي ويونکي نه وي دحضرت علي ﷺ څخه روايت ده چه نبي کريم ﷺ و فرمايل دمخلوق له پيدائش څخه څلور زره کاله مځکي دعرش څلورو طرفوته ليکل سوي وو چه:

إني لغفار لمن تاب وامن وعمل صالحا ثم اهتدى چاچه توبه وکښله ايمان يې راوور نيک عمل يې وکړ زه هغه بخښم له صغيره اوکبيره ګناهونو څخه توبه ايستل فرض عين ده ځکه چه پرصغيره ګناهونو بانډي هميشه والي لويه ګناه جوړوي الله ﷻ فرمايي:

والذين اذا فعلوا فاحشة او ظلموا انفسهم نصوحه توبه داده چه انسان په ظاهر اوباطن توبه وکاږي دآينده لپاره دنورو ګناهونو دنه کولو عزم وکي کوم سړي چه ظاهري توبه وکي دهغه مثال دداسي مردار په شان ده چه دورپښمو څادر وربانډي اچول سوي وي خلک په حيرت سره ورته ګوري کله چه داپرده ورڅخه ليري سي خلک مخ ورڅخه ګرځوي همداسي په دنياکي خلک درياکارانو عبادت ته په تعجب سره ګوري مګر کله چه دقيامت ورځ سي د هغو رياکاري به لڅيږي ملائکي مخ ځني اړوي لکه محمد ﷺ چه فرمايلي دي الله ﷻ ستاسي مخونوته نه ګوري بلکه ستاسي زړونو ته ګوري دحضرت عباس ﷺ څخه روايت ده چه دقيامت په ورځ دير خلک داسي دي چه هغه دتوبې دروازې دپښيماني له کبله نه وي بندي کړي مګر دهغوي توبې به نه وي قبولي سوي ځکه چه هغه دتوبې دروازې دندامت له کبله نه وي بندي کړي دتوبې ورروسته يې بيا دګناه دنه کولو عزم نه وو کړي له خلګو څخه يې دخپل امکاني قوت په اندازه دفع نه وي کړي له الله ﷻ څخه خاص مغفرت نه غواړي مګر هغه په دې فکر وي چه الله ﷻ له هغه څخه راضي ده دګناهونو هيرول

اودهغه پرواه نه کول دیر لوي خطر لري هر عقلمند سړي ته په کار ده چه هر وخت دخپل نفس سره حساب وکړي او خپل ګناهونه له یاده ونه باسي شعر :

يا ايها المذنب المحصي جرائمه ...... لاتنس ذنبک واذکر منه ماسلفا

وتب الى الله قبل الموت وانزجرا ...... ياعاصيا واعترف ان کنت معترفا

اې دګناهونو شمیرونکي مجرمه خپل ګناهونه مه هیروه تیر ګناهونه یادوه دمرګ څخه مخکې الله ﷻ ته رجوع وکه له ګناهونو څخه بندسه دخپلو ګناهونو اعتراف وکه دفقیه ابو الليث رحمه الله څخه روایت ده چه یو وار عمر رضي الله عنه دنبي کریم ﷺ په حضورکې دژړا په حالت کې حاضرسو هغه ﷺ ورته وویل ولي ژاړي؟ هغه عرض وکړ یارسول الله ﷺ په دروازه کې دیوولاړ ځوان ژړا اوفریاد زماځیګر سوځلي ده هغه ﷺ ورته وویل هغه دننه راوله کله چه ځوان دننه راغئ نومحمد ﷺ پوښتنه ځني وکړه ولي ژاړي؟ هغه وویل زه دخپلو ګناهونو په دیر والي اودالله ﷻ په نارضايې ژاړم هغه ﷺ پوښتنه ځني وکړه اياتاشرک کړي ده هغه وویل یاماشرک نه ده کړي محمد ﷺ پوښتنه ځني وکړه ایا څوک دي قتل کړي ده هغه وویل نه یا رسول الله ﷺ ورته وویل که ستا ګناهونه داوو اسمانو اومځکو په شان وي نوهم یې الله ﷻ په خپل رحم سره بخښي ځوان وویل یارسول الله ﷺ زما ګناهونه تردي هم لوي دي محمد ﷺ ورته وفرمایل ستاګناه لوده که دالله ﷻ عرش ؟ هغه ځوان وویل زماګناه محمد ﷺ ورته وویل ستاګناه لویه ده که الله ﷻ (یعني مغفرت دالله ﷻ) ؟ عرض یې وکړ چه الله ﷻ دیر لوي ده محمد ﷺ ورته وفرمایل بیشکه چه عظیم رب ﷻ لویه ګناه معافوي بیایې ورته وویل ته خوخپله ګناه وواېه ستاڅه ګناه ده ؟ هغه عرض وکړ یارسول الله ﷺ زه یې په بیانولو شرمیږم هغه ﷺ ورته وویل هیڅ خبره نه ده ده وویل له اووه کلونو راهسې کفنونه غلاکوم یووخت دانصارو یوه نجلۍ مړه سوه زه دهغې دکفن رااخستلو لپاره ولاړم ماقبر لوڅ کړ کفن مې ځني رااخستئ ځني روان سوم لږ لاره وروسته شیطان پرماغالب سو زه بیرته انجلۍ ته ورغلم له هغې سره مې زناوکړه څو قدمه مخکې چه ځني ولاړم که ګورم چه انجلۍ راولاړه سوه راته ویې ویل چه خداي دي تاتباه کي اياته دهغه خدايه څخه نه بیرېږي چه له هرمظلوم څخه ظالم ته حق ورکوي تازه دخلګو په ډله کې لڅه کړم او دالله ﷻ په دربارکې دي پلیته کړم محمد ﷺ چه دهغه داخبري واوریدلي ورته ویې ویل زماله مخه لیري سه ته دجهنم داور لایق یې ځوان له هغه ځایه په ژړااوفریاد وواتئ استغفار یې وایه دبنت ته وواتي پرهغه څلوینت ورځي داسي تیري سوي نه یې خوراک کا، نه یې څښاک یوه ورځ هغه

آسمان ته وکتل اوويې ويل اي دمحمد ﷺ ادم ﷺ او ابراهيم ﷺ ربه که تازما ګناه معاف کړي وي نو محمد ﷺ او دهغه اصحاب خبرکه کړي دي نه وي معاف کړي نوله آسمان څخه يواور راوليږه چه ما ترآخرت له مخه په دي دنياکي وسوځي دجهنم له عذاب څخه مې وساته په دغه وخت کي جبرائيل ﷺ دمحمد ﷺ په خدمت کي حاضرسو اوورته ويې ويل ستارب ﷻ پرتاسلام وايې داپوښتنه کوي چه دامخلوق تاپيداکړي ده که ما؟ هغه ﷺ ورته وويل يامانه ده پيداکړي زه اوټول مخلوق الله ﷻ پيداکړي يو اودي رزق ورکوي جبرائيل ﷺ ورته وويل چه الله ﷻ وايي مادهغه ځوان توبه قبوله کړي ده محمد ﷺ اصحاب ﷺ ورولېږل پرهغه يې دتوبي قبليدلو زيري وکړ.

**يوه دردمنه توبه** ،دحضرت موسي ﷺ په زمانه کي يوداسي سړئ وو چه هغه هيڅکله پرخپله توبه نه دريدي توبه به يې وايسته بيرته به يې ماته کړه شل کاله يې داسي وکړل الله ﷻ حضرت موسي ﷺ ته وحي وليږله چه زمادغه بنده ته ووايه چه زه له تاڅخه ډير سخت ناراضه يم کله چه موسي ﷺ هغه ته دالله ﷻ پيغام ووايه هغه ډير سخت غمجن سو اوبيابان ته وواتئ هلته يې دالله ﷻ په حضورکي عرض وکړ چه اي الله ﷻ ستارحمت ختم سو اوکه زماګناهونه تکليف درکوي ستاخزاني ختمي سوي که پربندګانو ستانظر ختم سو؟ ستادعفوي او بخښني څخه کمه ګناه لويه ده ؟ ته کريم يې زه بخيل يم ايازمابخل ستاپرکرم غالب سوکه ته خپل بندګان له خپل رحم څخه محروم کي هغه به چاته فريادکوي که ته خپل بندګان له خپل رحم څخه محروم وګرځوي هغه به دچا دربارته ورځي اي قادره قهاره خدايه که ستا بخشش اوکرم ختم سي زماپاره عذاب پاته سي نوټه دټولو ګنهګارانو عذاب ماته راکي زه پرهغو خپل ځان قربانوم الله ﷻ موسي ﷺ ته وحي وليږله چه ورسه اوزمابنده ته ووايه چه تازمادکمال قدرت اوعفو اوبخښني حقيقت پيژندلي ده که ستاپه ګناهونومځکي ډکي سي نوهم به زه تاوبخښنم درسول الله ﷺ ارشادده چه الله ﷻ ته دتوبه کوونکي ګنهګار سړي له اواز څخه بل محبوب شي نسته کله چه هغه الله ﷻ ته اواز کوي اوتوبه باسي نوالله ﷻ ورته فرمايي زه موجوديم هرڅه چه غواړي وغواړه زماپه دربارکي ستارتبه زمادملائکو سره برابره ده زه ستا راسته طرف ته چپه طرف ته اولوړيم اوستا دزړه ددرزي څخه هم زيات درنږدي يم اي ملائکو تاسي شاهداني سئ چه ماهغه معاف کړي ده حضرت ذوالنون مصري ﷫ وايي چه دالله ﷻ زيات بندګان دي چه دخطابوتي يې نهال کړي دي هغه يې دپوښتني په اوبو خړوبه کړي دي دحسرت اوپښيماني ميوه يې ور څخه خوړلي ده هغه ته له ليونتيا څخه پرته ليوني وويل سو له

تکليف څخه پرته يې ذلت حاصل کړ داخلک دالله ﷻ معرفت لرونکي فصيح اوبليغ خلک دي مثل يې نسته هغو د محبت جامونه نوش کړي دي پرمصائبو يې دصبر ددولت څخه کار اخستي ده بيايه عالم ملکوت کي دهغو زړونه غمجن سول دعالم جبروت دحجاباتو سيل دهغو زړونو او افکارو ته رڼا واچوله اوجلايې وکړه هغو دندامت په خدمت کي استوګنه وکړه دخپلو ګناهونو صحيفي يې وويلي په ژړا اوفريادېې لاس پوري کړ تردي چه دخپلي پرهيزګارۍ له کبله دزهد په لوړومرتبو فائز سول هغو ددنيا دپرېښوولو تريخوالي شيرين اوخوږ وګاڼي سخت بسترونه يې نرم وګڼل ترهغه چه هغو دنجات لاره اودسلامتۍ بنيادونه پيداکړل د هغو روحونوته دجنت په باغونوکي ځاي ورسيدي دابدي ژوند حقدار وګرځيدل هغوي د آه اوژړا له خندقونو څخه تيرسول دخوا هشاتو له پلوونو څخه يې عبور وکړ تردي چه دعلم همسايه سول دحکمت اودانايې له تالاب څخه اوبه سول دفهم اوذکاوت په کښتيوکي سپاره سول هغو دسلامتي په دربارکي دنجات په دولت سره قلاګاني جوړي کړي اود راحت دباغونو اودعزت اوکرامت دخزانو مالکان سول .

## اتلسم باب درحم فضيلت

درسول اکرم ﷺ ارشادده چه په جنت کي رحم کوونکي خلک داخليږي اصحابوکرامو ﷺ عرض وکړچه موږ ټول رحم کوونکي يو هغه ﷺ وفرمايل رحيم هغه څوک نه ده چه پرخپل ځان رحم وکي بلکه رحم هغه ده چه پرخپل ځان اونورو باندي رحم وکي .

**درحم حقيقت** پرخپل ځان درحم کولو مطلب داده چه دزړه له اخلاصه عبادت وکي له ګناهونو څخه پرهيز وکي توبه وکاږي پرنورو باندي رحم داده چه بل مسلمان ته تکليف ورنکي دمحمد ﷺ حديث شريف ده چه مسلمان هغه ده چه دلاس اوژبي څخه يې نور خلک محفوظ وي هغه پرحيوانانو رحم وکي له هغو څخه دهغو دطاقت په اندازه کار واخلي دمحمد ﷺ حديث شريف ده چه يوسړي په سفرروان وو پرلار سخت تږئ سو دهغه پريوڅاه باندي نظر ولګيدي کله چه يې له څاه څخه اوبه وچښلي نوګوري چه هلته يوسپئ ده ډير تږي ده ژبه يې رايستلي وه پروت وو هغه فکر وکړ شايددابه هم زمايه شان تږئ وي هغه بيرته راغي په سپي يې اوبه وچښلي الله ﷻ دهغه درحم په برکت سره دهغه ټول ګناهونه معاف کړل اصحابوکرامو ﷺ پوښتنه وکړه يارسول الله ﷺ پرحيوانانوباندي په رحم کولو سره هم ثواب حاصليږي؟ هغه ﷺ وفرمايل پرهر ذيروح باندي دشفقت په کولوسره اجر حاصليږي له حضرت مالک بن انس ﷺ څخه روايت ده چه يوه شپه حضرت عمر ﷺ ګښت کاوه هغه پريوه قافله تيرسو کاروان ټول بيده وو هغه ته دافکر پيدا سو هسي نه چه څوک له دي قافلي څخه غلا وکي په لاره کي هغه عبدالرحمن بن عوف ﷺ وليدي هغه پوښتنه وکړه ياامير المؤمنين په دي شپه کي چيري روان يې؟ هغه ﷺ وفرمايل يوه

قافله هلته راغلې ده ټول کاروانیان بیده دي زه پرېږدم چه څوک یې مال غلانه کې درځه چه پرهغه بندي پیره وکو دواړه صحابهؓ دقافلي خوا ته ولاړل ورته کښېنستل ټوله شپه یې دهغې حفاظت وکړ چه سهارسو عمرؓ اواز وکړ چه پاڅئ دسهار لمونځ وکئ کله چه قافله بیداره سوه نودوي دواړه بیرته خپلو کوروته راغلل زموږ ټولو مسلمانانو لپاره ضروري ده چه داصحابوؓ پرنقش اوقدم باندي ولاړ سو الله ﷻ دهغوپه تعریف کي فرمایې (رحماء بینهم) هغه په خپل منځ کي رحم کوونکي دي دهغوي دارحم تردي پوري وو چه ذمي اوکافر هم ددوي له رحم څخه محروم نه پاته کیدي حضرت عمرؓ یوهودا ذمي سړي دخلګو په دروازه کي په سوال کولو کي ولیدي ویې ویل موږ له تاسره انصاف نه دی کړي په ځواني کي مو له تاڅخه جزیه اخیستي ده په بوډاتوب کي مو بیرته سوال کولو ته مجبور کړ عمرؓ په هم هغه ساعت دهغه لپاره دبیت المال څخه تنخواه مقرره کړه له سوال څخه یې خلاص کړ له حضرت عليؓ څخه روایت ده چه یوسهار ماعمرؓ ولیدي پراوښ باندي سپور وو یوځای روان وو ماپوښتنه وکړه اي عمره چیري روان یې هغه وویل دصدقي له اوښانو څخه یواوښ ورک سوي ده په هغه پسي ګرځم ماورته وویل تاسو ستاسو څخه وروسته راتلونکي خلفاء په تکلیف کي اچولي دي عمرؓ راته وویل اي ابوالحسنه مامه ملامتوه په هغه ذوالجلال رب قسم چه محمد ﷺ یې په حقه نبي رالیږلي ده که دفرات دسیند پرغاړه یوکلن پسه مړسي نودقیامت په ورځ به دهغه پوښتنه له ماڅخه کیږي ځکه چه دهغه امیرهیڅ عزت نسته چه مسلمانان هلاک کي اونه دهغه بدبخت کوم مقام سته چه مسلمانان ویېروي.

**درحم په باره کي دنبي ﷺ ارشادات**،دنبي کریم ﷺ فرمان ده چه زماامت به د لمانځه، روژو په زیادت سره جنت ته نه ځي بلکه دزړونو سلامتي سخاوت او پر مسلمانانو باندي درحم کولو له کبله به ځي دنبي کریم ﷺ ارشادده چه الله ﷻ پررحم کوونکو باندي رحم کوي تاسي دمځکي پرمخلوق رحم وکئ اسمان والابه پرتاسو باندي رحم وکي دنبي کریم ﷺ حدیث ده چه څوک پرچارحم نه کوي پرهغه رحم نه کیږي څوک چه دبل لپاره معافي نه کوي دهغه لپاره معافي نسته دحضرت مالک بن انسؓ څخه روایت ده چه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي پرتاسو باندي دمسلمانانو څلورحقه ده دخپل محسن امدادوکئ د ګنهګارلپاره مغفرت وغواړئ دمریض پوښتنه وکئ له توبه کوونکو سره دوستي وکئ روایت ده چه موسیؑ الله ﷻ ته سوال وکړ چه یاالله ﷻ تازه په کومه وجه صفي ګرځولي یم؟ الله ﷻ په جواب کي ورته وویل پرمخلوق باندي ستا درحم په وجه حضرت ابو الدرداءؓ دهلکانو څخه چوغکي په بیه اخستي بیابه یې ایله کولي ورته ویل به یې ولاړي سئ دازادي ژوند وکئ دنبي کریم ﷺ ارشادده چه په رحمت، شفقت، اومحبت کي ټول مسلمانان دیوه جسم په شان دي کله چه دجسم یوه برخه درد کوي ټول جسم بي قراره وي. **قصه**،پربني اسرائیلو باندي قحطي اوسخته زمانه راغله یوعابد دیوي شګي دغوندی

څخه تیرسو دهغه په زړه کي دا خیال راغئ چه کاشکي دادشکو غوندې داوړو واي مابه بني اسرائیلو ته ورکول الله ﷻ دبني اسرائیلونبي ته وحي ولیږله چه ته زماهغه نیک بنده ته ووایه چه تاته دشکي ددغي غوندې دشګو په اندازه داوړو ورکولو چه څومره ثواب حاصلیدي هغومره ثواب ماستادښه نیت له کبله درکړئ ځکه خونبي کریم ﷺ فرمايي چه دمؤمن نیت دهغه ترعمل بهترده. **قصه** یووخت حضرت عیسی ﷺ یوځاي روان وو هغه شیطان ولیدي په یوه لاس کي یې شات په بل لاس کي یې ایره نیولي وه هغه ﷺ ورته وویل اي دالله ﷻ دښمنه ته داڅه په کوي؟ هغه وویل شات دغیبت کوونکو پرشونډو اچوم ترڅو چه نورغیبت هم وکي ایره د یتیمانو پرمخونو اچوم ترڅو چه خلک نفرت ورڅخه وکي نبي ﷺ فرمایلي دي کله چه کوم یتیم ته تکلیف ورکول کیږي نو دهغه په ژړا دالله ﷻ عرش لړزیږي اوالله ﷻ فرمايي اي ملائکو دغه یتیم ماشوم چ په ژړا کړي ده ؟ نبي ﷺ فرمایلي دي هرچاچه دیتیم د طعام ذمه واخسته الله ﷻ دهغه لپاره جنت واکړیه روضة العلماء کي دي چه ابراهیم ﷺ به ددودۍ خوړلو څخه مخکي یودوه میله اندازه لاړبه چکر وهله چه میلمه پیداکي له هغه سره یوځاي ډوډۍ وخوري یووخت حضرت علي ﷺ وژړل خلکو دهغه دژړا وجه معلوموله چه هغه ولي وژړل ؟ هغه وویل ډیر وخت وسو زما خواته میلمه نه دی راغلئ شاید الله ﷻ له ماڅخه ناراضه وي دنبي کریم ﷺ فرمان دی کوم سړي چه چاته في سبیل الله ډوډۍ ورکي دهغه لپاره جنت واجب ګرزي چاچه کوم وږي سړي ته ډوډۍ ورنکړه الله ﷻ دقیامت په ورځ له هغه څخه خپل فضل اوکرم بندوي عذاب ورکوي . **دسخي اوبخیل بیان**: سخي سړي الله ﷻ ته نږدي اودجهنم څخه لیري ده دنبي کریم ﷺ ارشاد ده چه سخي دالله ﷻ جنت اونورو خلکوته قریب وي اودجهنم څخه لیري وي بخیل دالله ﷻ دجنت اودنورو خلکو څخه لیري وي جهنم ته نږدي وي دنبي ﷺ ارشادده چه جاهل سخي دالله ﷻ ترعابد بخیل زیات خوښ ده دنبي ﷺ حدیث ده چه دقیامت په ورځ څلور کسان جنت ته بلا حساب ځي عالم باعمل، هغه حاجي چه دحج څخه وروسته یې ترمرګه پوري ګناهونه نه وي کړي. هغه شهید چه دالله ﷻ ددین دلوړولو لپاره دجنګ په میدان کي شهید سوي وي، هغه سخي چه حلال مال وګټي دالله ﷻ درضالپاره یې خرڅ کړي دغه خلک به په خپل مابین کي پردي خبره بندي دعوه کوي چه کوم یوبه مخته وجنت ته ځي؟ له حضرت عباس ﷺ څخه روایت ده چه نبي ﷺ فرمایلي دي چه الله ﷻ خپلو ځینو بندګانو ته مال اودولت ورکړي ده ترڅو هغه خلکوته فایده ورسوي کوم سړي چه خلکوته دګټي رسولو په کار کي وروسته وروسته کیږي دهغه مال بیاالله ﷻ بل چاته ورکوي دنبي ﷺ فرمان ده چه سخاوت دجنت یوه درخته ده ښاخونه یې پرمځکه راځوړندلي دي چاچه له دغوښاخو څخه یوښاخ ټینګ ونیوي هغه ښاخ به دغه سړي جنت ته بوزي له حضرت جابر ﷺ څخه روایت ده چه له محمد ﷺ څخه پوښتنه وسوه چه کوم عمل ډیربهتر ده ؟ هغه ﷺ و فرمایل صبر، او سخاوت حضرت مقدام بن شریح ﷺ دخپل پلاراونیکه

څخه روایت کوي چه دهغه نیکه محمد ﷺ ته عرض وکړ چه ماته داسي عمل راوښیه چه ماجنت ته بوزي هغه ﷺ وفرمایل دمغفرت له اسبابو څخه خلکو ته ډوډۍ ورکول، سلام اچول، ښه اخلاق کول.

## نولسم باب په لمانځه کي خضوع او خشوع

په حدیث شریف کي دي چه یوه ورځ جبرائیل ؑ دنبي ﷺ حضور ته راغي اوویې فرمایل چه ماپه اسمانو کي یوه داسي ملائکه لیدلي ده پرتخت ناسته وه اویازره ملائکي دهغې پرشاوخوا دخدمت لپاره حاضري وي دهغې له هري ساه څخه الله ﷻ یوه یوه ملائکه پیداکوي مگر اوس مي هغه په کوه قاف کي ولیده وزرونه یې مات وو ژړله یې کله چه هغې زه ولیدم ماته یې وویل دالله ﷻ په حضورکي زماشفاعت وکه ماپوښتنه وکړه چه تاڅه جرم کړي دی؟ هغې وویل کله چه دمعراج په شپه دمحمد ﷺ سپرلۍ تیره سوه زه پرتخت باندي ناسته وم دهغه ﷺ دتعظیم لپاره ونه دریدم ځکه الله ﷻ زه په دي عذاب کي اخته کړي یم جبرائیل ؑ وویل ما دالله ﷻ په حضور کي په ژړا دهغې سپارش وکړ الله ﷻ ماته وفرمایل ته هغې ته ووایه چه پرمحمد ﷺ باندي درود ووایې هغې پرمحمد ﷺ باندي درود شریف ووایه الله ﷻ دهغې داگناه معاف کړه نوي وزرونه یې ورکړل. **دقیامت په ورځ دلمانځه پوښتنه** دقیامت په ورځ ترټولو اول دلمانځه پوښتنه کیږي روایت ده چه دقیامت په ورځ ترټولو مخکي دبنده لمانځه ته کتل کیږي که دهغه لمنځونه مکمل وي نو دلمانځه په شمول دهغه ټول اعمال قبلیږي که یې لمنځونه ناقص وه دهغه اعمال ردیږي. *روز محشر کہ جان گداز بود..... اولین پرسش نماز بود*

دنبي ﷺ فرمان ده چه فرض لمونځ دترازو په شان ده چاچه هغه پوره کړ نوکامیاب سو حضرت یزید الرقاشي ؒ فرمایي چه دمحمد ﷺ لمونځ به داسي برابر وو لکه تلل سوي چه وي دنبي ﷺ فرمان ده چه زمادامت به دوه کسان لمونځ کوي دهغه رکوع اوسجده به یو دول وي مگر دهغو په لمنځونو کي به دمځکي اوآسمان فرق وي په یوه کي به خضوع وي اوپه بل کي به نه وي نبي ﷺ فرمایلي دي چه الله ﷻ دقیامت په ورځ پرهغه بنده درحمت نظرنه اچوي چاچه درکوع اوسجدي ترمینځ خپله ملانه وي برابره کړي دنبي ﷺ حدیث ده چه هرچاچپل پروخت لمونځ وکړ ښه اودس یې وکړ رکوع، سجده، یې په خضوع اوخشوع سره وکړه دهغه لمونځ دسپین براق په شان اسمان ته خي اووایې چه اي بنده څنگه چه تازما محافظت وکړ نو الله ﷻ دي ستامحافظت هم وکي لیکن چاچه خپل لمونځ په خپل وخت ونه کړ نه یې اودس صحیح وکړ نه یې رکوع اوسجده په خشوع اوخضوع سره وکړل دهغه لمونځ په توررنگ آسمان ته څي اووایې اي بنده لکه څنگه چه دي زه خراب کړم الله ﷻ دي تاهم خراب کي حتي چه هغه لمونځ وپیچي اودي بیرته په وولي.

**په غلو کي لوی غل دلمانځه غل ده**،دنبي ﷺ حدیث ده چه بدترین سړي دلمانځه غل ده دحضرت ابن مسعود ؓ قول ده چه لمونځ یوه پیمانه ده چاچه هغه پیمانه پوره کړه نودي کامیابه

سو چاچه کمه کړه دهغه لپاره عذاب ده دځینو علماوو قول ده چه لمونځ ګذار دتاجر په شان ده
تاجر ته هغه مال ګټه کوي چه خالص وي اوبل شي نه وي ورسره ګډ همدارنګه لمونځ ګذارته دهغه
عبادت ترهغه ګټه نه کوي ترڅو چه یې فرائض په صحیح توګه نه وي اداکړي کله چه به دلمانځه
وخت رانزدې سو نوابوبکرصدیق رضي الله عنه به خلګوته ویل الله ﷻ چه ستاسي لپاره کوم اوربل کړي ده
هغه په لمانځه سره مړکئ دنبي ﷺ فرمان ده چه لمونځ په سکون اوتواضع سره دي څوک چه
دخپل لمانځه په نتیجه کي دبدو اوفحش کارونو څخه بندنه سو دالله ﷻ څخه هغه په لیرې کیدو
سره لیرې کیږي کوم سړي چه په غفلت سره لمونځ کوي دهغه لمونځ هغه دبدیو څخه نه سي منع
کولای نبي ﷺ فرمایلي دي چه ډیر لمونځ کوونکي دي چه هغوته لمنځونه دتکلیف اودرد څخه
پرته نورهیڅ ګټه نه رسوي درسول الله ﷺ دا اشاره وهغه چاته ده چه په غفلت سره لمونځ کوي
دنبي ﷺ ارشادده چه دبنده لپاره دلمانځه هیڅ ثواب نسته مګرهغه چه په تواضع سره یې اداکړي
وي دمعرفت خاوندان وایي چه لمونځ دڅلورو شیانو نوم ده په علم سره شروع، په حیا سره قیام، په
تعظیم سره اداکول دالله ﷻ څخه په ویره سره دهغه ختمول دځینو مشائخو قول ده چه څوک
دلمانځه په حقیقت پوه نه وي دهغه لمونځ فاسدده محمد ﷺ یو سړي ولیدي چه په لمانځه کي یې
په خپله ږیره سره بازي کولي هغه ﷺ و فرمایل که دده په زړه کي خشوع وای نو په اعضاوو کي به
یې هم خشوع وای دږیرې له بازیو څخه یې معلومیږي چه په زړه کي یې خضوع نسته
هغه ﷺ و فرمایل دچا په زړه کي چه خضوع نه وي دهغه لمونځ بې فائدې اوبې ثوابه ده په خضوع
وخشوع سره دلمونځ کوونکو صفات الله ﷻ په لمانځه کي دخشوع اوخضوع کوونکو تعریف په
ډیرو ځایو کي کړي ده الله ﷻ فرمایي؛

الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ سورة المؤمنون آية(٢) وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ سورة المؤمنون آية(٩) الَّذِينَ
هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ سورة المعارج آية(٢٣)

څنګه چه یې ویلي دي چه لمونځ کوونکي خو ډیر دي مګرپه خشوع سره لمونځ کوونکي کم دي
حاجیان ډیردي مګر نیک اخلاق کم دي، مرغان ډیردي مګر بلبلان کم دي، عالمان زیات دي
مګرعمل کم ده، صحیح لمونځ دخشوع، خضوع، اوعاجزي نوم ده همدغه لمونځ دقبلیدو نښانه
ده څنګه چه دلمانځه دجواز لپاره شرائط دي همدغسي دقبولیت لپاره یې هم شرائط دي دجواز
شرائط یې دفرائضو اداکول دي دقبولیت شرائط یې خشوع او تقوي ده لکه الله ﷻ چه
فرمایي: قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ. بېشکه هغو مؤمنانو کامیابي ترلاسه کړه
چه په لمنځو کي خشوع کوي دتقوي په اړه الله ﷻ فرمایي: قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ المائدة
آية(٢٠) الله ﷻ دمتقیانو څخه قبلوي د نبي ﷺ فرمان ده چه کوم سړي دوه رکعته په خشوع
اوخضوع سره وکي هغه له ګناهونو څخه داسي پاکیږي لکه اوس چه له مور څخه پیدا سوي دي

حقیقت داده چه په لمانځه کې زړه دفاسدو خیالاتو په وجه په صحیح معنی سره نه متوجه کیږي ځکه له دغو خیالاتو څخه زړه فارغه کول ضروري دي دنجات یې څولاري دي له هغو څخه یوه داده چه لمونځ دي په تیاره کې وکي یادي په داسې ځاي کې لمونځ وکي چه پوره چپه چاپیږ وي لاندي رنګین فرش نه وي نقش والاجامې یې نه وي اغوستې ځکه په دغوشیانو سره په مطلقې نظر نظر لګیدوسره دلمونځ کوونکې توجه اوخشوع خرابیږي لکه په حدیث شریف کې چه دي محمد ﷺ دابوجهم رضي الله عنه له خواپه یورالیږل سوي منقش قمیص کې لمونځ وکړکله چه له لمانځه څخه فارغ سو نوقمیص یې وکیښ بیرته یې ورولیږي هغه ﷺ ددي وجه دابیان کړه چه دغه قمیص په لمانځه کې زماتوجه خرابه کړه یووخت هغه ﷺ نوي بوټونه واخسته اوپرلمانځه ودریدي له لمانځه وروسته یې هغه له پښو څخه لیري کړل بیرته یې زاړه بوټونه په پښو کړل ویې فرمایل چه په لمانځه کې زمافکر اوتوجه ددي بوټوطرف ته سوه په نرو باندي دسرو زرو له حرامیدو څخه مخکې یووخت هغه ﷺ یوه ګوتمۍ په ګوته کړه پرمنبر باندي کښیناستې هغه ﷺ ګوتمۍ له ګوتې څخه لیري کړه ویې غورځوله ویې فرمایل دازما توجه خرابوي حضرت ابوطلحه رضي الله عنه یووخت په خپل باغ کې لمونځ وکړ ناڅاپه یوه مرغۍ والوته له درختې څخه دتلو کوشش یې وکړ طلحه رضي الله عنه په تعجب سره داقصه ولیده له هغه څخه درکعتونو شمیر ورک سو هغه رضي الله عنه د محمد ﷺ په خدمت کې حاضرسوخپله قصه یې ورته وکړه بیایې وفرمایل اي دالله ﷻ رسوله ماخپل باغ دالله ﷻ په نامه خیرات کړي ده تاسې چه څنګه غواړئ هغسې یې مصرف کړئ یوبل سړي دحضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې خپل دخرماو څخه ډک باغ کې لمونځ وکړ دهغه فکر دخرماوو طرف ته سو درکعتونو شمیر یې له یاده وواتۍ هغه لمونځ خلاص کړ دحضرت عثمان رضي الله عنه څنګ ته راغې هغه رضي الله عنه ته یې وویل ما خپل باغ دالله ﷻ په نامه خیرات کړ ته هغه دالله ﷻ په لاره کې خرڅ که عثمان رضي الله عنه هغه په پنځوس زره خرڅ کړ داسلافو څخه ځیني نقل کوي چه په لمانځه کې څلورشیان ډیرخراب دي هغه داچه بل طرف ته متوجه کیدل، پرمخ باندي لاس ګرځول، دکوچنیو دبرو په وار وار لیري کول په لاره کې لمونځ کول الله ﷻ خپل بنده ته ګوري دنبي ﷺ حدیث شریف ده چه الله ﷻ ترهغو دخپل بنده په توجه کې وي چه لمونځ یې نه وي خلاص کړي حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه چه به کله پرلمانځه ودریدي داسې معلومیدي لکه په مځکه کې چه ټک وهل سوي وي ځینو حضراتو به دومره په سکون سره رکوع کوله چه مرغانو به پرهغه دکاڼې ګمان کاوو ورباندي کښیناستل به سالم طبیعت هم ددغسې لمانځه تقاضا کوي ځکه چه کله ددنیوي شان اوشوکت لرونکو په وړاندي خلک په ډیر تعظیم سره دریږي نودالله ﷻ په حضورکې خوبه ښځې په تعظیم سره دریږي په تورات کې دي چه انسان دي زماپه دربارکې دژړا په حالت کې دحاضریدو څخه بیره کوي ستاخداي ستا ترزړه هم قریب ده هرڅیري دي چاره کوي روایت ده چه عمر رضي الله عنه پرمنبر باندي وفرمایل داسلام په حالت کې یوانسان

بوډا کیږي مګر د هغه لمونځ نه پوره کیږي پوښتنه څني وسوه چه څنګه؟ هغه وفرمایل په زړه کي يې خشوع نه وي عاجزي نه وي نو لمونځ څنګه پوره کیږي؟ دابو العالیه رحمه الله څخه روایت ده چه له هغه څخه ددي آیت، الذین هم عن صلوتهم ساهون په اړه پوښتنه وسوه هغه جواب ورکړ چه داد هغه چالپاره ده چه په لمانځه کي توجه نه کوي سهوه کیږي هغه ته دا نه معلومیږي چه هغه څو رکعته لمونځ کړي دي دوه رکعته دري رکعته که څلور رکعته؟ دحضرت حسن رحمه الله قول ده چه داآیت شریف د هغه چالپاره ده چه په لمانځه کي سهوه کیږي دایې له یاده ووزي چه څو رکعته یې کړي دي تردي چه وخت یې ختم سي دنبي ﷺ ارشاد ده چه الله جل جلاله فرمایلي دي زما بندګان دفرائضو دادا کولو پرته له ما څخه خلاصي نسي پیدا کولای.

## شلم باب دغیبت بیان

په غیبت باندي وعید الله جل جلاله په قرآن کریم کي دغیبت بدي بیان کړي ده او غیبت کوونکي ته يې دمردارو غوښو خوړونکي ویلي دي لکه الله جل جلاله چه فرمایي: وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ سورة الحجرات آية (۱۲) ژباړه: یو دبل غیبت مه کوئ ایا له تاسو څخه څوک دخپل وروردغوښو خوړل خوښوي دنبي ﷺ حدیث شریف ده چه پرهر مسلمان دبل مسلمان وروروینه، مال، عزت، حرام دي دنبي ﷺ وینا ده چه خپل ځان له غیبت څخه وساتئ ځکه چه غیبت تر زنا هم بدتردي ایاکم والغیبة فان الغیبة اشد من الزنا فان الرجل قد یزني ویتوب فیتوب الله علیه وان صاحب الغیبة لا یغفر له حتی یغفر له صاحبه ژباړه: له غیبت څخه ځانونه وساتئ ځکه چه غیبت له زنا څخه هم بد ده یو سړي چه زنا وکي بیا توبه وکاږي الله جل جلاله د هغه توبه قبلوي لیکن غیبت کوونکي تر هغه پوري نه بخښل کیږي ترڅو چه يې هغه سړي ونه بخښي دکوم چاچه يې غیبت کړي ده وایې چه دغیبت کونکي مثال د هغه چاپه شان ده چه پر منجنیق يې لګولي وي او د هغه په واسطه ودا اړو طرفو ته راسته او چپه طرف ته نیکۍ غورځوي درسول الله ﷺ فرمان ده: الغیبة ذکرک اخاک بما یکره ای سواء ذکرته بنقصان بدنه او نسبه او فعله او قوله او دینه او دنیاه حتی ثوبه ورداءه ودابته حتی ذکر بعض المتقدمین لو قلت ان فلانا ثوبه طویل او قصیر یکون ذلک غیبة فکیف ذکرک ما یکره من نفسه ژباړه: رسول الله ﷺ فرمایلي دي چه غیبت هغه ده چه ته دخپل ورور هغه څه بیان کي چه د هغه ویل د هغه ناخوښه وي اګر که د هغه د بدن عیب وي یادنسب یاد قول یاد کار یا ددین عیب وي تردي چه د هغه په لباس کي عیب بیانوي نو داهم غیبت ده دځینو متقدمینو قول ده چه داویل هم غیبت دي چه دفلانکي سړي لباس اوږد ده یا لنډ ده داخو لا پرېږده چه د هغه نقصان وویل سي روایت ده چه یو ه تیت قد والا ښځه دکم کار لپاره نبي ﷺ ته راغله کله چه هغه واپس ولاړه نو عائشي رضي الله عنها وویل ددي قد څومره کوچني و هغه ﷺ ورته وفرمایل اي

عائشي تا په هغې پسې غیبت وکړ نبي ﷺ فرمايي اياكم والغيبة فان فيها ثلاث آفات لايستجاب لصاحبه دعاء ولاتقبل له حسنة وتكثرا كم عليه السيئات ژباړه: خپل ځانونه له غيبت څخه وساتئ ځکه چه په دې غیبت کې درې تاوانونه دي يو دا چه د غيبت کوونکي دعانه قبليږي، د هغه نيکياني نه زياتيږي، پرهغه دګناهونو حمله کيږي . دچغلخور انجام محمد ﷺ فرمايي چه شرالناس يوم القيامة ذووجهين انما الذي يأتي هؤلاء بوجه وهؤلاء بوجه من كان ذاوجهين في الدنيا كان له يوم القيامة لسانان من النار د قيامت په ورځ بدترين سړي هغه ده چه دوه مخونه لري تا ته په يو مخ راځي او بل ته په بل مخ سره ځوک چه په دنياكې چغلخوري کوي دقيامت په ورځ به دهغه په خوله کې دوې ژبې وي همدارنګه د محمد ﷺ بل حديث شريف ده چه چغلخور سړي جنت ته نه ځي.

**حكمت**: الله ﷻ دټولو حيواناتو په خوله کې ژبې پيداکړي دي ليکن ماهي ته الله ﷻ ژبه نه ده ورکړي ددې وجه داده چه کله دالله ﷻ په حکم سره ملائکو آدم ﷺ ته سجده وکړه اوابليس په مسخ سوي شکل مځکې ته وغورځول سو هغه سمندرته ولاړي دهغه نظرپر ماهي ولګيدي هغه ته يې دآدم ﷺ دتخليق قصه وکړه دايې هم ورته وويل چه هغه به دسمندر اوورچې حيوانان ښکاره کړي هغه ماهي دغه قصه ددرياب ټول مخلوق ته وکړه له دې کبله الله ﷻ هغه دژبې څخه محروم کړ . دچغلخور سزا حضرت عمرو بن دينار ﷺ وايي چه په مدينه طيبه کې يو سړي اوسيدي دهغه خور د مديني په اطرافوکې وسيده هغه خور يې ناجوړه سوه دغه سړي دهغې په خدمت کې مشغول سو هغه مړه سوه دي دخپلې خور په تکفين اوتجهيز کې مصروف سو کله چه يې دفن کړه واپس کورته راغي هغه ته وريه يادسوه چه له هغه څخه په قبرکې دپيسو يوه کڅوړه پاته سوي ده هغه له خپل دوست څخه مرسته وغوښته دواړه ولاړل دهغې قبريې لټ کړ دپيسو کڅوړه يې ځني راواخسته هغه خپل دوست ته وويل لږ ليرې سه زه به خپله خور وګورم چه دهغې په قبرکې څه حالت دی هغه په لحدکې وکتل خوريې په اورکې ده هغه په ټپه خوله بيرته ځني روان سو له مورڅخه يې پوښتنه وکړه چه زما په خورکې څه خراب عادت وو ؟ موريې ورته وويل ستا خور دهمسايګانو خبرونه غوږ ايښي وو چغلي يې کوله که کوم سړي غواړي چه دقبرله عذابه نجات پيداکې نوهغه ته په کار ده چه له غيبت او چغلي څخه پرهيز وکي . **دحضرت ابوالليث بخاري ﷺ واقعه**: حضرت ابوالليث بخاري ﷺ دحج په سفر له کوره څخه روان سو په جيب کې يې دوه ديناره وو دتګ په وخت کې يې قسم وکړ چه که مامکې ته دتللو اوراتللو په وخت په لاره کې غيبت وکړ زه به دغه دواړه ديناره خيرات کم هغه ترمکې پوري ولاړي بيرته کورته راغي ليکن هغه دوه دينارونه دهغه په جيب کې امانت پاته سول له هغه څخه دغيبت په اړه پوښتنه وسوه چه څنګه ده؟ هغه په جواب کې وويل يووار غيبت ترسلو زناوو بدګنم دجناب ابوحفص الكبير ﷺ قول ده چه زه دچاغيبت کول دروژي دمياشتي ترپريښوولو

بدګنم بیایې وویل چاچه دکوم عالم غیبت وکړ دقیامت په ورځ به دهغه پرمخ لیکل سوي وي دادالله ﷻ له رحمت څخه ناامیده ده دنبي ﷺ حدیث شریف ده چه دمعراج په شپه زه پریوداسې قوم باندي تیرسوم چه په خپلو نوکانو یې دخپلو مخانو غوښي شکولي مرداري به یې خوړله ماله جبرائیل ﷺ څخه پوښتنه وکړه چه داڅوک دي؟ هغه وویل داهغه خلک دي چه په دنیاکي یې دخلکو غوښي خوړلي یعني غیبت یې کاوود حضرت حسن ﷺ قول ده چه نس ته دغیبت دګولۍ رسید وڅخه مخکي دهغه په دین کي خلل پیداکوي حضرت سلمان فارسيؓ اوابوبکراوعمر ﷺ دري سره په سفرروان وو سلمان فارسي ﷺ به دوی تیاروله یووخت داسې وسوه چه سلمان ﷺ دخوراک شي پیدانکړ چه پوخ یې کړ اوویې خوري حضرت ابوبکراوعمر ﷺ هغه دمحمد ﷺ خدمت ته واستوله چه وګوري چه هلته دخوراک کم شي نسته؟ هغه ﷺ واپس راغي اوویې ویل چه هلته هیڅ نسته په دي وخت کي ابوبکر ﷺ وفرمایل که ته فلاني ځاته تللي واي اوهلته دي کتلي واي په هغه کي به هم اوبه وچي سوي واي بیایې داآیت شریف ووایه :ولایغتب بعضکم بعضا یودبل غیبت مه کوئ دحضرت ابوهریره ﷺ قول ده چه چادخپل مسلمان ورور غوښه په دنیاکي خوړلي وه دقیامت په ورځ به هغه وهغه خپل ورورته غوښه وړاندي کوي اوورته وبه وایي چه دغه مرداره غوښه وخوره څکه چه تاپه دنیاکي هم دغه غوښه خوړلي وه هغه بیاداغوښه وخوري بیایې داآیت شریف ووایه: ایحب احدکم ان یأکل لحم اخیه میتا. **دغیبت بدبویې اوس ولي نه محسوسیږي؟** دحضرت جابر بن عبدالله ﷺ څخه روایت ده چه کله درسول الله ﷺ په زمانه کي غیبت ډیر کم وو نوځکه دهغه بدبویې راتله اواوس غیبت دومره عام سوي ده چه دانسانانو پزي دهغه له بدبویې سره عادت سوي دي ددي مثال داسې ده لکه یوسړي چه دڅرمنو والا په کورکي داخل سي دڅرمنو بدبویې ته یوه دقیقه هم نسي دریدلای مګر دڅرمنو کاریګران بیاهلته ژوندکوي خوراک، چښاک، کوي خوبونه کوي هغه په دي بدبویې نه پوهیږي ددي وجه داده چه هغه عادت سوي دي هیڅ قسم بوي نه محسوسوي همدارنګه دغیبت بدبویې ده دحضرت کعب ﷺ قول ده چه ماپه یوکتاب کي لیدلي دي چه څوک له غیبت څخه توبه وکاږي هغه به ترټولو وروسته جنت ته داخلیږي څوک چه ترمرګه پوري غیبت وکي توبه ونه کاږي هغه ترټولو مخکي جهنم ته ځي الله ﷻ فرمایي، ویل لکل همزة لمزة جهنم کنده دهغه چالپاره ده چه په وروسته پسې غیبت کوي ستاپه وړاندي ستابدي بیانوي داآیت شریف دولید بن مغیره په حق کي نازل سوي ده

چه د مسلمانانو په مخکي د محمد ﷺ او د مسلمانانو غیبت به یې کاوه د دي شان نزول که خاص ده مګر حکم یې عام ده. **غیبت ترزناهم بدده**: محمد ﷺ فرمایلي دي چه ځپل ځانونه له غیبت څخه وساتئ داله زنا څخه هم بدده پوښتنه وسوه چه دا څنګه؟ محمد ﷺ وفرمایل کله چه زن کار توبه وکاږي الله ﷻ یې توبه قبلوي لیکن د غیبت کوونکي مغفرت ترهغه وخته نه کیږي ترڅو چه هغه سړي معافي ورته ونه کي په کم چاپسي چه یې غیبت کړي وي ځکه د هر غیبت کوونکي لپاره ضروري ده چه د الله ﷻ په حضور کي توبه وکاږي اوبیا له هغه چا څخه معافي وغواړي په چاپسي چه یې غیبت کړي وي ترڅو چه د غیبت له اور څخه نجات پیدا کي د نبي کریم ﷺ فرمان ده چه هرڅوک د مسلمان ورور غیبت کوي الله ﷻ د قیامت په ورځ د هغه مخ د کوناټو طرف ته کوي ځکه چه په کار داده چه د غیبت له مجلس څخه تر ولاړیدو مخکي مخکي باید د الله ﷻ څخه مغفرت وغواړي او د چاغیبت چه یې کړي وي هغه ته دي د خبر رسیدو څخه مخکي رجوع وکي ځکه که هغه ته د غیبت د رسیدو څخه مخکي څوک توبه وکي نو توبه یې قبلوي لیکن کله چه غیبت ورته ورسیدي یا هغه دده توبه نه قبلوي او هغه معافي نه ورته کوي همدا رنګه له واده سوي ښځي سره د زنا مسئله ده ترڅو پوري چه د هغي میړه معافي ورته ونه کي د هغي توبه نه قبلیږي پاته سو لمونځ، زکات، روژه، د هغه د قضا راوړلو څخه پرته د هغه توبه نه قبلیږي.

## یوویشتم باب د زکات بیان

الله ﷻ فرمایي: ﴿وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ﴾ سورة المؤمنون آیة(۴) هغه خلګ چه زکات ورکوي کامیاب سول له حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت ده چه محمد ﷺ وفرمایل کم سړي چه د ځپل مال او دولت حق نه اداکوي د قیامت په ورځ د هغه ملا، نس، د جهنم په ګرمو کانو سره داغل کیږي د هغه جسم پلیتیږي کله چه یې ګرمي کمیږي نو بیرته یې ګرموي دا عذاب ترپنځوس کالو ورکول کیږي تردي چه د خلګو د اعمالو فیصلي وسي له دي وروسته به هغه جنت ته داخلیږي الله ﷻ فرمایي ﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ﴾ سورة التوبة آیة(۳۴/۳۵) **ژباړه**: کوم خلګ چه سره زر او سپین زر جمع کوي د الله ﷻ په لاره کي یې نه مصرفوي هغو ته د دردناک عذاب زیري ورکه په کومه ورځ چه د هغوي مال د جهنم په اور سوځول کیږي په هغو سره د هغوي تندیان، بغلونه، ملا، ته داغونه ورکول کیږي او ورته ویل کیږي چه څه مو جمع کړي دي له هغه څخه

خوند واخلئ دنبي ﷺفرمان ده چه دقيامت په ورځ به فقيران دغنيانو لپاره دهلاکت
باعث وګرځي کله چه هغه دالله ﷻ په دربارکي عرض وکي چه اي الله ﷻ هغو زموږ حقوق
تربښولاندي کړي دي پرموږ يې ظلم کړي ده نوالله ﷻ فرمايې زمادي په خپل عزت
اوجلال قسم وي چه نن زه تاسو ته دخپل رحمت په څنګ کي ځاي درکوم اوهغه له خپل رحم
څخه ليري کوم بياهغه داآيت شريف ووايه :﴿وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ ۝ لِّلسَّائِلِ وَ
الْمَحْرُومِ﴾ سورة المعارج آية(٢٥/٢٤) دغنيانو په مال کي دسائل اوفقير لپاره يوټاکلي حق ده د
نبي ﷺحديث شريف ده چه دمعراج په شپه زه پريوداسي قوم باندي تيرسوم چه هغوي
پرشا ومخ باندي پيوندونه لګولي وو هغو دحيوانانو په شان دجهنم په ضريع، زقوم،
اورضف، کي ګرزيدل ضريع اغزي لرونکو وښوته ويل کيږي زقوم دجهنم درخته ده رضف
هغه کاڼي دي چه په جهنم کي ګرم سوي وي ماورته وويل اي جبرائيل ﷺداخلګ څوک
دي هغه وويل داهغه خلګ دي چه دخپل مال زکات يې نه وو ورکړي الله ﷻ ظلم نه ده
ورباندي کړي بلکه هغو په خپله پرخپلو ځانو باندي ظلم وکړ.**يوعجيبه اوغريبه قصه:**
دتابعينو ﷺ يوه ډله دحضرت ابي سنان ﷺدملاقات لپاره راغله کله چه هغه ډلي دلته لږ
څه زيات وخت تيرکړ ابي سنان ﷺ وويل زمايوهمسايه وفات سوي ده راځئ چه دهغه
دتعزيت په خاطر دهغه ورور ته ورسو محمد بن يوسف الفريابي ﷺوايې چه موږ له هغه
سره ولاړو هلته چه ورسيدو ګورو چه هغه ډير زيات آه اوفرياد کوي موږ ډيره تسلي ورکړه
مګر هغه آرام نه سوموږ ورته وويل ايا تاته دانه ده معلومه چه هرانسان يوه نه يوه ورځ
خامخا مرکيږي هغه وويل داصحيح ده زه خو دخپل ورور په عذاب باندي ژاړم موږ ورته
وويل اياتاته الله ﷻ دخپل ورور ذعذاب په هکله معلومات درکړ هغه وويل ياخبره داسي
ده چه کله خلګ زما دورور له دفن کولو څخه وروسته راغلل زه هلته ناست وم مادهغه له
قبرڅخه يواواز واوريدي ويل يې افسوس چه هغوزه يوازي پريښوولم زه په عذاب کي
اخته يم زمالمنځونه اوروژي چيري ولاړل ؟ ماصبر نه سوکولاي دهغه قبر مي لڅ کړ چه
ويې ګورم چه زماورور په کوم حالت کي ده ؟ کله چه مي ورته وکتل دهغه په قبرکي اوربل
سوي وو په غاړه کي يې داور طوق پروت ده زه په محبت کي دليونيانو په شان مخکي سوم
دهغه له غاړي څخه مي دطوق دليري کولو لپاره لاس اوږد کړ زما دلاس له رسيدو سره سم
زمادلاس ګوتي وسوځلي موږ چه ورته وکتل رښتيا دهغه لاسونه سوځيدلي وو هغه په
خپلو خبرو کي وويل چه مادهغه قبر بيرته بند کړ واپس ورڅخه راغلم که زه ونه ژاړم نوڅوک

دي وژاړي؟ موږ ورته ووېل ايا استادورور داسي کوم عمل وو چه دهغه په وجه داسزا ورکړه سوه ؟ هغه ووېل چه ده دخپل مال زکات نه ورکاوو موږ ووېل داددي آيت شريف تصديق ده ﴿وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُواْ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ سورة آل عمران آية(۱۸۰) .کوم خلک چه زموږ دفضل څخه په ورکړسوي مال کي بخل کوي هغه دي دخپل ځان لپاره غوره نه ګڼي بلکه دادهغو لپاره مصيبت ده نژدي ده چه دقيامت په ورځ هغوته طوق واچول سي ستا ورور ته ترقيامت له مخه عذاب ورکړل سو علامه محمد بن يوسف الفريابي رحمه الله وايي چه موږ له هغه ځاي څخه دمحمد ﷺ د صحابي حضرت ابو ذر رضي الله عنه خدمت ته راغلو هغه ته مو ټوله قصه وکړه پوښتنه موور څخه وکړه چه يهود اونصارى مري له هغو سره تراوسه داسي نه دي سوي ددي څه وجه ده؟ هغه رضي الله عنه ووېل په دي کي هيڅ شک نسته چه هغه په دائمي عذاب کي دي مګر الله جل جلاله تاسو ته دعبرت په خاطر دمسلمانانو دغسي حالت ښکاره کوي الله جل جلاله فرمايي: ﴿فَمَنْ أَبْصَرَ فَلِنَفْسِهِ وَمَنْ عَمِيَ فَعَلَيْهَا وَمَا أَنَاْ عَلَيْكُم بِحَفِيظٍ﴾ سورة الانعام آية(۱۰۴) د محمد ﷺ ارشادده چه زکات نه ورکوونکي خلک دالله جل جلاله په نزد ديهود اونصاري په شان دي عشر نه ورکوونکي خلک دمجوسيانو په شان دي زکات اوعشر نه ورکوونکي خلک چه دنبي کريم ﷺ اوملائکو په ژبه ملعون وګرځي دهغوشاهدي دقبليدو وړنه ده اوويې فرمايل دهغه چالپاره زيري ده چه زکات اوعشر يې ورکړ دقيامت په ورځ پرهغوعذاب نسته کوم سړي چه دخپل مال زکات ورکي الله جل جلاله له هغوڅخه دقبر عذاب ليري کوي اودجهنم اور وربانديي حراموي دهغه لپاره دحساب بغير جنت واجب ګرځوي هغه دقيامت په ورځ نه ترږي کيږي.

## دوه ويشتم باب د«زنا» بيان

الله جل جلاله فرمايي: ﴿وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ﴾ سورة المؤمنون آية(۵) .هغوي دحرام اوبدکاريو څخه دخپل شرمګاړو حفاظت کري وي په يوبل آيت شريف کي الله جل جلاله فرمايي ﴿وَلاَ تَقْرَبُواْ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ﴾ سورة الانعام آية(۱۵۱) دلويو، کوچنيو، ښکاره، پټو ګناهونو خواته مه ورځئ دلته له لويې ګناه څخه مراد زنا اوله کوچني ګناه څخه مراد دمچې اخستل دشهوت په نظر کتل لاس وروړل لکه دنبي ﷺ حديث شريف چه ده چه لاسونه، سترګي، پښې، هم زناکوي الله جل جلاله فرمايي ﴿قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ﴾

ذٰلِكَ أَزْكٰى لَهُمْ سورة النور آية(٣٠) مؤمنانوته ووايه چه خپلي سترګي پټي کړئ دخپلو شرمګاوو حفاظت وکړئ الله ﷻ مسلمانانو نارينه اومسلمانانو ښځوته حکم کړي ده چه دحرامو په طرف ونه ګورئ خپلي شرمګاوي له حرامو څخه وساتئ الله ﷻ په ډيرو آيتونوکي دزنا حرمت بيان کړي ده لکه الله ﷻ چه فرمايي :وَمَن يَفْعَلْ ذٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا سورة الفرقان آية(٦٨) کوم سړي چه زناکوي هغه په اثام کي اچول کيږي داثام په متعلق ويل سوي دي چه داد جهنم يوه شله ده ځينو مفسرينو ويلي دي چه داد جهنم يو غار ده کله چه دهغه خوله خلاصه سي دهغه نه بدبويې څخه به خلک چيغي وهي .**دزناله وجه څخه په شپږ مصيبتونو اخته کيږئ**:دځينو اصحابو ﷺ څخه روايت ده چه له زنا څخه ځان وساتئ په دي کي شپږ مصيبتونه دي له هغو شپږو څخه دري تردنياپوري تعلق لري دري ترآخرت پوري تعلق لري :(١)په دنياکي يې رزق کميږي .(٢) عمر يې لنډيږي .(٣)مخ يې مسخ کيږي .په آخرت کي دري مصيبتونه يې:(١) د الله ﷻ ناراضي .(٢)سخته پوښتنه .(٣)په جهنم کي داخليدل روايت ده چه موسي ؑ دزاني دسزا په هکله پوښتنه وکړه الله ﷻ ورته وفرمايل زه هغه ته داور زره وراچوم هغه دومره درد نه ده که پريولوي غره باندي واچول سي نوهغه غربه ريزه ريزه سي روايت ده چه ابليس ته دزرو بدکارو سړو څخه يوه بدکاره ښځه زياته خوښه ده په مصابيح کي دمحمد ﷺ ارشاد مبارک نقل سوي ده چه کله بنده زنا کوي دهغه ايمان دهغه څخه وزي دهغه پرسر دسايوان په شان ولاړوي کله چه هغه له زناڅخه فارغ سي دهغه ايمان بيرته ورته راګرځي په الاقناع کتاب کي دي چه محمد ﷺ فرمايلي دي دزنا له نطفي څخه زياته ګناه نسته لواطت له زناڅخه هم بدتر ده لکه له حضرت مالک بن انس ﷺ څخه چه روايت ده نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چه دجنت خوشبو دپنځه سوو کالو په سفر کي معلوميږي مګر لوطي ددغو خوشبو څخه محروم پاته کيږي .**ښايسته هلک لويه فتنه ده**:حضرت عبدالله بن عمر ﷺ له کوره څخه دباندي ناست وو ګوري چه مخامخ يو ښايسته هلک راروان ده هغه ﷺ په منډه منډه کورته راغئ دروازه يې بنده کړه څه وخت بعديې پوښتنه وکړه چه فتنه ولاړه؟ خلګو وويل هوولاړه هغه ﷺ دکورڅخه راووتي اوويې فرمايل نبي ﷺ فرمايلي دي چه ښايسته هلک ته کتل، له هغه سره خبري کول. په څنګ کي ورسره کښيناستل،حرام دي دقاضي امام ؒ قول ده چه ماله ځينو مشائخو څخه اوريدلي دي چه له ښځي سره يوشيطان اوله ښايسته هلک سره اتلس شيطانان وي روايت ده که يوچا په شهوت سره له هلک څخه مچه واخسته هغه به پنځه سوه

کاله په جهنم کې روان وي چاچه له کومې ښځې څخه مچه واخسته هغه ګواکې داویا پیغلو ښځو سره زنا وکړه چاچه له پیغلې سره زنا وکړه ګواکې هغه له اویاښځوسره زنا وکړه په رونق التفاسیر کې دکلبي رحمه الله روایت ده چه ترټولو له مخه لواطت ابلیس شروع کړ هغه دلوط علیه السلام په قوم کې دیوښایسته ماشوم په شکل راغئ خلک یې خپل ځان ته مایل کړل تردې حده چه په هغوخلکو کې لواطت عام سو هرمسافر چه به له سفره راغی له هغه سره به یې لواطت کاوه حضرت لوط علیه السلام هغوي ددې بد عملې څخه منع کول دالله جل جلاله پرطرف یې دعوت کول دالله جل جلاله له عذاب څخه یې بیرول خوهغو لوط علیه السلام ته وویل که ته په خپلو خبرو کې ریښتونی یې نوولاړسه عذاب راوله لوط علیه السلام خپل رب جل جلاله ته دعاوکړه چه دهغې دعاپه نتیجه کې پرهغوي باندې کاڼي واورېدل پرهرکاڼي دهر سړي نوم لیکل وو هغه کاڼي به پرهغه سړي لګیدې چه دچانوم به پرنوشته وو دالله جل جلاله فرمان ده مسومة عندربک

**.دلوط علیه السلام دقوم دیوه تاجر قصه**: دلوط علیه السلام دقوم یوتاجر مکې ته د تجارت لپاره راغی دهغه دنامه کاڼي دلې ورپسې راغي مګر ملائکو هغه ددې وجه څخه بند کړ چه دادخداي حرم ده ترڅلویښتو ورځوپورې دغه کاڼي په حرم کې په آسمان ځړیدې کله چه هغه سړي له مکې څخه روان سو هغه کاڼي دهغه پرسر برابر ولګیدې مړ یې کړ لوط علیه السلام خپل ټول اهل له کوره دباندې وایستئ ویې ویل هیڅوک دې شاته نه ګورې کله چه دلوط علیه السلام پرقوم دعذاب اواز دهغه غوږو ته ورسیدې دهغه ښځې شاته وکتل ویې ویل اې زماقومه ددې په سزاکې هغې ته یوکاڼې راغې دهغې پرسر ولګیدې مړه سوه مجاهد رحمه الله ویلې دې کله چه سهار نژدې سو جبرائیل علیه السلام راغئ هغه کلې یې په خپلو وزرونو پورته کړ دومره یې پورته کړ چه ملائکو دسپیو اوچرګانو اوازونه واورېدل بیرته یې دغه کلي له هواڅخه پرمځکه راایله کړ ترټولو له مخه دهغو کورونه راایله سول ورپسې هغه پرمځې ولوېدل بیاپرهغو له لوړې خواڅخه کاڼي واورول سول ویل کیږي چه دا ټول پنځه ښارونه وو ترټولو لوې ښار دسدوم ښار وو ددغو ښارو نفوس ټول څلور لکه وو الله جل جلاله په سورة برائة کې دموتفکاتو په نامه یادکړي دي.

## درویشتم باب دمور اوپلار حقوق اووصله رحمي

الله جل جلاله فرمایې: ﴿وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ﴾ سورة النساء آیة(۱) .دهغه الله جل جلاله څخه وبیرېږئ چه دهغه په نامه غوښتنه کوې دقرابت لحاظ وساتئ الله جل جلاله فرمایې:

فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِن تَوَلَّيْتُمْ أَن تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَىٰ أَبْصَارَهُمْ سورة محمد آية (٢٣/٢٢) . همدارنګه الله ﷻ فرمايي: الَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ مِن بَعْدِ مِيثَاقِهِ وَيَقْطَعُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ سورة البقرة آية (٢٧) . **ژباړه**: هغه كسان چه د الله ﷻ سره كړي وعده ماتوي اودكم شي دوصل كولو امر چه الله ﷻ ورته كړي وي هغه قطع كوي په مځكه كي فساد كوي هغه په نقصان كي دي . **دنبي كريم ﷺ ارشادات** په صحيحينو كي د حضرت ابو هريره ﷺ روايت ده په صحيحينو كي دحضرت ابو هريره ﷺ روايت ده چه نبي ﷺ فرمايلي دي چه كله الله ﷻ دمخلوق دپيدا كولو څخه فارغ سو نو قرابت عرض وكړ چه زه له تاڅخه دقطعي رحمي پناه غواړم الله ﷻ ورته وفرمايل اياته په دي خبره راضي يې چه هرچاله تاسره تعلق وساتئ زه به له هغه سره تعلق ساتم چاچه له تاسره تعلق قطع كړ زه به له هغه سره تعلق شكوم؟ هغه ورته وويل هو راضي يم بيارسول الله ﷺ دسورة الرعد دا آيت شريف ووايه (فهل عسيتم) له حضرت ابوبكر صديق ﷺ څخه روايت ده چه محمد ﷺ وفرمايل بغاوت، اوقطعي رحمي دوه داسي ګناهونه دي چه په دنيا او آخرت كي عذاب وركول كيږي په صحيحينو كي دي چه قطعي رحمي كوونكي جنت ته نه ځي په مسند احمد كي دي چه دانسان اعمال دهري جمعي په شپه الله ﷻ ته پيښ كيږي مګر دقطعي رحم كوونكي هيڅ عمل دالله ﷻ په حضور كي نه قبليږي دبيهقي څخه روايت ده چه نبي كريم ﷺ فرمايلي دي جبرائيل ﷺ د شعبان په پنځلسم تاريخ دشپي زما طرف ته راغي ماته يې وويل چه نن شپه الله ﷻ دبنو كلب دبزو دوريښتانو په اندازه ګناهونه معافوي مګر دمشرک، كينه كوونكي، قاطع رحم، په تكبر سره دخپلو پايڅو اوپرتوګ راكښته كوونكي دمور اوپلار نافرمانه اولاد اوشرابي نه معافوي په ابن حبان كي روايت ده چه دري كسان جنت ته نه ځي :شرابي، قاطع رحم، اوجادوګر، دمسند احمد ابن ابي الدنيا اوبيهقي روايت ده چه ددي امت بعضي خلګ به په خوراک څښاک اولهو لعب كي شپي سبا كوي كله چه سهار سي نو دهغوي شكلونه به مسخ سوي وي هغه به په مځكه كي دننه سي سهار به خلګ يوبل ته وايي چه فلاني له خپلي كورنۍ سره په مځكه كي غرق سوي ده پرهغوي به دشرابو څښلو، سود خوړلو، قطع رحمي كولو، موسيقي سره مينه كولو، اودوريښمينو جامو داغوستلو له كبله دلوط ﷺ دقوم په شان د ډبرو باران وسي دقوم عاد په مثال سره به پرهغوي هلاكوونكي سيلۍ راوالوزي چه په هغه سيلۍ سره به دخپل اهل و عيال سره ټول

هلاک سي طبراني په اوسط کي د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت کړي ده چه نبي ﷺ د خپل کور څخه د باندي راووتي موږ ټول يو ځاي ناست وو هغه ﷺ موږ وليدلو او ويې فرمايل اي د الله جل جلاله څخه وبيريږئ صله رحمي وکړئ ځکه چه د صله رحمي بدله ډير ژر ترلاسه کيږي د ظلم او تيري څخه ځانونه وساتئ ځکه چه د هغه گرفت ژر وي د مور او پلار له نافرماني څخه ځان وساتئ ځکه چه د جنت د خوشبويې څخه محروم کيږئ حال دا چه د جنت خوشبويې د زرو کالو ليري مسافت څخه محسوسيږي د خپلولي خيال نه ساتونکي بوډا محروم گرځي داصفهاني څخه روايت ده چه موږ د محمد ﷺ په مجلس کي ناست وو هغه ﷺ وفرمايل قاطع الرحم دي زموږ په مجلس کي نه کښيني له مجلس څخه يو سړي ولاړ سو د خپل خاله کره ولاړي هغه له خپل خاله سره جنگ کړي وو له هغي څخه يې معافي وغوښتله بيرته د محمد ﷺ په مجلس کي کښينستي محمد ﷺ وفرمايل پر هغه قوم د الله جل جلاله رحم نه کيږي چه قاطع الرحم کي موجود وي د دي تائيد له دي روايت څخه هم کيږي چه حضرت ابو هريره رضي الله عنه خلگو ته د نبي ﷺ احاديث بيانول هغه وويل هر قاطع الرحم سړي دي زموږ له محفل څخه ولاړسي يو ځوان له محفل څخه داسي نيغ ولاړسي د خپل خاله کره ورغي له هغې سره يې څه وخت مخکي جنگ کړي وو کله چه دوي دواړو په خپل مابين کي يو د بله سره معاف کړل د هغه خاله ورته وويل ولاړسه د دي وجه معلومه که چه داسي ولي وسوو؟ حضرت ابو هريره رضي الله عنه وويل چه ماله نبي ﷺ څخه اوريدلي دي چه په کم قوم کي قاطع الرحم وي پر هغه د الله جل جلاله رحمت نه نازليږي په طبراني کي له اعمش څخه روايت ده چه حضرت ابن مسعود رضي الله عنه يو سهار په يو محفل کي ناست وو هغه وويل زه قاطع الرحم ته په الله جل جلاله سره قسم ورکوم چه له دي محفل څخه ولاړسي تر ځو چه موږ له الله جل جلاله څخه د مغفرت دعاو غواړو ځکه چه پر قاطع الرحم باندي د آسمان دروازي بندي سوي دي که د لته قاطع الرحم موجود وي نو زموږ دعانه قبليږي په صحيحينو کي دي چه قرابت او خپلوي د الله جل جلاله په عرش کي متعلق دي او وايې هر چا چه موږ وصل کړو الله جل جلاله دي هغه وصل کي چا چه له ما سره تعلق قطع کړ الله جل جلاله له هغه سره تعلق قطع کوي حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه وايې چه ماله نبي کريم ﷺ څخه واوريدل چه هغه ﷺ وويل چه الله جل جلاله فرمايې چه زه الله يم، زه رحمن يم، ما رحم پيدا کړي ده هغه مي له خپل نوم څخه مشتق کړي ده چا چه صله رحمي وکړه زه هغه له خپل رحم سره وصل کوم چا چه قطع رحمي وکړه زه هغه له خپل رحمت څخه ليري کوم په مسند احمد کي روايت ده چه تر ټولو لوي سود د مسلمانانو مال په ناحقه خوړل دي قرابت او صله رحمي د الله جل جلاله د نوم يو ښاخ ده

چاچه صله رحمي ونکړه الله ﷻ پرهغه جنت حراموي په صحيح ابن حبان کي دي چه رحم دالله ﷻ يوه لويه عطا وورکړه ده رحم دالله ﷻ په حضورکي عرض وکړ اي الله ﷻ پرظالم وسو مابدرد وويل سول زه قطع سوم الله ﷻ ورته وفرمايل څوک چه تا وصل کي زه به هغه له خپل رحمت څخه وصل کم څوک چه تاقطع کي زه هغه له خپل رحمت څخه ليري کوم دبزاز روايت ده چه رحم«قرابت» دالله ﷻ دعرش سره مبنتي دي اوعرض کوي چه ياالله ﷻ چاچه زه وصل کړم ته هغه وصل که چاچه زه قطع کړم ته هغه له خپل رحمت څخه قطع که الله ﷻ وفرمايل ماستانوم له خپل نامه څخه مشق کړي ده چاچه ته وصل کړي زه هغه دخپل رحمت سره وصل کوم چاچه ته قطع کړي زه له هغه څخه خپل رحمت قطع کوم دبزاز يوبل روايت ده چه دري شيان دالله ﷻ له عرش سره مبنتي دي:

قرابت وايي ياالله ﷻ زه له تاسره يم هيڅکله هم له تاڅخه نه جلاکيږم ، امانت وايي ياالله ﷻ زه له تاسره يم زه ستا له رحمت څخه هيڅکله هم نه جداکيږم، نعمت وايي اي الله ﷻ زه ستا له رحمت څخه قطعًانه جلاکيږم دبيهقي روايت ده چه دګناه مهر دعرش له دروازي سره معلق ده کله چه په صله رحمي کي شک پيداسي په ګناهونو باندي عمل زيات سي په الهي احکامو باندي دعمل نه کولو جرئت پيداسي الله ﷻ دغه مهررا ستوي دهغه پرزړه باندي چاپيره سي له دي وروسته بياهغه په هيڅ شي نه پوهيږي چه ايا داګناه ده کنه؟ په صحيحنوکي دي چه محمد ﷺ فرمايلي دي کوم سړي چه پرالله ﷻ اوپرقيامت ايمان لري هغه دي دخپل ميلمه عزت کوي، صله رحمي دي کوي، ښي خبري دي کوي، يادي چپ کښيني، يوبل روايت ده چه کوم سړي داوږد عمر يادپراخ رزق آرزو لري هغه ته په کارده چه صله رحمي وکي له حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت ده چه ماله نبي ﷺ څخه واوريدل چه کم سړي فراخ رزق اواوږد عمر خوښوي هغه دي صله رحمي کوي بيايي وفرمايل خپل نسب يادکئ ترڅو چه خپلوان وپيژنئ داځکه چه له خپلوانو سره ناسته ولاړه اوله خاندان سره تعلق په دي کي محبت زياتيږي عمر اوږديږي دبزاز اوحاکم روايت ده چه کوم سړي داآرزو لري چه عمر يې اوږد، رزق يې فراخ، اوله بده مرګه محفوظ سي، هغه دي له الله ﷻ څخه وبيريږي صله رحمي دي کوي بل روايت ده چه دنبي ﷺ فرمان ده چه په تورات کي ليکل سوي دي چه هرڅوک چه داوږد عمر اوفراخ رزق اميد لري هغه دي صله رحمي کوي ابوليلي دبنو خثعم ديوشخص څخه روايت کړي ده هغه ويلي دي چه زه دمحمد ﷺ په خدمت کي حاضرسوم هغه ﷺ داصحابو ؓ سره ناست وو ماپوښتنه وکړه چه تاسي دالله ﷻ درسول کيدو دعوه کړي ده ؟ هغه ﷺ وويل هو ماپوښتنه

وکړه اي دالله ﷻ نبي ماته ووايه چه کوم عمل دالله ﷻ زيات خوښ ده؟ هغه ﷺ وفرمايل
پرالله ﷻ باندي ايمان راوړل ماپوښتنه څني وکړه بيا؟ هغه ﷺ وويل صله رحمي کول
ماپوښتنه وکړه کم عمل دالله ﷻ دير مبغوض ده؟ هغه ﷺ وويل دالله ﷻ سره شريک
نيول ماپوښتنه وکړه تردي وروسته؟ هغه ﷺ وفرمايل قطع رحمي کول ماپوښتنه وکړه
بيا تردي وروسته؟ هغه ﷺ وفرمايل قطع رحمي کول ماپوښتنه وکړه بيا؟ هغه ﷺ وويل
دبديو په طرف ترغيب کول له نيکي څخه منع کول دبخاري اومسلم روايت ده چه رسول
الله ﷺ پريوه اوښه ناست وو دځوتنو اصحابو ؓ سره په سفر روان وو يوصحرايي راغي
دمحمد ﷺ داوښ مهارېي ونيوي اومحمد ﷺ ته يې وويل يارسول الله ﷺ ماته داسي
عمل راوښيه چه ماجنت ته نژدي اودجهنم څخه مي ليري کي محمد ﷺ ودريدي بيا يې
وفرمايل دی سړي هدايت پيداکړي ده نبي ﷺ ته صحرايي خپل سوال بياتکرار کړ
محمد ﷺ په جواب کي وويل الله ﷻ لاشريک وګڼه عبادت يې وکه لمونځ کوه، زکات
ورکوه، صله رحمي کوه، اوس نو زما داوښ مهار پرېږده کله چه به دوي روان سول نو
محمد ﷺ وويل که ده په دي خبرو عمل وکړ نوپه جنت کي به داخل سي دطبراني روايت
ده چه محمد ﷺ وفرمايل يوقوم داسي ده چه الله ﷻ دهغوي ښارونه اباد وي مال يې
زياتوي دکوم وخت څخه چه يې پيداکړي دي کله يې هم دناراضۍ په نظر نه دي ورته کتلي
پوښتنه وسوه داولي؟ ويې ويل ددغه قوم دصله رحمي په وجه سره يعني دغه قوم په
خپلوکي صله رحمي کوله .**دصله رحمي په باره کي ځومبارک احاديث:**
دمسند احمد روايت ده چه هرچاته نرمي ورکړه سوه هغه ته ددين اودنيابښېګني ورکړ
سوي دښه همسايه توب اوښو اخلاقو نتيجه دښارونو ابادي اودعمرونو اوږدوالي ده
دابو الشيخ ابن حبان بيهقي روايت ده چه چاپوښتنه وکړه يارسول الله ﷺ ترټولو ښه عمل
کوم يو دی؟ هغه ﷺ وويل دالله ﷻ څخه زياته ويره کول، دنيکيو حکم کول، له بديو څخه
منع کول دطبراني اوابن حبان روايت ده چه ابو ذر ؓ وايي چه ماته زماحبيب نبي ﷺ
يوڅوښو شيانو نصيحت کړي ده هغه داده چه زه له ځان څخه لوړ نه بلکه ترځان کښته سړي
ته ګورم له يتيمانو سره محبت کوم هغوته قريب اوسم زه به صله رحمي کوم اګر که قريبان
مخ راڅخه واړوي دالله ﷻ په معامله کي له هيڅ څخه ونه بيريږم ښه خبره اګر که ترخه وي
وکم. لاحول ولاقوت الابالله په کثرت سره ووايم ځکه چه دادجنت خزانه ده دصحيحينو
روايت ده چه ام المؤمنين حضرت ميمونه ؓ دنبي کريم ﷺ دپوښتني بغير خپله مينځه
ازاده کړه کله چه محمد ﷺ تشريف راووړ هغي ؓ ورته وويل يارسول الله ﷺ تاته

معلومه ده ماخپله مینځه ازاده کړه نبي ﷺ ورته وويل ربنتيا وايې ؟ هغې ؓ وويل هو نبي ﷺ ورته وويل که تاداخپله مينځه خپل دخالا زوي ته ورکړي واي ډير ثواب به دي ترلاسه کړي واي دابن حبان او حاکم روايت ده چه دمحمد ﷺ په خدمت کي يوسړي حاضر سو اوويې ويل يارسول الله ﷺ ماډيره لويه ګناه کړي ده دتوبي صورت يې راته وښيه چه توبه وکاړم نبي ﷺ ورته وويل چه ستامور ژوندئ ده؟ هغه سړي ورته وويل هوژوندئ ده رسول الله ﷺ ورته وويل ولاړسه دهغي خدمت وکه داصله رحمي ده په بخاري اونورو کتابو کي روايت ده چه صله رحمي دانه ده چه يوازي له هغو خپلوانو سره صله وکړل سي کم چه له تاسره يوځاي اوسيږي اونژدي پراته دي بلکه صله رحمي داده چه کم قريب خپلولي پريکي ته دهغه سره صله رحمي وکي ناسته ولاړه ورسره وکي دترمذي روايت ده چه نبي ﷺ فرمايلي دي چه له هغو خلګو څخه مه کيږئ چه هغه وايي که چاله ماسره ښه وکړل زه به هم له هغه سره ښه وکم که هغو پرموږ تيري وکړ موږ به هم تيري ورباندي وکو بلکه ته دهغه خبري عادي وګرځوه چه کله خلګ له تاسره ښه کوي ته هم ښه ورسره کوه که هغه زياتي کوي نوتاسي زياتي مه ورسره کوئ دمسلم روايت ده چه يوه سړي دمحمد ﷺ په خدمت کي عرض وکړ چه زه له خپلوانو سره صله رحمي کوم مګر هغه له ماڅخه قطع تعلق کوي زه له هغو سره ښه کوم مګر هغه له ماسره بدکوي زه له هغوي سره دحلم اوبردباري سلوک کوم ليکن هغه ماپه خپل خيال اوخاطرکي هم نه راولي هغه ﷺ ورته وويل که ستاخبره ربنتياوي نو تايواوړد سفر وکړ ترڅوچه ته په دي عبادت باندي قائم يې نوالله ﷻ به ستا حامي اوناصروي دطبراني، ابن خزيمه اوحاکم روايت ده چه ترټولو ښه صدقه وکينه کوونکو خپلوانوته څه ورکول دي دمحمد ﷺ دغه فرمان هم دامطلب ده چه فرمايې«وتصل من قطعک»کوم خپلوان چه له تاسره خپلي اړيکي پري کوي ته له هغوسره خپلي اړيکي وساته دبزار، طبراني، اوحاکم روايت ده چه په چاکي دادري صفات پيداسي دهغه حساب به ډيرزيات اسانه وي اصحابه کرامو ؓ عرض وکړ يارسول الله ﷺ هغه کوم صفات دي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل څوک چه تامحروم کي ته هغه ته ورکړه کوه څوک چه له تاسره قطع کوي ته له هغه سره قطع مه کوه څوک چه له تاسره ظلم کوي ته هغه معاف که ستاځاي به جنت وي داحمد روايت ده، چه حضرت عقبه بن عامر ؓ وايي چه زه دمحمد ﷺ په خدمت کي حاضرسوم لاسونه مي کلک ورته ونيول پوښتنه مي ځني وکړه چه يارسول الله ﷺ ماته ښه اعمال راوښيه هغه ﷺ ماته وفرمايل اي عقبه قطع کوونکي سره صله کوه څوک چه تاديو څه څخه محروم کي ته يې مه محروم

کوه څوک چه پرتا ظلم وکي هغه معاف که دحاکم روایت ده چه هرڅوک چه دعمر اوږد والي په رزق کي پراخوالي غواړي هغه دي صله رحمي وکي دطبراني روایت ده چه محمد ﷺو فرمایل اي خلګو زه تاسي ته ددنیا اوآخرت بهترین عادتونه وښیم تاسي له هغوخپلوانو سره صله رحمي وکئ چه له تاسوسره قطع رحمي کوي هغه چاته ورکړه کوئ چه تاسوته څه نه درکوي څوک چه پرتاسو زیاتي کوي هغه معاف کئ دطبراني روایت ده چه محمد ﷺ وفرمایل دقطع تعلق کوونکو سره صله رحمي کوي ستاسي محروم کوونکو ته ورکړه کوئ څوک چه تاته ردي بدي وایي ته معافي ورته کوه دبزاز روایت ده چه نبي کریم ﷺ وفرمایل ایا زه تاسوته هغه خبري ونه ښیم چه ستاسي درجي ورباندي پورته کیږي؟ اصحابو ﷺ عرض وکړ یارسول الله ﷺضرور یې راوښیه نبي ﷺو فرمایل څوک چه له تاسوڅخه اعراض کوي هغه ته معافي کوئ چاچه پرتاسو ظلم وکړ هغه معاف کي چاچه وتاسوته شي درنکړ تاسي یې ورکوئ چاچه له تاسو سره خپلي اړیکي قطع کړي له هغوسره تعلقات وساتئ دابن ماجه روایت ده چه په ټولو اعمالو کي ترټولو زیات ژر اجر پیداکوونکي شي احسان اوصله رحمي ده په ټولو اعمالوکي ژر عذاب راوړونکي شي ظلم، زیاتي، اوقطع رحمي ده دطبراني روایت ده چه دروغ ویل قطعي رحمي اوخیانت ددي باعث ګرځي چه الله ﷻ په دنیاکي هم عذاب ورکي اوپه آخرت کي هم عذاب ورکي ترټولو زر اجر پیداکوونکي عمل صله رحمي ده اګر که هغه خلګ ګنهګاروي مګر بیاهم دصله رحمي په وجه دهغه مال اواولاد زیاتیږي.

## څلورویشتم باب له مور، اوپلار، سره ښه سلوک

په صحیحینوکي دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت ده چه ماد محمد ﷺڅخه پوښتنه وکړه چه الله ﷻ ته کم عمل زیات محبوب ده؟ نبي ﷺو ویل لمونځ په خپل وخت اداکول ماورته وویل بیا؟ رسول الله ﷺو ویل له مور اوپلار سره ښه سلوک کول ماوویل بیا؟ رسول الله ﷺو فرمایل جهاد في سبیل الله دمسلم روایت ده چه محمد ﷺو فرمایل زوی دخپل پلار حق نسي اداکولاي که هغه خپل پلار ته دچاله غلامی څخه په پیسو ازادي هم ورکي دمسلم بل روایت ده چه یوه سړي دمحمد ﷺپه حضور کي حاضر سو عرض یې وکړ زه ستاپه لاس دالله ﷻ درضا په خاطر دهجرت اوجهاد بیعت کوم رسول الله ﷺورته وفرمایل ولاړسه دمور، اوپلار خدمت وکه دابو یعلي اوطبراني روایت ده چه یوسړي د محمد ﷺپه خدمت کي حاضرسو ویې ویل چه زه دجهاد ارزو کوم مګر دڅو مجبوریتونو له وجه معذوره یم رسول الله ﷺو فرمایل دالله ﷻ په توفیق سره دخپلي مور خدمت کوه

تاته به دحج، عمري، اودجهاد في سبيل الله ثواب حاصل سي په طبراني كي دي چه يور سړي دجهاد ارزو وكړه رسول الله ﷺ پوښتنه څني وكړه چه ستا مور ژوندۍ ده؟ هغه وويل هو رسول الله ﷺ وفرمايل دهغي پښي ونيسه لاندي به يې جنت پيداكي دابن ماجه روايت ده چه له محمد ﷺ څخه پوښتنه وسوه چه پراولادباندي دمور اوپلار څه حقوق دي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل هغه ستا جنت اودوږخ ده دابن ماجه، نسائي، اوحاكم روايت ده چه يوسړي دمحمد ﷺ په خدمت كي حاضرسو ويې ويل يارسول الله ﷺ زه دجهاد كولو په نيت له تاڅخه دمشوري كولو لپاره راغلي يم رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ولاړسه له خپلي مورسره ښه سلوك كوه جنت دمور ترقدمو لاندي ده په يورروايت كي دي چه محمد ﷺ پوښتنه څني وكړه ايا ستامور اوپلار ژوندي دي؟ هغه وويل هورسول الله ﷺ وفرمايل دهغو خدمت كوه جنت دهغو ترپښو لاندي ده په ترمذي شريف كي دي چه نه حضرت ابو الدرداء ﷺ څخه يوه سړي پوښتنه وكړه چه زما مور وماته دښځي د طلا قونوحكم كوي ابو الدرداء ﷺ ورته وويل چه ماله رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چه والدين دجنت دمېنځ دروازي دي كه غواړې ضايع يې كه اوكه غواړي خدمت يې وكه د ابن حبان ﷺ روايت ده چه يوو سړي حضرت ابو الدرداء ﷺ ته شكايت وكړ چه زماپلار اول ماته دواده كولو وويل اوس راته وايي چه خپله ښځه طلاقه كه هغه ﷺ وويل زه تاته نه وايم چه دمور اوپلار نافرماني وكه نه درته وايم چه خپله ښځه طلاقه كه زه تاته د محمد ﷺ يوحديث شريف بيانوم محمد ﷺ فرمايلي دي چه پلار دجنت دمابين دروازه ده ستا خوښه ده كه يې پريږدي كه يې ساتي دسنن اربعه اوابن حبان روايت ده چه حضرت عبدالله بن عمر ﷺ وايي زمايوه ښځه وه ډيره مي خوښيدله ليكن زماپلارهغه نه خوښوله پلار راته وويل ديته طلاق وركه ماانكار وكړ زماپلار دمحمد ﷺ په خدمت كي حاضر سو تولـه قصه يې ورته وكړه محمد ﷺ ماته وفرمايل چه ښځي ته دي طلاق وركه په مسند احمد كي روايت ده چه كوم سړي دعمر اوږد والي اودرزق پراخوالي غواړي هغه دي له مور اوپلار سره ښه سلوك اوصله رحمي كوي دابو يعلي اوحاكم روايت ده چه محمد ﷺ وفرمايل چاچه له مور اوپلار سره ښه سلوك وكړ هغه ته دي مبارك وي چه الله ﷻ دهغه عمر زيات كړ دابن ماجه، ابن حبان، اوحاكم روايت ده چه محمد ﷺ وفرمايل سړي دګناهونو له كبله له رزق څخه محرومه كيږي دعا تقدير واپس كوي ښه سلوك عمر اوږدوي دحاكم روايت ده چه دنورو خلكو له ښځو څخه معافي كوئ ستاسي له ښځو څخه به معافي وسي له خپل مور، اوپلار سره ښه سلوك كوئ ستاسي اولاد به له تاسي سره ښه

کوي تاسي معافي کوئ ستاسي ښځې به هم معافي کوي دمسلم شريف روايت ده چه محمد ﷺفرمايلي دي دهغه چاپزه دي په خاوروکي ککړه سي عرض وسو دچا؟ محمد ﷺوويل هغه څوک چه والدين يايو دمور اوپلار دبوډاتوب په حالت کي ووينې اوجنت ته ولاړنسي يعني مور اوپلار په ښه سلوک سره خوشحاله نکي دطبراني حديث ده چه محمد ﷺيووار پرمنبرخطبه ويله دخطبې څخه مخکي يې وويل آمين آمين آمين بيايې وويل چه جبرائيل عليه السلام ماته راغئ راته ويې ويل چه يارسول الله ﷺ:

(۱) چاچه مور اوپلار يا يو له دوي دوو څخه ولېدي ښه سلوک يې ورسره ونه کړ هغه وفات سول هغه جهنم ته ولاړي اوالله ﷻ دي هغه له خپل رحمت څخه ليري کي ته ووايه آمين نوماآمين وويل .(۲)يارسول الله ﷺچاچه دروژي مياشت پيداکړه دګناهونو له معافيدو بغير مړسو هغه جهنم ته ولاړي ته ووايه آمين نوما وويل آمين .(۳)دکوم سړي په مخ کي چه ستا نوم يادسي اوهغه پرتادرود شريف اقګا ﷺ ونه وايې مړ سي نو هغه جهنم ته ولاړي الله ﷻ دي هغه له خپل رحمت څخه ليري کي ته ووايه آمين نوما وويل آمين .

دابن حبان روايت ده هرچاچه خپل پلار، يامور، يايو له هغو څخه پيداکړ له هغه سره يې ښه سلوک ونه کړ مړسو نو هغه جهنم ته ولاړي الله ﷻ دي هغه له خپل رحمت څخه ليري کي ته ووايه آمين نوما وويل آمين دحاکم اونورو په روايتونوکي دي هغه څوک له رحمت څخه ليري سو چاچه خپل مور، پلار، يايو له هغو څخه دبوډاتوب په حالت کي پيداکړ هغو دي وجنت ته ونه رسوي ماامين وويل دطبراني په روايت کي دي چه هرچاخپل پلار اومور يوله دوي څخه ژوندي پيداکړ مګر ښه سلوک يې ورسره ونه کړ هغه دالله ﷻله رحمت څخه ليري سو اودالله ﷻ غضب ورباندي وسو ماوويل آمين داحمد روايت ده هرچاچه خپل مسلمان غلام ازاد کړ هغه له جهنم څخه ازاد سو چاچه له خپل مور، پلار، څخه يوژوندي پيداکړ خوبياهم هغه ونه بخښل سو الله ﷻ دي هغه له خپل رحمت څخه ليري کي دبخاري اومسلم حديث ده چه له محمد ﷺڅخه پوښتنه وسوه چه يارسول الله ﷺپه خلګو کي کوم سړي دمحبت کولو زيات قابل اولائق ده ؟ رسول الله ﷺوويل چه مور پوښتنه وسوه بياڅوک؟ رسول الله ﷺو فرمايل مور بياپوښتنه وسوه چه بياڅوک ؟ ويې فرمايل مور کله چه په څلورم وار پوښتنه وسوه نوويې ويل پلار په صحيحينو کي دحضرت اسماء بنت ابي بکر ﵄څخه روايت ده چه دمحمد ﷺپه زمانه کي زما مشرکه مور زما خواته راغله ما محمد ﷺته عرض وکړ چه زما مشرکه موررا غلي ده زه له هغې سره څنګه سلوک وکم؟ رسول الله ﷺورته وويل ښه سلوک ورسره وکه دابن حبان اوحکيم روايت ده چه

محمد ﷺ و فرمایل دالله ﷻ رضا دوالدینو په رضاکي ده او دالله ﷻ نارضایي دوالدینو په نارضایي کي ده دطبراني روایت ده چه دوالدینو په اطاعت کي دالله ﷻ اطاعت ده دهغو په نافرماني کي دالله ﷻ نافرماني ده دبزاز روایت ده چه دوالدینو په رضاکي دالله ﷻ رضاده دهغو په خفګان کي دالله ﷻ خفګان ده په ترمذي ابن حبان، حاکم کي روایت ده چه محمد ﷺ ته یوسړي عرض وکړ چه ماډیره لویه ګناه کړي ده ایا زمالپاره توبه سته؟ رسول الله ﷺ ورته وویل ایاستامور سته هغه وویل یامړه سوي ده بیایي ورته وویل ایا ستاخاله سته ؟ هغه وویل هو محمد ﷺ ورته وفرمایل ولاړسه له خاله سره دي نیکي وکه په ابو داؤد اوابن ماجه کي روایت ده چه یوه سړي پوښتنه وکړه چه دمور اوپلار دمړه کیدو وروسته دهغو سره دنیکۍ کم صورت ده؟ رسول ﷺ ورته وویل دهغولپاره دمغفرت دعا وغواړه دهغو وعدي پوره که دهغو له قریبانو سره تعلق وساته دهغو ددوستانو عزت وکه دابن حبان په روایت کي داهم راغلي دي چه هغه ځوان وویل داځومره بنه اوجامع خبره ده رسول ﷺ ورته وویل ورسه په دي باندي عمل وکه دمسلم روایت ده چه حضرت عبدالله بن عمر ﷺ دمکي په طرف روان وه په لاره کي یي یوصحرایي ولیدي هغه ﷺ هغه پرخپل خره سپورکړ خپله بګړه یي ورکړه ابن دینار ورته وویل الله ﷻ دي پرتارحم وکي دغه صحرایي خوپه لږ شي هم خوشحاله کیږي هغه ﷺ وویل دده پلار زما دپلار دوست وو اوما دمحمد ﷺ څخه اوریدلي دي چه دخپل پلارسره دهغه زوي بنه نیکي داده چه دخپل پلار له دوستانو سره بنه وکي.

په صحیح ابن حبان کي دابوهریره ﷺ روایت ده چه زه مدیني ته راغلم نوعبدالله ابن عمر ﷺ زماخواته تشریف راووړ هغه راته وویل ایاته پوهیږي چه ستا خواته ولي راغلم؟ ماورته وویل نه هغه ﷺ راته وویل مادمحمد ﷺ څخه اوریدلي دي چه کم سړي په قبرکي له پروت پلارسره نیکي کول غواړي نوهغه دي دهغه دوستانوسره بنه سلوک وکي زما دپلارعمر ﷺ اوستادپلار ترمنځ ورور ګلوي وه ځکه زه ستا په خدمت کي حاضرسوم

## دري ځوانان اونېک اعمال یې

په صحیحینو اوپه نورو دحادیثو په کتابوکي دي چه په پخوا زمانه کي دري کسه ځوانان دمزدوري لپاره ولاړل په لاره کي باران وسو هغه ځوانان په یوغار ننوتل ناڅاپه کاڼي ونبویدي دغار خوله یي بنده کړه هغو ځوانانو په خپل مینځ کي فیصله وکړه چه هریو خپل بنه کار بیان کئ دعادي وغواړي چه دغار دخولي څخه داکاڼئ لیري سي دیو روایت الفاظ دادي چه تاسي لږ څه فکر وکئ اوداسي کم عمل یادکئ چه تاسو دالله ﷻ د رضا

لپاره کړي وي او هغه عمل واسطه وګرځوئ دکانې دليري کيدو دعاوغواړئ ديو روايت
الفاظ دادي چه دکانې دراتلو له امله دغار نښان ورک سو هيڅوک نه پوهيدئ چه چيري
يو له هغوڅخه يونفر وويل اي الله ﷻ زمونږ مور اوپلار سپين ږيري وو ماله هغه څخه
علاوه ماشومانو ته ترهغو شيدي نه ورکولي ترڅو چه به مي دوي ته نه وي ورکړي يووخت
داسي وسوو چه زه دکم کار لپاره چيري تللي وم کله چه راغلم هغه بيده سوي وه ماشيدي
ولوشلي تولنه شپه دهغو سرته ولاړوم ترڅو چه دوي راکښيني اوشيدي ورلره ورکم
خودوي ترسهاره نه سول راويښ زما ماشومان ترسهاره پوري وږي پراته وو اي
الله ﷻ ماداکار ستادرضالپاره کړي ده اوس دغه کاڼې ددغه غار له خولي څخه ليري که په
دي دعا سره کاڼې دومره ليري سو چه دلمرڼا پکښي داخله سوه ديو روايت الفاظ دي چه
زما واړه ماشومان وو زه چه دبزو دڅرولو څخه ورروسته کورته راغلم دشيدو دلوشلو
ورروسته به مي لومړي موراوپلارته ورکولي بيابه مي خپلو ماشومانوته ورکولي يووخت
ديوضروري کارلپاره يوي خواته ولاړم کله چه واپس راغلم زما مور اوپلار بيده سوي وو
مادعادت مطابق شيدي ولوشلي دمور اوپلار وخواته ودريدم چه هغه راويښ سي
اوشيدي ورکم زما ماشومان زماپښوته نژدي پراته وو له ماڅخه يې شيدي غوښتلي مگر
ما دمور اوپلار مخکي هغوته شيدي ورنکړي چه سهارسو اي الله ﷻ که زمادغه عمل
ستا درضا په خاطر وو نودغه کاڼې ليري که چه اسمان ووينو کاڼې دومره ليري سو چه
اسمان يې وليدي بل سړي دخپل اکا دلور سره دزنا کولو خبره وکړه دريم سړي دمزدور سره
دامانت داري خبره وکړه ترديچه کاڼې په پوره توګه ليري سو هغه څني راووتل.

## پنځه ويشتم باب دزکات اوبخل بيان

الله ﷻ فرمايي کم سړي چه دالله ﷻ په مال کي بخل کوي هغه دي دخپل ځان لپاره ښه ونه ګڼي
دادهغه لپاره مصيبت ده ژر ده چه دغه مال به دقيامت په ورځ دهغه په غاړه کي طوق سي الهي
فرمان ده چه دهغو مشرکانو لپاره هلاکت ده چه زکات نه ورکوي په دغه آيت شريف کي زکات نه
ورکوونکي ته مشرک ويل سوي دي دمحمد ﷺ فرمان ده چه کم سړي دخپل مال زکات نه
ورکوي دقيامت په ورځ به دهغه دغاړي څخه دګنجي مارپه شکل طوق سي.

**محمد ﷺ دپنځو خبرو څخه په الله ﷻ سره پناه غوښتي ده:** روايت ده چه
محمد ﷺ وويل اي مهاجرينو پنځه بلاګاني داسي دي چه دهغوڅخه ستاسي لپاره
دالله ﷻ څخه پناه غواړم کله چه په يوقوم کي ښکاره بدکاري شروع سي نو الله ﷻ پرهغو
داسي مکروهات نازلوي چه مخکي پربل چانه وو نازل سوي کله چه کم قوم په تول

اوپیمانه کي کمي کوي نوپرهغوي تنګ لاسي، قحط سالي، اوظالم باچامسلطوي کله
یوقوم دخپل مال زکات نه ورکوي پرهغو وچ کالي راځي که په مځکه کي له هغه څخه پر
نور چارپایه اوزنده سر نه وي نو هیڅکله به باران ونه سي کله چه یوقوم دالله ﷻ اودهغه
درسول ﷺ عهد مات کي نو پرهغه دهغه دښمن مسلط کیږي چه مال اودولت ورڅخه
غصبوي دکوم قوم مشر چه دالله ﷻ په کتاب فیصله نه کوي نودهغو په زړونوکي یودبل
څخه بیره پیداکیږي دنبي ﷺ حدیث شریف ده چه الله ﷻ دبخیل ژوند اودسخي مرګ
خوښوي حدیث شریف ده چه دوه عادتونه په مؤمن کي نه جمع کیږي یوبخل بل بداخلاق
نبي ﷺ فرمایلي دي چه الله ﷻ قسم خوړلي ده چه بخیل به جنت ته نه لیږي
دنبي ﷺ حدیث ده چه له بخیل څخه ځان وساتئ په کومو خلګو کي چه بخیل پیداسي هغه
زکات نه ورکوي صله رحمي نه کوي په ناحقه قتلونه کوي وینې توېوي دحضرت
حسن رضي الله عنه څخه دبخل په باره کي پوښتنه وسوه چه بخل څښي ده؟ حضرت حسن رضي الله عنه وویل
بخل داده چه انسان دالله ﷻ په لاره کي مال خرڅول تاوان اومال جمع کول ښه وګڼي دبخل
بنیاد اولاد، له مال سره دمحبت بنیاد دفقر او محتاجي څخه بیره ده اواوږد امید ده په حدیث
شریف کي دي چه ځیني خلک داسي دي چه دخپل مال زکات ورکول اوپرخپل اهل وعیال
خرچه کول ښه نه ګڼي دهغه مینه ددي سره وي چه پیسي جمع کي اوویې ساتي حال داچه
هغه په دي ښه پوهیږي چه یوه ورځ به مړکیږي ددغه بخیلانو په باره کي دیوشاعر قول ده:

یااخي ان من الرجال بهیمة ..... في صورة الرجل اللبیب المبصر

فطن بکل مصیبة في ماله ..... فاذااصیب بدینه لم یشعر

**ژباړه**: اي خلګو دعقلمند وخلګو په شکل کي ډیر حیوانان هم اوسیږي دخپل ځان اومال
په تاوان ښه پوهیږئ لیکن که دهغه دین ته تاوان رسیږي نوپه خبرهم نه وي یوبل شاعر
وایې:

البخل داء قوي لایلیق بذي ..... مروة ولاعقل ولادین

من آثر البخل عن وفر وعن جدة ..... لقد لعمري اضحي وهو مغبون

یابوس من منع الدارین حقهما ..... فباع دنیاه بعدالدین بالدون

**ژباړه**: بخل داسي مرض ده چه مروت لرونکي عاقل اودیندار سړي لپاره لائقه نه ده چاچه
مال اودولت ترلاسه کړ بیایې بخل وکړ زمایې په خپل ژوند قسم چه هغه دوکه وخوړه

افسوس ده دهغه چالپاره چه ددنیا او آخرت حقوق یې ادا نه کړه هغه دخوارشي په بدل کي دذین څخه وروسته خپله دنیاهم خرڅه کړه یوبل شاعر وایې:

اذاالمال لم ینفع صدیقا ولم یصب ..... قریبا ولم یجبر به حال معدوم

فعقباه ان تحتازه کف وارث ..... وللباخل الموروث عقبي التندم

کله چه مال کوم دوست ته فایده ونه رسوي دکم عزیز په کار ورنسي دکم تنګ لاسي مشکل پوره نکي انجام به یې داسي چه مال به یې دهغه دوارلاس ته ورسي بخیل به دقیامت دورځي شرم له ځانه سره یوسي دجناب بشر رحمه الله قول ده چه دبخیل سړي لیدل دخفګان او ملال سبب ګرځي عربو به یوبل ته دبخل پیغور ورکاوه شاعر وایې:

انفق ولاتخش اقلالا فقد قسمت ..... علي العباد من الرحمن ارزاق

لاینفع البخل مع دنیامولیة ..... ولایضر مع الاقبال انفاق

خرچ کوه دکمیدو بیره مه کوه الله جل جلاله دبندګانو رزق تقسیم کړي ده ددنیا څخه سفر کوو بخل هیڅ فایده نه کوي سخاوت هیڅ نقصان نه رسوي دیوبل شاعر قول ده چه:

اري الناس خلان الجوادولااري ..... بخیلاله في العالمین خلیل

واني رایت البخل یزري باهله ..... فاکرمت نفسي ان یقال بخیل

ماخلک دسخیانو دوستان لیدلي دي مګر په دوارو عالمو کي مي دبخیل سړي دوست نه ده لیدلي مالیدلي ده چه بخل بخیلان خوار اوذلیل کوي ځکه مادبخل څخه ځان وساتي دبخل دذلت لپاره هم دومره کافي ده چه هغه دبل چالپاره مال جمع کوي دمال په خرڅولو کي تکلیف محسوسوي دهغه په زیات والي کي خوند اخلي ددغه خلکو لپاره دعلامه وکیع رحمه الله قول ده:

لئیم لایزال یلم وفرا ..... لوارثه ویدفع عن حمام

ککلب الصید یمسک وهوطاو ..... فریسته لیاکله سواه

بخیل همیشه دخپلو وارثانو لپاره مال جمع کوي دهغه حفاظت کوي هغه دښکار کوونکي سپي په شان ده چه دلوږي سره دښکار حفاظت کوي چه بل څوک یې وخوري یومتل ده چه دبخیل مال ته زیري ورکوي دامام ابوحنیفه رحمه الله قول ده چه زه دبخیل فیصله نسم کولای ځکه دهغه دبخل له جهته دخپل حق څخه دزیات اخستو لپاره کوشش کوي داسي سړي امانت دار نه وي. **ابلیس لعین بخل خوښوي**: دحضرت یحیی علیه السلام له ابلیس سره

ملاقات وسو هغه ﷺ ورته وويل چه ستاکم سړي ډير خوښ ده ؟ هغه وويل مؤمن بخيل مي زيات خوښ ده خوسخي گنهګارمي نه ده خوښ هغه ﷺ پوښتنه وکړه داولي؟ ابليس وويل دائکه چه بخيل خوبه دخپل بخل له کبله ډوب سي ليکن دفاسق سخي په باره کي زما ډاډيره ده چه هسي نه الله ﷻ دهغه ګناهونه دهغه دسخاوت له وجه معاف کي بيا ابليس په تلو تلو کي وويل که ته پيغمبر نه واي نو مابه دغه درازي خبري تاته نه واي کړي.

## شپږويشتم باب اوږد اميد

دنبي کريم ﷺ حديث شريف ده چه زه پرتاسي ددوو شيانو له غلبي څخه ډيرېږم يو اوږد اميد، اوبل دخواهشاتو پيروي بلاشبه اوږده اميدونه دآخرت ياد دسړي څخه هيروي دخواهشاتو پيروي دحق اوصداقت څخه سړي بندوي دنبي ﷺ امر ده چه زه دري کسانو ته ددري شيانو ضامن يم :(۱)کم سړي چه خپل ځان ددنيالپاره غرق کي هغه ددنيا حريص ده اوبخل کوي دده لپاره دائمي فقر ده چه هيڅ کله به هم نه غني کيږي هروخت به ددنيا په کارکي ډوب وي او فراغت به نه ورته حاصليږي په داسي غم کي به راګيروي چه هيڅکله به نجات نسي پيدا کولاي حضرت ابوالدرداء ﷺ دحمص دعلاقي خلګو ته وويل تاسي په دي خبره شرم نه کوئ چه داسي کورونه جوړوئ چه تاسي پکښي نه اوسيږئ داسي اميدونه ساتئ چه هغه نسي ليدلاي داسي سامان جمع کوي چه په خپل مصرف کي يې نسئ راوستلاي ؟ستاسو څخه مخکي خلګو ډير عاليشان کورونه جوړکړل ډير مالونه يې جمع کړل مالونه يې بربادسول کورونه يې قبرونه سول حضرت علي ﷺ وحضرت عمر ﷺ ته وويل که ته له خپل دوست سره دملاقات ارزو لري نو پيوندي جامي واغونده زړي څپلۍ په پښو که اميدونه دي کم که په ماړه نس ډوډۍ مه خوره.

حضرت ادم ﷺ خپل زوي شيث ﷺ ته دپنځوخبرووصيت وکړ اوورته ويې فرمايل خپلو اولادوته هم وصيت وکه :(۱)پر دي عارضي دنيا باندي مه مطمئن کيږه زه په جاوداني جنت کي مطمئن سوم الله ﷻ زه له هغه څخه وايستم .(۲)دښځو په خواهشاتو کارمه کوه ماد خپلي ښځي په خواهش دممنوعه درختي څخه خوراک وکړ ملامت سوم .(۳)دهر کار دکولو څخه مخکي دهغه پرانجام فکر وکه که ما دانجام فکر کړي واي نو زه به له جنته نه وم ايستل سوي.(۴)دکم کار څخه چه ستا زړه مطمئن وي هغه مه کوه ځکه کله چه مي دممنوع سوي درختي خوراک نه وو کړي زړه مي مطمئن وو مګر بيا مي هم خوراک ورڅخه وکړ .(۵)تر کار کولو مخته مشوره کوه ځکه که ما دملائکو سره مشوره کړي واي نو له دي تکليف څخه به خلاص سوي واي دمجاهد ﷫ قول ده چه ماته عبدالله ابن عمر ﷺ وويل دسهار په وخت دماښام غم مه کوه اودماښام په وخت دصبا سهار غم مه کوه دمرګ څخه مخکي ژوند اودناروغي څخه مخکي صحت غنيمت وګڼه ځکه چه نه

ده معلومه چه سبا ته به ستاځه حال وي. **دالله ﷻ څخه کماحقه شرم وکه**:نبي کریم ﷺ اصحابو کرامو ؓ ته وفرمایل ایا تاسي ټول جنت ته دتلو اراده لرئ؟ اصحابو ؓ عرض وکړ هو نو هغه ﷺ ورته وفرمایل امیدونه کم کئ اودالله ﷻ څخه کما حقه شرم وکئ اصحابو کرامو ؓ عرض وکړ یاالله ﷻ مونږ له الله ﷻ څخه شرم کوو هغه ﷺ وویل شرم دانه ده چه تاسي یې ګڼئ بلکه حیا داده چه تاسي قبر اودهغه تکلیف یادکئ خپل نس له حرامو څخه پاک وساتئ خپل دماغ له بدو خبرو څخه وساتئ کم سړي چه دآخرت عزت غواړي هغه دي دنیاوي عزت ترک کي همدغه حقیقي شرم ده په دي سره بنده دالله ﷻ قرب حاصلوي دنبي ﷺ حدیث شریف ده چه دامت اولین نیکي زهد اوکامل یقین دي ددي دهلاکت آخري سبب بخل، امیدونه اودرواغ ویل دي. **داصحابو کرامو ؓ ارشادات**:دحضرت ام منذر ؓ څخه روایت ده چه یووخت محمد ﷺ دخلګو څنګ ته تشریف راووړ اوویې فرمایل اي خلګو له الله ﷻ څخه حیاوکئ اصحابو ؓ عرض وکړ یارسول الله ﷺ څنګه حیاء وکو؟ رسول ﷺ وویل تاسي هغه څه جمع کوئ چه دخوړلو امیدیې نه کوئ داسي امیدونه کوئ چه لیدلي یې نه سئ داسي کورونه جوړوئ چه همیشه نه سئ پکښي اوسیداي دحضرت ابو سعید خدري ؓ څخه روایت ده چه حضرت اسامه ؓ دیوي میاشتي لپاره په قرض په سل دیناره یوه مینځه واخسته کله چه هغه دمحمد ﷺ داخبره واوریده نوویې فرمایل ایاتاسي حیران نه سواست چه اسامه دیوي میاشتي لپاره په قرض یوه مینځه اخستي ده دهغه امیددیر اوږد ده په الله ﷻ قسم چه ماته دومره امیدهم نسته چه سترګي به مي دخلاصیدوڅخه وروسته بیرته بندي سي اوکه به تربندیدلو مخته مړسم زه خو ترخلاصولو وروسته دپټولو امیدهم نلرم په خوله کي دګولي ددنه کیدو وروسته دهغه دژوولو امید هم له ماسره نه وي چه ژوندي به یم اوکنه؟ بیایې وفرمایل اي خلګوکه تاسي عقلمند یاست خپل ځانونه په مړو کي حساب کئ په خداي قسم چه پرتاسو به په ټاکلي وخت مرګ راځي چه وروسته کولاي یې نسئ دابن عباس ؓ څخه روایت ده چه محمد ﷺ به په خاورو سره مسح کوله ماورته وویل چه یارسول الله ﷺ اوبه خونږدي دي هغه ﷺ راته وویل څه خبریې چه اوبو ته به ورسیږم کنه؟ روایت ده چه نبي ﷺ دري لرګي راپورته کړه یویې مخ ته ودراوي بل یې اړخ ته ودراوي بل یې لیري ودراوي بیایې وفرمایل پوهیږئ چه داڅه دي؟ صحابه کرامو ؓ وویل الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ به پوهیږي رسول ﷺ وفرمایل دامرګ ده هغه دانسان امیدده انسان په خپلو امیدونوپسي منډه وهي مګر پرلار مرګ ورته راځي دهغه ژوند ختموي. **دحضرت عیسي ؑ واقعه**، روایت ده چه حضرت عیسي ؑ ناست وویوبوډا مځکه په کولنګ وهله غاروله یې عیسي ؑ دعا وکړه یاالله ﷻ ددي سړي دژوند امید ختم کې بوډاکولنګ پرمځکه وغورځاوو پرمځکه پریوتي کله چه لږ وخت تیرسو عیسي ؑ الله ﷻ ته دعاوکړه چه اي الله ﷻ دده امیدونه بیرته ورکه بوډا بیرته له مځکي څخه راپورته سو کیندل یې شروع کړل

عیسی ﷺ هغه څخه ددي وجه معلومه کړه هغه وویل زما په زړه کي خیال راغي چه زه نور بودا سوي یم ترڅو به دا کارونه کوم ځکه مي کولنګ وغورځاوه او پریوتم څه وخت بعد بیرته زما په زړه کي خیال راغي چه تاته دژوند تیرولو لپاره یو څه کول په کار ده ځکه بیرته را پورته سوم په کار مي پیل وکړ.

## اووه ویشتم باب عبادت، اوحرامو پریښوول

داطاعت معني ده دفرائضو اداکول، له حرامو څخه پرهیز کول، په شرعي حدودو باندي عمل کول حضرت مجاهد ﷺ دالله ﷻ ددي قول: ﴿وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا﴾ سورة القصص آیة (۷۷). په اړه وایي چه ددي مطلب دا ده چه بنده دي هر وخت دالله ﷻ عبادت او اطاعت کوي. **داطاعت حقیقت:** داطاعت حقیقت دالله ﷻ معرفت له الله ﷻ څخه بیره الله ﷻ ته امید در لودل هر وخت دالله ﷻ په طرف رجوع کول دي کم سړي چه له دغو صفتونو څخه خالي وي هغه دایمان حقیقت نه ده پیدا کړي ځکه اطاعت ترهغه وخته نه صحیح کیږي ترڅو چه دالله ﷻ معرفت او پرهغه بي مثله اوبي مثاله قادراو خالق رب الله ﷻ سره دټولو صفتونو باندي بشپړ ایمان ونه لري یو صحرایي حضرت محمد بن علي بن حسین ﷺ ته عرض وکړ ایاتا الله ﷻ لیدلي ده چه عبادت یې کوي هغه ﷺ ورته وویل هو ویئم یې او عبادت یې کوم هغه پوښتنه ورڅخه وکړه چه دا څنګه؟ هغه ﷺ ورته وویل الله ﷻ د سترګو په رڼانه بلکه دزړه په نور لیدل کیږي الله ﷻ په حواسو نه محسوسیږي بلکه دي دیشماره نښو څخه پیژندل کیږي هغه په بي حسابه اوصافو سره متصف ده هغه پرچا ظلم نه کوي هغه دآسمان او ځمکي مالک ده له هغه بغیر بل څوک معبود نسته هغه صحرایي وویل الله ﷻ پوهیږي چه په کم خاندان کي رسول استوي باطني علم څه ده؟ دیو عارف څخه دباطني علم په اړه پوښتنه وسوه هغه ﷺ ورته وویل هغه دالله ﷻ راز ده چه دخپلو دوستانو په زړه کي یې اچوي ددي معلومات هیڅ انسان او ملائکو ته نه کیږي روایت ده چه حضرت کعب احبار ﷺ ویلي دي چه که انسان دیوي داني په اندازه دالله ﷻ په عظمت یقین پیدا کي هغه به په هوا کي الوتل وکړي داوبو پرسر به روان سي هغه ذات پاک ده چه دخپل معرفت په ادراک سره دانسان عاجزانه اقرار ته یې دایمان درجه ورکړه او په ورکړل سوو نعمتونو باندي یې دانسان دشکر نه کولو اعتراف ته یې شکر وویل دعلامه محمود الوراق ﷺ اشعار:

اذاکان شکري نعمت الله نعمة ..... علي له في مثلها یحب الشکر

فکیف بلوغ الشکر الابفضله ..... وان طالت الایام واتصل العمر

اذا مس بالسراء عم سروها ..... وان مس بالضراء اعقبها الاجر

ومامنهما الاله فیه نعمة ..... تضیق لها الاوهام والبر والبحر

کله چه دالله ﷻ پرنعمتونوباندي شکر کول هم دالله ﷻ نعمت ده چه پرما واجب ده نوزه څنګه دهغه الله ﷻ له کرم څخه پرته شکرادا کولای سم اګر که ماته اوږد ژوند هم راکړه سي کله چه انسان ته خوښي حاصله سي نو خوشحالياني يې عامي سي اوچه کله کم تکليف ورته رسيږي نوهغه ته بهترين اجر ورکول کيږي په هره خوشحالي اوغم کي دالله ﷻ داسي نعمتونه پټ وي چه په وچه اومځکه کي نسي ځايدلي کله چه الهي معرفت حاصل سي نو دبندګي اقرار لازم وګرځي کله چه ايمان په زړه کي ځاي ونيسي نودالله ﷻ اطاعت واجبيږي دايمان دوه قسمونه دي ظاهر اوباطن دژبي اقرار ته ظاهر اودزړه تصديق ته باطن ويل کيږي دالله ﷻ په قرب اوعبادت کي دمؤمنانو مختلفي درجي دي مګر په ايمان کي ټول برابر اوشريک دي کله چه کم مؤمن توکل اواخلاص اودالله ﷻ په رضاکي څومره حصه ولري دغومره دهغو مرتبي پورته کيږي اخلاص داده چه بنده دالله ﷻ څخه دخپلو اعمالو ددرجه غوښتونکي نه وي ځکه چه کم سړي دثواب په اميداودعذاب دويري څخه عبادت کوي دهغه اخلاص نه وي ځکه چه هغه خو دخپلي ګټي په خاطر عبادت کړي ده دحضرت محمد ﷺ فرمان ده چه دبد سپي په شان مه کيږه چه له ويري څخه کارکوي اومه دبدمزدورپه شان کيږه چه داجرت پرته کار نه کوي الله ﷻ فرمايي:

وَمِنَ النَّاسِ مَن يَعْبُدُ اللَّهَ عَلَى حَرْفٍ فَإِنْ أَصَابَهُ خَيْرٌ اطْمَأَنَّ بِهِ وَإِنْ أَصَابَتْهُ فِتْنَةٌ انقَلَبَ عَلَى وَجْهِهِ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالآخِرَةَ سورة الحج آية(١١).

ژباړه: دخلکو څخه ځيني خلک داسي چه په کناره کي عبادت کوي که فايده ورته ورسيږي نومطمئن کيږي اوکه ورباندي ازميښت راسي نويرته واوړي اومخ ورڅخه واړوي اوخسر الدنيا والآخرة سي که الله ﷻ پراعمالو باندي اجر ورنکي ياهم دالله ﷻ احسانونه او انعامونه دومره ډيردي چه پرموږ دهغه عبادت اواطاعت ضروري ده داخولا پريږده چه هغه ﷻ دبندګي اواطاعت حکم کړي ده اوداجر ورکولو وعده توکل داده چه د محتاجي په وخت کي په الله ﷻ سره توکل وکړسي دهغه ﷻ طرف ته رجوع وکي د مشکلاتوپه وخت کي داطمنان اوسکون اظهار وکي ځکه چه متوکل سړي په دي ښه پوهيږي چه مشکلات دالله ﷻ له طرفه راځي هغه هرڅه دالله ﷻ له طرفه بولي اوپه هروخت کي دالله ﷻ څخه پرته پربل چا اعتماد اوتوکل نه کوي لکه الله ﷻ چه فرمايي: وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ سورة الطلاق آية(٣).

ژباړه: څوک چه پرالله ﷻ توکل کوي الله ﷻ دهغه لپاره کافي ده درضا معني داده چه انسان دالله ﷻ ټول کارونه په خوشحالي سره ومني دځينو علماوو قول ده چه دالله ﷻ په حضورکي ترټولو زيات قريب هغه شخص ده چه دالله ﷻ په رضا راضي وي دحکماوو قول ده چه ټولي خوشحالياني ناروغي وي اوديري ناروغياني شفاوي لکه يوشاعر چه وايي:

کم من نعمة مطوية ... لک بين الياب النوائب ،ومسرة قد اقبلت ... من حيث ترتقب المصائب

فاصبر علي حدثان دهرک ..... فالامور لها عواقب

ولكل كرب فرجة ..... ولكل خالصة سوائب

**ژباړه**: ډير نعمتونه داسي دي چه د مصائبو څخه ډک دي ډيري خوشحالياني دي چه د مصائبو په شان نازلي سوي دي په خوشحالي اوغم دواړو کي صبر کوه ځکه چه د هرکار يوانجام وي د هر غم څخه وروسته خوشحالي وي اوپه هرخوبي کي مشکلات هم پټ وي زموږ لپاره هم داارشاد ده چه فرمايي: ﴿وَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ﴾ سورة البقرة آية(۲۱۶) **ژباړه**: ډير وخت به تاسي يوشي بد ګڼئ حال دا چه هغه به ستاسي لپاره ښه وي د بنده عبادت ترهغه وخته پوري ناقص ده ترڅوپوري چه يې له دنيا څخه محبت نه وي ختم کړي ديو دانشور اوهوښيار سړي قول ده چه غوره نصيحت هغه ده چه په زړه کي کم حجاب پري نږدي او حجاب دنياوي تعلقات دي يعني په دي نصيحت له دنيا سره ټولي ميني ختمي سي يوبل حکيمانه قول ده چه دنيا يوه لمحه ده داپه بندګي او اطاعت کي تيره که دابو الوليد الباجي قول ده چه

اذا كنت اعلم علما يقينا ..... بان جميع حياتي كساعة

فلم لا اكون ضنينا بها ..... واجعلها في صلاحة وطاعة

**ژباړه**: ته ښه پوهيږي چه په دنياکي ستا ژوند تريوو ساعت زيات نه ده نوته ولي داخپل ژوند په احتياط سره نه تيروي ولي داخپل ژوند په اطاعت اوعبادت کي نه تيروي يوسړي حضرت محمد ﷺ ته عرض وکړ چه يارسول الله ﷺ زه مرګ بد ګڼم رسول ﷺ ورته وويل ايا ستامال اونورشيان سته؟ هغه وويل هو نبي ﷺ ورته وفرمايل ته اول خپل مال وليږه ځکه چه سړي له خپل مال سره وي د حضرت عيسي عليه السلام فرمان ده چه په درو شينو کي خير اوګټه ده خبرو ليدلو اوچپ کيدلو کي دچاخبري چه دالله ﷻ ذکر نه وي هغه خبري لغو دي دچا کتل چه دعبرت لپاره نه وي هغه سهوه اونسيان ده دچا چپتيا چه په خپل انجام دغور لپاره نه وي هغه بيکاره ده ځکه چه په فکر سره دنياوي ميلان ختميږي دښو شيانو اميد کيږي انسان دغور اوفکر عادي کيږي هر انسان ته په کار ده چه دحرامو شيانو په خوا ونه ګوري ځکه چه کتل يوداسي غشي ده چه خطا نه ځي دازورور توت ده دحضرت محمد ﷺ فرمان ده چه کتل دشيطان له غشو څخه يوغشي ده چاچه دالله ﷻ له بيري له حرامو څخه سترګي وساتلي الله ﷻ هغه ته دايمان خوند ورپه برخه کي دحکماوو قول ده هرچاچه خپلي سترګي خلاصي اوازادي پريښوولي هغه ډيره زياته بي شرمي اوخجالت پيداکي دغه دول ازاد کتل انسان بي نقابه کوي اوذليله کوي يې ترډيره وخته يې په جهنم کي داخلوي دخپل نظر حفاظت وکړئ که مو دخپل نظر خيال ونه ساتي په ډيرو بديو کي به راګيرسئ خيال ونه ساتئ نوپه ډيرو بديو کي به راګيرسئ که موپرهغه کنټرول راوستئ نودبدن ټول اعضاء به ستا مطيع سي له افلاطون څخه پوښتنه وسوه چه زړه ته زيات نقصاني شي سترګي دي اوکه غوږونه؟ هغه وويل چه دادواړه دزړه لپاره دچوغکي ددوو وزرونو په شان دی هغه هم ددغو وزرو په ذريعه

الوزي كله چه له هغه دوارو څخه يومات سي هغه په الوتوكي ډير تكليف محسوسوي دجناب محمدبن ضوء رحمه الله قول ده چه الله ﷻ دهر ذي عقل لپاره داسزا ايښي ده چه هغه دهرهغه شي دليدو لپاره مجبوره كيږي چه له هغه څخه نفرت كوي يو زاهد يوسړي وليدي چه هغه له يوماشوم سره په خندا خوشحالي خبري كولي زاهد هغه ته وويل اي دعقل ړونده ايا تاته كرام الكاتبين اومحافظين ملائكي په نظر نه راځي چه ستا اعمال ليكي اوساتي يې ستا پردي گناهونو باندي شاهدان جوړيږي ستا له داسي گناهونوڅخه خبريږي چه ته يې د خلكو په مخ كي دښكاره كيدوڅخه ډيره كوي قاضي الارجاني وايي چه اي زماسترگو تاسي په غلطو كتو سره زما زړه پرډير خراب ځاي باندي درولي ده اي زما سترگو تاسي زما دزړه له گمراه كولو څخه لاس واخلئ تاسي په دوو كسانو كي ديوو دوژلو كوشش كوئ دعلي رضي الله عنه فرمان ده چه ستر گي دشيطان جال ده سترگه سريع الاثراندام ده ډير ژر شكست خوري هرچاچه دخپل بدن اعضاء دالله ﷻ په عبادت كي مشغول كړل هغه كامياب سو چاچه خپل اعضاء دخپلو خواهشاتو په موافق مصرف كړل دهغه اعمال باطل سول.

**دحضرت عبدالله بن مبارك رحمه الله نصايح**، حضرت عبدالله بن مبارك رحمه الله ويلي دي چه ايمان ديته ويل كيږي چه پررسولانو باندي دنازل سوو كتابونو تصديق وكړل سي هرڅوك چه دقرآن كريم تصديق كوي دهغه په احكامو عمل كوي هغه ته له جهنم څخه نجات حاصل سو كوم سړي چه له حرامو شيانو څخه ځان وساتي هغه توبي ته مائل سو چاچه حلال رزق وخوړ هغه متقي سو چاچه فرائض پوره كړل دهغه اسلام مكمل سو چاچه خپله ژبه په رښتيا ويلو عادت كړه هغه له هلاكت څخه خلاص سوچاچه په اخلاص سره دالله ﷻ عبادت وكړ دهغه اعمال قبول سول دحضرت ابو الدرداء رضي الله عنه څخه روايت ده چه ماحضرت محمد ﷺ ته عرض وكړ چه ماته وصيت وكه هغه ﷺ راته وفرمايل پاک هنر زده كه، نيک عمل وكه، له الله ﷻ څخه دهري ورځي رزق وغواړه خپل ځان په مړو كي حساب كه هرانسان ته په كارده چه هغه په خپلو نيكو اعمالو باندي فخر ونكي ځكه چه دادا عمالو لپاره لوي هلاكت ده دغه سړي په خپل نيک عمل سره پرالله ﷻ باندي احسان اچوي حال داچه هغه ته داهم نه ده معلومه چه دهغه داعمل قبول سوي ده كنه؟ داسي گناه چه وروسته ندامت اوپښيماني ولري ترهغه عبادت ښه ده چه تكبر اوريا پكښي شامله وي الله ﷻ فرمايي «وَبَدَا لَهُم مِّنَ اللَّهِ مَا لَمْ يَكُونُوا يَحْتَسِبُونَ سورة الزمر آية(٤٧)». ژباړه: دځينو مفسرينو وېناده چه ددي آيت مطلب داده چه هغه په دنياكي نيک اعمال وكي اوفخر ور باندي كوي په آخرت كي دهغه دانيكياني دبدي په شكل ښكاره كيږي يوبزرگ چه كله داآيت شريف ووايه نوويې ويل دهغه چالپاره هلاكت ده چه عبادت دريا لپاره كوي ځيني علماء دالله ﷻ ددي فرمان څخه چه په عبادت كي بل څوک مه شريكوئ دامطلب اخلي چه دادريا شرک ده دابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت ده چه ترټولو په آخر كي دالله ﷻ داآيت نازل سوي ده :وَاتَّقُوا يَوْمًا

[...تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللهِ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ سورة البقرة آية(٢٨١)] **ژباړه**: له هغې ورځې څخه وبېرېږئ چه تاسې ټول الله ﷻ ته رجوع کوئ بیا هرچاته دخپل عمل پوره بدله ورکول کېږي پرچاباندې ظلم نه کېږي محمد بن بشير رحمه الله فرمايي چه:

مضي امسک الادني شهيدا معدلا ...... ويومک هذا بالفعال شهيد

فان تک بالامس اقترفت اسائة ..... فثن باحسان وانت حميد

ولاترج فعل الخير منک الي غد ..... لعل غدا ياتي وانت فقيد

**ژباړه**: ستادېر وخت تېرسو پاته لږ وخت داسې پرکار واچوه چه ته عادل ګواښ کوونکې سې اوستا افعال ستا دنیکو عملونو شاهدي ورکوي که تا په تېرو ورځوکې ګناهونه را جمع کړيدي نو اوس نیکیانې وکه نیکبخت به سې بنه کار سباته مه پرېږده همې نه چه سبا راسې خوته به نه یې.

**سليمان** عليه السلام **ته دداؤد** عليه السلام **نصيحتونه**: حضرت داؤد عليه السلام حضرت سليمان عليه السلام ته وفرمایل چه درې شیان دمؤمن په پرهيز دلالت کوي دنه درلودلو په وخت کې بنه توکل درلودلو په وخت کې بهترينه رضا او دختيدو په صورت کې بنه صبر، ديوحکيم وېناده چه هرچاپه مصيبت کې صبر وکړ هغه مقصدته ورسيدی یوشاعر وايي:

عليک بالصبران نابتک نائبة ..... من الزمان ولاتر کنوا الي الجزع

وان تعرضت الدنيا بزينتها ..... فالصبر عنها دليل الخير والورع

فجاهد النفس قسرا فيهما ابدا ..... تلق الذي ترتجيه غير ممتنع

**ژباړه**: که دزماني کم مصيبت پرتانازل سونو صبر وکه فرياد مکوه که دنيا دخپل ټول بنکلا سره له تاڅخه مخ وګرځوي صبر وکه څکه چه دادتقوي اونيکی نښه ده خپل نفس په صبراوتقوي باندې مجبوره که ته به هر هغه فضيلت لرې چه ته يې اميد لرې يوبل شاعر وايي:

الصبر مفتاح مايرجي ..... ولم يزل دائمايعين

فاصبر وان طالت الليالي ..... فربماساعد الحزون

وربمانيل باصطبار ..... ماقيل هيهات لالايكون

**ژباړه**: صبر دمقصد دترلاسه کولو لپاره کيلی اويو دائمي مددګارده که دغنم شپه اوږده سي نوصبر وکه څکه چه اکثر ليدل سوي دي چه دتکليف انجام خوشحالي وي ډېر وخت صبر کوونکې ته دصبر څخه وروسته ندامت نه راځي يوبل شاعر وايي:

الصبر اوثق عروة الايمان ..... ومجنة من نزغة الشيطان

الصبر فيه عواقب محمودة ...... والطيش فيه عواقب الخسران

| |
|---|
| لماذا لقيت من الزمان ملمة ..... وكذاك فيما عادة الازمان |
| فتدرع الصبر الجميل تيقنا ..... ان التصبر رائد الرضوان |

ژباړه: يعني صبر دايمان مضبوطه رسۍ ده دشيطاني وسوسو لپاره دال ده دصبرانجام بهترين اوډيهر انجام بدترين ده كه زمانه غم دركي نوپوه سه چه داكار دلمړئ ورځي راهيسي روان ده په دي محكم يقين سره دصبر زغره واغونده چه صبر دالله ﷻ دخوشحالي باعث ده دصبر څوقسمونه دي په پابندي سره دالله ﷻ فرائض اداكول دهغو دوخت خيال ساتل پرعبادت باندي صبرددوستانو اوهمسايه گانو په زياتي باندي صبرپه مرض اوفقر باندي صبر، گناهونو ،ناجائزو خواهشاتو شيطاني وسوو په غير ضروري كارونو كي داعضاوو داستعمال څخه صبراوداسي نور

## اته ويشتم باب دمرگ يادول

دنبي ﷺ حديث شريف ده چه: اكثروامن ذكرهادم اللذات. ژباړه: دخوندونو ختمونكي يعني مرگ ډير يادوی په دي امركي دااشاره ده چه انسان دمرگ په يادولو سره ددنياوي لذاتو څخه لاس اخلي ترڅوچه دالله ﷻ په درباركي مقام پيداكي دمرگ يادونكي له شهيدانوسره راپورته كيږي دنبي ﷺ حديث شريف ده چه كه حيوانان له مرگ څخه دومره خبر واي لكه تاسي نوتاسي به په دوي كي هيڅكله چاغ حيوان نه وخوړلي عائشي ﵂ پوښتنه وكړه يارسول الله ﷺ له شهيدانو سره څوک راپورته كيږي ؟ رسول ﷺ ورته وويل هغه سړي له شهيدانو سره پورته كيږي چه په شپه اوورځ كي شل واره مرگ يادوي ددي فضيلت باعث داده چه دمرگ ياد له دنيا څخه دسړي زړه صفا كوي اودآخرت لپاره يې تياروي ليكن دمرگ هيرول دانسان له دنياوي خواهشاتو سره مينه پيداكوي دنبي ﷺ حديث شريف ده چه مرگ دمؤمن لپاره يوه تحفه ده ځكه چه مؤمن په دنياكي دبندي په شان ژوند كوي هغه دشيطان اودخپلوشيطاني خواهشاتومقابله كوي داكار دمؤمن لپاره دعذاب څخه كم ده مگر مرگ ددغوټولو مصائبو څخه انسان خلاصوي ځكه مرگ دانسان لپاره ډيره ښه تحفه ده نبوي فرمان ده چه مرگ دمسلمان لپاره كفاره ده له مسلمان څخه مرادهغه كامل مسلمان ده چه دهغه له لاس اوژبي څخه نور مسلمانان په امن وي هغه ښه اخلاق ولري اوله ټولو لويو گناهونو څخه ځان وساتي داسي مرگ دهغه لپاره دصغيره گناهونو دكفاري باعث گرزي دفرائضو اداكول هغه له گناهونو څخه ساتي او پاكوي يې دحضرت عطاء خراساني ﵀ څخه روايت ده چه يوه ورځ محمد ﷺ پرېو داسي مجلس باندي تيرسو چه په هغه كي خلگو په زوره زوره خندل هغه ﷺ ورته وفرمايل دخپلو مجلسونو څخه دخوندونو ختمونكي شي يادكړئ پوښتنه وسوه يارسول الله ﷺ هغه څشي دي؟ رسول ﷺ وفرمايل دمرگ يادول دحضرت انس ﵁ څخه روايت ده چه محمد ﷺ فرمايلي دي مرگ ډيريادوئ په دي سره گناه ختميږي له

دنیاسره رغبت کمیږي دنبي کریم ﷺحدیث ده چه مرگ دجدایې راوستلو لپاره کافي ده بیایې وفرمایل چه مرگ ترټولو لوي ناصح ده یووخت حضرت محمد ﷺمسجدته روان وو هغه داسې یوه ډله ولیدله چه په خندایې خبري کولې رسول ﷺورته وفرمایل تاسې مرگ یادوئ په خدای قسم په کم شي چه زه پوهیږم که تاسې هم په هغه پوه سئ نو خندا به کمه اوژړا به زیاته کوئ

**دبزرگانو لاربښووني،** دحضرت عبدالله بن عمر ؓ څخه روایت ده چه زه لسم شخص وم چه یوه ورځ دحضرت محمد ﷺپه خدمت کې حاضروم یوانصاري ځوان پوښتنه وکړه چه یارسول الله ﷺ دټولو څخه زیات باعزت اوهوښیارڅوک ده؟ رسول ﷺوفرمایل څوک چه مرگ ډیر یادوي دهغه لپاره تیاري کوي داسې خلک په دنیااوآخرت کې باعزته دي دجناب حسن ؓقول ده چه مرگ دنیا ذلیله کړي ده په دي کې دهیڅ عقلمند لپاره خوشحالي نشته دربیع خیثم قول ده چه دمؤمن لپاره دمرگ انتظار ترټولو بهتر ده هغه زیاته کړه چه یوهوښیار سړي خپل دوست ته ولیکل په دي ځاي کې هغه ځاي ته دتللو څخه مخکې نیک عمل وکه چه هلته مرگ په سوالونو نه راځي دامام ابن سیرین ؒپه محفل چه به کله دمرگ یادونه وسوه دهغه هراندام به شل سو دحضرت عمر بن عبدالعزیز ؓدادستور وو چه هره شپه به یې علماء راجمع کول دمرگ، قیامت، اوآخرت ذکربه یې کاوو هغه ؓ به دومره ژړل چه گواکې دجنازي کټ یې مخ ته پروت ده دحضرت ابراهیم التیمي ؒقول ده چه زه دمرگ اودالله ﷻپه حضورکې دحاضري یاد ددنیاوي ژوند څخه ناآشناکړي یم دحضرت کعب ؓقول ده چه هرچاچه مرگ وپیژندي له هغه څخه ددنیاټول غمونه او تکلیفونه لیري سول دجناب مطرف ؒقول ده چه مایه خوب کې ولیدل چه یوسړي دبصري دمسجدپه منځ کې ولاړوو اووایې چه دمرگ یاد دالله ﷻ څخه دیریدونکو خلکوځیگر ټوټې ټوټې کړي ده په الله ﷻقسم چه هغه به هروخت پریشانه وینې دحضرت اشعث ؓ څخه روایت ده چه موږ کله هم دحضرت محمد ﷺپه خدمت کې حاضریدو نوهلته به مو دجهنم قیامت اودمرگ یاداوریدي دحضرت ام المؤمنین صفیه ؓ څخه روایت ده چه یوي ښځي حضرت عائشي ؓته دخپل سنگدلې شکایت وکړ هغي ؓ ورته وفرمایل مرگ ډیر یادوه ستازړه به نرم سي هغي داسې وکړل زړه یې نرم سو عائشي ؓ ته به راغله شکربه یې اداکړ

**دمرگ په یادولو سره دعیسی ؑ حالت:** کله چه به عیسي ؑدمرگ خبره واوریده دهغه له جسم څخه به وینې څڅیدلې حضرت داؤد ؑچه به کله مرگ اوقیامت واوریدي ساه به یې ودریده پریدن به یې لړزه راغله کله چه به درحمت ذکر وسونو حال به یې ښه سو دحسن ؓقول ده هرعقلمند سړي چه مالیدلي ده هغه مي له مرگ څخه په لړزان لیدلي ده حضرت عمر بن عبدالعزیز ؓیوعالم ته وویل ماته نصیحت وکه هغه ورته وویل دخلافت باوجود دمرگ څخه نه سي خلاصیدلاي ستاابا اوجداددادم ؑ څخه تراوسه پوري هرچادمرگ جام نوش کړي ده اوس ستانوبت ده عمر بن عبدالعزیز ؓ چه دعالم داخبري واوریدي ډیر یې وژړل حضرت ربیع بن خیثم

ﷺ دخپل کور څنګ ته قبر کيندلي وو دورځي به څو واره پکښې پريوتي داخرت ذکربه يې کاوو هروخت به يې مرګ يادا وو ويل به يې که زه يوه شيبه دمرګ څخه غافل سم نوټول کارونه به مي وران سي دحضرت مړرف بن عبد الله بن الشخير رحمه الله قول ده چه دغه مرګ ددنيادارانو څخه دهغو دنياتېښتولي ده دالله جل جلاله څخه ددا سې نعمتونو سوال وکه چه هغه دائمي وي حضرت عمر رضي الله عنه عنبسه ته وويل مرګ دير يادوه که مال درسره زيات وي نودا به تاتنګلا سي کي اوکه ته تنګلاسي وي نوتاته به پراخي درکي دجناب ابوسليمان الدارني رحمه الله قول ده چه مادام هارون څخه پوښتنه وکړه چه ايا ستا دمرګ سره مينه سته ؟ هغه وويل نه ماپوښتنه وکړه ولي؟ هغي وويل زه چه دکم چانافرماني کوم له هغه سره دملاقات خواهش هيڅکله هم نه کوم دمرګ لپاره ماهيڅ کارنه ده کړي ځکه دا څنګه خوښ کم ابو موسي تميمي وايي چه دمشهور شاعرفرزدق ښځه مړه سوه دهغي په جنازه کي دبصري غټ غټ خلک شريک سول چه حضرت حسن رحمه الله هم پکښې شامل وو هغه وويل اي ابو فراسه تاددغي ورځي لپاره څه تيارکړي دي ؟ هغه وويل دشپېتو کالو را هيــي مســــل دالله جل جلاله دوحدانيت اقرارکوم کله چه يې هغه خاورو ته وسپارله نوفرزدق دهغي پرقبر دالاندي شعر ووايه:

| |
|---|
| اخاف وراء القبر ان لم تعافيني ..... اشد من القبر التهاباواضيقا |
| اذاجاءني يوم القيامة قائد..... عنيف وسواق يسوق الفرزدقا |
| لقد خاب من اولاد ادم من مشي ..... الي النار مغلول القلادة ازرقا |

ژباړه: اي الله جل جلاله که ته مامعاف کي زه دقبر دانشار اوشعلوڅخه ييريږم کله چه دقيامت ورځ راسي نوسنګدل اوهيبت ناکه ملائکه به فرذدق په مخه کي بلاشبه دادم عليه السلام دنسل هم هغه شخص رسوا سو چاته چه په غاړه کي طوق واچول سو جهنم ته وليږل سو دقبرونو دحسرت څخه ډکي کتبي په قبروکي داوسيدونکولپاره ځينو شاعرانو دعبرت څخه ډک اشعار ويلي دي.

| |
|---|
| قف بالقبور وقل علي ساحاتها ..... من منكم المغمور في ظلماتها |
| ومن المكرم منكم في قعرها ..... وقد ذاق برد الامن من روعاتها |
| اماالسكون لذي العيون فواحد ..... لايستبين الفضل في درجاتها |
| لوجاوبوک لاخبروک بالسن ..... تصف الحقائق بعد من حالاتها |
| اماالمطيع فنازل في روضة ..... يفضي الي ماشاء من دوحاتها |
| والمجرم الطاغي بها متقلب ..... في حفرة يأوي الي حياتها |
| وعقارب تسعي اليه فروحه ..... في شدة التعذيب من لدغاتها |

**ژباړه:** په قبرستان کې ودرېده اوپوښتنه ئې وکه چه له تاسوڅخه څوک په تياره کې ډوب د
څوک ددې په زوروالې کې باعزته په امن اوسکون کې دې دېنا سرې لپاره يوسکون ده دمرتبو تفاوت
ليدل کيږې که هغه جواب ورکړ نوله خپلې ژبې څخه به دحالاتو حقيقت داسې بيان کې څوک چه مط
اوفرمان برداروو هغه دجنت په باغونوکې ده چيرې چه وغوارې هلته سيل کولاې سې بدبخته مجرم
دمارانو په کنده کې دسختو دردونو له لاسه چيغې وهې دهغه پرطرف لړمان په منډه منډه راځي دهغه رو
دهغه په وجه په سخت عذاب کې دې حضرت مالک بن دينار رحمه الله وايې چه زه ترقبرستان ددغه شعر
ويلو تيريږم،

اتيت القبور فناديتها ..... فاين المعظم والمحتقر
واين المدل بسلطانه ..... واين المزكي اذاما افتخر

**ژباړه** : زه قبرستان ته راغلم اواواز مې وکړ چه عزتمنداوفقيران چيرې دې ؟ په خپل پاک لم
باندې فخر کوونکې اودزمانې پاچاچيرې ده ؟ مالک بن دينار رحمه الله وايې چه زما دشعرونو جوا
داسې راکړسو :

تفانوا جميعافما مخبرا ..... وماتوا جميعا ومات الخبر
تروح وتغدو بنات الاثري ..... فتمحوا محاسن تلک الصور
فياسائلي عن اناس مضوا ..... امالک فيماتري معتبر

**ژباړه:** ټول فناسول څوک خبر ورکوونکې نسته ټول مړه سوې دې دهغو نښې نښانې هم ختم
سوې دې سهار اوماښام سې دهغو ښايسته صورتونه خاورې ورانوې اې دتيرو خلکو په باره کې
پوښتنه کوونکې ايا ددغه قبرونو څخه دې عبرت حاصل کړ پريوبل قبر باندې ليکل سوې وو :

تناجيک اجداث وهن صموت ..... وسکانها تحت التراب خفوت
ايا جامع الدنيا لغير بلاغة ..... لمن تجمع الدنيا وانت تموت

**ژباړه:** هغه قبرونه چه اوسيدونکې يې ډير دخاورولاندې غلې پراته دې دحال په ژبه تاته وايې
اې خلکودنياپاره جمع کوونکې ته خو مړکيدونکې يې دادنيا دچالپاره جمع کوې ؟ ابن
مبارک رحمه الله وايې چه زه پريو قبرستان باندې تيرسوم پرقبر باندې ليکلې وو :

يمر اقاربي جنبات قبري ..... کان اقاربي لم يعرفوني
ذووالميراث يقتسمون مالي ..... ومايالون ان جحدوا ديوني
وقد اخذوا سهامهم وعاشوا ..... فيالله اسرع ماانسوني

**ژباړه:** زماخپلوان زمادقبرله خوا څخه ناخبره تيريږې هغوزمامال تقسيم کړ ليکن زما پورونه يې
ادانکړل هغه په خپلوحصو باندې خوشحاله ووهاې افسوس هغوزه څومره ژر هيرکړم پريوبل
قبرباندې داليکل سوې وو :

ان الحبيب من الاحباب مختلس ... لايمنع الموت بواب ولاحرس

فكيف تفرح بالدنيا ولذتها ... يامن يعد عليه اللفظ والنفس

اصبحت ياغافلا في النقص منغمسا ... وانت دهرك في اللذات منغمس

لايرحم الموت ذاجهل لغرته ... ولاالذي كان منه العلم يقتبس

كم اخرس الموت في قبر وقفت به ... عن الجواب لسانامابه خرس

قدكان قصرك معمورا له شرف ... فقبرك اليوم في الاجداس مندرس

ژباړه:مرگ دوست ددوستانو له محفل څخه پورته کي. هيڅاهغه خلاص نکړهغه ددنيا وي سهوليا تو څخه څنګه خوشحاله کيداي سي دهغه چاچه هره خبره اوساه شميرل کيږي اي غافله ته په نقصان کي اخته يې ستاژوند په خواهشاتوکي ډوب ده مرګ دکوم جاهل دجهالت اودعالم دعلم په وجه رحم نه کوي مرګ څومره ډير خبري کوونکي خلک په قبرکي غلي کړيدي چه هيڅ جواب نسي ورکولاي پرون ستامحل له عزت څخه ډک وو نن ستا دقبر نښه هم ورانه سوي ده پريوبل قبر باندي ليکل سوي وو کله چه زما ددوستان قبرونه هوار سول نوماته معلومه سوه اګرکه ماډير وژړل اواوښکي مي رواني سوي مګر دهغوي سترګي ودريدلي له سترګو څخه يې اوښکي رواني سوي ديوطبيب پرقبرباندي ليکل سوي وو :

قدقلت لماقال لي قائل ... قدصار لقمان الي رمسه

فاين من يوسف من طبه ... وحذقة في الماء مع حبسه

هيهات لايدفع عن غيره ... من كان لايدفع من نفسه

ژباړه:کله چه له ما څخه پوښتنه وسوه نوماوويل چه دلقمان په شان طبيب اوهوښيار هم په خپل قبرکي پيده سو چيري ده هغه چه طبابت يې منل سوي وو دهغه په شان څوک ماهرنه وو چه له بل چاڅخه يط مرګ ليري نه کړاي سو هغه به يط له خپل ځان څخه څنګه ليري کي پريو بل قبرباندي ليکل سوي وو :

ياايهاالناس كان لي امل ... قصربي عن بلوغه الاجل

فليتق الله ربه رجل ... امكنه في حياته العمل

ماانا وحدي نقلت حيث ترى ... كل الي مثله سينتقل

ژباړه:اي خلکو زماډير اميدونه وو مګر مرګ دهغه دپوره کولو لپاره وخت رانکړ له الله ﷻ څخه ويريږئ په خپل ژوندکي نيک عملونه وکړئ يوازي زه دلته نه يم بلکه هرڅوک به دلته راځي .

## نه ويشتم باب دآسمانونو ذکر اونور بحثونه

روايت ده چه الله ﷻ دعرش مخکي جوهرپيداکړ کله چه يې پرهغه دهيبت نظر واچوه هغه ويلي سوداالله ﷻ له ويري څخه په لرز راغئ اوبه ځني جوړي سوي بيا الله ﷻ د رحمت نظر وربانډي

واچاوو نيمي اوبه يې وچې سوي له هغه ځخه عرش جوړسو عرش په ښوريدو سو پرهغه لااله الاالله محمد رسول الله وليکل سوه په هغه سره ساکن اوارام سو مګر اوبه هم هغسي پاته سوي ترقيامته پوري به موجونه وهي دالله ﷻ فرمان ده :

وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ سورة الهود آية(۷) دالله ﷻ عرش پراوبو باندي وو . **دکائناتو تخليق**: ياچه کله پر اوبو کي موجونه پيداسول لاندي باندي وريځي ځني پورته سوي ځکونه پيداسول له هغه ځخه مځکه اوآسمانونه پيداسول چه يودبل سره نښتي دي بياالله ﷻ ددواړو ترمينځ هواپيداکړه چه دهغي په پشار اودباو سره دمځکي طبقي يودبل سره جلا سوي لکه الله ﷻ چه فرمايي :

ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ وَهِيَ دُخَانٌ سورة فصلت آية(۱۱) **دوباره**: دحکمت خاوندان وايي چه الله ﷻ اسمانونه له دود ځخه ځکه پيداکړه چه دود يودبل سره پيوست وي پرلوړ ځاي باندي دريږي له بخاراتو ځخه يې ځکه پيدانکړچه هغه بيرته لاندي راځي دالله ﷻ دعلم اوحکمت کوچني نمونه ده بيادنبي ﷺ فرمان مطابق الله ﷻ داوبو په طرف درحمت نظر وکړ هغه جامدي سوي.

**دآسمانونو مونه اورنګونه**: د مځکي اودنيا ځخه ترآسمانه ياله يوو آسمانه ځخه تربل اسمانه پوري پنځه سوه کاله فاصله ده همداراز دهراسمان خپل حجم ده روايت ده چه لمړني آسمان دشيدو په شان سپين ده مګر دکوهي قاف دشين والي له کبله داآسمان شين معلوميږي ددغه اسمان نوم رقيعه ده ددوهم آسمان نوم فيدوم ياماعون ده هغه له داسي اوسپني ځخه ده چه له هغه ځخه دړنا شعاوي وزي ددريم آسمان نوم ملکوت ياهاريون ده اوهغه آسمان دمسو ده دځلورم آسمان نوم زاهر ده هغه يې دسترګو بريښوونکوسپينو زرو ځخه پيداکړي ده دپنځم آسمان نوم مزينه يامسهره ده هغه آسمان دسرو زرو ده دشپږم آسمان نوم خالصه ده هغه له ځليدونکو ملغلرو ځخه جوړسوي ده داووم آسمان نوم لابيه يادامعه ده هغه آسمان له سرو ياقوتو ځخه جوړده په هغه آسمان کي بيت المعمورهم ده دبيت المعمور ځلور ستني دي يوه دسرو ياقوتو دوهمه دشنو زبرجدو دريمه دسپينو زرو ځلورمه له سرو زرو ځخه ده دبيت المعمور عمارت دسرو عقيقو ځخه ده هلته هره ورځ اويازره ملائکي داخليږي کومي ملائکي چه داخلي سي هغوته ترقيامته پوري بياوار نه رسيږي معتبر قول داده چه مځکه ترآسمانونو ښه ده ځکه چه دادانبياوو مولد اومدفن ده په ټولو طبقوکي دمځکي لوړه طبقه ښه ده چه دالله ﷻ مخلوق پکښي اوسيږي اوخوند ورځخه اخلي .

**اووه ستوري اودهريوو ستوري آسمان**: دحضرت ابن عباس رضي الله عنه ځخه روايت ده له حضرت ابن عباس رضي الله عنه ځخه روايت ده چه په اسمانو کي ترټولو افضل کرسي ده چه چت يې دالله ﷻ له عرش سره مښتي ده داوو ستورو علاوه نورستوري هم په همدي آسمان کي دي هغه اووه ستوري دادي :

زحل دهفتي دورځي ستوري ده په اووم آسمان کي ده .

مشتري دپنجشنبي دورځي ستوري په شپږم آسمان کي .مريخ دسي شنبي دورځي ستوري په پنځم

اسمان کي ده .شمس ديکشنبې دورځي ستوري ده په څلورم اسمان کي .زهره دجمعې دورځي ستوري په دريم آسمان کي .عطارد دچهارشنبې ستوري په دوهم آسمان کي .قمر ددوشنبې ستوري په اول آسمان کي ده . **نکته**:الله ﷻ په خپل قدرت سره دمځکي اوآسمان په صنعت کي ډير زيات عجائبات ايښي دي حال داچه داټول آسمانونه له دود څخه پيدا سوي دي ليکن ټول يودبله سره جلا دي يودول نه دي له اسمان څخه يې باران نازل کړ له هغه سره يې مختلف سبزيجات او ميوه جات پيدا کړه چه ځيني يې سپين او ځيني يې تور ځيني يې خوشحال او ځيني يې خفه ځيني مؤمنان مګر ځيني بيا کافران ځيني يې علماء او ځيني يې جاهلان دي چه داټول يې ديو و ادم ﷺ په اولاده کي پيدا کړي دي .

## ديرشم باب عرش، کرسي، مقربي ملائکي، رزق اوتوکل

الله ﷻ فرمايي :﴿وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ﴾ سورة البقرة آية(۲۵۵) .**ژباړه**:دهغه کرسي اسمانونه اومځکي احاطه کړيدي له کرسي څخه مراد الهي علم ده يا الهي بادشاهي يا دمشهور آسمان نوم ده له حضرت علي ؓ څخه روايت ده چه کرسي يوه ملغلره ده دهغې اوږد والي له الله ﷻ څخه پرته بل چاته نه ده معلوم په حديث شريف کي دي چه اووه اسمانونه اومځکي دکرسي په مقابل کي داسي دي لکه په لويه صحراکي چه يوه حلقه پرته وي آسمان په کرسي کي ده اوکرسي دالله ﷻ دعرش په مخکي له حضرت عکرمه ؓ څخه روايت ده چه لمر دکرسي اووه لسمه حصه ده اودالله ﷻ عرش دالله ﷻ د حجاباتو دنور اووه لسمه حصه ده روايت ده چه دعرش اوکرسي پورته کوونکو ملائکوتر منځ دپنځه سوه کالو فاصله ده که داپردي نه واي نودکرسي حاملين به دعرش دحاملينو څخه سوځيدلي واي عرش يونوراني شي ده چه له کرسي څخه لوړ ده مګر له دي قول سره جناب حسن بصري ﷫ اختلاف کړي ده .

**دالله ﷻ دعرش ساخت**:دالله ﷻ دعرش جوړښت په متعلق مختلف روايتونو ده ځيني وايي چه عرش له سرو ياقوتو څخه ده ځيني وايي چه له شنو ملغلرو څخه ده اوځينو رايه ده چه له سپينو ملغلرو څخه ده ددي اصل حقيقت الله ﷻ ته ښه معلوم ده دفلکياتو ماهرين هغه ته نهم اسمان فلک اعلي فلک الافلاک اوفلک اطلس وايي په دي کي هيڅ ستوري نسته دقديم ماهرينو د قول په مطابق ټول ستوري په اتم اسمان کي دي چه فلک البروج ورته وايي اهل شرع کرسي ورته وايي الهي عرش دمخلوقاتو چت ده هيڅ شي دهغه له دائري څخه بهر نه سي وتلاي هغه دبندګانو دعلم اوادراک انتها ده الله ﷻ عظيم ورته ويلي دي لکه څنګه چه الله ﷻ فرمايي :

﴿فَإِن تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ﴾ سورة التوبه آية(۱۲۹) .

**ژباړه**:که هغه دڅخه وګرځي نوورته ووايه چه ماته الله ﷻ کافي ده له هغه څخه پرته بل معبود نسته پرهغه مي توکل ده هغه دلوي عرش رب ده په تورات کي دحضرت محمد ﷺ نوم متوکل وو ولي به نه وو ايابل څوک دالهي معرفت خاوندله هغه څخه زيات کيداي سي ؟ هغه ﷺ د

موحدينو سردار او دکاملو عارفينو لاربنوودده په هغه ﷺ دتوکل حقيقت دروښانه ورځ په شان ښکاره وو.

## دتوکل حقيقت

دتوکل مطلب دانه ده چه له اسبابو څخه لاس واخستل سي لکه دځينو خلکو چه داسي خيال دی بلکه توکل له اسبابو سره وي له حضرت محمد ﷺ څخه يوصحرايي سړي پوښتنه وکړه چه زه داوښ پښه وتړم بياتوکل وکم که يې خلاصه پريږدم بياتوکل وکم ؟ هغه ﷺ ورته وويل اول داوښ پښي وتړه بياپر الله ﷻ توکل وکه دمحمد ﷺ ارشاددده چه که چيري تاسودتوکل حقيقت وپيژندلئ واي نو الله ﷻ به تاسي ته دمرغانو په شان رزق درکړي واي چه سهار الوزي ماښام بيرته په مړه ګيډه راځي دحضرت ابراهيم ادهم رحمه الله او حضرت شفيق بلخي رحمه الله ترمينځ سوال اوجواب دحضرت ابراهيم ادهم رحمه الله او حضرت شفيق بلخي رحمه الله ترمينځ په مکه مکرمه کي ملاقات وسو ابراهيم رحمه الله پوښتنه وکړه اي شفيق بلخي تادامرتبه څنګه ترلاسه کړه ؟ جناب شفيق رحمه الله جواب ورکړ چه يووخت زه دبيابان څخه تيريدم هلته مي داسي يوه پرنده پرمځکه وليده چه دواړي وزري يې ماتي وي زمايه زړه کي راغله چه ده ته به رزق له کمه راځي؟ زه هلته کښينستم چه وګورم چه څنګه رزق پيداکوي؟ څه وخت بعد يومرغه راغئ چه په مشوکه کي يې يوملخ نيولئ وو دهغه په خوله کي يې ورکړ ماپه زړه کي وويل چه دکائناتو خالق ديوه مرغه په واسطه بل مرغه ته رزق ورکوي زمارزق به هم الله ﷻ خامخا ماته رسوي څکه ماټول کسب اوکارپريښوو او دالله ﷻ په عبادت کي مشغول سوم ابراهيم ادهم رحمه الله ورته وويل اياتا دمجبور مرغه په شان اوسيدل خوښ کړل ؟ که تا دروغ مرغه په شان اوسيدل خوښ کړي واي نولوي مقام به دي حاصل کړي واي اياتا دمحمد ﷺ دافرمان نه دی اوريدلي چه پورته لاس ترکښته لاس ډير افضل دی؟ مؤمن خو هميشه دلوړي مرتبي په لټه کي وي ترڅو دابرارو په صف کي ودريږئ شفيق رحمه الله چه دابراهيم داخبري واوريدي لاسونه يې ورمچ کړل او ويې ويل بيشکه ته زمااستاد يې.

**حقيقي توکل څشي دی:** کله چه يوانسان درزق دحصول اسباب تيارکي نوداسبابو پرځاي دي خپل نصب العين دکائناتوهغه خالق وګڼي چه په حقيقت کي روزي رسان دی هغه ملنګ چه کچکول په غاړه ګرځوي اوفقر کوي هغه کچکول ته نه بلکه دهغه سخي په طرف ګوري چه څه ورکوي دنبي ﷺ فرمان دی چه هرڅوک چه غواړي دټول څخه زيات غني سي نوهغه دي له خپل مال څخه الهي انعامات زيات ګوري دحقيقي توکل يومثال جناب حذيفه مرعشي رحمه الله څوکاله دحضرت ابراهيم ادهم رحمه الله خدمت کړي وو يووخت خلکو هغه ته وويل تاسي دابراهيم ادهم رحمه الله يوپه زړه پوري قصه موږ ته وکړئ هغه رحمه الله وويل يووخت موږ دمکي په طرف روان وو په لاره کي زموږ خوراک اوخرڅ خلاص سو موږ دکوفي په يووران مسجد کي واړوله جناب ابراهيم رحمه الله ماته وکتله راته ويې ويل ته دلوږي څخه په تکليف کي ښکاري ماورته وويل هو زه

دیر زیات وږئ یم هغه له ماڅخه مشوانئ اوقلم وغوښتل پرکاغذ باندي یې دبسم الله الرحمن الرحیم څخه وروسته ولیکل اي ذوالجلاله ربه په هرحالت کي همداته زموږ مقصد اوملجایې بیایې دااشعار ولیکل :

| |
|---|
| اناحامد اناشاکر اناذاکر ..... اناجائع اناضائع اناعاري |
| هي ستة وانا الضمین لنصفها ..... فکن الضمین لنصفهایاباري |
| مدحي لغیرک لهب نار خضتها ..... فاجر عبیدک من دخول النار |

**ژباړه**:زه ستاحمد ویونکي، شکرکوونکي، اوذکر کوونکي یم زه وږئ ، ستړي ، اولڅ یم اي الله ﷻ زه ددرو خبرو ضامن یم ددریو نورو ضمانت تاسي قبول کړئ له تاڅخه بغیر دبل چاثنا له اورڅخه کمه نه ده خپل بندګان له دي اورڅخه وساته ماته یې وویل په زړه کي دي دبل هیڅاخیال مه راوړه هرڅوک چه دي مخکي ولیدي داکاغذ هغه سړي ته ورکه ماچه اول سړي ولیدي هغه سړي پرغاتری باندي سپور وو ماهغه سړي ته داخط ورکړ هغه چه داخط ووایه په ژړا سو بیایې راته وویل ددي خط لیکونکي چیري ده؟ ماورته وویل په پلانکي وران ویجاړ مسجد کي ناست ده هغه ماته یوه خلطه راکړه شپږسوه دیناره پکښي وو بیامي یوبل سړي ولیدي ماله هغه سړي څخه ددي سړي په هکله پوښتنه وکړه هغه راته وویل دانصراني وو زه چه واپس راغلم ټوله قصه مي هغه ته وکړه هغه ﷺ وویل ته لږ صبر وکه هغه به اوس دلته راسي څه وخت بعد هغه دلته راغئ دابراهیم ادهم په لاس یې ایمان راووړ اومسلمان سو .

**لاحول ولاقوة الابالله یوقوت ده**:دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت ده چه الله ﷻ د عرش حاملین ملائکي پیداکړي هغو ته یې دعرش دپورته کولو حکم وکړ هغه پردي قادر نه سول چه عرش پورته کي الله ﷻ له هري ملائکي سره داووم اسمان دملائکو په اندازه نوري ملائکي هم پیداکړي دعرش دپورته کولو حکم یې ورته وکړ مګرهغه بیاهم قادري نه سوي بیاوروسته الله ﷻ ورته وفرمایل تاسي لاحول ولاقوة الابالله ووایاست هغوي چه داووایه نوعرش یې پورته کړلیکن دملائکوپښي داوومي مځکي په هواکي کلکي سوي کله چه هغه پوه سول چه دهغوي پښي په هواکي مښتي دي لاندي کوم کلک شي نسته نوهغوي الهي عرش کلک ونیوي لاحول ولاقوة الابالله یې شروع کړل ترڅوپه ذلت کي له لوید وڅخه محفوظي سوي هغواوس الهي عرش پورته کړیده عرش هغو کلک کړي ده بلکه هغه ټول الهي قدرت کلک کړي ده روایت ده چه کوم سړي سهاراومابنام حسبي الله لااله الاهوعلیه توکلت وهورب العرش العظیم ووایي الله ﷻ دهغه ټول عزایم اوپوښتني پوره کوي په یوه روایت کي دي چه الله ﷻ یې ددنیااوآخرت ټول کارونه پوره کوي.

## یودیرشم باب ددنیاپري ښوول اودهغې بدی

په قرآن کریم کي ددنیامذمت اوله هغې څخه دتوجه اړولواودآخرت په طرف مائل کولو لپاره بې شمیره آیتونه موجوددي بلکه دانبیاؤ کرامو دبعثت مقصدهم داوو دقرآن کریم آیتونه دومره

مشهوردي چه مور دلته دهغو ديادولوپرځاي يواځي دمحمد ﷺ ځينو احاديثو راوړلو اكتفا
كوو. **ددنيا دمذمت په اړه ځواحاديث**: روايت ده چه محمد ﷺ ديوي مړي بزي دخواسر
تيرسو هغه ﷺ وفرمايل ايادغه مړه بزه دخپل مالک خوښه ده؟ اصحابو ؓ وويل ددي ل
ېه بويي له وجه ځخه يې هلته غورځولي ده رسول ﷺ وفرمايل په خداي قسم چه الله ﷻ ته دغ
دنيادغي مرداري بزي ځخه هم زياته بي عزته اوبي اهميته ده كه دالله ﷻ په نزد ددي دنيامقا
دمچ دوزرپه اندازه واي نو يوو كافر به هم له دي دنياځخه يوغړف اوبه نه وي چښلي
محمد ﷺ وفرمايل دنياد مؤمن لپاره قيد خانه اودكافر لپاره جنت ده بيايې وفرمايل دنيا ملعونه
ده ددي هرهغه شي ملعون ده چه دالله ﷻ لپاره نه وي دحضرت ابوموسي اشعري ؓ ځخه روايت
ده چه محمد ﷺ وفرمايل چاچه له دنياسره محبت وكړهغه آخرت ته نقصان ورساوو چاچه له
آخرت سره محبت وكړهغه ددنياپرواه نه كوي تاسي پاني دنياته پرباقي دنياباندي ترجيح مه
وركوئ دنبي كريم ﷺ حديث شريف ده چه ددنيامحبت دهرقسم بدئ ځاي ده دحضرت ابو
بكر ؓ اوښكي توييول دحضرت زيد بن ارقم ؓ ځخه روايت ده چه مور دابوبكر صديق ؓ په
كوركي ناست ووهغه ؓ اوبه راوغوښتلي اوبه اوشات ورته راوړل سوو كله چه هغه خولي ته
نږدي كړل بي اختياره په ژړاسو ټولواصحابو ؓ هم ورسره وژړل ځه وخت بعد بيا
هغه ؓ دچښلولپاره اوبه راوغوښتي هغه چه اوبه اوشات وليدل بياپه ژړا سو كله چه يې اوښكي
وچي كړي نورو اصحابه ووؓ پوښتنه ځني وكړه چه اي دمحمد ﷺ خليفه تاولي جړل؟
هغه ؓ ورته وويل يوه ورځ زه له محمد ﷺ سره يوځاي وم هغه له خپل بدن ځخه داسي نقصان
رسوونكي شيان ليري كړل چه په ستركونه ليدل كيدل ماپوښتنه يارسول الله ﷺ تاسي څشي لري
كوي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل ماته لږ مخكي دنياپه لاس راغلي وه ماورته وويل ته له ماځخه
ليري سه هغه راځخه ليري سوه راته ويې ويل تاخوله ماځخه ځان خلاص كړ كناره كشي دي وكړه
خوستاځخه وروسته خلک به ستاپه شان نسي نبوي فرمان ده چه دداسي يوانسان لپاره تعجب ده
چه پرجنت باندي ايمان لري مگر ددنياپه حصول كي كوشش كوي. **ددنيايوتمثيل**: روايت ده چه
محمد ﷺ ديوخرابه په ځنګ كي ودريدي اوويې ويل ددنياپه طرف راسي محمد ﷺ يوه زړه
توټه اويو زوړ هډوكي په لاس كي پورته كړ ويې فرمايل دادنياده په دي مثال سره ددي خبري په
طرف اشاره وه چه ددنيابكلا ددي په دول زائليږي دژوندو انسانانو هډوكي ددغه هډوكي په
شان زړيږي دمحمد ﷺ فرمان ده چه دنيابنايسته ده الله ﷻ تاسي دخليفه په توګه رااستولي
ياست هغه الله ﷻ ستاسي له اعمالوځخه خبردار ده كله چه په بني اسرائيلو باندي دنيا پراخه سوه
هغوخپل ژوند ټول دسرو زرو، ګينو، جامو، ښځو اوخوشحاليو لپاره وقف كړ تاسو دهغه انجام
وليدي؟ حضرت عيسى ؑ فرمايلي دي چه تاسي ددنيابندګان مه جوړيږئ يعني دنياخپل
معبوداوتاسي دهغه بندګان مه جوړيږئ خپله خزانه دهغه لوي ذات په درباركي جمع كړئ چه

دې ګټه نه ضائع کوي ددنیا دخزانو لپاره خود هلاکیدو او ضائع کیدو بیره وي مګر دچاخزانې چه له الله ﷻ سره جمع سوي وي هغه هیڅکله هم نه تباکیږي هغه (ع) خپلو حواریونو ته وویل اي زماحواریانو ما دنیاپرې ایښي ده تاسي یې له ماڅخه وروسته خپلي سیني ته مه نژدي کوئ ددنیالوي نقصان داده چه انسـان دالله ﷻ نافرماني کوي ددنیا دپرېښوولو څخه پرته دآخرت ګټه ترلاسـه کول ناممکن ده له دنیاسره مینه مه کوئ هغي ته دعبرت په نظر وګورئ ځان ځني خبرکئ چه ددنیامحبت دهري بدي بیخ ده دیوي شیبي لپاره دنفسـاني خواهش پیروي کول شاته اوږده پښیماتیا پرېږدي هغه (ع) وفرمایل دنیاستاسو لپاره سپرلۍ ده تاسوپرهغه سپاره یاست اوس دي باچهي اوښځي تاسي له دي څخه کښته نه کي دباچهانو سره دهغو ددولت په وجه جنګ مه کوئ هغه تاسوته ستاسي دنیااونور شیان واپس نه درکوي دښځو له لمنځواوروژو څخه ځانونه خبردار وساتئ هغه (ع) وویل چه دنیاطالب هم ده اومطلوب هم هرڅوک چه دالله ﷻ درضاطالب وي دنیادهغه طالب ګرځي هغه ته رزق ورکوي څوک چه ددنیاطالب وي آخرت هغه خپل ځان ته را غواړي مرګ هغه ترڅټ نسي اوآخرت ته یې وروړي دحضرت موسي بن یسـار ﷺ څخه روایت ده چه محمد ﷺ وفرمایل الله ﷻ ته په خپل مخلوق کي ترټولوناخوبنه شي دنیا ده الله ﷻ چه له کوم وخت څخه دنیاپیداکړي ده هیڅکله یې درحمت په نظر نه دي ورته کتلي روایت ده چه حضرت سلیمان (ع) یووخت پر تخت باندي سپورسو یوځاي ته ولاړي مرغانو پرهغه سایه کوله انسانان اوپیریان یې د هغه راسته اړخ اوچپه اړخ ته ناست وو دبني اسرائیلو یوعابد هغه (ع) ته وویل اي سلیمان (ع) په خداي قسم چه الله ﷻ تاته لویه بادشاهي درکړي ده هغه (ع) ورته وویل په خداي قسم چه دمؤمن بنده په عمل نامه کي لیکل سوي یوازي یوه تسبیح زماله ټولي بادشاهي څخه زیاته ده ځکه چه داهرڅه فاني دي اوتسبیح باقي دي دنبي ﷺ حدیث شریف ده چه تاسي دمال کثرت مشغول کړي یاست انسـان وایي زمامال زمامال مګر تاچه له خپل مال څخه هرڅه وخوړل هغه ختم سول څه چه دي واغوستل هغه زاړه سول څه چه دي دالله ﷻ په لاره کي خرڅ کړل هم هغه باقي پاته دي دنبي ﷺ حدیث ده چه دنیا دهغه چاکورده دچاچه کورنه وي لیوني سړي مال جمع کوي جاهل سړي دمال لپاره جنګونه کوي ناپوه سړي ددي لپاره کینه، حسد، اودښمني کوي بې یقین سړي ددي دحصول کوشش کوي نبوي فرمان ده دچاتمنا چه ددنیاحصول وي له الله ﷻ سره دهغه هیڅ برخه نسته الله ﷻ دداسي سړي په زړه کي څلورشیان مسلط کوي دائمي غم، دائمي مصروفیت، دائمي فقر، اونه پوره کیدو نکي ارزو، ابوهریره (رض) فرمایي چه یوه ورځ محمد ﷺ ماته وفرمایل ایازه تاته ددنیا حقیقت ونه ښیم؟ ماعرض وکړ هوراته ویې ښیه رسول ﷺ زمالاس ونیوي دمدینې یوي درې ته یې بوتلم هلته په یوځاي کي خرابه وه ګنده شبان دانسـانانو هډوکي پراته وو رسول ﷺ راته وفرمایل اي ابوهریره (رض) داسرونه هم ستا دسریه شان حریص وو ستاپه شان ډیري خبري یې درلودي مګرنن خالي هډوکي دي چه څرمن هم ورڅخه

تللي ده ډیر ژر به داهډوکي خاوري سي داګندګي دهغو خوراک وو چه نن خلک مخ ځني ګرځوي اونه ورته ګوري دغه زاړه ټوکران ددوي لباس وو نن په امبارکي پراته دي هوايې له ځانه سره له یو ځاي ځخه بل ځاي ته وړي دادهغو دسپرليو هډوکي دي چه وربانديي ګرځيدل به له یو ښار ځخه به وبل ښارته پرتلل څوک چه ددنياپه انجام ژړاخوښوي هغه دي وژاړي ابوهريره ؓ فرمايي چه بيا ماا ومحمد ﷺ ډير زيات وژړل روايت ده کله چه ادم ؑ مځکي ته کښته سو الله ﷻ ورته وفرمايل دتباهي لپاره عمارتونه جوړ کئ او دمرګ لپاره ماشومان پيدا کئ له حضرت داؤد بن بلال ؓ ځخه روايت ده چه دحضرت ابراهيم ؑ په صحيفو کي ليکل سوي دي چه اي دنياته دنيکانو په نظر کي دخپل ټول حسن اوښکلا سره بي عزته یې مادهغو په زړونو کي عداوت اونفرت ايښي ده ماستاپه شان بي عزته بل شي نه ده پيدا کړي ستاهر ځه دروغ اوفناکيدونکي دي ماستا دپيداکولوپروخت فيصله کړيده چه نه به ته له چاسره هميشه پاته کيږي اونه بل څوک دتل لپاره له تاسره ژوندي وي اګر چه ما ستا عاشق څومره زيات بخيل کړي ده دهغو نيکانو لپاره زماډيري ده چه زړونه یې زماپه رضا راضي وي اوزړونه یې دصدق اواستقامت ځخه ډک وي کله چه هغه له قبرونو ځخه ډلي ډلي راپورته کيږي نوزه هغوته داسي بدله ورکوم چه مځکي به یې رڼاوي ملائکي به هغه په بدرګه جنت ته بيايي دنبي ﷺ حديث مبارک ده چه دنيا دمځکي اوآسمان ترمينځ ځړيږي له کومه وخته ځخه چه الله ﷻ پيدا کړي ده هيځکله درحمت په نظر نه دي ورته کتل سوي دقيامت په ورځ به دنياداالله ﷻ په دربارکي عرض وکي چه مادخپلو دوستانو په مقدرکي وليکه الله ﷻ به ورته وفرمايي ماپه دنياکي ددي ګډون نه ده خوښ کړي اوس یې هم نه خوښوم.

**دحضرت ادم ؑ حيراني اوسرګرداني**:روايت ده چه کله ادم ؑ دممنوعه درختي ځخه خوراک وکړ په نس کي یې دروند والي محسوس کړ حال داچه دجنت په ميوو کي دا تکليف نسته ادم ؑ دقضاء حاجت لپاره هاخوا ديخوا سرګردان ګرځيدي چه داالله ﷻ په حکم سره ملائکه ورته راغله اوورته ویې ويل اي ادمه ولي حيران اوسرګردان یې هغه ؑ ورته وويل زه دخپل نس ددروندوالي ليري کيدل غواړم ملائکي ورته وويل دادروند والي به چيري واچوي؟ په جنت کي خو ددي دغورځولو لپاره هيڅ ځاي نسته ته به دنياته ولاړسي دنبي کريم ﷺ حديث شريف ده چه دقيامت په ورځ به داسي خلک راځي چه نيک اعمال به یې دتهامي له غرو سره برابروي مګر هغه به جهنم ته ليږل کيږي اصحابو ؓ پوښتنه وکړه هغه به لمونځ نه کوي روژي به نه نيسي؟ رسول ﷺ وويل هو هغه به روژه دار دشپي په يوه حصه کي تهجدکوونکي وي مګر هغه به پردنيا عاشقان وي دنبي ﷺ فرمان ده چه مؤمن بنده ددوو ويرو په مينځ کي اوسيږي دتيرو اعمالو په اړه فکر کوي اوډراتلونکي وخت لپاره پريشانه وي چه داالله ﷻ په رضا اوقدر کي زمالپاره ځه ليکل سوي دي؟ مسلمان بنده ته په کارده چه په خپل ژوند کي نيکي وکي په خپله دنياسره آخرت ښه کي

په خپل ژوند سره خپل مرگ ښه کي او په ځواني سره بوداتوب ښايسته کي ځکه چه دنياستاسي لپاره اوتاسي دآخرت لپاره پيداسوي ياست په ذوالجلال رب مي دي قسم وي له مرگ څخه وروسته دمؤمن لپاره هيڅ تکليف نسته دحضرت عيسی ﷺ فرمان ده لکه څنگه چه په يوو لوښي کي اور اواوبه نسي جمع کيداي دغه رنگه دمؤمن په زړه کي ددنيااوآخرت محبت نسي جمع کيداي روايت ده چه جبرائيل ﷺ له حضرت نوح ﷺ څخه پوښتنه وکړه چه تاخو ډير اوږد عمر تيرکړ داراته ووايه چه دنيا څنگه وه ؟ هغه ﷺ ورته وويل چه دنيې يوسراي ده دوي دروازي لري تريوه دروازه داخل سوم تربله دروازه وواتم حضرت عيسی ﷺ ته چا وويل چه تاسي ولي دخپل ځان لپاره کورنه جوړوئ ؟ هغه ﷺ ورته وويل دتيرو خلکو دغه زاړه کورونه زمادا وسيدو لپاره کافي دي نبوي فرمان ده چه له دنيا څخه ويريږئ دا دنيا ترهاروت اوماروت هم زياته جادوگره ده له حضرت حسن ؓ څخه روايت ده چه محمد ﷺ داصحابه وو ؓ مجلس ته راغئ پوښتنه يې وکړه چه څوک دي چه له الله ﷻ څخه له ړنديدو نه بلکه دبصارت سوال کوي؟ خبرسئ هرڅوک چه دنياته مائل سوداميد سترگي يې ورته ونيولي دهغه زړه ړوند سو چاچه ځان له دنيا څخه ليري کړ هغي ته يې داميد سترگي ونه نيولي الله ﷻ هغه ته دبصيرت رڼا ورکوي هغه دتعليم څخه پرته علم اودلتي څخه پرته هدايت پيداکي له تاسو وروسته به يو قوم راسي چه دهغه دسلطنت بنياد به قتل، ظلم، اوجفاوي مالداره خلک به يې بخيلان اومتکبر وي دنفساني خواهشاتو څخه پرته بل به له هيڅ شي سره محبت نه کوي خبردار که له تاسو څخه چا دغه زمانه پيداکړه په مالداري باندي يې دقوت درلودلوسره په تواضع سره ژوند تيرکړ الله ﷻ هغه ته دپنځوسو صديقانو صبر ورکوي روايت ده چه يووخت حضرت عيسی ﷺ په سخت باران کي راگيرسو هغه دخپل ځان دساتلو لپاره په لټه کي سو گوري چه په يوځاي کي خيمه ولاړه ده چه ورنژدي سو نوگري چه يوه ښځه کي ناسته ده له هغي خيمي څخه چه واپس سو په غره کي يې يو غار وليدي هغه غارته چه ورغي که گوري يوزمري ولاړده ﷺ پرهغه لاس کښيښووي عرض يې وکړ چه اي ذوالجلاله ربه تاددي شي لپاره يوځاي اوتيکانه جوړه کړي ده خوزماهيڅ ځاي نسته الله ﷻ ورته وفرمايل ستاځاي زمارحمت ده زه به دقيامت په ورځ له سلو حورو سره ستا واده کوم اوستا وليمي دعوت به ترڅلورو زرو کالوپوري روان وي دهردهرکال ورځ به ددنيا دژوندهمره وي اواز کوونکي به ستاپه فرمان اواز کوي اي له دنيا څخه ځان ليري کوونکو راسئ اودلوي زاهد عيسی بن مريم ﷺ واده وگورئ دعيسی ﷺ قول ده چه ددنيا دطالب لپاره دي هلاکت وي هغه به دنيا څنگه ترک کوي اومرکيږي به چه دهغه ټول له بروسه په دنياباندي وي دغه خلک به دمرگ مقابله څنگه کوي ؟ چه دهغه له خپل محبوب سي جلاکوي له مځکي څخه ورته ويل سوي وه چه هلاک دي وي هغه څوک چه ټول کوشسونه يې ددنيا دگټلو لپاره وي گناه وي يې کړي وي هغه به دقيامت په ورځ له خپلو گناهونو څخه څنگه نجات پيداکوي ؟ الله ﷻ حضرت موسی ﷺ ته وحي وليږله چه اي موسی

ستا دظالمانو له کورسره هيڅ تعلق نسته ته خپل تعلق اوتوجه له دنيا څخه ليري که چه دير بدکور ده داصرف دهغه چالپاره بنه ده چه په دي کي اوسيږي خوصرف خپل خالق خوشحاله کوي اي موسی عليه السلام واوره چه زه دمظلوم حق له ظالم څخه اخلم.

**وانصاروته دمحمد ﷺ خطاب**: روايت ده چه محمد ﷺ عبيده بن جراح رضي الله عنه بحرين ته وليږل هغه له هغه ځايه څخه مال اودولت له ځان سره راوړل کله چه انصاروته معلومه سوه چه هغه راغلي دي ټول دسهار لمانځه ته راغله دسهار دلمانځه له فارغيدو وروسته چه محمد ﷺ هغه وليدل خندايي وکړه اووېي ويل شايد په دي خبرسوي ياست چه ابو عبيده له ځانه سره مال راوړي ده هغو عرض وکړ چه هو محمد ﷺ ورته وفرمايل تاسوته دي مبارکي وي په خداي قسم چه زه پرتاسي دلوږي اوفاقي څخه نه بيريږم بلکه زه له هغه وخته څخه بيريږم چه کله پرتاسي دمخکنيو امتونو په شان باندي دنياپراخه سي تاسي دمخکنيو امتونوپه شان په هغه کي ډوب سئ اوهلاک سئ له ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت ده چه محمد ﷺ وفرمايل زه اکثر له دي خبري څخه بيره کوم چه الله جل جلاله پرتاسي دنيا دټولو فتنو سره پراخه وي نبوي فرمان ده چه خپل زړونه ددنياپه يادکي مه اخته کوئ رسول ﷺ ددنياله ياده څخه منع فرمايلي ده داخولاپريږده چه انسان خپله توجه ټوله دنياته واړوي. **بي قبره اوبي کفنه لاشونه**: دعماربن سعيدرضي الله عنه څخه روايت ده چه موسي عليه السلام ديوداسي کلي څخه تيرسو چه اوسيدونکي يې په لاره کي مړه پراته ول هغه خپلو حواريانو ته وويل داخلک دالله جل جلاله له غضب سره مخامخ سوي دي کنه ځداپه ضرور دفن سوي واي حواريانو عرض وکړچه موږ غواړو چه دهغو له حالت څخه خبرسو عيسی عليه السلام خپل رب ته دعاوکړه الله جل جلاله ورته وفرمايل کله چه شپه سي نوله هغو څخه پوښتنه وکئ هغه به خپله دهلاکت سبب بيان کي کله چه شپه سوه عيسي عليه السلام وويل اي ددي کلي اوسيدونکو اواز راغئ لبيک ياروح الله عيسی عليه السلام پوښتنه څني وکړه ستاسي ولي داحالت سو؟ پرتاسو ددي عذاب دنازليدو باعث څه وو؟ جواب راغي موږ دعافيت ژوند تيرکړ اودجهنم مستحق وګرځيدو داځکه موږ له دنياسره محبت درلودي اودګنهګارانو پيروي به مو کوله عيسی عليه السلام پوښتنه وکړه چه له دنياسره ستاسي محبت څه وو؟ هغو جواب ورکړ څنګه چه مور له خپل ماشوم سره محبت کوي کله چه به موږته دنياپه لاس راتله نوډير زيات به خوشحاليدو اوکله چه به دنيا زموږ له لاس څخه ووته موږ به ډير غمګين سولو عيسی عليه السلام پوښتنه وکړه چه داڅه وجه ده چه يوازي ته جواب راکوي دانور ملګري غلي دي؟ هغه وويل چه قوي اوله هيبته څخه ډکو ملائکو هغه په اورکي اچولي دي عيسی عليه السلام پوښتنه وکړه ته څنګه جواب راکولاي سي؟ هغه وويل له دغه خلکو سره يوځاي خو اوسيدم مګر ددوي په شان ګناهونه مي نه کول کله چه دالله جل جلاله عذاب راغي نوزه هم ورسره راګيرسوم زه اوس دجهنم په يووطرف کي ځړيږم معلومه نه ده چه خلاصون به پيداکم اوکه به په جهنم کي ولويږم عيسی عليه السلام خپلو حواريانو ته وويل داوربشي ډوډۍ له مالګي سره خوړل،

شکیدلي اوپیوندي زړي جامي په بدن کول اوپرمخکه خوب کول ددنیا اوآخرت گټه ده دانس رضي الله عنه څخه روایت ده چه دمحمد ﷺ یوه اوښه ده دعصبا په نامه باندي ډیره زیاته تیزه ده یووخت یوصحرایي اوښه له هغه څخه مخکي سوه صحابه کرام رضي الله عنهم په دي خبرسول هغه ﷺ وفرمایل دادقدرت قانون ده چه هرکمال ته زوال راځي یووخت حضرت عیسی عليه السلام و فرمایل هغه سړي څوک ده چه دسمندر پرڅپوباندي کور جوړکي ؟ دنیاهم دهمدي په شان ده تاسي دخپلو اوسیدوځاي مه جوړوئ حضرت عیسی عليه السلام ته وویل سول چه تاسي موږ ته یوداسي نصیحت وکئ چه دهغه له کبله الله ﷻ له موږ سره مینه وکي هغه عليه السلام وفرمایل تاسي له دنیاسره دښمني وکئ الله ﷻ به له تاسي سره مینه وکي له ابو الدرداء رضي الله عنه څخه روایت ده چه محمد ﷺ فرمایلي دي په څه چه زه پوهیږم که تاسي هم په هغه پوه سئ نودیره ژړا او لږ خندابه موکولاي.

**مسلمانانوته دابوالدرداء رضي الله عنه خطاب**: حضرت ابو الدرداء رضي الله عنه و فرمایل اي خلکو په څه چه زه پوهیږم که تاسي په هغه پوهیدلاي نودنیابه موپري ایښي واي غرونو ته به مو مخه کړي واي هلته به موریاضت ته ملاتړلي واي ژړا اوفریادبه موکولاي دضروري مال اومتاع څخه پرته به مودنیاترک کړي واي خودنیاستاسو داعمالو مالکه جوړه سوي ده اودنیاامید، دآخرت یاد، ستاسي له زړونو څخه هیرکړي ده تاسي ددنیالپاره دجاهلانوپه شان سرگردانه یاست په تاسو کي ځیني خلک ترحیوانانو هم بدتر دي چه دخپل انجام په باره کي بالکل فکر نه کوي تاسي له دي سره چه خپل په ماین کي سروه وروڼه یاست بیاهم په خپل ماین کي مینه اومحبت نه سره کوئ نه یوبل ته نصیحت کوئ ستاسي خبیث باطن ستاسي لاري جلاکړي دي که تاسي پرصراط مستقیم باندي تللاي نوپه خپل ماین کي به موخامخا مینه کړي واي تاسي ددنیا دکارلپاره په خپل ماین کي مشوري کوئ مگردآخرت لپاره هیڅ فکر نه کوئ تاسي له هغه ذات سره محبت نه کوئ چه له تاسي سره مینه لري اوتاسي دآخرت دآخرت دگټي پرطرف روانوي داټول په دي وجه دي چه ستاسو په زړونوکي ایمان کمزوري سوي ده که تاسي دآخرت پرگټه اونقصان یقین درلوداي لکه په دنیاچه یې لرئ تاسوبه خامخا آخرت ته تردنیا ترجیح ورکړي واي ځکه چه آخرت ستاسي داعمالو مالک ده که تاسي داووایاست چه پرموږ باندي ددنیا محبت غالب ده نوداستاسي نامعقول عذر ده ځکه چه تاسي په خپل ټاکلي وخت راتلونکي آخرت باندي دنیاته ترجیح ورکوئ خپل جسم په هغه کارونوپه عذابوئ چه دهغو هیڅ گټه نسته تاسي دیرناپوه یاست تاسي دایمان حقیقت له سره نه پیژني که موداالله ﷻ پرکتاب باندي یقین نه وي نوزموږ خواته راسئ موږ به تاسوته دداسي رڼا هدایت وکو چه ستاسي زړه ورباندي مطمئن سي په خداي قسم چه تاسي دنا پوهي اوکم عقلي په بهانه خپل ځانونه نسئ خلاصولاي ځکه چه په دنیاوي کارکي تاسي ښه پوهیږئ په دیره ښه توگه یې سرته رسوئ په تاسوباندي څه سوي دي چه په نه شي باندي خوشحالیږئ په معمولي نقصان باندي زیات خفه کیږئ ستاسي مخونه اوژبي د تکلیف ښکاروندي دي تاسي کوچني دنیاوي

نقصان لوي مصيبت گنړئ تاسي په دنياه كي دگناه ژوند تيروئ ددين اكثره احكامات موله نظ
غورځولي دي په دي كاركي تاسي هيڅ قسم ندامت اوپريشاني نه محسوسوي داسي معلوميږ
چه الله ﷻ له تاسو څخه بيزاره ده تاسي خوپه خپل منځ كي محبت كوئ مګر دخپلو بدعمليو
وجه دالله ﷻ په حضوركي حاضريدل بدګنړئ تاسي خائنان جوړ سوي ياست په خپلو اميدون
پسي روان ياست دمرګ انتظار موله يادہ ايستلي ده زه دالله ﷻ په حضوركي دعاكوم چه ما
ت سو څخه جلاكي اوخپل محبوب ته مي ورسوي كه هغه ﷺ په دنياكي تشريف درلوداي نوم
نه تاسو سره يوځاي اوسيدل هيڅكله هم نه واي خوښ كړي كه په تاسي كي دبنه جوړيدو څخ
مينه وي نوماتاسوته ديرڅه وويل دالله ﷻ څخه دهغه نعمتونو سوال وكړئ په ديره اساني سره به
يې پيداكړئ زه دخپل ځان اوستاسولپاره دعاغوارم. **دعيسى ؑ يوناصحانه ارشاد:**
عيسى ؑ خپلو حواريانوته وويل څنګه چه دنيادار له خپلي دنياسره دميني له كبله ددين سره لږ
مينه لري تاسي هم ددين دسلامتياليپاره په يومعمولي مال اودولت باندي خوشحاله اوسئ په
همدي معني څومره بنه شعر ويل سوي دی:

أري رجالا بأدني الدين قد قنعوا ..... وما اراهم رضوا في العيش بالدون

فاستغن بالدين عن دنيا الملوك كما ..... استغني الملوك بدنياهم عن الدين

**ژباړه:** ماخلک وليدل چه په لږ دين باندي راضي سول مګر په لږ دنياباندي راضي نه سول څنګه
چه دنيادار ددنياپه بدل كي ددين څخه بي نيازه سوي دي نوته هم ددين په بدل كي له دنياڅخه
بيزاره سه حضرت عيسى ؑ وفرمايل اي ددنيااوسپينوزروعاشقانو ددنيا پريښول دير بنه
كړده محمد ﷺ فرمايلي دي له ماوروسته به تاسوته دير مال اودولت راځي هغه به ستاسي
ايمان داسي خوري لكه اور چه لرګي خوري. **له دنياسره مينه لويه ګناه ده:** الله ﷻ
موسى ؑ ته وحي وليږله چه اي موسى ددنياپه محبت كي مشغول نسي زماپه نزد ددي څخه لويه
ګناه نسته روايت ده چه موسى ؑ ديوژړا كوونكي سړي له څنګه تيرسو كله چه واپس راغي هغه
سړي هم هغسي ژړل موسى ؑ عرض وكړ ياالله ﷻ ستابنده ستاله بيري څخه ژاړي الله ﷻ و
فرمايل اي موسى كه دده له سترګو مازغه راووزي اوپورته كړي لاسونه يې مات سي بيايې هم زه
نه بخښم ځكه چه دي له دنياسره محبت كوي له حضرت علي ؓ څخه روايت ده چه په كم سړي كي
شپږ عادتونه پيداسي هغه دجهنم له اور څخه ليري اوجنتي ده؟ (۱) الله ﷻ يې وپيژندي اودهغه
عبادت يې وكړ. (۲) شيطان يې وپيژندي اودهغه مخالفت يې وكړ. (۳) حق يې وپيژندي اودهغه
اتباع يې وكړه. (۴) باطل يې وپيژندي اوله هغه څخه يې اجتناب وكړ. (۵) دنيايې وپيژندله
اوهغه يې ايله كړه. (۶) آخرت يې وپيژندي اودآخرت په لټه كي سو.
دحضرت حسن ؓ قول ده چه الله ﷻ پرهغو خلكو رحم كړي ده چاته چه دنيا دامانت په توګه راغله
هغه دنيايې دخيانت بغير بيرته واپس كړه دالله ﷻ په حضوركي په سپک بارسره حاضرسو

هغه ﷺ وویل څوک چه تاته ددین ترغیب درکي نوقبول یې که او څوک چه ددنیاترغیب درکي نوردیې که او دهغه په غاړه کي یې واچوه.

**دنیا یوژور سمندر دی** لقمان علیه السلام خپل زوي ته نصیحت وکړ چه دنیاژور سمندر دی په دي کي ډیر خلک غرق سوي دي له دی دریاب دتیریدو لپاره دالله ﷻ دیري کښتۍ جوړه که په ایمان یې ډکه که دتوکل پرلاره یې روانه که چه له دی ژور دریاب څخه نجات پیداکي له دي څخه بغیر دخلاصون بله لاره نسته دفیصل رحمه الله قول دی چه الله ﷻ په دي آیت شریف کي فرمایي: إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ زِينَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۝ وَإِنَّا لَجَاعِلُونَ مَا عَلَيْهَا صَعِيدًا جُرُزًا سورة الكهف آية ۷/۸

**ژباړه**: بیشکه موږ دمځکي شیان دمځکي لپاره زینت جوړکړي دي ترڅو یې وازمایو چه څوک ښه عمل کوي موږ کرځوونکي یو دهغه شیانو چه په دي مځکه کي دي میدان وچ کلک دیوحکیم سړي قول دی چه تاته له دنیاڅخه څه برخه رسیدلي ده هغه مخکنیو خلکو ته هم رسیدلي وه له تاوروسته به هم ډیر خلک ددي مالکان سي ستالپاره په دنیاکي سهار او ماښام دودی ده ددغي دودۍ لپاره خپل ځان په هلاکت کي مه اچوه په دنیاسره روژه ونیسه او په آخرت باندي یې ماته که ددنیال مال خواهشات دي دهغه ګټه دجهنم اورده دزماني له یوراهب څخه پوښتنه وسوه هغه وویل چه داجسمونه زړوي امیدونه زیاتوي ، مرګ نژدي کوي؛ ارزوګاني لیري کوي، ددنیادارانو په هکله پوښتنه څني وسوه هغه وویل چاچه دنیاترلاسه کړه هغه په غم اوتکلیف اخته سو چاچه دنیاترلاسه کړه هغه په مصیبت کي راګیرسو څکه یوشاعر ویلي دي :

ومن يحمد الدنيا لعيش سره ..... فسوف لعمري عن قليل يلومها

اذاادبرت كانت على المرء حسرة ..... وان اقبلت كانت كثيرا همومها

**ژباړه**: څوک چه دچا ددنیاوڼي عیش اوعشرت له کبله صفت کوي زما په خپل ژوند قسم چه ډیر ژر به په هغه پسي بد ووایې کله چه دنیا له لاسه وزي ترښا غم پرېږدي اوچه راځي نوله ډیرو غمونوسره راځي دیوهوښیار سړي قول دی چه دنیا مځکي وه اوزه نه وم دادنیابه پاته وي اوزه به نه یم زه ددي پروا نکوم څکه چه ددي عمر کم دی ددي په صفایي کي هم خیره ده په دي کي اوسیدونکي ددي په زایل کیدو، دمصیبت په نازلیدو ،اودمرګ له راتلو څخه سخته ییره کوي دیوبل دانا سړي قول دی چه انسان ته ددنیا دهغه دخوښي په مطابق په لاس نه ورځي اویادیر کم دسفیان رحمه الله قول دی چه تاسي ددنیا نعمتونه وګورئ هغه دخپلي بدی له کبله همیشه له کم عقلو سره وي دابو سلیمان الدراني رحمه الله قول دی چه کله ددنیا طالب ته مال په لاس ورسي نونور هم غواړي چه کله دآخرت طلبګار ته داخرت اجر ورسیږي نویې زیات خواهش لاکوي نه ددنیا دطلب تمه ختمیږي نه داخرت دطالب تمه ختمیږي یوو سړي جناب ابوحازم رحمه الله ته ددنیا دمحبت شکایت وکړ اوویې ویل چه زما کور نسته هغه رحمه الله ورته وویل الله ﷻ چه تاته څه درکړي دي له

هغه څخه صرف حلال رزق واخله په صحیح ځاي یې ولګوه په دي ترتیب به تاته ددنیا محبت کم نقصان ونه رسوي هغه رحمه الله دا خبره ځکه ورته وکړه چه که ته خپل نفس ددنیا په محبت کي ونښلوې نو دادنیا به تاپه داسي تکلیف کي واچوي چه له دنیا څخه به تنګ سي او دتیښتي لاره به ځني طلب کي د حضرت یحیی بن معاذ رحمه الله قول دی چه دنیا دشیطان دوکان ده له دي څخه څه مه پټوه که دي یو څه ورځني پټ کړل نو شیطان به دربسي راورسیږي.

**کودري څنګه ترسرو زرو ښه کیداي سي**: دحضرت فضیل رحمه الله قول دی چه که دنیا د فنا کیدونکو سروزرو اوآخرت دفاته کیدونکو کودرو څخه واي نو بیاهم فناکیدونکي شي دپاته کیدونکي شي سره نه برابریږي حال داچه دادنیا دکودرو په شان ده اوآخرت دسرو زرو په شان لیکن له بده مرغه موږ بیاهم دغه دنیاخوښه کړي ده دحضرت ابوحازم رحمه الله قول دی چه ددنیاله طلب څخه ځان وساته ما اوریدلي دي چه کوم سړي ددنیا عزت کوي دقیامت په ورځ هغه دالله جل جلاله په حضورکي درول کیږي ورته ویل کیږي چه ده دهغه شي عزت کاوو چه الله جل جلاله هغه ذلیله پیدا کړي وو دحضرت ابن مسعود رضي الله عنه قول دی چه په دي دنیاکي هرسړي دمیلمه په توګه اوسیږي ددي دنیا هرشي دپور ده میلمه آخر له دي دنیاڅخه کوچ کوي دپورشي به بیرته ورکوي په دي معنی باندي یوشاعر داسي ویلي دي : وماالمال والاهلون الاودیعة ..... ولابد یوماان ترد الودائع

**ژباړه**: دامال اواولاد مستعار شیان دي یوه ورځ به خامخا هغه بیرته ورکوي دحضرت رابعه رحمها الله خواته دهغه ملګري راټول سول ددنیا دمذمت خبري یې شروع کړي هغه ورته وویل تاسي چپ سئ ددنیا بحث مه کوئ شاید ستاسي دزړه په یوکونج کي ددنیامینه موجوده وي دچاچه له چاسره مینه وي هغه اکثر دهغه بحث کوي له حضرت ابراهیم رحمه الله څخه ددنیا په اړه سوال وسو هغه وویل :

نرقع دنیانا بتمزیق دیننا ..... فلا دیننا یبقي ولاما نرقع

فطوبي لعبدا ثرالله ربه ..... وجاد بدنیاه لما یتوقع

**ژباړه**: موږ ددنیالپاره دین ټوټي ټوټي کړ نه مو دنیا ترلاسه کړه نه دین پاته سو هغه سړي نیک بخته دی چه دالله جل جلاله پرطرف یې توجه وکړه اودنیایې دآخرت دبهتري په امید خرڅه کړه یوبل شاعر وایي :

اري طالب الدنیاوان طال عمره ..... ونال من الدنیاسرورا وانعما

کبان بني بنیانه فاقامه ..... فلمااستوي مااقد بناه تهدما

**ژباړه**: ددنیا طلبګاران که څه هم زیات وي هغه ته هرقسم عیش اوخوشحالي حاصله وي مګر زه دهغه چاپه شان ګڼم چاچه یوکور جوړکړي وي خو دجوړیدو سره سم وران سوي وي یوبل شاعر وایي :

هب الدنيا تساق اليک عفوا ..... اليس مصير ذاک الي انتقال

وما دنياک الامثل فيئ ..... اظلک ثم آذن بالزوال

**ژباړه**: دادنيا آخر دبل چاپرطرف نقل کيږي دغه دنيا دالله ﷻ په لاره کي مصرف که چه تاته دبخښني لاره هواره کي ستا دنيا دسايې په شان ده يوڅه وخت پرتاچپله سايه کوي بيا در څخه ليري کيږي حضرت لقمان رحمه الله خپل زوي ته وويل اي زويه دنيا دآخرت لپاره خرڅه که دوي ګټي به وکي آخرت ددنيالپاره مه خرڅوه چه دوه تاوانونه به وکي دمطرف بن شخير رحمه الله قول ده چه الله ﷻ دنيا دري برخي جوړه کړي يوه حصه دمؤمن لپاره، يوه حصه د منافق لپاره، دريمه حصه دکافر لپاره، مؤمن دلاري توښه جوړوي، منافق زيب اوزينت جوړوي، کافر له دي دنيا څخه ګټه پورته کوي دځينو صالحينو وينااده چه دنيا مرداره ده څوک چه دا حاصلول غواړي هغه دسپو په شان ژوند تيرولو ته تيار ده ځکه يو شاعرويلي دي :

ياخاطب الدنيا الي نفسها ..... تنح عن خطبتها تسلم

ان التي تخطب غدارة ..... قريبة العرس من الماتم

**ژباړه**: اي ځاته ددنيا نژدي رابلونکي هغه وځان ته مه راوله سالم به پاته سي کوم دوکه کوونکي چه يې خپل ځنګ ته رابولي هغه هيښتاک اوله ګناه څخه ډک ده دحضرت ابو الدرداء رضي الله عنه قول ده چه دالله ﷻ په نزد دنيا ځکه بي قدره ده چه هره ګناه له دي څخه سرچينه اخلي اوله دي څخه دځان ليري ساتلو پرته دالله ﷻ نعمتونه نه سي حاصليداي لکه يوشاعر چه وايي :

اذاامتحن الدنيالبيب تکشفت ..... له عن عدو في ثياب صديق

**ژباړه**: کله چه عقلمند سړي دنيا انتخاب کړه هغه يې دوست ددښمن په لباس کي وليدي په همدي موضوع ديوڅو نورو اشعارو ترجمه په لاندي ډول ده :

اي دشپي په اوله حصه کي په خوشحالي ببده کيدونکي دزماني حوادث کله کله دشپي په آخري حصه کي هم نازليږي دشپي اوورځي ګردش هغه پيړۍ هم پناه کړي چه په خوشحالي کي بي مثاله وي دزماني ګردش داسي ډير ملکونه وران کړل چه په زمانه کي يې خوشحالي اوغمونه ورکول اي دفاني دنياعاشقه ته سهار اوماښام په سفرکي يې بيانو له دي سره دعشق څه ګټه ده تاولې له دنياسره خپلي اړيکي پري کړي؟ چه په جنت کي په پاکو حورو سره هم ګډي سوي واي که ته په جنت کي داوسيدو خواهش لري نو بيا تاته دجهنم له اور څخه بي پرواه کيدل نه دي پکار دحضرت ابو امامه باهلي رضي الله عنه څخه روايت ده چه کله محمد ﷺ مبعوث سو شيطان دخپل لښکر خواته راغئ هغو شيطان ته وويل چه يونبي مبعوث سوي ده له هغه نبي سره امت هم سته شيطان ورته وويل ايا هغه دنيا خوښوي؟ هغه لښکر ورته وويل هو شيطان ورته وويل بيا پرواه مه کوئ که هغه دبتانو عبادت نه کوي نه دي کوي مونږ به هغه په دري خبرو کي راګير کو :(۱)دبل چاشي اخيستل .

ذکر حقوق نه ورکول دغه دري شیان دټولو بدیو بنیادونه

وجهه څخه ددنیادتعریف په اړه پوښتنه وکړه هغه ورته وویل چه دهغه روغ سړي په اصل کي ناروغ وي نه بیریدونکي یې غمگین، مالداریې په مصیبتونو ککړ وي، دحلال ورسره حساب کیږي، په کیږي، په شکمنو شیانو باندي ملامتیږي، له هغه کرم الله وجهه څخه درهم هغه وویل په وضاحت سره یې ووایم اوکه یې په لنډو ټکو سره بیان کم؟ عرض په لنډو ټکیو سره یې بیان که هغه وفرمایل دهغه حلال حساب کیږي، دحرام مال عذاب کیږي. دحضرت مالک بن دینار رحمه الله قول دی چه له زور ور جادوگر څخه ځان وساتئ چه علماو په زړونو کي هم اثر کوي هغه دنیاده.

**دنیاپه کم صورت کي مقابله کوي**، دابو سلیمان الدرداني رحمه الله قول دی چه کله په زړه کي دآخرت فکر موجود وي دنیادهغه مقابله کوي چه کله په زړه کي ددنیا فکر موجود وي آخرت دهغه مقابله نسي کولای ځکه چه دآخرت تصورات اوفکرونه کریمانه دي دنیاوي وسوسي نهایتي جاهلانه دي دادیره غټه خبره ده زماپه خیال په دي اړه دجناب سیاربن الحکم رحمه الله داخبره ډیره ښه ده چه وایې دنیااوآخرت دواړه جمع کیږي یاله هغوڅخه چه هریو غالب سي دوهم دهغه تابع کرځي.

**ددنیاغم زیاتیږي څوآخرت غم کمیږي**، دحضرت مالک بن دینار رحمه الله قول دی چه ددنیالپاره څومره زیات غمگین کیږئ هغومره داخرت غم کمیږي څومره چه دآخرت غم کوي هغومره ددنیاغم کمیږي دهغه داقول دحضرت علي کرم الله وجهه له دي ارشاد څخه مأخوذ دی چه دنیااوآخرت دواړه بني دي یوه چه څومره خوشحالیږي بله هغومره خفه کیږي دحضرت حسن رحمه الله قول دی چه الله ﷻ داسي قومونه پیداکړي دي چه دهغو په نظر کي دادنیا دخاورو په شان قدره وه هغو ددنیا ددولت هیڅ پرواه نه درلوده اوپه دي غم کي نه وه چه داله چاسره ده اوله چاسره نه ده یوچا دحضرت حسن رحمه الله څخه دهغه شخص په باره کي پوښتنه وکړه چه الله ﷻ مال ورکړي دي هغه یې دالله ﷻ په لاره کي مصرف کي اوصله رحمي کوي؟ هغه رحمه الله وویل که ټوله دنیا ده په لمن کي راسي بیاهم دده لپاره صرف دیوي ورځي روزي وي دحضرت فیصل رحمه الله قول دی چه که ټوله دنیا دحلال کسب په صورت کي په لاس راسي که بیاهم په دي کي دآخرت فائده نه وي زه له هغه څخه داسي ځان ساتم لکه یوسړي چه له مرداري څخه ځان ساتي کله چه عمر رضي الله عنه په شام کي داخل سو ابوعبیده رضي الله عنه پریوه اوښه باندي ناست وو دهغه رضي الله عنه داستقبال لپاره حاضرسو دسلام دعاڅخه وروسته عمر رضي الله عنه د ابوعبیده رضي الله عنه خیمي ته ولاړي هلته داوښ پالان، توري اوډول څخه پرته نورڅه نه وو حضرت عمر رضي الله عنه پوښتنه وکړه ددي پرته نورڅه سامان هم سته کنه؟ ابوعبیده رضي الله عنه وویل ایازموږ دارام لپاره همداکافي نه دي دحضرت حسن رحمه الله قول دی چه بني اسرائیلو ددنیا دمحبت له کبله دالله ﷻ عبادت پري ښوویٔ اودبتانو عبادت یې شروع کړي دد

دحضرت سفيانؒ قول ده چه دبدن لپاره دنياوي غذا حاصله که اودزړه لپاره اخروي غذا حاصله
که دوهبؒ قول ده چه ماپه يو کتاب کي ليدلي دي چه دنيا دعقلمند ولپاره دغنيمت مال اودکم
عقلو لپاره دغفلت سامان ده هغه ددي په حقيقت پوه نه سو ترڅو چه له دي دنياڅخه يې کوچ وکړ
کله چه هلته ددي حقيقت واضح سو هغه دواپسي سوال وکړ سوال يې نامنظور سو حضرت
لقمانؑ خپل زوي ته نصيحت وکړ اوورته ويې ويل اي زويه که ته له دنياسره بي توجهي وکي
دآخرت په طرف دي توجه وکړه نوداسي کورته نژدي سوي چه دمراد له کوره څخه ګوښه ده
دحضرت سعيد بن منصورؒ قول ده چه کله ته داسي شخص ويني چه دنيايې زياتيده اوآخرت
يې کميدي مګر هغه په همدي خوشحاله وو نوپوه سه چه هغه سړي دوکه خوړلي ده دهغه شکل
مسخ کيږي هغه يې نه محسوسوي حضرت عمرو بن العاصؓ پر منبر باندي ودريدي اوويې
فرمايل په خداي قسم چه پرنبي ﷺ به داسي دري ورځي نه وي تيري سوي چه پرهغه ﷺ باندي
دهغه دمال څخه زيات قرض نه وو حضرت حسن شريف دا آيت شريف ووايه: فلاتغرنکم الحيوة
الدنيا ووېې فرمايل اياتاسي پوهيږئ چه دادچافرمان ده ؟ دادخالق اومالک فرمان ده خپل
ځانونه ددنياله شغل څخه وساتئ په دنياکي ډير زيات شغلونه دي که ته ديوانسان داخرت دشغل
دروازه خلاصوي نوپرهغه ددنيالس نوري دروازي په خپله خلاصيږي ياېې وفرمايل انسان
څومره مسکين ده چه په يوداسي کورباندي رضاسوي ده چه دهغه دحلال حساب کيږي اوپه
حرامو يې عذاب ورکول کيږي که ته په حلال کسب سره دنياحاصله کي په اخرت کي هم دهغه
کتاب اوحساب درسره کيږي اوکه دي حرام مال خوړلي وي نوعذاب درکول کيږي انسان خومال
کم ګني ليکن افسوس چه عمل کم نه ګني ديني مصيبت باندي خوشحاله کيږي مګر دنياوي
مصيبت باندي فريادا وغم کوي جناب حسن بصريؒ حضرت عمربن عبدالعزيزؒ ته يو خط
وليکي چه دسلام اودعا وروسته يې ورته وليکل ته آخري انسان يې چه دمرګ پياله دي وڅښله
هغهؒ په جواب کي ورته وليکل ګواکي په دنياکي هيڅکله هم نه يې اوسيدلي اوهميشه په
آخرت کي پاته سوي يې يعني زماپه شان ته هم په دنياکي اوسيږي اودمرګ پياله به ته هم وڅښي
دحضرت فيصل بن عياضؒ قول ده چه دنياته راتلل خواسان دي له هغي څخه وتل ډير ګران
دي دځينو صوفيانو قول ده چه دهغه چالپاره ډير تعجب ده چه مرګ حق ګني خوبياهم خوشحاله ده
جهنم مني خوبياهم خاندي ددنياهلاکت ويني خوبياهم مطمئن ده دالله ﷻ تقدير مني خوبياهم
غمګين ده دحضرت امير معاويهؓ خواته دنجران يوسړی راغی چه دهغه عمر (٢٠٠) کاله وو له
هغه څخه يې پوښتنه وکړه چه تادنياڅنګه وليده؟ هغه وويل ښه هم ده اوبده هم ده دورځي په
عوض کي ورځ اودشپي په عوض کي شپه ددي بدي اونيکي برابردي ماشوم پيداکيږي دهغه
دژونکي هغه وژني که نه وي مخلوق نه پيداکيدي نومخلوق به ډير زور سوي واي اوبد به ښکاره
کيداي که هلاکونکي نه واي نودنيابه دمخلوق څخه ډکه سوي واي اوتنګه سوي به واي

هغه ﷺ ورته وویل که څه غواړي وي غواړه هغه ورته وویل تاسي زماتیر عمر واپس ک
اویامقرر اجل راځخه لیري که هغه ﷺ ورته وویل داخو زماپه اختیار کي نه دي هغه ورته وو
بیانو زه له تاځخه نورڅه نه غواړم دحضرت ابو داؤدالطائي رحمه الله قول ده چه اي انسانه
دامیدونو په کولو سره خوشحالیږي حال داچه ستااجل نژدي سوي ده اوتاپه نیک کارکي تاخ
کړي ده ګواکي داستانه بلکه دبل چاپه واسطه سوي ده دحضرت بشیر رحمه الله قول ده چه هرڅوک
الله ﷻ ځخه دنیاغواړي ګواکي هغه دالله ﷻ په حضورکي تردیره وخته پوري دحساب لپا
ودریدي اوسوال کوي دحضرت ابو حازم رحمه الله قول ده چه له دنیاسره لږ محبت هم سړي دآخر
ځخه بي فکره کوي حضرت حسن رضي الله عنه به فرمایل چه ددنیاقدر مه کوه هرڅوک چه ددنیا قدر
کوی دنیا دهغه لپاره ډیره اسانه کیږي کله چه الله ﷻ له خپل بنده سره ښه کول غواړي نوهغه
ددنیاڅه برخه ورکوي کله چه هغه خلاصه سي نونورڅه ورکوي کله چه بنده دنیا حقیره وګڼ
نوالله ﷻ ډیر زیات مال ورکوي یوصالح سړي په خپله دعاکي وویل اي هغه ذاته چه مځکي
اواسمانونه یې دلویدو اوتړیدو ځخه ساتلي دي ماته ددنیامال مه راکوه دمحمد بن
المنکدر رحمه الله وینا ده چه دقیامت په ورځ به داسي شخص هم وي چه ورځي یې په روژو اوشپې
یې په تهجدو کي تیري کړي وي دالله ﷻ په لاره کي به یې مال اودولت خرڅ کړي وي جهاد به یې
کړي وي له بدوځخه به یې ځان ساتلي وي لیکن هغه ته به وویل سي ته هغه شخص یې چه
دالله ﷻ حقیر شیان تادیر لوي ګڼلي وه دالله ﷻ لوي شیان دي خوارګڼلي وو لیکن دومره
غورخووکړ چه په موږکي څومره خلک داسي دي چه په دي مصیبت کي مبتلانه دي له دي بغیر
دګناهونو دروند بارهم زموږ پراوږو پروت ده دحضرت ابو حازم رحمه الله قول ده چه ددنیااوآخرت
دحصول لپاره تکالیف دي خوفرق پکښي داده چه دآخرت په حصول کي ته هیڅوک مددکوونکي
نه ویني مګر ددنیاپه حصول کي چه کله هم ته لاس اوږدوي نوبل بدبخت به ترڅان له مخه ویني
دحضرت ابوهریره رضي الله عنه ځخه روایت ده چه الله ﷻ له کومه وخته ځخه دنیاپیداکړي ده هغه
ددنیااوآسمان ترمنځ دزوړ مشک په شان ځوړنده اوترقیامته پوري به ځړیږي کله چه هغه
الله ﷻ ته سوال وکي چه اي الله ﷻ تاسي زه ولي نه یم خوښ کړي الله ﷻ ورته وفرمایل یقدره
اویقیمته چپ سه دحضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله قول ده چه کله ددنیامینه اوګناهونه زړه
بنکارکړي وي نوپه هغه کي نیکي اوښېګڼي نسي پیداکیداي دحضرت وهب رحمه الله قول ده چه د
چاژړه دکم دنیاوي شي ځخه خوشحاله سي هغه له هوښیاري ځخه ووتئ اوچاچه دنیاوي
خواهشات ترپښولاندي کړل شیطان دهغه دسایې ځخه تښتي دچاعلم چه دهغه پرخواهشاتو
غالب سو په حقیقت کي هغه غالب ده.

**له دنیاسره مینه کوونکي آخرت ته هیڅ ګټه نه ورکوي**: حضرت بشر رحمه الله ته وویل سوه چه
فلاني سړي مړسوي ده هغه رحمه الله پوښتنه ځني وکړه هغه دنیا جمع کړي ده اوآخرت یې ضائع کړي

ده خلکو ورته وویل هغه داسي نیکیاني کولي هغه ورته وویل دچاپه زړه کي چه ددنیامینه وي
هغه ته دهغه نیکي ګټه نسي رسولاي دیوصالح سړي قول ده چه دنیاله موږڅخه نفرت کوي
خوموږ وریسي منډه کوو که دنیاله موږ سره مینه کړي واي نوخداي خبر چه زموږ حالت به څنګه
وو. **ددنیاپریښوول او طلب**: له یوو سړي څخه پوښتنه وسوه چه دادنیا دچاده هغه وویل چاچه
دنیاترک کړه پوښتنه څني وسوه چه آخرت دچاده هغه وویل آخرت دهغه چه ده چه هغه یې طلب
وکي دیوبل داناقول ده چه دنیا یوو ران کورده او هغه زړه تر دنیاهم زیات خراب ده چه هغه ددنیاپه
طلب کي سرګردان وي جنت یواباد کورده هغه زړه ترجنت هم زیات اباددي چه دهغه په طلب کي
ګرځي جهنم یوو ران کورده هغه زړه ترجهنم هم زیات وران ده چه دهغه طلب کوي.

**خپل وورور ته دامام شافعي رحمه الله نصیحتونه**: حضرت جنید بغدادي رحمه الله فرمایي چه امام
شافعي رحمه الله یو حق ګو شخص وو هغه خپل ورور ته دالله ﷻ دیریدو نصیحتونه وکړل اوورته
ویې فرمایل اي وروره دادنیایي اعتماده ځاي اورسوا کوونکي کوردي ددي ابادي دوراني په
طرف اوپه دي کي اوسیدونکي دقبرونوپه طرف روان دي ددي لږ شي هم جلاکیدونکي ده زیات
مال هم دمفلسي په طرف روان ده ددي کثرت قلت ده اومفلسي یې مالداري ده دالله ﷻ په طرف
توجه وکړه اودهغه په عطاکرده مال باندي راضي اوسه جنت په دنیاکي مه ګرو کوه ځکه چه
ستاژوند ختمیدونکي سایه اونړیدونکي دیوال ده ځکه نوعمل زیات او امیدونه کم کوه حضرت
ابراهیم ابن ادهم رحمه الله یوو سړي ته وویل ایادخوب یودینار به ګني اوکه دیداري (ویښ)
یودینار؟ هغه ورته وویل دویښي یودینار به ګنم هغه ورته وویل ته دروواغ وایې ځکه چه له
دنیاسره ستامحبت دخوب په رقم ده اوله آخرت سره ستا محبت دویښ په رقم ده داسمعیل ابن
عباس رحمه الله قول ده چه زموږ دوست به دنیاته خنزیر ویل او ویل به یې چه اي دنیاله موږ څخه لیري
اوسه که هغه له دي څخه زیات خراب نوم پیداکړي واي هغه به یې پردنیاایښي واي دحضرت
کعب رحمه الله قول ده چه تاسي له دنیاسره دومره زیات محبت کړي ده چه بالکل بندګي یې کوي
دحضرت یحیی بن معاذ رحمه الله قول ده چه هوښیاران دري دي: (۱) هغه سړي چه ددنیا درحلت څخه
مخکي یې دنیاپه خپله ترک کړه. (۲) هغه سړي چه قبرته دتلوڅخه مخکي یې خپل ځان قبرته
جوړکړ. (۳) هغه سړي چه دالله ﷻ حضورته دتلوڅخه مخکي یې الله ﷻ خوشحاله کړ. هغه رضي الله عنه
وویل چه ددنیامطلق امیدکول انسان دالله ﷻ له عبادت څخه منع کوي که انسان خپل ځان
ددنیاپاره وقف کي نودهغه به څه حال وي دحضرت ابوبکربن عبدالله رحمه الله قول ده چه هرڅوک د
دنیاداري په حالت کي ددنیاڅخه بې پرواکول غواړي دهغه داسي مثال ده لکه یوسړي چه اورپه
وچ وابښه سره مړکول غواړي له دي سره خو اور نورهم زیاتیږي دجناب بندار رحمه الله قول ده چه کله
دنیادار سړي له ګونیاڅخه لیري کیدونکي ووینې نوپوه سي چه هغه دشیطان مریدده دهغه
رحمه الله قول داهم ده چه هرڅوک ددنیاپه طرف متوجه سو دهغه دحرص شعلې هغه ایري کي چاچه

دآخرت په طرف رجوع وکړه دهغه شعلې هغه ویلې کې اودکندې ټوټه یې ورځخه جوړه کړه چاچه
دالله ﷻ په طرف رجوع وکړه دهغه دوحدت اوردهغه څخه بې مثاله ملغلرې جوړې کړې دحضرت
علي ﷺ قول ده چه ددنیاشپږ شیان دي دخوراک، دچښاک، داغوستو، دسپرېدو، دواده کولو،
اودبویلو، په خوراکي شیانو کې دټولو څخه ښه شي شات دي چه دمچ مچیو ناړې دي دچښاک ښه
شي اوبه دي په دي کې ټول ښه اوبد شریک ده داغوستو لپاره ښه شي وریښم دي هغه دچینجیو
غول دي دټولو څخه ښه سپرلی دآس ده په هغه انسان وژل کیږي دواده لپاره اصلي شي ښځه ده
مګر دمباشرت دمحل څخه پرته نورهیڅ نه ده دښځي دټولو څخه عمده شي مخ اوښکلا دټولو څخه
ښه شي فرج ده په خوشبو دارو شیانو کې ښه خوشبویې مشک دي بس نوپوه سوي چه دنیاڅښي ده

## دودیرشم باب ددنیادمذمت بیان

دځینو تارکینِ دنیاقول ده چه په نیک عمل کې سبقت کوه له الله ﷻ څخه یره کوه د درواغوپه
امیدونو کې مه اوسه مرګ مه هیروه له دنیاسره رغبت مه کوه ځکه چه دافریب کاره اومکاره ده
تاسي په دوکې سره دخداي دلارې څخه لیرې کوي هغه تاسي ددرواغجنوامیدونوپه ازمینبت کې
اچوي ستاسي په وړاندي په ډیر ښایسته شکل کې دناوې غوندي ښکاره کیږي سترګې هغه ویني
اوزړه ورباندي قربانیږي روحونه پرهغه عاشقیږي خوهغي خپل ډیر عاشقان وژلي دي خپل
پتنګان یې له ذلت سره مخامخ کړي دي که ته هغه ته دحقیقت په سترګووګوري نوتاته به معلومه
سي چه دادمصیبتونوکور ده ددي خالق هم ددي مذمت کړي ده دهغې هرشي زړیږي دهغې باچهي
ختمیږي دهغه معز ذلیلیږي کثرت یې په قلت بدلیږي محبت یې فناه کیږي ښیګڼه یې تیریږي
الله ﷻ دي پرتاسي رحم وکي دغفلت څخه راویښ سئ ددي څخه مخکې چه وویل سي فلانکي
سړي ناروغ ده یامرګ ته قریب ده داسي کمه دوا یاداسي کم ډاکټر ده چه هغه ته شفا ورکي
یاطبیب راوغوښتل سو هغه ستادژوندپه باره کې دناامیدي اظهار وکړ بیاوویل سو چه فلانکي
سړي دخپل دولت دحساب ورکولو څخه وروسته وصیت یې کړي ده بیاوویل سي دهغه ژبه بنده
سوه دخپلو دوستانو سره خبري نسي کولاي خپل ګاونډیان نه پیژني په دي وخت کې به
ستاپرتندي خوله راسي ستاآه اوژړا به واوریدل سي پرمرګ به ستایقین ثابت سي ستاسترګي
ودریږي ستا غمونه ربښتیاسي ستاژبه ګونګې سي ستاخپلوان په ژړاسي اوتاته وویل سي
داستافلانکي زوی ده داستا فلاني ورور ده مګر ته له هغو سره خبري نسي کولاي ستاپرژبه مهر
وهلی وي بیاپرتامرګ راسي ستا له ټولواعضاوڅخه روح واخستل سي اسمان ته یوورل سي
بیاستا ورونه پرهغه راجمع سي ستالپاره کفن راورل سي ستاټول امیدونه قطع سي ستادښمن
خوشحاله سي ستاکورنۍ ستامال ته متوجه سي ته دخپلو اعمالو دسزا خوړلو لپاره یوازې پاته
سي.

**یو باچاته دیوزاهد وصیت**:یو تارک دنیایو باچاته وویل ددنیا دمذمت او دهغه دترک کوونکو شخه ترټولو هغه سړي زیات مستحق ده چه هغه مالدار ده او هغه ددولت په ذریعه خپل کارونه کوي کیداي سي دهغه په مال کي کم افت نازل سي هغه محتاج کي یاکم باچا دهغه مال ضبط کي یاکم تکلیف دهغه وجود خراب کي یاددنیا دڅان شخه کم قیمتي شي هغه ددوستانو په نظرکي ذلیل کي دادنیا په دي وجه هم دمذمت وړده چه څه ورکي بیرته یې اخلي داپه یوو وخت کي له دووکسانو سره دوستي کوي خنداکوونکو باندي خاندي اوژړاکوونکو باندي ژاړي دورکولو په وخت کي دواپس کولو تقاضا هم کوي نن په مالدارانو باندي تاج ایږدي سباته یاپه خاوروکي ککړوي اګرکه دهمدي په غم کي مړسوي وي اوژوندي دهمدي لپاره ژوندي وي هغه دهرتلونکي وارثانوته رسیږي دهیڅ قسم تغیراوتبدیل پروانه کوي .

**دحضرت حسن بصري ارشادات**،حسن بصري حضرت عمر بن عبدالعزیز ته ولیکل چه دادنیا دکوچ ځاي ده د اوسیدوځاي نه ده ادم دغي دنیاته دسزا ورکولوپه خاطر لیږل سوئ وو ځکه له دي دنیاڅخه لیري اوسیدي ددي دنیاتوبنه ددي پرینښوول دي اوددي سرمایه داري فقراوفاقه ده هروخت خپل طلبګار هلاکوي عزت داره ذلیل، اومالداره فقیرکوي وازهرچه انسان په ناپوهي کي وخوري نومړکوي یې په دي کي دجراحت علاج کوونکي مجروح په شان داوږد غم څخه دخلاصیدو په خاطر لږصبروکه داوږدي ناروغي څخه دخلاصیدوپه خاطر لږصبر وکه اوداوږدي ناروغي څخه دخلاصیدو په خاطر دخوشیبو لپاره دعلاج تکلیف برداشت که ددي فریبي اودوکه بازي دنیاڅخه چه په ډیرېه ښه شکل کي ښکاره سوي دمکر جال یې خپورکړي ده ددرواغو زیات امیدونه یې دڅانه سره راوړي دي دیوداسي ناوي په شکل کي راغلي ده چه هرڅوک یې لیدل غواړي څوک چه پردي باندي عاشقان دي نوخپل ټول عاشقان یې وژلي اوختم کړي دي ایاکم عقلمندبه یاهم له دي څخه دعبرت درس واخلي؟ کله چه ددنیاعاشق دنیاپیداکي نوګمراه کیږي له مال سره دمینې کولو دکبله اخرت دیاده وباسي تردي چه قدمونه یې وښویږي په دائمي حسرت اوغم کي اخته سي پرهغه دمرګ تکالیف اوغمونه راځي دهغه روح دزیات غم په حالت کي دلاري دتوښي څخه پرته ووزي هیڅکله نه سي دریداي اي امیرالمؤمنینه! له دي څخه خپل ځان وساته ځکه چه کله دنیا دار ددي په خوشحالي کي ډوب سي هغه په غم کي اخته کوي په دي تاوان کوونکي هم خطاوتلي دي اوګټه کوونکي یوپه دوه تیرایستل سوي دي ځکه چه ددي وسعت تر مصائبو پوري رسیدلي ده ددي وجوددفنا لپاره تیارده ددي خوشحالي په تکالیفوکي پیچلي ده څوک چه یووار ددي په چنګک کي راسي یاواپس نه سي ځني راتلاي له خپل انجام څخه بې خبره وي دهغه امیدونه درواغ اوخواهشات یې باطل وي صفایي مردار اوعیش یې مختصروي که انسان غور وکي نوددي دنیاپه خطر کي راګیرده دهغه نعمتونه له خطرڅخه ډک اودردونه یې زور ور دي الله ددي تنبیه کړي اونصیحت یې فرمایلي ده د

الله ﷻ په نزد دهغه هيڅ قدر نشته اونه درحمت نظر ورباندي کوي محمد ﷺ ته ددي خزان
اوکونجياني پيش سوي مګر هغه ﷺ يې له قبلولو څخه انکار وکړ ځکه چه دالله ﷻ په نزد دهغ
قدر دمچ دوزر په اندازه هم نشته که محمد ﷺ دا قبول کړي واي نو بيا به هم دالله ﷻ په خزانو کم
څه کمي نه واي راغلي خبردار اوسئ چه هيڅکله ددنيا په مقابل کي دالله ﷻ دحکم مخالفت و
کړئ له دنيا سره دمحبت له کبله الله ﷻ خفه نه کړئ الله ﷻ هغه دازمايش په توګه له مؤمنانو څخ
راګرځولي ده خپل دښمنان يې له دولت څخه مالامال کړي دي کم بې عقل سړي چه دنيا ترلاسه کړ
هغه فکرکوي ګواکي هغه ته الله ﷻ عزت ورکړي ده اوداله ياده وباسئ چه دالله ﷻ محبو
محمد ﷺ په خپل نس باندي کاڼي ترلي وه . **ددنياپه بدوالي کي يوبل حديث شريف**
حديث قدسي ده چه الله ﷻ حضرت موسی ﷺ ته وفرمايل کله چه ته وګوري چه دنيا ستا پر طرف
روانه ده نوپه دي پوه سه چه تاته دکومي ګناه سزاراځي کله چه فقر اولوږه ووينې نوفخر
راغلاست ورته وايه ځکه چه دادنيکيو علامه ده اي خلګو که تاسي غواړئ نو دعيسی ﷺ پ
نقش اوقدم باندي روان سئ عيسی ﷺ به ويل لوږه زماځرمن، خوف زما عادت، صوف يعني
وړي زمالباس، په ژمي کي دلمر ورانګي زمااور، سپوږمۍ زماچراغ، دواړي پښې زماسپرلۍ.
دمځکي سبزي زماخوراک ده نه سهارله ماسره څه وي اونه ماښام ليکن په دي دنياکي ترمابل
غني نشته حضرت وهب بن منبه رحمه الله وايي چه کله الله ﷻ حضرت موسي ﷺ او هارون ﷺ د
فرعون په طرف وليږل نويې وفرمايل ددي دنياوي شان اوشوکت څخه يې بيره مه کوئ هغ
زماداجازي بغير خبري نسي کولاي ځکه دهغه روح زماپه لاس کي ده تادي ددنيا ګټه په تعجب کي
وانه چوي دادنيا دبي وقوفو خلګو رونق اوښايست ده که زه وغواړم نوزه به تاپه داسي جا
اوجلال دنياوي قدر اوعزت سره فرعون ته وليږم چه فرعون دهغه په ليدو سره دخپل عجز اقرار
وکي ليکن ماله تاڅخه دنياپته ساتلي اوستاتوجه مي له هغه څخه اړولي ده داځکه چه زه خپل
دوستان ددنياله نعمتونو څخه ليري ساتم لکه هوښيار شپانه چه خپل مال له خطرناک څرځاي څخه
ليري ساتي زه خپل دوستان ددنياله فريب څخه ليري ساتم لکه هوښيار شپانه چه خپل اوښان له
خطرناک څرځاي څخه ليري ساتي دادهغو دحفاظت لپاره نه ده بلکه ددي لپاره چه زماله بخښل
سوي عزت څخه پوره پوره حصه ترلاسه کي زه خپل دوستان په خوف، انکساري، خضوع، خشوع،
اوتقوي سره ښايسته کوم، چه دهغوي اثر دهغه پروجودباندي ښکاره وي او همدغه دهغو لباس
ده دغه دهغوي ظاهر اوباطن دي دغه دهغوي عزت اوپيژندګلوي ده کله چه تاسي هغه ووينئ
نوښه سلوک ورسره کوئ خپله ژبه اوزړه ورته نرم کړئ په يادولرئ هرچاچه زمادوستان وبيرول هغه
له ماسره دجنګ اعلان وکړ زه دقيامت په ورځ پرهغه خپل قهر اوغضب کوم يوه ورځ حضرت علي
کرم الله وجهه خطبه ويله ويې فرمايل خبردار اوسئ تاسي مړه کيدونکي ياست له مرګ څخه
وروسته ژوندي کيږئ دخپلو اعمالو سزا اوجزا درکول کيږي ستاسي دنياوي ژوند ده تاسي په

دوکه کي وانه چوي داپه مشکلاتو کي پيچلي په ناپيداري کي مشهوريه دوکه اوچم سره موصوف اوددي هرشي زوال پيدا کوي دادخپلو طلبګارنو لپاره ددولچي په شان ده هميشه په يوو حالت کي نه پاتيږي په دي کي کښته سوي سري له مصائبو څخه نه سي خلاصيداي کله خوشحالي ورباندي راوري اوکله غم ددي حالتونه مختلف دي بدليږي رابدليږي په دي کي ارام کول غندل سوي ده دمال زيات والي زائليدونکي ده داخپل اوسيدونکي دغښي په شان ولي اووژني يې دهرچا دمرګ وخت مقرر ده هرچاته پورۀ پوره رزق ورکول کيږي اي دالله ﷻ بندګانو تاسي دهغه لاري مسافرياست چه ترتاسي له مخه داوږد عمر خاوندان تيرسوي دي هغو ترتاسي قوي اوغوره يادونه پري ايښي وه مګرددنياپه انقلاب کي دهغوي اوازونه چپ سول بدنونه يې خاوري سول دمضبوطو محلونو اوعمارتونو په بدله کي هغوي ته دکانو بالښتونه، له کانو څخه جوړسوي قبرونه دهغو مدفنونه سول هغه له خپلو کورنيو څخه جلااوله خپلي محلي څخه بي پرواه دي له خلګو سره دهغوي هيڅ کارنسته له خپلو خپلوانو سره هيڅ قسم اړيکي نلري هغه دمشکلاتو اومصائبو په ژرنده کي تل سوي دي دهغو بدنونه خاورو خوړلي دي هغوي څوورځي ژوندتيرکړ اووفات سول دهغو خوشحالي هسي يو قصه پاته سوه دهغو په مړينه خپلوانو وژړل ترخاوره لاندي پيده سول له دنيا څخه يې کوچ وکړ له هغه ځايه څخه بيرته نسي راتلاي دهغوپه مخ کي ترقيامته پوري دبرزخ ژوند ده تاسي هم دهغو په شان کيدونکي ياست پرتاسوبه څه تيرسي کله چه قبرونه خلاص سي رازونه ښکاره سي دټولو اعمالو دجزا دترلاسه کولوپه خاطر دالله ﷻ په حضورکي ودريږئ هريوته به دخپلو اعمالو جزا ورکول کيږي لکه الله ﷻ چه فرمايي چه بدعمله خلک دخپلو بدواعمالو سزا ويني اونيک عمله خلک دخپلو نيکو اعمالو سزاويني دځينو پوهانو وينا ده چه ورځ غشي اوخلک دهغه نښان ده هره ورځ يوغشي ولي تاسي دورځي اوشپي دګردش په فريب کي اخته کوي تردي چه ستاسي ټول اعضاء ختميږي دورځو په تيريدو سره ستاسي بقاء اوسلامتيا ناممکنه ده که تاسي ته دتيري زماني حوادث معلوم سي نوهره راتلونکي ورځ به ستاسولپاره بيروونکي وي هره شيبه به ستاسي لپاره ګرانه تمامه سي ليکن دالله ﷻ تدبير له هرتدبيرڅخه پورته ده الله ﷻ انسانان ددنياپه لذت کي اچولي دي حال داچه دادنياتر(مره غوني) هم ډيره ترخه جوړه سوي ده ددي هرصفت کوونکي ددي دظاهري شان اوشوکت له امله ددي دحقيقت له پوهيدو څخه ناکام سوي دي هرواعظ دهغه عجائبات ښه په وضاحت سره بيانوي ياالله ﷻ موږ ته دنيکي هدايت وکي له يوهوښيارسړي څخه ددنيااوآخرت په اړه پوښتنه وسوه هغه ورېل په دي کي وقفه دسترګو درپ په اندازه ده څکه چه کم وخت تيرسوي ده هغه بيرته نه راځي دمستقبل معلومات له تاسره نسته هره ورځ دتيري شپي خبري اوري د شيبو دتيريدو داستان بيانوي دزماني حوادث انسان دمتواتر تغير اونقصان سره مخامخ کوي زمانه دلي

اواجتماع ګاني سره تيت پرک، کوي دولت يوبل ته نقلوي اميدونه دير ژوند لږ ده په هرکار
رجوع دالله ﷻ پرطرف ده.

**دحضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله خطبه** ،عمربن عبدالعزيز رحمه الله په يوه خطبه کي ووېل ا
خلګو تاسي ديو خاص مقصد لپاره پيداسوي ياست که تاسي دامنئ نوتاسي ديربدبخت او
عقله ياست ځکه چه تاسي اعمال داسي نه کوي که يې نه منئ نوتاسي په هلاکت کي اخته سر
ياست تاسي دهيشه لپاره په دي دنياکي ژوندنسئ کولاي بلکه له يوځاي ځخه بل ځاي
ورځئ اي دالله ﷻ بندګانو! تاسي په يوداسي کورکي اوسيږئ چه دهغه دودې دغاړي زندئ
که تاسي ديونعمت په حصول باندې خوشحاله کيږئ نودبل نعمت جدايي تاسي خفه کوي هغ
کورريږئ چه ستاسي ورتګ ده دهميشه لپاره پکښي اوسيږئ هغه وژړل په دي حالت کي ا
منبرڅخه راکښته سو .حضرت علي رضي الله عنه په خپله خطبه کي ووېل زه تاسوته دالله ﷻ ديري او
دنيادپرېښودلو وصيت کوم دنياپرېږدئ مګرتاسي په هغې پسي کلک مېښتي ياست هغه ستاسم
بدنونه ختموي ليکن تاسي دهغه دقوي کولو په فکرکي ياست ستاسي مثال ديومسافرپه شان د
تاسي دنياته دآخرت دسفر دتوښي لپاره راغلي ياست څنګه چه دمسافرلپاره په لاره کي ارام ن
وي شپه اوورځ سفرکوي همداسي بايدپه دنياکي هم ارام ونکړل سي بلکه شپه اوورځ دنيکو
اعمالو دکولولپاره قدمونه پورته سي ديرخلک داسي دي چه اجلونه يې قريب دي اوکم خلک لم
خلک داسي دي چه اجلونه يې لاځوورځي پاته دي په هغه پسي راتلونکي مرګ دهغه ټول اميدون
پاته کوي څکه دهغه په غم اوتکليف باندي پرواه مه کوئ داټول ژر ختميدونکي دي ددي په مال
اودولت باندي خوشحالي مه کوئ ځکه چه داژر زائليدنکي دي ددنيادطالب لپاره حيراني ده هغه
ددنيالټه کوي مګر مرګ دهغه لټه کوي هغه له مرګ څخه غافل ده مګر مرګ له هغه څخه نه ده
غافل دحضرت محمد بن الحسين رحمه الله وېناده چه دعلم ادب اومعرفت خاوندانو ته دي معلومه
وي چه الله ﷻ ددنيا مذمت کړي ده دالله ﷻ په نزد باندي نهايت ذليل شي ده دخپلو دوستانو
لپاره يې نه خوښوي محمد ﷺ له دي څخه ځان ساتلي ده اصحابه کرامو رضي الله عنهم له دي څخه دساتني
تاکيدکړي ده دعلم خاوندانو له دي څخه درمياني حصه واخسته نوره يې دالله ﷻ په لاره کي
تقسيم کړه هغه په قوت لايموت باندي راضي سول نوريې پرېښوول هغوي په معمولي لباس خپل
تن پټ کړ په معمولي غذا يې خپله لوږه ختمه کړه دنيايې فاني وګڼله آخرت يې باقي وګاڼه له دي
څخه يې ديوسپاري په شان توښه واخسته اوروان سول دنيايې ورانه اوآخرت يې ابادکړ هلته به
پراخ اونه ختميدونکي نعمتونه ترلاسه کي هيڅ قسم تکاليف به نه وررسيږي داټول به دالله ﷻ په
توفيق سره کيږي.

## دروديرشم باب دقناعت دفضيلت بيان

دفقيرلپاره ضروري ده چه هغه بايد قانع وي له مخلوق څخه اميدونه کي دهغو پرمالونو نظرونه
چوي اونه دي دمال اودولت په ګټلوکي حرص کوي داهغه وخت ممکن ده چه انسان دخپل

ضرورت په مطابق خوراک، څښاک، اواغوستل وکي په خپلو ضروریاتو باندي قانع وي په هرمعمولي شي باندي اکتفاء وکي خپل امید ونه تړیوي ورځي یایوي میاشتي پوري اوږده نکي ځکه چه په زیات طلب اواوږد امید سره دقناعت معني ختمیږي انسان په حرص اولالچ اخته کیږي بیادغه حرص اولالچ انسان بداخلاقي اوبد یو ته مائل کوي چه دهغه په وجه دانسان ښه عادتونه تباه کیږي حرص اولالچ دده طمع جوړیږي .

**دانسان گیډه یوازي دلبر خاوري دکولاي سي** نبوي فرمان ده که انسان ته دوه یادري دسرو زرو درهمه ورکړل سي دنورو امید به هم کوي دانسان گیډه یوازي دقبر خاوري دکولاي سي الله ﷻ دتوبه کوونکي توبه قبلوي له حضرت ابوواقد اللیثي ﷺ څخه روایت ده چه کله به پرمحمد ﷺ باندي وحي نازله سوه موږ به دهغه دزده کړي په خاطر دنبي ﷺ په خدمت کي حاضرسوو یووخت موږ دنبي ﷺ په خدمت کي حاضرسوو رسول ﷺ وفرمایل الله ﷻ فرمایلي دي چه موږ مال اودولت دلمانځه اوزکات داداکولولپاره عنایت کړي دي که انسان ته دسروزرو یوه غونډۍ ورکړه سي هغه به ددوهمي غونډۍ امیدهم کوي که دوهمه ورکړه سي دبلي غونډۍ امیدهم کوي دانسان گیډه یواځي دقبر خاوري دکولاي سي الله ﷻ دتوبه کوونکي توبه قبلوي له حضرت ابوموسي اشعري ﷺ څخه روایت ده چه دسورت برائت په شان یوبل سورت هم نازل سوي وو چه بیاوروسته منسوخ سو په هغه کي وو چه الله ﷻ دغه دین په یوداسي قوم باندي تقویه کوي چه دهغو لپاره دنیکي اوښو هیڅ حصه اوبرخه نه وي که انسان ته ددولت دوي غونډیاني ورکړي سي ددریمي طمع به هم کوي دانسان نس یوازي دقبر خاوري دکولاي سي الله ﷻ دتوبه کوونکي توبه قبلوي د محمد ﷺ ارشادده چه دوه وږي کسان هیڅکله هم نه مړیږي یودعلم وږي بل ددولت وږي نبوي فرمان ده چه انسان بوډاکیږي مگر دوه شیان یې ځوان پاته کیږي یوحرص اوبل ددولت محبت چونکه داخصلت انسان گمراه کوي ځکه الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ دقناعت صفت کړي ده چه دحرص ضد ده یعني چه داسلام پرلارروان سو اوژوند په معمولي گذاره باندي یې قناعت وکړ نبوي فرمان ده چه دقیامت په ورځ هرفقیر اوامیر ددي تمناکوي چه کاشکي هغه ته لږ دنیا ورکړسوي واي نبوي فرمان ده چه مالداري دمال په زیاتیدوسره نه ده بلکه حقیقي مالداري دزړه قناعت ده .

**ددنیادیر طلب مه کوه** محمد ﷺ دحرص طمع اوددنیا په گټلو پسي دمنډو ترنډو څخه منع کړي ده فرمایلي یې دي چه اي خلکو په ښه طریقه سره رزق حاصل کړئ ځکه چه بنده ته هغه څه رسیږي چه دده په قسمت کي لیکل سوي وي اوانسان ترهغه وخته پوري له دنیاڅخه نه ځي چه خپل رزق ختم نه کي روایت ده چه حضرت موسي ﷺ الله ﷻ ته عرض وکړ چه ستاکم بنده ډیرغني ده؟ الله ﷻ ورته وفرمایل هغه بنده چه زماپه عطاکرده رزق باندي قانع وي بیایې عرض وکړ عادل څوک ده؟ الله ﷻ ورته وویل هغه څوک چه له خپل ځان سره انصاف کوي له عبدالله بن

مسعود رضي الله عنه څخه روایت ده چه نبي ﷺ وفرمایل روح المقدس ماته خبرا کړي ده چه هیڅوک
دنیاکي دخپل رزق ترختمولو مخکي نه مرکیږي له الله ﷻ څخه وبیریږئ حلال رزق حاصل کړ
ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت ده چه محمد ﷺ فرمایلي دي کله چه ته وږي سي ستالپاره یوه ډو
اوداوبو یوه پیاله کافي ده ددنیازیات خواهش هلاکت ده ابو هریره رضي الله عنه وایي چه محمد ﷺ
وفرمایل پرهیز ګاري خپله که ترټولو زیات عادل به جوړسي قناعت وکه ته به ترټولو زیات ش
ګذارسي څه چه دخپل ځان لپاره خوښوي هغه دنورو لپاره هم خوښوه ته به ښه مؤمن سي نبي کر
ﷺ له لالچ څخه منع فرمایلي ده له ابوایوب انصاري رضي الله عنه څخه روایت ده چه یو صحرای
محمد ﷺ ته راغي عرض یې وکړ چه ماته یو لنډ نصیحت وکه رسول ﷺ ورته وفرمایل هرلمو
دخپل ژوند اخیري لمونځ وګڼه ادایې که داسي خبره مه کوه چه سبا ورباندي پښیمانه سې
معذرت وغواړي د خلکو مال ته دامید سترګي مه نیسه دحضرت عوف بن مالک الا شجعي رضي الله عنه
څخه روایت ده چه موږ اووه یا اته یا نه کسه دحضرت محمد ﷺ په حضورکي ناست و
محمد ﷺ وفرمایل ایاتاسي له محمد ﷺ سره بیعت نه کوئ؟ موږ وویل یارسول الله ﷺ مو
مخکي لا بیعت کړي ده له موږ څخه یو وسړي پوښتنه وکړه یارسول الله ﷺ د څه شي بیعت وکو
رسول ﷺ وفرمایل ددې خبرې بیعت چه تاسي یوازي دیوو الله ﷻ عبادت کوئ له هغه سره بل
څوک مه شریکوئ پنځه لمنځونه اداکړئ اطاعت وکړئ بیایې وفرمایل چه له خلکو څخه دکوم شي
سوال مه کوئ راوي وایي چه په موږ کي داسي خلک هم وو چه له هغه څخه که
غمچنه(تازیانه)پرمځکه غورځیدلي واي بل چاته یې دپورته کولونه ویل دحضرت
عمر رضي الله عنه فرمان ده چه طمع نه کول فقر اوله خلکو څخه بي پروایي کول غناده کوم خلک چه دخلکو
دمال اودولت څخه بي پرواه پاته سي طمع ونه کي هغه ترټولو لوي غني اومالدار ده له یو
هوښیارسړي څخه دمالداري په هکله پوښتنه وسوه هغه وویل لنډ امید اوپه لږ ګذاره رضاکیدل
غناده څکه یوشاعر ویلي دي :

العیش ساعات تمر ..... وخطوب ایام تکر

اقنع بعیشک ترضه ..... واترک هواک تعیش حر

فلرب حتف ساقه ..... ذهب ویاقوت ودر

**ژباړه**: دعیش صرف څوساعتونه دي چه تیریږي اودلویو کارونولپاره وخت کم ده ته په هغه عیش
باندي قناعت وکه چه تاته حاصل ده نفساني خواهشات پریږده ازادي ترلاسه که دعیش
ژوندتیرکه دیرخلک چه مړه سول له هغوي څخه دیر سره، سپین، جواهر، اولعل پاته سول محمد
بن واسع رحمه الله دودۍ له اوبو سره خوړله اوویل به یې چه هرڅوک په دې باندي قناعت وکي هغه
هیڅکله نه محتاجه کیږي. **بهترین دولت**: دحضرت سفیان رحمه الله قول ده چه ستاسي لپاره بهترین
دولت هغه ده چه ستاسي په قبضه کي ندي په قبضه کي راغلي دولت څخه هغه دولت بهترین ده چه

ستاسي له لاسه وتلي وي د حضرت ابن مسعود ﷺ قول دی چه هره ورځ يوه ملائکه اواز کوي چه اي انسانه تردير ګمراه کوونکي مال هغه لږ مال بهتروي چه ستاد ژوند دپاته کيدو لپاره مدد وکي د حضرت سميط بن عجلان رحمه الله قول دی چه انسانه خبردار اوسه داسي نه چه ستاکوچني نس تا جهنم ته ورسوي له يو هوښيار سړي څخه چاپوښتنه وکړه چه ستامال څه دي؟ هغه وويل په ظاهره کي نظافت په باطن کي نيکي دخلکو له مال څخه بي پرواتوب اوناامیدي روايت دی چه الله ﷻ وفرمايل که تاته ټوله دنيا حاصله سي بيا به هم تاته له هغي څخه دوه وخته ډوډی رسيدلي واي رس چه ماتاته له دنيا څخه صرف خوراک درکړي دی ددي حساب مي په بل چاباندي ايښي دی داما پرتا احسان کړي دی د حضرت ابن مسعود ﷺ قول دی چه کله حاجت غواړي نولږ غواړه دومره مه غواړه چه پرنورو باندي وبال جوړسي څکه چه ستاکم نصيب دی هغه تاته خامخا رسيږي دبنو اميه يو حاکم جناب ابو حازم رحمه الله ته خط وليږي چه په هغه کي دهغه دکور دضرورت په اړه پوښتنه سوي وه ترڅو هغه ضرورت پوره کي ابو حازم رحمه الله دهغه په جواب کي وليکل چه ماخپل ضرورتونه دخپل مالک په دربارکي پيش کړي دي کوم يو چه الله ﷻ پوره کي زه خوشحاله کيږم کوم يو چه رانه کي زه پرهغه قناعت کوم له يو هوښيار سړي څخه پوښتنه وسوه چه کومه خبره ددانا لپاره دخوشحالي او غم ليري کولو باعث ګرځي؟ دانا جواب ورکړ چه ددانا لپاره دټولو څخه لويه خوشحالي نيک عمل او دغم ليري کيدو لپاره دالله ﷻ په رضا باندي راضي کيدل دټولو څخه لوي مددګار دی يو بل هوښيار سړي ويناده چه ماپه خلکوکي دټولو څخه لوي غم دحاسد، ترټولو ښه ژوند تيروونکي قناعت پسنده، ترټولو زيات پرمصائبو باندي صبرکوونکي لالچي، ترټولو زيات خوشحاله سړي تارک دنيا، اوترټولو زيات پښيماني کوونکي دحد څخه تيري کوونکي عالم ليدلي دی يو شاعر په دي اړه ډير ښه شعر ويلي دی:

أرفه ببال فتي امسي علي ثقة ..... ان الذي قسم الارزاق يرزقه

فالعرض منه مصون لايدنسه ..... والوجه منه جديد ليس يخلقه

ان القناعة من يحلل بساحتها ..... لم يلق في دهره شيئًا يورقه

**ژباړه**، کله چه يو ځوان په دي خبره مکمل اعتماد کوي چه رازق مطلق ضرور هغه ته روزي ورکوي دهغه عزت کله هم نه خرابيږي نه دهغه مخ زانليږي کوم سړي چه قناعت کوي هغه کله هم هيڅ شي ته نه محتاجيږي پرهغه کله هم دغم سايه نه راځي يو بل شاعر وايي؛

حتي متي انا في حل وترحال ..... وطول سعي وادبار واقبال

ونازح الدار لاانفک مغتربا ..... عن الاحبة لايدرون ماحالي

بمشرق الارض طورا ثم مغربها ..... لايخطر الموت من حرصي علي بالي

ولو قنعت اتاني الرزق في دعة ..... ان القنوع الغني لا کثرة المال

**ژباړه**: زه به ترڅو داقسم سفر کوم اوزبردست هلې ځلې تک راتګ به جاري ساتم زه له کوره له دوستانو همیشه پټ اوسیږم هغوته زما دحالت پته اومعلومات نه وي زه کله په مشرق کې یم اوکله په مغرب کې دحرص غلبه دومره ده چه زما په زړه کې کله هم دمرګ خیال نه راځي که ماقناعت کړې واي دخوشحالي ژوند به مې خپل کړې واي ځکه چه حقیقي غنا په قناعت کې ده په زیات مال اودولت کې غنا نشته. **دحضرت عمر ﷺ ارشاد**: دحضرت عمر ﷺ ارشاد ده چه ایا زه تاسې ته ونه وایم چه زه دالله ﷺ له مال څخه کم حلال شی اخیستل خوښوم؟ واورې زما دیخ اوګرمۍ لپاره دوه پټوان دحج، عمرې، اوغذالپاره دقریشو دمعمولي ځوان په اندازه خوراک اې خلکو زه له نورو څخه اعلی اوپورته نه یم په خداې قسم چه زه دومره هم نه پوهیږم چه دومره اخستل زما لپاره جائزدي کنه؟ یوصحرایې خپل ورور له حرص څخه منع کوي ورته وایې ویل ته ددنیاطالب یې دهغه شي مطلوب یې چه کله هم نه ختمیږي ته دداسي شي لټه کوي چه له مخکې څخه ستاده ګواکي غائب شیان ستاپه مخکې اوحاضرشیان له تاڅخه نقل کیدونکي دي شاید تاکم حریص محروم اوکم تارک دنیادي رزق پیداکوونکي نه ده لیدلي په دې موضوع یوشاعر ویلي دي:

| | |
|---|---|
| اراک یزیدک الاثراء حرصا ..... علی الدنیا کانک لاتموت | |
| فهل لک غایة ان صرت یوما ..... الیها قلت حسبي قد رضیت | |

**ژباړه**: زه وینم چه ستا امید ستا حرص زیاتوي ګواکې ته نه مرې کله خوبه دخپل حرص له بس کولو سره داهم ووایې چه بس ماته همداکافي ده اوزه په دې راضي یم حضرت شعبي ﷺ وایې چه یوسړي یوه چوغکه ښکاره کړه چوغکي ورته وویل ته په ماڅه کوې ؟هغه وویل زه تاحلالوم بیادې خورم چوغکي ورته وویل په خداې قسم چه زما په خوړلو سره ستانس نه ډکیږي زه به تاته درې داسې خبرې دروښیم چه ستالپاره زما دخوراک څخه زیاته ګټه لروونکي ده یوه خبره درته دقید په حالت کې وایم دوهمه ترخلاصیدو وروسته په درخته کې دریمه پرغره دکښېنستلو وروسته ښکارې ورته وویل صحیح ده اوله خبره راته ووایه مرغۍ ورته وویل وایه په تیره خبره کله هم افسوس ونکې ښکارې هغه ایله کړه کله چه هغه په درخته کې کښېنسته ښکارې ورته وویل دوهمه خبرراته وکه مرغۍ ورته وویل ناممکنه خبره ممکنه مه ګڼه بیاهغه مرغۍ له دې درختې څخه والوته په غره کې کښېنستله ښکارې ته یې وویل اې بدنصیبه که دې زه حلاله کړې واي زماله جوجورې څخه به تاته دشلو مثقالو دوې ملغرې راوتلې واي ددې خبرې په اوریدو سره ښکارې ډیر خفه سو خپلې شونډې یې وچیچلې بیایې ورته وویل اوس نو دریمه خبرراته وکه هغې ورته وویل تاخومخکښې دوې خبرې له یاده څخه ایستلې دي اوس ددریمې خبرې ولې پوښتنه کوې؟ ماتاته وویل چه پرتیره سوې خبره باندې افسوس مه کوه ناممکن شي ممکن مه ګڼه زه خو له څپو تولو ښکو سره شل مثقاله نه یم نوزما په جوجورې کې به شل مثقاله ملغلرې له کومه

وي دايې وويل والوتله داپن ... ک رحمه الله قول دی چه امیدونه ستا د زړه حال اوستا د پښو ځنځیرونه دي له زړه څخه دي امیدونه وباسه ستا پښې به ازادې سي.

**د حرص د بدوالي بيان**، دابو محمد اليزيدي رحمه الله قول دی چه زه هارون الرشيد باچا ته راغلم هغه داسې کاغذ وايه چه پرهغه کاغذه باندې په سرو اوبه یو څه ليکلي وو کله چه زه خليفه وليدلم په خنداسو ماپوښتنه وکړه اې اميرالمؤمنينه ولې دې وخندل؟ هغه راته وويل ما د بنې اميه په خزانو کي دالاندې شعرونه پيداکړي دي پرما ډير ښه ولګيدل ما په هغو کي يو شعر اضافه کړ،

اذا سد باب عنک من دون حاجة ..... فدعه لاخري ينفتح لک بابها

فان قراب البطن يکفيک ملوه ..... ويکفيک سوآت الامور اجتنابها

ولاتک مبذ الاعرضک واجتنب ..... رکوب المعاصي يجتنبک عقابها

**ژباړه**، کله چه ستا حاجت پوره کوونکي دروازه بنده سي ودرېږه بل ځوک به ستا حاجت پوره کي دنس بنديدل دهغه دډکولو لپاره کافي دي دکار دبديو څخه دساتلو لپاره له هغه څخه اجتناب ضروري دی دخپل مقصد دترلاسه کولو لپاره ذليل حرکتونه مه کوه دګناه له ارتکاب څخه پرهيز وکه چه دهغه په وجه به ته له سزا څخه محفوظ پاته سي.

**علم انسان له حرص اوله ګدايې څخه ساتي**، حضرت عبدالله بن سلم رضي الله عنه د حضرت کعب احبار رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چه يو داسې شي کم دی چه دعلماوو له زړه څخه دهغوي علم راوباسي حضرت کعب احبار رضي الله عنه وويل چه لالچ، حرص اودخلګو په وړاندي لاسونه اوږدول يوو سړي له حضرت فضيل رحمه الله څخه ددې قول په باره کي تشريح وغوښته هغه ورته وويل کله چه يو انسان په لالچ کي کوم شي خپل مطلوب اومقصود ګرځوي دهغه دين رخصتېږي حرص داده چه انسان کله د يو شي کله دبل شي دحاصلولو لپاره دمختلفو خلګو سره هم رابطه راځي کله چه دهغه ضرورت پوره کي دهغو په پزه کي تار ورواچوي چيري چه يې زړه وغواړي هلته يې وغورځوي ددنيا ددغه محبت له کبله چه هروخت هغه ددوي په وړاندې تيرېږي سلام ورته کوي چه کله ناروغه سي پوښتنه يې کوي داټول کارونه دالله جل جلاله درضالپاره نه وي بلکه دهغو دخوشحالي لپاره وي کاشکي چه ددهغه محتاج نه واي.

## څلور ديرشم باب دفقراوو دفضيلت بيان

دمحمد صلی الله علیه وسلم فرمان دی چه ددې امت بهترين خلک فقراء دي اوله ټولو څخه مخکي جنت داخليدونکي خلک کمزوري اوضعيف اشخاص دي نبوي فرمان دی چه زمادوي خبري دي هرڅوک چه هغه خوښوي نو په حقيقت کي ماخوښوي څوک چه هغه بدګني مابدګني يوفقرده، بل جهاددی **.دادنيادچاکورده**.دادنيا دهغه چاکورده چه دچاکورنه وي روايت دی چه جبرائيل عليه السلام د محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کي حاضرسو اوويې ويل الله جل جلاله پرتاسلام وايي اوفرمايي که ته

غواړي نوزه به غرونه سره زر درته وګرځوم محمد ﷺ له څوشيبو خاموشي څخه وروسته وويل اي جبرائيله دادنيا خودهغه چاکورده دچاچه کورنه وي دادهغه چادولت ده چه دولت نه لري دادنياهغه څوک راجمع کوي چه کم عقل وي جبرائيل علیه السلام وويل اي دالله ﷻ نبي ا الله ﷻ دي تاسي په همدي صداقت قائم ولري روايت ده چه حضرت عيسى علیه السلام سفرپه وخت ديوداسي چاتر څنګ تيرسوپرڅان باندي يې کمبله اچولي وه بيده وو عيسى علیه السلام هغه له خوبه څخه راويښ کړ اوورته ويې ويل اي بيده راويښ سه الله ﷻ يادکه هغه سړي ورته وويل ته له ماڅخه ددي پرته نورڅه غواړي چه دنيامي ددنيادارو لپاره پرې ايښي ده عيسى علیه السلام ورته وويل اي زمادوسته بيانو بيده سه.

**الله ﷻ دخپل محبوب بنده له زړه څخه ددنيامحبت باسي:** حضرت موسى علیه السلام يوړ سړي ترڅنګ تيرسوخښتو ته يې تکيه کړي وه ناست وو کمبله يې اغوستي وه دهغه ږيره اوټول مخ په ګردونو وو موسى علیه السلام الله ﷻ ته عرض وکړ چه ياالله ﷻ ستا دابنده په دنياکي بربادسو الله ﷻ موسى علیه السلام ته وحي ولېږله چه تاته ددي خبري علم نسته چه کله زه پرخپل بنده باندي دفضل اوکرم دروازي خلاصي کم دهغه له زړه څخه ددنيامينه وباسم له حضرت ابورافع رضی الله عنه څخه روايت ده چه دمحمد ﷺ يوميلمه راغئ خوله محمد ﷺ سره دهغه دميزبانئ څه شي نه وو محمد ﷺ زه دخيبر ديو يهودي کره وليږلم راته ويې ويل چه هغه ته ووايه درجب المرجب ترمياشتي پوري اوړه په پورراکه زه دهغه يهودي څنګ ته ورغلم داپيغام مي هغه ته ورساووهغه راته وويل يوشي په ګروي کي راته کښېږده اوړه يوسه ما محمد ﷺ ته هغه خبره وکړه محمد ﷺ راته وويل په الله ﷻ قسم چه دمځکي اواسمان امين يم که هغوپه قرض ماته اوړه راکړي واي مابه خامخا ورکړي واي زمادازغره واخله په ګروي کي يې ورته کښېږده کله چه زه روان سوم درسول ﷺ دتسلي لپاره داآيت نازل سو: ﴿وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا...﴾ ژباړه: دهغه پرطرف خپلي سترګي مه اړوه چه موږکافرانو ته ددنيا دژوند تازګي ورکړي ده نبوي فرمان ده چه دمؤمن لپاره فقر دآس دتندي تريښتانو هم ښايسته ده نبوي فرمان ده چه دچازړه مطمئن اوبدن يې جوړ وي له هغه سره ديوي ورځي غذاموجوده وي ګواکي هغه ته ددي دنياټول دولت حاصل سوي ده.

**ديندار ښکارنه سو خودنيادار ښه ښکارسو:** دحضرت عطاء الخراساني رحمه الله څخه نقل سوي ده چه دالله ﷻ نبي له يوساحل څخه تيرسو يوسړي دماهيانو ښکارکاوي هغه دالله ﷻ نوم واخستي اوپه درياب کي يې خپل جال واچاوو مګرهيڅ ماهي پکښي ګيرنه سو بيا رسول ﷺ يوبل سړي ترڅنګ تيرسو هغه هم دماهيانو ښکارکاوو هغه دشيطان نوم واخستي خپل جال يې په درياب کي خطاکړ کله چه هغه جال راکش کړ له ماهيانوڅخه ډک سوي وو دالله ﷻ نبي علیه السلام دالله ﷻ په حضورکي عرض وکړچه اي عالم الغيب خدايه ! ددي څه رازده؟ الله ﷻ

ملائکوته حکم وکړچه زمانبي ته ددغه دواړو کسانو دآخرت مقام وښیاست کله چه هغه ﷺ دالله ﷻ په نزد داول سړي عزت اوددوهم سړي بي عزتي ولیدله ناڅاپه یې له خولې څخه ووتل یاالله العلمین زه ستاپه تقسیم باندي راضي یم نبوي فرمان ده چه ماجنت ولیدي په هغه کي اکثر فقراء وو جهنم مي ولیدي په هغه کي اکثرمالداران وو اوښځي وي په روایت کي دي چه محمد ﷺ پوښتنه وکړه مالداران چیري دي؟ ماته وویل سوه چه هغوي مالداري راګیر کړي ده په یوبل حدیث شریف کي دي چه کله ماپه جهنم کي دښځواکثریت ولیدي ما پوښتنه وکړه چه داولې؟ ماته وویل چه دادهغو له سروزرو اوخوشبویې سره دمیني له وجه محمد ﷺ فرمایي چه په دنیاکي دمؤمن لپاره تحفه فقرده په روایت کي دي چه په انبیاؤ علیهم السلام کي دټولو څخه آخربه جنت ته سلمان ﷺ داخلیږي ځکه چه هغه له دنیاوي دولت اوپاچهي څخه خوند اخستي ده اوپه اصحابه کرامو رضی الله عنهم کي به حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ دخپل مال په وجه په آخرکي په جنت کي داخلیږي په دوهم حدیث کي دي چه ماپه خوب کي ولیدل چه عبدالرحمن بن عوف ﷺ پرزنګنونوپه جنت کي داخلیږي دمحمد ﷺ له اهل بیت څخه روایت ده چه هغه ﷺ فرمایلي دي چه کله الله ﷻ له کوم انسان سره محبت کوي هغه په ازمینښت کي اچوي له چاسره چه زیات محبت کوي دهغه لپاره ذخیره جوړوي پوښتنه وسوه چه ذخیره څنګه کوي؟ وي فرمایل دهغه انسان دمال اواولاد څخه څه نه ورته پاته کیږي په حدیث شریف کي دي چه کله ته فقر وخپل ځان ته دراتلوپرطرف وویني نوخیر مقدم ورته وایه اوورته ووایه چه اي دنیکۍ علامته ! په خیراغلي کله چه مال دولت په دي حالت کي ووینې چه تاته درروان دي نووایه چه په دي سره ماته دګناه سزا ژرراکول کیږي حضرت موسي ﷺ عرض وکړ یاالله ﷻ ! په مخلوق کي ستاخوک زیات خوښ، اودوست ده چه زه دوستي ورسره وکم ؟ الله ﷻ ورته وفرمایل فقر اوفقیر دحضرت عیسي ﷺ فرمان ده چه زه مسکیني خوښوم اوله نعمتونو څخه بدوړم هغه ته په نوموکي دمسکین نوم ډیر زیات خوښ وو کله چه دعربو سردارانو اومالدارانو محمد ﷺ ته وویل چه یوه ورځ زموږ لپاره اویوه ورځ دغریبانو لپاره وټاکه محمد ﷺ د هغوي داخبره ومنله ځکه چه د فقیرانو له لباس څخه مالدارانوبدبویي محسوسوله مالداران له هغه څخه ډیر تنګیدله الله ﷻ دمحمد ﷺ په دي رضاباندي داآیت نازل کړ:

وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَن ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا وَقُلِ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاءَ فَلْيَكْفُرْ سورة الکهف.

**ژباړه:** خپل ځان له خلکو سره مانوس که چه سهار اوماښام خپل رب یادوي اودهغه رضاغواړي ستاترګي دي هغه نه پریږدي ایاته ددنیاښایست غواړي؟ دهغو وینامه منه دهغو زړونه مي له خفل یادڅخه غافل کړیدي خپلوخواهشاتو پسي ولاړل کارونه یې ترحد تیر وکړل ورته ووایه چه

حق ستا د رب ﷻ و طرف ته ده څوک چه غواړي ایمان دي راوړي څوک چه غواړي کفر دي اختیار
کړي یوه ورځ حضرت عبدالله ابن ام مکتوم ﷺ د محمد ﷺ په خدمت کي حاضر سوپه دي وخت
کي له محمد ﷺ سره یو قریشي سردار ناست وو محمد ﷺ هغه ته د اسلام دعوت ورکاوو
محمد ﷺ د ابن مکتوم په راتګ خفه غوندي سو الله ﷻ محمد ﷺ ته په دي اره دا آیت شریف
نازل کړ ؛

عَبَسَ وَتَوَلَّى أَن جَاءهُ الْأَعْمَى وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُ يَزَّكَّى أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ الذِّكْرَى أَمَّا مَنِ اسْتَغْنَى فَأَنتَ لَهُ تَصَدَّى سورة عبس (۱/۶)

**ژباړه**: رسول ﷺ تندي تریش کړ او مخ یې وګرځاوو کله چه د هغه ﷺ څنګ ته یو ړوند راغی چه
شي ته پوه کړي وای شاید هغه پاک سوی وای نصیحت یې اوریدلی وای هغه ته به نصیحت فایده
رسولي وای کوم سړي چه بې پروایي کوي تاسي د هغو په خاطر هغه منع کوئ د لته له ړانده سړي
څخه ابن مکتوم ﷺ مراد ده له بې پرواه سړي څخه هغه قریشي سردار مراد ده چه د محمد ﷺ
خواته راغلی وو .

**ددنیا د نامراده بنده په قیامت کي عزت او احترام**: د محمد ﷺ فرمان ده چه د قیامت په
ورځ به یو سړي را وستل سي الله ﷻ هغه ته داسي معذرت کوي لکه په دنیا کي چه یو سړي له بل
سړي څخه معذرت غواړي الله ﷻ ورته فرمایي زما دي په خپل عزت او جلال قسم وي چه ما دنیا له
تا څخه ستا د بې قدري په وجه نه وه لیري کړي بلکه د هغه عزت او اکرام په خاطر چه ما ستا پاره
تیار کړي وو ته مي له دنیا څخه محروم کړي اي زما بنده ! د خلکو په هغه ډله کي روان سه چه
زما د رضا په خاطر یې په تا څه خوړلي او څښلي دي جامي یې درته اخستي د هغو لاس ونیسه هغه
ستا دي خلک په دي ورځ په خولو کي ډوب وي هغه به د خلکو له منځ څخه هغه تر لاس ونیسي له
خپل ځان سره به یې جنت ته بوزي . **له فقراوو سره دولت ده** ؛ د نبي کریم ﷺ حدیث شریف ده
د نبي کریم ﷺ حدیث شریف ده چه فقر وپيژنئ او عزت یې وکړئ له هغه سره دولت ده پوښتنه وسوه
یا رسول الله ﷺ له هغو سره کم دولت ده؟ رسول الله ﷺ و فرمایل کله چه د قیامت ورځ راسي
الله ﷻ هغو ته فرمایي چا چه پر تاسو خوراک، څښاک، کړي ده او جامي یې درته اخستي دي د هغو
لاس ونیسئ او په جنت کي یې داخل کړئ نبوي فرمان ده چه کله زه د معراج په شپه جنت ته ولاړم
ما خپل د پښو مخکي اواز واوریدي ما چه ورته وکتل هغه بلال ﷺ وو ما د جنت پورته والي ته
وکتل هلته مي د خپل امت فقراء او د هغو اولادونه ولیدل ما چه د جنت لاندي طرف ته وکتل
مالداران مي ولیدل او ښځي په جنت کي کمي وي ما د دي د سبب پوښتنه وکړه راته وویل سول چه
ښځي وریښمو او سرو زرو له جنت څخه منع کړي ډي مالداران خلک د هغو د زیات حساب په وجه
د جنت له پورته منزلونو څخه محروم سوي دي ما چه خپلو اصحابو ﷺ ته وکتل عبد الرحمن بن
عوف ﷺ مي ونه لید ي څه وخت بعد هغه ژړا په حالت کي راغی ما پوښتنه ځني وکړه چه ته ولي

له ماوروسته یې؟ عبدالرحمن بن عوف ؓ وویل زه له ډیرتکلیفه وروسته ستا خدمت ته حاضرسوم ماخو خیال کاوو چه شاید تا به کله هم ونه وینم حضرت عبدالرحمن بن عوف ؓ دسابقینو مسلمانانو څخه ده پرمحمد ﷺ باندې یې ځان قربان او وله هغو لسو اصحابو ؓ څخه ده چه په دنیاکې دجنت زیرې ورکول سوې ده دهغو مالدارانو څخه وو چه دهغو په باره کې محمد ﷺ فرمایلې وه مگر هغه چه خپل مال یې داسې خرڅ کړهغه هم مالدارې په مصیبت کې مبتلاکړل یوه ورځ محمد ﷺ دیو داسې سړي ترڅنګ تیرسو له هغه سره ددنیاهیڅ مال او دولت نه وو رسول ﷺ وفرمایل که دهغه نور دټولې دنیاپرخلګو باندې وویشل سې تولوته به وررسیږي .دجنت باچا .نبي کریم ﷺ فرمایې ایازه وتاسوته دجنت باچا دروښیم؟ عرض وسو ولې نه رسول ﷺ فرمایل هرهغه شخص چه کمزور اوغریب ګڼل سوې وي په ګردونو ککړ خواره ویښتان شکیدلې زوړ څادر چه هیڅوک یې پروانه کوي که هغه په الله ﷻ سره قسم واخلي الله ﷻ د هغه قسم ضرورو پوره کوي.

**دحضرت فاطمې ؓ عزت** .له حضرت عمران بن حصین ؓ څخه روایت ده چه محمد ﷺ به پرمابنه ګومان کاوه یووخت محمد ﷺ وفرمایل اې عمرانه! له ماسره ستاخاص مقام ده ایا ته زمادلور فاطمې ؓ پوښتنې ته ځې؟ ماورته وویل زمامور اوپلار دې ترتاقربان سې ولاړ په سم موږ ولاړو دبي بي فاطمې ؓ دکوردروازې ته ورسیدو رسول ﷺ دروازه وټکوله سلام څخه وروسته یې دننوتلو اجازه وغوښته فاطمې ؓ وویل چه دننه تشریف راوړئ رسول ﷺ وویل له ماسره بل نفر هم سته پوښتنه وسوه چه څوک ده؟ رسول ﷺ وفرمایل عمران ؓ فاطمې ؓ وویل په خداې قسم چه مایوازې په یوڅادرکې ځان پټ کړې ده رسول ﷺ دلاس په اشاره سره ورته وفرمایل داسې داسې فرده وکه هغې ورته وویل چه په دې ترتیب سره خوزماتن پټیږي مګرسر مې لڅ پاته کیږي رسول ﷺ یو زوړ څادر ورکړ ورته ویې ویل په دې سره خپل سرپټ که له دې وروسته رسول ﷺ کورته تشریف یووړ له سلام څخه وروسته یې پوښتنه وکړه لورې! څنګه یې؟ هغې وویل پلاره زه په ډیرتکلیف کې یم یودناروغې تکلیف ده اوبل دلوږې تکلیف ده له ماسره دومره شي نسته چه ویې خورم اولوږه مې ختمه کې محمد ﷺ چه دهغې داخبرې واوریدې له سترګو څخه یې اوښکې توې سوې ورته ویې ویل اې لورې هیڅ پروامه کوه په خداې قسم چه زماله خپل رب ﷻ سره لوې مقام ده هرڅه چه غوارم ماته یې ضرور راکوي لیکن ماتر دنیاآخرت ته ترجیح ورکړې ده بیا رسول ﷺ د فاطمې ؓ پراوږو لاس کښیښو وي اوورته ویې فرمایل خوشحاله اوسه ته دجنتې ښځوسرداره یې هغې پوښتنه وکړه حضرت آسیه اومریمه ؓ به چیرې وي؟ رسول ﷺ وفرمایل آسیه دخپلې زمانې دښځو اوته دخپلې زمانې دښځو سرداره یې تاسې به دجنت په داسې محلونوکې یاست چه هلته به هیڅ قسم غم اوتکلیف نه وي بیایې نصیحت ورته وکړ چه دخپل اکاله زوي سره ښه دخوشحالې ژوند کوه ماستا واده ددنیا او آخرت له سردار سره

کړي ده . **دپیسو پر جمع کوونکي څلورمصیبتونه نازلیږي** له حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت ده چه محمد ﷺ وفرمایل کله چه خلک له فقراوو سره دښمني وکي دنیاوي شان اوشوکت ښکاره کي دپیسو په جمع کولوکي خپل ژوند وقف کي الله ﷻ پرهغوي څلورمصیبتونه نازلوي اوچ کالی، ظالم باچا، خاین حاکم، اوددښمن ېیره، له حضرت ابوالدرداء رضي الله عنه څخه روایت ده چه له یوو درهم لرونکي څخه ددوو درهمولرونکي حساب زیات اوګران ده .

**دحضرت سعیدبن عمر رضي الله عنه ژړا اوفریاد،** حضرت عمر رضي الله عنه سعیدبن عامر رضي الله عنه ته زر دیناره ولیږل حضرت سعید رضي الله عنه په خپل کورکي په ډیرغم سره داخل سو دهغه رضي الله عنها ښځي پوښتنه وکړه چه څه خبره ده ؟ سعید رضي الله عنه وویل ډیره غټه خبره ده دایې وویل بیاپرلمانځه ودریدي ترسهاره پورې یې دالله ﷻ عبادت وکړ بیایې وفرمایل ماله محمد ﷺ څخه اوریدلي چه زمادامت فقران به له مالدارانو څخه پنځه سوه کاله مخکي جنت ته ځي که کم مالدارسړي دهغوپه ډله کي شامل سي هغه ترلاس نیسي اولیري کوي یې له حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت ده چه دري کسان به جنت ته ځي :یوهغه سړي چه دجامو دپریوللو اراده لري مګر نوري داسي جامي نلري چه هغه واغوندي اودانوري پریولي .هغه سړي چه پرنغري باندي دوي کتوي نه پخوي هغه سړي چه وچاته دچښلو دعوت ورکي پوښتنه ځني ونه کي چه ته څښی چښي .

**حضرت سفیان ثوري رحمه الله له فقرانو سره ډیره مینه درلوده،** دسفیان ثوري رحمه الله په مجلس کي یو غریب حاضرسو هغه رحمه الله ورته وویل رامخته سه که ته مالدار واي نومابه دراتلو اجازه نه واي درکړي له غریبانوسره دهغه رحمه الله دډیري میني له وجه به دهغه رحمه الله دوستانو داخواهش کوو چه کاشکي موږ هم غریبان واي دموئل رحمه الله بیان ده چه دحضرت سفیان ثوري رحمه الله په مجلس کي ترغریب زیات عزتمند اوترمالدار زیات خوارسړي نه لیدل کیږي دیوهوښیارسړي قول ده چه یوانسان څومره له غریبي څخه ېیریږي که هغه له دوږخ څخه ېیریدلای واي نوله دواړو څخه به یې نجات پیداکړي واي څومره چه په ظاهر کي له خلکو څخه ېیریږي که له الله ﷻ څخه دومره وېیریږي نوبه دواړو جهانوکي به نیکبخته سي دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما قول ده چه څوک دمالدار عزت اودفقیر سپکاوي کوي هغه ملعون ده حضرت لقمان علیه السلام خپل زوي ته په یونصیحت کي وویل دزړو جامو په وجه څوک حقیر مه ګڼه ځکه چه ستا اودهغه رب ﷻ یو ده حضرت یحیی بن معاذ رحمه الله وایې چه له فقراوو سره ستاسې محبت درسولانو له صفاتو څخه یوصفت ده دهغو ومجلسوته راتګ دنیکانو اوځني تښتیدل دمنافقانو نښه ده په ځینو پخوانیو کتابونوکي دي چه الله ﷻ ځینو پیغمبرانوعلیهم السلام ته وحي ولیږله چه زماله دښمني څخه وېیریږئ که ماله تاسوسره دښمني وکړه نوتاسي به دعزت له مرتبي څخه لیري سئ اوپرتاسو به دمال اودولت باران وکم یعني دمال اودولت ورکړه دالله ﷻ په نزد دبي قدرئ اوبي عزتئ سبب ده حضرت معاویه رضي الله عنه ابن عامر رضي الله عنه اونورو اصحابو حضرت عائشي رضي الله عنها ته یولک درهم ولیږل هغي رضي الله عنها هغه ټول په یوه

ورځ تقسیم کړل حال دا چه دهغې (رض) په پوړني کي پیوندونه لګیدلي وو دهغې (رض) مینځي
وویل چه ستاروژه وه که تاماته له دغه پیسو څخه یودرهم راکړي واي مابه تاته له بازاره غوښي
راوړي وي روژه به دي په ماته کړي واي عائشې (رض) چه دهغې داخبري واوریدي نوویې فرمایل
که تایوځل مخکي راته ویلي واي درکړي به مې واي.

**حضرت عائشې (رض) ته دمحمد ﷺ وصیت** حضرت محمد ﷺ حضرت عائشې (رض) ته
وصیت وکړ که له ماسره دملاقات امید لري نو دفقراوو په شان ژوند خپل که دمالدارانو له محفل
څخه لیري اوسه پړوني ترهغه وخته له سره مه ایسته کوه ترڅوچه دي ډیري پیني نه وي ورته
لګولي یوسړي ابراهیم ادهم (رح) ته لس زره دیناره ورکړه په عاجزي سره یې ورته وویل تاسي
داقبول کئ هغه انکار وکړ او ورته ویې ویل ایاته دلس زره دینارو په عوض کي زمانوم دفقراوو له
دفتر څخه کاټوي ؟ په خداي قسم چه زه هیڅکله هم داسي نه کوم نبوي فرمان ده چه دهغه چالپاره
زیري ده چه داسلام په دین باندي خپل ژوند تیرکي په معمولي ګذاره باندي خپل قناعت وکي
نبوي ارشادده اي فقراوو اتاسي دزړه له کومي دالله ﷻ په رضاباندي راضي اوسئ تاسوته به
دفقر ثواب درکړل سي کنه وي نونه درکول کیږي دالله ﷻ په نعمت راضي سئ دالله ﷻ په رضا
راضي سئ ددي مطلب داده چه حریص فقیرته دفقر ثواب نه ورکول کیږي مګر له ځینو
احادیثو څخه داهم معلومیږي چه هغه ته دفقر ثواب ورکول کیږي شاید دعدم رضا څخه دا مطلب
وي چه پرهغه باندي دالله ﷻ له طرفه مال بندول بدوګني ددنیادیر طالبان هم داسي دي چه کله هم
له الله ﷻ څخه منکریدل نه خوښوي ځکه دهغوپه طلب کي څه بدي نسته لیکن اولني خبره اعمال
تباه کوي چه دالله ﷻ له طرفه مال نه ورکول بدوګني له حضرت عمر (رض) څخه روایت ده چه نبي
کریم ﷺ وفرمایل دهرشي لپاره یوه کیلي وي د جنت کیلي له مسکینانو سره محبت ده دخپل صبر
په وجه دقیامت په ورځ الله ﷻ ته قریب وي له حضرت علي (رض) څخه روایت ده چه محمد ﷺ
وفرمایل الله ﷻ ته هغه بنده ترټولو زیات محبوب ده چه فقیر وي دالله ﷻ په رضا راضي وي
دالله ﷻ په ورکړسوي رزق قانع وي محمد ﷺ دعاوکړه چه یاالله ﷻ دمحمد ﷺ دکورنۍ
رزق دي په اندازه سره وي او ویې فرمایل دقیامت په ورځ به کم فقیر او مالدار داسي نه وي چه
داتمنا وکي کاشکي ماته په دنیاکي دخوراک مطابق رزق راکول سوي واي الله ﷻ اسماعیل (ع)
ته وحي وکړه چه ماپه شکسته دلانو کي لټوه هغه (ع) پوښتنه وکړه چه یاالله ﷻ داخلک څوک
دي؟ الله ﷻ ورته وفرمایل دا بېنتني فقراء دي نبوي فرمان ده چه دالله ﷻ په رضا باندي راضي
فقیر څخه زیات فضیلت دابل څوک نسته نبوي فرمان ده چه الله ﷻ د قیامت په ورځ فرمایي چه
په مخلوق کي زما د. ستان چیري دي؟ ملائکي به عرض وکي یا الله ﷻ ستا دوستان څوک دي؟
الله ﷻ ورته فرمایې هغه مسلمان فقراء دي چه زماپر ورکړه قانع وو زماپه رضاباندي راضي وو
هغه په جنتي داخل کئ خلک به لاپه خپل حساب او کتاب کي سرګردانه وي دوي به بیاپه جنت

کي خوراک اوڅښاک کوي. **قناعت اوالهي رضا**: د قناعت او رضا په اړه ډیر زیات احادیث وارد سوي دي. داخبره په ذهن کي ونیسئ چه د قناعت ضد حرص او طمع ده د حضرت عمر رضي الله عنه فرمان دی چه طمع تنګ دستي او قناعت مالداري ده هرڅوک چه طمع نکوي او قناعت کوي هغه له خلکو څخه بې پروایي کولای سي له حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چه هره ورځ یوه ملائکه له عرش څخه اواز کوي چه اي انسانه! له ګمراه کوونکي زیات مال څخه لږ کفایت کوونکي مال ښه دی د حضرت ابوالدرداء رضي الله عنه قول دی چه هرانسان چه په عقل کي کمزوري وي کله چه هغه ته مال زیات راسي هغه ډیر زیات خوشحالیږي ملګرتیا نسي او ورځي ګردش چه د ده عمر کموي په هغه نه خفه کیږي اي انسانه! افسوس دی تاته د مال زیاتوب هیڅ ګټه نه رسوي په داسي حال کي چه ستا عمر کمیږي. **هغه څوک دی** له یو هوښیار سړي څخه د غنا په اړه پوښتنه وسوه هغه جواب ورکړ چه په لږ امیدونو او معمولي رزق باندي قناعت کول غنا ده روایت دی چه ابراهیم ادهم رحمه الله د خراسان د امیرانو څخه و یو وخت هغه له خپل محل څخه د باندي وواتي پر یو سړي یې سترګي ولګیدي هغه سړي په لاس کي یوه ډوډۍ نیولې وه هغه ډوډۍ یې وخوړه او ویده سو هغه رحمه الله خپل یو غلام ته وویل کله چه دا سړي راویښ سي نو زما خواته یې راوله هغه چه راویښ سو دده خواته یې راوستي هغه رحمه الله پوښتنه څني وکړه چه اي ځوانه ته وږي وې ایا په ډوډۍ موړ سوي؟ هغه ځوان ورته وویل هو موړ سوم هغه رحمه الله په زړه کي فکر وکړ چه زه به نور سرګردان نه ګرځم انساني نفس خو په یوه ډوډۍ هم قناعت کولای سي یو سړي عامر بن عبدالقیس رحمه الله په داسي حالت کي ولیدی چه له مالګي سره یې سبزي خوړل هغه ورته وویل اي دالله ﷻ بنده ایاته په دومره لږ شي قانع یې؟ هغه وویل هرڅوک چه په دې لږ شي قانع سي هغه ته دیوشي زیږي ورکول کیږي چیایې د فرمایل څوک چه په دنیا باندي راضي سي هغه ته آخرت په لاس نه ورځي څوک چه دنیا پریږدي هغه ته آخرت په لاس ورځي محمد بن واسع رحمه الله به د مالګي له اوبو سره ډوډۍ خوړله فرمایل به یې څوک چه په لږ شي باندي قانع سي هغه هیڅ شي ته نه محتاجیږي د حضرت حسن رحمه الله قول دی چه الله ﷻ پر داسي خلکو باندي لعنت کړي دی چه په خپل قسمت باندي خوشحاله نسي بیا هغه رحمه الله دا آیت شریف ووایه،

وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ فَوَرَبِّ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِنَّهُ لَحَقٌّ سورة الذاريات . **ژباړه**: ستاسي رزق په اسمانو کي دی هغه شي چه له تاسو سره یې وعده سوي ده د آسمان او ځمکي په رب ﷻ قسم چه هغه حق دی حضرت ابوذر رضي الله عنه یو وخت په خلکو کي ناست وو ښځه راغله ورته ویې ویل ته دلته له خلکو سره ناست یې په کور کي د خوراک او څښاک هیڅ شي نسته هغه رضي الله عنه ورته وویل تاته معلومات نسته چه زموږ په وړاندي ډیري مشکلي لاري دي له دې لارو څخه هغه څوک نجات پیداکولای سي چه د چاپار سپک وي هغې چه دا خبري واوریدي نو بېرته خوله بیرته خپل کورته ولاړه د حضرت ذوالنون رحمه الله قول دی چه بې صبره وږي سړي کفرته ډیر نژدې وي له یو هوښیار سړي

څخه پو ښتنه وسوه چه ستا مال او دولت څښي دي ؟ هغه جواب ورکړ چه ظاهري صفايي په زړه کي نيکي او دخلکو له مال څخه بې پروايي روايت ده چه الله ﷻ په سابقه کتابونو کي فرمايلي دي چه اې انسانه که تاته ددنياټول دولت په لاس درغي بيابه هم تاته دومره دوډۍ رسيده لکه څونه چه تاته اوس مادرکړي ده ددي حساب مي دبل چاپه غاړه اچولي ده دامې پرتا احسان کړي ده له الله ﷻ څخه يې غواړه خود خلکو څخه يې مه غواړه دهغو له مال څخه ځان غني که قناعت خپل که ځکه چه د خلکو څخه په طمع کولوکي بې عزتي ده له هردوست اوپردي څخه ځان پردي که ځکه چه له خلکو څخه بې نيازي مالداري ده يوشاعر څومره ښه ويلي دي:اې دمال اودولت جمع کوونکي! زمانه دهرچامقدرويني ته به دچاچا دروازه بنده کي؟ په دي فکرکي يې چه کم کم اميدونه به پوره کيږي ياپه دي سره مشکلات دي که اساني ته به هغه پريږدي، اې دمال جمع کوونکي! تادولت جمع کړي ده ماته ووايه چه تاددي دخرڅولو لپاره خپلي ورځي هم جمع کړي دي که؟ اياستاپه خپل ژوند باور ستله که يا؟ دولت له تا سره دوارثانو خزانه ده دالله ﷻ په لاره کي دخرڅ سوي مال څخه پرته ستابل هيڅ مال نسته کله چه يو ځوان په دي خبره اعتماد کوي چه کم ذات رزق تقسيم کړي ده هغه ماته هم رزق راکوي نوبه دهغه عزت محفوظ پاته کيږي هغه هيڅکله هم نه رسوا کيږي نه دهغه مخ بې رونقه کيږي کوم سړي چه قناعت وکي پرهغه کله هم دغم سايه نه پريوزي.

## پنځه ديرشم باب دالله ﷻ بغير بل څوک خپل دوست نيول اودقيامت ورځ

له کفارو سره ولاړه مه کوه الهي فرمان ده چه : ولاتركنوا الي الذين ظلموا فتمسكم النار سورة البقره.

ژباړه: دځينو مفسرينو قول ده چه اهل سنت په دي خبره متفق دي چه(رکون)دمطلقي ميلان اوتوجه نوم ده که لږ وي او که زيات دعبدالرحمن بن يزيد رحمه الله قول ده چه له دي څخه مراد داده چه له کفارو سره نيکي مه کوئ دآيت شريف ظاهري معنى ده چه له کفارو او بدکارو خلکو سره ناسته اوولاړه مه کوئ حضرت نيشاپوري رحمه الله په خپل تفسيرکي ليکي چه درکون څخه مراد دکفر ښه ګڼل دهغوي کارونه ښه ګڼل اودنورو په مخکي دهغوي صفت کول دګمراهي په کارونوکي دهغوي ملګرتياکول مګر که دهغو دظلم دبندولو ياله هغو څخه دګټي دترلاسه کولولپاره ناسته ولاړه وسي نوبياخيرده ليکن زمافکر داده چه دمعاش دطلب اومزدورۍ په خاطر له هغو سره ناسته ولاړه خوجائز ده مګر دتقوي تقاضاء داده چه له هغو څخه بالکل ليري اوسه اياالله ﷻ دخپلو بندګانو دمشکلاتو دحل کولو لپاره کافي نه ده؟ زه وايم چه دامام نيشاپوري قول بالکل صحيح ده نن صباخوپه خاص دول ددي خبري ضرورت ده چه له کفاروسره دي اړيکي پاي ته ورسيږي ځکه چه په دي فاسدور کي دنيکۍ حکم کول اوله بديو څخه منع کول ناممکن دي همداراز دکفارو ظلم تردي اندازي پوري رسيدلي ده چه له هغوسره ناسته ولاړه مسلمانان په هلاکت کي اچوي ستاسي دهغه شخص په باره کي څه خيال ده چه هغه له ظالمانو اومشرکانو سره محبت کوي

دهغو دشراب چښل، دحرام کاري په محفلونو کي کډون کوئ دهغوي ددوستي پوره تقاضا، کوئ دهغو داوسېدو طريقې خپلوي دهغو په شان لباس اغوندئ حال داکه سړي حقيقت ته وګوري داهرڅه دمځ تروزر هم بې قدره دي نبوي فرمان ده چه انسان دخپل دوست پردين باندي وي تاسي وګورئ چه ستاسي دوست څوک ده ؟ روايت ده چه ښه دوست دعطر فروش په شان وي که هغه عطر درنه کي خوشبويي خويږي درته راځي دبد ملګري مثال دآهنګرپه شان ده که هغه تاونه سوځي خودهغه دبټي دود به خامخا تاته رسيږي جامي به درخيرني کي اوتنفس ته دي نقصان رسوي. **دالله ﷻ بغير بل څوک ولي مه ګرځوئ** الله ﷻ فرمايي: ﴿مَثَلُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ أَوْلِيَاءَ كَمَثَلِ الْعَنكَبُوتِ اتَّخَذَتْ بَيْتًا﴾ سورة العنكبوت آية (٤١). **ژباړه:** دهغو خلکو مثال چه له الله ﷻ څخه بغير بل څوک دوستان نيسي دهغه غڼي او جولاګي په شان ده چه کوريې جوړکړي وي (هغه ډير کمزوري وي) نبوي فرمان ده چه هرڅوک دچاعزت دهغه دمالداري اودولت په لحاظ کوي دهغه دوي حصي ايمان ضائع سو نبوي فرمان ده چه کله دکم فاسق صفت کيږي الله ﷻ ډير زيات خفه کيږي دالله ﷻ عرش لړزيږي الله ﷻ فرمايي: ﴿يَوْمَ نَدْعُو كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ﴾ سورة الاسراء آية (٧١). دقيامت په ورځ ټول انسانان دهغو له امامانو سره يوځاي راغوارو دمفسرينو رحمه الله عليهم ترمينځ دامام په باره کي اختلاف ده دحضرت ابن عباس رضي الله عنه اودهغه ملګري له امام څخه عمل نامي مرادوي لکه الله ﷻ چه فرمايي: ﴿فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ﴾ سورة الحاقة آية (١٩). **ژباړه:** کوم سړي ته چه په راسته لاس کي عمل نامه ورکول سي دحضرت يزيد رحمه الله قول ده چه له امام څخه مراد دالله ﷻ کتابونه دي اوخلکو ته به ويل کيږي اي تورات والاوو، اي انجيل والاوو، اي قرآن والاوو، دحضرت مجاهد رحمه الله قول ده چه له امام څخه مراد نبي ده خلک داسي رابلل کيږي چه اي دابراهيم عليه السلام اتباع کوونکو، اي د موسي عليه السلام اتباع کوونکو، اي دعيسى عليه السلام اتباع کوونکو، اي دمحمد ﷺ اتباع کوو نکوراسئ، دحضرت علي کرم الله وجهه قول ده چه له امام څخه مراد دعصر امام ده چه دهغه په حکم سره يې کارونه کول له حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت ده چه محمد ﷺ فرمايلي دي چه الله ﷻ د قيامت په ورځ ټول مخلوق راجمع کوي هريوو ته بيرغ ورکول کيږي اوورته ويل کيږي چه داد فلانکي ولدفلانکي دخيانت بيرغ ده په ترمذي اونورو کتابونوکي دحضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت ده چه محمد ﷺ ددي آيت په تفسير کي وفرمايل له خلکو څخه به يوسړي راوغوښتل سي دهغه په راسته لاس به دهغه عمل نامه ورکول کيږي دهغه قد شپيته لاسونه قدر لوړيږي لکه ادم عليه السلام چه وو اوپرسرېې دملغلرو يوځليدونکي تاج ښوول کيږي د هغه مخ به دومره ښايسته کيږي چه دلمرپه شان به ځليږي بياهغه دخپلو دوستانو خواته ورځي چه هغه به يې له ليري ځاي څخه ويني اوبه وايي ياالله ﷻ داراته راوله اوبرکت پکښي واچوه کله چه ورته رانژدي سي نودوي به ووايي ياالله ﷻ موږ ته هم داسي مقام او مرتبه راکي کله

چه هغه ددوي خواته ورسیږي نوورته ووایي چه تاسوته دي زیري وي تاسو ته هم داسي مقام اومرتبه درکوي دکافر مخ به توریږي قدیې دشپیتو لاسو په اندازه اوږدیږي پرهغه دظلم تاج اینبوول کیږي هغه به خپلو ملګروته راځي هغه چه داوګوري نووبه وایي اي الله ﷻ داسړي رسواکه هغه کافر وایي الله ﷻ تاسي له خپل رحمت څخه لیري کړي یاست له تاسوڅخه به له هریوسړي سره زمایه شان سلوک کیږي،

إذَا زُلْزِلَتِ الأَرْضُ زِلْزَالَهَا وَأَخْرَجَتِ الأَرْضُ أَثْقَالَهَا سورة الزلزال **ژباړه**: کله چه مځکه په زلزله سره وښورول سي هغه خپل بارراوباسي حضرت ابن عباس رضي الله عنه ددي آیت په تفسیرکي فرمایي چه مځکه له لاندي څخه ښوري په نس کي چه یې څومره خزاني اومړي دي هغه ټول دباندي راباسي

دحضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت ده چه محمد ﷺ داآیت شریف ووایه يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا په هغه ورځ مځکه خپل خبرونه بیانوي اووي فرمایل ایاپوهیږئ چه دهغي خبري څه دي ؟ اصحابو رضي الله عنهم عرض وکړ الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ ښه پوهیږي رسول ﷺ وفرمایل هغه به دهغه سړي اوښځي په اړه خبري کوي چه ددي پرسریې کم عملونه کړي دي دطبراني حدیث ده چه محمد ﷺ وفرمایل پرمځکه له ګناه کولو څخه پرهیز وکړئ هغه ستاسي مور ده هرڅوک چه پردي باندي کم عمل کوي دقیامت په ورځ هغه داخبر بیانوي اوښکاره کوي یې .

## شپږ دیرشم باب

## نفخ، صور، اجساد، حشر، اوبعث بعدالموت

دنبي ﷺ فرمان ده چه زه به څنګه سکون حاصل کړم حال داچه حضرت اسرافیل علیه السلام سور شپیلۍ په خوله کي نیولي ده سریې ټیټ کړي ده اوغوږونه یې دالله ﷻ وحکم ته متوجه کړي دي چه کله به ورته دشپیلۍ حکم کیږي .

**نفخ صور**: دجناب مقاتل رحمه الله قول ده چه صور دښکرپه شان ده حضرت اسرافیل علیه السلام سرناپه شان خپلي خولي ته نژدي نیولي ده ددي دسرګولاتي یادائره دآسمان اومځکي داوږد والي په اندازه ده حضرت اسرافیل علیه السلام سترګي پورته نیولي الله ﷻ ته ګوري چه کله دالله ﷻ له طرفه دشپیلۍ پوه کولوحکم کیږي چه کله اول وارشپیلۍ وهل کیږي نودزیات تکلیف په وجه د جبرائیل علیه السلام، اومیکائیل علیه السلام، اسرافیل علیه السلام، اوعزرائیل علیه السلام، څخه پرته نورټول ساه کښوونکي هلاکیږي بیاعزرائیل علیه السلام ته حکم کیږي چه دهغو درو ملائکو روحونه قبض کړي له دي وروسته عزرائیل علیه السلام هم له خپل روح څخه محرومه کیږي اومري کله چه دشپیلۍ له پوه کولو څخه څلویښت کاله تیرسي الله ﷻ اسرافیل علیه السلام بیرته ژوندي کوي هغه راپورته کیږي اودوهم وارشپیلۍ پوه کوي لکه الله ﷻ چه فرمایي،

ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُم قِيَامٌ يَنظُرُونَ .

**ژباړه**: بیادوباره شپیلۍ پوه کول کیږي هغه په خپلو پښو دریږي دوباره ژوندي کیدل وینې نبوي حدیث ده چه له کومه وخته څخه اسرافیل علیه السلام پیداسوي ده له هغه وخته شپیلۍ دهغه په خوله کي

ده هغه یوقدم مخته یوقدم شاته ایښی ده ولاړده دالله ﷻ دحکم انتظار کوي هوښاراوسئ دښیلی دپوه کولو له وخت څخه ویریږئ په هغه وخت کي دخلګو دذلت اوعاجزي تصور وکړ کله چه دوهم وار شپیلی پوه کي هغه به ودریږي دخپل ځان دښویادبدو دفیصلي په انتظار به ولاړوي که څوک په دنیاکي اسوده اودولت مند یې نوپوه سه چه ددي ورځي باچاه به ترټولو مخلوق زیات ذلیل اوخواروي دمیږي په شان به تر پښولاندي کیږي په هغه ورځ دغرونو او ځنګلونو ټول داړونکي حیوانان ددي ورځي دوهم له کبله خپل سرونه ټیټ نیولي وي اودخلګو په منځ کي به ګرځي دوي دخپلي ګناه په وجه نه بلکه دښیلی دتاثیري اواز له کبله ژوندي کیږي هغه به له خلګو څخه ډیره نه محصوسوي لکه الله ﷻ چه فرمایي : ﴿وَإِذَا الْوُحُوشُ حُشِرَتْ﴾ سورت التکویر آیت(۵). ژباړه: کله چه وحشي حیوانان ژوندي سي بیاسخت نافرمان شیطان دخپلي نافرماني او سرکښي څخه وروسته دالله ﷻ په مخکي په ډیر ذلت سره حاضریږي لکه الله ﷻ چه فرمایي :

فوربک لنحشرنهم والشیطین ثم لنحضرنهم حول جهنم جثیا . ژباړه: قسم ده ستاپه رب چه موږ هغه له شیطانانو سره یوځاي کوو بیاموږ هغه دجهنم شاوخواته پرځنګنوپراته حاضره وو لږ څه فکروکړئ چه په هغه وخت کي به ستاڅه حال وي چه کله خلک له قبرونو څخه راپورته کیږي لڅ بدن اولڅي پښي دقیامت په میدان کي چه صفاستره اوهواره مځکه وي راسي دپټید و لپاره نه غونډۍ وي نه غروي نه بل داسي غاروي بلکه هواره مځکه به وي خلک به داسي دلي دلي ورته راوسل کیږي بیشکه ذوالجلال رب ﷻ دعظیمو قدرتونو مالک ده چه دهرکنج اوکناري څخه ټول مخلوق یوو میدان ته راټولوي په هغه وخت کي به زړونه ډیریدلي اوسترګي به ذلیله وي . **دقیامت په باره کي دمحمد ﷺ ارشادات**: دنبي کریم ﷺ ارشاد مبارک ده چه دقیامت په ورځ به خلک په یوو صفا اوهوار میدان کي ودرول سي چه دهرقسم غرونو، بوټو، اوغونډیو، څخه به پاک وي دامځکه به ددنیا دمځکي په شان نه وي بلکه په نامه مځکه ده لکه الله ﷻ چه فرمایي :

﴿يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ﴾ سورة ابراهیم آیت(۴۸). ژباړه: په دي ورځ به مځکه او اسمانونه په بل شکل بدل سي دحضرت ابن عباس رضی الله عنه قول ده چه په دی مځکه کي به کمي یازیاتي وسي ددي غرونه، دریابونه، درختي به ختم سي هغه به دعکاظ دمیدان په شان ښکاره سي هغه به بالکل صفا میدان وګرځي چه نه به څوک ورباندي وژل سوي وي نه به بله ګناه ورباندي سوي وي اسمان، لمر، سپوږمی، ستوري، دابه ختم سي اې ناتوان انسانه لږ څه فکر اوسوچ وکه چه دهغي ورځي وهم به څومره لوي وي؟ ټول ستوري به ختم سي دلمر اوسپوږمی دنه وجودوالي له وجه به مځکه ټوله په تیاره کي دوبه وي په دي وخت کي به اسمان وچوي دهغه دچودن هیبتناک اواز به ستاپه غوږو کي خوف(ډیره) پریږدي اسمان به دویلي سوي ژړي قلعي په شان لاندي وبهیږي دسرو تیلو په رقم به سي غرونه به ایري سي خلک به لڅي پښي دوري دوري پریشانه ګرځي دمحمد ﷺ حدیث

شریف ده چه خلک لڅې پښې اولڅ بدن پورته کیږي په خپلو خولو کې به ترغوړو ډوب وي ام المؤمنین حضرت سودي ﷺ عرض وکړیارسول الله ﷺ څنګه عبرتناک منظر به وي چه موږ یو اوبل لڅ سره وینو ؟ رسول ﷺ وفرمایل هرڅوک به په دي ورځ بیهوښه وي هیڅوک به یوبل ته نسي کتلاي ځکه چه خلک به په مختلفو صورتونو اوشکلونو کې روان وي ځیني به پرښس روان وي اوځیني به پرمخي روان وي هغه به یودبل په کتلونه پوهیږي .

**دقیامت دورځي حالتونه**:له حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت ده چه محمد ﷺ وفرمایل دقیامت په ورځ به دخلګو دري حالته وي :سپاره، پیاده، اوپرمخي تلونکي ، یوو سړي پوښتنه وکړه پرمخي به خلک څنګه ځي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل کم ذات چه خلک پرپښورو انولي سي هغه یې پرمخي هم روانولي سي دانسان په طبیعت کي دانکار ماده ډیره زیاته ده کم شي چه نه ویني دهغه انکارکوي که انسان مار دتلوپه حالت کي پرښس باندي نه واي لیدلي هغه به هیڅکله هم دانه واي منلي چه انسان پرښس تګ اوراتګ کولاي سي ځکه تاسوته په کارده چه قیامت پردنیا قیاس نه کړئ لږ څه فکر وکړئ چه په هغه ورځ به ستاسي څه حال وي په کمه ورځ چه تاسي لڅ لغړ ولاړ یاست دخپلي بدي اوښي فیصلي انتظار به کوئ .

**دحشر دمیدان حالت**، دمخلوق دازدحام اوګڼي ګوڼي په اړه لږ څه فکر وکړئ چه دمحشر په میدان کي به داسمان اوځمکي ټول مخلوق ملائکي، پیریان، انسانان، شیطانان، حیوانان، اومرغان ټول یوځاي راجمع سوي وي بیابه لمراپورته سي دلمردګرمۍ له وجه به ډیر خلک په غم اوپه تکلیف اخته وي دهغه لمر ګرمي به دوچنده وي دخلګو پرسربه نژدي ولاړوي په دي ورځ به دالله ﷻ له عرشه بغیر بله سایه نه وي په هغه سایه کي به نیک خلک ولاړوي خلک به یوبل لیري کوي چه ګنه ګوڼه کمه سي په دي ورځ به خلک دالله ﷻ په حضورکي دحاضریدو په وجه ډیر ذلیل اوپریشانه وي په دي وخت کي به دلمرګرمي، دډیرو انسانانودساه ګرمي، د الله ﷻ دیري ګرمي، په زړونوکي دپښیمانتیاګرمي، به وي له هرپښته څخه به خوله روانه وي تردي حده ګرمي به وي چه دقیامت په ګرمي به میدان لوندسي هغه به هریو د خپلي ګناه پربرابرپه خولو کي ډوب وي ځیني خلک به ترزنګنو پوري ، ځني خلک به تر نامه اوغوږو پوري په خولوکي ډوب وي له حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت ده چه محمد ﷺ فرمایلي دي چه دقیامت په ورځ به دخلګو خوله اویا درجي پورته سي هغه به ترغوږو پوري رسیږي داحدیث بخاري اومسلم رانقل کړي ده په بل روایت کي دي چه خلګو به ترڅلوېښت کاله پوري سترګي وآسمان ته نیولي وي دډیر تکلیف په وجه به دهغو خوله ترغوږو پوري رسیدلي دي اې کمزوري انسانه! لږڅه دقیامت داخطرناک حالت درپه زړه که په دي کي به داسي خلک هم وي چه وایي به یاالله ﷻ موږ ته له دي حالت څخه نجات راکه که څه هم دوږخ ته مواستوي ایاته به هم په هغو خلګو کي یې؟ تاته معلومه ده چه ته به څومره په خولوکي ډوب یې؟ هرانسان چه دهغه خوله دحج، جهاد، لمونځ، روژه، د مسلمانانو

خدمت، دنیکی حکم. اوله بدیو څخه په منع کولو کې ونه بهیږي دقیامت په ورځ به دیږي ا
شرمندګی په وجه له هغه څخه ډیره زیاته خوله روانه سي په ډیر تکلیف کې به راګیروي که انسا
له جهالت څخه کار وانخلي بنه غور وکي هغه ته به دا معلومه سي چه په عباداتو کې سختې
برداشت کول دقیامت تر سختې اسان کار ده.

## اووه دیرشم باب دمخلوق فیصلي

مفلس څوک ده؟ له حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت ده چه محمد ﷺ وفرمایل ایا تاسو ته
معلومه ده چه مفلس څوک ده؟ موږ ورته وویل چه مفلس هغه ده چه له هغه سره مال، دولت
پیسي، نه وي رسول ﷺ وفرمایل مفلس هغه څوک ده چه دقیامت په ورځ دروژو، لمنځو، زکاتو
اونورو اعمالو سره حاضر سي مګر هغه چاته بنکنځل کړي وي دچاغیبت یې کړي وي دچامال یې
په ناحقه خوړلي وي څوک یې په ناحقه وژلي وي پرچایې ظلم کړي وي دچاعزت یې تر پښو لاندې
کړي وي دهغه ټولي نیکیاني به پرهغو تقسیم سي کله چه د هغه نیکیاني ختمې سي نو دهغو
ګناهونه به پرده واچول سي هغه به په جهنم کې واچول سي اې انسانه لږ څه فکر وکه په هغه ورځ به
ستاڅه حالت وي ستاسره داسې کمه نیکې نسته چه تا له ریا اوشیطاني وسوسو څخه پاکه ترسره
کړي وي که تاپه ډیر وخت یو نیکي کړي وي هغه هم ستادښمن درڅخه اخلي شاید تادخپل نفس
سره حساب کړي وي اوتاته معلومه سوي وي چه که څه هم تاټوله شپه په عبادت کې اوټوله ورځ
په روژه تیره کړي وي مګر ستاژبه دخلکو دغیبت څخه نه ودریږي ستاد ټول عبادت بربادیږي له
دي پرته نور ګناهونه لکه دچامال په حرامه طریقه اخستل غصب اومشکوک شیان ګیدي ته اچول
دالله ﷻ په عبادت کې دکمي کوتاهي څخه څنګه نجات پیداکولاي سي په هغه ورځ هر یې بنکره
حیوان ته دبنکر لرونکي حیوان څخه دبدلي اخستو حکم کیږي هغه په خپله بدله ورڅخه اخلي له
حضرت ابوذر ﷺ څخه روایت ده چه محمد ﷺ دوي بزي یو دبله سره دجنګ په حالت کې ولیدي
هغه ﷺ له ما څخه پوښتنه وکړه اې ابوذره! ته پوهیږې چه دوي ولي داسي کوي؟ ما وویل یانه په
پوهیږم رسول ﷺ وفرمایل الله ﷻ بنه پوهیږي چه ولي یو دبل سره جنګ کوي بنکر په بنکرسوي
دي؟ الله ﷻ دقیامت په ورځ دهغوي فیصله کوي حضرت ابوهریره ﷺ دقرآن کریم ددي آیت په
تفسیر کې فرمایي،

وما من دابة في الارض ولا طائر يطير بجناحيه الاامم امثالكم.

چه دقیامت په ورځ ټول مخلوق، حیوانان، درندګان، پرندي، اونور ټول راپورته کیږي هرچاته
انصاف ورکول کیږي تردي چه وبي بنکره حیوان ته له بنکرور حیوان څخه بدله ور کول کیږي
یاورته ویل کیږي چه تاسي خاوري سئ په دي وخت کې به کافران ووایې کاشکې موږ ته هم
دخاوري کیدو حکم سوي واي لکه الله ﷻ چه فرمایي، یا لیتني کنت ترابا

اي انسانه په هغه وخت کي چه ستاعمل نامه دنيکيو څخه خالي وي له بديو څخه به ډکه وي حال داچه تاپه دنياکي دهغو دحاصلولو لپاره ډير تکليف کړي وو ته به ووايې اي الله ﷻ داګناهونه خو مانه ووکړي تاته به وويل سي دادهغو خلګو ګناهونه ستاپه عمل نامه کي ليکل سوي دي دچاچه تاغيبت کړي وو ښکنځل دي ورته کړي وو په ګذاره اوهسايه توب کي دي بد سلوک اوبې ايماني توب ورسره کړي وو دحضرت ابن مسعود ؓ څخه روايت ده چه محمد ﷺ و فرمايل شيطان په جزيرة العرب کي دبت پرستۍ څخه نااميده سو ليکن ژر ده چه هغه به په تاسي داسي بداعمال ترسره کي ګناه وي به درباندي وکي څکه به دقيامت په ورځ داسي انسان هم وي چه دهغه نيکي به دغرونو په شان وي هغه به داخيال کوي چه ماخو نجات پيداکړ مګر انسانان به ورته راځي او وايي به چه اي الله ﷻ دغه سړي پرما ظلم کړي ده الله ﷻ به ورته وفرمايي چه دهغه نيکي ورکه تردي چه دهغه يوه نيکي به هم نسي پاته ددي مثال داسي ده لکه يو څو خلګ چه په سفرکي په صحراکي واروي له هغو سره لرګي نه وي شاوخوا وګرځيدل اولرګي يې راټول کړل مګر داور لګولو څخه مخکي له هغه ځايه څخه روان سول همدا حال دګناهونو ده کله چه داآيت شريف نازل سو،

إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِندَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ سورة الزمر.

حضرت زبير ؓ عرض وکړ چه يارسول الله ﷺ په دي دنياکي چه موږ پريو بل باندي تيري او ظلم کوو دهغه انتقام اخستل کيږي رسول ﷺ و فرمايل هو ترڅو هر مظلوم ته دهغه حق ورکول سي حضرت زبير ؓ و فرمايل په خداي چه دا ډير عظيم کار ده داسي عظيمه ورځ ده چه دچا يوه کوچنۍ ګناه هم نه بخښل کيږي هر مظلوم ته له ظالم څخه حق ورکول کيږي له حضرت انس ؓ څخه روايت ده چه محمد ﷺ و فرمايل چه الله ﷻ دقيامت په ورځ خلګ لڅ، غبارالوده، او خالي لاس راپورته کوي بيا الله ﷻ فرمايي دالله ﷻ دا اواز ليري او نژدي يو رکم او ريدل کيږي زه باچا يم هرچا ته دهغه دعمل په مطابق بدله ورکوونکي يم هيڅ يو جنتي جنت ته او هيڅ يو دوږخي دوږخ ته دعوض اوبدلي پرته نسي تلای تردي چه د معمولي عمل بدله هم ورکول کيږي موږ رسول الله ﷺ ته وفرمايل چه بدله څنګه ورکول کيږي خلګ خو به لڅ او خالي لاس وي رسول ﷺ و فرمايل له نيکيو او ګناهونو سره سره بدله ورکول کيږي څکه نو له الله ﷻ څخه ويريږئ دخلګو مال په نا روا توګه مه اخلئ دهغو عزتونه مه پايمالوئ زړونه يې مه ازاروئ بدسلوک مه ورسره کوئ ظلم مه باندي کوئ څکه چه کوم ګناهونه دالله ﷻ او دبنده په مينځ کي وي هغه ډيرژر معاف کيږي کم سړي چه دګناه کولو او پر خلګو باندي دظلم کولو څخه لاس اخستي وي هغه ته په کار ده چه نيکي وکي دقيامت لپاره ذخيره پيداکي له دي بغير داسي نيکي هم وکي چه دالله ﷻ څخه بغير بل څوک ورباندي پوه نه سي ممکن ده چه الله ﷻ په همدي برکت سره هغه ځان ته نژدي کي دمحبوبو مؤمنانو په ډله کي هغه شامل کي.

**دمعالي انعام**:له حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت ده چه مونږ له محمد ﷺ سره ناست وو محمد
ﷺ تبسم وکړ غاښونه یې ښکاره سول حضرت عمر رضي الله عنه عرض وکړ یارسول الله ﷺ زما مو
اوپلار دي ترتا قربان وي تاولي تبسم وکړ؟ رسول ﷺ وفرمایل زما دامت دري کسان به دالله ﷻ
په خدمت کي حاضرسي یوبه ووایي اي الله ﷻ ماته له دي سړي څخه انصاف راکه الله ﷻ ب
دوهم سړي ته ووایي چه ده ته خپل حق ورکه هغه به عرض وکي یاالله ﷻ زما په نیکیو کي څه نه دي
پاته الله ﷻ به انصاف غوښتونکي ته ووایي اوس ته څه وایې؟ هغه به ووایي یاالله ﷻ زما
گناهونه دهغه په غاړه کي واچوه دمحمد ﷺ مبارکي سترگي له اوښکو څخه ډکي سوي بیا یې
وفرمایل ښکه چه داورځ به ډیره سخته وي خلک دخپلو گناهونو بار اچولو ته پربل چاباندي
وارخطاوي الله ﷻ به هغه اول سړي ته ووایي لوړ جنت ته وگوره هغه به جنت ته وگوري اووبه
وایي مادسرو اوسپینو لوړ لوړ ځایونه ولیدل چه ملغلري پکښې لگول سوي دي دادکم نبي
صدیق اوشهیدلپاره ده؟ الله ﷻ به ورته ووایي څوک چه ددي قیمت ورکي هغه ته یې ورکوم هغه
سړي به ووایي یاالله ﷻ ددي قیمت به له چا سره وي؟ الله ﷻ به ورته ووایي له تاسره ددي قیمت
سته هغه داچه ته وداخپل ورور ته معافي وکه هغه به دي معاف کي اوورته وبه فرمایي دخپل
ورور لاس ونیسه اوجنت ته یې داخل که له دي وروسته محمد ﷺ وفرمایل له الله ﷻ څخه
ویریږي یودبل سره نیکي و کړئ الله ﷻ دقیامت په ورځ دمؤمنانو ترمنځ روغه کوي په دي
ارشادکي داتاکید کیږي چه انسان باید خپل اخلاق بهترکي له خلکو سره نیکي وکي اي انسانه لږ
غور وکه که ستا عمل نامه په دي ورځ له ظلمونو څخه پاکه وي یاالله ﷻ په خپل فضل یاکرم سره
تامعاف کي تاته دابدي سعادت یقین راسي نودالله ﷻ له عدالت څخه دواپس کیدو په وخت کي
به څومره خوشحاله یې ستاپریدن به دالله ﷻ درضالباس وي په ابدي شهادت کي به یې د همیشه
شان ځلیږي دخلکو په منځ کي به په پورته سترگو گرځي دگناه له پیټي څخه به پاک یې ټول خلک
به تاته گوري ستاپه حسن اوجمال باندي به نازیږي ملائکي به ستامنځ اوشاته رواني وي خلکوته
به وایې چه دفلانکي ولدفلانکي څخه الله ﷻ راضي ده دي له الله ﷻ څخه راضي ده ده ته ابدي
سعادت حاصل سوي ده کله به هم بیاشقي نسي ایاته دغه مقام له دنیوي مقام څخه پورته نه گڼي
چه په ریا، منافقت، اوظاهري زیب، وزینت سره یې په خلکو کي پیداکول غواړي که ته دغه بنه
خبره گڼې اویقینًا دآخرت مقام بنه ده نوپه اخلاص اوصدق سره دالله ﷻ حضور ته وړاندي سه
ترڅوچه دغه لوړمقام ترلاسه کي.

## اته دیرشم باب دمال اوسامان بدوالي

مالونه اواولادونه ستاسي لپاره ازمینت ده الله ﷻ فرمایي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ سورة المنافقون آية (٩)

**ژباړه:** اې مؤمنانو ستاسې مال او اولاد دې تاسې د الله ﷻ له ذکر څخه غافل نکړي چاچه داسې وکړل هغه له نقصان پیداکوونکو څخه ده الله ﷻ په یو آیت شریف کې فرمایي: إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ وَاللَّهُ عِندَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ سورة التغابن آية(۱۵) **ژباړه:** بیشکه ستاسې مال او اولاد ستاسې لپاره لوی ازمېښت ده د الله ﷻ په نزد لوی اجر ده لهذا هرچاچه مال او اولادته د الله ﷻ پر رحمت ترجیح ورکړه هغه لوی نقصان وکړ الله ﷻ فرمایي: إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغَىٰ أَن رَّآهُ اسْتَغْنَىٰ سورة العلق **ژباړه:** په تحقیق سره انسان سرکشي کوي څکه چه هغه خپل ځان غني او بې پرواه بولي أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ تاسې د زیات مال طلب هلاک کړاست نبوي حدیث ده چه څرنګه او به سبزیجات شنه کوي همدغسې د مال عزت او محبت د انسان په زړه کې نفاق پیدا کوي نبوي حدیث ده چه زیات مالدار خلګ هلاک سول مګرچاچه د الله ﷻ پر بندګانو باندې زیات مال خرڅ کړئ له هلاکت څخه محفوظ سوله رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسوه چه ستاپه امت کې ترټولو بدخلګ څوک دي ؟رسول ﷺ وفرمایل مالدار خلګ درسول الله ﷺ ارشاد مبارک ده چه ترتاسو وروسته دیر ژر یو قوم راتلونکي ده چه هغه به د دنیا بهترین رزق خوري پرښو اسونو به سپرېږي له دیرو ښایستو ښځو سره به واده کوي دیرې ښې جامې به اغوندي دهغوي نس به نه دکېږي زړونه به یې په مال او دولت قناعت نه کوي سهار او ماښام به د مال بندګي کوي مال خپل معبد ګڼي د دنیا په کارونو به سخت مشغول وي کوم خلګ چه دغه زمانه وویني د محمد ﷺ وصیت ده چه هغوته دي سلام نه کوي چه ناجوړه سي دهغو پوښتنه مه کوئ دهغو په جنازه کې مه شریکان کیږئ دهغو د مشرانو عزت دې نه کوي هرچاچه زما د حکم مخالفت وکړ هغه د اسلام په نړولو کې مرسته وکړه د محمد ﷺ حدیث شریف ده چه دنیا د دنیادارو لپاره پرېږدي چاچه له خپل ضرورت څخه زیات مال واخسته هغه په بې خبرۍ کې د خپل ځان هلاکت واخستي .**د الله ﷻ په لاره کې صدقه سوی مال پاته کیږي:** د محمد ﷺ حدیث شریف ده چه انسان وایي زما مال زما مال مګر ستاسې مال هغه ده چه تاسې وخوړي ختم سو وامو غوستئ او زوړ سو څه چه مو د الله ﷻ په لاره کې خرڅ کړل هغه باقي او پاته دي یو سړي عرض وکړ یارسول الله ﷺ په ماڅه سوي دي چه مرګ ښه نه ګڼم رسول ﷺ ورته وویل ایاله تاسره مال، حال، او دولت سته هغه وویل هو رسول ﷺ ورته وفرمایل هغه د الله ﷻ په لاره کې مصرف که څکه چه د مؤمن زړه له خپل مال سره محبت کوي که هغه مال له خپل ځان سره ساتي نوزړه یې له مرګ څخه بیره کوي نه ورته تیارېږي که هغه خپل مال د ځان لپاره مخکې ولېږي یعني خیرات یې کې د هغه زړه هم هلته ځي او راضي کېږي د نبي کریم ﷺ ارشادمبارک ده چه د انسان درې دوستان دي یو د هغه ترمرګه پورې د هغه ملګري ده هغه د ده مال ده .او بل ترقبره پورې د ده ملګري ده هغه د ده خاندان ده .او بل ترقیامته پورې د ده ملګري ده هغه د ده اعمال دي ؛ حضرت عیسی ﷺ ملګرو له هغه څخه

پوښتنه وکړه چه داڅه وجه ده چه تاسي داوبو پرسر ګرځي موږ نسو ګرځيدلاي؟ عيسى عليه السلام پوښتنه ځني وکړه چه تاسي مال اودولت څنګه ګنئ؟ هغه وويل ښه يې ګنو عيسى عليه السلام وويل زما په نزد لوټه اوپيسه سره برابردي.

**ګنهګار دولت مند پرپل صراط نسي تيريدلاي**: حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه حضرت ابو الدرداء رضي الله عنه ته وويل ورروره ته خپل ځان له دومره مال جمع کړلو څخه وساته چه شکريې نه شي ادا کولاي ځکه چه ماله محمد صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چه دالله ﷻ اطاعت کوونکي دولت مند دخپل مال سره دقيامت په ورځ راځي هغه پرپل صراط دتيريدو کوشش کوي دهغه مال ورته وايي چه تيرسه ځکه تاپه دنيا کي زماحق اداکړي وو چه کله ګنهګار دولت مند راسي هغه دمال به ورته وايي ودريږه تاپه دنياکي زماحق نه وواداکړي بياهغه په هلاکت کي اچول کيږي نبوي حديث ده چه کله انسان مرکيږي ملائکي وايي دغه سړي ترځان له مخه څه ليږلي دي يعني دالله ﷻ په لاره کي يې څه خرڅ کړي ده؟ خوانسان وايي چه ده ترشاڅومره مال پري ايښي ده؟ نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چه تاسي مال اودولت مه جمع کوئ که موداسي وکړه نوله دنياسره به مينه وکئ روايت ده چه يوو سړي ابو الدرداء رضي الله عنه ته ديري خبري وکړي هغه رضي الله عنه باندي خفه شو دالله ﷻ په حضورکي يې دهغه لپاره بددعا وکړه اوويې ويل اى الله ﷻ اچاچه ما ته سپکي اوسپوري ويلي دي دهغه صورت روغ وساتي هغه ته اوږد عمر ورکي هغه زيات مالداره کړي ګوا کي هغه رضي الله عنه تندرستي، مال، دولت، اواوږد عمربد شيان ګڼل دسيده لاري څخه دليري کيدو اسباب يې وګڼل عمر رضي الله عنه ام المؤمنين حضرت زينب بنت جحش رضي الله عنها ته څه پيسي ورولېږلي هغې پوښتنه وکړه چه داڅي دي خلګو ورته وويل چه عمر رضي الله عنه تاته پيسي رالستولي دي هغي رضي الله عنها وفرمايل الله ﷻ دي پرعمر رضي الله عنه رحم وکي هغي يوه پرده واخستله اوڅوټوټي يې کړه له هغو څخه يې څوخلطي جوړي کړي پيسي يې پکښي وا چولي ټولي يې پرغريبانوووېشلي بيايې دوا لاسونه پورته کړل دوعايې وغوښته چه اي الله ﷻ ددي څخه مخکي چه راتلونکي کال ته ما ته نوري پيسي راسي ماله دي دنياڅخه پورته که هغه رضي الله عنها دمحمد صلى الله عليه وسلم په ښځوکي لمړنۍ بي بي وه چه له دنياڅخه يې رحلت وکړ رضي الله عنها دحضرت عمر رضي الله عنه قول ده چه چادولت ته عزت ورکړ الله ﷻ هغه ذليل کړ روايت ده چه کله پيسه راجمع سي ترټولو له مخه شيطان راځي هغه مچوي اوپرتندي يې ږدي بيا وايي هرچاچه له تاسره مينه وکړه هغه زمابنده ده دحضرت سميط بن عجلان رحمه الله قول ده چه مال اوپيسه دمنافقانو لپاره داسي رسۍ ده چه جهنم ته يې راکشوي دحضرت يحيى بن معاذ رحمه الله قول ده چه مال اوپيسه لرمان دي که تاسوته دهغومنتر يادنه وي نولاس ورکي که هغو تاسو ته ټک درکړ دهغه زهر به تاسي ووژني پوښتنه وسوه چه دهغولپاره منترڅه ده؟ هغه وفرمايل په حلاله طريقه ګټل په حلال کارکي لګول حضرت علابن زيا وايي چه زماپه وړاندي دنيادټولو ښايستو شيانو څخه زياته ښايسته راغله ماورته وويل زه ستاله شرڅخه پناه غوارم دنياراته وويل

که ته زماله شرڅخه ځان ساتل غواړي نوله پیسوسره دښمني وکه ځکه چه پیسه، دولت ، اومال جمع کول ددنیاحاصلول دي څوک چه له دی څخه لیرې اوسي هغه ددنیا له شرڅخه محفوظ پاته کیږي ځکه یوشاعر ویلي دي ؛

| |
|---|
| اني وجدت فلاتظنوا غیره ..... ان التورع عند هل الدرهم |
| فاذا قدرت علیه ثم ترکته ..... فاعلم بان تقاک تقوي المسلم |

ژباړه: مادار لیدلي ده تاسي یوه سئ چه ددولت په ترک کولوسره تقوي ترلاسه کیږي کله چه ته دنیاترک کې نوتا واقعي دیر ربښتني مسلمان تقوي ترلاسه کړه یوبل شاعر ویلي دي؛

| |
|---|
| لایغرنک من المرء قمیص رقعه ..... اوازار فوق عظیم الساق منه رفعه |
| اوجبین لاح فیه اثرقل خلعه ..... اره الدرهم تعرف حبه اوورعه |

ژباړه،تادي دچا پیوند قمیص یاترپندیو پوري رسیدلي پرتوګ یادهغه پرتندي باندي دعبادت لګیدلي نښه په دوکه کې وانه چوي ته ورته وګوره هسي نه چه دمال اودولت سره محبت نه کوی ؟**دحضرت عمربن عبدالعزیز ﷺ دمرګ وخت** ،روایت ده چه کله عمر بن عبد العزیز ﷺ مرګ ته نژدي سو نوسلمه بن عبدالملک ورته راغي اوورته ویې ویل اي امیرالمؤمنینه ! تاداسي کارونه کړي دي چه هغه نورو حکمرانانو نه دي کړي تاخپل اولاد تنګدست اوبې ماله پرې ښودي دعمر بن عبدالعزیز ﷺدیارلس ماشومان وو هغهﷺچه داخبره واوریده نوویې ویل ماکښیږئ کله چه کښینول سو نوویې فرمایل ماکله هم دهغوي حق نه ده اداکړي نه مي دنورو حق ورکړي ده که دوي د الله ﷻ عبادت کوونکي واوسیږي الله ﷻ به ددوي تول ضرورتونه پوره کي الله ﷻ دنیکو سرپرست ده که دوي بدکاره اوبد عمله سول زه یې هم پروانه لرم روایت ده چه دجناب محمدبن کعب القرظي ﷺلاس ته دیر مال راغئ هغه ته وویل سوه چه دخپلو اولادونو لپاره هم یې پیسي کښیږده هغه وویل زه دغسي پیسي دخپل ځان لپاره بدي نه بلکه ښه پریږدم هغه له خپل مال څخه یولک درهم دالله ﷻ په لاره کې ورکړل دحضرت یحیی بن معاذ ﷺقول ده چه دوه مصیبتونه داسي دي چه دغسي مصیبتونه مخکښیو خلګو نه دي لیدلي هغه دمرګ په وخت کي پرخپل مال افسوس کول پوښتنه وسوه چه داڅنګه ؟ هغه وویل یوخوله ده څخه تول مال اخستل کیږي دوهم داچه دتول مال حساب ورکوي .

## نه دیرشم باب داعمالو میزان اودجهنم اور

داعمالو دتللو یاپه راسته یاپه چپه لاس کي دعمل نامي ورکولو په باره کي هروخت بستا لپاره فکر ضروري ده ځکه چه له حساب څخه وروسته دخلګو دري ډلي وي یوه به هغه ډله وي چه هغوي هیڅ قسم نیکي نه وي کړي دهغو په وړاندي به یوه توره غاره اوږده سي دوي به له منځ څخه داسي پورته کي لکه مرغی چه یودانه پورته کوي چه ددي سري دابدبختي به دهمیشه لپاره وي اوهیڅ خلاصون ورته نسته .دوهمه ډله به هغه وي چه هغو به هیڅ ګناه نه وي کړي اوازبه وسي چه به

هر حالت کي له الله ﷻ څخه وبيريږئ هغه دله به پورته سي اوپه ډير اطمينان سره به جنت
ولاړسي بياد شي په وخت کي دالله ﷻ عبادت کوونکي دخريد اوفروخت په وخت کي ذ
کوونکي به هم په جنت کي داخل سي اواز به وسي ددوي لپاره هميشه سعادت ده هيڅ قسم تکليف
به نه ورته رسيږي .دريمه دله به هغه و چه دهغو په عمل نامه کي نيکي اوبدي دواړه وي خو هغو
معلومه نه وي چه ګناهونه يې ډير دي اوکه نيکياني عمل نامه به په راسته لاس ورکول سي اوکه
چپه لاس؟ دابه داسي بيروونکي حالت وي چه ددوي هوش اوعقل به هيڅ کار نه کوي .

**دآخرت په يادکي دحضرت عائشي ﵂ ژړا:** له حضرت حسن ﵁ څخه روايت ده
محمد ﷺ حضرت عائشي ﵂ په غيږکي سر کښېښووي خوب ورغي عائشي ﵂ ته دآخرت
په يادکي ژړا راغله اوښکي يې د محمد ﷺ پرمخ مبارک ومښتي محمد ﷺ سترګي روني کړ
پوښتنه يې وکړه ولي ژاړي؟ هغي ﵂ عرض وکړ دآخرت ديادېدو په وجه ژړا راغله اي دقيامت
په ورځ به خلک دکور خلک يادوي ؟ رسول ﷺ ورته وفرمايل په الله ﷻ قسم چه
دريو ځايونوکي خلکو ته دخپل ځان څخه پرته نورڅوک نه وريادېږي کله چه دعدل ترا
کښېښوول سي اواعمال تلل کيږي له خلکو څخه هرڅه له ياده وزي اودي ته ګوري چه نيکي
زياتيږي اوکه کميږي دعمل نامي ورکولوپه وخت دافکر کوي چه په راسته لاس کي به ورکړ
کيږي اوکه په چپه دريم پرپل صراط باندي دتيريدو په وخت کي يې هرڅه له ياده وزي له حضرت
انس ﵁ څخه روايت ده چه دقيامت په ورځ خلک دميزان ترازو په وړاندي درول کيږي يوه ملائکه
ورته مقرره کيږي که دهغه تله درنه سوه هغه ارزو کوي چه فلانکي ابدي سعادت ترلاسه ک
هيڅکله به هم بدبخته نسي که يې دعمل تله سپکه سوه هغه اواز کوي چه فلانکي دهميشه لپاره
بدبخته سو په دي وخت کي به دعذاب ملائکي داوسپني له ګرزو سره مخکي کيږي هغوی به
اور جامي اغوستي وي اودوږخيان به به دوزخ ته دننه کوي دنبي کريم ﷺ فرمان ده چه
ورځ به الله ﷻ ادم ﷺ راوغواړي ورته وبه فرمايي ولاړسه دوږخيان دوږخ ته
ادم ﷺ پوښتنه کوي چه څومره خلک جهنم ته بوزم؟ الله ﷻ به ورته
کسانو څخه ۹۹۹ کسان وليږه .

**اصحابو ﵃ دقيامت له ويري څخه خنداهم ايښي وه:** کله
خبره واوريده خندايې پريښووله محمد ﷺ دهغو داحالت وليدي
جمع لرئ په الله ﷻ قسم چه زماروح دهغه په اختيار کي ده له کافرا
مخلوق هم سته چه ترتاسو هم زيات دي اصحاب کرامو ﵃
دي ؟رسول ﷺ وفرمايل ياجوج او ماجوج صحابه کرام ﵃ ددي
سول محمد ﷺ وفرمايل عمل کوئ مطمئن اوسئ په خداي قسم
داسي اوسئ لکه داوښ په ګېډه کي يوتور داغ يادحيوانانو په پښه

عاشقه! اي ددنيا په کاروبارکي ليونيه ! ددي فاني دنياپه باره کي ډير غمونه اوفکرونه مه کوه بلکه دهغه کور په باره کي فکر وکه چه هغه ستا اصلي کورده هلته روان يې ته به خومخ پرپل صراط باندي تيريږي لکه الله ﷻ چه فرمايي هربو به پردي باندي تيريږي ستا درب وعده حتمي ده موږ پرهيزګارانوته نجات ورکوو ظالمان په دي کي غورځوو هلته ستاغوښيدل يقيني او نجات شکوک ده څکه تاته په کارده چه له هغه څخه په ډيره کي اوسي هغه حالت په زړه کي راوله په کومه ورځ چه خلک دخپلو عمل نامو په انتظارکي خپلي سترګي لوړي نيولي وي په سخته ډيرا اوخوف کي وي دکم شفاعتګر په طرف يې سترګي نيولي وي چه څوک يې شفاعت وکي ناڅاپه به يوه ډيرونکي تاريکه پرمجرمانو باندي څرخ راوخوري لمبي وهونکي اوربه دهغه پرسروي په هغه کي به ډيروونکي اوازونه وي په دي وخت کي به دوي په خپل هلاکت باندي متيقن سي دوي به پرزنګنو باندي روان وي دعذاب ملائکي اواز کوي چه فلانکي دفلانکي زوي چيري ده په دنياکي به يې په اوږدو اميدونوسره خپل ژوند ته تسلي ورکوله خپل ژوند يې په بدعملئ کي تير کړي وو دعذاب ملائکي به داوسپيني دګرزونو سره حاضري سي هغه به وجهنم ته وردننه کي بيابه ورته ووايي اوس نو ددي عذاب خوند وګوره ته خوډير بزرګ يوه مهربان وي . **دجهنم څو عذابونه**: هغه به په يوداسي ځاي کي واچوي چه لاري تنګي اوتياري وي پټ هلاکتونه وي مجرمان هميشه پکښي اوسيږي په هغه کي اوربل سوي وي چناک به يې ګرمي اوبه وي هغه به هلاکت غواړي مګر مرګ به نه ورته راځي دهغوي پښي به له تندي سره ترل سوي وي مخونه به يې دګناه له کبله توروي هغه به چيغي وهي چه اي مالکه زموږ دسزا وعده پوره سوي ده زموږ څرمن وغورځيده اي مالکه موږ نور له دي جهنم څخه وباسه موږ به نور بد عمل نه کوو ملائکي به اواز ورته وکي چه ستاسو دافرياد تاسوته هيڅ ګټه نه رسوي تاسي له دي ذليل ځاي څخه هيڅکله هم دباندي نه ايستل کيږئ داستاسي ځاي ده په دی کي اوسئ نورچيغي مه وهئ که تاسي له دي څخه وايستل سئ بيابه هم هغه کارونه وکئ چه مخکي موکړي دي ددغه جواب په اوريدو سره به نااميده سي په خپلو ګناهونو باندي به ډيره پښيماني وکي خوددوي داپښيماني هيڅ ګټه نه وررسوي دوي به داور په منځ کي پراته وي دجهنم سرپ به ددوي لباس وي ملائکي به دوي د عذاب لپاره مقرري وي په سختو زنځيرونوکي به ترل سوي وي په ډير سخت عذاب کي به سرګردان وي په اورکي به داسي خوټيږي لکه په کټوه کي چه اوبه خوټيږي هغه به ژړا اوفرياد کوي دمرګ ارزو به کوي خوپرسربه يې ايشيدلي اوبه اچول کيږي په هغو اوبو سره به يې څرمن اوکولمي ويلي کيږي په چيټکانو سره به يې سرونه وهل کيږي له خولو څخه به يې زيړي اوبه لوګذک راوزي له تندي څخه به دهغو ځيګرونه ټوټي ټوټي کيږي سترګي به يې ترمخه راوغړيږي دمخ غوښه به يې ويلي سي کله چه دهغوي څرمن ويلي سي اواوبه سي نوره څرمن به وورباندي راشنه کيږي هډوکي به يې له غوښو څخه خالي وي دروحونو اړيکي به يې له رګونو سره وي چه له

صورت سره موښتې وي دمرګ ارزو به کوي خومرګ به نه ورته راځي دهغو مخونه به ډير تور، سترګي يې ړندي، ژبه يې ګنګې، ملاوي يې ماتي، هډوکي يې مات مات، غوږونه يې کاڼه، خرمن يې ځيري ځيري، لاسونه يې شاته تړل سوي پرمخي به په جهنم کي پراته وي دجهنم ماران اولړمان به ټکونه باندي وهي ته چه داحالت ويني نوستابه څه حالت وي ؟ ته لږ څه دغه خطر دي عذاب ته وګوره فکر ورباندي وکه نبوي فرمان ده چه په دوږخ کي اويازره شيلي دي په هره شيله کي اويازره کندي دي په هره کنده کي اويازره ماران اولړمان دي ټول کافران اومنافقان به هلته اچول کيږي .

**مرياكلر عذابونه** له حضرت علي کرم الله وجهه څخه روايت ده چه محمد ﷺ فرمايلي دي چه دغم له شيلي څخه پناه وغواړه پوښتنه وسوه يارسول الله ﷺ داڅنګه ده ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل دادجهنم داسي شيله ده چه له هغي شيلي څخه دانور جهنم روزانه اويازره واره پناه غواړي دجهنم پراخي دهغه شيلي اوکندي دانسان دژوند دلوړو اوژورو اونفساني خواهشاتو په برابردي دجهنم دروازي دانسان دجسم دهغو اندامو په برابردي چه انسان ورباندي جرمونه کوي هغه لاندي باندي دي لومړي جهنم ، دوهم سقر ، دريم لظي، څلورم حطمه، پنځم سعير، شپږم جحيم، اووم هاويه ده څومره چه دانسا خواهشات ژوردي هغه ته په هاويه کي دغومره زوره کنده ورکول کيږي څنګه چه دانسان هرامېد په بل لوي اميد باندي ختميږي همداسي دهاويه هرژور والي په بل ژور والي باندي ختم کيږي له حضرت ابوهريره (رض) څخه روايت ده چه موږ له محمد ﷺ سره وو ديوچاودني اواز مووا وريدي محمد ﷺ وفرمايل پوهيږئ داڅشي وو؟موږ ورېل الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ به پوهيږي محمد ﷺ وفرمايل اوياکاله مخکي دجهنم له کندي څخه يوه ډبره لاندي ښويدلي وه اوس لاندي ورسيده دادهغي ډبري درسيدو اواز وو .

**دجهنم درجې** اوس دجهنم پردرجو باندي غوورکې پيشکه آخرت دځپلو طبقو اوخصائصو په اعتبار سره ډير لوي ده لکه په دنياکي چه دخلکو مختلفي درجي دي همداسي دجهنم مختلفي درجي دي کوم سري چه ګناهونه کوي اوپه ګناهونوباندي ککړ وي هغه په اورکي غرقيږي خو معمولي ګنهکار سړي به محدود اورته اچول کيږي اور هم انسان دهغه دګناه په اندازه سوځي څکه چه الله ﷻ پرهيڅچاباندي يوه قدر ظلم هم نه کوي هرانسان ته يوه اندازه عذاب نه ورکول کيږي بلکه دګناهونوپه اندازه عذاب ورکول کيږي که دجهنم ترټولو اسانه عذاب دنياته رانبکاره سي دهغه له ګرمي څخه به ټوله دنيا وسوځي نبوي فرمان ده چه دجهنم معمولي عذاب به داوي چه يو دوږخي ته داور څپلئ ورپه پښوکي دهغو څپليو دګرمي له وجه به دهغه انسان مازغه ايشي که تاسي داور په سوځلو باندي شک کوئ څپله ګوته ددي دنياپه اورکي دننه کئ تاسي ته به اندازه معلومه سي حال داچه ددي دنيااور ډير کمزوري ده ليکن فکر وکه چه ددنيااور هم دومره سخت عذاب لري دآخرت داور عذاب به څومره سخت وي؟ که دوږخي سړي په قيامت کي ددنيااور

ورېنې په خوشحالي سره به په دي اورکي ځان واچوي دااور به دخپل ځان لپاره نجات وګڼي.

**دوزخ اور او دنياوي اور**: په ځينو احاديثوکي دی چه دجهنم اور اوياواره درحمت په اوبو سره پرېمنځل سوي اوبيا داستعمال لپاره دنياته رااستول سوي ده محمد ﷺ فرمېلي دي چه الله ﷻ حکم وکړ چه په دي جهنم کي دي اوربل سي زر کاله بعد جهنم سور سو بياترزرو کالوپوري اوربل پرېښوول په دي سره جهنم سپين سو بياچه يې زرکاله اوربل کړهغه جهنم بالکل تور سو تېرې فرمان ده چه جهنم الله ﷻ ته شکايت وکړ چه زما ځيني حصي دځينو حصو په ګرمي سره ختمېږي الله ﷻ هغه ته صرف ددوو ساه ايستلو اجازه ورکړه يوه په ګرمي کي اوبله په يخ کي په ګرمي کي دهغه دساه له کبله هواګرمېږي اوپه يخ کي دهغه دساه له کبله هوايخ کېږي له حضرت انس ﷺ څخه روايت ده چه دقيامت په ورځ ډير زيات مالداران کافران راوستل کېږي هغوته په اورکي غوټه ورکوي پوښتنه ځيني کوي چه تاپه دنياکي کوم نعمت ليدلي ور؟ هغه به ووايي ماهيڅ نعمت نه ده ليدلي بيابه داسي يوسړي راوستل سي چه هغه به په دنياکي ترټولو زيات غمونه دردونه ليدلي وي هغه به جنت ته دننه کي پوښتنه به ځيني وکي چه اياتاپه دنياکي کوم غم ليدلي ده؟ هغه به ووايي ياماهيڅ قسم نه ده ليدلي له حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت ده چه په مسجد کي زر کسه ياله ډي څخه زيات هم موجودوي هلته جهنمي سړي ساه وکاږي هغه به ټول په دي يوه ساه مړه سي ځينو علماوو دالله ﷻ ددي قول په باره کي ويلي دي تلفح وجوههم النار چه داورپه ګرمي سره به دهغو دهډوکي غوښي توي سي له حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت ده چه محمد ﷺ فرمايلي دي که دوزخي دبدن له ګذک څخه يوسټل په دنياکي توي سي دهغه دبدبويي له وجه به دټول مخلوق ساه بنده سي کله چه دوزخيان تږي سي اوبه وغواړي دغه ګذک د چنلو لپاره ورکول کېږي هغه به يوغړپ وکي خوله ستوني څخه به يې لاندي نسي تيرولاي که يې رچېښي نومخونه به يې وسوځي دادير خراب چېناک ده جهنم ډير خراب ځاي ده له هرطرف څخه پردي دمرګ حمله وسي مګر هغه به مري نه. **ددوزخيانو غذا**: ددوزخيانو خوراک به زقوم وي لکه الله ﷻ چه فرمايي اي ګمراه درواغ ګڼونکو تاسي به زقوم خورئ له هغه څخه به خپل نس ډکرئ بياپرهغه ګرمي اوبه چښونکي ياست زقوم يوبوټي ده چه دجهنم په لاندي حصه کي شين کېږي دهغه دښاخوا دمار دسرونوپه شان ده ددوزخيانو لپاره په جهنم کي ايښدلي اوبه دي دوزخيان به په سوځونکي اوکي داخل سي ايښدلي اوبه به چښي دهغولپاره زنځيرونه اواورنه دي په ستوني کي منښليدونکي خوراکونه اودردناک عذابونه دی له حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت ده چه محمد ﷺ فرمايل که دزقوم يوڅاڅکي ددنياپه دريابونو ګډسي دخلکو لپاره به ژوند تيرول سخت اوعذاب وګرځي دهغو خلکو حالت به څه وي چه خوراک يې زقوم وي له حضرت انس ﷺ څخه روايت ده چه محمد ﷺ فرمايلي دي چه الله ﷻ له کوموشيانو سره دمحبت کولو حکم کړي ده له هغو سره مينه ګوئ له کوموشيانو څخه چه يې منع کړي ده له هغو څخه پرهيز

وکړئ دالله ﷻ له عذاب او جهنم څخه وبیریږئ که په دنیاکي دجنت یوه ذره شي له تاسو سره واي نو دنیابه ستاسي لپاره ډیره زیاته جاذبه اوښایسته واي که له تاسو سره دجهنم داوریوبڅرکي واي ستاسو دادنیابه ستاسو لپاره مهلک اوتباه کوونکي واي له حضرت ابوالدرداء رضي الله عنه څخه روایت ده چه محمد ﷺ فرمایلي دي پرجهنمیانوبه لوږه مسلط کړل سي هغه به دغذا مطالعه وکړي دهغولپاره به ضریع پیش سي چه ډیرزیات تریخ اوبدبویه ده نه به یې مړوي اونه لوږه کموي هغه به بیا ددوی التجاء وکړي هغوته به داسي غذا پیش سي چه له ستوني څخه به کښته نه تیریږي په ستوني کي به بنده سي هغه به ددغي ګولي دتیرولولپاره داوبو غوښتنه وکړي ایشیدلي اوبه به ورکړې سي کله چه دغه اوبه خپلي خولي ته نژدي کي دهغه اوبو دتوبش په وجه به دده دمخ غوښي توي سي اوبه چه کولموته ورسیږي کولمي به یې ټوټي ټوټي کي هغه به بیا دجهنم پیره دارانو ته وایي چه نه خپل رب ﷻ څخه زموږلپاره دعا وغواړه په دی وخت کي دهغوي دعا هیڅ فایده نه کوي بیابه دجهنم مالک راوغواړي اوورته وبه وایې چه الله ﷻ دي موږ مړه کي چه له دی عذاب څخه خلاص سو مالک به جواب ورکړي چه ستاسو لپاره مرګ نسته دهمیشه لپاره به دلته یاست دحضرت اعمش رحمه الله قول ده چه دهغو ددعا اودمالک دجواب ترمنځ زرکاله تیریږي بیابه ووایي له الله ﷻ څخه زیات بل څوک مهربان نسته نودخپل رب ﷻ په حضورکي عرض کوي اووایي چه اي ربه! پرموږ بدبختي غالبه سوي ده اوموږ ګمراهان سوي یو اوس موږ له دي اور څخه وباسه که موږ دوهم وار هغه کارونه وکړل نوموږ به ظالمان یو هغوته به جواب ورکړ سي چه لیري سئ په همدي جهنم کي اوسئ چپ سئ محمد ﷺ فرمایلي دي چه په دي وخت کي به هغه ډیره سخته پښیماني وکي اودهلاکت اواز به کوي له هرډول خیر څخه به نااميده سي له حضرت ابوامامه رضي الله عنه څخه روایت ده چه محمد ﷺ ددي الهي آیت چه وایي هغوته دګذک اوبه ورکول کیږي له هغو څخه به داوبو یوغړپ وکي خوترستوني به یې نه تیریږي په تشریح کي فرمایلي دي چه کله هغه ته اوبه راوړل سي له هغو اوبو څخه به کرکه وکي اوکله چه یې خولي ته نږدي کي مخونه یې سوځي اودسر څرمن یې له ویښتانو سره لاندي توئیږي کله چه دوي هغه اوبه وڅښي نوددوي ګولمي به ټوټي ټوټي کي اودباندي به راووزي الله ﷻ فرمایي چه دوږخیانوته به ایشیدلي اوبه ورکول کیږي چه کولمي یې پري کي کله چه اوبه وغواړي نوهغوته دګذک په شان اوبه ورکول کیږي چه مخان به یې سوځي په دوږخ کي ماران اولړمان هم په دوږخیانو پوري مښتي وي اوچیچي به یې محمد ﷺ فرمایلي دي چه کوم سړي ته الله ﷻ مال ورکي هغه زکات نه ورکوي دقیامت په ورځ به دهغه دامال دګنجي مار په شان راسي چه دهغه پرسربه دوه تور داغونه وي دهغه پرغاړه به راتاو سي زامي به یې په خپله خوله کي ونیسي ورته وبه وایي چه زه ستامال اوخزانه یم بیارسول ﷺ داآیت شریف ووایه ،وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ .دنبي کریم ﷺ ارشادده چه په دوږخ کي به دبختي اوښ په رقم ماران وي کله چه

هغه پوښېږي نو دهغه کرمي دځلوېښتو کالو په فاصله محسوسېږي هلته به بیرونکي لړمان وي داپرهغه چامسلط کیږي چه په دنیاکي بخیل اوبد خلقه وي اوخلکو ته یې ازاررسولي وي په جهنم کي به ددوږخیانو بدنونه ډیر پلن اوبرداروي الله ﷻ دهغو بدنونه ډیر زیات غټوي ترڅو چه زیات درد وربانديې تیرسي له ابوهریره ؓ څخه روایت ده چه محمد ﷺ فرمایلي دي چه په جهنم کي به دکافر زامه داحددغره په اندازه وي دهغه دځرمنو بردار والي به دیوي ورځي دسفر په رقم وي دهغه لاندي شونډه به پرسینه پرته وي لوړه شونډه به یې دومره لوړه وي چه ټول مخ به یې پټ کړي وي کافر به په جهنم کي خپله ژبه په ځان پسي راکش کي خلګ به دهغه پرژبه پښې ایږدي اووربانديي ګرزي به اوربه دهغه صورت سوځي څوواره به دهغه څرمن بدله کي جناب حسن ؓ دالله ﷻ ددي ارشادپه باره کي فرمایې: كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا .چه اور دهغوي بدنونه په ورځ کي اویازره واره سوځي دنبي کریم ﷺ حدیث شریف ده چه دقیامت په ورځ به جهنم په اویازره رسیو کي تړل سوي وي دهري رسۍ سره به اویازره ملائکي وي له حضرت انس ؓ څخه روایت ده چه محمد ﷺ فرمایلي دي جهنمیان به دومره وژاړي چه اوښکي به یې ختمي سي بیابه یې له سترګو څخه ویني راځي تردي چه دهغو په مخونوکي به سوریان جوړسي که په هغه کي کښتۍ وچلول سي هغه به هم پکښې روانه سي هغوته به دفریاداوژړا کولو اجازه وي په دي سره به دهغو زړونه سپکیږي مګر وروسته به ددغه څخه هم منع سي .**ددوږخیانو دامیدونو ردیدل**:دمحمد بن کعب ؒ څخه روایت ده چه الله ﷻ ددوږخیانو دپنځو سوالونوڅخه څلورو سوالونوته جواب ورکوي لیکن دپنځم جواب څخه وروسته ورسره خبري هیڅکله هم نه کوي دوږخیان به ووایې اي الله ﷻ تاموږ دوه واره ژوندي اودوه واره دي مړه کړوموږ خپله ګناه منلي ده ایاددي څخه دوتواوخلاصون لاره سته؟ الله ﷻ به په جواب کي ورته وفرمایې چه کله تاسو دالله ﷻ دوحدانیت پرطرف رابلل کیداست کفر به مو کاوه اوکه له الله ﷻ سره دشرک خبره چاکړي واي هغه به مومنلي حکم یوازي لوي اوپورته الله ﷻ لره ده بیابه هغه ووایې اي الله ﷻ موږ واوریده اوپه خپلو سترګو موولیده تاسي موږ واپس دنیاته واستوئ چه موږ نیک عمل وکو الله ﷻ به ورته وفرمایې ایاتاسي په دنیاکي قسمونه خوړل چه موږ ته هیڅ قسم زوال نه راځي بیابه کافران ووایې اي الله ﷻ موږ له دوزخ څخه وباسه چه موږ ترمخکي ښه عمل وکو الله ﷻ به ورته وفرمایې ایاتاسوته په دنیاکي عمر نه وو درکول سوي چه ددین پرطرف دبلونکي نصیحت ومنئ ستاسو خواته بیرونکي راغلي وو اوس

نو تاسي ددي عذاب خوند وګورئ دظالمانو هيڅ مددګار نسته بيابه هغه وايي اي الله ﷻ پر موږ بدبختي غالبه سوي وه اوموږ بي لاري سوي يو اي الله ﷻ موږ يووار دنياته داخل که که بياهم موږ پردي غلطه لارروان سوو اوولاړو نوموږ به ظالمان يو الله ﷻ به په جواب کي ورتهووايي په جهنم کي اوسئ خبري مه کوئ دابه دهغو لپاره ډير سخت عذاب وي له دي وروسته به بياهم کله له الله ﷻ سره خبري ونه سي دمالک ابن انس ؓ څخه روايت ده چه حضرت زيد ابن اسلم دالله ﷻ ددي آيت شريف برابره خبره ده : سَوَاءٌ عَلَيْنَآ أَجَزِعْنَآ أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِن مَّحِيصٍ .زموږ لپاره که موږ جزع وو فزع وکو اوکه صبر وکو زموږ لپاره دتيښتي ځاي نسته په تشريح کي فرمايلي دي چه هغه به سل کاله صبر وکي بيابه سل کاله آه اوفرياد کوي بيابه دسلو کالو دصبر څخه وروسته ووايي چه زموږ لپاره صبر اوآه اوفرياد کول برابر دي نبوي حديث ده چه دقيامت په ورځ مرګ دينوچاغ پسه په شکل کي راوستل کيږي دجنت اوجهنم ترمنځ يي حلالوي دهغه له حلالو څخه وروسته به وويل سي اي جنتيانو اوس دمرګ له ييري څخه پرته دهميشه هميشه لپاره په جنت کي اوسه دجهنم خلکو ته به وويل سي تاسوته کله هم مرګ نه راځي دهميشه لپاره په جهنم کي اوسئ حضرت حسن ؒ به فرمايل چه يوسړي به له جهنم څخه زر کاله بعد ووزي کاشکي هغه حسن واي يوچا حضرت حسن ؒ په يوه ګوښه کي دژړا په حالت کي وليدي اوپوښته يي ځني وکړه چه ولي ژاړي؟ هغه په جواب کي وويل ددي ييري څخه چه هسي نه بي نيازه الله ﷻ ما په جهنم کي واچوي دهغه دجهنم عذابونه اوتکليفونه ډير زيات دي خو دټولو څخه بد عذاب داده چه هغه دجنت دنعمتونو دالله ﷻ درضا اوديدار څخه محروم وي داځکه چه هغو په دنيا کي پيسي خوښي کړي وي دخپلو خواهشاتو پيروي يي کړي وه هغه به په دي غلط عمل باندي پښيماني کوي اووايي به افسوس اموږ خپل ځانونه دالله ﷻ په نافرماني کي ضايع اوتباه کړه موږ په خپل مقررژوند خپل نفس صبرته اماده نه کي که موږ په هغي دنيا کي دالله ﷻ په حکم عمل کړي واي خپل خواهشات موترپښولاندي کړي واي دالله ﷻ درحمت په خواکي به موځاي پيداکړي واي که هغو دجنت نداره نه واي کړي بيابه يي دومره غم اوافسوس نه کولاي هغوته اول جنت ښوول کيږي لکه درسول ﷺ حديث شريف چه ده دقيامت په ورځ به خلک جنت ته نژدي سي دجنت خوشبويي به بوي کي دجنت محلونه به ويني بيابه دالله ﷻ په حکم سره دوي له جنت څخه ليري سي اوورته وبه ويل سي چه ستاسي لپاره په جنت کي ځاي نسته هغه به ډير غمجن سي اوپه افسوس به روان سي وبه وايي اي ربه که تامخکي موږ ته جنت نه واي ښوولي

سيده دي جهنم ته ليږلي واي دومره به نه واي غمجن سوي الله ﷻ به ورته ووايي داڅکه له تاسو سره وسوه چه کله تاسي زماپر طرف رابلل کېداست په ډير کبر سره به راتلاست له رياکاري څخه به موکاراخستي له خلکو څخه بيري داست له ماڅخه نه بيري داست خلک به مو ډير غټ ګڼل اوزمالويي ته به نه واست قانع تاسي به دخپل ذاتي ګټو لپاره له خلکو سره اړيکي اوتعلقات ختمول مګر زما درضالپاره مو له هيڅا سره اړيکي نه ختمولي نن زه تاسي ددائمي نعمتونو څخه دهميشه هميشه لپاره بي برخي کوم سخت عذاب درکوم دحضرت احمد ابن حسرب ﷺ قول ده چه موږ ترګرمي سايه خوښوو خو ددوږخ په مقابل کي جنت ته ترجيح نه ورکوو دحضرت عيسى ﷺ ارشادده چه څومره ښه صحت ښکلي مخونه اوخوږي ژبي لرونکي خلک به په جهنم کي آه اوفرياد کوي.

**دالله ﷻ په دربار کي دداؤد ﷺ التجا.** داؤد ﷺ دالله ﷻ په خدمت کي عرض وکړ اي الله ﷻ! زه چه دلمروګرمي ته صبر نه سم کولاي ستادجهنم وګرمي ته به زه څنګه صبروکم ؟ زه چه ستا درحمت داواز اوريدو طاقت نلرم ستا دعذاب اواز به زه څنګه واورم؟ اي کمزوري انسانه! په دغو غټو اوبيروونکو عذابو باندي فکر وکه په دي خبره ځان پوه که چه الله ﷻ ډير خطرناک سوځونکئ اور پيدا کړي ده په دي کي هغه خلک دهميشه هميشه لپاره وي چه کفر کوي دالله ﷻ اطاعت نه کوي ستالپاره تعجب ده سره له دی چه ته ښه پوهيږي چه دګنهګار انسان لپاره په قيامت کي ډير سخت سخت عذابونه دي بياهم ته په دي لهو اولعب کي اخته يي که ته غواړي چه تاته خپل انجام معلوم سي نودهغه څونښي نښاني دي هغه ته وګوره بياخپل اميد قائم وساته اول ته خپلو اعمالو اواحوالو باندي نظر واچوه که ته په هغو کارونوکي مشغول يي دکومو کارونو لپاره چه الله ﷻ پيداکړي يي اوستاله نيکي سره مينه ده نوبياپوه سه چه ته دجهنم څخه ليري يي خوکه دنيکي اراده کوي مګر مخته دی خنډونه پيداکيږي اوچه کله دبدي اراده کوي نولاره درته اسانه کيږي په اساني سره داغلط اونارواکار کولاي سي نوپوه سه چه ته جهنمي يي لکه باران چه پرشنوابنواودود پراور باندي دلات کوي همداسي داستابد عملونه ستاپه بد انجام باندي دلالت کوي الله ﷻ فرمايي: إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ وَإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٍ .
نيکان په نعمتونو اوبدکاره په جهنم کي وي.

## څلويښتم باب داطاعت فضيلت

دالله ﷻ داطاعت مطلب داده چه نيک کارونه وکئ الله ﷻ په قرآن کريم کي په ګڼو آيتونوکي خلکو ته دنيکي کولو ترغيب ورکړي ده دهمدي غرض لپاره يي انبياء کرام

رااستولي دي ترڅو خلک دګمراهي څخه وباسي او دالله ﷻ معرفت ته يې راولي له هغ
جنت څخه دي ګټه واخلي چه الله ﷻ ورته تيارکړي دي الله ﷻ خلک فضول نه دي
پيداکړي بلکه ددي لپاره يې پيداکړي دي چه بدو خلکو ته دهغو دبدو سزا ورکوي
اونيکانو ته دهغو دنيکي بدله ورکوي الله ﷻ له عبادت څخه بې نيازه ده دخلکو بد
الله ﷻ ته نه نقصان رسولاي سي اونه دهغه تعالي په کمال کي څه نقصان راوستلاي سي
که مخلوق الله ﷻ ته عبادت ونکي هيڅ پروايې نه کوي دالله ﷻ ملايکي سهار اومابنام
اوهروخت دالله ﷻ حمد اوثناوايي کله هم نه ستړي کيږي هرچاچه نيکي وکړه هغه يې
دخپل ځان لپاره وکړه چاچه ګناه وکړه دهغه وبال اوتاوان به دهغه په غاړه وي الله ﷻ غني
ده تاسي فقيران ياست دحيرانتيا خبره خوداده چه کله موږ غلام اخلو داخوښوو چه زموږ
خدمت وکي زموږ خبره ومني زموږ فرمانبرداروي حال داچه هغه مو په معمولي قيمت
اخستي وي که هغه يوغلط کار هم وکي موږ يې خپل دښمن ګڼو قهر ورباندي کوو پرهغ
دودۍ بند وو يايي خرڅوو ليکن موږ خپله دهغه حقيقي مالک اطاعت نه کوو چه موږ يې
په داسي بهترين شکل پيداکړي يو موږ دباران دڅاڅکو په اندازه دهغه نافرماني کوو
مګرهغه ﷻ ياهم پرموږ خپل نعمتونه نه دروي خپل رحم نه کموي که دالله ﷻ رحم نه وي
نويوقدم هم نسو اخيستلاي که هغه وغواړي نوموږ به ديوي ګناه په بدل کي ونيسي مګر
هغه موږ ته مهلت راکوي ترڅوچه توبه وکاږو هغه ﷻ زموږ توبه قبلوي زموږ ګناهونه
معافوي زموږ عيبونه پټوي هرعقلمند سړي دير ښه پوهيږي چه داطاعت اوفرمانبرداري
لايق څوک ده هغه دهم هغه لوي ذات په طرف متوجه کيږي دهغه تعالي درحمت په لمنه کي
پناه اخلي کله چه له هغه څخه کومه ګناه وسي دخپل خالق پرطرف دي رجوع کوي دهغه له
رحمت څخه دي نه نااميده کيږي دالله ﷻ دنعمتونوشکردي اداکوي تردي چه دالله ﷻ په
دوستانو کي شمار کړسي کله چه هغه ته مرګ راسي نوهغه دالهي ديدار شوقمندوي
اوالله ﷻ هغه ته خپل ديدار ورکوي يووخت حضرت ابوالدرداء رضي الله عنه حضرت کعب رضي الله عنه ته
ووېل چه ماته دتورات يوخاص آيت تلاوت که هغه داآيت ورته تلاوت کړ الله ﷻ فرمايي
نيکان زمادليدو شوق لري زه دهغه له ليدو څخه زياته هيله لرم حضرت کعب احباروويل
چه ددي آيت په حاشيه کي ليکل سوي دي چه هرڅا زه ولټولم نوپيدايي کړم اوڅوک چه بل
څوک ولټوي نوهغه زماله ديدارڅخه محروم سو ابوالدرداء رضي الله عنه ورته ووېل په الله ﷻ قسم
چه ماهم دمحمد ﷺ څخه همداسي اوريدلي دي .

**حضرت داؤد ؑ ته دالله ﷻ وحي**: داؤد ؑ ته الله ﷻ وحي وکړه چه اي داؤده! زما پیغام ددنیا خلکو ته ورسوه اوورته ووایه چه زه دهغه چا دوست یم چه ماخپل دوست ګڼي زما مجلس ته راتلونکي زما هم مجلسیان دي څوک چه زماله ذکر سره مینه لري زه له هغه سره مینه لرم زه له هغه چاسره الفت لرم چه له ما سره دوستي لري زه له هغه چاسره دوستي کوم چه ماخپل دوست ګڼي زه هغه څوک خوښوم چه زما فرمانبردار سي زه دهغه خبره منم څوک چه دزړه له کومي له ماسره مینه کوي زه هغه خوښوم اودیر محبت ورسره کوم هرچاچه حقیقي زه طلب کړم هغه زه پیداکړم چاچه له مابغیر بل څوک طلب کړ هغه له ماڅخه محروم سو اي ددنیاخلکو! ترڅو به ددنیاپه دوکه کي اخته یاست زما کرامت، دوستي اومجلس ته راسئ له ماسره مینه وکئ زه به تاسي له خپل محبت څخه مالامال وکړځوم ځکه چه مادخپلو دوستانو خمیر دابراهیم خلیل الله، موسي کلیم الله، اومحمد صفي الله علیهم السلام دخمیرونو څخه جوړکړي ده دهغوي روحونه مي له خپل نور څخه اودهغوي نعمتونه مي له خپل جمال څخه پیداکړي دي له یو صالح سړي څخه روایت ده چه الله ﷻ پرخپل یودوست باندي الهام وکړ اوورته ویې ویل چه زما په بندګانو کي څه داسي هم سته چه مادوست اومحبوب ګڼي زه هغه خپل دوستان ګڼم هغه زما ددیدار شوق لري زه دهغو دلیدلو شوق لرم هغه مایادوي زه هغه یادوم هغه زما پر طرف ګوري زه هغوته درحمت په نظر ګورم که ته دهغو پرلاره ولاړسي زه به هم له تاسره مینه وکم که تادهغوي لاره خپله نه کړه نوزه به له تاسره دښمني وکم هغه پوښتنه وکړه یاالله ﷻ دهغو نښي اونښاني څه دي ؟ الله ﷻ وفرمایل هغه دورځي داسي خیال کوي لکه شپانه چه دخپل مال خیال ساتي هغه لمر لویدوته دومره خوشحاله وي لکه له لمر لویدوڅخه وروسته مرغان خپلو ځالوته دراتلو لپاره خوشحاله وي کله چه شپه سي اوتیاره سي دیر خلک بیدیږي دیر خلک په خپل مابین کي په خبرو اخته وي مګر هغه زما په وړاندي ودریږي زمالپاره سجدي کوي له ماسره خبري کوي زمادانعاماتو ارزو کوي تو له شپه ژړا اوفریادکوي زمادرحمت سوال کوي زماله عذاب څخه بیریږي قیام، قعود، اوسجدي کویزمادي په خپل درحمت په نظر قسم دي چه هغه زما په وجه دګناه بار نه پورته کوي زمادي په خپل سماعت قسم دي چه هغه زماد محبت ګیله نه کوي زه په اول وار هغوته دري شیان ورکوم ،(۱) دهغو په زړوکي خپل نور اچوم چه دهغه په ذریعه هغه زما خبر اخلي اوزه دهغوي خبري اخلم .

(٢)که دهغو دعمل په تله کي اسمان او مځکي کښيښوول سي بيا به هم دهغو اعمال درانه وي .(٣)دا چه زه هغوته درحمت په نظر گورم هغه په دي پوهيږي چه هغه څه وغواړي زه يې هغوته ورکوم .**له الله ﷻ سره دمينه کوونکو خلکو صفتونه** الله ﷻ داؤد ﷺ ته وحي وکړه چه اي داؤده! ته خوجنت يادوي مگر زماله مينه والو سره دشموليت دعانه کوي هغه ﷺ عرض وکړ يا الله ﷻ ستامينه وال څوک دي؟ الله ﷻ وفرمايل زمامينه وال هغه څوک دي چه دهغو زړونه له هرقسم کدورت څخه پاک دي هغه مي له منهياتو څخه خبردارکړي دي هغه ماد خپلو زړونو له کنجانو څخه ويني اوزما درحمت اوميد کوي زه دهغو زړونه دخپل رحمت په لاسونو سره په اسمانو کي ږدم اوخپلي مقربي ملائکي راغواړم هغه ټول زما په وړاندي سجده کوي زه هغوته وايم چه ماتاسي دسجدي لپاره نه ياست راغوښتي بلکه ددي لپاره مي راغوښتي ياست چه زمادعاشقانو دزړونو ديدار غواړئ داخلک ډير دفخروړدي دهغو زړونه په اسمانو کي داسي ځليږي لکه په هره مځکه کي چه لمر ځليږي اي داؤده! ما دخپلو مينانو زړونه له خپلي رضا څخه اودهغوي عيش له خپل نورڅخه پيداکړي ده ماهغه خپل دوستان جوړکړي دي دهغو وجود په دنياکي زمادرحمت دنظرمرجع ده اومادهغو په زړونوکي يوه لار جوړه کړي ده چه دهغي په ذريعه زما ديدار کوي حضرت داؤد ﷺ عرض وکړ اي الله ﷻ ماته خوستا عاشقان راوښيه چه ملاقات ورسره وکم الله ﷻ ورته وفرمايل دداود غره ته ولاړسه هلته زماڅوارلس محبان اوسيږي ځوانان اوبوډاکان دواړه پکښي شامل دي هغوته زماسلام ووايه چه الله ﷻ فرمايي چه تاسي زمامحبوبان اودوستان ياست الله ﷻ ستاسي په خوشحالي خوشحاليږي الله ﷻ فرمايي چه تاسي له ماڅخه کوم حاجت ولي نه غواړئ داؤد ﷺ هغوي دملاقات لپاره روان سو هغه يې ديوچيني خواته پيداکړه چه دالله ﷻ په عظمت اوجلال کي يې فکر کاوو کله چه هغو حضرت داؤد ﷺ وليدي نوهاخوا دي خواځيني پټ سول حضرت داؤد ﷺ وفرمايل زه دالله ﷻ رسول يم ستاسي خواته يې راليږلي يم هغو خپل نظرونه کښته واچول اودداؤد ﷺ دامر داوريدو لپاره چمتو سول داؤد ﷺ ورته وويل زه دالله ﷻ له طرفه ستاسوڅنگ ته راغلي يم الله ﷻ تاسوته سلام راليږلي ده اوفرمايي چه تاسي له ماڅخه حاجت ولي نه غواړئ تاسي له ماڅخه ضرورتونه ولي نه غواړئ ترڅوچه زه ستاسي دعاقبوله کم تاسي زمادوستان اومحبوبان ياست زه ستاسي په خوشحالي خوشحاله کيږم ستاسي محبت مي ډير خوښ ده زه هروخت تاسي ته دشفقت اومهرباني په نظر گورم کله چه هغو داواوريدل له سترگو څخه يې اوښکي بهيدلي دهغو

مشرچيغه وکړه اي ربه ته پاک يې موږ ستا غلامان اوستا دغلامانو اولاده يو زموږ
دتيرعمر هغه شيبې چه له تاڅخه موپه غفلت کې تيرې کړي د هغه رامعاف کې .هغه دويم
يا وويل ته پاک يې موږ ستاغلامان اوستا دغلامانو اولاده يو کم معاملات چه زموږ
اوستا تر منځ دي په هغه کې پرموږ درحمت نظر وکه .دريم وويل اي ربه ته پاک يې موږ
ستاغلامان اوستا دغلامانو اولاده يو اي ربه تاچه موږ ته ددعاکولوترغيب راکړي ده
تاسوته معلومه ده چه موږ دخپل ځان لپاره دشي ضرورت نلرو پرموږ بشپړ احسان وکې
اوهميشه مو پرسيده لاره روان کې .
يوبل محب داسي وويل ياالله ﷻ موږ تاپه بشپړه توګه نسو رضاکولاي زموږ مرسته وکه
چه ويې کوو .يوبل محب وويل ياالله ﷻ تاچه موږ له نطفي څخه پيداکړي يو او په خپل
ذات کې دتفکر کولو دولت دي راکړي ده ياالله ﷻ تاچه موږ ته دکلام ترغيب راکړ چه
ستادعظمت دشان په فهم کې مشغول دي اوستاپه جلال کې غور اوفکر کوي موږ له
تاڅخه ستا ددوستانو ستا دنور دقرب سوال کوم .يوبل محب وويل ياالله ﷻ موږ ته ستا
دذکر توفيق راکې تاچه موږ په خپل رحمت کې مشغول کړي يو اوله ټولي دنياڅخه دي بې
نيازه کړي يو کماحقه دشکر نه اداکولو خطاله موږ څخه معاف که.يوبل محب وويل اي
الله ﷻ ته ښه پوهيږې چه زموږ تمنا ستاددیدارڅخه بغير نسته .يوبل محب وويل مالک
غلام ته دغوښتلو حکم کوي مګر غلام دغوښتلو جرئت نه سي کولاي موږ ته خپل نور
عنايت راکه ترڅو دتيارو له اسمانه څخه ووزو اوستا دربار ته حاضرسو .يوبل محب وويل
موږ هميشه پردي عبادت قائم وساته .يوبل محب وويل تاسي چه موږ ته کم فضيلتونه
اوانعامات راکړي دي هغه مکمل کې .يوبل محب وويل ياالله ﷻ موږ ته دکم شي
ضرورت نسته موږ ته خپل کمال راوښيه .يوبل محب وويل ياالله ﷻ زماسترګي له دنيا
اودهغې له زيب وزينت څخه رندي که مادآخرت له خيالونوڅخه پاک که .
يوبل محب وويل ياالله ﷻ ماستارفعت اوپاکي وپيژندله له دوستانو سره چه ستا کم
محبت ده هغه موهم وپيژندي پرموږ يوبل احسان داهم وکه چه زموږ په زړو کې له تاڅخه
پرته دبل چاخيال رانه سي .ياالله ﷻ داؤد ؑ ته وحي وليږله چه اي داؤده! هغوي ته
ووايه چه ماستاسي ټولي خبرې واوريدي قبولي مي کړي تاسي يودبل څخه جلاسئ
زماددیدار لپاره تيارسئ زمااوستاسي ترمينځ چه کومي پردي دي زه هغه پورته کوونکي
يم ترڅو زمانور اوجلال ووينئ الله ﷻ داؤد ؑ ته وفرمايل چه زمامحبوبانوته ووايه چه
ستاسي لپاره به هغه وخت هيڅ محرومي نه وي چه کله دمخلوقاتو پرسترګو پردي واچوم

تاسي به له حجاب څخه پرته دزړه په سترګو زمادیدار کوئ تاسي ته به هیڅ قسم مشکل نه وي ماچه تاسي ته په دنیاکي دمال اودولت خپل دوستي درکړه نوپه آخرت کي به ستاسي لپاره هیڅ قسم تکلیف اوسختي نه وي ددنیااودالله ﷻمحبت دواړه په یوو زړه کي نه یوځاي کیږي دداؤد ﷺپه خبرکي داهم لیکل سوي وو چه الله ﷻداؤد ﷺته وحي ولیږله چه که تاسي زمادمحبت دعوه کوئ نوله زړه څخه ددنیامینه وباسئ ځکه چه زمااوددنیا مینه دواړه نسي یوځاي کیداي اي داؤده له دنیاسره اړیکي وساته خومحبت یوازي له ماسره کوه زماددین پیروي کوه دخلګو پیروي مه کوه کوم شي چه درته زمادمحبت وړ اولایق ښکاره سي هغه حاصل که په کم شي کي چه مشکل ووینې زماطرف ته رجوع کوه زه ستاستونزي اومشکلات حل کوم ستاقائد اورهبر یم ترسوال له مخه حاجت درپوره کوم په غمونوکي ستامرسته کوم ماپه خپل ذات قسم کړي ده چه زه دخپل بنده هغه سوال قبلوم چه په عاجزي سره یې له ماڅخه وغواړ اوپه دي معترف وي چه له ماڅخه یې وغواړي دهغه رسوایې اوبیره لیري کوم دهغه په زړه کي له خلګو څخه غنااوبي نیازي اچوم ځکه چه ماپه خپل ذات قسم خوړلي ده چه زماهربنده چه له دنیاڅخه تعلق قطع کي یوازي په ماباوروکي نوزه هغه ته ددنیاهرنعمت ورکوم دهغه په اعمالو کي تضادنه پیداکوم له خلګو څخه بي نیازه اوسه ستاهیڅ ملګري ستاهیڅ مشکل نه سي حل کولاي صرف ماته توجه وکه زمادمعرفت هیڅ حدنسته هغه محدود مه ګڼه له ماڅخه چه څومره زیاته غوښتنه کوي زه ترهغه نور هم زیات درکوم زماعنایت اوورکړه هیڅ حدنه لري بني اسرائیل پوه که چه زمااوزما دمخلوق ترمینځ هیڅ دول خفلوي نسته هغوي ته دهغه جنت زیري ورکه چه هیچا په سترګونه ده لیدلي اونه غوږو دهغه په باره څه اوریدلي دي نه د چاپه زړه کي تیرسوي دي ماهروخت حاضر وګڼه ماته دسرپه سترګونه بلکه دزړه په سترګووګوره ماپه خپل عزت اوجلال قسم اخستي ده چه کوم سړي په قصد سره زماپه عبادت کي تأخیرکوي زه هغه ته ثواب نه ورکوم داستاادب اواحترام کوي پرخپلو مریدانو باندي سختي اوظلم مه کوئ اي داؤده اکم مرید چه زماپه ذات کي غرق وي هغه مه ښوروه اوزماپه ذات کي یې غرق پریږده زه به تادجهید «زیات کوشش کونکي»په لست کي شمارکم زه چه څوک په خپل لیست کي جهیدولیکم هغه ته له مخلوقاتو څخه هیڅ قسم بیره اومحتاجي نه محسوسیږي اي داوده! زماپه خبره ښه غور وکه په هغه کلک عمل وکه دځان لپاره دنیکي عمل وکه له دنیاسره مینه مه کوه هسي نه چه له ماسره ستا مینه ختمه سي زمابندګان زماله رحمت څخه مه ناامیده کوئ زمالپاره خپل خواهشات ختم که ځکه

چه ماشهوات دکمزورو خلکو لپاره پيدا کړي دي قوي خلک دخواهشاتو هيڅ پروانه کوي شهوات زما په دربارکي دمناجات شيريني اوخوږ والي ختموي له ماسره دطاقتور سړي لپاره عذاب ده چه کله هغه زماد ديدار خواته نږدي کيږي زه دهغه پرسترګوپرده اچوم هغه محروموم اي داوده! زمااوستا ترمنځ مخلوق مه حائل کوه هسي نه چه دهغوي سرمستي تازماله محبت څخه وباسي دامخلوق زماددوستانولپاره دغلو په شان ده هميشه روژه نيسه ځکه چه دروژو په برکت له شهواتو څخه خلاصيداي سي له بي روژه ګي څخه ځان وساته ځکه چه زه روژه نيونکي خلک ډير خوښوم.

## يوڅلويښتم باب دشکر بيان

الله جل جلاله په قرآن کريم کي له شکر سره ذکر هم بيان کړي ده لکه الله جل جلاله چه فرمايي: ولذکر الله اکبر. بيشکه دالله جل جلاله ذکر ډير لوي ده په دي آيت شريف کي الله جل جلاله دذکر عظمت بيان کړي: فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُواْ لِي وَلاَ تَكْفُرُونِ الآية. ژباړه: تاسي زماذکر کوئ زه ستاسي ذکر کوم زماشکر کوئ اوکفر مه کوئ: مَّا يَفْعَلُ اللهُ بِعَذَابِكُمْ إِن شَكَرْتُمْ وَآمَنتُمْ الآية. که تاسي ايمان راوړئ اوشکر وکړئ نوالله جل جلاله تاسوته عذاب نه درکوي: وَسَنَجْزِي الشَّاكِرِينَ الآية. موږ ژر شکرکوونکو ته اجر ورکوو الله جل جلاله د مردود شيطان دقصي په بيان کي فرمايل دي چه شيطان الله جل جلاله ته وويل: لأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ الآية. زه دهغو دګمراه کولو لپاره ستاپه سيده لاره کي کښينم دځينو علماوو رأيه ده چه دلته له صراط مستقيم څخه دشکر لاره مرادده شيطان دالله جل جلاله په مخلوق باندي په بدويلو سره ويلي وه: وَلاَ تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَاكِرِينَ الآية. تاسي به له هغوي څخه اکثر شکر کوونکي پيدا نکړئ: وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ الآية. زمابندګان زماشکر لږ کوي الله جل جلاله دشکر په کولو سره دنعمتونو دزياتوالي په هکله ويلي دي چه: لَئِن شَكَرْتُمْ لأَزِيدَنَّكُمْ الآية. که تاسي شکروکړئ زه به ستاسي نعمتونه زيات کم په دي آيت کي يې څوک استثناء کړي نه دي پنځه شيان داسي دي چه الله جل جلاله استثناء پکښې کړي ده هغه پنځه شيان دادي: توانګري، قبوليت، رزق، بخشش، لکه الله جل جلاله چه فرمايي: فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ اللهُ مِن فَضْلِهِ إِن شَاء الآية. که الله جل جلاله وغوښتل نوډير ژر به تاسي ته مال اودولت درکي دارنګه يې په يوبل آيت شريف کي فرمايلي دي که هغه جل جلاله وغواړي نوستاسي اميدونه پوره کوي په يوبل آيت شريف کي يې فرمايلي: وَاللهُ يَرْزُقُ مَن يَشَاء بِغَيْرِ حِسَابٍ الآية. دي الله جل جلاله چه چاته وغواړي

بې حسابه رزق ورکوي الله ﷻ فرمايلي دي چه الله ﷻ دشرک څخه پرته کومه ګناه چ
وغواړي معاف کوي يې همدارپه بل آيت شريف کې يې فرمايي دي چه الله ﷻ دچاليار
وغواړي معاف کوي يې په بل آيت شريف کې يې فرمايلي دي الله ﷻ چه دچالپار
وغواړي دهغه توبه قبلوي شکر دالله ﷻ له صفاتو څخه يو صفت ده لکه الله ﷻ چې
فرمايي: وَاللّٰهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ الآية الله ﷻ شکور اوحليم ده الله ﷻ فرمايي دي چه کله جنتيان
په جنت کې داخل سي دهرڅه له مخه هغه دالله ﷻ شکر اوحمد کوي چه خپله وعده پوره
کې لکه فرمايي چه: وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ الآية دجنتيانو آخري ارزو به
داوي چه حمدده دالله ﷻ لپاره دشکرپه فضيلت کې ډير زيات احاديث هم نقل سوي دي
لکه په يوحديث شريف کې چه فرمايي هرڅوک چه طعام وخوري اوشکريې اداکي هغه
دصابرروژه دارپه شان ده. **دمحمد ﷺ شکر** له حضرت عطاء ؓ څخه روايت ده چه موږ
دعائشې ؓ په خدمت کې حاضرسوو اوعرض موورته وکړ چه تاسې دمحمد ﷺ
عجيب کارونه موږ ته ووايا ست عائشې ؓ وويل دمحمد ﷺ کم يوعبادت عجيب نه
وو واورئ يوه ورځ محمد ﷺ تشريف راوړ اوزماسره يوځاي په بستره کې پريوتې دهغه
مبارک بدن زماله بدن سره ولګيدي په دي وخت کې محمد ﷺ وفرمايل اې دابوبکر
نوري! ماته اجازه راکه چه دخپل رب ﷻ عبادت وکم ماعرض وکړ اګرکه ستاژه قريب
اوديره خوښه يمه خوزه خواهش ته په درنښت ګورم اوترجيح ورکوم زه تاسوته اجازه
درکوم چه دخپل رب ﷻ عبادت وکې رسول ﷺ لاړسو اوداوبو مشک ته ورغې په لې
اوبو سره يې اودس وکړ پرلمانځه ودريدي په لمانځه کې يې دومره وژړل چه اوښکې يې
پرسينه راتوې سوې رسول ﷺ له رکوع اوسجدي څخه دپورته کيدو په وخت کې هم ډير
وژړل تردي چه حضرت بلال ؓ راغې دسهار دلمانځه لپاره يې وويل ماعرض وکړ
يارسول الله ﷺ تاسو الله ﷻ بخښلې ياست تاسې ولې دومره عبادت کوئ اوژاړئ
رسول ﷺ وفرمايل ايازه دالله ﷻ شکراداکوونکې بنده جوړنسم ؟ زه به ولې نه ژاړم حال
داچه الله ﷻ داآيت شريف نازل کړي ده: إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ
لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ الآية

**ديو کاڼي ژړا اوزارۍ:** دالله ﷻ يونبي له يوداسې کاڼي سره تيرسو چه پخپله ډير کوچنې
وو خواوبه ډيرې زياتې څنې توېدې دالله ﷻ نبي په دې باندي ډير زيات حيران سو
الله ﷻ کاڼي ته دخبرو کولو قدرت ورکړ اوويې ويل له کومه وخته څخه چه ما د الله ﷻ

دافرمان اوريدلي ده ﴿وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ﴾ زه له هغه وخته څخه مسلسل د الله ﷻ له بيري څخه ژارم د الله ﷻ نبي له خپل رب ﷻ څخه دعا وغوښته چه دغه كاڼي دجهنم له اور څخه وساتي الله ﷻ دهغه دادعاقبوله كړه څه وخت بعد هغه ﷺ بيادهغه كاڼي ترڅنګ تيرسو كوري چه هغه كاڼي بياهم ژاړي هغه ﷺ پوښتنه ځني وكړه چه ولي ژاړي؟ كاڼي ورته وويل هغه وخت دبيري له وجه ژړيدم اواوس دخوشحالۍ اومسرت له وجه ژارم دانسان زړه هم دكاڼي په ركم ده ياله هغه څخه هم زيات سخت ده دهغه خوف اوشكر په دواړو حالتو كي په ژړا اوفرياد سره ختميږي دنبي كريم ﷺ فرمان ده چه دقيامت په ورځ به وويل سي چه حمد كوونكي دي ودريږي دخلكو يوه ډله به ودريږي دهغو لپاره به يو بيرغ ودرول سي هغه به ټول جنت ته ځي پوښتنه وسوه يارسول الله ﷺ حمد كوونكي څوک دي ؟ رسول ﷺ وفرمايل كوم خلک چه په هرحالت كي دالله ﷻ شكر اداكوي دبل روايت الفاظ دي چه په هرمشكل اواساني كي دالله ﷻ شكر اداكوئ نبوي فرمان ده چه شكر درحمان رب ﷻ څادر ده الله ﷻ حضرت ايوب ﷺ ته وحي وليږله چه زه داوږدو خبرو په بدله كي له خپلو دوستانو څخه راضي يم اودصابرينو په تعريف كي يې وفرمايل چه دهغو كورپه جنت كي ده كله چه هغه جنت ته ځي نوزه هغوته شكر كول ښيم ځكه چه دشكر لفظ بهترين ده اوله دي سره به يې نعمتونه هم زياتوم خپل ديدار ترديره وخته پوري وركوم كله چه دمالو دراټولولو په باره كي الهي وحي نازله سوه حضرت عمر ﷺ دمحمد ﷺ څخه پوښتنه وكړه چه موږ څه رقم مال راټول كو ؟ رسول ﷺ ورته وفرمايل ذكر كوونكي ژبه اوشكر كوونكي زړه له دې حديث څخه معلومه سوه چه موږ دمال پرځاي شكركوونكي زړه خوښ كړ دحضرت ابن مسعود ﷺ قول ده چه شكر نصف ايمان ده .

**دشكر دادا كولو طريقي،** شكرپه زړه، اودبدن په اعضاوو سره اداكيږي دزړه شكر داده چه دنيكي اراده وكي له خلكو څخه پټ داكارونه ترسره كي دژبي شكر داده چه هغه كلمات ووايې چه دشكر دويلو لپاره خاص دي دبدن داعضاووشكر داده چه په الهي عبادت كي يې مصروف وساتي اوپه غلطو كارونو كي يې استعمال نه كي دستر ګو شكر داده چه دكوم مسلمان عيب ووينې هغه پټ كي دغوږونو شكر داده چه دكم مسلمان بدي واوري هغه بل چاته ونه وايې دغه دهغه شكرده دژبي شكر داهم ده چه هغه په الهي تقدير باندي خپل رضائيت ښكاره كي لكه محمد ﷺ چه له يوسړي څخه پوښتنه وكړه چه څنګه يې؟ هغه وويل ښه يم محمد ﷺ بياپوښتنه ځني وكړه چه څنګه يې؟ هغه وويل دالله ﷻ حمد اوشكر اداكوم ښه يم له دي وروسته محمد ﷺ وفرمايل ماهم له تاڅخه دااوريدل

غوښتل .**دبزرګانو دشکر اداء کولو طریقې**:دسلفو بزرګانو دشکر اداء کولو طریق
داوه چه له نورو څخه به یې پوښتنه وکړه چه څنګه یې؟ دهغو نیت به داوو چه خلګ به
جواب کې دالله ﷻ شکر اداء کې ددواړو شمار به په شکرکونکو کې سې دهغو په دې کې
کې به دریا هیڅ دخل نه وو دکوم سړې څخه چه دهغه دحال په باره کې پوښتنه وسې هغه
جواب کې له ذړو خبرو څخه یوه خبره کوې یاشکر اداء کوې یاشکایت کوې یاچپ پات
کیږې دالله ﷻ شکر اداء کول عبادت دی شکایت کول ګناه ده هرېنده ته په کار ده چه دبند
په مخ کې دشکایت کولوپرځای یوازې دهغه رب العزت په دربارکې عذر اوزارۍ وکړ
ځکه چه له هرقسم مشکلاتو څخه نجات ورکوونکې هم هغه ذات ده دایو څرګند حقیقت د
چه دالله ﷻ په وړاندې عجز اوذلت ښکاره کول حقیقې عزت ده مګر دخپل ځان په رک
دیوبل انسان په مخ کې ګیله کول یوه ډیره دذلت اورسوایې خبره ده الهي فرمان ده چ
تاسې له الله ﷻ څخه پرته دچاعبادت مه کوئ هغه ستاسې په رکم دالله ﷻ بندګان دي
همدارنګ الهي فرمان ده چه تاسې له الله ﷻ څخه پرته دچاعبادت مه کوئ هغه ستاسې
درزق مالکان نه دي رزق له الله ﷻ څخه وغواړئ اودهغه ﷻ عبادت وکړئ دهغه ﷻ شکر
اداکوئ دشکر له اقسامو څخه دژبې شکراداکول هم راغلې دي په روایت کې دي چه حضرت
عمر بن عبد العزیز رضي الله عنه ته یووفد راغې له دوې څخه یوځوان ولاړسو له هغه رضي الله عنه سره یې د
خبرو لپاره ځان چمتو کړ عمر رضي الله عنه ورته وویل دمشرانو عزت کوه یعنې پرېږده چه له ماسر
مشران خبرې وکې هغه ځوان په جواب کې ورته وویل اې امیرالمؤمنینه! که دقیامت
معیار بوداتوب واې نوبیاخو په مسلمانانو کې ډیرداسې بوداکان موجود دي چه عمرو
یې ستاتر عمرزیات دي هغه رضي الله عنه ددې خبرې له اوریدو وروسته وویل ښه ته خپلې خبرې
شروع که هغه وویل موږ له تاڅخه دیوڅه اخستلو لپاره راغلې یو ځکه چه ستادمهربانۍ له
وجه موږته ډیرڅه په لاس راغلې دي له چاڅخه ډیرې له وجه نه یو راغلې ځکه چه ستاعدل
اوانصاف زموږ تولې بیرې ختمې کړې دي اودامن ژوندیې راکړې ده موږ صرف ددې
لپاره راغلې یو چه په خپلو ږبو ستاشکراداکو بیرته ولاړسو .

## دوڅلویښتم باب دعجب اوتکبر بدوالې

الله ﷻ په قرآن کریم کې دتکبر بدوالې بیان کړې ده هرخودسره متکبرته یې بد ویلې دي
لکه الله ﷻ چه فرمایې، سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ الآية . ژباړه: ډیر
ژر زه هغه خلګ له خپلو آیتونو څخه اړوم چه په مځکه کې ناحقه کبر کوې : كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ

إِنَّهُ لَا يُحِبُّ كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ الآية. همداسې الله ﷻ دسرکښي متکبر پرزړه باندي تاپه لګوي: إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِينَ الآية. هغه تکبر کوونکي نه خوښوي؛ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ الآية. کوم خلک چه زما له عبادت څخه تکبر کوي ډير ژر به په جهنم کي په ذلت سره داخل سي له دي بغير په نورو ډيرو آيتونو کي الله ﷻ د کبر مذمت کړي ده نبوي حديث ده چه دچاپه زړه کي دکوچني داني په اندازه کبر وي هغه په جنت کي نه داخليږي دچاپه زړه کي چه دکوچني داني په اندازه ايمان وي هغه جهنم ته نه ځي دحضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت ده چه محمد ﷺ وفرمايل الله ﷻ فرمايلي دي چه عظمت اولويي زما پټوده هرڅوک چه په دي باندي دعوه کوي زه هغه په جهنم کي اچوم اوزه دچاپروانه لرم دحضرت ابو سلمه ابن عبدالرحمن ﷺ څخه روايت ده چه حضرت عبدالله بن عمر ﷺ او حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ ترمينځ دصفا په غره کي ملاقات وسوله څه وخت کښينستو وروسته عبدالله بن عمرو ﷺ ددي ځاي څخه روان سو حضرت عبدالله بن عمر ﷺ په ژړا سو خلکو دژړا پوښتنه څني وکړه هغه ﷺ وويل دحضرت عبدالله بن عمرو ﷺ ويناده هغه له محمد ﷺ څخه اوريدلي دي چه دچاپه زړه کي داوري دداي په اندازه تکبر وي الله ﷻ هغه پرمخي په جهنم کي غورځوي نبوي حديث ده چه يو انسان دخپل ځان پيروي کوي هغه دمتکبرينو په لست کي ليکل کيږي په عذاب کي اچول کيږي يو وخت حضرت سليمان ﷺ مرغانو، انسانانو، جناتو، اودرندګانو ته وويل له ماسره يوځاي روان سئ له هغه سره دوه لکه انسانان اودوه لکه جنيان پرتخت باندي ناست وه تخت دومره لوړ په هواسو چه هغوي دملائکو تسبيحونه واوريدل بيالاندي راکښته سول چه له سمندر سره نږدي سول په هغه وخت کي سليمان ﷺ يو اواز واوريدي چه که ستادکم ملګري په زړه کي ذره غوندي تکبر هم وي هغه زه دومره لاندي په جهنم کي اچوم څومره چه ستاتخت لوړ ختلي وو. **ددرو کسانو لپاره دجهنم مخصوص عذاب:** دنبي کريم ﷺ ارشادده چه له جهنم څخه به يوه غاړه راووزي چه دهغه به دوه غوږونه دوي سترګي اوپرخبرو قادره يوه ژبه وي هغه به اواز کوي چه زه پردرو کسانو باندي مقررسوي يم: دسرکش متکبرلپاره، له الله ﷻ سره شريک نيوونکي، تصويرونه جوړونکي لپاره نبوي حديث ده چه بخيل، متکبر، اوبد خويه، انسان جنت ته نه ځي نبوي فرمان ده چه جنت اوجهنم خپل مابين کي بحث اومباحثه وکړه جهنم وويل مادخپل ځان لپاره سرکښ اومتکبر خلک خوښ کړي دي جنت وويل ماته به کمزوري ضعيف اوماندہ خلک راځي

الله ﷻ جنت ته وفرمايل ته زمارحمت يې زه چه هربنده وغوارم تاته يې راستوم جهنم ته
يې وويل ته زماعذاب يې زه چه هرچاته عذاب وغوارم ستاپه عذاب کې يې داخلوم تاسم
دواړه به ډکوم . **ډير بدسړی** نبي کريم ﷺ فرمايي چه هغه سړي ډير بدده چه تکبر وکړ
سرکښي وکي اوقادر مطلق الله ﷻ له ياده وباسي هغه بنده ډير بدده چه تکبر يې وکړ
اوخپل ځان يې ډير لوړ وګڼي ډير لوي اوباعزته الله ﷻ يې له ياده وايستي دقبر عذاب يې
هير کړ هغه بنده ډير بدده چه سرکښي يې وکړه خپل ابتداء اوانتهاء يې له ياده وايستـ
دحضرت ثابت رضي الله عنه څخه روايت ده چه محمد ﷺ ته چاوويل په فلانکي سړي کې ډير کـ
ده چه هغه ﷺ وفرمايل ايادهغه لپاره مرګ نشته؟ يعني هغه له مرګه څخه نه يېرېږي ا
حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت ده چه محمد ﷺ وفرمايل حضرت نوح ﷺ
دوفات په وخت کي خپل زامن راوغوښتل اوورته ويې فرمايل زه تاسوته دد
کارونودکولوحکم کوم اوله دووکارونوڅخه منع درته کوم زه تاسي له تکبر اوشرک څخه
منع کوم دلااله الاالله اودسبحان الله وبحمده ويلو حکم درته کوم ځکه که دعمل نامي په
يوه تله کي اسمان اوځمکه دخپلو ټولو شيانو سره کښېښوول سي اوپه دوهمه پله کي لاال
الاالله کښېښوول سي نودغه پله درنيږي که آسمان اوځمکه ټول ديوي دائري په څيرسي به
هغه کي لااله الاالله کښېښوول سي هغه دائره به ماته سي زه تاسي ته دسبحان الله وبحمد
حکم کوم ځکه چه دادهرشي تسبيح دي ددي په سبب سره هرشي ته رزق ورکول کيږ
حضرت عيسى ﷺ وفرمايل هغه چاته زيري ده چه الله ﷻ دخپل کتاب علم ورکړي د
اوله دنياڅخه دکبر په حالت کي نه ده مړسوي نبوي حديث ده چه سنګدل په کبرسره پرلار
تلونکي، مال جمع کوونکي اودالله ﷻ دلاري څخه منع کوونکي جهنمي ده هرضعيف
مفلس جنتي ده نبوي حديث ده چه موږ ته له ټولو څخه زيات محبوب هغه څوک ده چ
دغوره اخلاقو مالک وي اوهغه سړي ډير بدترين ده چه پرخلکو خاندي ناحقه شيان وايي
متکبرين وي پوښتنه وسوه چه دغه څوک دي؟ رسول ﷺ وفرمايل دابه متکبروي نبو
حديث ده چه دقيامت په ورځ به متکبر سړي دميږيانو په شان راپورته کيږي خلک به
پرهغوي پښي ايږدي اوميده کوي به يې هغه به ډير ذليل وي بيابه هغه دجهنم جيل خانو
ورل کيږي چه نوم يې«بولس»ده پرهغوبه دجهنم اور بل سي هغوته به د دوږ خيانو ل
وجودڅخه روان ګذک دڅښاک لپاره ورکول کيږي له حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت د
چه محمد ﷺ فرما يلي دي چه متکبر به دقيامت په ورځ دميږانوپه شان راپورته کيږ
خلک به پرهغوي پښي ايږدي ميده کوي به يې له محمد بن واسع رضي الله عنه څخه روايت ده چ

دبلال ابن ابي برده وخواته ولاړم هغه ته مي وويل چه ستاپلار وماته دمحمد ﷺ دا حديث شريف بيان كړي وو چه په جهنم كي يوه دره ده دهغي دري نوم هبب دى الله ﷻ په دي دره كي هغه څوک داخلوي چه متكبر وي اي بلاله! خيال كوه چه ددغي دري له اوسيدونكو څخه نه سي نبوي حديث ده چه په جهنم كي يوځاي ده هلته به ټول متكبرين جمع سي بيا به دغه ځاي ورباندي راواړول سي دمحمد ﷺ حديث شريف ده چه كوم سړي له دنيا څخه په داسي حال كي رخصت سي چه له درو شيانو څخه خلاص وي هغه جنت ته ځي تكبر، قرض، اوخيانت، دحضرت ابوبكر (رض) ارشادده چه له تاسو څخه دي هيڅ يو مسلمان بل مسلمان حقير نه گڼي ځكه چه حقير مسلمان هم دالله ﷻ په نزد ډير معزز وي دوهب (رض) بيان ده چه الله ﷻ دجنت عدن دپيدا كولو وروسته وفرمايل پرتاسو هرمتكبر حرام ده جناب احنف بن قيس (رض) دجناب مصعب (رض) سره يوځاي پرکټ باندي كښيني احنف تشريف راووړ مصعب (رض) ډير خفه كښينستي اوويې ويل چه تعجب ده انسان تكبر كوي حال داچه هغه دبولو له ځاي څخه راوتلي ده جناب حسن (رض) فرمايي تعجب ده انسان روزانه دوه دري واره خپلي بولي مينځي ليكن بياهم له الله ﷻ سره مقابله كوي ددي آيت شريف په اړه: ﴿وَفِي أَنفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ﴾ الآية ځينو علماوو ويلي دي چه له دي څخه مراددانسان شرمگاه ده دحضرت محمد بن حسين بن علي (رض) قول ده چه دانسان په زړه كي چه څومره تكبر داخل سي دغونه دهغه عقل كميږي دچاتكبر چه زيات وي دهغه عقل ډير كم وي اوكه يې كبر كم وي نوعقل يې دهغه په تناسب زيات وي حضرت لقمان بن بشير (رض) پرمنبرباندي وفرمايل چه له شيطان سره دامونه دي له هغو څخه يوجال داهم ده چه دالله ﷻ په وركړه باندي فخر وسي دالله ﷻ پرېندگانو باندي كبر كول اودالله ﷻ دناخوښو شيانو اتباع كول اي الله! په خپل فضل اوكرم سره په دنيااوآخرت كي موږ ته عفوه اوعافيت وركي آمين نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چه كوم سړي دتكبر له امله خپلي پڼي اوږدوي اوپرمځكه يې راكشوي الله ﷻ هغه ته درحمت په نظر نه گوري هغه ﷺ وفرمايل يوسړي په خپل پتوباندي فخركاوه اوډير زيات كبر به يې كاوه الله ﷻ هغه په مځكه دننه كړ اوترقيامته پوري به په مځكه دننه كيږي روايت ده چه محمد ﷺ يووخت پرخپل ورغوي ناړي تف كړي اوويې فرمايل الله ﷻ فرمايي اي انسانه! ته عجب اوغرور كوي حال داچه ماته داوبو له څاڅكي څخه پيدا كړي يې تردي چه پوره اومكمل مي كړي ته رنگ رنگ لباس اغوندي پرمځكه په فخر سره گرزي كله چه تاته مرگ راسي نوته دصدقي كولو اجازه غواړي بيابه دصدقي كولو وخت چيري وي؟ نبوي حديث ده چه هرڅوک خپل ځان لوي گڼي اوپه كبر سره گرځي

هغه له الله ﷻ سره په داسي حالت کي ملاقات کوي چه الله ﷻ ورته په قهر اوغصه و
دنبي کريم ﷺ فرمان ده چه کله زماامتي پرمځکه باندي په کبر اوغرور سره وګرځ
دفارس اوروم خلک دهغوي خدمت ګاران سي الله ﷻ به پرهغوي نورخلک مسلط ک
دابوبکر الهذلي رحمه الله ځخه روايت ده چه موږ له حضرت حسن رضي الله عنه سره يوځاي ناست وو
دي وخت کي ابن الهشيم زموږ په مخکي تيرسو خپل کورته روان وو حضرت حسن رضي الله عنه
هغه ته يونظر وکتل اوويې فرمايل افسوس افسوس چه په ډير کبر اوغرور سره تلونکې
سرې له خپلو دوارو لاسو ځخه بې خبره ده اي کم عقله ته په خپله غيږکي داسي نعمتو
ويني دهغو شکردي نه ده اداکړي اونه دي دالله ﷻ حقوق اداکړي دي ستادبدن په هراند
کي دالله ﷻ نعمت ده اوشيطان ستاپرهراندام باندي دقبضي لګولو کوشش کوي
الله ﷻ قسم چه دخپل فطرت په مطابق پرلاره تلل يادستړي سړي په رکم پرلاره تلل دد
تګ ځخه ډير ښه ده ابن الهشيم چه داخبري واوريدي راغي اومعذرت يې وغوښت
هغه رحمه الله ورته وفرمايل ماته معذرت مه کوه الله ﷻ ته رجوع وکه اياتادالله ﷻ داحکم
ده اوريدلي چه فرمايلي يې دي پرمځکه باندي په کبر سره مه ګرزه ته نه مځکه څيرلي س
اونه دغرونوپه شان اوږديدلي سي. **په ځواني باندي فخر مه کوئ:** دحضرت حسن
رحمه الله ترځنګ يوسړي تيرسو ښايسته جامي يې اغوستي وي هغه يې راوغوښتي اوورته
ويې ويل اي انسانه! ته په خپله ځواني باندي فخرکوي له خپلو عادتونو سره محبت کو
اياقبرستابدن پټ کړي ده تاخپل اعمال ليدلي دي افسوس ده ستاپاره ولاړسه دخپل زړ
علاج دي وکه الله ﷻ ته دانساناتودښو زړونوضرورت ده روايت ده چه حضرت عمر بن
عبدالعزيز رحمه الله دخلافت له سنبالولو ځخه مخ کي حج وکړ حضرت طاؤس رحمه الله هغه وليدي
چه په ناز اونخرو سره روان وو طاؤس رحمه الله هغه ترګوته کلک ونيوي اوورته ويې ويل
دادهغه چارفتار اوتګ نسي کيداي دچاپه نس کي چه ګندګي پرته وي جناب عمر بن
عبدالعزيز رحمه الله دمعذرت په لهجه کي ورته وويل اي زماکا! زمادبدن هراندام زماپه دغ
چم مجبورکم اوماداچل زده کي حضرت محمد بن واسع رحمه الله خپل زوي وليدي چه پ
کبرسره روان دي هغه يې راوغوښتي اوورته ويې ويل اياته پوهيږي چه ته ځوک يې؟
ستامور ماپه سل درهمه اخيستي وه اوستاپلار دالله ﷻ په مخلوق کي ترډيروخلګوکم
مرتبه لري حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه يوسړي په داسي حالت کي وليدي چه لنګ يې
اوږداوپه ځان پسي يې راکشاوي عبدالله بن عمر رضي الله عنه وويل دشيطان وررونه سته داخبره يې
دري واره تکرار کړه روايت ده چه مطرف بن عبدالله بن الشحير رحمه الله مهلب وليدي چه

وربنمینه چینه یې اغوستې وه په غرور سره روان وو ده ورړغ کړو اوورته ویې ویل اې دخداې بنده دادهغه چاچم ده چه الله ﷻ یې نه خوښوي اودمحمد ﷺ دښمنان دي مهلب وویل ماپیژنې چه زه څوک یم؟ مطرف ورته وویل دیربنه دي پیژنم ستاابتداء له مرداري نطفې څخه اوستاانتهاء بیرته مرداري ته ده په منځنې عمرکي ته ګندګي ګرځوي مهلب چه داخبري واوریدي نودغرور اوکبر چلندیې پرینښوي په همدي موضوع اکثره شاعرانو اشعارویلي دي له هغواشعاروڅخه یوڅه دادي :

عجبت من معجب بصورته ..... وکان بامس نطفة مذره

وفي غد بعد حسن هیئته ..... یصیر في القبر جیفة قذره

ژباړه: زه په خپل صورت باندي دفخرکوونکي لپاره حیران یم څکه چه هغه سري تیرروندہ پوري یوناپاکه نطفه وه دخپل ښکلاباوجودبه سباته په قبرکي یوبدبوي داره مردار وي خلف احمر وایې !

لناصاحب مولع بالخلاف ...... کثیر الخطاء قلیل اصوب

اشد لجاجا من الخنفساء ..... وازهي اذامامشي من غراب

ژباړه: زمایواختلاف خوښوونکي دوست ده چه غلطیاني یې ډیري اونیکیاني یې کمي دي هغه دګزندو «دایوتوررنګه حیوان ده» څخه زیات ضدده له کارغه څخه زیات په کبر اولویې سره ګرځي .

ایها المشائخ الذي لایرام ..... نحن من طینة علیک السلام

انما هذه الحیوة متاع ..... ومع الموت تستوي الاقدام

ژباړه: اې له مرګ څخه تښتیدونکي متکبره! پرتادي سلام وي زموږ له ختوڅخه دادنیاژوند څوورځي ده له مرګ سره به دي پښې برابري سي مجاهد ﷫ دالله ﷻ په دا قول کي، ﴿ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰ أَهْلِهِ يَتَمَطَّىٰ﴾ الآية. ویلي دي چه هغه خپل کوروالاته په کبر او غرور سره ولاړي.

## دروځلویښتم باب دژوندپه باره کي غور اوفکر کول

الله ﷻ په قرآن کریم کي په ډیرو ځایونو کي انسان ته دغور اوفکر کولو حکم کړي ده لکه فرمایي چه ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ﴾ الآية. ژباړه: بیشکه داسمان ومځکي په پیدائش دورځي اوشپې په اختلاف کي دعقل دخاوندانو لپاره ښې اوښاني دي همدارنګه الله ﷻ فرمایلي دي ﴿وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً﴾ الفرقان آية(۶۲). ژباړه:

الله ﷻ همه ده چه شپه اوورځ یې یوپه بل پسې راتلونکي ګرځولي دي دجناب عطاء رحمه الله قول ده چه په اول آیت کي له اختلاف څخه مرادنوراوظلمت کمي اوزیاتي ده یوشاعر څومره ښه ویلي دي ؛

یاراقد اللیل مسرورا باوله ..... ان الحوادث قدتطرقن اسحارا

لاتفرحن بلیل طاب اوله..... فرب اخر لیل اجج النار

ژباړه :اې دشپې په اوله حصه کي په خوشحالي بیدیدونکي کله کله دسهارپه وخت کي هم مصائب نازلیږي دشپې داولي حصې له پاکي څخه مه خوشحالیږه ددیرو شپواخیره حصه دجهنم شعلې بلوي یوبل شاعروایي ؛

ان اللیالي للانام مناهل ...... تطوي وتنشردونها الاعمار

فقصارهن مع الهموم طویلة ..... وطوالهن مع السرور قصار

ژباړه :بیشکه شپې دخلکو منزلونه دي کوچنۍ شپې دغمونو په وجه اوږدیږي او اوږدې شپې دخوشحالي په وجه کمیږي .

اولو الالباب څوک دي؟الله ﷻ دغور اوفکر دخاوندانو تعریف کړي ده اوفرمایلي یې دي ؛ الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَاطِلًا سورة آل عمران آیة(۱۹۱) ژباړه :داهغه خلک دي چه په ولاړه، ناسته، او په پروته الله ﷻ یادوي اودمځکي اواسمانونوپه خلقت کي فکر کوي اووایي اې زموږ ربه تاداټول بې فایدې نه دي پیداکړي .

**دالله ﷻ په ذات کي دغور اوفکر څخه ممانعت** :دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت ده چه اې خلکو دالله ﷻ په ذات اوصفات کي څه غور وکړئ محمد ﷺ ورته وفرمایل دالله ﷻ په مخلوق کي غور اوفکر کوئ دالله ﷻ په ذات کي غور اوفکر مه کوئ ځکه چه تاسي دهغه په بې مثاله قدرت باندي نسئ قادر کیدلای دنبي کریم ﷺ څخه روایت ده چه یوه ورځ رسول ﷺ یوداسې ډلې ترڅنګ تیرسو چه هغه ډله په غور اوفکر کي ډوبه وه رسول ﷺ پوښتنه ځني وکړه څه خبره ده؟ تاسي ولې خبري نه کوئ؟ هغو وویل موږ دالله ﷻ په باره کي غور اوفکر کوو رسول ﷺ فرمایل ښه دي خود الله ﷻ په مخلوقاتو کي فکر کوئ دخالق په ذات کي غور اوفکر مه کوئ بیایې وفرمایل په غرب کي یوه سپینه نوراني مځکه ده هلته لمر یوه ورځ په څلویښتوورځوکي رسیږي الله ﷻ هلته یومخلوق پیداکړي ده له کومه وخته چه پیداسوي ده یوې شیبې لپاره یې هم دالله ﷻ نافرماني نه ده کړې خلکو پوښتنه وکړه یارسول الله ﷺ هلته شیطان نه ده تللی؟ رسول ﷺ فرمایل

هغوته دشیطان دپیدا کیدو هیڅ علم نسته پوښتنه وسوه چه هغه دآدم ﷺ داولادي څخه دي؟ رسول ﷺ وفرمایل هغوته خودادم ﷺ دخلقت په باره کي څه علم نسته له حضرت اطار ﷺ څخه روایت ده چه یوه ورځ زه اوعبید بن عمیر ﷺ دحضرت عائشي ﷺ په خدمت کي حاضرسوو زموږ اودهغي ﷺ ترمنځ یوه پرده ځریده هغي پوښتنه وکړه چه اي عبیده ته زموږ ملاقات ته ولي نه راځي؟ هغه ﷺ ورته وویل زه دمحمد ﷺ دهغه فرمان له وجه دیر وخت بعد حاضریږم چه فرمایلي یي وه (زرغبا تزددحبا) په تاخیر سره ملاقات کوه په دي سره محبت زیاتیږي ابن عمیر ﷺ ورته وویل اي عائشي ﷺ دمحمد ﷺ له عجیبه خبرو څخه څو یوه خبرموږته بیان که عائشه ﷺ په ژړاسوه اوویي فرمایل دمحمد ﷺ هره خبره عجیبه وه یووخت محمد ﷺ دشپي زماخواته راغي اوله ماسره یي په بستره کي ارام وکړ لږ وخت بعد یي ماته وویل چه ماته اجازه راکه چه دخپل رب ﷻ عبادت وکم هغه ﷺ داوبو مشک ته ولاړي اودس یي وکړپرلمانځه ودریدي دیرزیات یي وژړل دومره یي وژړل چه ږیره مبارکه یي په اوښکولنده سوه له سلام څخه وروسته پرارخ بیده سو ترهغه وخته بیده وو چه حضرت بلال ﷺ دسهار اذان وکړاوهغه یي دلمانځه لپاره راوغوښتي عرض یي وکړ یارسول الله ﷺ ته ولي دومره ژاړي؟ حال داچه الله ﷻ ستامخکني اووروستني ګناهونه ټول معاف کړي دي رسول ﷺ وفرمایل اي بلاله افسوس ده تالره چه له ژړا څخه مي منع کوي حال داچه الله ﷻ نن شپه پرمابانديدا آیت شریف نازل کړ:

|اِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي الْاَلْبَابِ سورة البقره آیة(۲۳)|
|---|

ژباړه بیایي ارشاد وکړ چه دهغه چالپاره افسوس ده چه دا آیت یي ووایه غور اوفکر یي پکښي ونه کړ له امام اوزاعي ﷺ څخه پوښتنه وسوه چه په دغه آیتونوکي له غور اوفکرڅخه څه مراددي؟ هغه ﷺ په جواب کي وویل دغه آیتونه ووایه بیاپه هغه آیتوباندي دپوهیدو کوشش وکه له محمد بن واسع ﷺ څخه روایت ده چه دبصري یوسړي دحضرت ابوذر ﷺ دوفات څخه وروسته دهغه ښځي ته ورغي له هغي څخه یي دابوذر ﷺ دعبادت په اړه پوښتنه وکړه هغي ورته وویل چه دي به ټوله ورځ دکورپه یوکونج کي ناست وو دیر غور اوفکر به یي کاوو دحضرت حسن ﷺ قول ده چه دیوو ساعت لپاره غور اوفکر دټولي شپي ترعبادت ښه ده دحضرت فضیل ﷺ قول ده چه غور اوفکر کول هنداره ده تاسوته ستاسي نیکیاني اوبدیاني ښکاره کوي له ابراهیم ﷺ څخه چاپوښتنه وکړه چه تاسي دیر غور اوفکرکوئ هغه په جواب کي ورته وویل غور اوفکر

دعقل مغز ده سفیان بن عینیة رحمه الله به زیاتره وخت دشاعر دغه لاندي قول دمثال په طرز وړاندي کاوه

اذا المرء کانت له فکرة ..... ففي کل شيئ له عبرة

**ژباړه:** کله چه په انسان کي دغور اوفکر کولو ماده موجوده وي هغه ته په هرشي کي عبرتونه په نظرراځي. **خپلو حواریونوته دعیسی علیه السلام جواب** له طاوس رحمه الله څخه روایت ده چه حواریانو حضرت عیسی علیه السلام ته وویل اوس دمځکي پرسر ستاپه رقم بل څوک سته؟ هغه علیه السلام وفرمایل دچاخبري چه دالله تعالی ذکر وي خاموشي یې غور اوفکر وي سترګي یې دعبرت سترګي وي هغه زماپه رقم ده دحسن رحمه الله قول ده چه دکوم سړي خبري چه حکیمانه نه وي هغه هسي لغوه وي دچاخاموشي چه دغور او فکر لپاره نه وي هغه هسي یولیوتوب ده دچاسترګي چه دعبرت اخستو څخه خالي وي هغه چتي اوبیهوده وي دالله تعالی فرمان ده:

سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ الآية.

حسن رحمه الله وایي چه ددي آیت معني داده چه زه دهغو په زړونوکي دغور اوفکر صلاحیت ختموم دحضرت ابوسعید خدري رضی الله عنه څخه روایت ده چه محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي خپلو سترګوته هم دعبادت برخه ورکئ عرض وسو چه دسترګو څه برخه ده؟ رسول صلی الله علیه وسلم وفرمایل دقرآن کریم ویل اوپه هغه کي غور اوفکر کول مکې معظمې ته نژدي په یوو ځنګله کي له یوي ښځي څخه روایت ده چه که دنیکیانو زړونه دغور اوفکر څخه وروسته دغیب په پرده کي پټ هغه انعامات وګورئ کوم چه الله تعالی ورته تیارکړي دي پرهغوبه ددنیاژوند ګران سي دنیابه بالکل یوبې فائدي شي ورته ښکاره سي حضرت لقمان علیه السلام به تردیره وخته پوري چپ ناست وو غور او فکر به یې کاوو دهغه خادم ده ترځنګ تیریدي ورته ویې ویل چه تاسي همیشه یوازي کښینئ که له خلکو سره کښینئ نوخوشحاله به سئ هغه علیه السلام به په جواب کي ورته ویل چه یوازي اوږده ناسته همیشنۍ غور اوفکر سړي ته ورکوي اواوږد فکر دجنت لارده دوهب بن منبه رحمه الله قول ده چه که کوم سړي غواړي چه غور اوفکر زیات کي دهغه علم زیاتیږي دچاچه علم زیات سي هغه عمل کوي دحضرت عمر بن عبد العزیز رحمه الله قول ده چه دالله تعالی په نعمتونوکي غور اوفکرکول ترټولوښه عبادت ده حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله یوه ورځ سهل بن علي رحمه الله دتفکرپه حالت کي غلي اوچپ ولیدي پوښتنه یې ځني وکړه چیري رسیدلي یې؟ هغه ورته وویا دپل صراط په اړه غور اوفکر کوم دحضرت ابن عباس رضی الله عنه قول ده چه داسي دوه رکعتونه چه دزړه په حضور اوتنهایې په غور اوفکر سره وکې هغه دټولي شپې تربې حضوره اوبې غوره عبادت بهتر ده

ابوشریح رحمه الله یوځاي ته روان وو ناڅاپه یې پټوپراوږو کړ ارام کښېنستۍ په ژړایې پیل وکړ دژړا دسبب پوښتنه ورڅخه وسوه نویې وویل زه دخپل تیر عمر په لږ عمل اودمرګ پراتلو باندي ژاړم دابو سلیمان رحمه الله قول ده چه دسترګي دژړا اودزړه دغور اوفکر کولو عادي وګرزه هغه وفرمایل ددنیاپه باره کي غور اوفکر دآخرت لپاره یوه پرده ده اودنیکانو لپاره یوعذاب ده لیکن دآخرت په اړه غور اوفکر کول سړي دعلم وارث کوي زړونه ژوندي کوي دحاتم رحمه الله قول ده چه دعبرت دترلاسه کولو سره علم زیاتیږي په ذکر سره محبت زیاتیږي په غور اوفکر سره دالله جل جلاله څخه وهم زیاتیږي دحاتم رحمه الله بل قول ده چه په نیکیوکي غور اوفکر دنیکي کولو ترغیب زیاتوي پرګناهونوباندي ندامت کول سړي ګناه پرېښوولو ته اماده کوي روایت ده چه الله جل جلاله په خپلو ځینو کتابونوکي فرمایلي دي چه زه دهر عالم اودانشمند کلام نه یم زه دهغه نیت اومحبت ته ګورم که دهغه نیت اومحبت زمالپاره وي نوزه دهغه خاموشي دغور اوفکر په خاموشي کي دهغه ګفتګو اوخبري په حمد کي حسابوم که څه هم هغه چپ ناست وي دحسن رضي الله عنه قول ده چه عقلمند همیشه په ذکر سره دفکر پرطرف اوغور سره دالله جل جلاله ذکر ته رجوع کوي تردي چه دهغه زړه خبري کوي اودعلم اوحکمت خبري کوي اسحق بن خلف رحمه الله وایې چه جناب داؤد طایې به دسپوږمۍ په رڼاکي دکور پربام کښېنستي دالله جل جلاله دآسمان اومځکي په عجائبوکي به یې غور اوفکر کاوه اسمان ته به یې کتل اوژړل به یې یوه شپه یې هوښه سو دهمسایه کره ولویدي دکور مالک توره په لاس کي په منډه منډه ورته راغي دهغه خیال سو چه غل راغلي ده لیکن کله چه یې هغه ولیدي نویې توره په پوښ کي واچوله پوښتنه یې ځني وکړه چه ته چاپورې وهلي یې. چاراغورځولي یې؟ هغه ورته وویل ماته معلومات نسته دجنید رحمه الله قول ده چه غوره مجلس هغه ده چه په توحید کي غور اوفکر وکي دمحبت په دریاب کي دمحبت جام چښل بهترین شراب دي همداراز دمعرفت دمعطري هوا څخه لطف اوخوند اخیستل دټولو هواګانو څخه بهتر دي دالله جل جلاله څخه دښه اجر امید کول دیر بې مثاله کارده یایې وفرمایل هغه زړه څومره ښه ده چه دغسي مجلس پېژني هغه ته دي زیری وي چه دمحبت خواږه جامونه نوشوي دامام شافعي رحمه الله قول ده چه په ګفتګو باندي په خاموشي سره اودعلم دحصول لپاره په غور اوفکر سره امداد غواړئ اوویې ویل دکارونوپه متعلق ښه غور اوفکر کول سړي له دوکي اونقصان څخه ساتي عمده فکر سړي له شرمندګي څخه ساتي په کارونوکي غوراوفکر په سړي کي هوښیاري پیداکوي اوترکار دهوښیارانو مشوري ذهانت [illegible] ته قوت ورکوي ځکه تراراده مخکي غور اوترکار

منځکې فکر وکه تروخت له منځه مشوره کوه اوويې ويل چه فضائل څلور دي اول حکمت، چه دار اومدار يې پرعقل اوفکر باندي ده .پاکي، چه دار اومدار يې له شهوت څخه پر اجتناب باندي ده .قوت، چه دار اومدار يې پرقهر اوغصه ده .عدل ، چه دار اومدار يې دنفساني قواوو پراعتدال باندي ده .

## څلورڅلويښتم باب دمرګ دسختي بيان

له حضرت حسن ؓ څخه روايت ده چه محمد ﷺ دمرګ دسختي په اړه وفرمايل دمرګ درد دتوري ددري سوه واره وهلو له درد سره برابر ده له محمد ﷺ څخه دمرګ دسختي په اړه پوښتنه وسوه هغه ﷺ وفرمايل اسان مرګ هم په وړيه کي داغزو لرونکي لښتي دراکشولو په رقم ده چه له وړي څخه يې راکاږي نوخامخا وړي ورسره مبتلي يومريض سړي ته محمد ﷺ ورغي اوورته ويې ويل زه پوهيږم چه هغه په څومره تکليف کي ده پرهغه ولي خوله راغلي ده داهرڅه دتکليف اوددرد په وجه دي حضرت علي کرم الله وجهه به خلک دجهادلپاره اماده کول اوفرمايل به يې که تاسي په جهادکي ګډون ونه کړ نوبياهم مرګ ضرور اوحتمي ده په خداي قسم چه دتورو زرو ګزارونو په بستره کي له پريوتو څخه اسان په نظر راځي دامام اوزاعي ؒ قول ده چه موږ ته ددي خبري معلومات وسو چه مړي له قبر څخه دراپورته کيدو تروخته پوري دمرګ تکليف محسوسوي. **دمرګ دځينو تکاليفو تفصيل**؛دشداد بن اوس ؒ قول ده چه مرګ دمؤمن لپاره ددنيا دټولو هغو څخه بدترين وهم ده هغه دآري په څيرلوپه غيچي دپري کولو اوپه ديګ کي ايشولو څخه هم زيات سخت دي که چيري کم مړی ژوندي سي اوخلکوته دمرګ سختي ان کي هغه به دژوند خواږه له ياده وباسي کله به هم په ارامه بيده نه سي زيد بن لم ؒ دخپل پلارڅخه روايت کوي چه کله يومومن دخپل عمل له وجه کمه درجه حاصله نه کي دمرګ په وخت کي له تکليف سره مخامخ کيږي ترڅوهغه دجنت آخري درجه هم ترلاسه کي چه په خپلو اعمالو سره يې نه وه ترلاسه کړي که دکم کافر يوڅه نيک اعمال وي اوپه دنياکي وهغه ته دهغه عوض ورنکړ سي پرهغه دمرګ سختي اسانه کيږي ترڅو چه دخپلو نيکو کارونو بدله حاصله کي اوله مرګ وروسته سيده جهنم ته ولاړسي يوسړي به اکثره وخت دمرګ دسختي په اړه خبري کوي کله چه هغه مرګ ته رانژدي اوپه مرض الموت کي راګيرسو خلکو له هغه څخه دمرګ دسختي په اړه پوښتنه وکړه هغه وويل داسي معلوميږي لکه اسمان اومځکه چه په خپل مابين کي سره مښتي وي زماروح دستني له سوروي څخه باسي دنبي کريم ﷺ حديث ده چه ظاهره مرګ دمؤمن لپاره راحت

اودګنهګارلپاره زحمت ده له مکحول رحمه الله څخه روایت ده چه محمد ﷺ وفرمایل که دمړي له ویښتانو څخه یو ویښته دمځکي او آسمان پرخلکو باندي کښېښوول سي تول به مړه سي ځکه چه دمړي په هر ویښته کي مرګ وي کله چه کم شي ورباندي راسي هغه شي فناء کیږي روایت ده که دمرګ ددرد یو څاڅکي ددنیاپرغرونوباندي کښېښوول سي تول غرونه به ویلي سي.

**دانبیاؤ علیهم السلام مرګ ډیراسان وي**: روایت ده چه کله حضرت ابراهیم علیه السلام وفات کیدي نوالله جل جلاله وفرمایل اي زماخلیفه! تامرګ څنګه محسوس کړ؟ هغه وویل کله چه یو سیخ په ... نده وري کي دننه سي بیا څني وایستل سي الله جل جلاله ورته وفرمایل ماستالپاره مرګ ډیر اسانه کړي وو روایت ده چه دحضرت موسي علیه السلام روح دالله جل جلاله په حضورکي حاضرسو الله جل جلاله پوښتنه څني وکړه چه تامرګ څنګه محسوس کړ؟هغه علیه السلام وفرمایل لکه څنګه چه مرغۍ په تلکه کي ومښلي مړه نسي بالکل هغه نجات غواړي خوخلاصیږي نه چه ورڅخه والوزي اودتیښتي داحال دنزعي په وخت کي وي داروایت هم ده چه هغه وویل ماداسي دردتیرکړلکه قصاب چه له ژوندي مړ څخه څرمن کاږي روایت ده چه دمرګ په وخت کي دمحمد ﷺ څنګ ته داوبو پیاله پرته وه محمد ﷺ به له هغې څخه اوبه اخستلي پرتندي به یې اچولي موږلي به یې فرمایل به یې اي الله جل جلاله! پرمادمرګ تکلیف اسانه کي اودجنت دښځوسرداري بي بي فاطمي رضي الله عنها ورته ژړل ویل به یې هاي زمادپلار تکلیفه محمد ﷺ ورته وفرمایل ستاپرپلار به له دي وروسته کم تکلیف اودردونه راځي حضرت عمر رضي الله عنه کعب احبار رضي الله عنه ته وویل چه موږ ته دمرګ دسختي په اره څه ووایه حضرت کعب رضي الله عنه وویل اي امیرالمؤمنینه! مرګ دهغې نخښي په رقم ده چه ډیر ازغي پکښې وي هغه دانسان په بدن کي داخل سوي وي هریو اغزي یې په هررګ کي ننوزي بیاهغه سړي په ډیره سختي سره راباسي څه اغزي راووزي اوڅه نور دننه په صورت کي پاته سي نبوي فرمان ده چه انسان دمرګ سختي ناروغي ګڼي دهغه علاج کوي مګر دهغه دجسم اعضاء یودبل څخه جلاوي اووایي چه پرتادي سلام وي اوس نوترقیامته پوري یودبل څخه جلاکیږو داپورتني احوال دهغو مقدسو اشخاصووه چه دالله جل جلاله دوستان وو زموږ به څه حالت وي زموږ لپاره خوبه دمرګ له سختیوبغیر نوري هم ډیري خواري وي دمرګ دري سختیاني وي اول دنزعي تکلیف، دوهم دعزرائیل علیه السلام لیدل، اوله هغه څخه بیریدل، که یوډیر بهادر سړي ملک الموت په خپل اصلي شکل کي ووینې نودلیدو تاب اوطاقت به یې ونه لري روایت ده چه حضرت ابراهیم علیه السلام ملک الموت ته وویل ته ماته خپل اصلي

صورت راوښیه چه دګنهګارو دروح اخستلو لپاره ورته راځي؟ ملک الموت ورته وویل ته زمادلیدو طاقت نلري ابراهیم (ع) ورته وویل زه ستادلیدو طاقت لرم عزرائیل (ع) ورته وویل لږ وخت هاخوا ته وګوره هاخواته چه یې وکتل که ګوري یو تک تور سړي چه له سړمو څخه یې داور لمبې وتلې وي ایري څني بادیدلې هغه یې ولیدې ابراهیم (ع) چه هغه ولیدي بې هوښه سو کله چه بیرته په هوښ کې راغي ګوري چه عزرائیل (ع) په پخواني شکل کې له ده سره ناست ده ابراهیم (ع) وفرمایل که دفاسق اوفاجرلپاره له مرګ څخه پرته نوره سختي هم نه وي یوازې داستالیدل ورته ډیر عذاب ده له حضرت ابو هریره (رض) څخه روایت ده چه حضرت داؤد (ع) ډیر غیرتمند ځوان وو کله چه به له کوره دباندې تلي نو دروازي به یې بندولي یوه ورځ یې دکور ټولي دروازي بندي کړي او دباندي ولاړي دهغه ښځي یو سړي ولیدي چه دسراي په منځ کې ولاړوو هغې وویل چه دا سړي څنګه دننه راغلي ده که داؤد (ع) راغي نو خامخا به په خفه سي داود (ع) راغي هغه سړي یې ولیدي پوښتنه یې څني وکړه چه ته څوک یې؟ هغه وویل زه هغه څوک یم چه له باچهانو څخه هم نه یریږم او نه زما په مخ کومه پرده حایلیداي سي حضرت داؤد (ع) چپ سوا وویې ویل نو ملک الموت یې. **دسړله کوږوه سره دعیسی (ع) خبري** روایت ده چه عیسی (ع) دیو انسان سر ونیدي په پښه یې وواهه اوورته ویې ویل دالله ﷻ په حکم سره له ماسره خبري وکه سر ورته وویل اي روح الله! زه فلاني سړي اودفلانۍ زماني باچاوم یوه ورځ زه دلښکر په مینځ کې تاج پرسر پرتخت ناست وم ناخبره ملک الموت راغي دهغه په لیدو سره زما ټول اندامونه شل سول زماروح والوتي په دې دنیاکي زمالپاره هیڅ نه وو زما په مخ کې جدایې ولاړه وه له هغه سره دمحبت اووحشت څخه پرته بل څه نه وو دادنیاهسې دوکه ده داطاعت کوونکي لپاره زمادا خبري نصیحت دي داهغه افت ده چه هرګنهګارا و فرمانبردار به یې ویني انبیاء کرامو (ع) دمرګ پروخت صرف دنزعې دسختي بیان کړي ده هغه واهمه یې نه ده بیان کړي چه دملک الموت دلیدو په وخت کې پرسړي باندې راځي که څوک دملک الموت شکل په خوب کې ویني هغه به خپل پاته ژوند په ارامه تیر نکړي الله ﷻ فرمانبرداره خلکوته ملک الموت په ښکلي ښایسته شکل کې رالیږي لکه ابراهیم (ع) چه ډیر غیرتمند انسان وو دهغه (ع) یوه عبادت خانه وه کله چه به دې څني راووتي عبادتخانه یې بندوله یوه ورځ له عبادتخاني څخه دباندې راووتي که ګوري چه هلته یو سړي ولاړده هغه (ع) پوښتنه څني وکړه ته چادلته راوستلي؟ هغه سړي وویل ددې مالک ابراهیم (ع) ورته وویل ایاته ماته خپل اصلي شکل ښوولاي سي چه دمخلوقاتو

داروحونو دقبضولو لپاره راځي؟ ملک الموت وویل هو ته هاخواته وګوره لږ وخت بعدابراهیم ﷺ بیرته وده ته وکتل هغه دیربنه ځوان وو پرمخ یې نور بادیدي ډیرپاک جامه یې وه خوشبویې ځني ولاړیده ابراهیم ﷺ چه دامنظر ولیدي نوویې فرمایل اي عزرائیله که مؤمن ته دمرګ په حالت کي بل کوم انعام اونعمت ونه رسیږي یوازي داستا دلیدو نعمت لوي نعمت ده .

**دمعاففلو ملائکو لیدل**:دمرګ په وخت یوبل مصیبت دخپلو ساتونکو ملائکو لیدل دي له جناب وهب ﷺ څخه روایت ده چه مونږ ته داخبررسیدلي ده چه کله کوم سړي مري نودمرګ څخه مخکي دعمل نامو لیکوونکي ملائکي ویني که سړي نیک وي نو هغه ورته وایي الله ﷻ دي تاته نیکه جزادرکي تامونږ په دیرو ښو مجلسونوکي کښینوولو دیر نیک کارونه دي دلیکلو لپاره وکړل که چیري ګنهګاروي نوورته وایي الله ﷻ دي تاته نیک خبر نه درکوي تامونږ په دیروخرابو مجلسونوکي کښینو لو دګناه اوبدو خبرو په لیدو دي مجبور کړو الله ﷻ دي تاته ښه اجر نه درکوي په دي , خت کي دانسان سترګي خلاصي پاته کیږي هیڅ شي نسي لیداي ماسوادالله ﷻ دملائکو .دریم مصیبت داده چه دنزع په وخت کي ګنهګار انسان په جهنم کي خپل ځان ویني اودې سخت بیریږي دبدن اعضاء یې ستړې روح ځني وزي مګر دملک الموت له اوازڅخه بغیر چه له دوو بشارتوڅخه پریوو مشتمل وي نه وزي یادا اواز ورته کوي چه دالله ﷻ دښمنه! ""ته دجهنم زیري ده یادا اواز ورته کوي اي دالله ﷻ دوسته! تاته دجنت زیري ده همداوجه .ه چه عقلمند سړي له مرګ څخه مخکي زیات بیریږي دنبي کریم ﷺ حدیث شریف د، چه له تاسوڅخه هیڅوک ترهغه وخته پوري له دنیاڅخه رحلت نه کوي ترڅ.وچه هغه خپل ځاي په جنت یادوږخ کي ونه ویني .

## پنځه څلویښتم باب دقبر حالات اوسوالونه

نبوي حدیث ده چه کله مړي په قبرکي کښیږدي نو قبر ورته وایي اي انسانه ستالپاره افسوس ده ته زماپه باره کي چاپه دوکه کي اچولي وي ؟ تاته نه وه معلومه چه زه دامتحان ،تیاري، تنهایي، اودچینجو کوریم کله چه به ته زماترڅنګ تیریدي ته کم کبر اوغرور نیولي وي که چیري مړي نیک عمله وو یواواز کوونکي جواب ورکوي اي قبره! تاته نه ده معلومه چه دغه شخص به دنیکي حکم کاوه له بدو څخه به یې خلګ منع کول قبر ورته وایي ښه نوزه به اوس دده لپاره شین چمن سم دهغه صورت به نوراني سي روح یې دالله ﷻ درحمت قرب ته ورځي .

**دمدفن اواز:** دعبيد بن عيرالليثي رحمه الله روايت ده چه کم سړي مړسي دمځکي هغه ته د
دي پکښي دفن کيږي اواز کوي چه زه دتيارو اوتنهايي کوريم که تاپه خپل ژوند کي نيک
کړي وي زه به ستالپاره دخوشحالۍ ځاي وګرځم که تانافرماني کړي وه نوزه به
ستالپاره عذاب وګرځم زه هغه کوريم چه څوک ماته فرمانبرداره راسي له دي ځايه څ
دير په خوشحالي سره وزي څوک چه نافرمانه ماته راسي هغه به په دير ذلت سره وز
جناب محمدصبيح رحمه الله وايي چه ماته داروايت رسيدلي ده چه کله سړي په قبرک
کښيښوول سي هغه ته عذاب ورکول کيږي دهغه په څنګ کي پراته مړي وايي چه ا
زماژوندي ورورو اياتاسي زموږ له راتګ څخه وروسته عبرت اوپند نه واخست
ايازموږ دمرګ او په قبرکي دپټولو وروسته موعبرت حاصل نکړ تاسي وليدل چه زم
اعمال زموږ له مرګ څخه وروسته ختم سول ليکن تاسي ژوندي واست دنيکو اعما
کولولپاره له تاسي سره کافي وخت اومهلت وو ليکن تاسي له هغه څخه هيڅ ګټه وا
خسته اونيک اعمال مو نه وکړه قبرونه ورته وايي اي ددنياپه ظاهري مال باندي فخ
کوونکي! تاولي له خپلوانو څخه عبرت نه کړ حاصل چه په دنياوي نعمتونوباندي به ي
فخر کاوه ليکن هغه ستاسي په وړاندي په خاوروکي دفن سول تاسي دهغوي دجنا
کټونه پرخپلو اوږو قبرونه راوړل او ستاسي په مخکي خاوروته وسپارل سول.

**اعمال هم له مړي څخه سوال کوي:** ديزيد القاسمي رحمه الله قول ده چه ماته داروايت ن
سوي ده چه کله مړي په قبرکي کښيښوول سي دهغه ټول اعمال راجمع کيږي بيا الله ﷻ
دخبرو کولو قدرت ورکوي هغه مړي ته وايي اي دقبر انسانه استاټول دوستان اوعزيز
درڅخه جلاسول نن له مابغير ستابل څوک دوست نسته له حضرت کعب رضي الله عنه څخه روا
ده چه کله نيک سړي په قبرکي کښيښوول سي دهغه صالح اعمال، روژې، لمونځ
جهاد، صدقه، اونور نيک اعمال دده په خواکي را جمع سي کله چه دعذاب ملا
دپښي له خوا راسي نولمونځ ورته ووايي د ده څخه ليري سه ستاله ده سره هيڅ ک
به پردي پښو ودريدي او د الله ﷻ عبادت به يې کاوه بياهغه
ورته راسي روژه ورته ووايي له ده سره ستاهيڅ کارنسته ځکه
خوشحالي په خاطر ديري روژې نيولي وي زياته لوږه اوتنده يې
دجسم دنورو طرفونوڅخه راځي حج، اوجهاد ورته وايي له
تکليف کي اچولي وو اودالله ﷻ درضاپه خاطر يې جهاد او
ستاله ده سره هيڅ کارنسته بياهغه مړي ته ويل کيږي چه

رحمت ملائکي دجنت فرشونه غوروي دهغه لپاره دجنت لباس اوکالي راوړي د هغه دسترګو دديد په اندازه ورته قبر پراخوي دجنت چراغ ورته لګوي چه دقيامت تر ورځي به رڼا ورته کوي جناب عبيد ابن عمير په يوه جنازه کي وويل ماته داروايت را رسيدلي دی چه محمد ﷺ وفرمايل مړي په قبرکي اېښوول کيږي هغه دقبر له څنګ سره دتيريدونکو خلګو دپښو اواز اوري له هغه سره قبر خبري کوي اوورته وايي اي انسانه! تاته افسوس ده اياته زما دتنګي، بدبويي، هيبت، اوزماله چينجوڅخه نه وي بيرول سوي ؟ اوس ته ماته په کم حالت کي راغلي يي څه تياري دي کړي ده که خالي لاس راغلي يي . **دمسلمان مرګ په وخت کي دملائکو راتلل:** دحضرت براء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت ده چه موږ له محمد ﷺ سره ديو انصاري ځوان په جنازه کي ولاړو محمد ﷺ د هغه دقبر په څنګ کي سرپرزنګون کښېنستي دري واره يي اللهم اني اعوذبک من عذاب القبر وفرمايل له دي وروسته يي مخ واړاوو موږ ته يي وفرمايل چه کله دمؤمن مرګ نژد سي نو الله ﷻ دهغه پرطرف ملائکي رااستوي چه مخونه به يي دلمر په شان ځليږي دهغه لپاره خوشبويي اوکفن له ځانه سره راوړي ليري ليري ورڅخه کښيني کله چه دمؤمن روح پرواز وکي دمځکي اوآسمان ترمنځ ټولي اوسيدونکي ملائکي دهغه ددرجو دپورته والي دعاکوي دهغه لپاره داسمانو دروازي خلاصوي دهريوو آسمان داخواهش وي چه داروح له ماڅخه تيرسي کله چه روح لوړ آسمان ته پورته کيږي نو ويل کيږي چه اي الله ﷻ ستا فلانکي بنده راغي الله ﷻ به وفرمايي داپورته کړئ اوهغه نعمتونه ورښکاره کړئ چه ماورته تيارکړي دي ماداوعده کړي ده چه څنګه مي دي له خاوري څخه پيداکړي ده همداسي به يي بيرته خاوري کوم مړي په قبرکي دژوندو خلګو دقدمونو اواز اوري کله چه خلګ ځني ولاړسي نونکير اومنکر ورته راځي اوورته وايي ستارب څوک ده؟ ستادين څه ده؟ ستانبي څوک ده؟ هغه به په جواب کي ورته ووايي چه زمارب الله ﷻ اوزمادين اسلام زمانبي محمد ﷺ ده بيا يي وفرمايل په قبرکي ملائکي ډير سخت سرزنش کوي داآخري مصيبت ده چه پرمړي باندي په قبرکي نازليږي کله چه دهغو له سوالونوڅخه فارغ سي نومنادي اواز کوي تاربښتيا وويل همدادالله ﷻ فرمان ده، يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ الآية .الله ﷻ مؤمنان په محکمو خبروسره ثابت قدم ساتي بيادهغه خواته يوښايسته اوجميل شخص راځي چه له وجودڅخه به يي ډيره ښه خوشبويي ځي هغه ډير ښه لباس اغوستي وي هغه مړي ته وايي تاته دي ذالله ﷻ نعمتونه اورحمتونه مبارک وي مؤمن ورته وايي الله ﷻ دي خير درکي ته څوک يي؟ جواب ورکول کيږي چه زه ستانيک اعمال يم تابه

دنیکي کارونه کول اوله بدوکاروڅخه به دي ځان ساتي نوځکه الله ﷻ تاته بهترین نعم
درکړي ده بیااواز کوونکي اواز کوي چه دده لپاره جنتي فرش وغوړوئ اودجنت ي
کړکۍ ورته راخلاصه کړئ دهغه لپاره دجنت فرش غوړول کیږي دجنت یوه کړکۍ ور
راخلاصیږي هغه دعاکوي چه اي الله ﷻ اقیامت ژر قائم کي ترڅو چه زه خپل اهل اوعي
وویـنم محمد ﷺ فرمایلي دي چه کله دقیامت آخري وخت راشي سي اودګنهګاره سړ
روح الوزي نوبي رحمه اوهیبتناکه ملائکي ددوږخ دتارکولو لباس له ځانسره راوړي هغ
ډیر سخت بیروي کله چه دهغه روح ووزي نودآسمان اوځمکي ترمینځ اوسیدونک
ملائکي ټولي پرهغه لعنت وایي داسمانونو دروازي ورته تړل کیږي کله چه دهغه روح ل
ځي نولاندي غورځول کیږي اوملائکي وایي اي الله ﷻ ستادفلانکي بنده روح راغلي
خوآسمان اوځمکي هغه قبول نه کړ الله ﷻ ورته فرمایي هغه واپس ولیږه هغه عذاب ور
وښیه کوم عذاب چه ماپه قبرکي ورته تیار کړي ده ځکه ماداوعده کړي ده چه څنګه م
دي له خاوري څخه پیداکړي ده همداسي به یې بیرته خاوري کوم کله چه په قبرک
کښیښوول سي اوخلک ځني روان سي مړي دهغو دقدمو اواز اوري هغه ته ویل کیږ
ستارب څوک ده؟ ستادین څه ده؟ ستانبي څوک ده؟ هغه به په جواب کي ورته وایي زه
پوهیږم هغه ته ویل کیږي بنه ته نه پوهیږي بیایوبد شکل اوبد بوي اوډیر غلیظ لباس وا
ورته راځي اوورته وایي تاته دي دخداي دقهراودهمیشني عذاب زیري وي کافرم
ورته وایي ته څوک یې؟ هغه ورته وایي زه ستابدعمل یم تابه په دنیاکي بدکارونه کو
اوله نیکي څخه به دي پرهیز کاوو ځکه الله ﷻ تاته بده سزادرکړه بیادهغه خوا
یوکوڼکی اوړنده ملائکه راځي له هغي سره داوسپیني څټک وي هغه به دومره دروند و
چه ټول انسانان اوپیریان به یې نه سي پورته کولاي که په هغه باندي غرونه ووهل سي ریز
ریزه به سي ملائکه به په دې څټک سره دغه کافر وهي هغه خاوري کیږي خوالله ﷻ ي
بیرته ژوندي کوي بیایې وهي هغه بیاریزه ریزه کیږي الله ﷻ یې بیاژوندي کوي ملائک
هغه دسترګو په مابین کي پرتندي وهي چه دهغه اواز له جن اوانس څخه پرته دځمکي ټو
مخلوق اوري بیاورته اواز کیږي دده لپاره ددوږخ دوې تختي وغوړوي د هغه لپاره دجه
دروازه خلاصه کي جهنمي فرشونه غوړول کیږي له محمد ﷺ څخه روایت ده چ
هرمړکیدونکي سړي ته دهغه دمړکیدوپه وخت کي دهغه نیک او بد عمل ښوول کیږ
هغه خپلو نیکیوته مسلسل ګوري اوله خپلو ګناهونوڅخه سترګي پټوي له حضرت
ابوهریره ﷺ څخه روایت ده چه محمد ﷺ فرمایلي دي کله چه مؤمن ته دمرګ وخ

رانږدي سي ملائکي دوریښمو په یودسمال کي دخوشبویې لرونکو مشکو ځانګي
راوړي کله چه مؤمن ته دجنت خوشبویې ورسیږي روح یې په داسي اساني سره وزي لکه له
وړو څخه چه ویښته وزي بیاورته ویل کیږي اي مطمئن نفسه ! دخپل رب پرطرف په
خوشحالي ولاړسه دالله ﷻ دنعمتونو او عزت پرطرف ولاړسه کله چه روح ووزی نو هغه
وریښمو په خوشبویې داره دسمال کي ایښوول کیږي اوجنت ته لیږل کیږي. **دکافر لپاره**
**عذاب**،کله چه دکافر مرګ نژدي سي ملائکي په یوټاټ کي دجهنم سکروټي ایږدي
اوورته راځي دهغه دګرمۍ اوبدبویې په وجه دهغه روح دیرپه عذابیږي هغه ته ویل کیږي
اي خبیث اومقهور روحه ا دالله ﷻ دعذاب په طرف راووزه کله چه روح ووزي نوسکروټي
باندي ایښوول کیږي ددي سکروټو په وجه داروح ایشي بیا د ټاټ دسمال پروپیچي
اوجهنم ته یې یوسي جناب محمد بن کعب قرظي ﷺ دالله ﷻ د غه آیت تلاوت کړ:
حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَهُمُ ٱلۡمَوۡتُ قَالَ رَبِّ ٱرۡجِعُونِ لَعَلِّيٓ أَعۡمَلُ صَٰلِحٗا فِيمَا تَرَكۡتُۚ الآية .بیایې وفرمایل
الله ﷻ چه داآیت شریف واوریدي نوورته ویې ویل چه څه غواړي اودڅه خواهش لري ؟
یاددي لپاره تلل غواړي چه مال جمع کي؟ اوویالي وباسي؟ هغه ورته وویل یازه ددي
لپاره تلل غواړم چه په دنیاکي نیک عملونه وکم الله ﷻ ورته فرمایې هر کافر دمرګ
روخت داخبره کوي له حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت ده چه محمد ﷺ وفرمایل
مؤمن قبر یوښایسته شین باغ وي دهغه قبر اویا لاسه قدر پراخیږي هغه دڅوارلسمي
سپوږمۍ په رقم ځلیږي بیایې وفرمایل ایا تاسي پوهیږئ چه داآیت فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا
دچالپاره نازل سوي ده ؟اصحابو ﷺ عرض وکړ الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ بنه پوهیږي
رسول ﷺ فرمایل دادکافر دعذاب لپاره نازل سوي ده په قبرکي دهغه لپاره(۹۹)ماران
پرهغه مسلط کیږي هرمار هغه چیچي ترقیامته پوري به په عذاب اخته وي په دي خبره
ګمان پوه کئ چه په مخصوص عدد باندي تعجب ونه کئ ځکه چه دمارانو تعداد دهغه
دعیبو په برابر ده لکه تکبر،ریا، حسد، کینه، اوداسي نور اګر که دبدیو بنیا دونه یوڅو په
شماردي مګر بناخونه یې دیر دي تول مهلک اوخطرناک دي په قبرکي ددغو بدو اعمالو
بشمارملران ورباندي مسلط کیږي کم کافر چه زیات بدعمله وي دهغه دابد عمل هغه ته
مختلفي طریقه رکم سزا ورکوي اوکه لږ وي دمار په رکم یې چیچي دمعرفت خاوندان دخپل
بصیرت په رڼا سره هغه مهلکات بنه پیژني اووینې یې مګر دهغو په تعداد باندي خبرېدل
الله ﷻ پوکارده ..

**شپږ څلوېښتم باب علم اليقين، عين اليقين، او دقيامت دورځي سوالونه**

الله ﷻ فرمايي: ﴿كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ﴾ سورة التكاثر آية(٥). ژباړه: هيڅکله نه که تاسي يقيني توګه پوهيدلاي يعني که تاسي دقيامت احوال او واقعات په يقيني توګه پيژندل مګر تاسي خودمال ډيروالي پوبل باندي تفاخر دي څخه غافل کړي ياست که تاسي پوهيداست نوتاسي به هغه کار کړي واي چه ستاسو په ګټه وي اوله هغه کاره څخه به پرهيز کړي واي چه ستاسي لپاره نقصان واي څکه فرمايل سوي دي چه تاسي که په صحيح مضمون سره علم يقين کړي واي لکه انبياء کرامو رض چه تاسي پوه کړي واست چه او ستاسي دفخر وړ کارونه تاسو ته دقيامت په ورځ په کار نه راځي تاسي چه دمال په کثرت اوتعداد سره فخر کوي دهغه په وجه تاسي ضرور دجهنم اور ګورئ لکه الله ﷻ قسم کړي ده چه تاسي به ضرور په خپلو سترګو جهنم او دهغه سختي وويني ﴿ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ﴾ بيا تاسي ضرور هغه ديقين په سترګو ويني يعني جهنم به په داسي طريقه سره ويني چه علم اليقين ورته ويل کيږي له هغه وروسته دهيڅ قسم شک اوشبهي ځاتي نه پاتي کيږي. **ديقين په مرتبوکي فرق** که دعلم اليقين اوعين اليقين ترمينځ دفرق په اړه پوښتنه وسي نو دهغه جواب داده چه علم اليقين انبياؤ ته دخپل نبوت په اړه حاصل او عين اليقين ملائکوته حاصل ده چه جنت، دوږخ، لوح، قلم، عرش، اوکرسي په خپلو سترګو ويني ديته عين اليقين ويل کيږي داجواب يې هم ده چه علم اليقين هغه ده چه ژوندي خلق يې دمرګ اوقبرپه اړه لري څکه چه هغه پوهيږي چه مړي په قبرونوکي دي ليکن هغه په دي نه پوهيږي چه له هغو سره څه قسم عمل کيږي عين اليقين مړيوته حاصل ده څکه چه هغه قبر ديو باغ اودجهنم دکندي په توګه په خپلو سترګو ليدلي ده داهم ويلای سو چه علم اليقين دقيامت علم اوعين اليقين قيامت اودهغه تکاليف ليدل دي الهي فرمان ده چه بيا به له تاسي څخه په هغه ورځ دنعمتو په باره کي ضرور پوښتنه کيږي يعني د قيامت په ورځ له تاسي څخه ددنياوي نعمتونو په باره کي لکه صحت، داوريدو نعمت، دليدلو نعمت، اورزق دحصول طريقه، اودخوراک اوڅښاک دشيانو په اړه پوښتنه کيږي چه تاسي ددغو شيانو په بدل کي دالله ﷻ شکر اداکړي ده اوکنه؟ دالله ﷻ فرمانبرداري موکړي وه که نافرماني دابن ابي حاتم اوابن مردويه روايت ده چه زيد ابن اسلم له خپل پلار څخه روايت کړي ده چه محمد ﷺ داآيت شريف ووايه چه تاسي دمالونو دزياتولو مقابلي هلاک کړاست يعني تاسي يې له عبادت څخه غافل کړاست ترڅو چه قبرونو ته

ورسيداست تاسي به پوه سئ يعني كله چه قبروته نزدي راسئ ديرژر به پوه سئ كله چه له قبروڅخه ووزي اودحشر ميدان ته راسئ كه تاسي دعلم يقين په توګه پوه سوي واي يعني تاسي هغه وخت پيژندلي واي چه كله له خپلو عملو سره دالله ﷻ په حضوركي حاضريږئ اوپه خپلو سترګو جهنم وينئ پل صراط به پرجهنم باندي كښيښوول سي ځيني مسلمانان به نجات ته ترلاسه كي ځيني به پكښي زخمي سي اوځيني به په جهنم كي ولويږي ييابه له تاسوڅخه ضرور دنعمتونوپه باره كي پوښتنه وسي يعني خوراک څښاک كورونه حيات اودخوب په شان اسانيو اونعمتونوپه باره كي پوښتنه كيږي دحضرت علي كرم الله وجهه قول ده چه له نعمت څخه مراد تندرستي ده چاچه دغنمو ډودۍ خوړلي وي دفرات دسند يخي اوبه يې څښلي وي داوسيدو كورهم ولري داسي نور داټول هغه نعمتونه دي چه دهغو په اړه پوښتنه ځني كيږي.

يخي اوبه هم نعمت دي: له حضرت عكرمه رضي الله عنه څخه روايت ده چه كله داآيت نازل سو نو اصاحب كرامو رضي الله عنهم دمحمد ﷺ څخه پوښتنه وكړه موږ ته كم نعمتونه حاصل دي؟ موږ خوهيڅكله هم په ماړه نس ډوډۍ نه ده خوړلي الله ﷻ نبي كريم ﷺ ته وحي وليږله چه هغوته ووايه تاسي خپلي څپلۍ لرئ اويخي اوبه څښئ ايادانعمتونه ده دي دترمذي روايت ده چه كله داسورت نازل سو اصحاب كرامو رضي الله عنهم پوښتنه وكړه له موږڅخه به دڅه قسم نعمتونوپوښتنه كيږي؟ موږ ته خو له اوبو اوخرمابغير نوره غذانه رسيږي هروخت زموږ په غاړو كي توري ځړيږي اوله دښمنانو سره په جنګ اخته يو هغه به كم نعمت وي چه دهغه په اړه له موږ څخه پوښتنه وسوي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ديرژر به تاسي ته نعمتونه حاصل سي له حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت ده چه محمد ﷺ وفرمايل له انسان څخه چه اول دكومو نعمتونو پوښتنه كيږي هغه به داوي چه الله ﷻ ورته فرمايي: اياماته صحت اوروغ بدن نه وودركړي تاته مي دڅښلو لپاره يخي اوبه نه وي دركړي؟ دغوښي، خورما، اويخو اوبو په اړه دقيامت په ورځ پوښتنه كيږي په مسلم اونورو كتابو كي له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت ده چه ورځ محمد ﷺ له خپل كورڅخه دباندي راووتي د هغه ﷺ ومخ ته ابوبكر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه راغلل پوښتنه يې ځني وكړه چه په دي وخت كي څنګه را ووتي يارسول الله ﷺ لوږي موږ له كورڅخه راوايستورسول ﷺ وفرمايل په خداي قسم چه زه هم ذلوږي څخه راووتم لږ وخت بعد دري سره ديوانصاري كورته ورغلل هغه په كوركي نه وو دهغه ښځي كودوي دروته ښه راغلاست وويل محمد ﷺ د دي دخاوند په باره كي پوښتنه وكړه چه هغه چيري ده؟ هغي جواب وركړ چه زموږ لپاره يخي

اوبه راوړي په دي وخت کي هغه انصاري صحابي ﵁ هم راغي هغه چه محمد ﷺ ابوبکر ﵁ اوعمر ﵁ وليدل نودالحمدلله په ويلوسره يې وويل چه نن زه دديرو باعزتو ميلمنوميزباني کوم هغه ولاړي اودخرمايووږئ يې راووړ چه پخي اونيم پخته زياتي خرماوي پکښي وي هغه عرض وکړ چه تاسي له دي څخه خوراک کوئ ده چاړه واخسته روان سو محمد ﷺ ورژغ کړه لنګه بزه حلاله نه کي هغه ﵁ يومرغومئ حلال کړدوي تولو دهغه مرغومی غوښه وخوړله يخي اوبه يې وڅښلي کله چه ماړه سول رسول ﷺ وفرمايل په خداي قسم اي ابوبکره اوعمره له تاسوڅخه به دقيامت په ورځ ددغو نعمتونوپه باره ضرورپوښتنه وکي.

## اووه څلويښتم باب دالله ﷻ دذکر فضيلت

الله ﷻ فرمايي: فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ. ژباړه: تاسي مايادکئ زه تاسي يادوم جناب ثابت البناني ﵀ فرمايلي دي چه کله زمارب ﷻ مايادوي نوزه پوهيږم خلک دهغه په دی خبره حيران سول پوښتنه يې وکړه چه ته څنګه پوهيږي؟ هغه وويل کله چه زه هغه ﷻ يادکم نوهغه مايادوي الهي فرمان ده چه: اذکروالله ذکراکثيرا . ژباړه: الله ﷻ دير يادوئ. فَإِذَا أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِندَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ. ژباړه: کله چه تاسي له عرفات څخه واپس سئ مشعر حرام ته نژدي الله ﷻ يادکئ څنګه چه تاسوته هدايت درکړ سوي ده هغسي الله ﷻ يادکئ:

فَإِذَا قَضَيْتُم مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا. ژباړه: کله چه تاسي دحج مناسک خلاص کړل نوالله ﷻ يادکئ څنګه چه تاسي خپل ابا اواجداد يادوئ له هغه څخه يې هم زيات يادکئ. الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ. ژباړه: الله ﷻ هغه په ولاړه ناسته اړخ پراته يادوي. فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلَاةَ فَاذْكُرُوا اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ. ژباړه: کله چه لمونځ اداکئ نوالله ﷻ په ولاړه ناسته اوپه اړخونوپراته يادکئ حضرت ابن عباس ﵁ ددي آيت په تفسير کي فرمايي چه الله ﷻ دشپي، ورځي، بحر، اوبر، سفر، اوحضر، مالداري، اومفلسي، مرض، او صحت، ښکاره، اوپټ، غرض په هرحالت کي يادکئ الله ﷻ دمنافقانو په مذمت کي فرمايي:

وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا. ژباړه: هغه الله ﷻ ديرکم يادوي. وَاذْكُر رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ الْغَافِلِينَ. ژباړه: اوخپل رب په خپل زړه کي په عاجزي اوپټه سره يادکه سهار اوماښام يې په کرار نه په جهر سره يادکه له غافلانو څخه مه کيږه. «ولذکرالله اکبر» بيشکه دالله ﷻ ذکردير لوي ده له حضرت ابن عباس ﵁ څخه روايت ده چه ددي آيت دوي معناوي کيداي سي يوداچه له تاسي سره دالله ﷻ يادول

ستاله ذکر څخه ډیرپورته دي دوهم داچه دالله ﷻ ذکر له هرعبادت څخه اعلي ده په دي اړه نورآیتونه هم راغلي دي دنبي کریم ﷺ حدیث شریف ده چه په غافلانو کي دالله ﷻ د ذکر کوونکي مثال داسي وي لکه په وچو ونوکي چه شنه وانبه وي همداراز محمد ﷺ وفرمایل چه په غافلانوکي دالله ﷻ د ذکر کوونکي مثال داسي ده لکه له جنګ څخه دتښتیدونکي اوجهاد کونکي ترمنځ چه فرق ده.

**دالله ﷻ له ذکر څخه پرته بل ښه عمل نسته**:دنبي کریم ﷺ ارشادده چه دانسان لپاره د الله ﷻ له ذکربغیربل داسي عمل نسته چه له الهي عذاب څخه نجات ور کوونکي وي عرض وسو؟ یارسول الله ﷺ ایا جهادفي سبیل الله هم نه ده ؟ رسول ﷺ وفرمایل هو مګر داچه ته په خپله توره سره جهاد وکي اوهغه ماته سي یعني تر یا بیا جهاد هم افضل ده دنبي کریم ﷺ فرمان ده چه کوم سړي دجنت له باغونو څخه سیرابیدل غواړي هغه دي الله ﷻ یادکي یوچا له محمد ﷺ څخه پوښتنه وکړه کم یو عمل ښه ده؟ رسول الله ﷺ وفرمایل کله چه ته مرسي اوستاژبه دالله ﷻ په ذکرسره خوږه وي دنبي کریم ﷺ ارشاد مبارک ده چه سهار اومابنام دالله ﷻ ذکر کول جهاد في سبیل الله کي دتوري ماتول اودالله ﷻ په لارکي مال خرڅ کولو څخه هم زیات بهترده دنبي کریم ﷺ فرمان ده چه کله زمابنده ماله ځانه سره یادکي زه یې هم له ځانه سره یادوم چه کله هغه ماپه جماعت کي یادکي نوزه هغه دده ترجماعت په ښه جماعت کي یادوم کله چه هغه ماته یوه لوېشت رانژدي کیږي زه وهغه ته یوګز ورنژدي کیږم کله چه هغه ماته یوګز رانژدي سي زه هغه ته دوه ګزه ورنژدي کیږم کله چه هغه زماپر طرف قدم اخلي زه پرهغه خپل رحم کوم یعني دعایې قبلوم دنبي کریم ﷺ فرمان ده چه اووه کسان داسي دي چه الله ﷻ په هغه ورځ ترخپله سایه لاندي ځاي ورکوي په کومه ورځ چه بله سایه نه وي له هغو څخه یو هغه څوک ده چه الله ﷻ یادکي اودالله ﷻ له بیري څخه دهغه اوښکي رواني دي. **ښه عمل** له حضرت ابوالدرداء ؓ څخه روایت ده چه محمد ﷺ وفرمایل ایازه وتاسوته هغه عمده عمل ونه ښیم چه دالله ﷻ په نزد دټولو اعمالو څخه پاک لوړ اودسرو زرو اوسپینو زرو دصدقي څخه ددښمن سره دهغه جهاد چه په هغه کي قتل اوقتال وي اولي اوبهتر ده؟ اصحاب کرامو ؓ پوښتنه وکړه یارسول الله ﷺ هغه کم عمل ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل دالله ﷻ دائمي ذکر محمد ﷺ فرمایلي دي چه الله ﷻ فرمایلي دي کم سړي چه زماذکر هغه دسوال څخه منع کي زه به هغه ته له سوال کولو څخه پرته دټولو سوال کونکو څخه ښه ورکړه وکم جناب فضیل ﷬ فرمایې چه موږ ته داخبر ورسیدي چه الله ﷻ فرمایلي دي

اي زمابندګانو ! تاسي ماله سهار اوماښام څخه وروسته يادکړئ دغه عمل به ستادټو
ورځي لپاره کافي سي څينو علماوو ويلي دي چه الله ﷻ فرمايلي دي چه زه کله دچاپه
کي خپل ياد مشغول ووينم زه دهغه دټولو امورو متولي کيږم زه دهغه همنشين اوهم ک
جوړيږم حسن رحمه الله فرمايلي دي چه ذکر پردوه قسمه دى يوپه تنهايي کي دالله ﷻ يادول
ډير عمده اولوي صبر ده اودهغه څخه ښه ذکر داده چه دالله ﷻ په حرام کړده شيا
هغه ﷻ يادکي اوله هغه څخه لاس واخلي روايت ده چه دالله ﷻ دذکر کونکي څخه پرته
هرسړي دزنکدن په وخت کي تږي مري دحضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه فرمان ده چه زه له د
شيبو څخه زيات په نورو غم نه کوم چه ماپکښي ذکر نه وي کړي دنبي کريم ﷺ
ارشادمبارک ده چه کومه يوه ډله دالله ﷻ په يادکي ناسته وي اودالله ﷻ ذکر کو
نوملائکي له هغو څخه چاپيره اوالله ﷻ وربانديي دخپل رحم څادر اچوي اوهغه په خ
مقربينو کي حسابوي کوم خلک چه دالله ﷻ ذکر کوي پرهغو الله ﷻ خپل انعام کوي نبو
ارشادده چه کوم کسان يوازي دالهي رضادترلاسه کولولپاره دالله ﷻ دذکرلپاره راج
سي نوله اسمان څخه يواواز کونکي اواز کوي ودريږئ ستاسي ګناهونه بخښل سوي د
اوستاسي ګناهونه په نيکي بدل سوي دي دنبي کريم ﷺ فرمان ده چه هرڅوک ج
دالله ﷻ ذکر کوي پرنبي کريم ﷺ بانديي درود وايي پرهغو دقيامت په ورځ هيڅ بيره ن
حضرت داؤد عليه السلام دالله ﷻ په دربارکي عرض وکړ اي الله! کله چه زه دذاکرينو دمجل
څخه دغافلانو په طرف ولاړسم زماپښي ماتي که بيشکه چه ستاداکار به زمالپاره ستالو
انعام وي نبوي فرمان ده چه نيک محفل دمؤمن لپاره ددوو لکو خرابو محفلونوکفاره د
دحضرت ابوهريره رضي الله عنه قول ده چه دآسمان اوسيدونکي هغه کورونو ته چه پکښ
دالله ﷻ ذکر کيږي داسي ګوري لکه چه تاسي دآسمان ستوري وينئ يعني ډير په مي
ورته ګورئ دسفيان بن عينية رحمه الله قول ده چه کله کومه ډله دالله ﷻ دياد اوذکر لپار
راټوليږي نوشيطان اودنياله هغه څخه جلاکيږي بياشيطان دنياته وايي اياتانه دي کتل
چه دوي څه کوي؟ دنيا ورته وايي هغه پريږده څنګه چه له ذکر څخه خلاص سي دوي ب
ترڅټو ونيسم تاته به يي وسپارم يووخت حضرت ابوهريره رضي الله عنه بازار ته تشريف راووړ وي
فرمايل اي خلګو ازه تاسي دلته وينم حال داچه په مسجدکي درسول الله ﷺ ميراث
تقسيميږي خلک له بازار څخه مسجدته راغلل مګر هغوپه مسجد کي داسي مال ونه
ليدي چه تقسيميږي له ابوهريره رضي الله عنه څخه يي پوښتنه وکړه موږ خوپه مسجد کي دميراث
تقسيمدل نه وليدل؟ هغه رضي الله عنه پوښتنه وکړه تاسوهلته څه وليدل هغو وويل موږ هلته

داسې خلک وليدل چه دالله ﷻ ذکر يې کاوه قرآن کريم يې وايه هغه ﷺ وويل چه هغه درسول الله ﷺ ميراث وګڼه. **پر ذکر کونکو دالله ﷻ رحمت** اعمش له ابو صالح څخه اوهغه له حضرت ابوهريره ﷜ څخه روايت کړي ده چه محمد ﷺ و فرمايل الله ﷻ له عملونوليکونکو ملائکوڅخه پرته داسې ملائکي پيداکړي دي چه په ځمکه کي ګرزي کله چه هغه کم خلګ دالله ﷻ په ذکرکي مشغول ويني ووايې تاسي دلته خپل مطلوب شي ته راسئ تولي ملائکي هلته راجمع کيږي تراسمانه پوري پرهغه حلقه جوړوي الله ﷻ پوښتنه ځني کوي تاسي زمابندګان په کم حالت کي پريښوول هغوڅه کول؟ ملائکي به ووايې ياالله ﷻ ستاحمد اوستاتسبيح يې ويل الله ﷻ فرمايې هغو زه ليدلي يم؟ ملائکي عرض وکي ياالله ﷻ هغوته نه يې ليدلي الله ﷻ وفرمايې که هغه ماوويني نوڅه حالت به يې وي؟ ملائکي عرض کوي که هغه تاوويني نوترډي به هم زيات ستاحمد اوثنا ووايې الله ﷻ ورته فرمايې هغه له کم شي څخه پناه غوښتل؟ هغه به ووايې له جهنم څخه الله ﷻ فرمايې اياهغو جهنم ليدلي ده؟ ملائکي عرض وکي يانه يې ده ليدلي الله ﷻ فرمايې که هغو جهنم ليدلي واي دهغو به څه حالت واي؟ ملائکي عرض کوي که هغه جهنم ووينې له هغه څخه به نورهم په نفرت سي الله ﷻ فرمايې اياهغو جنت ليدلي ده ؟ هغه عرض کوي يانه يې ده ليدلي الله ﷻ ورته فرمايې که هغه جنت ووينې نوڅه حال به يې وي ؟ ملائکي عرض کوي هغه به نورهم دجنت سوال وکي الله ﷻ ورته فرمايې زه تاسې شاهداني کوم چه مادهغوي تول ګناهونه معاف کړل ملائکي وايې په هغوکي فلاني دفلاني زوي هم وو چه دکم ضرورت لپاره ورته حاضرسوي وو الله ﷻ ورته فرمايې داداسې محفل ده چه ددي هم نشين هم نه محرومه کيږي دنبي کريم ﷺ ارشادده چه دتولوڅخه افضله کلمه چه ماونوروتولو نبيانو په خپله ژبه ويلي ده هغه کلمه «لااله الاالله وحده لاشريک له» ده نبوي حديث ده چه هرچاپه ورځ کي شل واره «لااله الاالله وحده لاشريک له له الملک وله الحمدوهو علي کل شيئ قدير» ووايې هغه دلسو غلامانو دازادولو په اندازه ثواب حاصل کړ دهغه په عمل نامه کي سل نيکي ليکل کيږي سل ګناهونه يې بخښل کيږي ترمابنامه پوري له شيطان څخه محفوظ پاته کيږي ددي څخه بغيربل بنه عمل نسته مګر هغه څوک چه له هغه څخه زيات داکلمه وايې نبوي فرمان ده چه داسې کم سړي نسته چه ښه اودس وکي اوبيا دآسمان پرطرف وګوري او «اشهدان لااله الاالله وحده لاشريک له واشهد ان محمدًا عبده ورسوله» ووايې مګر دهغه لپاره دجنت دروازي خلاصي نسي اوله کمي دروازي څخه چه وغواړي داخليږي.

# اته څلويښتم باب دلمانځه فضيلت

الله ﷻ فرمايي : إِنَّ الصَّلاَةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَوْقُوتًا ژباړه:په تحقيق سره لمونځ پر مؤمنانو باندي په ټاکلي وخت کي فرض سوي ده نبوي حديث ده چه الله ﷻ پر بندګانو پنځه وخته لمونځ فرض کړي ده څوک چه هغه باعظمته وګڼي اوادايي کي د هغه لپاره د الله ﷻ وعده ده چه په جنت کي به يې داخلوي څوک چه لمونځ نه کوي د الله ﷻ له طرفه د هغه لپاره هيڅ قسم وعده نسته که وغواړي نوعذاب به ورکي اوکه وغواړه معاف به يې کي په جنت کي به يې داخل کي نبوي حديث ده چه دپنځو لمنځو مثال داسي ده لکه ديوچا دکور مخته چه دصفااوبو وياله روانه وي هغه دورځي پنځه واره پکښي لمبيږي ايادهغه پربدن به څه خيره پاته سي؟ اصحاب کرامو ﷺ عرض وکړيانه پاته کيږي محمد ﷺو فرمايل څنګه چه اوبه خيري لري کوي همدا سي پنځه لمنځونه هم ګناهونه مينځي اوختموي يې لمونځ دګناهونو کفاره ده دنبي کريم ﷺارشادده چه لمونځ دګناهونو کفاره ده په دي شرط چه دلويو ګناهونو څخه پرهيز وکړل سي لکه دالله ﷻ امر چه ده : إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ابن مسعود ﷺ دنبي ﷺارشاد نقلوي چه يوي سړي له يوي ښځي څخه مچه واخسته بيادمحمد ﷺپه خدمت کي حاضرسو خپله قصه يې ورته بيان کړه يعني هغه ددي ګناه دکفاري په باره کي پوښتنه وکړه کله چه پر محمد ﷺ باندي داآيت نازل سو: وَأَقِمِ الصَّلاَةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ سړي عرض وکړ يارسول الله ﷺداآيت زمالپاره نازل سوي ده هغه ﷺو فرمايل زمادهرهغه امتي لپاره چه ستاپه شان کاريې کړي وي.

**دلمانځه په تاکيد کي نبوي ارشادات** په مسند احمد اومسلم شريف کي له حضرت ابو امامه ﷺ څخه روايت ده چه يوسړي دمحمد ﷺپه خدمت کي حاضر سواوويې ويل پرماحد جاري کئ هغه داخبره دوه دري واره تکرار کړه خو محمد ﷺ څه توجه ورته ونکړه بيالمونځ وسو کله دمحمد ﷺله لمانځه څخه فارغ سو پوښتنه يې وکړه هغه سړي څه سو؟ هغه سړي عرض وکړ حاضريم يارسول الله ﷺرسول ﷺورته وفرمايل تاله پوره اودس کولو څخه وروسته له موږ سره لمونځ وکي که نه ؟ هغه سړي وويل هوومي کړ محمد ﷺورته وويل ته له ګناهونو څخه داسي پاک سوي لکه له مورڅخه چه اوس پيداسوي يې آينده کي بياداسي عمل ونه کي په دي وخت کي پرمحمد ﷺباندي داآيت نازل سو: إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ دمحمد ﷺحديث مبارک ده چه زموږ اومنافقانو

ترمنځ فرق دماخستن او سهار لمونځ ده هغه دغو لمنځونو ته نه سي راتلاي محمد ﷺ
ارشاد مبارک ده چه کم سړي له الله ﷻ سره په داسي حالت کي ملاقات وکي چه هغه
لمونځ نه وي ضائع کړي نو الله ﷻ دهغه دنورو نيکيو پروا نه کوي دمحمد ﷺ حديث
شريف ده چه لمونځ ددين ستن ده چاچه لمونځ پرېښوويٍ هغه ددين بنياد وران کړ دنبي
کريم ﷺ حديث شريف ده هرچاچه په مکمله پاکي سره پنځه لمنځونه اداکړل نو دقيامت
په ورځ ورته نور او دليل جوړيږي چاچه لمونځ ضائع کړ هغه به له فرعون او هامان سره
يو ځاي پورته کيږي دنبي کريم ﷺ حديث شريف ده چه لمونځ دجنت کيلي ده الله ﷻ له
توحيد څخه وروسته بغير له لمانځه بل کوم عمل نه ده فرض کړي الله ﷻ ملائکي په
لمانځه سره مشغولي کړي دي له هغو څخه ځيني پر رکوع ځيني پر سجده ځيني پر قيام
او ځيني دناستي په حالت کي دي نبي کريم ﷺ فرمايي هرچا چه قصدًا لمونځ قضا کړ هغه
کفر ته نژدي سو ځکه چه هغه دايمان اصلي رکن پريښووي او ددين ستن يې وغورځوله
محمد ﷺ فرمايلي دي هرچاچه قصدًا لمونځ پرېښوويٍ هغه دمحمد ﷺ له ذمه وارۍ
څخه وواتي دحضرت ابوهريره ؓ بيان ده هرچاچه صحيح اودس وکړ بيا دلمانځه داداء
کولو لپاره دکور څخه وواتي هغه په لمانځه کي شميرل کيږي هغه ته دهرقدم په عوض کي
نيکي ليدل کيږي او يوه ګناه يې محوه کيږي کله چه څوک له تاسي څخه دلمانځه اقامت
واوري هغه ته ځنډ کول نه ده مناسب هغه سړي زيات اجر ترلاسه کوي چه کوريې له
مسجد څخه ليري وي پوښتنه وسوه اى ابوهريره ؓ ددي وجه څه ده؟ هغه وفرمايل
دزياتو قدمونو اخستلو په وجه هغه ته دافضيلت ورکول کيږي محمد ﷺ فرمايلي دي چه
دتنهايي له عبادت څخه افضل بل کم عمل نسته چه دالله ﷻ قرب په حاصل سي دنبي
کريم ﷺ ارشاد مبارک ده چه داسي کم مسلمان نسته چه دالله ﷻ درضا لپاره سجده کوي
دهغه دهري سجدي په بدله کي دهغه يوه درجه پورته کيږي او يوه ګناه يې ختميږي روايت
ده چه يوو سړي محمد ﷺ ته عرض وکړ چه زما لپاره دعا وکړئ چه الله ﷻ ما ستاسي
دشفاعت په مستحقينو کي حساب کي او په جنت کي ستاسي صحبت را نصيب کي
محمد ﷺ ورته وفرمايل په ډيرو سجدو سره زما اعانت وغواړه يعني ډير زيات عبادت
کوه محمد ﷺ په يو بل حديث شريف کي فرمايلي دي چه انسان دسجدي په وخت کي
خپل رب ﷻ ته ډير نژدي وي لکه الله ﷻ چه فرمايي : وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ سجده وکه او قريب
سه . سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ دهغو نښې دادي چه دهغو پرتندي باندي دسجدو
... دي آيت په تفسير کي مختلف اقوال دي يو دا چه دمخ هغه حصه ده چه دسجدي

په وخت کې پر مخکه لګیږي یادا چه له دې څخه مراد خضوع خضوع اونور دي چه دباطن څخه یې ظاهر ځلیږي اوپرمخ یې ربا ښکاري همدا خبره زیاته صحیح ده یادا چه له دې څخه مرادنور ده چه داودس په نښو به دقیامت په ورځ دهغه مخ ځلیږي دنبي کریم ﷺ فرمان ده چه انسان کله سجده تلاوت کې نوشیطان په ژړاتښتي اووایي اي افسوس دغه انسان ته دسجدې حکم وسو اوسجده یې وکړه اوجنت یې ترلاسه کړ ماته دسجدې کولو حکم وسو مګر ماانکار وکړ زمالپاره دجهنم کور جوړسو .**دلمانځه په هکله ددین دبزرګانو ارشادات**:دحضرت علي بن عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت ده چه هغه به هره ورځ زر سجدې کولي ځکه خلګو ورته«سجاد»دیر سجده کوونکي وایو روایت ده چه حضرت عمرابن عبدالعزیز رحمه الله همیشه پرخاوروسجده کوله یوسف بن اباط رحمه الله به ویل اي ځوانانو! ترمرض له مخه روغتیا غنیمت وګڼئ اومخکې روان سئ له یوو سرې څخه بغیر بل څوک داسې نسته چه هوس مې ورته وسي هغه پوره رکوع اوسجده کوونکي انسان ده همدغه زمااودهغه ترمنځ حایل سوي دي حضرت سعیدبن جبیر رحمه الله فرمایي چه زماله سجدو بغیوله بل هیڅ شي سره مینه نسته حضرت عقبه بن سلم رحمه الله ویلي دي چه الله ﷻ د خپل بنده دهغه عادت څخه بل کوم عادت نه خوښوي چه په هغه کې دالله ﷻ ملاقات خوښوي کم وخت چه یوانسان په سجده کې وي هغه الله ﷻ ته دیر زیات قریب وي د حضرت ابو هریره رضي الله عنه بیان ده چه انسان دسجدې په حالت کې خپل رب ﷻ ته دیر زیات نژدې کیږي ځکه په سجده کې دیرې دعاوې کوه.

## نه څلویښتم باب دلمانځه پرېښوونکي لپاره عذاب

ددوږخیانو په باب الله ﷻ فرمایلي دي چه له هغو څخه په جهنم کې پوښتنه کیږي چه تاسې څښې وجهنم ته داخل کړاست؟ هغه به ووایي چه موږ لمونځ نه کاوو اونه مو مسکینانو ته دوډۍ ورکوله بلکه له بحث کوونکو سره به مو بحث کاوه له احمد رحمه الله څخه روایت ده چه دایمان اوکفر ترمنځ فرق دلمانځه پرېښوول دي.

**دصحاح سته څخه څو احادیث**:دمسلم شریف روایت ده چه دسړي اوشرک، یاکفر، ترمنځ فرق دلمانځه پرېښوولو څخه بغیر بل شي نسته دترمذي شریف روایت ده چه دکفر اوایمان ترمنځ فرق دلمانځه پرېښوول دي دابن ماجه روایت ده چه دبنده اوکفر ترمنځ فرق دلمانځه پرېښوول دي دطبراني روایت ده هرچاچه قصدًا لمونځ پرېښووي هغه ښکاره دکافرانو په رقم عمل وکړ هرچاچه لمونځ پرېښووي هغه دمشرکانو په رکم کار وکي په یوبل روایت کې دي چه هغه اسلام لګ کړ داسلام درې بنیادونه دي چه داسلام عمارت

باندي ولاړ ده چاچه له دغو درو څخه يو پريښوو ي هغه کافر ده او وژل يې جائز دي: د
شهادت کلمه ويل يعني دالله ﷻ دوحدانيت شاهدي ورکول .فرض لمونځ اداکول .
دروژي دمياشتي روژي نيول .يوبل حسن روايت کي دي هرچاچه له دغو درو څخه يو
پريښوو ي هغه دالله ﷻ څخه منکر ده دهغه هيڅ حيله اوبدله نه قبليږي دهغه مال اووينه
څکول ته حلاله ده په طبراني کي په حسن روايت سره حضرت عباده بن صامت ﷺ ويلي دي
چه ماته محمد ﷺ داوو خبرو نصحيت کړي ده :هيڅوک له الله ﷻ سره شريک مه ګڼه
اګرکه ټوک دي ټوټي کي يادي وسوځي يادي پاني ته پورته کي .قصدًا لمونځ مه پريږده
هرچاچه قصدًا لمونځ پريښوو ي هغه له اسلام څخه ووتي .نافرماني مه کوه ځکه چه دادا
الله ﷻ دقهر باعث ګرزي .شراب مه چښه ځکه چه دادټولو ګناهونومنبع ده .دترمذي
روايت ده چه اصحاب کرامو به دلمانځه پريښوول کفر ګڼي په صحيح حديث کي دي چه
دبنده اوکفر ترمنځ فرق لمونځ ده کله چه هغه لمونځ پريږدي هغه شرک وکړ دبزاز روايت ده
کوم سړي چه لمونځ نه کوي په اسلام کي دهغه هيڅ حصه نسته او دچاچه اودس صحيح نه
وي دهغه لمونځ نه صحيح کيږي دطبراني روايت ده چه کم سړي امانت داره نه وي دهغه
ايمان نسته دچاچه اوس نه وي دهغه لمونځ نسته چاچه لمونځ ونه کړ دهغه دين پاته نه سو
ځکه چه په بدن کي دسر کم مقام ده همداسي په دين کي دلمانځه مقام ده په مسند بزار کي
له حضرت جابر ﷺ څخه روايت ده چه هغه وفرمايل کله چه زماد سترګو رڼا ختمه سوه ماته
وويل سوه چه لمونځ پريږدئ موږ به ستاد سترګو علاج وکو ماوويل داسي هيڅکله نه سي
کيداي ځکه چه ماد محمد ﷺ څخه اوريدلي دي هرچاچه لمونځ پريښوو ي هغه به له
الله ﷻ سره په داسي حالت کي ملاقات کوي چه الله ﷻ به ځني ناراضه او په غصه وي
دطبراني روايت ده چه يو سړي دمحمد ﷺ په خدمت کي حاضرسو عرض يې وکړ چه ماته
داسي يوعمل راوښيه چه دهغه په کولو سره جنت ته ولاړسم رسول ﷺ وفرمايل له
الله ﷻ سره شرک مه کوه اګرچه تاته عذاب درکړل سي ژوندي وسوځل سي دمور اوپلار
احترام کوه اګرکه تاله خپل ټول مال څخه محروم کي قصدًا لمونځ مه پريږده ځکه هرچاچه
قصدًا داسي وکړل هغه دالله ﷻ دذمه داري څخه ووتئ .شراب مه چښه ځکه چه دهري
بدي سر ده .دالله ﷻ له نافرماني څخه ځان وساته ځکه چه په دي سره الله ﷻ خفه
کيږي .دجنګ په وخت له تيښتي څخه ځان وساته اګرکه ته وژل کيږي که ستاملګري قتل
سي ته ثابت قدمه اوسه .دخپل وس مطابق دخپل اهل او عيال سره ښه کوه دهغو له تاديب
څخه کله هم مه غافله کيږه اوهغه دهميشه لپاره دالله ﷻ څخه ويروه .دصحيح ابن حبان

روایت ده چه کمه ورځ وریځه وي نو لمونځ وختي اداکئ ځکه چاچه لمونځ ترک کړ هغه کفر وکړ دابو نعیم روایت ده چاچه قصدًا لمونځ پریښووي الله ﷻ دهغه نوم دجهنم پردروازه لیکي په کم یوو کي چه داخلیږي دطبراني روایت ده هرچاچه لمونځ پریښووي ګواکي دهغه مال اوعیال ختم سو حاکم له حضرت علي ﷺ څخه روایت کړي ده چه محمد ﷺ قریشو ته وویل اي قریشو! تاسي لمونځ اداکئ اوزکات ضرور ورکئ که داسي ونه کئ نوالله ﷻ و تاسي داسي شخص درلیږي چه ددین لپاره ستاسي یوڅو سرونه غوڅ پریکي دمسند احمد مرسل روایت ده چه الله ﷻ په اسلام کي څلور شیان فرض کړي دي څوک چه له دي څلورو څخه دري پوره کي اویو پریږدي هغه دالله ﷻ دعذاب څخه هیڅوک نه سي خلاصولي ترهغو چه په څلورو عمل ونه کي هغه څلور شیان دادي: لمونځ، روژه، زکات، اوحج. داصبهاني روایت ده هرچاچه قصدًا لمونځ پریښووي الله ﷻ دهغه عملونه ضائع کوي اوله خپلي ذمي څخه یې باسي ترهغه وخته پوري چه دالله ﷻ په دربارکي توبه کوي دطبراني روایت ده هرچاچه لمونځ پریښووي هغه برملاکفر وکړ محمد بن نصراوابن عبدالبر په خپلو مسانیدو کي موقوف روایت کړي ده هرچاچه لمونځ ونه کړ هغه کافر سو ابن نصر ﷺ موقوف روایت کړي ده چاچه لمونځ ونه کړ دهغه دین نسته دابن ابي شیبه روایت ده چه محمد ﷺ فرمایلي دي هرچاچه لمونځ پریښووي هغه کفر وکړ له محمد بن نصر څخه روایت ده چه ماله اسحق ﷺ څخه اوریدلي دي چه دمحمد ﷺ دا حدیث ثابت ده چه تارک نماز کافر ده دمحمد ﷺ له زماني څخه تراوسه پوري دټولو علماوو دارایه ده چه بې عذره لمونځ پریښوونکي سړي کافر ده ایوب ﷺ فرمایي چه لمونځ پریښوول کفر ده په دي کي هیڅ اختلاف نسته : ﴿فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَاةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا﴾ [۱۶ پاره] له هغو څخه وروسته بدو خلکو دهغوي ځاي ونیوي چه لمنځونه یې ضائع کړه اودنفساني خواهشاتو پیروي یې وکړه بس ډیر ژر به هغه جهنم ته ولاړسي مګر چاچه توبه وکړه هغه محفوظ سول حضرت ابن مسعود ﷺ فرمایي چه دضائع کولو دامعنا نه ده چه بالکل لمونځ نه کوي بلکه ددي معنی داده چه لمونځ وروسته کوي دلمانځه ضائع کولو څه معني ده؟ امام التابعین حضرت سعید بن مسیب ﷺ فرمایي چه په دي آیت کي دضیاع څخه مطلب داده چه ماپښین دماځیګر په وخت اوماځیګر دماښام په وخت اوماښام دماخستن په وخت سهار دلمر ختو په وخت کي کوي څوک چه داسي وکي له توبي بغیر مړه سي الله ﷻ دهغه لپاره دغه وعده کړي ده «غي» دجهنم یوه ژوره اودعذاب

ځکه ډکه شله ده الله ﷻ فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ
وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ **ژباړه**: اې مؤمنانو تاسې ستاسې مال او ستاسې
اولاد دالله ﷻ له ذکر ځخه غافل نه کړئ چاچه داسې وکړل دغه خلک تاوان کوونکي دي
دمفسرينو ديوې ډلې قول ده چه دلته له ذکر ځخه مراد لمونځ ده ځکه کم سړي چه دخپل
مال له وجه له په خريد او فروخت کې دمصروفيت له وجه غافل پاته سو يا يې لمونځ له ياده
وواتي هغه نقصان کوونکي دي ځکه دمحمد ﷺ ارشاد ده چه دقيامت په ورځ ترټولو له
مخه دلمانځه حساب کيږي که دهغو لمونځ مکمل سي هغه فلاح او کاميابي پيدا کړه که يې
لمونځ کم سو هغه تاوانيان سول الله ﷻ فرمايي: الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ **ژباړه**: دهغو
خلکو لپاره ويناده چه له خپلو لمنځو ځخه بې خبره دي محمد ﷺ فرمايلي دي چه داهغه
خلک دي لمنځونه له خپل وخت ځخه وروسته کوي دمسند احمد طبراني او صحيح ابن
حبان روايت ده چه محمد ﷺ يوه ورځ دلمانځه په باره کې خبري وکړي ويې فرمايل
هرچاچه خپل لمنځونه په خپل ټاکلي وخت وکړل دغه لمنځونه دقيامت په ورځ دهغه لپاره
حجت، نجات، رڼا، ګرځي کومو خلکو چه لمنځونه ادانه کړل دقيامت په ورځ به دهغه لپاره
حجت، نجات، رڼا، نه وي دقارون فرعون هامان او ابي ابن خلف سره يوځاي راپورته کيږي
دځينو علماوو قول ده چه له هغو سره تارک نماز ځکه راپورته کيږي که هغه لمونځ دمال،
اسبا، دمشغوليت له وجه پرې ايښې وي نوله قارون سره راپورته کيږي او که يې په باچهي
کې دمشغوليت له وجه لمونځ ادانه کړ هغه دفرعون په رکم ده له هغه سره به يوځاي راپورته
کيږي که يې په وزارت کې دمصروفيت له وجه لمونځ ادانه کړ هغه دهامان په رکم ده له هغه
سره راپورته کيږي که يې دتجارت … وجه لمونځ ادانه کړ هغه له ابي ابن خلف سره راپورته
کيږي بزاز دحضرت سعدبن ابي وقاص ﵁ ځخه روايت ده چه ماله محمد ﷺ ځخه ددغه
آيت دمعني په باره کې پوښتنه وکړه چه کم خلک له خپلو لمنځو ځخه ناخبره دي ؟
هغه ﷺ راته وفرمايل داهغه خلک دي چه لمنځونه له هغه خپل ټاکل شوي وخت ځخه
وروسته اداکي د «ويل» معني سخت عذاب يو قول داهم ده چه ويل دجهنم ديوې شيلې
نوم ده که ددنيا ټول غرونه په هغه شله کې واچول سي هغه غرونه به ټول دهغې شلې دګرمۍ
له وجه ويلې سي دا دهغو خلکو مسکن ده چه په لمنځو کې سستي کوي له خپل وخت ځخه
يې وروسته کوي که الله ﷻ ته توبه وکاږي له خپلو تېرو اعمالو ځخه پښيماني وکي
نو بيا جلاخبره ده مصعب ﵁ فرمايلي دي چه ماخپل پلار ته وويل پلاره اياتا دالله ﷻ په

دي امر فکر کړي ده (چه خلګ له خپلو لمنځو څخه بي خبره دي) له موږ څخه به څوک داسي وي چه دلمانځه په وخت کي به دهغه خيالات يوي بلي خواته ځي پلار مي راته وويل چه ددې مطلب دانه ده چه ته يې وايې بلکه ددي مطلب دلمنځونو وروسته کول اوضائع کول دي.

**دقضايي لمانځه لپاره وعيدونه**: دصحيح ابن حبان روايت ده هرچاچه لمونځ قضا کړ ګواکي دهغه مال او اهل تباه سو دحاکم روايت ده هرچاچه له عذر بغير دوه لمنځونه يوځاي وکړه هغه دکبيره ګناه په دروازه کي داخل سو دصحاح ستة روايت ده له هرچاڅخه چه دماځيګر لمونځ قضا سو ګواکي دهغه مال او اهل وعيال تباه سول ابن فرعه په خپل صحيح کي دغه الفاظ زيات کړي دي چه دامام مالک قول ده چه له دی څخه مراد دوخت ضائع کول دي دنسايې روايت ده چه په لمنځو کي يو لمونځ داسي هم سته چه له هرچا څخه هغه قضا سو يعنې دهغه مال، اهل، او عيال ټول تباه سول هغه دماځيګر لمونځ ده دمسلم او نسايې روايت ده چه دماځيګر ستاسي څخه مخکي خلکو ته پيش سو ليکن هغو داله لاسه ورکړ هرڅوک چه دالمونځ په پابندي سره ونه کي هغه ته دوچنده عذاب ورکول کيږي له دي ورود ستورو ترښکاره کيدو پوري بل لمونځ نسته احمد، بخاري، اونسايې کي روايت ده هرچاچه دماځيګر لمونځ قصدًا قضا کړل ترهغه وخته چه دلمانځه وخت قضا سو بيشکه دهغه عمل تباه سو دطبراني اوداحمد روايت ده هرچا چه دماځيګر لمونځ قصدًا پري ښوودي ترهغه وخته يې ونه کړ چه دماښام وخت داخل سو هيڅ عذر يې نه درلودي دهغه اهل، عيال، مال، اومتاع، تباه سول دشافعي اوبيهقي روايت ده چه له هرچاڅخه يو لمونځ قضا سو ګواکي دهغه کورني اومال تباه سو په بخاري کي دحضرت سمره بن جنيد روايت ده چه محمد ﷺ به اکثر خپلو صحابه ته فرمايل په تاسو کي که چاخوب ليدلي وي هغه دي بيان کي خلکو به خپل خپل خوبونه ويل يوسهار محمد ﷺ خپله موږ ته وويل زما څنګ ته دوه کسان راغلل او زه يې له خوب څخه راويښ کړم ماته يې وويل چه له موږ سره راځه زه له هغو سره ولاړم په يوځاي کي مو داسي سړي وليدي پرمخکه پروت وو بل سړي يوه غټه ډبره پورته کړي وه اوسرته يې ولاړوو چه په دي ډبره سره به يې دهغه سر وواهه هغه به ريزه ريزه سو هغه بل سړي چه به دا ډبره بيرته پورته کوله دهغه سړي سر به بيرته روغ رمټ سوي وو هغه به په دي ډبره دهغه سر وواهه ميده ميده به سو مادواړو ته وويل سبحان الله دا څه قصه ده؟ ماته يې وويل نور هم له موږ سره مخکي ولاړسه لږ چه مخکي ولاړو يوداسي سړي مي وليدي چه دشاپرتخته پرمخکه

پروت وو یوبل سړي دهغه په خواکي داوسپيني چاقو په لاس ولاړ ده دهغه غوږونه باندي پري کوي دهغه پزه اوسترګي هم پري کوي بيايې وهغه بل طرف راځي هم دغه عمل ورسره کوي ماوويل سبحان الله داڅه قصه ده؟ زما دواړو ملګرو راته وويل راځه راځه لو مخکي چه ولاړو ديوتنور په شان شي مووليدي راوي وايي شايد رسول الله ﷺ داهم وويل چه له هغه ځخه ګډ ود اوازونه راختل محمد ﷺ وفرمايل چه په هغه تنور کي لڅ سړي اولڅي ښځي ناستي وي نابيره به دهغو دلاندي طرف ځخه يوه لمبه راپورته کيده دوي به آه اوفرياد کاوه ماپوښتنه وکړه چه داڅوک دي ؟ دوي راته وويل راځه راځه لږ مخکي چه ولاړو يوداسي ويااله مي وليده چه اوبه يې دوينو په شان سري وي په هغه کي يوسړي اوبو روان کړي ده دويالي په اړخ کي يوسړي ولاړده ډير ګاڼي يې په لاس کي نيولي اوهغه سړي په ولي ماپوښتنه وکړه چه داڅوک ده ؟ هغو راته وويل راځه راځه لږ مخکي چه ولاړو نويوداسي سړي مو وليدي چه ډير بدشکله وو دهغه په رکم بدشکله سړي مي هيڅ کله هم نه وولیدلي هغه به داور لمبه کوله بيابه پرهغه راڅرخيده ماپوښتنه وکړه چه داڅوک ده؟ هغو راته وويل راځه راځه لږ مخکي چه ولاړو بيايوداسي باغ ته ورسيدو چه ډير لوي چمن اوشنه بوټي، ګلان، اونور شيان پکښي شنه وو دهغه شاته يولوړ سړي ولاړوو چه تراسمانه رسيدلي وو ځلورو طرفوته يې واړه واړه ماشومان وو ماپوښتنه وکړه چه داڅوک دي اوڅه کيږي؟هغوراته وويل راځه يوڅه مخکي چه ولاړو موږ يوه لويه درخته وليده دهغي په رکم لويه درخته مي چيري هم نه وه ليدلي هغو ماته وويل پردي درخته باندي وخيږه زه چه وختم يوداسي ښارته ورسيدو چه دسرو زرو اوسپينو زرو له خښتو ځخه جوړسوي وو موږ وويل چه ددي ښار دروازه دي موږ ته راخلاصه سي دروازه راخلاصه سوه ملائکو هغوته وويل تا ـ ي په ويااله تنوزئ ګورم چه يوه سپينه واله ده هغه دويالي پرطرف روان سول کله چه واپس راغلل دهغو مخونه ډير ښايسته سوي وو ملائکو ماته وويل چه داجنت عدن ده ستاځاي ده ماچه لوړ وکتل دسپيني وريځي په رکم يوځاي مي وليدي هغو راته وويل چه داستاکورده ماهغوته وويل الله ﷻ دي تاسي ته برکت درکي ماته اجازه راکئ چه زه ورننوزم هغوراته وويل اوس نه ته به وهمدي کورته داخليږي بيامي ورته وويل موږ چه ځومره عجائبات وليدل دهغه حقيقت خوماته بيان کئ هغوراته وويل اوس يې بيانوم اول سړي چه موږ وليدي داهغه سړي ده چه په خپله به يې قرآن کريم وايه مګر عمل به يې نه په کاوو دفرض لمنځو په وخت کي به بيده سونه به يې کاوه دوهم سړي چه مووليدي داهغه ځوک ده چه په خپله درواغ جوړوي اوبيايې خپروي دتنور په رکم

شي چه موو ليدي په هغه کي زاني سړي اوزاني ښځي دي کم سړي چه مو دويني په واله کي ونيدي هغه سود خورده کوم سړي چه مو اور بلونکي او دهغه پرخوا راګرځيدونکي وليدي هغه دجهنم داروغه دي تاچه کم سړي لوړ ليدلي وو هغه ابراهيم ﷺ وو دهغه شاوخواته چه کم ماشومان ولاړوودوي هغه ماشومان وو کوم چه ددين پرطرف مړه سوي وو ځينو مسلمانانو پوښتنه وکړه يارسول الله ﷺ ټول ماشومان چه مړه کيږي هغه به هلته وي؟ محمد ﷺ وفرمايل هو کم خلک چه تا وليدل چه يواړخ ښايسته اوبل اړخ يې بدشکله وو هغه هغه کسان وه چه په خپلو اعمالو کي يې نيکي اوبدي دواړه له ځان سره راوړي وي الله ﷻ دهغه ترغلطي ورتيريږي دبزاز په روايت کي راغلي دي چه محمد ﷺ پريوداسي قوم تيرسو چه دهغو سرونه په ډيرو باندي وهل کيدل ميده ميده به کيدل بيابه بيرته خپل اصلي حالت ته راتلل داعذاب هغوته بيابيا ورکول کيدي هغه ﷺ پوښتنه وکړه يا جبرائيل ﷺ داڅوک دي؟ جبرائيل ﷺ وويل داهغه خلک دي چه دلمانځه لپاره يې سرونه درنيدل يعني لمونځ يې نه کاوو.

**دمؤمن سړي لمونځ**: دخطيب اوابن النجارروايت ده چه لمونځ داسلام نښه او نښاني ده دهرچاره چه ولمانځه ته متوجه وي اودټولو شرائطو سره په خپل وخت او صحيح طريقه سره لمونځ وکي هغه مؤمن ده دابن ماجه روايت ده چه محمد ﷺ وفرمايل دالله ﷻ ارشاد مبارک ده چه ماستاپرامت پنځه لمنځونه فرض کړي دي اوماوعده کړي ده چه هرڅوک دغه لمنځونه په خپل تاکلي وخت کي اداکي هغه په جنت کي داخلوم اوڅوک چه يې پابندي نه کوي دهغه لپاره زماوعده نسته داحمد اوحاکم روايت ده چه هرڅوک په دي پوه سو چه لمونځ پرهغه فرض ده بيايې اداکړ هغه به جنت ته ځي دترمذي ، نسايې ، اوابن ماجه روايت ده چه دقيامت په ورځ ترټولو له مخه دلمانځه حساب کيږي که يې لمنځونه صحيح سول هغه کامياب سول که يې په لمنځوکي نقصان وو هغه تاواني اوخائب سوکه دهغه فرض لمنځونه کم سي الله ﷻ فرمايي وګورئ زمادبنده دنفلي عبادت څخه دهغه دفرضي لمنځونو کمي پوره کئ بيادټولو اعمالو دار اومدارپه لمانځه کي دکاميابي اوناکامي پربنياد کيږي دنسائي حديث شريف ده چه دقيامت په ورځ ترټولو له مخه دخلګو ترمنځ دويني تويولو حساب اوکتاب کيږي داحمد ، ابوداؤد ، نسائي، ابن ماجه او حاکم روايت ده چه په قيامت کي ترټولو له مخه دلمانځه حساب کيږي بيادزکات اووروسته دټولو اعمالو حساب اوکتاب کيږي دطبراني حديث ده چه محمد ﷺ وفرمايل زماخواته جبرائيل ﷺ د الله ﷻ پيغام راووړ اوراته ويې ويل الله ﷻ فرمايلي دي چه اې محمد ﷺ

ماستاپر امت پنځه لمنځونه فرض کړي دي څوک چه داپه صحيح اودس صحيح رکوع
اوسجده سره اداکي زماله هغو سره وعده ده چه په جنت کي به يې داخل کم اوچاچه
رقيامت په ورځ له ماسره په داسي حالت کي ملاقات وکړ چه له لمنځو څخه يې څه کم وي
زماله هغو سره هيڅ قسم وعده نسته که وغواړم عذاب ورباندي کوم اوکه و غواړم نورحم
به ورباندي وکم دبيهقي حديث ده چه لمونځ ترازو ده چاچه هغه پوره کړ نوهغه سړي
کامياب سو دديلمي حديث ده چه لمونځ دشيطان مخ توروي صدقه دشيطان ملامتوي
: لله ﷻ درضالپاره له خلګو سره مينه اوعلم سره دوستي شيطان له سختي ناکامي سره مخ
کوي کله چه تاسي داعملونه کوئ شيطان له تاسو څخه دمشرق اومغرب په اندازه تښتي د
ترمذي، حاکم، اوابن حبان روايت ده چه له الله ﷻ څخه ويرېږئ اوپنځه وخته لمنځونه
وکئ دروژي دمياشتي روژي ونيسئ دخپل مال زکات ورکئ دخپلو مشرانو اطاعت وکئ
تاسي به دخپل رب ﷻ جنت ترلاسه کئ داحمد، بخاري، مسلم، ابوداؤد، اونسائي حديث
ده چه دالله ﷻ په نزدد ټولو څخه غوره عمل په خپل وخت لمونځ اداکول دي بياله مور
اوپلار سره ښه سلوک بيادالله ﷻ په لاره کي جهادکول دي په صحيح وخت لمونځ اداکول
دالله ﷻ ډير خوښ دي بيهقي له حضرت عمر ﷺ څخه روايت کړي ده چه يوسړي
دمحمد ﷺ په خدمت کي حاضرسو عرض يې وکړ ماته داوواياست چه الله ﷻ ته کم عمل
زيات خوښ ده؟ هغه ﷺ وفرمايل په صحيح وخت دلمانځه اداکول چاچه لمونځ
پرېښوي دهغه هيڅ دين نسته لمونځ ددين ستن ده کله چه حضرت عمر ﷺ زخمي سو نو
يوچا هغه ﷺ ته وويل اي عمره! دلمانځه وخت ده هغه وويل ډيرښه ده بيشکه دهغه چاپه
دين کي هيڅ برخه نسته چه لمونځ ضايع کي هغه ﷺ ولاړسو اولمونځ يې اداکړ حال داچه
له رجود څخه يې وينې لاړواني وي دذهبي روايت ده چه کله يوبنده په اول وخت کي لمونځ
وکي دهغه لمونځ اسمانو ته خيژي هغه په ډير ښايسته اونوراني شکل کي وي تردي چه
عرش ته رسيږي اودلمونځ ګذاره لپاره ترقيامته پوري دعاوي کوي چه الله ﷻ دي
ستاداسي حفاظت وکي لکه تاچه زماحفاظت وکړ کله چه يوسړي بې وخته لمونځ وکي هغه
لمونځ په بدشکل اسمان ته ځي هغه په څيرو اوخرابو ټوټوکي پيچي يرته دلمونځ
ګذارپرمخ ويشتل کيږي دابوداؤد روايت ده چه محمد ﷺ فرمايلي دي دري کسان دي
چه الله ﷻ دهغو لمنځونه اوذکرونه قبلوي له هغودرو څخه يوهغه ده چه خپل لمونځ
تروخت وروسته کوي دځينو علماؤ قول ده اوحديث شريف هم ده چه کم سړي دلمانځه
پابندي کوي الله ﷻ هغه ته پنځه شيان ورکوي غربت يې ختموي عذاب قبر نه ورکول

کیږي عمل نامه یې په راسته لاس ورکول کیږي پرپل صراط باندي دبرق په شان تیریږي
جنت کي بې حسابه داخلیږي .**په لمانځه کي سستي کوونکو باندي مصائب**،مومن سړ
چه په لمانځه کي سستي کوي الله ﷻ هغه په مصیبتونوکي اخته کوي پنځه په دنیاکې
دري دمرګ په وخت کي دري په قبرکي اودري له قبرڅخه دوتلوپروخت،دنیاوي مصائ
یې دادي چه دهغه له عمر څخه برکت اخستل کیږي دهغه له مخ څخه دصالحینو نښ
ختمیږي الله ﷻ دهغه دهیڅ عمل اجر نه ورکوي دعایې لوړه نه ځي دهغه دعاګاني
نیکیانو په دعاګانو کي نه شمارل کیږي.دمرګ دوخت مصائب یې دادي په ذلت سره مري
تږي مري، که ددنیااوبه ټولي ورکړسي خوبیایې هم تنده نه ماتیږي، . د قبر مصیبتونه یې
دادي چه قبر ورباندي تنګیږي تردي وخته چه پښۍ یې یوپه بل ننوزي، دهغه په قبرکې
اوربلیږي، چه دشپې اوورځي پکښې اوړي رااوړي په قبرکي به یواږدها ورته مقررسي چ
نوم به یې شجاع وي یعني ګنجئ به وي سترګي به یې داور وي اونوکان به یې داوسپن
وي دتالندي په رکم به یې اواز وي له مړي سره به په سخته لهجه خبري کوي اوورته و
وایې زه ګنجئ اژدهایم الله ﷻ ماته حکم کړي ده چه زه تادشپې اوورځي دلمانځ
دپریښوولو له وجه وچیچم کله چه یې هغه وچیچي نومړي به اویاګزه په مځکه ننوز
ترقیامته پوري به دغه عذاب ورکول کیږي .له قبرڅخه دتلو په وخت کي مصائب یې داد
پرمخ به یې دري لیکي لیکل سوي وي، اوله لیکه به داوي اي دالله ﷻ دحقوقو ضائ
کوونکي څنګه چه تاپه دنیاکي دالله ﷻ حقوق ضائع کړي دي داسي ته نن دالله ﷻ له رحم
څخه نا امیده یې په دي حدیث کي خو مجموعًا تعداد پنځلس بنوول سوي ده مګر تفصی
دڅوارلسو یادونه سوي د، شاید دحدیث راوي پنځلسمه خبرله یاده ایستلي وي دحضر
ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت ده چه دقیامت په ورځ به یوسړي دالله ﷻ په حضورکي ودرو
سي الله ﷻ به دهغه په باره حکم وکي چه دوږخ ته یې واستوئ هغه به پوښتنه وکړ
یاالله ﷻ ماپه څه وجه جهنم ته لیږي الله ﷻ ورته فرمایې چه ددي وجه چه تالمنځونه دخپل
وخت څخه وروسته ضائع کړي دي اوزماپه نامه دي د دروا غو قسمونه خوړلي دي له ځین
محدثینوڅخه روایت ده چه یوه ورځ محمد ﷺ اصحابو رضي الله عنهم ته وویل چه تاسي ل
الله ﷻ څخه داسي دعاغواړئ اي الله ﷻ له موږ څخه څوک شقي محروم نه کي بیا یې
وفرمایل ایاپوهیږئ چه بدبخت او محروم څوک دي؟ اصحابو رضي الله عنهم وویل یارسول الله ﷺ
هغه څوک ده؟ رسول ﷺ فرمایل هغه څوک چه لمنځونه پریږدي همدارنګه روایت د
چه دقیامت په ورځ دبې لمانځه سړي مخ توریږي اوپه جهنم کي یوه شله چه لملم ورته ویل

کيږي په هغه کي ماران وسيږي هرمار داوښ په اندازه غټ ده ديوي مياشتي دسفر په اندازه اوږد ده هغه ماران به لمونځ نه کوونکي خلګ چيچي دهغه زهر به تراويا کالو پوري دهغه په بدن کي جوش خوري دهغه غوښه به ويلي سي. **قصدًا لمونځ پريښوونکي ترزناکارهم بدده**: دقصدًا لمونځ پريښوونکي په اړه روايت ده چه دبني اسرائيلو يوه ښځه موسي عليه السلام ته راغله اوعرض يې وکړ اي دالله ﷻ نبي اماديره لويه ګناه کړي ده توبه مي هم کړي ده له الله ﷻ څخه دعا وغواړه چه زماګناه معاف کي اوزماتوبه قبوله کي حضرت موسي عليه السلام پوښتنه ځني وکړه تاڅه ګناه کړي ده؟ هغي وويل مازناکړي وه له زنا څخه چه کم ماشوم پيدا سوهغه مي قتل کړ دهغي ددي خبري په اوريدو سره موسي عليه السلام ورته وويل اي بدبختي زماله ځايه څخه ووزه هسي نه چه ستادګناه په وجه دآسمان څخه اورنازل نسي موږ ونه سوځوي ښځه ډيره خفه اوپريشانه له دي ځاي څخه ولاړه په دي وخت کي جبرائيل عليه السلام راغي اوموسي عليه السلام ته يې وويل اي موسي عليه السلام تا تاله ګناه څخه توبه کوونکي ښځه ولي وشړله؟ اياتاترهغه ښځه بد سړي نه ده ليدلي ؟ موسي عليه السلام وويل اي جبرائيل عليه السلام تردي ښځه بل زيات بدبخت نسته؟ جبرائيل عليه السلام وويل هغه څوک چه قصدًا لمونځ پريږدي له ځينو صالحينو څخه روايت ده چه يوو سړي خپله مړه خوردفن کړه په ناخبري کي دهغه ديــــو خلطه په قبر کي وغورځيده کله چه ټول خلګ له دفن کولو څخه وروسته خپلو کوروته ولاړل هغه ته خپله خلطه وريه يادسوه بيرته قبرته راغي قبريې لڅ کړ ګوري چه په هغه قبر کي داور لمبي جوش وهي هغه بيرته قبر بند کړ په ژړا خپل مورته راغي مورته يې وويل اي موري ته ماته ووايه چه زماخور څه عمل کاوه؟ موريې ورته وويل ته ولي پوښتنه کوي؟ هغه ورته وويل مادخپلي موريه قبر کي لمبي ليدلي دي دهغه مور په ژړا سوه اوورته ويې ويل ستاخور په لمانځه کي سستي کوله تروخت وروسته به يې کاوه داخو دهغه چاحال ده چه لمونځ نارخته کوي دهغو خلګو به څه حال وي چه لمونځ بالکل نه کوي اي الله ﷻ موږ ستاپه حضورکي دعاکوو چه موږ ته په خپل وخت دلمونځ کولو توفيق راکي بيشکه ته مهربان کريم رؤف اورحيم يې.

## پنځوستم باب دجهنم طبقې اوعذاب يې

الله ﷻ فرمايي: لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ لِكُلِّ بَابٍ مِنْهُمْ جُزْءٌ مَقْسُومٌ (۱۴ پاره) دجهنم اووه دروازي دي دهري دروازي حصه مقرره ده دلته له جزء څخه مطلب ګروپ دله اوجماعت ده اوله دروازو څخه مراد طبقات دي چه لاندي باندي جوړي سوي دي دجهنم هره طبقه ديوي دلي لپاره مخصوصه ده دابن جريج قول ده چه دجهنم اووه طبقات دي چه جهنم لظي، خطمه، سعير،

سقر، جحیم، هاویه دي اوله طبقه دملحدانو لپاره دوهمه دیهودیانو، دریمه دنصاراوو، لپاره څلورمه دصائبینو لپاره، پنځمه داتش پرستانو لپاره اوپاته نوري ټولي په ترتیب سره دهغه لاندي دي یاددي مطلب داده چه الله ﷻ دابلیس پیرویان په اوو دلوتقسیمو ي اوهره دله دجهنم په اوو طبقو کي او سیږي مګر کله چه دکفر اوګناهونو مختلفي درجي دي ځکه په جهنم کي دداخلیدو لپاره درجي هم مختلفي دي داهم ویل سوي دي چه دجهنم اووه طبقي داوو اندامونو لپاره جوړي سوي دي هغه دادي سترګه، غوږ، ژبه، ګیډه، شرمګاه، اوپښي کله چه اندامونه دګناهونو مرکزونه دي ځکه دهغه دداخلیدو لپاره هم اووه دروازي جوړي سوي دي له حضرت علي ﷺ څخه روایت ده چه چه دجهنم لاندي باندي اووه طبقي دي اوله طبقه، بیادوهمه طبقه، بیادریمه طبقه، څلورمه همداسي ټولي دکیږي بخاري په خپل تاریخ کي، اوترمذي دابن عمر ﷺ څخه روایت کړي ده چه محمد ﷺ وفرمایل دجهنم اووه دروازي دي له هغوڅخه یوه دروازه دهغه سړي لپاره ده چه زماپرامتي باندي یې توره پورته کړي وي. **دجهنم اور** طبراني په اوسط کي روایت کړي ده چه یو وخت جبرائیل ﷺ په داسي وخت کي راغي چه ددي څخه مخکي په داسي وخت کي هیڅکله نه وو راغلي محمد ﷺ ورته ودریدي اوورته ویې ویل اي جبرائیله څه خبره ده؟ زه تاپریشان وینم جبرائیل ﷺ ورته وویل زه په داسي وخت کي ستاخواته راغلي یم چه الله ﷻ په جهنم کي داور بلولو حکم کړي ده هغه ﷺ ورته وویل اي جبرائیله ماته دجهنم داور په باره کي خوڅه معلومات راکه جبرائیل ﷺ عرض وکړچه الله ﷻ حکم کړي ده چه په جهنم کي دي دزرو کالو لپاره اوربل سي هغه دومره ګرم سو چه تک سپین اوښتي بیادزرو کالو لپاره داور دبلیدو حکم وسو تک تور سواوس جهنم تک تور ده نه یې سکروټي ختمیږي اونه یې لمبي مري په خداي قسم که دستني دسوري په اندازه جهنم خلاص سي دمځکي ټول اوسیدونکي به فناه سي په الله ﷻ قسم که دجهنم یوه ملائکه دنیا ته راسي ټول خلک به دهغه په لیدو سره مړه سي ځکه چه هغه ډیره توره اوبدشکله ده سحت بد بوي یې څي په الله ﷻ قسم که دجهنم دزنځیر یوه ټوټه پرمځکه راشوه سي ټوټي ټوټي به سي اوهغه ټوټه به تحت الثري ته ورسیږي محمد ﷺ چه داخبري واوریدي نویې وویل اي جبرائیله نوربس که دومره معلومات راته کافي ده زمالپاره داخبري ډیري پرېشانه اوخفه کونکي دي راوي وایي چه کله محمد ﷺ جبرائیل امین ته وکتل هغه په ژړاوو محمد ﷺ ورته وویل اي جبرائیله ته ولي ژاړي؟ ستا خود الله ﷻ په نزد ډیرلوړ مقام ده هغه وویل زه ولي نه ژاړم زه ددي حقدار یم چه زیات وژاړم څه خبرسته چه

دالله ﷻ په نزد دي زما مقام له دي څخه بغير بل مقام وي څه پته سته هسي نه چه دابليس په رکم زه هم امتحان سم هغه خو هم په ملائکو کي او سيدي څه پته سته هسي نه چه دهاروت اوماروت په رکم وازمايل سم؟ په دي وخت کي دمحمد ﷺ سترګو څخه هم اوښکي رواني سوي دواړو ښه وژړل دواړو ته اواز وسو اي جبرائيله اي محمد ﷺ الله ﷻ تاسي دواړه دنافرماني څخه محفوظ کړي ياست له دي وروسته جبرائيل ؑ بيرته اسمان ته ولاړي يو وخت محمد ﷺ دانصارو ديوي ډلي ترڅنګ تيرسو هغه په خنداوو اوفضولي خبري يې کولي هغه ﷺ ورته وفرمايل تاسي لاخنداکوئ حال داچه ستاسو شاته جهنم ده زه يې وينم که تاسو جهنم ليدلي واي خندل به موکم اوژړل به موډيرتاسو به خوراک، څښاک، پري ايښي واي غرونوته به تللي واي هلته به مو دالله ﷻ عبادت کړي واي په دي وخت کي دالله ﷻ له طرفه اواز راغي چه اي محمد ﷺ زما بندګان مه نااميده کوه تاسي دبشارت ورکوونکي په توګه ليږل سوي ياست ددي لپاره نه ياست ليږل سوي چه خلګ په مشکلاتو کي واچوئ بيا محمد ﷺ هغوته وويل په سيده لاره روان سئ دالله ﷻ درحمت اميد وساتئ داحمد روايت ده چه جبرائيل ؑ محمد ﷺ ته وويل ماکله هم ميکائيل ؑ په خندا نه ده ليدلي دي وجه ده جبرائيل ؑ وويل له کومه وخته چه هغه پيداسوي ده يوه ورځ يې هم نه دي خندلي په مسلم شريف کي روايت ده چه محمد ﷺ وفرمايل دقيامت په ورځ جهنم په اويازره زنځيرونوکي تړل سوي راوستل کيږي په هرزنځير به يې اويازره ملائکي منښتي وي راکښوي به يې.

## يوپنځوستم باب دجهنم عذاب

دابوداؤد، ترمذي، امام نسائي، روايت ده چه کله الله ﷻ جنت اوجهنم پيداکړل جبرائيل ؑ يې وليږي چه ته ولاړسه جنت ته اوپه هغه کي چه څه مادجنتيانو لپاره تيارکړي دي هغه وګوره جبرائيل ؑ راغي جنت ته اوپه هغه کي چه دجنتيانو لپاره څه تيارسوي وو هغه يې وکتل دالله ﷻ دربار ته حاضرسو عرض يې وکړ ستاپه عزت اوجلال قسم هرڅوک چه ددي جنت اودهغه دنعمتونوصفت واوري هغه به خامخا دلته دراتلو کوشش کوي الله ﷻ حکم وکړچه جنت بۀ په تکليف ګټل کيږي بيايې حکم ورته وکړ چه ولاړسه وګوره ماجنت ته دراتلونکوخلګو لپاره څه انتظام کړي دۀ؟ کله چه جبرائيل ؑ راغي اوورته ويې کتل هغه په مصائبو کي پټ اوکګړ سوي وو واپس راغي اودالله ﷻ په دربارکي حاضرسو اوويې ويل چه ستاپه جلال قسم زه بيريږم چه جنت ته به څوک رانسي بيا الله ﷻ ورته وفرمايل ولاړسه جهنم اودهغه داوسيدونکوجهنميانو لپاره چه ماڅه

تیارکړي دي هغه وګوره هغه راغي ګوري چه دهغه اور يوبل سره خوري جبرائيل ﷺ واپس راغي اوعرض يې وکړيا الله ﷻ ستا په عزت قسم هرڅوک چه د جهنم صفات واوري نودراتلو کوشش به ونکي الله ﷻ حکم وکړچه جهنم دي په شهواتوکي پټ سي الله ﷻ جبرائيل ﷺ ته وويل اوس ولاړسه وګوره جبرائيل ﷺ بیا راغي جهنم يې وليدي بيرته دالله ﷻ په حضورکي حاضرسواوويې ويل ستاپه عزت اوجلال قسم چه زه يې ريږم هيڅوک به په دي کي له لويدو څخه خلاص نه سي بيهقي دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه روايت کړي ده چه هغه دالله ﷻ ددا آيت :انهاترمي بشرر كالقصر په تشريح کي فرمايلي دي چه زه دانه وايم چه ددرختو په اندازه غټ غټ بڅرکي غورځوي بلکه دقلاګانو اوښارو په اندازه لوي لوي بڅرکي لري احمد ابن ماجه، صحيح ابن حبان، اودحاکم روايت ده چه ويل يې دجهنم يوه شله ده کافر په هغه کي څلويښت کاله مسلسل سفرکوي خويـخ ته به يې ونه رسيږي په ترمذي کي همداسي ويل سوي دي چه دجهنم يوه شله ده چه کافر به تراوياکاله سفر وروسته هم دهغي شلې اخرته ونه رسيږي په دواړو روايتونوکي دکلونوپه تعدادکي فرق ده خوددواړو مطلب دشلې ژور والي دي چه کافر به په ډيرو کلونو کي نه وررسيږي .**دجب الحزن عذاب**:دابن ماجه اوترمذي حديث شريف ده چه محمد ﷺ وفرمايل له جب الحزن څخه پناه وغواړئ صحابه ﷺ پوښتنه وکړه يارسول الله ﷺ داڅښي ده؟ رسول الله ﷺ وفرمايل دادجهنم يوه شله ده چه له هغي شلې څخه دانور جهنم دورځي څلورياپنځه واره پناه غواړي پوښتنه وسوه دچاليپاره تياره سوي ده؟ رسول ﷺ وفرمايل دهغه چاليپاره تياره سوي ده چه دخپلو اعمالو نمايش اوښوونه کوي دالله ﷻ په نزد ترټولو زيات هغه قاريان بددي چه دظالم باچا سره ناسته ولاړه کوي دطبراني روايت ده چه په جهنم کي يوه داسي شله ده چه جهنم په ورځ کي څلور واره پناه ځني غواړي اودمحمد ﷺ درياکاره امت ليپاره جوړه سوي ده له ابن ابي دينار څخه روايت ده چه په جهنم کي اويازره شلې دي په هره شله کي اويازره کندي دي په هره کنده کي اويازره سوري دي په هرسوري کي يومارده چه ددوږخيانو په مخ به نيښ لګوي اوچيچي به يې په ترمذي کي مقطع السند روايت ده چه دجهنم له سره څخه يوه ډبره لاندي دوږخ ته وغورځيږي هغه داوياکالوپه تيريدوسره بياهم ددوږخ پاي ته نه رسيږي حضرت عمر ﷺ به اکثر فرمايل جهنم زيات يادوئ ځکه چه دهغه ګرمي ډيره زياته اوژوروالي يې خوراډير ده په هغه کي داوسپيني چټکان دي په مسلم کي له حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت ده چه موږ له محمد ﷺ سره يوځاي ناست وو دانفجار يوږغ مورواوريدي

[illegible]

ورايله كوي داحمد، طبراني، صحيح ابن حبان، اودحاكم روايت ده چه په جهنم كي دمجتي
اوبن دغاړي په رکم ماران دي كله چه له هغو مارانو څخه يومار يوڅوک وچيچي دهغ
دګرمي احساس د(۷۰)كالو په فاصله كي كيږي په جهنم كي دغرونو دغاترو په شان لړمان
سته هغه چه چاته خوله لګوي نودهغه ګرمي دڅلويښتو كالو په فاصله كي محسوسيږي
دترمذي، صحيح، ابن حبان، اوحاكم روايت ده چه محمد ﷺ د الله جل جلاله فرمان كالمهل
په باره كي فرمايلي ده چه هغه د زيتون دتيلو دلاندي خيري په رکم ده كله چ
دكفارو مخونوته نژدي مرسي دهغو دمخونوڅرمن له سره يوځاي په كي يوځاي ل
وربښتانو سره لويږي دترمذي روايت ده چه كله دهغو پرسينو باندي دجهنم ګرمي اوبه
واچول سي ترسرو يې تيري سي لاندي په نس كي تم سي اوڅه چه هلته وي ټول دباندي
راباسي تردي چه په داسي سختي سره دهغو ترپښو هم تيريږي اودهغو دوجود وازګي
ويلي كوي ياهغه دوباره دپخوا په رکم جوړيږي يابه دغه ګرمي اوبه پرا چول كيږي داكار
له هغو سره بار بار تكراريږي دضحاک رحمه الله قول ده چه جهيم هغه ګرمي اوبه دي چه
دمځكي اوآسمان دپيدايښت څخه څه وخت مخكي دوږخيانو ته دوركولو لپاره ګرميږي
ياپه هغو چښل كيږي په دي اړه نور اقوال هم سته په قرآن كريم كي ددغه اوبو بيان سوي د
الله جل جلاله فرمايي: كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ فِي النَّارِ وَسُقُوا مَاءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَاءَهُمْ. ژباړه: هغه به ګرمي اوبه
وچښي چه كولمي يې وريري كي داحمد ترمذي اودحاكم روايت ده چه محمد ﷺ ددغه
الهي فرمان په باره كي: وَيُسْقَىٰ مِن مَّاءٍ صَدِيدٍ يَتَجَرَّعُهُ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُ. سورة ابراهيم هغوته
دګذكونو اوبه ورچښلي كيږي غرپ غرپ به څني چښي خو ترستوني به يې نه تيريږي
فرمايي چه دوږخي به هغه وخولي ته نژدي كي دهغه خوله وروتوږي دهغه دمخ اوسر
څرمن له وربښتانو سره لاندي لويږي كله چه يې غرپ غرپ ورڅخه چښي كولمي يې پري
كوي اودباندي يې راباسي لكه الله جل جلاله چه فرمايي: وَإِن يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي
الْوُجُوهَ. سورة الكهف. ژباړه: كله چه هغه فريادكوي دهغو فرياد اوريدل كيږي دداسي اوبو سره
چه دويلي سوي اوسپيني اوبو په رکم وي دهغو مخونه به كباب كي هغه دير بد چښاک
ده. **دجهنم بدبويه اوبه**، داحمد اوحاكم روايت ده كه دجهنم داوبو يوه سولاغه په دنيا كي
وغورځول سي نو ټول مخلوق به ددي دبدبويي څخه تنګ سي ددغه اوبو نوم غساق ده چه
په قرآن كريم كي يې يادونه سوي ده. **دوږخيانو داوبو په اړه ارشاد**، ددوږخيانو داوبو په
اړه ارشاد دي چه ګرمي اوبه اوغساق به يې چښاک وي دغساق په معني كي اختلاف د

دحضرت ابن عباس ﷺقول ده چه د دې څخه مراد هغه اوبه دي چه د جهنميانو د بدن څخه دعذاب له وجه وزي د ځينو مفسرينو ﷺوينا ده چه له دې څخه مراد د دوږخيانو د زخمو اوبه دي دحضرت كعب ﷺقول ده چه دادجهنم ځاه ده. هغه ته زهر جن شيان لكه مار، لړم، اونور زهر لرونكي حيوانات دلته جمع كيږي ياكافر هلته وړل كيږي هغه ته په دې كي غوټه ورکول كيږي كله چه ځني وايستل سي ټول ځرمن اوغوښه به يې توي سي اوپه پښوپوري به يې داسي مښتي وي لكه دچاپه پښو پوري چه ټوټه مښتي وي په راكشولو راكشولو سره به يې له ځانه لري كوي دترمذي روايت ده چه محمد ﷺدا آيت تلاوت كړ:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ سورة آل عمران آية (۱۰۲) .

ژباړه: له الله ﷻ څخه په حقه بيره سره وبيريږئ مه مرئ خود مسلماني په حالت كي مړه سئ محمد ﷺو فرمايل كه دزقوم يو ځاڅكي پرمځكه واچول سي نومخلوق به ژوند ونه كي دهغه چا حال به څه وي چه غذا يې زقوم وي دبل روايت الفاظ دادي چه دهغه چا حال به څنګه وي چه خوراک يې زقوم وي له حضرت ابن عباس ﷺ څخه په صحيح روايت سره نقل سوي ده چه هغه ددي آيت شريف «وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا سورة المزمل آية (۱۳)» خوراک په ستوي كي منبليدونكي په تفسير كي وفرمايل په هغه كي به اغزي وي چه په حلق كي ومنبلي نه به كښته ځي اونه به لوړ دبخاري اومسلم روايت ده چه دكافر داوږو ترمينځ فاصله دتيز رفتاره سوارلي ددرو ورځو دسفر برابره وي داحمد روايت ده چه دقيامت په ورځ دكافر زامه داحد دغره په اندازه وي دهغه دبدن برداروالي به اوياگزه وي دهغه لاس به ديضاء دغره په اندازه وي اوورون به يې درقان دغره په اندازه وي په جهنم كي دهغه دناستي ځاي زما اودزبدة ترمينځ دفاصلي په اندازه وي په يوو روايت كي دي چه په جهنم كي دهغه دناستي ځاي به د درو ورځوپه اندازه داحمد، ترمذي، اوطبراني روايت ده اوحافظ منذري ﷺدښه حديث سند ويلي ده ترمذي دغه حديث دفضيل بن يزيد څخه نقل كړي ده چه كافربه په جهنم كي ديوو يادوه فرسخه دمسافي په برابر اوږده ژبه راايستلي وي په ځان پسي به يې راكشوي خلک به يې ترپښولاندي كوي يو فرسخ ددرو ميلو په برابر ده دبيهقي اونورو روايت ده چه دقيامت په ورځ به دجهنميانو بدنونه دير لوي سي دهغو دغوږو دنرمي څخه تراوږو پوري به داوو سوو كالو سفر وي دهغه دپوستكي برداروالي به اوياگزه وي غاښ به يې داحد دغره په اندازه وي احمد، اوحاكم، له مجاهد څخه په صحيح سند سره روايت كړي ده چه حضرت ابن عباس ﷺو فرمايل تاسو پوهيږئ

ددوږخيانو بدنونه څومره غټ وي؟ ماوويل نه عباس رضي الله عنه وويل دهغه دغوږو اونرميو فاصله به اوياکاله وي دهغه په بدن کي به وينه او کڼک روان وي ماپوښتنه وکړه چه ولي به وي؟ هغه رضي الله عنه وويل نه خوړونه به روان وي.

## دوپنځوستم باب له گناهونو څخه دبیریدو فضیلت.

داخبره په ذهن کي کښينوئ چه له گناهونو څخه په بيروونکو خبرو کي له الله جل جلاله څخه بيره دانتقام فكر دالله جل جلاله هيبت اوشان وشوكت دالله جل جلاله دعذاب بيره دالله جل جلاله نيول ښكاره حيثيت لري الهي فرمان ده چه كم خلك دالله جل جلاله داحكامو مخالفت كوي هغه دي له دې څخه وبيرېږي چه هغو ته لويه فتنه اودردوونكي عذاب رسيږي روايت ده چه محمد صلى الله عليه وسلم ديو ځوان خواته راغي چه دمرگ په حالت كي وو رسول صلى الله عليه وسلم وفرمايل ته خپل ځان په څنگه حالت كي ويني عرض يې وكړ يارسول الله صلى الله عليه وسلم زه دالله جل جلاله درحمت اميد واريم اوله خپلو گناهونو څخه بيريږم محمد صلى الله عليه وسلم چه دهغه داخبري واوريدي ويې فرمايل دكه بنده په زړه كي دوي خبري نه سي جمع كيداي مگر الله جل جلاله دهغه اميد پوره كوي اوله گناهونو څخه دبيري له وجه هغه بي نيازه كوي دوهب ابن الورد څخه روايت ده چه حضرت عيسى عليه السلام به فرمايل له جنت سره محبت اوله دوزخ څخه بيره دمصيبت په وخت كي سړي ته صبر وركوي دادواړه شيان دنياوي خوندونه، خواهشات، اوسرغړوني دسړي څخه ليري كوي دجناب حسن رضي الله عنه قول ده چه په خداي قسم چه ستاسي څخه مخكي داسي خلك تيرسوي دي چه له خپلي يوي گناه څخه دنجات ذريعه نه كېله نبوي فرمان ده چه كم شي زه اورم اياتاسي يې هم اورئ؟ اسمان دملائكو په اوازو سره دروند سوي ده اوحق يې ده چه دروند سي قسم ده چه په آسمان كي دڅلورو گوتو په اندازه هم خالي ځاي نسته چه ملائكي دي سجده كوونكي . ركوع كوونكي،قيام كوونكي ، پكښي نه وي په كم شي چه زه پوهيږم كه تاسي پوهيداي نوخندا به موكمه اوژړا به مو ډيره كوله له كورو څخه به وتلي واي غرونو ته به ختلي واي دالله جل جلاله دشديد انتقام اودهغه دهيبت، اوجلال، دبيري څخه به موالله جل جلاله ته پناه وروړي واي په يوو روايت كي دي چه دجناب بكر بن عبدالله المزني رضي الله عنه قول ده چه كم خلك په خندا سره گناهونه كوي هغه په ژړا سره جهنم ته ځي په يوروايت كي دي چه كه مؤمن دالله جل جلاله دتيارسوي عذاب څخه خبرواي كله به هم دجهنم له بيري څخه دهغه ذهن نه واي خالي سوي په صحيحينو كي دي چه كله داآيت شريف نازل سو: ﴿وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾ سورةالشعراء آية ٢١٤ رسول الله صلى الله عليه وسلم سيده ودريدي اوويې فرمايل اي دقريشو قومه اخپل ځانونه له الله جل جلاله څخه واخلئ زه تاسي دالله جل جلاله په كارونو كي ديود

شي څخه هم نسم بې پرواه کولاي اي بني عبد منافه! (چه د محمد ﷺ خپلوان وه) زه په الهي احکامو تاسي له هيڅ شي څخه نسم خلاصولاي اي عباسه! زه تاسي د الله ﷻ له هيڅ عذاب څخه نه سم بې پرواه کولاي اي صفيې! زه تاته د الله ﷻ په حضورکي له هيڅ شي څخه نجات نه سم درکولاي اي فاطمې ازماله مال څخه چه هرڅه غواړې وغواړه ليکن زه تا د الله ﷻ په حضور کي له هيڅ شي څخه نه سم خلاصولاي حضرت عائشې ﷺ دا آيت روايه: ﴿وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ﴾ سورة المؤمنون آية (٦٠).

ژباړه: کوم خلګ چه د الله ﷻ له ورکړي مال څخه ورکړه کوي د هغو زړونه له دې خبري څخه بيرېږي چه هغه د الله ﷻ پر طرف ځي بيايې پوښتنه وکړه يا رسول الله ﷺ ايا داهغه څوک دي چه زناکوي، غلاکوي، شراب څښي، مګر له الله ﷻ څخه هم بيرېږي؟ رسول ﷺ وفرمايل اي دابوبکر لورې! داسي نه ده بلکه له دې څخه هغه سړي مراد ده چه لمونځ کوي، روژه نيسي، صدقه ورکوه، مګر له دې خبري څخه هم بيرېږي چه هسي نه چه دا اعمال قبول سوي نه وي دا حديث احمد روايت کړي ده.

حسن بصري ﷫ ته يو چا وويل اي ابوسعيده! ستاڅه رايه ده موږ د داسي خلګو په مجلس کي کښينو چه هغه موږ ته د الله ﷻ د رحمت داميد وار کيدو داسي خبري کوي چه زموږ زړونه له ډيري خوشحالۍ څخه تړپونه وهي هغه وفرمايل په خداي قسم که تاسي له داسي خلګو سره کښينئ چه تاسي له الله ﷻ څخه ديريدو اود الله ﷻ له عذاب څخه موويروي تردي چه تاسي امن پيداکئ هغه ستاسي لپاره له هغه څخه بهتر ده چه تاسي له داسي خلګو سره کښينئ چه تاسي په غفلت کي اچوي اوپه اميد کي موو ساتي تردي چه تاسي په خپل ګير کي واخلي. **عمر ﷺ او له الله ﷻ څخه يې ويره:** کله چه عمر ﷺ په نيزه سره زخمي سو د هغه ﷺ د مرګ وخت رانژدي سو هغه خپل زويه ته وويل اي زويه! زمامخ پرمځکه کښيږده افسوس ډير افسوس! که الله ﷻ پرمارحم ونه کي حضرت ابن عباس ﷺ پوښتنه ځني وکړه اي امير المؤمنينه ته له څښي څخه بيره لرې؟ الله ﷻ ستاسي په لاسو ډير فتوحات وکړل ښارونه يې اباد کړل هغه ﷺ وفرمايل زه داخبره خوښوم چه زمانيکي اوبدي دواړه برابر سي يعني نه نقصان راکړ سي اونه ګټه کله چه زين العابدين علي بن حسين ﷺ د اودس څخه فارغ سو نولړزيدي به خلګو دلړزيدو پوښتنه ځني وکړه چه څه وجه ده ستا وجود ريږدي؟ هغه ﷺ جواب ورکړ ستاسي په حال افسوس کوم اياتاسي ته خبر نسته چه زه دچا حضور ته روان يم؟ او چاته مناجات کوم؟ حضرت احمد بن حنبل ﷫ وفرمايل زه د الله ﷻ ويري، اوخوف ، له خوراک څخه بند کړي يم اوس ماته

دخوراک اوچښاک خواهش نسته دصحيحينو روايت ده چه محمد ﷺ دهغه اوو کسانو يادونه وکړه چه هغوته الله ﷻ په داسي وخت کي دخپل عرش ترسيوري لاندي ځاي ورکوي چه له هغه څخه بغير به بل سيوري نه وي له هغو اوو کسانو څخه يوسړي هغه چه ځانته په گوښه کي دالله ﷻ عذاب اووعيد يادکي خپل ځان ورته گنهگار ښکاره سي له سترگو څخه يې دالله ﷻ له بيري څخه اوښکي رواني سي اوله الله ﷻ څخه دبيري له وجه دنرماني اوسرکښي څخه لاس واخلي.

**دجهنم له عذاب څخه محفوظي دوي سترگي**،له حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چه محمد ﷺ فرمايل دوي سترگي داسي دي چه دجهنم اور يې نه سوځي يوه هغه سترگه ده چه دالله ﷻ له بيري څخه وژاړي دوهمه هغه سترگه ده چه دالله ﷻ په لاره کي دجهاد لپاره ويښه پاته سوي وي له حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت ده چه محمد ﷺ فرمايل دقيامت په ورځ به هره سترگه ژاړي مگر کومه سترگه چه له حرامو څخه خلاصه سي اوکومه سترگه چه دالله ﷻ په لاره کي په جهاد کي ويښه پاته سي هغه سترگه چه دالله ﷻ دبيري له وجه دمچ دسر په اندازه اوښکه ځني توي سي له ژړا څخه به محفوظه پاته سي .**دالله ﷻ له بيري څخه ژړاکونکي سړي له دوږخ څخه ازاددی**ترمذي په حسن اوصحيح روايت سره دابوهريره ﷺ څخه حديث نقل کړي ده چه محمد ﷺ فرمايل هغه سړي هيڅکله جهنم ته نه ځي چه دالله ﷻ له بيري څخه يې ژړلي وي ترهغه چه شيدي بيرته غولانځي ته داخلي سي دالله ﷻ دلاري غبار اودجهنم دردونه سره يوځاي کيږي دحضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ قول ده چه زماپه نزد دالله ﷻ له بيري څخه دانسان دسترگو څخه يوه اوښکه تويول دزرو دينارو دصدقي څخه زيات افضل اوبهتر ده عون بن عبدالله ﷺ وايي چه ماته دا روايت رسيدلي ده چه دالله ﷻ له بيري څخه دانسان له سترگو څخه بهيدونکي اوښکي چه دانسان پربدن هرځاي ولگيږي هغه ځاي الله ﷻ پرجهنم حراموي دمحمد ﷺ سينه مبارکه به دژړا له وجه داسي ايشي ده لکه کټو چه ايشيږي دکندې روايت ده چه دالله ﷻ له بيري څخه دجړيدونکي سترگي يوه اوښکه دسمندرپه رکم اوړد اوبردار اور وژني .**ابن سماک خپل نفس ملامت کړ**:ابن سماک رحمه الله به خپل نفس سرزنش کاوه ويل به يې په خبروکي خو دزاهدانوپه رکم خبري کوي ليکن عمل دمنافقانو په رکم کوي ليري سه ادجنت لپاره نور خلک دي چه دهغو اعمال زموږ له اعمالو څخه بالکل مختلف دي .

**دحضرت جعفر رحمه الله نصیحتونه:** حضرت سفیان ثوري رحمه الله وایي چه د حضرت جعفر صادق رحمه الله په خدمت کي حاضر سوم عرض مي وکړ اي د الله ﷻ د رسول ﷺ د زړه سره! ماته نصیحت وکه هغه رحمه الله وویل اي سفیانه! په دروغجن سړي کي مروت نه وي، په کین کښ سړي کي خوشحالي نه وي، په غمګین سړي کي دورور ګلوي احساس نه وي، د بدخوي سړي لپاره سرداري نسته، ماورته وویل نور نصیحت هم راته وکه هغه رحمه الله وویل چه اي سفیانه د الله ﷻ له منع سویو شیانو څخه منع سه نو عابد به سي د الله ﷻ په تقسیم راضي او سه نو مسلمان به سي، د خلکو څخه چه کم قسم دوستي غواړي هغه رنګه دوستي ته هم ورسره وکه، هلته به ته مؤمن سي له بدو سره دوستي مه کوه که نه نو ته به هم بدعمله سي لکه په حدیث شریف کي چه دي چه انسان د خپل دوست په طریقه وي ته داوګوره چه ستا دوستي له چاسره ده او په خپلو کارو کي له هغو خلکو سره مشوري کوه چه له الله ﷻ څخه یریږي ماعرض وکړ اي د الله ﷻ د رسول زویه! نور نصیحت هم راته وکه هغه رحمه الله راته وویل څوک چه د قبیلي څخه بغیر عزت او له حکومت څخه بغیر دبدبه غواړي هغه ته په کار دي چه د الله ﷻ د نافرمانۍ له ذلت څخه ووزي او د الله ﷻ فرمانبرداري وکي ماعرض وکړ نور نصیحت هم راته وکه هغه رحمه الله وفرمایل ماته زما پلار دري د ادب بښي خبري رابنوولي دي یو داچه کم سړي د بدو خلکو صحبت خپلوي هغه سلامت نه سي پاته کیداي، څوک چه بدځاي ته ځي هغه متهم کیږي، او څوک چه د خپلي ژبي حفاظت نه کوي له شرم سره مخامخ کیږي د ابن مبارک رحمه الله قول ده چه د وهیب ابن ابو درداء رحمه الله څخه پوښتنه وسوه چه کم سړي چه د الله ﷻ نافرماني کوي ایا هغه د عبادت په خوند پوهیږي؟ هغه وویل نه همدغه شان د ګناه اراده کوونکي هم د عبادت په خوند نه پوهیږي د امام ابو الفرج بن الجوزي رحمه الله قول ده چه یره د نفساني خواهشاتو لپاره سوځوونکي اور ده همدارازیره چه څومره انسان عبادت ته هڅوي د غومره بنه ده د الله ﷻ څخه وهم انسان ته عزت ورکوي ځکه چه دیري له وجه سړي متقي، پاک لمن، او د نورو ډیرو ښو صفتونو مالک ګرځي او د الله ﷻ قرب ترلاسه کوي لکه له آیتونو او احادیثو څخه چه ثابتیږي د الله ﷻ فرمان ده: هُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُونَ سورة الاعراف آية(١٥٤). ژباړه: د هغو خلکو لپاره هدایت او رحمت ده چه له خپل رب ﷻ څخه یریږي. رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ سورة البينة آية(٨). ژباړه: الله ﷻ له هغو څخه خوشحاله ده او هغه له الله ﷻ څخه خوشحاله دي دا د هغه چالپاره چه د خپل رب ﷻ څخه ویریدي. وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ سورة آل عمران آية(١٧٥). ژباړه: که تاسي

مؤمنان یاست له ماڅخه ویریږئ .وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ سورة الرحمن آیة(٤٦) .ژباړه:کوم سړي چه دخپل رب ﷻ په وړاندي ددریدو څخه ویریږي دهغه لپاره دوه جنتونه دي .سَيَذَّكَّرُ مَن يَخْشَىٰ سورة الاعلیٰ آیة(١٠) .ژباړه:څوک چه له الله ﷻ څخه ویریږي هغه پند حاصلوي .إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ سورة الفاطر آیة(٢٨) ژباړه:بیشکه دالله ﷻ له بندګانو څخه علماء ویریږي هرهغه حدیث یاآیت چه دعلم پرفضیلت دلالت کوي هغه دیري پرفضیلت هم دلالت کوي ځکه چه خوف له علم سره ده دابن ابي الدنیاروایت ده چه محمد ﷺ فرمایل کله چه دالله ﷻ له ویري څخه دبنده وجود ولړزیږي اوورېښتان یې ځیره سي دهغه ګناهونه داسي توئیږي لکه له وچي درختي څخه چه پاڼي توئیږي محمد ﷺ فرمایي چه الله ﷻ فرمایلي دي زمایې په خپل عزت اوجلال قسم زه په خپلو بندګانو دوي بیري اودوه امنه نه جمع کوم که هغه په دنیاکي له ماڅخه ویریږي زه هغه دقیامت په ورځ له بیري څخه بي نیازه کوم که هغه په دنیاکي له ماڅخه بیره نه کوي دقیامت په ورځ یې په بیره اخته کوم دابو سلمان الدارني رحمه الله قول ده هرهغه سړي چه په زړه کي یې دالله ﷻ بیره نه وي هغه هسي خرابه ده الله ﷻ فرمایي :أَفَأَمِنُوا مَكْرَ اللَّهِ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ سورة الاعراف آیة(٩٩) .

## دروپنځوستم باب دتوبي فضیلت

دتوبي دفضیلت په باره کي دیر آیتونه راغلي دي چه ځیني یې لاندي بیانو .وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ سورة النور آیة(٣١) .ژباړه:الله ﷻ ته توبه وکئ اي مؤمنانوچه کامیابي ترلاسه کئ .وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ وَمَن يَفْعَلْ .... إِلَى اللَّهِ مَتَابًا سورة الفرقان آیة(٦٨/٧١) . ژباړه: کوم خلک چه له الله ﷻ څخه بغیر بل معبودنه بولي اوپه ناحقه سره کم انسان نه وژني چه وژل یې الله ﷻ حرام ګرځولي دي اوزنانه کوي هرڅوک چه داکار کوي په سخت حالت کي به له الله ﷻ سره مخامخ سي دقیامت په ورځ دوچنده عذاب ورکول کیږي اوپه رسوایې سره همیشه به دي په هغه کي اوسیږي مګر چاچه توبه وکړه اوایمان یې راووړ ښه عملونه یې وکړل الله ﷻ دهغو بدي په نیکي بدلوي الله ﷻ بخښونکي اومهربان ده څوک چه توبه وکاږي اونیک عملونه وکي بیشکه هغه الله ﷻ ته رجوع کوي الله ﷻ ته په رجوع کولو سره درجوع په اره ګڼ احادیث موجوددي دمسلم شریف حدیث ده چه بیشکه الله ﷻ خپل

رحمت دشپې په وخت کې پراخوي ترڅوچه دورځې گناه کوونکې خلک توبه وکاړي اوالله ﷻ دهغو توبه قبوله کې همداراز دورځې هم دخپل رحمت لاسونه خځوي ترڅو دشپې گنهگاران توبه وکاړي او الله ﷻ دهغو توبه قبلوي تردي چه لمر دمغرب له خوا څخه راونه خيږي(يعني ترقيامته پورې)دترمذي صحيح حديث ده چه الله ﷻ په مغرب کې دتوبې لپاره يوه دروازه جوړه کړي ده چه عرض يې داوياکالو دسفر برابر ده الله ﷻ هغه ترهغه نه بندوي ترڅو چه لمر دمغرب له خوا څخه راونه خيژي لکه دالله ﷻ فرمان چه ده :يوم يأتي بعض ايات ربك لاينفع نفسا ايمانها په کومه ورځ چه ستادرب ځينې نښانې راسي ياد هيچا ايمان هغه ته گټه نه رسوي چه ددي څخه مخکې يې ايمان نه وي راوړي ويل سوي دي چه ددغه روايت اودمخکني روايت دمرفوع والي په اره تصريح نه ده سوي نکه بيهقي چه ددي تصريح کړي ده ددي جواب داده چه داسي خبري دخپل عقل دمخي نه سي کيداي ځکه داحديث دمرفوع په حکم کې ده طبراني په جيد سند سره حديث روايت کړي ده چه دجنت اته دروازي دي اووه دروازي يې بندي دي اويوه دروازه يې دتوبې لپاره خلاصه ده ترهغه وخته پوري چه لمر دمغرب له خوا څخه راونه خيږي ابن ماجه په جيد سند سره حديث نقل کړي ده که ته دومره گناهونه وکې چه گناهونه دي ترآسمانه پوري ورسيږي اوبياتوبه وکړې الله ﷻ ستاسي توبه قبلوي دحاکم صحيح روايت ده چه داخبره دانسان دسعادت مندئ علامه اونښه ده چه دهغه ژوند اوعمر ډير سي اوالله ﷻ دتوبې ايستلو توفيق ورکې دترمذي ابن ماجه، اوحاکم روايت ده چه هرانسان خطا کوو نکې ده اوبهترين خطاکوونکي توبه کوونکي ده. **يوه خطااومعافي يې** :دبخاري اومسلم حديث ده چه يوو سړي گناه وکړه بيايې دالله ﷻ په حضورکې عرض وکړ اي الله!مالويه گناه کړي ده زما داگناه وبخښه الله ﷻ ورته وفرمايل هغه پوهيږي چه دهغه خداي سته چه دگناه په وجه يې نيسي اوگناهونه بخښي ځکه دهغه گناه مي معاف کړه بياهغه څومره چه الله ﷻ غوښتل گناه ونه کړه بيايې دوهمه گناه وکړه اوويې ويل اي الله ﷻ مابله گناه وکړه راته معاف يې که الله ﷻ وفرمايل زما بنده پوهيږي چه دهغه خداي گناهونه معافوي اوعذاب هم ورکوي ځکه الله ﷻ دهغه گناه معاف کړه بياهغه څومره چه الله ﷻ غوښتل گناه يې ونه کړه تردي چه هغه بله گناه وکړه هغه وويل اي الله ﷻ مابياگناه وکړه زمادغه گناهونه راته معاف که الله ﷻ وفرمايل زمابنده پوهيږي چه دهغه خداي گناهونه معافوي اوحساب هم ورڅخه کوي ځکه نوما دهغه گناه معاف کړه الله ﷻ فرمايې چه ماخپل بنده معاف کړ څه چه غواړي هغه دي وکي دمنذري رحمه الله قول ده چه څه وغواړي عمل دي وکي مطلب داده

چه الله ﷻ علیم او خبیر ده هغه ته علم سته چه کله زمانبنده گناه کوي فورًا له گناه څخه بیرته توبه وکي اودلیل یې داده چه له گناه کولو څخه وروسته فورًا توبه کوي کله چه دهغه داطریقه وي چه دگناه له کولو څخه وروسته فورًا دزړه له کومې توبه کوي په دې صورت کې دهغه گناه نقصان نه ورته رسوي یاد دې معنې داده چه هغه خوپه ژبه سره توبه وکي مگر له گناه څخه په زړه کې نفرت ونه کي بیابیا گناه وکي ځکه چه دادد رواغو توبه ده صداقت نسته پکښې دمحدثینو یوې ډلې داصحیح روایت نقل کړي ده چه مؤمن کله کومه گناه وکي دهغه په زړه کې تور داغ پیداکیږي که هغه توبه وکي او له گناه څخه لاس واخلي او له الله ﷻ څخه بخښنه وغواړي دهغه داغ پاکیږي او که هغه مسلسل گناه کوي نو دهغه زړه په تورو داغونو پوتیږي دد ې یادونه دالله ﷻ په کلام قرآن مجید کې داسې سوې ده،

كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ سورة المطففين آية(١٤) .دهغو پرزړو دهغوعملونو زنگونه اچولي دي .**حضرت معاذ ﷺ ته درسول ﷺ نصیحتونه**.طبراني اوبیهقي دحضرت معاذ ﷺ څخه روایت کړي ده چه محمد ﷺ زمالاس ونیوي له لږ تگ کولو وروسته یې وفرمایل اي معاذه! زه تاته دالله ﷻ څخه ډیرې ، دربښتیاخبروکولو، دوعدې پوره کولو، دامانت پوره کولو، دخیانت څخه دپرهیز، په یتیم فخر، دهمسایه حفاظت، پرغصه صبر، نرمي خبرې، دسلام اچولو، دحاکم اطاعت، په قرآن کریم کې دغور اوفکر، دآخرت سره دمینه کولو، دحساب څخه دډیره کولو، دلږامیدونو، اوښوعملو کولو، وصیت کوم مسلمان ته دښکنځل کولو، ددرواغجن سرې دتصدیقولو، دربښتوني سرې دخبره دنه منلو، دحاکم عادل د نافرماني کولو، اوپرمځکه دفتني اوپیداکولو څخه تامنع کوم اي معاذه!دالله ﷻ هرې درختي اوکاڼي ته نژدې دالله ﷻ ذکر وکه او له هرې پټې گناه څخه په پټه او له ښکاره څخه په ښکاره توبه وکاږه .

**دتوبه کوونکي سړي گناه له هرځاي څخه محوه کیږي**،داصبهاني روایت ده چه کله بنده دخپلو گناهونو څخه توبه وکي نوالله ﷻ دهغه محافظه ملائکه دهغه دبدن اعضاء اودمځکي هغه ټوټه چه ده گناه ورباندې کړي ده دهغه بنده گناهونه لیرې کوي تردې چه دقیامت په ورځ دالله ﷻ په حضورکې پیش سي دهغه پرگناهونوهیڅوک شاهدې ورکوونکي نه وي داصبهاني روایت ده چه په خپلو گناهونو باندې پښیماني کونوکي اوشرمیدونکي سړي دالله ﷻ درحمت منظر وي اومتکبر دالله ﷻ دقهراوناراضي په انتظار وي اي دالله ﷻ بندگانو ! چه هر عمل کونکي خپل عمل ویني له دنیاڅخه به لانه وي تللي چه خپل نیک اوبد عملونه به وویني داعمالو دار اومدار دهغه په خاتمه پورې ده

شپه اوورځ ستاسي لپاره سپرلی ده پرهغه سپاره سئ اوآخرت ته سفر وکئ په توبه کي له وروسته والي څخه ځان وساتئ ځکه چه مرګ نابېره راځي له تاسو څخه دي هيڅوک دالله ﷻ دحکم په وجه لټ اوسست نه سي ځکه چه دجهنم اور تاسي ته ستاسي ترڅپلوانو هم نژدې ده بيانبي کريم ﷺ دا آيت شريف ووايه :

﴿فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ﴾ سورة الزلزلة آية (٧،٨) **ژباړه**: څوک چه يوه ذره نيکي کوي هغه به ويني اوڅوک چه يوه ذره بدي کوي هغه به ويني طبراني داحديث نقل کړي ده چه له ګناهونو څخه توبه کوونکي دهغه چاپه شان ده چه هيڅ ګناه يې نه وي کړي بيهقي دغه حديث په بله طريقه سره روايت کړي ده په دي کي دالفظ زيات ده چه له ګناهونو څخه معافي غوښتونکي چه مسلسل ګناه هم کوي داسي ده لکه هغه چه له خپل رب ﷻ سره مسخري اوټوقي کوي دصحيح ابن حبان اوحاکم روايت ده چه په ګناهونو باندي شرميدل توبه ده يعني شرميدل دتوبي داسي مهم رکن ده لکه په حج کي چه پرعرفات دريدل مهم رکن ده دتوبي لپاره داضروري ده چه له ګناهونو څخه په دي نيت توبه وکي چه ګناهونه خراب دي اوالله ﷻ په هغه سره انسان ته عذاب ورکوي دخپل بي عزتي ديري ياديسو ضائع کيدو په وجه نه وي حاکم په صحيح سند سره روايت کړي ده (ليکن په دي يوراوي ساقط ده)چه الله ﷻ ديوبنده ګناه دهغه څخه مخکي ورته بخښي چه په ګناهونو شرم اوپښيماني وکي دمسلم اونورو کتابونو حديث ده چه محمد ﷺ فرمايل په هغه ذات مي قسم چه دهغه په اختيارکي زماروح ده که تاسي ګناه ونه کئ اومغفرت ونه غواړئ الله ﷻ به تاسي نابودکي ستاسي په بدل کي به داسي قوم راولي چه ګناه وکي اوله الله ﷻ څخه مغفرت اوبخښنه وغواړي بياالله ﷻ هغه معاف کي دمسلم حديث ده چه داسي څوک نسته چه دالله ﷻ څخه زيات خپل تعريف خوښوي ځکه الله ﷻ خپل تعريف کړي ده هيڅوک له الله ﷻ څخه زيات غيرتي نه ده ځکه الله ﷻ بد کارونه حرام کړي دي هيڅوک داسي نسته چه له الله ﷻ څخه زيات عذر قبلونکي وي ځکه خوالله ﷻ کتابونه نازل کړي دي اورسولان يې راليږلي دي .

**ديوي زناکاري ښځي توبه**، دمسلم روايت ده چه يوه جهنيه ښځه دزنا څخه بلاربه سوه دمحمد ﷺ په خدمت کي حاضره سوه اوعرض يې وکړ يارسول الله ﷺ زه دحد قابله يم پرماحد جاري که محمد ﷺ دهغي سرپرست اومشراوغوښتي اوورته ويې فرمايل له دي سره ښه سلوک وکه کله چه يې ماشوم پيداسو نودازما خواته راوله هغه سري داسي وکړل محمد ﷺ حکم ورته وکړ چه ددغي ښځي جامي ښه کلکي ولتړئ بيايې دهغي

دسنګارولو حکم وکړ اوبیایې دهغې دجنازې لمونځ وکړ عمرﷺورته وویل یا رسو
الله ﷺتاددغې زناکارې ښځې دجنازې لمونځ ورکړ؟ رسول ﷺورته وفرمایل د
داسې توبه کړې وه چه که دغه توبه دمدینې په اویاکسانوباندې ویشل سوې وای تولو
به پوره سوې وای ایاتا له دې څخه بل څوک افضل لیدلی ده چه خپل ځان دالله ﷻ دحدود
اجراء کولو لپاره حاضرکې؟ ترمذي په حسن سند سره اوابن حبان په صحیح سند سر
دحضرت عمرﷺحدیث نقل کړی ده چه هغه وویل مادنبي ﷺخبرې اوریدلي دي چ
هغه به تریوو وار یادوه واره زیات نه تکرارولي مګر داخبره یې دوه واره تکرار کړ
هغه ﷺبه فرمایل چه په بني اسرائیلوکې دکفل په نامه یوسړی ووهغه به له ګناهونوڅخ
پرهیز نه کاوو یووخت هغه دیوې ښځې خواته ولاړې هغه ښځه یې دشپیته دیناره پ
ورکولو سره ګناه ته اماده کړه کله چه ورنژدې سو پرهغه ښځه لړ زه راغله په ژړا سوه د
ورته وویل ایاته مابنه نه ګڼې؟ هغې ورته وویل خبره داده چه ماداسې ګناه تردې له مخ
هیڅکله هم نه ده کړې اونن دکم ضرورت له وجه مجبوره سوې یم اودې ګناه ته مې غاړ
اینښې ده هغه ورته وویل ربښتیا چه تاپه دې حالت کې کم بدکارنه ده کړې دادینارونه ماتاته
دربخښلي په خداې قسم چه زه به په راتلونکې کې بیاګناه ونه کم بیاهغه په هغه شپه مړسو
سهار دهغه پردروازه لیکلي ووالله ﷻکفل معاف کړ دحضرت ابن مسعودﷺڅخه
صحیح حدیث ثابت سوې ده چه محمد ﷺوفرمایل دوه کلي وو په یوو کلي کې ښه خلک
اوسیدل اوپه بل کلي کې بدخلک اوسیدل دبدانو له کلي څخه یوسړې په سفر دنیکانو
کلي ته روان سو مګر په لاره کې مرګ ورته راغې دهغه نیک سړي په باره کې شیطان
اودرحمت ملائکه خپل په مابین کې په جنګ سول شیطان وویل ده زمانافرماني کله هم نه
ده کړې دې زماده درحمت ملائکو وویل دې خودتوبې په اراده روان وو الله ﷻوفرمایل
تاسې وګورئ چه کم کلي ته نژدې مړسوې ده هغه دبدو خلګو ترکلي دنیکو خلګو وکلي ته
یوه لویشت نژدې وو الله ﷻهغه معاف کړ دمعمر روایت ده چه ماله یوچاڅخه اوریدلي
دي چه الله ﷻدنیکو خلګو کلي هغه ته نژدې کړ .**قاتل دتوبې په اراده سره نجات**
**پیداکړ**.دبخاري اومسلم حدیث ده چه محمد ﷺوفرمایل له تاسوڅخه په
مخکنیو خلګو کې یوسړې وو(۹۹)قتلونه یې کړې وو هغه ددنیا دلوې عالم په اړه پوښتنه
وکړه چیرې ده یوسړې ورته وویل په فلانکې ځاې کې یوراهب ناست ده هغه دراهب خواته
راغې اوورته ویې ویل چه(۹۹)قتلونه مې کړې دې ایازماتوبه قبلیږې ؟ راهب وویل
یا اهغه قاتل دغه راهب هم ووژنې سل قتلونه یې پوره کړل له دې وروسته هغه دبل عالم په

طلب کي سو بيا هغه ته ديو بل لوي عالم پته په لاس ورغله هغه دهغه عالم خواته روان سو
او هغه ته يې وويل چه ما سل قتلونه کړي دي ايا زما لپاره توبه ممکنه ده؟ هغه وويل هو
ستا او ستا دتوبي ترمينځ هيڅوک نه سي حائل کيداي فلانکي ځاي ته ولاړسه هلته
دالله ﷻ نيک خلک اوسيږي ته هم له هغو سره دالله ﷻ عبادت کوه بيرته خپل وطن ته مه
ځه ځکه چه هغه ډير بد ځاي ده هغه له دي ځاي څخه روان سو کله چه نيمايي ځاي ته
ورسيدي هغه ته مرګ راغي مړ سو دده په باب کي درحمت او دعذاب دملائکو دعوه سوه
درحمت ملائکو وويل دي دتوبي په اراده سره دالله ﷻ درحمت دترلاسه کولو لپاره روان
وو دعذاب ملائکو وويل ده کله هم نيکي نه ده کړي بيا هغوته دانسان په شکل يوه ملائکه
راغله اوورته ويې ويل مځکه لويشت کئ کم طرف ته چه نژدي وو دهغه طرف له خلکو
حسابيږي کله چه هغو مځکه لويشت کړه نودنيکانو خواته نژدي وو په هغو خلکو کي
حساب سو درحمت ملائکو دهغه روح يووړ بل روايت ده چه الله ﷻ دبدانو کلي ته وحي
وکړه چه له دي سړي څخه ليري سه دنيکانو خلکو وکلي ته يې دنژدي کيدو امر وکړ هغه
يې معاف کړ دقتاده ﷺ قول ده چه حسن ﷺ مونږ ته داوويل چه کله عزرائيل ﷺ د هغه
دروح اخستو لپاره راغي هغه خپله سينه دنيکئ پرطرف کړي وه طبراني په جيد سند سره
دارروايت نقل کړي ده چه يوسړي دير زيات ګناهونه وکړل يوسړي ته راغي اوورته ويې
ويل ما(۹۹) کسان وژلي دي ايا ته زما لپاره دتوبي لاروينې؟ هغه سړي ورته وويل يا زه
خوبې نه وينم ده هغه سړي هم قتل کړ بيا بل سړي ته ورغي اوورته ويې ويل ما(۱۰۰) بې
ګناه کسان وژلي دي ايا زما لپاره دتوبي لارسته؟ هغه په جواب کي ورته وويل که زه داسي
ووايم چه الله ﷻ دتوبه قبلوونکي توبه نه قبلوي دابالکل درواغ دي په فلاني ځاي کي يوه
عبادت کوونکي ډله اوسيږي ته هم هلته ولاړسه له هغو سره عبادت کوه هغه هلته روان سو
مګر په لاره کي مړسو دعذاب او رحمت ملائکي دواړي په جنګ اخته سوي الله ﷻ هغوته
ملائکه رالېږله هغي ورته وويل تاسي ددواړو ځايونو فاصله له ده سره معلومه کئ چه
کم يوو ته نژدي ده له هغه ځاي څخه به حسابيږي کله چه مځکه اندازه سوه هغه ديوو ميږي
په اندازه دعبادت کوونکو وځاي ته نژدي وو ځکه هغه معاف سو دطبراني په روايت کي
دي چه بيا راهب ته ولاړي اوورته ويې ويل ما سل قتلونه کړي دي ايا زما لپاره دتوبي لاره
سته؟ راهب ورته وويل تا پرخپل ځان ډير لوي ظلم کړي ده زه نه پوهيږم ليکن ها خواته
نژدي دوه کلي دي يوانصره نوميږي او بل ته کفره ويل کيږي دنصري اوسيدونکي هميشه
دالله ﷻ عبادت کوي په دي کلي کي هيڅ ګنهګار نه سي اوسيدلي دکفري اوسيدونکي

همیشه ګناهونه کوي هلته له ګنهګارانو بغیر بل څوک نه اوسیږي ته نصره نومي ځاي ته
ولاړسه که هلته په ثبات او استقامت سره وا وسیدي او دالله ﷻ عبادت او نیک عملو
وکي ستا توبه به له څه شک کولو څخه بغیر قبوله سي هغه دنصري په طرف روان سو کله چ
ددواړو منځ ته ورسیدي مړ سو ملائکو ددغه سړي په باره کي پوښتنه وکړه الله ﷻ ورته
وفرمایل وګورئ کم کلي ته نژدي ده کم کلي ته چه نژدي وي په هغو خلګو کي یې حساب
کئ ملائکو دیوو میږي په اندازه دنیکانو دکلي خواته نژدي پیدا کړ نو ځکه یې دنصري له
خلګو سره ولیکي.

**څلورپنځوستم باب دظلم دممانعت بیان**: الهي فرمان ده چه:

وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ سورة الشعراء آیة (٢٢٧) ډیرژر به ظالمان پوه سي چه دکم ګرځید
ځاي ته ګرځول کیږي نبوي ارشاد ده چه ظلم به دقیامت په ورځ تیاره وي محمد ﷺ فرمایلي دي
کم سړي چه یوه لویشت مځکه په ظلم سره ترلاسه کي الله ﷻ دهغه په غاړه کي داوو مځکو
طوقونه اچوي په ځینو کتابونو کي لیکل سوي دي چه الله ﷻ فرمایلي دي پر کم مظلوم سړي چ
ظلم وسي پر هغه زما غضب نه کیږي یو شاعر څو مره ښه ویلي دي:

لاتظلمن اذا ما كنت مقتدرا ..... فالظلم يرجع عقباه الي الندم

تنام عيناك والمظلوم منتبه ..... يدعو عليك وعين الله لم تنم

**ژباړه**: کله چه داقتدار خاوند سي نو پر هیچا ظلم مه کوه ځکه دظلم انجام شرمندګي ده
ستا سترګي به بیده کیږي لیکن دمظلوم سترګي همیشه ویښي دي او ستا لپاره له الله ﷻ
څخه بد دعا غواړي الله ﷻ هیڅکله نه بیدیږي یو بل شاعر وایي:

اذا ما الظلوم استوطا الارض مركبا ..... ولج غلوا في قبيح اكتسابه

فكله الي صرف الزمان فانه ..... سيبدي له مالم يكن في حسابه

**ژباړه**: کله چه مظلوم پر مځکه ولاړسي او ظالم په خپل بد عملي کي له حد څخه تیري وکي
نو دهغه مصائب زماني ته وسپاره ځکه چه زمانه هغه ته سبق ورکوي چه دهغه په وهم
او ګمان کي هم نه وي په اسلافو کي دځینو قول ده چه پر کمزورو خلګو ظلم مه کوه ځکه
نو ستا طاقت به بالکل ختم سي روایت ده چه دپل صراط له بل طرف څخه یو منادي اواز
کوي چه اي سرکښه ظالمانو اي بدبختو ظالمانو ایشکه الله ﷻ د خپل عزت قسم یاد
کړي ده چه نن دظالم ظلم تر پل صراط نسي تیریداي یعني ظالم تر پل صراط نسي تیریداي
له حضرت جابر ﷜ څخه روایت ده چه کله دحبشي مهاجرین دمحمد ﷺ په خدمت کي
بیا حاضر سول هغه ﷺ ورته وفرمایل که تاسي په حبشه کي څه حیرانوونکي او عجیبه

خبره اوريدلي وي ماته يې ووا ياست حضرت قتيبة ؓ چه دمهاجرينو له ډلي څخه وو هغه وويل يارسول الله ﷺ ماته غوږ سه زه يې درته وايم يوه ورځ موږ ناست وو ګورو چه يوه بوډۍ حبشي ښځه را روانه ده داوبو لوښي يې پرسر ايښي وو کله چه تريو ځوان هلک تيره سوه هغه ددي بوډۍ ددواړو اوږو ترمينځ لاسونه کېښېښوول پري يې وهله بوډۍ پرمخي زغاره سوه منګي يې مات سو هغه راولاړه سوه او ځوان ته يې وويل اي غداره ته به ډير ژر پوه سي چه کله الله ﷻ عدالت قائم کي مخکني اوروستني خلک به ټول راجمع کي پښي اولاسونه دانسان پرګناه باندي شاهدي ورکوي د الله ﷻ فيصله به سباته ويني چه زمااوستا ترمنځ يې کوي راوي وايې چه نبي کريم ﷺ دغي خبري په اوريدو سره وويل الله ﷻ به داسي قوم ته څنګه نجات اوکاميابي ورکي چه د ظالمانو له ظلم څخه مظلوم ته نجات ورکوي له هغه څخه دمظلوم انتقام نه اخلي له محمد ﷺ څخه روايت سوي ده چه هغه ﷺ وفرمايل پنځه کسان داسي دي چه الله ﷻ غضبورباندي کوي که الله ﷻ وغواړي په دنياکي خپل غضب پرنازلوي اوکه وغواړي په آخرت کي يې جهنم ته داخلوي هغه حاکم چه په خپله له خلګو څخه حقوق اخلي اماهغوته خپل حقوق نه ورکوي اودهغو څخه ظلم نه دفع کوي دقوم مشر چه خلک يې متابعت کوي مګر هغه دظالم اومظلوم ترمينځ فيصله نه کوي اودنفساني خواهشاتو په مطابق خبري کوي دکور قائد اومشر چه دخپل کورنۍ کسانو ته دالله ﷻ داطاعت حکم نه کوي اوديني امورنه ورباندي زده کوي داسي سړي چه په مزدوری بل سړي راولي خودکار کولو څخه وروسته دهغه مزدوري پوره نه ورکوي اوهغه سړي چه دخپلي ښځي مهر په زوره لاندي کوي ظلم ورباندي کوي.

**په يوي بوډۍ ښځي دظلم په وجه هلاکت:** دحضرت عبدالله بن سلام ؓ څخه روايت ده چه هغه ﷺ وفرمايل کله چه الله ﷻ مخلوق پيداکړ اوهغه ودريدي نودالله ﷻ په طرف يې سترګي پورته کړي اوهغه ﷻ يې وليدي اوويې ويل اي الله ﷻ ته به له چاسره يې ؟ الله ﷻ په جواب کي ورته وويل دمظلوم سره ترهغه چه حق مي نه وي ورکړي وهب بن منبه ؒ وايې چه يوظالم باچابنايسته محل جوړکړي وو يوه ناداره بوډۍ راغله اوددي محل وخنګ ته يې يوه جونګړه جوړه کړه چه شپي اوورځي يې پکښي تيرولي يووخت باچا دخپل ځاي په شاوخواکي ګرځيدي جونګړه يې وليده پوښتنه يې وکړه داد چاجونګړه ده؟ په جواب کي ورته وويل سوه چه داديوي غريبي بوډۍ ښځي جونګړه ده باچاحکم وکړ چه دادي وغورځول سي خلګو هغه وغورځوله بوډۍ چه راغله اوخپله جونګړه يې ويجاړه وليده پوښتنه يې وکړه داچا ورانه کړه؟ خلګو ورته وويل باچابوډۍ چه داخبره واوريده

سرېې آسمان ته پورته کړ او وېې ويل اې الله ﷻ که زه دلته نه وم نوته خو حاضروې ک
الله ﷻ جبرائيل ؑ ته حکم وکړچه دباچا محل وغورځوئ جبرائيل ؑ راغې ه
دباچاښايسته محل يې له بيخه وغورځاوو روايت ده چه کله دبرمکي اميراودهغه زو
عباسي اميرالمؤمنين بندي سونوزوي خپل پلارته وويل اې پلار جانه! موږ يې دعز
باوجود قيديان کړي يو پلار يې ورته وويل زويه دمظلومانو فريادونه دشپې سفر کړ
موږ له مظلومانو څخه غافله وو خوالله ﷻ نه وځني غافله يزيد بن حکم به ويل چه زه ک
هم له چاڅخه نه وم بيريدلي البته يوو سړي زه وبيرولم هغه داسي چه پرماهغه ددي خبر
باوجود ظلم وکړ چه دهغه له الله ﷻ څخه پرته بل څوک مددګار نه ده هغه به ماته ويل
الله ﷻ دهرچالپاره بس ده الله ﷻ به زمااوستاترمينځ فيصله کوي له حضرت ابوامامه ؓ
څخه روايت ده چه ظالم به دقيامت په ورځ حاضرسي کله چه هغه له پل صراط څخه تېرې
مخ ته يې مظلوم راځي هغه خپل ظالم بنه پيژني نوځکه دلته ظالم له مظلوم څخه ځان نه س
خلاصولاي ترهغه وخته چه دظلم په بدل کې خپله نيکي ورنه کي که نيکي نه وي ورس
نوددغه ظلم پربرابرخپل ګناهونه ظالم ته ورکوي تردي چه کافر دجهنم په لاندي حصه کې
وغورځول سي له حضرت عبدالله بن انيس ؓ څخه روايت ده چه مادنبي کريم ﷺ څخه
اوريدلي دي چه دقيامت په ورځ ټول خلک له سرڅخه ترپښو پوري لڅ لغړ بي ستنه اوتک
تور له قبر څخه راپاڅيږي يواواز کوونکي به اواز کوي دااواز به ټول خلک يورکم اوري ز
بدله ورکوونکي مالک يم دهيڅ يو جنتي لپاره مناسب نه ده چه جنت ته ولاړسي ترڅو چ
دجهنم قرض پرپاته وي اګر که ديوو غوماشي اندازه وي اوياترهغه زيات اوکم جهنمي
دي ترهغه جهنم ته نه ځي ترڅو پوري چه يې دمظلوم حق نه وي ورکړي اګرکه هغه
ديووغوماشي اندازه وي اوياتر هغه زيات ستاسي رب ﷻ پرهيچا ظلم نه کوي موږ عرض
وکړ يارسول الله ﷺ دابه څنګه کيږي حال داچه موږ په هغه ورځ لڅ لغړ بدن يو؟
رسول ﷺ فرمايل چه دنيکي اوبدي بدله به برابر ورکول کيږي اوپرهيچاباندي به ظلم نه
کيږي دنبي کريم ﷺ څخه روايت ده چه کم سړي په حقه سره يوڅوک په چلاخه ووهي
دقيامت په ورځ له هغه څخه ددي بدله اخستله کيږي. **قصه** ادايوه قصه ده چه کسري دخپل
زوي لپاره يواستاد مقرر کړي وو تعليم اوادب يې ورښوول کله چه هغه هلک دعلم او
فضل خاوند سو استاد هغه راوغوښتي دڅه جرم اوګناه بغير يې ډير سخت او دردونکي
عذاب ورکړ هلک دخپل استاد دغه عمل ډير بد وګڼي په زړه کې يې کين ورسره پيداسو
چه بنه ځوان سوپلار يې مړسو اودخپل پلار پرځاې باچا سود باچهي پرتخت له کښيناستو

سره سره يې استاد راوغوښتي پوښتنه يې ځني وکړه چه تاپه فلانکئ ورځ په کم جرم اوګناه سره زه ووهلم؟استاد ورته وويل کله چه ته عالم اوفاضل سوي نوماته معلومه سوه چه له پلاره وروسته به ته پرباچهي کښيني ماوغوښتل چه زه ستا دسزا خوند واخلم اود ظلم له تکليف سره دي اشناکرم تردي چه له دي وروسته بياپرباچاظلم ونه کي باچا ورته وويل الله ﷻ دي تاته اجر درکي بيايې يوکار ورته حواله کړ اودهغه دضرور ياتو ددفع کولو حکم يې ورته وکړ.

## پنځه پنځوستم باب پر يتيمانو دظلم ممانعت

الهي فرمان ده: إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا سورة النساء آية(١٠) **ژباړه**: بېشکه کم خلک چه په ناحقه سره ديتيمانو مال خوري خبره داده بله نه ده چه هغه په خپلو ګېډوکي اور اچوي اوډير ژربه جهنم ته ولاړسي دحضرت قتادة رضي الله عنه قول ده چه داآيت دبني غطفان ديوشخص په حق کي نازل سوي ده هغه دخپل کوچني وراره سرپرست سودهغه ټول مال يې وخوړي دناحق اوظلم څخه دامراددي چه هغه په داسي کولو سره په حقيقت کي پريتيمانوظلم کوي په دي وعيد کي هغه خلک نه دي شامل چه دفقهي په کتابونوکي دليکل سووشرائطومطابق دهغه په مال کي تصرف وکي اوويې خوري الهي فرمان ده:

وَمَن كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ وَمَن كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ سورة النساء آية(٦). **ژباړه**: څوک چه مالدار وي هغه دي خپل ځان ديتيمانو له مال څخه وساتي څوک چه غريب وي هغه دي په انصاف سره ځني وخوري يعني دخپل ضرورت مطابق دي ځني واخلي يادقرض په توګه يادمزدورۍ په توګه اويادير زيات تنګدست وي کله چه يې حالت ښه سي اولاس يې فراخ سي نوديتيم مال دي واپس کي اوکه يې څه نه کړه پيدابيا ورته حلال دي الله ﷻ ديتيمانو دحق په باره کي تاکيد کړي ده لکه داآيت شريف چه ده: وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَافًا خَافُوا عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا اللَّهَ وَلْيَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا سورة النساء آية(٩). **ژباړه**: هغه خلک دي له دي خبري څخه وبيرېږي که هغه په ځان پسي بې قدرته کوچني پرېږدي هغه دي برهغه وبيرېږي په کارده چه له الله ﷻ څخه بيره وکي او محکمه خبره وکي دداي آيت مطلب داده چه دکم سړي ترلاس لاندي کم يتيم پاته سي له هغه سره دي ښه سلوک کوي تردي چه ته هغه ته خپل زوي ووايې اودزوي په اواز کولو سره هغه راوغواړي له هغه سره داسي ښيګڼه اوښه سلوک وکه مال يې داسي خرڅ که څنګه چه له مرګ څخه وروسته له خپل

اولاد سره دښه سلوک او انصاف هیله کوي ځکه چه د قیامت دورځي مالک الله ﷻ هرچاته دهغه دعمل په مطابق اجر او عذاب ورکوي ډیر وخت داسي کیږي چه انسان دڅه خوف اوبیري څخه دبل چا او دخپل اولاد په مال کي بي دریغه تصرف کوي ناڅاپه مرګ ورته راسي الله ﷻ د هغه اولاد او مال او خاندان ته داسي سزا ورکوي څنګه چه ده له نورو سره داسي سلوک کړي وو که ښه سلوک یې کړي وو نو ښه سزا ورکول کیږي او که یې بدسلوک کړي وو نو بده سزا ورکوي ځکه هرعقلمند سړي ته په کارده چه له ډیر احتیاط اوپرهیزګاري څخه کار واخلي الله ﷻ حضرت داؤد ﷺ ته وحي ولیږله چه اي داؤده! دیتیم لپاره دمهربان پلار په رکم اوداوسه دي لپاره دمهربان خاوند په رکم سه په دي خبره ځان پوه که چه څه کري هغه به ریبي اخر یوه ورځ به ته هم مرکیږي ستاماشومان او ښځي درڅخه پاتیږي دیتیمانو دمال اوپرهغو دظلم په حق کي ګڼ احادیث روایت سوي دي په مسلم اونورو داحادیثو په کتابو کي راغلي دي چه محمد ﷺ وفرمایل اي ابو ذره تازه کمزوري ګڼم زه ستالپاره هغه څه خوښوم چه دخپل ځان لپاره یې خوښوم کله هم پردوو کسانو حکمران نه سي اودیتیم مال دخپل ځان لپاره غوره ونه ګڼي بخاري مسلم اونورو کتابو کي روایت ده چه محمد ﷺ فرمایل له اوو مهلکو شیانوڅخه خپل ځانونه وساتئ اصحابو ﷺ عرض وکړیا رسول الله ﷺ هغه کم شیان دي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل له الله ﷻ سره شریک نیول ،جادو، په ناحقه دچا وژل، سود خوړل، اودیتیم مال خوړل، حاکم په صحیح سند سره روایت کړي ده چه محمد ﷺ وفرمایل څلورکسان داسي دي چه دهغو په اړه به دالله ﷻ عدل وي چه هغه به نه په جنت کي داخلیږي اونه دجنت په نعمتوکي شرابي، سودخوړونکي، په ناحقه دیتیمانومال خوړونکي، دمور او پلار نافرمانه اولاد، دصحیح ابن حبان روایت ده چه محمد ﷺ چه دحضرت عمرو بن حزم په ذریعه دیمن خلګوته کم احکام ولیږل په هغو کي داخبري هم وي چه دقیامت په ورځ دالله ﷻ په نزد دټولو څخه لویه ګناه دالله ﷻ سره شریک نیول په ناحقه دمؤمن وژل دجنګ په وخت کي دجهاد له میدان څخه تښتیدل دمور اوپلار نافرماني، په پاک لمني ښځي تهمت لګول، جادو وربښول، سودخوړل، اودیتیم مال خوړل دي.

**په ناحقه دیتیمانو مال خوړل اودهغه بدله**: دابو یعلي ﷺ روایت ده چه دقیامت په ورځ له قبروڅخه یوداسي قوم راپورته کیږي چه له خولوڅخه به یې داور لمبي وزي عرض وسو یارسول الله ﷺ داخلګ به څوک وي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل ایاتاسي دالله ﷻ دافرمان نه ده اوریدلي، إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ

تا (سورة النساء آية١٠) **ژباړه**: بیشکه کم خلک چه په ظلم سره دیتیمانو مالونه خوري خبره داده چه هغه په خپله ګیډه کي اور اچوي دمسلم شریف روایت ده چه دمعراج په حدیث کي دي چه زه دیو داسي سړي خواته ورغلم چه څه خلک ورباندي مقرر وو دهغه زیره به یې شکوله یو څه خلکو دجهنم کاڼي راوړل دهغه په خوله کي یې اچول دشاله خوا بیرته ځني وتل ماپوښتنه وکړه اي جبرائیل علیه السلام داڅوک دي هغه راته وویل داهغه څوک ده چه دیتیمانو مال به یې په ناحقه سره خواړي اوپه خپله ګیډه کي یې اور اچولي ده دده لپاره داعذاب ده په قرطبي کي دابو سعیدالخدري رضي الله عنه څخه روایت ده چه نبي کریم ﷺ وفرمایل مادمعراج په شپه یوداسي قوم ولیدي چه شونډي یې داوښانو دشونډو په رکم وي پرهغوخلګ مقررسوي وو په خوله کي یې ددوږخ کاڼي وراچولي وو نه لاندي طرف څخه به بیرته ځني وتل ماپوښتنه وکړه اي جبرائیل علیه السلام داڅوک دي؟ جبرائیل علیه السلام راته وویل داهغه خلګ دي چه په ناحقه یې دیتیمانو مال خوړلي وي.

## شپږ پنځوستم باب دکبر مذمت

دکبر مذمت اودهغه دبد انجام په اړه چه له دي څخه مخکي لږ څه لیکل سوي دي پرهغه اوس لږ څه زیات والي کوو تکبر هغه اوله ګناه ده چه ابلیس وکړه بیاالله جل جلاله پرهغه لعنت وکړهغه یې له جنت څخه وایستي اودجهنم په عذاب کي یې واچاوو په حدیث قدسي کي دي چه الله جل جلاله فرمایلي دي چه تکبر زماڅادراولویې زماپرتوګ ده کوم سړي چه په دغه دواړو کي له ماسره جګړه کوي زه دهغه غاښونه ماتوم زه دچاپروا نه کوم په حدیث کي راغلي دي چه متکبر انسان له قبر څخه دمیږیانو په رکم پاڅول کیږي دهرطرف څخه به پرهغه ذلت اورسوایې وي اوهغوته ددوژخیانوزوي دچڼاک لپاره ورکول کیږي محمد ﷺ فرمایلي دي دري اشخاص داسي دي چه الله جل جلاله دقیامت په ورځ له هغه سره خبري نه کوي اودرحمت په نظر نه ورته ګوري دهغو لپاره دردونکي عذاب ده ،(۱)زاني بودا ،(۲)ظالم باچا ،(۳) سرکښه متکبرله حضرت عمر رضي الله عنه څخه روایت ده چه هغه داآیت ووایه ،

وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللَّهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ سورة البقرة آية(۲۰۶) کله چه هغوته ویل کیږي چه له الله جل جلاله څخه وبیریږئ هغه عزت په ګناه سره ونیوي بیایې وفرمایل بیشکه موږ د الله جل جلاله یواوبیشکه موږ دالله جل جلاله په طرف ورتلونکي یویومتکبر سړي یوسړي چه دنیکي اودښو خبرو تبلیغ یې کاوه قتل یې کړ بل سړي ورته وویل ته داسي خلګ وژني چه خلګو ته دنیکي حکم کوي متکبر سړي هغه هم وواژنه دحضرت ابن مسعود رضي الله عنه قول ده چه

دانسان لپاره هم دومره ګناه بس ده چه څوک له الله ﷻ څخه دبیریدو ورته ووایې نوپه جواب کې ورته وایې چه دخپل ځان خیال وساته محمد ﷺیوو سړي ته وویل په راسته لاس سره خوراک کوه هغه وویل زه په راسته لاس سره دخوراک طاقت نلرم محمد ﷺورته وفرمایل ته طاقت نلري هغه په راسته لاس دخوراک کولو څخه دهغه کبر منع کړي وو راوي وایې چه له دي وروسته دهغه لاس دهمیشه لپاره شل سو له کاره ولویدي یعني محمد ﷺچه دهغه په هکله وینا کړي وه هغه پوره سوه روایت ده چه حضرت ثابت بن قیس بن شماس رضی الله عنه عرض وکړ اي دالله ﷻ رسوله!زه داسي سړي یم چه ښه لباس اوصفا ستره اوسیدل خوښوم ایادا په تکبر کي راځي؟ رسول ﷺورته وفرمایل یا داتکبر نه ده بلکه تکبر له حق څخه دسترګو پټولو اودخلګو حقیر ګڼلوته ویل کیږي حال داچه هغه دالله ﷻ بندګان دي دوهب بن منبه رحمه الله قول ده چه کله حضرت موسي علیه السلام فرعون ته وویل ایمان راوړه ستاباچهي به له تاسره پاته سي فرعون وویل زه به له هامان سره مشوره وکم کله چه یې له هامان سره مشوره وکړه هغه ورته وویل تراوسه خو ته رب پاته سوي یې خلک ستاعبادت کوي اواوس ته په خپله عبادت کوونکي بنده جوړیږي؟ فرعون دهغه مشوره واوریده دتکبر له کبله یې دالله ﷻ دبندګي او د موسي علیه السلام دبیري انکار وکړ بیاالله ﷻ هغه غرق کړ الله ﷻ دقریشو په باره کي فرمایلي دي چه کله هغو ته داسلام دعوت ورکړسو نو هغو وویل :

وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ هَذَا الْقُرْآنُ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ سورة الزحرف آية(۳۱). **ژباړه**: داقرآن کریم ددغه دواړو کلیو چه هغه مکله اوطائف دي په لویو خلګو ولي نازل نه سو دقتادة رحمه الله قول ده چه ددوو کلیو دلویو خلګو څخه مراد ولید بن مغیرة اوابو مسعود ثقفي وودمکي قریشو ځکه دهغو یادونه وکړه چه هغه په ظاهري مال اودولت کي دنبي کریم ﷺ څخه مخته وو هغو وویل محمد ﷺخو یتیم انسان ده الله ﷻ هغه ځنکه زموږ لپاره راالیږلي ده الله ﷻ وفرمایل؛ أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ سورة الزحرف آية(۳۲). **ژباړه**، ایا هغه ستاسي درب ﷻ رحمت تقسیموي بیاالله ﷻ په جهنم کي ددا خلیدو په وخت دهغو دتعجب خبر ورکړي ده کله چه هغه داهل صفې خلک چه حقیر یې ګڼل په دوږخ کي ونه ویني نووبه وایې؛ مَا لَنَا لَا نَرَى رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُمْ مِنَ الْأَشْرَارِ سورة ص آية(۶۲). **ژباړه**: په موږ څه سوي دي چه موږ هغه خلک نه وینو چه په شریانو کي مو حسابول روایت ده چه له اشرارو څخه دهغو مراد حضرت عمار، بلال، صهیب، اومقداد رضی الله عنهم دي دحضرت

وهب ؓ قول ده چه علم له آسمان څخه داوریدونکي صفاستهره خوږ باران په رکم دي چه بوټي دخپلو ریښوپه ذریعه دباران داوبو په چښلو سره خپل خوند بدلوي همداسي خلک خپل علم په خپلو همتونواوخواهشونو په مطابق ترلاسه کوي په دي سره دمتکبر کبر اودمتواضع عاجزي زیاتیږي دآځکه چه دکم جاهل هدف اومقصد تکبروي نوکله چه هغه علم حاصل کي هغه ته داسي شي په لاس ورسي چه دهغه په وجه نورهم کبر کوي کبر يې ورځ په ورځ زیاتیږي کله چه کم سړي دبي عملي باوجود دالله ﷻ څخه ییره کوي کله چه علم حاصل کي نوهغه ته معلومیږي چه دهغه لپاره دالله ﷻ دبیري په باره کي مکمل دلائل راوړل سوي دي نوځکه دهغه په بیره اوتواضع کي نورهم زیاتوالي راځي له حضرت عباس ؓ څخه روایت ده چه محمد ﷺ وفرمایل یوقوم به وي چه قرآن کریم تلاوت کوي مګرهغه به ددوي دستوني ترهډوکي نه تیریږي هغه به وايې چه موږ قرآن ویلي دي ترموږ زیات بـه عالم اوقاري څوک ده؟بیارسول ﷺ اصحابو ؓ طرف ته وکتل اوويې فرمایل اي زمامته !دوي به ستاسي له ډلي څخه وي اودجهنم خاشاک به وي دحضرت عمر ؓ قول ده چه متکبر عالمان مه جوړیږئ ستاسي جهل باید ستاسي پرعلم له مخه نه سي .**قصه**:په بني اسرائیلو کي یوسړي وو چه دهغه دزیاتو ګناهونو له وجه ورته دبني اسرائیلو خلیع ویل کیدي(یعني په خپلو ګناهونوسره دبني اسرائیلو عاجزه کوونکي)یووخت هغه تریوداسي سړي تیرسو چه دبني اسرائیلو عابد وو دهغه پرسر وریځي سایه کړي وه کله چه هغه ګناهګارعابد ولیدي په زړه کي يې داخبره راغله چه زه دبني اسرائیلو بدترین انسان یم اودي دبني اسرائیلو لوي عابد ده که زه له هغه سره کښینم شایدالله ﷻ پرمارحم وکي هغه له عابد سره کښیناستي دعابد په زړه کي ورو ګرځیدو چه زه دبني اسرائیلو عابد یم اودي داسرائیلو بدبخت ترین سړي ده دي څنګه له ماسره یوځاي کښیناستلاي سي؟ هغه ته شرم ښکاره سو هغه ته يې وویل چه له دي ځایه څخه لیري سه په دی وخت کي الله ﷻ دبني اسرائیلو دهغه وخت نبي ته وحي ولیږله چه دوي دواړو ته له نوي سر څخه دعبادت کولو حکم ورکي ځکه چه مابدبخت بخښلي ده اودعابد اعمال مي بربادکړي دي په دوهم روایت کي دي چه دوریځوټوټه دعابددسر څخه ولاړه دبدبخت سړي پرسر باندي ودریده له دي قصي څخه داخبره رامعلومیږي چه الله ﷻ دبندګانو زړو ته ګوري روایت ده چه دمحمد ﷺ په خدمت کي دیوو سړي یادونه په دې الفاظو ... هغه سړی ترستر ګو سو نو اصحاب ؓ عرض وکړیارسول

وفرمايل ماته دهغه پرمخ د شيطان اثر ښکاره کيږي هغه سړي راغي اوسلام يې واچاو دمحمد ﷺ په حضور کي کېښېـنـاستي محمد ﷺ هغه ته وفرمايل زه تاته دالله ﷻ قسم درکوم اياستانفس کله تاته داويلي دي چه له تاڅخه بغير بل څوک نشته ؟ هغه وويل هو په الله ﷻ قسم داسي زما په زړه کي تيرسوي دي محمد ﷺ نبوت په نور سره دهغه پرمخ دشيطان اثر ليدلي وو . **داصحابو ﷺ ارشادات**: دحضرت حارث بن الحزا الزبيدي صحابي ﷺ ارشادده چه ماهرهغه خنداکوونکي قاري په تعجب کي اچوي چه ته خوپه پراخ تندي خبري ورسره کوي ليکن هغه په کبر سره درته ګوري اوپرتا دخپل علم احسان اچوي الله ﷻ دي په مسلمانانو کي داسي قاريان ختم کي له حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت ده چه ماد محمد ﷺ په موجودګي کي له يوسړي سره تندي خبري وکړي هغه ته مي وويل اي دحبشي زويه!محمد ﷺ زماداخبره واوريده اوراته ويې فرمايل: اي ابوذره!صاع تشه که! صاع تشه که! هيڅ سپين پوستي ته پرتور پوستي فضيلت نشته حضرت ابوذر ﷺ وايي چه د محمد ﷺ دغه خبرو په اوريدو سره زه پرمځکه زغوارسوم اوهغه سړي ته مي وويل راولاړ سه زماپرمخ پښه کښيږده دعلي کرم الله وجهه فرمان ده چه کم سړي غواړي چه جهنمي ووينې هغه دي داسي سړي ته وګوري چه په خپله ناست وي مګر نور خلک دهغه په مخکي ولاړوي دحضرت انس ﷺ فرمان ده چه اصحاب کرام ﷺ ته دمحمد ﷺ څخه بل هيڅوک محبوب نه وو کله چه به هغوي محمد ﷺ وليدي نو ودريدل به اونه پوهيدل چه محمد ﷺ ريدل نه خوښوي کله چه به محمد ﷺ له اصحابو ﷺ سره يوځاي په سفر تلي هغوته به يې دمخکي کيدو حکم کاوه په خپله به دهغو په منځ کي روانيدي داکار يې ددي لپاره کاوو چه نوروته معلومه سي اوددي څخه درس واخلي ياپې ددي لپاره کاوه چه له خپل منور زړه څخه دتکبر شيطاني وسوسي راوباسي لکه په لمانځه کي چه به يې دنوو جامو پرځاي زړي جامي اغوستي په دي کي هم دغه حکمت وو .

## اووه پنځوستم باب دخاکساري،اودصبر بيان

دنبي کريم ﷺ فرمان ده چه الله ﷻ دعفوي اوګذشت په ذريعه دبنده عزت زياتوي څوک چه دالله ﷻ درضا په خاطرعاجزي کوي الله ﷻ هغه پورته کوي نبوي فرمان ده چه له سړي سره دوي ملائکي ملګري وي اوپرانسان باندي دفهم اوفراست رڼاوي دهغه له وجه ملائکي ورسره اوسيږي کله چه انسان تکبر کوي له هغه څخه حکمت اخلي اووايي چه اي الله ﷻ دغه سړي ناکام اوسرنګون که که هغه تواضع اوعاجزي کوي نووايي چه اي

الله ﷻ ده ته کامیابي او سرلوړي ورکه محمد ﷺ فرمایلي دي چه دهر هغه چاپاره زیری ده چه په قوت کي عاجزي او تواضع وکي خپل یې په ښه طریقه استعمال کړیه تنګدستو او مفلیسو خلکو یې مهرباني وکړه له علماوو سره یې ناسته ولاړه وکړه روایت ده چه محمد ﷺ د اصحابو کرامو ﷺ دیوي ډلي سره په کورکي ډوډی خوړله په دي وخت کي دروازي ته یو سوالګر راغي هغه په یوداسي ناروغی کي اخته وو چه خلکو به نفرت ځني کاوو محمد ﷺ هغه ته ددننه راتلو اجازه ورکړه هغه چه دننه راغي محمد ﷺ هغه په خپله غیږ کي کښیناوه او ورته ویې ویل چه ډوډی وخوره دقریشو یوو سردار له داکار ځخه بدیز ورو وروسته څه وخت بعد هغه قریشي ځوان هم په هغه ناروغي اخته او مړسو نبوي فرمان ده چه الله ﷻ ماته ددوو خبرو اختیار راکړي ده یو داچه زه رسول بنده، یانبي ملکه، سم زه نه پوهیدم چه کمه خبره ښونه کم جبرائیل امین زما دوست وو ماهغه ته وکتل هغه راته وویل دالله ﷻ په حضورکي تواضع غوره که ماعرض وکړ یا الله ﷻ زه رسول بنده جوړیدل خوښوم الله ﷻ حضرت موسي ﷺ ته وحي ولیږله چه زه دداسي شخص لمونځ قبلوم چه زما دعظمت په مخکي انکساري او عاجزي کوي زما پر مخلوق کبرنه کوي او زړه یې له ما ځخه بیریږي نبوي فرمان ده چه کرم دتقوي، عزت دتواضع، او یقین دبي نیازي نوم ده دحضرت عیسي ﷺ امر ده چه په دنیاکي د تواضع کوونکي لپاره زیري ده هغه به دقیامت په ورځ دنور پرمنبر ناست وي په خلکو داصلاح کوونکي لپاره زیري ده داهغه خلګ دي چه دقیامت په ورځ به دجنت الفردوس وارثان وي په دنیاکي دخپلو زړونو پاکونکو لپاره دي زیري وي داهغه خلګ دي چه دقیامت په ورځ به په الهي دیدار مشرف سي له ځینو محدثینو کرامو ځخه روایت ده چه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چه کله الله ﷻ بنده ته داسلام هدایت وکړ هغه ته یې ښه شکل ورکړي او هغه یې له بدو شیانو ځخه لیري وساتي له دي تولو پیرزوینو سره یې خاکسار او عاجزي کوونکي وګرځاوه له دی ځخه ثابته سوه چه دالله ﷻ خاکساري دیره خوښه ده اودالله ﷻ دخوښي نښه ده الله ﷻ خپل خوښ بنده ته څلور شیان ورکوي نبوي ارشادده چه څلور شیان داسي دي چه الله ﷻ هغه خپلو محبوبو بندګانو ته ورکوي؛ (۱) خاموشي. (۲) توکل. (۳) تواضع. (۴) اوله دنیا ځخه ځان ساتنه. روایت ده چه محمد ﷺ بل چاته ډوډی ورکوله یو حبشي راغي دچیچک په مرض اخته وو ځاي پرځاي دهغه څرمن زخمي سوي او غوړځیدلي ده هغه چه به دچاخواته کښینستي هغه سري به ځني ولاړیدي محمد ﷺ هغه په خپل څنګ کي کښیناوي او ارشاد یې وفرمایه ماهغه څوک حیرانوي چه له داسي زخم سره کرځي چه

دخلگو لپاره تکلیف ده اوپه دي سره دهغه تکبر ختم سوي ده یوه ورځ محمد ﷺ خپلو اصحابو ﷺ ته وویل څه خبره ده چه په تاسوکي دعبادت خوږوالي نه وینم؟ اصحاب کرامو عرض وکړ یارسول الله ﷺ خوږوالي چشي ده؟رسول الله ﷺ وفرمایل عاجزي،اوخاکـاري نبوي ارشادده چه کله زمادامت تواضع کونکي ووینئ له هغو سره تواضع وکړئ اوچه کله متکبرین ووینئ له هغو سره تکبر وکړئ ځکه چه دادهغو لپاره تحقیراوذلت ده په دي موضوع باندي یوڅو اشعار هم دي :

| | |
|---|---|
| تواضع تکن کالنجم لاح لناظر ..... | علي صفحات الماء وهو رفیع |
| ولاتک کالدخان یعلوا بنفسه ..... | علي طبقات الجو وهو وضیع |

**ژباړه**:خاکساري وکه دهغه ستوري په رکم سه چه کتونکي ته داوبو پرمخ ښکاریږي حال داچه هغه دیر لوړ ده ددود په رکم مه کیږه چه فضاء کي په خپله پورته کیږي مگر عزت یې نه وي هغه بیکاره شي ده . **دصبر فضیلتونه**:دصبر په باره کي مخته څه تیرسوي دي له هغه څخه زیات احادیث اواقوال دصبر د فضیلت په باره کي راغلي دي لکه درسول ﷺ ارشادات دمؤمن عزت له خلگو څخه په بي پرواهي کي ده په صبر کي ازادي اوعزت ده ځکه ویل سوي دي له هغه څخه بي نیازه سه چه ته یې غواړي که نه نوته به هم دهغه په رکم سي چاته چه خپل حاجت وړي دهغه داحسان به قیدي سي پرچاچه وغواړي احسان وکي ته به دهغه سردارسي هغه لږ مال چه ستالپاره کفایت وکي دهغه زیات مال څخه ښه ده چه تاگمراه کي دیوبزرگ سړي قول ده چه ماترصبر زیات بهتره بل کم مالدار نه ده لیدلي اوترلالچي مي بل زیات تنگدستي نه ده لیدلي دااشعار یې وویل(ژباړه)صبر وماته دعزت جامي راغوستي دي هغه کم مالدار ده چه ترصبر زیات په عزت وي صبر دخپل ځان اصلي خزانه وگرځوه له هغه وروسته تقوي زخیره که ته به دوچنده گټه ترلاسه کي ددوست له څه غوښتلو څخه بي پرواه سه دیوو ساعت صبر په بدله کي دجنت نعمتونه درکول کیږي یوبل شاعر وایې خپل ځان په معمولي شیانو باندي صبر کوونکي وگرځوه که نه نو ستا بدن له تاڅخه ترضرورت زیات شیان غواړي ستا دژوند موده دومره ده څومره چه په تاکي ساه اخلي یوبل شاعر وایې که چیري رزق له تاڅخه لیري ده نو څه چه ستاپه لاس کي دي پرهغه صبر وکه خپل نفس ته دهغه درزق په حاصلولو کي تکلیف مه ورکوه که هغه ستاپه قسمت کي وي نوماته نه راځي یوبل شاعر وایې کله چه دبخیلانو دولت تاهم حریص کي نو هغه وخت ستالپاره صبردیر ښه ده داسي څوان جوړسه چه پښي یې په تحت الثري کي وي اواراداي یې ثریاته رسیږي یوبل شاعر وایې په اساني سره دمال راتلون:ي

رزق په قوت سره لټونکي! ستالپاره ډير افسوس ده چه ددرواغو شيانو په محبت کي اخته سوي يې او له غلطو شيانو سره محبت کوي زمري دخپل ډير طاقت باوجود دځنګل مردار شيان خوري مچان دخپل کمزوري باوجود شات خوري دمحمد ﷺ طريقه داده چه کله به يې لوږه محسوسه کړه نو خپل اهل ته به يې فرمايل چه پرلمانځه ودريږئ او ويل به يې چه هم داسي حکم سوي ده او دا آيت به يې وايه خپل کورني خلکو ته دلمونځ کولو حکم وکه او پر دي صبر وکه يو بل شاعر وايي ددنيا زينت او په دي کي اخته کيدل پريږده تادي دزيات مالداره کيدو حرص په فريب کي وانه چوي دالله ﷻ په تقسيم قناعت وکه په هغه راضي سه ځکه چه قناعت داسي دولت ده چه کله هم نه ختميږي ته خپل بي فايدي او عبس عيش پريږده ځکه که ته هغه ته په غور وګوري په هغه کي به هيڅ قسم ګټه ونه ويني يو بل شاعر وايي کوم شي چه تاته له کوشش بغير لاس ته درځي پر هغه قناعت وکه ځکه چه الله ﷻ دمځکي يوه حشره هم له ياده نه باسي او رزق ورکوي که وتاته ترماډير نعمتونه درکي نو ودريږه او که وخت له تا ځخه شاواړوي نو بيده سه دهوښيار سړي قول ده چه عزت په ښايسته جامو کي نه ده ځکه دمالداري په وخت کي ښه او غوره لباس اغوستل او ځان سينګارول سړي مصرفوي تردي چه ددنياوي محبت له وجه هغه دديني امورو پروانه کوي او داسي سړي ډيرکم دکبر او خودبيني ځخه خالي وي دځينو شاعرانو قول ده زه ددنيا په وچه ګوله او غټو زړو جامو باندي خوشحاله يم زه له دي بغير بل څه نه غواړم ځکه چه مازمانه فناه کيدونکي ليدلي ده زما عمر او زمانه دواړه فناه کيدونکي دي .

## اته پنځوستم باب ددنيافريب

ددنياټول حالات دخوشحالي او غم پر دايره ځرخي دنيا دخپلو عاشقانو دهيلو په مطابق نه پاته کيږي بلکه دحکيم خداي دحکمت په مطابق بدليږي رابدليږي الهي فرمان ده :

وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ سورة هود آية(١١٨). **ژباړه**: هغه به هميشه اختلاف کوي مګر هغه خلک به اختلاف نه کوي چه ستارب رحم پر کړي وي دځينو مفسرينو وينا ده چه دلته له مختلف ځخه مراد د رزق اختلاف ده يعني ځيني غني دي، او ځيني فقير، ځکه د هر سړي لپاره ضروري ده چه کله الله ﷻ ددنيا مال او دولت ورکي هغه دي دالله ﷻ شکراداکي او په نيکو کارونو کي دي خرچ او مصرف کي ځکه چه ښه اعمال بدلاندي کوي هغه ته په کار ده چه په خپل مال او دولت غرور ونه کي او الهي فرمان په دي خبره دپوهيدو لپاره کافي ده. فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِاللَّهِ الْغَرُورُ سورة لقمان آية(٣٣) .

**ژباړه**: تاسي ته دي ددنيا ژوند دوکه درنه کي او نه دي کم دوکه کوونکي تاسي ته

دالله ﷻ د فریب دوکه درنه کي الهي فرمان ده چه چه تاسي خپل ځان په فتنه کې
واچاو وانتظار موو کي تاسو شک وکوتاسي امیدونو په دوکه کي واچولاست ددنيا
فریب ځخه دخلاصیدو اوتیښتي لپاره عقلمندانسان ته داآیت کافي ده دهغو هوښیاراز
خوب اوبیداري ته به څه وایې چه دکم عقل په شب بیداري اوعبادت باندي خونازیږي
مګر خپله یې نه کوي هوښیار څوک ده؟ نبوي فرمان ده چه عقلمند هغه څوک ده چه له خپل
نفس سره حساب وکي اوله مرګ څخه وروسته داخروي ژوند لپاره نیک عملونه وکي
احمق هغه څوک ده چه دخپلو نفساني خواهشاتو پیروي وکي مګر له الله ﷻ څخه دي
امیدونه لري.

ومن يحمد الدنيا لشيئ يسره ..... فسوف لعمري عن قليل يلومها
اذا ادبرت كانت علي المرء حسرة ..... وان اقبلت كانت كثيرا همومها

**ژباړه**: کم سړي چه دکم خوښ شي په وجه ددنیا تعریف اوصفت کوي زمادي په خپل ژوند
قسم وي چه ډیر ژر به هغه ته ردي بدي ووایي کله چه دنیا دانسان له لاسه ووزي دانسان په
زړه کي غم پریږدي چه کله راځي بي شمیره غمونه له ځانه سره راوړي یوبل شاعر وایي:

تالله لوكانت الدنيا باجمعها ..... تبقي علينا ويأتي رزقها رغدا
ماكان لي حق حران يذل لها ..... فكيف وهي متاع يضمحل غدا

**ژباړه**: په خداي قسم که دنیا دخپل ټول مال اومتاع باوجود زموږ لپاره دتقوي نبه راځي
اومسلسل ددي رزق راتلاي یابه هم دکم ازاد سړي لپاره ددي په طرف رجوع مناسب نه
واي داخولا پریږده چه دامال داسي جوړ سوي ده چه سباته ختمیږي ابن بسام وایي:

اف للدنيا وايامها ..... فانها بالحزن مخلوقة
همومها لا تنقضي ساعة ..... عن ملك فيها ولا سوقة
ياعجبا منها ومن شانها ..... عدوة للناس معشوقها

**ژباړه**: ددنیا اودهغي په ورځو افسوس ده بیشکه چه داد غمونو لپاره پیدا سوي ده ددې
تکلیف دیري شیبي لپاره هم نه ختمیږي پردي اودهغي پرعجیب حالت باندي تعجب د
داد خلکو هلاکونکي معشوقه ده یوبل شاعر وایي:

وقائلة اري الايام تعطي ..... لئام الناس من رزق حثيث
وتمنع من له شرف وفضل ..... فقلت لها خذي اصل الحديث
زالت جل المكاسب من حرام ..... فجادت بالخبيث الي الخبيث

ژباړه: زه وینم چه زمانه بخیلو خلکو ته ډیر مال ورکولو لپاره تیاره ده دعزت او فضیلت خاوند ته مال نه ورکوي ما هغه ته وویل ته په اصلي خبره غور وکه خبیث دکمایې څخه مال جمع کوي ځکه خبیث مال دخبیثو خلکو سره جمع کیږي یو بل شاعر وایې:

سل الایام مافعلت بکسري ..... وقیصر والقصور وساکنیها

امان استدعتهم للبین طرا ..... فلم تدع الحلیم ولاالسفیها

ژباړه: له زماني څخه پوښتنه وکه چه تاکسري قیصر دهغو محلونه اوپه هغوکي له اوسیدونکو سره دي څه وکړه؟ ایا هغو ټولو له تاڅخه دجدایې غوښتنه کړي وه چه تاهیڅ عقلمند اوبي وقوف پري نه ښوووي وایې چه یو صحرایې یوي قبیلي ته راغي خلکو هغه ته ډوډۍ ورکړه ددوډۍ له خوراک څخه وروسته دهغو دخیمي ترسایه لاندي بیده سو بیا هغو خیمه ځني لیري کړه کله چه دي وږي سو سترګي یې خلاسي سوي داشعر یې ووایه:

الا انما الدنیا کظل بنیته ..... ولابد یوما ان ظلک زائله

الا انما الدنیا مقیل لراکب ..... قضي وطرا من منزل ثم هجرا

ژباړه: باخبره اوسه دادنیا دیو ابادۍ دسایې په رکم ده خامخا یوه ورځ ددي سایه ختمیږي بلاشبه دنیا دسپور سړي لپاره دقبلونې ځاي نه ده هغه خپل حاجت پوره کړ هغه پرېښوي یو هوښیار سړي خپل دوست ته وویل تادداعي هرڅه واوریدل هرڅه یې باندي واضح کړل له هغه چاڅخه بل هیڅوک په مصیبت کي نه ده اخته چه کامل یقین یې ولـسه ورکړ اوپه غلطو کارو اخته سو دحضرت ابن مسعود ﷺ قول ده چه هرچاله داسره محبت وکړ دهغي له ښایست څخه خوشحاله سو دهغه له زړه څخه دآخرت ویره له دخپو علماوو قول ده چه دچا له لاسه دنیا اودولت ووزي پرهغه غم وکي په دي مال دولت باندي خوشحالي کوي ددي ټولو حساب ورسره کیږي ځینو صالحینو سلفو ته چه ﷺ مال اودولت ورکړ هغو له تاسو څخه ډیر زیات ځانونه دحرامو شیانو څخه ساتل هم کارونه چه تاسو ته مناسب نه ښکاري دهغو په نزد هلاکونکي ګڼل کیږي حضرت عمر عبدالعزیز ﷺ به اکثره وخت دمسعود بن کرام ﷺ دا اشعار ویل:

نهارک یامغرور نوم وغفلة ..... ولیلک نوم والردي لک لازم

سرک مایفني وتفرح بالمني ..... کما غر باللذات في النوم حالم

وعملک فیما سوف تکره غبه ..... کذالک في الدنیا تعیش البهایم

**ژباړه**: اي فريب خورده انسانه! ستاورځ په خوب او غفلت کي ستاشپه په بيده کيدو کي پوره کيږي اومرګ ستالپاره لازمي دی زائل شده مال تاپه فريب اودوکه کي اچولی او داميدونو دپوره کولو دير خوشحاليږي بالکل داسي لکه خوب ليدونکي دخوب څخه خوند اخلي دير ژربه ته دادنياوي شغل بد وګڼي داسي ژوند خوپه دنيا دحيوانانو دی.

## نه پنځوستم باب ددنيا بدي اوبيره

دحضرت ابوامامه الباهلي ﷺ څخه روايت دی چه ثعلبه بن حطب ﷺ دمحمد ﷺ خدمت کي عرض وکړ اي دالله ﷻ رسوله ازمالپاره دعا وکه چه الله ﷻ ماته مال راکړي رسول ﷺ وفرمايل اي ثعلبه ادلږ مال شکر چه ته اداکي هغه لږ مال تر دير مال ښه دی چه يې شکر نه سي اداکولاي ثعلبه بيا عرض وکړ يارسول الله ﷺ ماته دعا وکه چه الله ﷻ ما راکي رسول ﷺ وفرمايل اي ثعلبه ايا ستاپه وړاندي زما ژوند حاضر نه دی ايا ته په دې خبره خوشحاله نه يې چه ستاژوند ستادنبي په رکم وي؟ په خداي قسم که زه وغواړم چه ما سره دسرو زرو اوسپينو زرو غرونه روان سي الله ﷻ به يې روان کي ثعلبه عرض وکړ هغه خداي قسم چه ته يې په حقه رالستولي يې که ته زمالپاره دمال دعا وکي زه به له هغه مال څخه دهر حقدار حق ادا کم زه ټول حقوق ضرور پوره کوم محمد ﷺ دعا وکړ ياالله ﷻ ثعلبه ته مال ورکي ثعلبه بزې واخستي هغه دومره زياتي سوي لکه دمځکې حشرات هغه په مدينه کي نه ځايدلي له مدينې څخه يوي لري دري ته ولاړي هلته دومره مصروف سو چه صرف دماشپين اوماځيګر لمونځ يې په جمع کاوو نوردري يې بي جماعته کول بزې چه نوري هم زياتي سوي نو له دي ځاي څخه ليري ځاي ته ولاړي ترديچه صرف دجمعې مبارکې لمونځ يې په جمع سره کاوه بزې چه نوري هم زياتي سوي خبره تر دې ورسيده چه دجمعې لمونځ هم ورڅخه پاته سو هغه دجمعې په ورځ صرف دمدينې حال پوښتي يوه ورځ محمد ﷺ دثعلبه په باره کي پوښتنه وکړه چه هغه په څه حالت کي دی دثعلبه ټول حالت ورته بيان سو محمد ﷺ وفرمايل اي ثعلبه افسوس!اي ثعلبه افسوس!اي ثعلبه افسوس! راوي وايي چه هلته دقرآن کريم داآيت نازل سو:

خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ

سورة التوبة آية (۱۰۳) **ژباړه**: دهغوي له مال څخه صدقه واخله دهغو ظاهر او باطن پاک کړه په دي صدقه سره دهغو لپاره دعا وکه بيشکه ستاسي دعا دهغو لپاره سکون دی حضرت نبي کريم ﷺ دجهنيه اوبنو سليم دقبيلي څخه دوه کسان دصدقاتو دزکات راټولولو لپاره مقرر کړل هغوته يې دزکات داخستلو الهي فرمانونه وکړل ورته ويې ويل ثعلبه اودبني

سليم فلانكي سري ته ولاړسئ زكات ځني واخلئ هغه اول ثعلبه ته راغلل هغه ته يې دمحمد ﷺ امر اوحكم ښكاره كړ دبزو دزكات خبره يې ورته وكړه ثعلبه وويل داخو تيكس ده داخبره يې دوه واره وكړه تاسي ولاړسئ كله چه له نورو ځخه فارغ سواست بيازماخواته راسئ دادواړه حضرات دبنوسليم هغه سري ته را غلل چه دهغه په اړه محمد ﷺ هدايت وركړي وو هغه چه كله دمحمد ﷺ امر وليدي له خپلو اوښانو ځخه يې ښه ښه اوښان دزكات لپاره جلاكړل هغه ورته وويل داضروري نه ده چه ته موږ ته دومره ښه اوښان راكه هغه سري ورته وويل تاسي داخامخا واخلئ زما زړه ته په دي كار سره سكون حاصليږي چه تاسي دااوښان په زكات كي قبول كړئ كله چه دوي فارغ سول بيرته ثعلبه ته راغلل يووار يې بيا دزكات غوښتنه ځني وكړه ثعلبه ورته وويل تاسي ماته دمحمد ﷺ خط راښكاره كړئ هغو چه خط ورښكاره كړ نوويې ويل داخو ماته دتيكس په ركم شي ښكاره كيږي تاسي اوس ولاړسئ زه به په دي باره غور اوفكر وكم هغه ځني راغلل اومحمد ﷺ ته حاضر سول محمد ﷺ چه هغه وليدل دخبرو له مخه يې وويل اي ثعلبه افسوس ده ستاپرحال اودبني سليم دهغه شخص لپاره يې دعا وكړه چه په زكات كي يې ښه ښه اوښان وركړي وو بيادوي دواړو دثعلبه قصه محمد ﷺ ته بيان كړه الله ﷻ دثعلبه په باره كي داآيت نازل كړ:

وَمِنْهُم مَّنْ عَاهَدَ اللَّهَ لَئِنْ آتَانَا مِن فَضْلِهِ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ الصَّالِحِينَ فَلَمَّا آتَاهُم مِّن فَضْلِهِ بَخِلُوا بِهِ وَتَوَلَّوا وَّهُم مُّعْرِضُونَ فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِي قُلُوبِهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ يَلْقَوْنَهُ بِمَا أَخْلَفُوا اللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ سورة توبة آية(۷۵/۷۶/۷۷).

**ژباړه:** دمحمد ﷺ په خدمت كي دثعلبه يوخپل ناست وو هغه دثعلبه په اړه نازل سوي آيت واوريدي له دي ځاي ځخه ولاړي دثعلبه خواته ورغي اوورته ويې ويل ستاموردي مړه سي الله ﷻ ستاپه اړه فلانكي آيتونه نازل كړي دي ثعلبه چه داواوريده نودمحمد ﷺ په خدمت كي حاضرسو اودزكات دقبلولو غوښتنه يې وكړه محمد ﷺ ورته وفرمايل الله ﷻ زه ستا له زكات اخستو ځخه منع كړي يم ثعلبه چه داواوريده پرسر يې خاوري وشيندلي محمد ﷺ ورته وفرمايل ستادا عمل اماخوتاته مخكي ويلي وو ليكن تازما داخبره نه ومنله هغه بيرته خپل ځاي ته راغي كله چه محمد ﷺ له دنيا ځخه رحلت وكړ نو حضرت ابوبكر صديق ﷺ ته راغي اودزكات دمال دقبلولو غوښتنه يې وكړه ليكن ابوبكر صديق ﷺ انكارځني وكړ بيادحضرت عثمان ﷺ دخلافت په وخت كي هغه وفات سو . **يوه عبرتناكه قصه** :جرير دليث ځخه روايت كړي ده چه يوسري دحضرت عيسى ﷺ په مجلس كي حاضر سو اوعرض يې وكړ

چه زه دهمیشه لپاره ستاپه مجلس کي اوسیدل غوارم عیسی عليه السلام او هغه سړي دواړه یوځاي ته په سفرروان سول کله چه دسمندر خواته ورسیدل دډوډۍ خوړلو لپاره کښینستل له هغه سره دري ډوډۍ وي کله چه دوي دوي وخوړلي عیسی عليه السلام داوبو چښلو لپاره دریاب ته ولاړي کله چه واپس راغي ګوري چه یوه ډوډۍ نسته هغه عليه السلام پوښتنه وکړه یوه ډوډۍ چاواخسته؟ملګري ورته وویل زه نه یم خبرراوي وایې چه حضرت عیسی عليه السلام ددي ځاي څخه روان سو په یوو ځنګل کي یې یوه هوسۍ ولیده دوه بچیان هم ورسره وو عیسی عليه السلام دهغې یوبچي ځان ته راوغوښتي هغه چه راغي ذبح یې کړ په اور کي یې تریخولو وروسته خپله هم وخوړ ملګري ته یې هم ورکړ بیایې وفرمایل دالله جل جلاله په حکم ژوندي سه هغه بچي ژوندي سو اوله مور سره روان سو عیسی عليه السلام خپل ملګري ته وویل زه نه تاڅخه دهغه ذات په نامه پوښتنه کوم چه تاته یې دامعجزه وښووله ډوډۍ چااخستي ده؟ هغه ورته وویل نه یم خبر بیاله ډې ځاي څخه روان سول یوو ځنګله ته ورسیدل کله چه دواړه کښېنستل عیسی عليه السلام دخاورو اوشګویوه ډیرۍ جوړه کړه او ویې ویل دالله جل جلاله په حکم سره سره زر سه هغه سره زر سوه عیسی عليه السلام دغي ډیرۍ په رکم دري ډیرۍ نوري جوړي کړي اوویې ویل یوه دریمه زمایوه دریمه ستا یوه دریمه ستایوه دریمه یې دهغه چا چه ډوډۍ یې اخستي وي هغه سړي وویل هغه ډوډۍ خوما اخستي ده عیسی عليه السلام ورته وفرمایل داسره زرټول ستادي هغه یې هلته پرېښوول اوورڅخه روان سو دهغه سړي خواته دوه کسان راغلل هغو چه په ځنګله کي له ده سره دومره سره زر ولیدل نیتونه یې ورباندي بدسول اراده یې وکړه چه هغه سړي ووژني اوټول ماځني واخلي هغه سړي ددوي په بدو نیتو نو پوه سو په خپله یې ورته وویل دغه مال به موږ دري په خپل مابین کي سره جلاکو بیادوي یو سړي ښار ته ویږي چه له بازار څخه ډوډۍ راوړي کم سړي چه یې ډوډۍ راوړلو لپاره ولیږي دهغه په زړه کي داخیال پیداسو چه زه ولي دامال خپل ځان ته نه راخلم په ډوډۍ کي یې زهر واچول چه هغه دواړه به یې وخوري مړه به سي مال به ټول زه راواخلم هغه داسي وکړل په ځنګل کي چه دوه کسان ناست وو هغو هم په خپل مینځ کي مشوره وکړه چه ولي په مال کي شریک کوو دامال به موږ دوه جلاکو دي به مړکو کله چه هغه سړي له بازار څخه راغي هغو دوو نفرو داسړي فورًا وواژي دوي دوو ډوډۍ وخوړله ډوډۍ له زهرو ډکه وه دوي هم ددي ډوډۍ له وجه مړه سول دسرو زرو ډیرۍ دغسي پاته سوه دري سره سړي په ځنګله کي دغسي پراته وو څه وخت بعد بیرته عیسی عليه السلام پر هغه ځاي تیرسو خپلو ملګرو ته یې وویل وګورئ دادنیا ده له دي څخه خپل

ځانونه وساتئ . **قصه** :ذوالقرنين داسي خلکو ته ورسيدي چه له هغو سره دنياوي مال اومتاع بالکل نه وو هغو دځانولپاره خپل قبرونه مخکي لاتيارکړي ووکله چه به سهار سو نودخپلو قبرونو خواته به راغلل هغه به يې صفا کول ځنګ ته به يې لمنځونه کول دحيوانانو په رکم به يې په ونبو باندي وخت تيراوو ذوالقرنين ددغو خلکومنځ ته يوسړي وليږي هغه يې خپل ځنګ ته راوغوښتل ليکن دهغو خلکو مشر وويل ذوالقرنين ته ووايه چه زما له تاسره کار نسته که ستاله ماسره کار وي نوته زماخواته تشريف راوړه ذوالقرنين چه دهغه جواب واوريدي نويې وويل رښتيايې ويلي دي ذو القرنين دهغه خواته ولاړي اوورته ويې ويل ماتاته خپل قاصد راوليږي خوته زماخواته رانغلي نوځکه زه راغلم مشر ورته وويل که زماله تاسره څه کارواي نوزه به ضرور درتلم ذوالقرنين وويل ماته په داسي حالت کي وليدي چه بل قوم مي په داسي حالت کي نه وو ليدلي سردار ورته وويل ته دکم حالت خبري کوي ؟ ذوالقرنين ورته وويل داحالت چه له تاسره هيڅ قسم دنياوي مال اومتاع نسته چه خوند ،وکته ورڅخه واخلئ سردار ورته وويل موږ سره زراوسپين زر جمع کول نه خوښوو هرڅوک چه دامال پيداکي بيادهغه په مينه کي راګيرسي له هغو شيانو څخه بي پروايي کوي چه هغه تردي ډير غوره دي پوښتنه يې وکړه چه تاسي ولي ترمرګ له مخه قبرونه تيارکړي دي؟ اوهرسهار يې ليدلو ته راځئ هغه صفاکوئ په خواکي يې لمونځ کوئ سردار وويل داددي لپاره چه کله موږ قبرونه ووينو اودنيا آرزو کوو نوداقبرونه موږ له دنياڅخه بي نيازه کوي موږ له حرص اوهوس څخه منع کوي ذوالقرنين پوښتنه ځني وکړه مااوريدلي دي چه تاسي دمځکي په سبزياتو ګذاره کوئ نورڅه نه خورئ تاسي ولي حيوانان نه ساتئ چه شيدي ځني واخلئ اوبارونه پريوسئ نوري ګټي ځني واخلئ؟ بياهغه دذوالقرنين دشاخواته لاس اوږد کي يوه کوپړئ يې راپورته کړه اوويې ويل اي ذو القرنينه!دا پيژني داڅوک ده؟ ذوالقرنين پوښتنه وکړه چه څوک ده هغه وويل دا د دنيا له باچهانو څخه يوباچاوو الله ﷻ باچهي ورکړي وه ليکن هغه ظلم وکړ سرکشي يې وکړه کله چه الله ﷻ دهغه حالت وليدي مړيې کي ديو ادني کاني په رکم بي عزته اوبي اهميته سو الله ﷻ دهغه ټول اعمال شمارکړي دي چه په آخرت کي سزا ورکي بيايې يوه بله کوپړۍ راپورته کړه ورسته سڼوي وه پوښتنه يې وکړه اي ذوالقرنينه پيژني يې داڅوک وو؟ذوالقرنين وويل يانه يې پيژنم داڅوک وو هغه وويل داهم يوباچاوو چه له مخکني باچاوروسته وده ته باچهي ورسيده دهغه مخکني باچاظلم اوزياتي يې ليدلي وو نوځکه هغه تواضع وکړه له الله ﷻ څخه يې ويره وکړه په خپل وطن کي يې عدل اوانصاف

شروع كړل يـاداهم مرسو اوكوپړى يې دغه ده ستاپه مخ كي پرته ده الله ﷻ دهغه ته
اعمال ليكلي دي دقيامت په ورځ به بدله وركوي يـاذو القرنين كوپړى ته متوجه
اوويې ويل داهم دهغوي په ركم ده ذوالقرنين خيال وكړ چه ته څنګه اعمال كوي
ذوالقرنين وويل اياته زماپه دوستي كي پاته كيدل غواړې؟ زه تاخپل ورور او خپل مال كې
شريكول غوارم هغه ورته وويل زمااوستاترمينځ روغه نه سي راتلاي اونه يوځاي پاته
كيداي سو ذوالقرنين ورته وويل ولې؟ هغه وويل ځكه چه خلګ ستادمال دښمنان
اوزمادوستان دي ذوالقرنين پوښتنه وكړه چه داڅنګه؟ هغه ورته وويل خلګ له تاسره ستا
دمال باچهي اودنياپه وجه دښمني لري چونكه مادا هرڅه پرې ايښي دي ځكه زماهيڅوك
دښمن نسته اوزماهيڅ شي ته ضرورت نسته اونه له ماسره دكم شي كمي وي راوي وايي
چه ذوالقرنين داخبرې واوريدې ډير متاثره سو اوحيران ييرته راغي يوشاعر په دې اړه
څومره ښه شعر ويلي دي؛

يامن تمتع بالدنيا وزينتها »« ولاتنام عن اللذات عيناه
شغلت نفسك فيمالس تدركه »« تقول الله ماذا حين تلقاه

ژباړه: هغه څوك چه له دنيا اودنياله زينت څخه ګټه اخلي اوله دنياوي خوندونو څخه يې
ستركي نه مړيږي دناممكنه شيانو په حصول كي يې مشغوله كړي وي كله چه دالله ﷻ په
حضور كي حاضريږي نوڅه جواب به وركي ديوبل شاعر قول دى؛

عتبت علي الدنيالرفعه جاهل »« وتاخير ذي فضل فقالت خذ العذرا
بنوا الجهل ابنائي لهذا رفعتهم »« واهل التقوي ابناء ضرة الاخرى

ژباړه: ماددنيا وجاهلو ته دډيرو مرتبو دوركولو اودفضل له خاوندانو څخه په ليرې كيدو
باندې ملامتي وكړه هغه ماته وويل زمامجبورې ده اوره جاهل زمااولاد دى ځكه زه هغه ته
سرلوړې وركوم متقي اودفضل خاوندان زما بني اودآخرت زمان دي ځكه زه له هغو څخه
ګريز كوم دجناب محمود الباقلي شعر دى؛

الاانما الدنياعلي المرء فتنة »« علي كل حال اقبلت اوتولت
فان اقبلت فاستقبل الشكر دائما »« ومهماتولت فاصطبر وتثبت

ژباړه: يـشكه دنياراسي يارانه سي دانسان لپاره په هرحالت كي امتحان ده كله چه دنيا
راځي نودائمي شكر دڅانه سره راولي نو شكر اداكه اوكله چه ولاړه سي نو صابر اوثابت
قدم اوسه.

# شپیتم باب دصدقي فضیلت

دنبي کریم ﷺ ارشاد مبارک ده کم شخص چه دحلالي کټي څخه دیوي خرماپه برابر خیرات وکي نو الله ﷻ هغه په خپل برکت سره قبلوي بیاد خیرات کوونکي لپاره دهغه مال داسي پالنه کوي څنګه چه له تاسي څخه څوک دخپل جونګي پالنه کوي تردي چه دهغه خیرات دغره په اندازه کیږي په دوهم حدیث کي دي چه دهغه خیرات پالنه کوي تردي چه دهغه خیرات دغره په اندازه کیږي په دوهم حدیث کي دي چه دهغه خیرات پالنه کوي لکه له تاسي څخه چه څوک دخپل جونګي پالنه کوي تردي چه یوه ګوله داحد دغره په اندازه سي. أَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ وَيَأْخُذُ الصَّدَقَاتِ سورة التوبة آیة (١٠٣) . ژباړه: ایا هغه نه پوهیږي چه الله ﷻ هم هغه ده چه دخپل بنده توبه قبلوي اوصدقي یې ورڅخه اخلي. يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ سورة البقرة آیة (٢٧٦) ژباړه: الله ﷻ سود ختموي اوصدقي زیاتوي. **دصدقي فضائل**: صدقه مال نه کموي اوالله ﷻ ددي په بدله کي دانسان عزت زیاتوي کم سړي چه دالله ﷻ درضا دترلاسه کولو په خاطر تواضع کوي الله ﷻ ورته لوړه درجه ورکوي دطبراني روایت ده چه صدقه مال نه کموي کله چه یوانسان دصدقي ورکولو لپاره لاس اوږد وي الله ﷻ دهغه صدقه قبلوي یعني سوالګر ته درسیدو څخه مخکي یې الله ﷻ قبلوي کم سړي چه دغني اومالداري په حالت کي دسوال دروازه خلاصوي الله ﷻ پر هغه فقر مسلطوي بنده وایي دازما مال ده مګر د هغه دري حصي چه څه چه یې وخوړي هغه فناه سو څه چه یې واغوستي هغه زوړ سو څه چه یې دالله ﷻ په لار کي ورکړل هغه یې وګټله اوددي بغیر نور چه یې هرڅه دي هغه دنورو خلکو لپاره پرېږدي په حدیث شریف کي دي چه په تاسو کي څوک داسي نسته چه الله ﷻ دهغه په خبره پوه نه سي الله ﷻ له هغه سره دترجمان بغیر خبري کوي سړي چه خپل راسته اړخ ته ګوري هغه ته هغه څه په نظر راځي چه مخکي یې لیږلي دي همداراز چپه اړخ ته هم هغه څه په نظر راځي چه وړاندي یې لیږلي دي کله چه مخامخ وګوري نواور په نظر ورته راځي تاسي له اور څخه ځان وساتئ که څه هم دخرما په یوه ټوټه وي په حدیث شریف کي دي چه خپل مخونه له اور څخه وساتئ اګر که دخرما یوه ټوټه ولي نه وي محمد ﷺ فرمایي چه صدقه ګناهونه داسي له منځه وړي څنګه چه اوبه اور وژني هغه ﷺ فرمایي اي کعب بن عجزه! جنت ته هغه غوښه اووینه نه ځي چه په حرامه ذریعه نه وی ګټل سوي اي کعب بن عجزه! خلک ورتلونکي دي ځیني په ورتلو کي خپلو نفسونو ته خلاصي ورکوي اوځیني هلاکونکي دي اي کعب بن عجزه! لمونځ الله ﷻ ته قربت ده روژه وال ده صدقه ګناهونه داسي لیري کوي

لکه له بنوي کاني څخه چه باران اوبه ليري کوي محمد ﷺ فرمايي صدقه دالله ﷻ قهر او غضب يخوي دمرګ تکليفونه ليري کوي په يوو روايت کي دي چه الله ﷻ دصدقي په برکت سره دنابيره اوخراب مرګ اويادروازي بندوي له محمد ﷺ څخه پوښتنه وسوه چه کومه صدقه غوره ده هغه ﷺ وفرمايل کم سړي چه غريب وي اوپه احتياط سره مال خرڅوي دخپل اهل اوعيال څخه يې شروع کوي محمد ﷺ فرمايلي دي يودرهم له سلو درهمو څخه مخکي سو يوسړي عرض وکړ يارسول الله ﷺ هغه څنګه محمد ﷺ وفرمايل ديوسړي سره ديرزيات مال او دولت وو هغه دخپل مال څخه يولک درهم خيرات کړل خودبل سړي سره صرف دوه درهمه وو له هغو څخه يې يو درهم دالله ﷻ په لارکي ورکړ په حديث شريف کي دي چه څلور کسان داسي دي چه دقيامت په ورځ دالله ﷻ درحمت ترسايه لاندي ولاړوي په دغه ورځ به دالله ﷻ دسيوري څخه بغير بل سيوري نه وي ددغه اوو کسانو څخه يوسړي هغه ده چه په پټه خوله يې دالله ﷻ په لاره کي صدقه او خيرات ورکړي وي داسي پټ چه چپه لاس له راسته څخه خبر نه سي چه څه يې ورکړل دنيکي لاري دادي چه له بدو ځايونو څخه ځان وساتي پټه صدقه دالله ﷻ غضب يخوي صله رحمي ژوند زياتوي هرنيک کار صدقه ده په دنياکي نيک کار کوونکي به په آخرت کي دنيک کار کوونکي سره وي په دنياکي بدي کوونکي به په آخرت کي دبدي کوونکو سره وي جنت ته دټولو څخه مخکي نيکي کوونکي سړي داخليږي دطبراني اواحمد په بل روايت کي دي چه له محمد ﷺ څخه پوښتنه وسوه چه صدقه څشي ده؟ څوچنده اودالله ﷻ سره دهغه څخه زيات دي بيا رسول ﷺ دا آيت شريف ووايه :

مَن ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً سورة البقرة آية (٢٤٥) . ۲ پاره، همدارازدمحمد ﷺ څخه پوښتنه وسوه يارسول الله ﷺ کمه صدقه بهتره ده رسول ﷺ وفرمايل فقير ته په پټه سره صدقه ورکول اونادار سړي ته په احتياط سره مال خرڅول بيا رسول ﷺ دا آيت شريف ووايه : إِن تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ سورة البقرة آية (٢٧١) ۳ پاره، که تاسي صدقه په پټه ورکړئ نوښه داده اوکه په پټه يې فقيرانوته ورکړئ نوستاسي لپاره ديره ښه ده هرچاچه کم مسلمان ته لباس ورکړ نوترڅوپوري چه دهغه په تن کي وي نوالله ﷻ دصدقه ورکوونکي انسان عيبونه پټوي په بل روايت کي دي چه کم مسلمان چه يو وږي انسان ته جامي ورکي الله ﷻ هغه ته دجنت جامي ورواغوندي کم څوک چه په وږي سړي ډوډۍ وخوري الله ﷻ هغه ته دخوړلو لپاره دجنت ميوي ورکوي اوکم مسلمان چه تږي سړي ته اوبه ورکي الله ﷻ هغه ته په جنت کي مهرسوي شراب طهور دڅښلو لپاره ورکوي

مسکین ته صدقه ورکول خیرات ده خپلوانو ته په صدقه ورکولو کي دوه اجرونه دي یوه صدقه، اوبل صله رحمي له محمد ﷺ څخه پوښتنه وسوه کمه صدقه غوره ده؟ محمد ﷺ وویل داسي خپلوانو ته صدقه ورکوه چه له تاسره په زړه کي کینه او عداوت لري محمد ﷺ و فرمایل هرچاچه یوغریب سړي ته دشید و په خاطر بزه یابل څه ورکړل ترڅو چه له هغه څخه شیدي وخوري اوبیایې بیرته ورکي یاچاته قرض ورکي اویاپه سفرکي ملګرتیا ورسره وکي هغه ته دغلام ازادولو برابر ثواب ورکول کیږي محمد ﷺ و فرمایل چه هرقرض صدقه ده په یوبل روایت کي دي چه محمد ﷺ و فرمایل ماد معراج په شپه دجنت په دروازه لیکل سوي ولیدل چه دصدقي لس چنده اودقرض اتلس چنده ثواب ده بیایې وفرمایل هرڅوک چه دکم محتاج مشکل آسان کي الله ﷻ په دنیااوآخرت کي اساني ورته راولي پوښتنه وسوه چه دالله ﷻ رسوله کمه صدقه بهتره ده ؟ هغه ﷺ و فرمایل خلګو ته ډوډۍ ورکول اوپرخپل اوپردي سړي باندي سلام اچول پوښتنه کونکي عرض وکړ یارسول الله ﷺ ماته دهرشي حقیقت ووایه! رسول ﷺ و فرمایل الله ﷻ هرشي داوبو څخه پیداکړي ده بیایې وویل ماته داسي عمل وښیه چه دهغه په وجه زه جنت ته ولاړسم رسول ﷺ و فرمایل خلګو ته ډوډۍ ورکوه سلام وراچوه صله رحمي کوه دشپې چه خلک بیده وي ته لمونځ کوه ته به په پوره سلامتي سره جنت ته داخل سي نبوي حدیث ده چه مسکین ته ډوډۍ ورکول دالله ﷻ درحمت داسبابو څخه یودي چاچه خپل مسلمان وروړ ته ډوډۍ ورکړه اوبه یې په وچښلي الله ﷻ دهغه اودوږخ ترمنځ داویا خندقونو فاصله پیداکوي چه هرخندق دپنځه سوو کالو دسفر په اندازه ده نبوي فرمان ده چه الله ﷻ دقیامت په ورځ ارشاد فرمایي اي انسانه! زه ناروغ سوي وم مګر تازماً عبادت ونه کړ انسان به ووایي اي الله ﷻ مابه ستا څنګه پوښتنه کړي واي ته خورب العلمین یې الله ﷻ به ورته ووایي ایاتاته نه وه معلومه چه زمافلانکي بنده ناروغه وو مګر ته دهغه پوښتني ته نه راغلې که ته دهغه پوښتني ته راغلې واي زه به دي هغه ته نژدي پیدا کړي واي اي انسانه ماله تاڅخه ډوډۍ غوښتي وه مګر تاماته ډوډۍ نه کړه را انسان به ووایي اي الله ﷻ مابه تاته څنګه ډوډۍ درکوله ته خو رب العلمین یې الله ﷻ به ورته ووایي ایاتاته نه وه معلومه چه زمافلانکي بنده وږي وو که تاهغه ته ډوډۍ ورکړي واي زه به دي هغه ته نژدي پیداکړي واي اي انسانه! ماله تاڅخه اوبه وغوښتي خوتاماته رانه کړي انسان به ووایي اي الله ﷻ مابه تاته څنګه اوبه درکړي واي ته خورب العلمین یې بې نیازه یې الله ﷻ به ورته وفرمایي زمافلانکي بنده له تاڅخه اوبه غوښتي که تاهغه ته اوبه ورکړي واي دهغه اجر به دي له ماسره پیداکړي واي.

## یوشپیتم باب دمسلمان حاجت پوره کول

الهي فرمان ده چه: ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى سورة المائدة آیة(٢)﴾ .(پاره٥) په نیکي او پرهیز ګاري کي یودبل سره تعاون وکړئ محمد ﷺ فرمایلي دي کم سړي چه دخپل مسلمان

وروردمدداونبيكنې لپاره ګام پورته کي هغه ته دالله ﷻ په لاره کي د جهادکوونکي په اندازه ثواب ورکول کيږي نبوي ارشادده چه الله ﷻ داسي مخلوق پيداکړي ده چه دهغو کارونو دخلګو ضروريات پوره کول دي او الله ﷻ په خپل ذات قسم کړي ده چه هغوته به عذاب نه ورکول کيږي دقيامت په ورځ به دهغو لپاره منبرونه ودريږي هغه به له الله ﷻ سره خبري کوي حال داچه خلګ به لاله حسابه نه وي خلاص سوي نبوي ارشادده چه هرڅوک دخپل مسلمان ورور د حاجت اوارتيا پوره کولو کوشش وکي که څه هم دهغه ارتيا پوره سي يانسي الله ﷻ دکوشش کونکي مخکني اووروستني ګناهونه بخښي دهغه لپاره برائت يعني خلاصون ليکل کيږي دجهنم څخه نجات اودمنافقت څخه ليري والي دمحمد ﷺ حديث شريف ده چه کم سړي دخپل مسلمان ورور حاجت پوره کوي زه دهغه دحساب دترازو وبلي ته نژدي دريږم که دهغه نيکي زياتي سوي نوديربه که نه نوزه دهغه شفاعت کوم داروايت ابو نعيم په(حلية الاولياء)کي روايت کړي ده له حضرت انس ﷺ څخه روايت ده چه محمد ﷺ وفرمايل کم څوک چه دخپل مسلمان ورور دارتيا درفع کولو لپاره ګامونه پورته کي الله ﷻ هغه ته دهرګام په بدل کي دهغه په عمل نامه کي اويانيکياني ليکي اواويا ګناهونه يې معافوي که دهغه حاجت دده له لاسه رفع سي نوله ګناهونو څخه داسي پاکيږي لکه له مورڅخه چه نوي زيږيدلي وي که په دي وخت کي مرسي له حساب اوکتاب بغير جنت ته ځي له حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت ده چه محمد ﷺ وفرمايل کم سړي چه دخپل مسلمان ورور د حاجت پوره کولو لپاره له هغه سره روانيږي اودهغه حاجت پوره کوي الله ﷻ دهغه اوجهنم ترمنځ اووه خندقونه جوړوي ددوو خندقونو ترمينځ فاصله دمځکي او اسمان ترمينځ دمسافت په اندازه وي له حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت ده چه محمد ﷺ وفرمايل دالله ﷻ ځيني داسي انعامات دي چه دهغو خلګو لپاره مخصوص اوځانګړي دي چه دخلګو حاجتونه پوره کوي کله چه هغه داکار پريږدي الله ﷻ دهغه انعامات نورو خلګو ته ورکوي له حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت ده چه محمد ﷺ فرمايل اياتاسي پوهيږئ چه زمري په خپل غريد وکي څه وايي؟ اصحابو ﷺ عرض وکړ چه الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ به په پوهيږي رسول ﷺ فرمايل هغه داوايي چه اي الله ﷻ ماپرنيکي کونکي سړي باندي مسلط نه کي حضرت علي کرم الله وجهه به دامرفوع حديث بياناوه چه کله تاسي دکم ضرورت ياکار لپاره اراده وکړئ هغه دپنجشنبي په ورځ شروع کړئ کله چه له خپل کورڅخه وزي دآل عمران دسورة آخري ... آيت الکرسي سورة القدر اوسورة فاتحه ووا ياست ځکه چه په هغو کي ددنيااوآخرت

ډېر حاجتونه دي حضرت عبدالله بن حسين رضي الله عنه وايي چه زه دکم ضرورت لپاره عمر بن عبدالعزيز رحمه الله ته ورغلم هغه ماته وويل کله چه تاسي ته دکم ضرورت شي مخ ته راسي نوزماپه طرفاستازي راليږه ياخط راليږه ځکه چه زه له الله ﷻ څخه حياکوم چه تاسي زما دروازي ته راسئ دعلي کرم الله وجهه قول دي چه په هغه ذوالجلال رب قسم چه هراواز اوري هيڅوک داسي نسته چه په خپل زړه کي خوشحالي ته ځاي ورکي مګرالله ﷻ په هغه خوشحالي سره لطف کوي بيا چه کله کم مصيبت اوپريشاني راسي هغه خوشحالي داسي په مخه ورې لکه اوبه چه پرکښته رواني وي تردي چه هغه دپردي اوښ په رکم شړل کېږي همدارنګه هغه کرم الله وجهه وفرمايل دجاهلو اوناپوهانو خلکو څخه دحاجت دپوره کيدو ترغوښتني نه پوره کيدل ښه دي هغه کرم الله وجهه وفرمايل خپل ورور ته زيات حاجتونه مه وراندي کوه ځکه کله چه ګيلګي دخپلي مور غلانځه ديره کش کي دهغه مور هغه په ښکرو هي په دي اره يوشاعر دير ښه شعر ويلي ده :

لاتقطعن عادة الاحسان عن احد »« مادمت تقدر والايام تارات

واذكر فضيلة صنع الله اذجعلت »« اليک لالک عند الناس من حاجات

ژباړه:ترڅوپوري چه ستاپه وس کي وي پرهيځ قسم ښيګنه انکار مه کوه ځکه داژوند ختميدونکي ده دالله ﷻ دغه مهرباني درپه يادکه چه هغه ته دخلکو حاجت پوره کوونکي ګرځولي يې مګرته چاته خپل حاجت نه وړي يوبل شاعر وايي:

اقض الحوائج ما استطعت »« وکن لهم اخيک فارج

فلخير ايام الفتي »« يوم قضي فيه الحوائج

ژباړه:ترکمه حده چه ستاپه توان کي وي دخلکو ضرورتونه پوره که اودهغو حاجت پوره کوونکي ورور جوړسه يقينا دکم ځوان غوره ورځي هم هغه دي چه پکښي دخلکو ارتياوي پوره کوي دمحمد ﷺ فرمان ده چه دهغه چا لپاره زيري ده چه دهغه له لاسو څخه دخير کارونه کاريږي اودهغه چالپاره هلاکت ده چه بد کارونه ورڅخه کيږي.

## دوشپيتم باب داوداسه فضيلتونه

دمحمد ﷺ ارشادمبارک ده هرچاچه په ښه طريقه سره اودس وکړ بيايې دوه رکعته لمونځ وکړ دهغه په زړه کي دنياوي فکرونه رانه غلل هغه له ګناهونو څخه داسي پاک سو لکه له مورڅخه چه زيږيدلي وو دبل روايت الفاظ داسي دي چه هغه په دغه دواړو رکعتونو کي کم نامناسب حرکت ونه کړ دهغه مخکني ګناهونه ټول بخښل کيږي نبوي حديث ده چه ايا زه تاسي ته داسي کار خبر درکم چه په هغه سره درجي پورته کيږي اودګناهونو لپاره

کفاره کرځي؟ هغه دادي په تکلیف اوسخت وخت کي اودس کول دمسجد په طرف تلل
دیوولمانځه څخه وروسته دبل لمانځه انتظار کول داستاسي لپاره دپناه ځایونه دي
رسول ﷺ الفظ دري واره تکرار کړیو وخت محمد ﷺ داوداسه اندامونه یووار پریولل
اوویې فرمایل داهغه اودس ده چه له دي بغیرالله ﷻ لمونځ نه قبلوي رسول ﷺ بیا بیا
دوه واره داوداسه اندامونه پریولل اوویې فرمایل هرچاچه خپل اندامونه دوه واره پریولل
هغه ته دوچنده ثواب ورکول کیږي بیایې هراندام دري واره پري مينځي اوويې فرمایل
دازمااوله ماڅخه مخکي دټولو انبیاوو اوابراهیم ﷺ چه خلیل الله ده دهغو اودس ده
دمحمد ﷺ ارشادده کوم سړي چه داوداسه په وخت کي الله ﷻ یادوي الله ﷻ دهغه ټول
وجود پاکوي اوکم سړي چه داودس کولو په وخت کي الله ﷻ نه یادوي دهغه دبدن هغه
حصه پاکیږي پرکومه چه اوبه تیروي نبوي حدیث ده چه هرڅوک داوداسه په حالت کي بل
اودس کوي دهغه په عمل نامه کي الله ﷻ نیکی لیکي نبوي فرمان ده چه پراوداسه باندي
اودس نور علي نور ده په دي ټولو روایاتو کي محمد ﷺ دنوي اودس د فضیلت په طرف
اشاره کولوسره یې خپل امت ته دهغه پرطرف ترغیب ورکړي ده نبوي فرمان ده چه کله
مسلمان بنده اودس کوي اوپه خوله کي اوبه اچوي دهغه له خولي څخه ګناهونه وزي
اوپاکیږي کله چه هغه پزي ته اوبه اچوي دهغه له پزي څخه ګناهونه وزي کله چه مخ مينځي
دهغه له مخ څخه ګناهونه وزي کله چه لاسونه مينځي دهغه ترنوکانو پوري ګناهونه
پاکیږي کله چه دسر مسح کوي دهغه دسر ګناهونه پاکیږي آن داچه دغوږوترلاندي حصي
پوري ګناهونه پاکیږي بیا دهغه د مسجد په طرف تلل اوراتلل هم په عبادت کي داخلیږي
روایت ده چه اودس لرونکي سړي دروژي والا په رکم وي دنبي کریم ﷺ ارشاد مبارک ده
هرچاچه ښه صحیح اودس وکړ بیایې له فارغیدو وروسته داسمان په طرف سرپورته
کړ اشهدان لااله الا الله وحده لاشریک له واشهدان محمدًا عبده ورسوله یې ووایه دهغه لپاره
دجنت اته دروازي خلاصیږي له کومي دروازي څخه چه یې زړه غواړي داخل دي سي
دحضرت عمر ﷺ قول ده چه ښه اودس له تاڅخه شیطان تښتوي دمجاهد ﷺ قول ده که
کم سړي ددي خبري طاقت لري چه په اودس کي ذکر اواستغفار وکي ټوله شفه په اوداسه
تیره کي هغه ته داسي کول په کاردي ځکه چه په کم حالت کي روح قبض سي په هغه حالت
کي بیا راپورته کیږي روایت ده چه حضرت عمر ﷺ درسول الله ﷺ یو صحابي کعبي ته
دغلاف راوړلو لپاره مصرته ولیږي هغه په شام کي په یو داسي ځای کي قیام وکړ چه هلته
داهل کتاب یولوي عالم(صومعه) وود عمر ﷺ ددغه قاصد په زړه کي ددغه عالم دلیدو

اوله هغه سره دخبرو کولو هیله پیداسوه هغه دهغه عبادت ځاي ته راغي دروازه يې
وروتکوله ډير وخت وروسته يې دروازه خلاصه کړه بیادعالم خواته ورغي له هغه څخه يې
دخبرو اترو کولو غوښتنه وکړه دهغه له خبراوعلم څخه ډير حيران سو په آخر کي يې
ددروازي دخلاصولو په اړه شکايت وکړ چه ډير وخت وروسته يې راخلاصه کړه هغه ورته
وويل کله چه ته راغلي موږ په تاکي دباچهانو په ړکم هيبت وليدي ځکه موږ ويريدو اوته
مو په دروازه کي ودرولي چه الله ﷻ حضرت موسی عليه السلام ته وفرمايل اي موسی کله چه کم
باچاستاپه زړه کي بيره پيداکي ته په خپله هم اودس وکه اودکور نورو خلکو ته هم داودس
کولو حکم وکه په دي سره به تاته امان په نصيب سي موږ هم دروازه بنده کړه موږ ټولو
اودسونه وکړل بیاموږ لمنځونه وکړل له موږ څخه ستاييره ولاړه دروازه مو درخلاصه کړه .

## دري شپيتم باب دلمانځه فضيلت

چونکه لمونځ ډير افضل عبادت ده ځکه موږ دکتاب الله پيروي وکړه اودلمانځه طرف ته
دترغيب ورکولو په خاطر مو دوهم وار دهغه يادونه وکړه ځکه چه موږ دلمانځه په باره کي
کم څه ليکلي دي دهغه څخه زيات آيتونه او احاديث راغلي دي لکه درسول ﷺ ارشاد چه
ده دبنده لپاره تردي بل لوي انعام نسته چه هغه ته ددوه رکعته لمانځه کولو اجازه وکړه سي
دحضرت محمدبن سيرين رحمه الله وينا ده که ماته دجنت اوددوو رکعتونو په مينځ کي
اختياررا کړ سي زه به دوورکعتونه ترجيح ورکم ځکه چه په دوه رکعته لمانځه کي
دالله ﷻ رضا او په جنت کي زمارضاده ويل کيږي چه الله ﷻ اووه اسمانونه پيدا کړه نوله
ملائکو څخه يې ډک کړل هغه دالله ﷻ له عبادت څخه ديوي شيبي لپاره هم نه غافله کيږي
الله ﷻ دهراسمان دملايکو لپاره دعبادت يوډول مقرر کړي دي ديوو اسمان ملائکي
ترقيامه پوري په قيام کي دي ديوو اسمان ملائکي په رکوع کي دي اوديوو اسمان داپه
سجده کړ دي ديوو اسمان ملائکو دالله ﷻ له ويري څخه خپل لاسونه غزولي دي دعليين
اوعرش ملائکي په صفونو کي ولاړي دي اوپرالهي عرش طواف کوي دالله ﷻ حمد وايي
دمځکي داوسيدونکو لپاره مغفرت اوبخښنه غواړي مگرالله ﷻ داټول عبادتونه په يوو
لمانځه کي جمع کړي دي ترڅو مؤمنانو ته دآسمان دملائکو ټولو دعبادتونو حصه ورکړه
سي اجراوثواب ورکي الله ﷻ مؤمنانو ته دآسمان دعبادت دشکرادا کولو لپاره امر ورته
کړي ده دلمانځه شکرداده چه په پوره شرائطو اوحدودو سره اداسي الهي ارشادده:

الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ سورة البقرة آية(۳) . ژباړه: هغه خلک
چه پرغيبو ايمان راوړي لمنځونه کوي زموږ دورکړي رزق څخه خرڅ کوي الهي فرمان

ده: اقيموا الصلوة ژباړه: تاسي لمنځونه دروئ . اقيموا الصلوة لمونځ قائم كړئ .والمقيمين الصلوة ځوک چه لمنځونه دروي په قرآن كريم كي چه هرځاي دلمانځه يادونه سوي ده هلته دهغه دقائمولو حكم هم سوي ده الله ﷻ چه كله دمنافقانو يادونه وكړه نوويې فرمايل:

فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ سورة الماعون آية(٥/٤). هلاكت ده دهغه لمونځ گذارانو لپاره چه له خپلو لمنځوسره سستي كوي الله ﷻ په دي آيت كي منافقانو ته مصلين ويلي دي اودمؤمنانو ديادوني په وخت كي يې فرما يلي: والمقيمين الصلوة دي ځوک چه لمنځونه دروي دايې ځكه وويل ترڅوڅرگندسي چه لمونځ گذاران خوديردي ليكن په صحيح معني لمونځ كوونكي لږ دي غافل خلک خوصرف درواج ترحده پوري عمل كوي هغوته هغه ورځ به يادنه راځي په كومه ورځ چه اعمال وړاندي كيږي له نبي كريم ﷺ څخه روايت ده چه بېشكه له تاسوڅخه ځيني هغه دي چه لمنځونه خوكوي مگر له لمانځه څخه دريمه، ځلورمه، پنځمه ، ياشپږمه حصه تردي چه رسول ﷺ ترلسمي حصي پوري حساب وكړ اوويې فرمايل ثواب ورته ليكل كيږي يعني هغه چاته دلمانځه ثواب وركول كيږي چه په پوره اطمينان اوتوجه سره يې كوي له محمد ﷺ څخه روايت ده چه هرچا الله ﷻ ته په پوره توجه سره دوه ركعته لمونځ وكړ هغه په دي ورځ دگناهونو څخه داسي پاک سولكه په كمه ورځ چه مور تازه زيږولي وو حقيقت داده چه دبنده لمونځ هلته قدرمند كيږي چه لمونځ كوونكي ئولوله توجه الله ﷻ ته واړوي كه دهغه توجه الله ﷻ ته نه وي اوپه خپلو خيالاتوكي ډوب وي دهغه مثال داسي ده لكه كم سړي چه دخپلي معافي لپاره دباچا دربارته روان وي كله چه دباچا دربارته ورسيدي اوباچاهغه خپل مخ ته ولاړ وليدي اوورته متوجه سو نوهغه اخوا ديخواته كتل باچادهغه ضرورت پوره نكړ باچا دهغه دتوجه په برابر خپل فضل ورباندي كوي خبره يې اوري همداسي كله چه سړي په لمانځه كي داخل سي اونورو خيالاتوكي مشغول سي دهغه لمونځ هم نه قبليږي خبرسئ چه دلمانځه مثال دواده دهغه ډوډۍ ددعوت په شان ده چه يوباچا تياره كړي وي په دي كي ډول ډول خوراكونه وي ياخلكوته دعوت وركي لمونځ هم داسي دعوت ده چه الله ﷻ دي ته خلک رابللي دي اوپه دي كي يې مختلف افعال اواذكار وديعت كړي دي ترڅو بنده دهغه ﷻ عبادت وكي اودبندگي قسم قسم خوندونه واخلي ددي افعال دډوډۍ په ركم اواذكار يې دچښلودشيانو په ركم دي داهم ويل سوي دي چه په لمانځه كي دوولس زره افعال وه بياله دي څخه دوولس افعال خاص سول ځكه لمونځ كوونكي ته په كارده چه ددي

پوره خيال وساتي ترڅوچه بشپړ سي په دغو افعالو کي شپږ دلمانځه څخه بهردي او شپږ
دننه په لمانځه کي دي .اول علم ده ځکه چه دنبي کريم ﷺ ارشاد ده چه هغه لږ عمل چه
پر انسان يې په بشپړ علم سره ترسره کي ترهغه عمل زيات افضل ده چه په بي خبري
او جهالت کي اداسي .دوهم اودس ده ځکه چه نبوي ارشادده چه له اوداسه بغير لمونځ نه
صحيح کيږي.
دريم لباس(جامي)دي لکه الله ﷻ چه فرمايي: خُذُوا زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ الآية. ژباړه:
تاسي په هرلمانځه کي زينت حاصل کئ يعني دهر لمانځه لپاره جامي واغوندئ .دريم
دوخت پابندي ده لکه الله ﷻ چه فرمايي: إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا سورة
النساء آية(١٠٣). ژباړه: بيشکه لمونځ پرمؤمنانو په ټاکلي وخت فرض سوي ده .پنځم قبلې
ته مخ کول دي په دي اړه الهي حکم ده: فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ سورة البقرة آية(١٤٤).
ژباړه: خپل مخ مسجد حرام ته واړوه .شپږم نيت ده نبوي فرمان ده: انما الاعمال بالنيات
وانما لامرئ مانوى. داعمالو دار اومدار پرنيتونو باندي ده دهرچالپاره هغه څه دي چه
دهغي نيت يې کړي وي .اووم تکبير تحريمه ده نبوي ارشادده: تحريمها التکبير وتحليلها
التسليم. ددي تحريم تکبير اوتحليل يې سلام دي .اتم قيامه ده ځکه چه الهي فرمان
ده: وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ سورة البقرة آية(٢٣٨). ژباړه: دالله ﷻ په وړاندي په اطاعت سره
ودريږئ يعني په ولاړه لمونځ وکړئ .نهم دسورة فاتحي ويل دي ځکه چه الهي فرمان
ده: فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ سورة المزمل آية(٢٠). ژباړه: هغه څه چه له قرآن څخه تاسي ته اسانه
وي هغه وواياست .لسم رکوع کول دي ځکه چه الهي فرمان ده: واركعوا مع الراكعين. او د
رکوع کوونکو سره رکوع وکړئ .يوولسم سجده ده په دي اړه دالله ﷻ امر ده:
واسجدوا. سجده وکړئ .دوولسم قعده ده نبوي ارشادده چه کله کم سړي له اخري سجدي
څخه سرپورته کي اوداالتحيات وروسته کېنيني دهغه لمونځ مکمل سو کله چه دغه
دوولس شيان پوره سي نوددغو ټولو دتکميل لپاره يوبل شي ته ضرورت ده هغه دزړه
اخلاص ده ترڅو چه په هغه سره ستالمونځ په صحيح معني سره اداسي الهي فرمان ده:
فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ سورة الزمر آية(٢). ژباړه: دالله ﷻ عبادت وکړئ په داسي حال کي چه
الله ﷻ ته مودين خالص کړي وي موږ دټولو څخه مخکي دعلم يادونه وکړه دعلم دري

قسمونه دي يو داچه فرائض اوسنت دي له هغو څخه خبر وي څکه چه دادلمانځه دمکمل
کولو لپاره يوه لاره او واسطه ده دشيطان له مکر څخه به خبر سي په دي سره به دهغه مخ
ونيسي . ودس په درو شيانوسره پوره کيږي اول داچه ته له خپل زړه څخه کين، حسد
او عداوت ليري کي دوهم داچه خپل بدن له گناهونو څخه پاک دي دريم داچه او به صحيح
استعمال کي اودضائع کولو دبدن اندامونه پريمنځي .لباس په درو شيانو سره پوره کيږي
اول داچه دحلالي گټي څخه ترلاسه سوي وي دوهم داچه له نجاست څخه پاک وي دريم
داچه دسنت مطابق جوړسوي وي دتکبر اوخود بيني لپاره يې نه وي اغوستي .دوخت
پابندي په دروشيانو کي حصر ده اول داچه ته دومره علم ولري چه دلمر، سپوږمۍ
او ستورو په کومک سره وخت وپيژندلاي سي دوهم داچه ستاغوږونه اذان اوريدو ته
منتظر وي دريم داچه ستازړه دلمانځه دوخت لپاره په فکر کي وي.نيت په دروشيانو سره
مکمل کيږي اول داچه تاته داعلم وي چه دالله ﷻ په حضور کي ولاړيې اوهغه ﷻ تاوينې
ته په بيره او عاجزي کي ولاړيې دريم داچه تاته معلومه وي چه الله ﷻ ستادزړه درازونو
څخه خبر دي او ته له زړه څخه دنياوي خيالات وباسي .تکبيرتحريمه هم په درو شيانو سره
پوره کيږي اول داچه ته په صحيح معني دالله ﷻ لويې بيان کي اوپه صحيح توگه الله اکبر
وو يې دوهم داچه خپل دواړه لاسونه دغوږونو ترنرمۍ پوري پورته کي دريم داچه دتکبير
تحريمه دويلو په وخت کي ستا زړه هم حاضر وي اوپه پوره تعظيم سره الله اکبر
وو يې .قيام هم په دروشيانو سره پوره کيږي اول داچه ستاسترگي دسجدي پرځاي باندي
وي دوهم داچه ستا زړه دالله ﷻ پرطرف متوجه وي دريم داچه يرو طرف اوبل طرف ته نه
وگوري .قرائت هم په دري شيانو سره پوره کيږي اول داچه الحمد لله په صحيح تلفظ سره
ووايې اودغزلو په رکم يې ونه وايې دوهم داچه په غور اوفکر سره يې ووايې اوپر معنى
يې غور وکي دريم داچه هرڅه ووايې په هغه عمل هم وکي .رکوع هم په درو شيانو سره
پوره کيږي اول داچه ملا هواره ونيسي دوهم داچه خپل لاسونه پرزنگنو باندي ونيسي
دريم داچه په کامل اطمينان سره رکوع وکي اوپه پوره وقار تعظيم سره سجده وکي
اوتسبيحات ووايې .

سجده هم په درو شيانو سره پوره کيږي اول داچه خپل دواړه لاسونه دغوږونو په برابري کې
کښيږدي دوهم داچه خپل لاسونه دبدن څخه ليري ونيسي دريم داچه په بشپړه اطمينان سره
دسجدي تسبيحات ووايې .قعده هم په درو شيانو سره پوره کيږي اول داچه راسته پښه
ودروي اوبرچپه پښه کښيني دوهم داچه التحيات په پوره تعظيم سره ووايې دخپل ځان

اوبل مسلمان ورور لپاره دعا وکي دریم داچه ددي په اختتام کي سلام وګرځوي سلام په دي طریقه سره پوره کیږي چه راسته طرف ته دسلام دګرځولو پروخت دانیت وکي چه دراسته طرف ملائکو، سړو، اوښځو، ته سلام کوم همداسي چپه طرف ته دسلام ګرځولو په وخت کي به هم ستادانیت وي اوخپل نظر دخپلو دواړو اوږو څخه بل طرف ته وانه ړوي .اخلاص هم په دري شیانو سره پوره کیږي یوداچه له لمانځه څخه غرض یوازي دالله ﷻ رضا ترلاسه کول وي دوهم داچه دلمانځه توفیق دالله ﷻ له طرفه څخه وګڼي دریم داچه ته دخپل لمانځه پوره حفاظت وکي ترڅو دقیامت په ورځ دالله ﷻ په حضورپیش کړي ځکه چه الهي فرمان ده :

من جاء بالحسنة څوک چه له نیکیو سره راغي دایي ونه فرمایل: من عمل بالحسنة چا چه نیکي وکړه ځکه نوخپل نیکي په بدو اعمالو سره مه بربادوه اوالله ﷻ ته خالي لاس مه ورځه.

## څلور شپیتم باب دقیامت الټونه

روایت ده چه حضرت عائشي رضي الله عنها دمحمد ﷺ څخه پوښتنه وکړه ایاد قیامت په ورځ به یودوست بل دوست یادوي؟ رسول ﷺ ورته وفرمایل په درو ځایو کي هیڅوک بل څوک نه سي یادولي اول دعمل دتللو په وخت ترڅوچه دخپل اعمالوتله درنه یاسپکه ونه ویني داعمال نامو دالوتو پروخت ترهغه چه کله دجهنم څخه یوبڅرکي راووزي اوپه خلګو پسي روان سي اووایي چه زه دهرمشرک سرکش متکبر اودقیامت څخه دنه یریدونکي سړي باندي مقررسوي یم هغه به ټول په خپلو لمبو کي راونغاړي اودجهنم کندوته به یې وغورځوي پرجهنم تریښته زیات نري اودتوري ترتیغ زیات تیره پل ده پرهغه به اغزي وي خلک به پرهغه دبرق اوبریښنا په رکم تیریږي .**داسرافیل ﷺ دصور حقیقت**: دحضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت ده چه محمد ﷺ وفرمایل کله چه الله ﷻ اسمان اومځکي پیداکړي نوورروسته یې شپیلۍ ځني پیداکړه اسرافیل ﷺ ته یې ورکړه چه په خوله کي یې کښېږدي عرش ته یې سترګي نیولي دي چه کله به دشپیلۍ دپوه کولو حکم کیږي ابوهریرة رضي الله عنه وایي ماعرض وکړ یارسول الله ﷺ شپیلۍ څشي ده؟ رسول ﷺ وفرمایل هغه دغوایي ښکرده ماوویل هغه څنګه ده؟ رسول ﷺ وویل ډیره لویه دائره لري په خداي قسم چه دهغې دائري پراخوالي دآسمان اومځکي په اندازه ده هغه دري واره پوه کل کیږي اول وار دیري لپاره دوهم وار دیري لپاره دریم وار له قبرونو څخه دراپورته کیدو لپاره یاروحونه داسي وزي لکه دشاتو مچمچۍ هغه دمځکي اواسمان ترمینځ خلاډکه کي

دېزې دلارې په جـــونوکې داخلېږي ييايې وفرمايل دټولو څخه مخکې به زماقبر خلاصـېږي په بل روايت کې دي چه الله ﷻ جبرائيل ؑ ميکائيل ؑ اسرائيل ؑ ژوندي کوي هغه به دمحمد ﷺ قبر ته راځي له هغوسره به براق اوجنتي لباس وي بيابه دمحمد ﷺ قبر خلاصـېږي اوپرجبرائيل امين باندې پرسترګو لګيدو سره سم به ووايي داکومه ورځ ده؟ جبرائيل ؑ به عرض وکي دادقيامت ورځ ده دادمصيبت ورځ ده دادسختي اوتکليف ورځ ده رسول ﷺ به وفرمايي اي جبرائيله الله ﷻ زماله امت سره څه وکړل؟جبرائيل ؑ به ورته ووايي تاته دې مبارک وي ته اول شخص يې چه له قبر څخه راوايستل سوي دحضرت ابوهريره ؓ څخه روايت ده چه محمد ﷺ وفرمايل الله ﷻ به وفرمايي اي جن اوانسه ماتاسوته نصيحت کړي وو واخلئ ستاسي اعمال ستاسي په عمل ناموکي ليکل سوي دي څوک چه خپل عمل نامه ښه وويني هغه دې دالله ﷻ حمد بيان کړي او څوک چه يې ښه ونه ويني هغه دې خپل ځان ملامت کې دجناب يحيی بن معاذ ؒ څخه روايت ده چه هغه په خپل مجلس کې داآيت واوريدې :

يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِينَ إِلَى الرَّحْمَٰنِ وَفْدًا وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا (سورة مريم آية ۸۵-۸۶) ژباړه: په دې ورځ هم موږ پرهيزګاران درحمن پرلور جمع کوو دوفد په صورت کې يعني پرهيزګاران به سپاره دالله ﷻ پرطرف روان سي اومجرمان به تږي جهنم ته روان سي محمد ﷺ فرمايل اي خلګو !په نيکی اوښيګڼه کې سبقت وکئ دحشر په ورځ تاسي له قبرونو څخه راپورته کېږئ له مختلفو طرفونو څخه ډلي روانېږي دالله ﷻ په حضورکي ځانته ځانته ودرېږئ له تاسو څخه ديوو يووحرف پوښتنه کېږي نيک خلک به دالله ﷻ حضورته سپاره راځي بدکاره خلک به پياده اوتږي راوستل کېږي خلک به ډلي ډلي په جهنم کې اچول کېږي او ورونو ستاسي په مخ کې داسي ورځ راتلونکې ده چه ستاسي ددنيا دورځوپه حساب سره يوه ورځ دپنځو سوزرو کالو سره برابره ده په دې ورځ کې به يېره اومنډه وي په دې ورځ به ټول انسانان دکائناتو دخالق په حضورکې درېږي داورځ دحسرت، افسوس، نکته چينې، محاسبه، آه وفرياد، مصيبت سختي اودوباره ژوندي کيدو ورځ ده په دې ورځ انسانان خپل ټول کړه وړه ويني په دې ورځ به ځيني مخونه سپين اوځيني توروي په دې ورځ به دچامال اولاد فائده نـــي ورسولاي بلکه هغه څه فائده ورکوي چه چاته يې په دنياکې ښه عقيده ساتلي وي په دې ورځ به دظالمانو هيڅ قسم عذر فائده نه ورکوي دهغه لپاره به لعنت اوبدځاي وي دجناب مقاتل بن سليمان ؒ قول ده چه دقيامت په ورځ خلک پوره شل ورځي چپ ولاړوي ترسلو کالو پورې به په تياره کې سرګردان ولاړوي سل کاله به

يوپربل باندي خيژي اوترپښوبه يې لاندي كوي دالله ﷻ په حضوربه يو دبل سره جګړه كوي دقيامت دورځي داوږد والي اندازه به پنځوس زره كاله وي مګر پرمؤمن مخلص باندي به داسي اسانه تيره سي لكه دفرضي لمانځه وخت دمحمد ﷺ حديث شريف ده چه دقيامت په ورځ به دبنده قدم ترهغه پورته نه سي ترڅوپوري چه يې دڅلورو سوالونو جوابونه نه وي وركړي هغه څلور دادي :عمر دي څنګه تيركي ، خپل ځان دي په څه كي مشغول وساتي، په خپل علم دي څومره عمل وكړ،مال اودولت دي څنګه وګټي څنګه دي خرڅ كړ له حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت ده چه محمد ﷺ وفرمايل الله ﷻ هرنبي ته يوه يوه دقبليدو دعاګاني وركړي وي هغو ټولو خپلي دعاګاني وغوښتي مګر ما خپل دعا دقيامت په ورځ دخپل امت دشفاعت لپاره ساتلي دي اي ذوالجلال ربه! درسو ل الله ﷺ دحرمت اوتوقير په بركت اوطفيل سره موږ هم دهغه ﷺ دشفاعت څخه محروم نه كي آمين .

## پنځه شپيتم باب جهنم اوميزان

كه څه هم دجهنم اوميزان يادونه موږ مخكي وكړه خودوباره موږ ځكه يادونه كوو چه شايد غافل اوبيكاره زړه ددي څخه زياته ګټه واخلي الله ﷻ په قرآن كريم بار بار دجهنم اوميزان احوال بيان كړي دي ترڅو عقلمند خلګ ددي څخه عبرت حاصل كي اوپه دي پوه سي چه ددنياهيڅ غم اوتكليف دجهنم اوميزان دتكليف په مقابل كي هيڅ حيثيت نه لري اوآخرت هميشني ژوندده په حديث شريف كي دي چه په جهنم كي دير زيات تياره وي په هغه كي هيڅ قسم رڼا نسته ددي اووه دروازي دي په هره دروازه كي اويازره غرونه دي په هر غر باندي اويادري دي په هره دره كي اويازره درازونه دي په هردراز كي داور اويازره دري دي په هره دره كي داور اويازره كورونه دي په هركور كي اويازره لړمان دي دهرلړم اويازره نيښونه دي په هرنيښ كي اويا زره مهرونه دي په هره مهره كي دزهرو اويازره منګي دي كله چه دقيامت ورځ سي له هغوڅخه پرده پورته كيږي دانسانانو اوجنتيانو راسته اوچپه طرفونه ګرد اوغبار وي مخكي يې هم ګرد اودوړي وي شاته يې هم وي دجهنم دود به تردوي لوړ وي كله چه هغه ويني پرمخكه به غوځاري اوفرياد به كوي چه اي الله ﷻ موږ له دي مصيبته څخه وساته دمسلم شريف روايت ده چه محمد ﷺ فرمايلي دي چه دقيامت په ورځ جهنم ته اويازره زنځيرونه اچول كيږي هرزنځير به اويازره ملائكي راكشوي په حديث شريف كي دي چه محمد ﷺ دجهنم دملائكو دعظمت بيان كوي اووي فرمايل الله ﷻ دجهنم دملائكو په باره كي فرمايلي دي: غلاظ شداد هغه به دير

سخت او مضبوط وي ويې فرمايل دهري ملائکې ددواړو وږو ترمينځ ديوو کال فاصله
وي اوپه هغه کي دومره قوت وي که هغه په هغه چټک سره چه په لاسوکي يې وي کم غر
ووهي نوهغه به ټوټه ټوټه سي هغه به دچټک په يووار وهل سره اويازره جهنميان دجهنم
لاندي تل ته وغورځوي الهي فرمان ده ﴿عليها تسعة عشر﴾ په جهنم باندي اوولس ملائکې
مقرري دي له دي څخه پرجهنميانو باندي دمقرر سوو ملائکو سرداران مراددي دجهنم
دټولو ملائکو شمير يوازي دالله ﷻ څخه بغير بل چاته نه ده معلوم له حضرت ابن
عباس ؓ څخه دجهنم دوسعت په اړه پوښتنه وسوه هغه وفرمايل په خداي قسم چه زه نه
پوهيږم جهنم به څومره وسيع اوعريض وي ليکن موږ دومره پوهيږو چه په جهنم باندي
دمقررو ملائکو څخه هره ملائکه دومره لويه ده چه دهغې دغوږو دنرمۍ اوورو ترمينځ
فاصله داوياکالو دسفر برابره ده اوپه جهنم دزوو اوګذک خوړونه بهيږي دترمذي شريف
په حديث کي دجهنم دديوالو غټوالي دڅلويښتو کالو دسفر په برابر ده دمسلم شريف په
روايت کي دي چه محمد ﷺ وفرمايل ستاسي دااور دجهنم داور داوياحصي دګرمي په
برابر ګرم ده اصحابو ؓ عرض وکړ يارسول الله ﷺ دااور خوهم ډير ګرم ده محمد
ﷺ وفرمايل دجهنم اور ددغه له ګرمۍ څخه (۶۹) واره زيات ګرم ده نبوي فرمان ده چه که
نه جهنميانو څخه يوجهنمي خپل لاس دنياته ورښکاره کي دهغه په ګرمي سره به دنيا
وسوځي که دجهنم له ملائکو څخه يوه ملائکه دنياته راسي اوخلک هغه وويني ډير خلک
به له بيري مړه سي دمسلم شريف حديث ده چه محمد ﷺ له اصحابو ؓ سره يوځاي
ناست وو هغوي ديو چاودني اواز واوريدي محمد ﷺ اصحابو ؓ ته وفرمايل تاسي
پوهيږئ دادڅه اواز وو اصحابو ؓ عرض وکړچه الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ به
پوهيږي محمد ﷺ وفرمايل دادهغې ډبري دلويدو اواز وو چه اوياکاله مخکي جهنم ته
ايله سوي وه اوس دجهنم بيخ ته ورسيده حضرت عمر بن خطاب ؓ به اکثره ويل چه جهنم
زيات يادوئ ځکه چه دهغه ګرمي ډيره سخته اوژور والي يې ډير زيات ده چټکونه يې
داوسپيني دي حضرت ابن عباس ؓ به ويل چه جهنم خپل اوسيدونکي داسي تيروي لکه
مرغان چه دانې تيروي دهغه ؓ څخه ددي آيت ﴿إِذَا رَأَتْهُم مِّن مَّكَانٍ بَعِيدٍ سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا
وَزَفِيرًا﴾ سورة الفرقان آيه (١٢) دمعنى په اړه پوښتنه وسوه هغه ؓ وفرمايل تاسي دمحمد ﷺ
افرمان نه ده اوريدلي چه څوک قصدًا کمه خبره ماته منسوبوي هغه دي خپل ځاي دجهنم
ددوو سترګو په مينځ کي ولټوي محمد ﷺ ته عرض وسو ايادجهنم هم سترګي سته؟

رسول ﷺ وفرمايل اياتاسي دالله ﷻ دافرمان نه ده اوريدلي چه فرمايي: [إِذَا رَأَتْهُم مِّن مَّكَانٍ بَعِيدٍ سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا سورة الفرقان آية (١٢)] ژباړه: ددي روايت تائيد هغه حديث هم کوي چه پکښي راغلي دي دجهنم څخه به يوه غاړه راووزي هغه به دوي سترګي دليدو لپاره اويوه ژبه دخبرولپاره لري هغه به وايي زه نن دهغه چالپاره مقررسوي يم چه له الله ﷻ سره يې شريک نيولي وو هغه له هغه مرغه څخه زيات په سترګو بنه ويني چه دکونجتو داني تيوي اوخوبنوي يې داعمالو دتتلو په هکله نبي کريم ﷺ وفرمايل جنت به دالله ﷻ دعرش راسته طرف ته اودوږخ به دعرش چپه طرف ته کښيښوول سي څکه دنيکي پله به دجنت په خواکي وي اودبدۍ پله به ددوږخ په خواکي وي حضرت ابن عباس ﷺ به ويل بدي اونيکي په داسي تله کي تلل کيږي چه دهغه به دوي پلي اوژبه وي هغه ﷺ به ويل کله چه الله ﷻ دبندګانو داعمالو دتللو اراده وکي هغوته جسم ورکوي اودقيامت په ورځ يې تلي.

## شپږشپيتم باب کبر اوخودبيني

الله ﷻ دي موږ ټولوته ددنيااوآخرت توفيق راکي بنه فکر اوغور وکئ چه تکبر اوخود بيني انسان دفضائلو څخه ليري کوي اودرزائلو دترلاسه کولو ذريعه ګرځي ستا دارزالت همدومره کافي ده چه دنصيحتونو اوريدوته دي نه پريږدي اودبنه عملونو دکولو څخه دي منع کوي څکه خوهوښيارانو داويلي چه په حيااوتکبر سره علم ضائع کيږي علم دتکبر پاره مصيبت ده لکه دلوړو بلډنګونو اوبنګلو لپاره چه سيلاب مصيبت وي نبوي حديث ده چه هرهغه سړي جنت ته نه ځي چه په زړه کي يې ديوي داني په اندازه کبر وي نبوي حديث ده هرڅوک چه دکبر له وجه خپلي جامي پرمځکه اچوي الله ﷻ هغه ته درحمت په نظر نه ګوري دهوښيارانو قول ده چه دتکبر اوخود بينۍ له وجه ملک هميشه نه پاته کيږي الله ﷻ هم تکبر له فساد سره يوځاي بيان کړي ده لکه دالله ﷻ فرمان چه ده: [تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا سورة القصص آية (٨٣)] الهي فرمان ده: [سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ سورة الاعراف آية (١٤٦)] ديو دانا قول ده چه کله زه متکبر ووينم نودهغه جواب په تکبر سره ورکوم روايت ده چه ابن عوان دبر زيات متکبر انسان وو هغه يوه ورځ خپل غلام ته وويل ماته اوبه راکه هغه وويل بنه ابوعوان وويل بنه دي هغه څوک ووايي چه دنه ويلو اختيارلري دغه خبره يې ورته وکړه اويوه چپلاخه يې هم ورواهه بيايي يو باغوان راوغوښتي خبري اتري يې ورسره وکړي کله چه له خبرو څخه فارغ

سو اوبه يې راوغوښتلې خوله يې ورباندې پريمنځله ترڅو له هغه سره دخبرو کولو نجاست نيرې کې ويل سوي دي چه فلانکې سړي هغه خپل کبر هغه خپلې پوړې ته رسولې ده که راولوېږي نوهډوکي به يې ټوټې ټوټې سي يعني مړ به سي دحافظ قول ده چه په قريشو کې دبنو حزم اوبنو اميه کبر ډير مشهور وو اوپه عربو کې دبنو جعفر بن کلاب او بنو زراره بن عدي تکبرمشهور وو دکاسره اوسيدونکي به يې خپل غلامان ګڼل دبنو عبد الدار قبيلې يوو سړي ته وويل سوه چه تاسي خليفه ته ولې نه راځئ ؟ هغه وويل زه له دي خبري څخه بيريږم چه هغه پاګل به زما دشرف دروندوالي پورته نه کړاي سي حجاج بن ارطات ته وويل سوه څه وجه ده چه ته په جماعت کي نه شامليږې ؟ هغه وويل زه ددوکاندارانو له فريب څخه بيريږم داهم ويل سوي دي چه وائل بن حجر دمحمد ﷺخواته راغي محمد ﷺورته لږ څه مځکه ورکړه محمد ﷺامير معاويه﷛ته وفرمايل چخ مځکه ورته وښيه اوپسي ويې ليکه معاويه﷛په سخته ګرمي کي ورسره ولاړي هغه پراوښ باندې سپورسو معاويه﷛پياده ولاړي کله ګامي په عذاب کړنويې ورته وويل چه ماهم له ځانه سره کښينوه هغه ورته وويل نه دي کښينوم ځکه چه زه له هغو باچهانو څخه نه يم چه خلګ پسي سپروي معاويه﷛ورته وويل بيانو څپلۍ راکه وائل ورته وويل اي دسفيان زويه!زه دبخل له وجه نه بلکه له دي وجه خپلې څپلۍ نه درکوم چه زه داخبره نه خوښوم چه ديمن حاکمانوته داخبر ورسيږي چه تازماڅپلۍ په پښوکړي دي البته ستادعزت په خاطر دومره اجازه درکول چه زماداوښ ترسايه لاندې ولاړسه روايۀ ده چه هغه دامير معاويۀ دخلافت زمانه وليدله اوورته راغي هغه يې له ځانه سره نزدي کښيناوو خبري يې ورسره وکړي مسرور بن هند يوسړي ته وويل ته ماپيژني؟ هغه سړي ورته يانه دي پيژنم ده ورته وويل زه مسرور بن هنديم هغه ورته وويل زه تانه پيژنم مسرور بن هند په چيغو وويل خداي دي هغه څوک هلاک کي چه دآسمان سپوږمی نه پيژني دداسي متکبرانو په باره کي يو شاعر ويلي دي؛

لولا احمق يلوي البته الحدعه «لو كنت تعلم ما في التيه لم تته

التيه مفسد للدين منقصة «للعقل مهلكة للعرض فانتبه

**ژباړه**:هغه کم عقل ته ووايا ست چه دکبر له وجه دخپلو کوناټو په بنوررولو تک کوي که تاته معلوم سي چه په دي کي څه دي نوحيران به سي دهغه داکار په دين کي دفساد، کم عقلي، اودعزت دهلاکت، باعث ګرځي ددي څخه ځان خبر که ويل سوي دي هرسړي سړي کبر کوي اوهر دروند اولوړي مرتبې والاسړي عاجزي کوي نبوي حديث ده چه درې

ښـ ن هلاکونکي دي دائمي بخل، دنفساني خواهشاتو پيروي، اوخپل ځان ډير لوي ګڼل،
له حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت ده چه محمد ﷺ فرمايل کله چه دنوح ﷺ د
وصـال وخت نږدي سو هغه خپل اولاد راوغوښتل اوورته ويې ويل زه تاسوته ددوو شيانو
حکم اوددوو شيانو څخه بومنع کوم له شرک، اوتکبر،څخه مومنع کوم اودلااله الاالله
دويلو حکم درته کوم ځکه که دمځکي اوآسمانو موجودشيان په يوه پله کي واچول سي
وکلمه په بله پله کي نوکلمه به وربانديي درنه سي که آسمان اومځکه په يوه دائره کي
اوکلمه په هغه کي کښېښوول سي هغه به دوي توټي سي تاسوته دسبحان الله وبحمده
دويلو حکم کوم ځکه چه داکلمه دهرشي لمونځ ده په دي وجه رزق ورکول کيږي دحضرت
نبـي ﷺ فرمان ده چه دهغه چالپاره زيري ده چه الله ﷻ دکتاب علم ورکړي وي اوپه کبر
کي نه وي مړسوي يووار حضرت عبدالله بن سلام ﷺ دلرګيو يوه ګيډۍ پرسر ايښي وه
دبازار څخه تيرسو چاورته وويل تاته ددي څه ضرورت وو چه پرسردي لرګي پورته کړي
وو ؟ هغه ﷺ وويل ماغوښتل چه په دي سره زما دزړه څخه کبر ختم په تفسير قرطبي کي
دي چه دالهي فرمان: ولايضرب بارجلهن .النورآيت(٣١) زباره:مطلب داده چه که هغه دزينت
ښکـارولو اوڅاښته دتوجه دراړولو لپاره داکار کوي نوداورته حرام ده همداراز هرڅوک چه
خپلي ښپلې پرمځکه په زوره زوره وهي داهم حرام ده ځکه چه په دي کارکي تکبرده .

## اووه شپيتم باب له يتيم سره ښه کول اوپر هغه له ظلم څخه ځان ساتل

دبخاري شريف حديث دي چه زه اوديتيم ضمانت کونکي داسي يولکه دادوي ګوتي
دشهادت اوورسره منځنۍ ګوته پورته کړه اواشاره يې ورته وکړه دمسلم شريف حديث ده
چه محمد ﷺ فرمايلي دي زه اوديتيم پالونکي اګر که يتيم دهغه خپل وي ياپردي په جنت
کي داسي سره نږدي يو لکه دادواړي ګوتي دشهادت اوورسره منځنۍ ګوته پورته اواشاره
يې ورته وکړه دبزاز حديث ده چه هرچا دکم يتيم پالنه وکړه اګر که يتيم دهغه خپل وي زه
اوهغه داسي سره نږدي يو لکه دادواړي ګوتي چه خپل په مابين کي سره نږدي دي اوچاچه
ددرو لوڼو پالنه وکړه هغه به په جنت کي وي اوهغه ته دالله ﷻ په لاره کي دمجاهد اوروژه
دار په اندازه ثواب ورکول کيږي دابن ماجة حديث ده چه هرچا ددري يتيمانو پالنه وکړه
هغه سري ته دومره ثواب ورکول کيږي لکه دشپې چه عبادت کوي اودورځي روژه نيسي
اودالله ﷻ په لاره کي توره په لاس ميدان ته تللي وي زه اوهغه په جنت کي دداسي دوو
وروڼو په رکم يولکه دادوي ګوتي چه خپل په مابين کي سره نږدي دي بيارسول ﷺ
شهادت ګوته اوورسره نږدي ګوته پورته کړه ترمذي په صحيح سند سره روايت کړي ده

هرچاچه دکم مسلمان یتیم دخوراک چښاک ضمانت وکړالله ﷻ هغه جنت ته لیږي مګر داچه داسي ګناه یې کړي وي چه دبخښلو وړنه وي ترمذي په حسن سند سره روایت کړي ده چاچه دیتیم پالنه وکړه هغه یې په خپلو پښو ودراوو الله ﷻ دهغه لپاره جنت واجبوي دابن ماجه حدیث ده چه محمد ﷺ وفرمایل دمسلمانانو دټولو څخه بهتر کورهغه ده چه په هغه کور کي له یتیم سره ښه سلوک کیږي اودیو مسلمان لپاره بد کور هغه ده چه یتیم ته تکلیف اوازار ورکوي ابو یعلي په حسن سند سره روایت کړي چه محمد ﷺ وفرمایل زه به اول شخص یم چه زمالپاره به دجنت دروازه خلاصه سي مګر زه ترخپل ځان مخکي یوه ښځه وینم اوپوښتنه څني کوم چه ته څوک یې؟ له ماڅخه مخکي ولي روانه یې؟ هغه به ووایې زه داسي ښځه یم چه دخپلو یتیمانو ماشومانو دپالني لپاره په کورکي ناسته وم دطبراني روایت ده چه محمد ﷺ وفرمایل په هغه ذات مي قسم ده چه زه یې په حقه نبي رالیږلي یم الله ﷻ د قیامت په ورځ پرهغه سړي عذاب نه نازلوي چاچه پریتیم رحم کړي وي اوله هغه سره یې نرمي خبري اتري کړي وي اوپه خپل پناه کي یې واخستي اوظلم زیاتي نه ورباندي وکي دامام احمد ﷺ اونوروحدیث ده چه هرچاچه دالله ﷻ درضا په خاطر دکم یتیم پرسرلاس راکش کړ هغه ته دهر وریښته په بدل کي چه دده لاس ورباندي تیرسوي وي ثواب ورکول کیږي اوکم سړي چه له یتیم سره نیکي وکي یایې پالنه وکي نوزه اوهغه په جنت کي ددغودوو ګوتو په رکم نژدي یودمحدثینو یوي دلي روایت کړي ده اوحاکم صحیح ورته ویلي دي چه الله ﷻ یعقوب ﷺ ته وفرمایل ستادسترګو دنظر دکمیدو اودملادکړوپیدو همداراز دیوسف ﷺ سره دخپلو ورونو دناړواسلوک کولو وجه داده چه تاته یوه ورځ یوروژه دار اویتیم راغلي وو تاسي سره دکورني یوه بزه حلاله کړه اوومو خوړه مګر یتیم ته مودودۍ ورنکړه الله ﷻ هغه ته خبر ورکړچه زه په خپل مخلوق کي ترټولو هغه څوک زیات خوښ ګڼم چه دیتیمانو اومسکینانو سره مینه کوي الله ﷻ هغه ﷺ ته وحي وکړه چه یتیمان راوغواړه اودوډۍ ورباندي وخوره هغه هم داسي وکړه په صحیحینوکي دحضرت ابوهریره ﷺ روایت ده چه محمد ﷺ وفرمایل دکونډي، یتیم، اومسکین پرورش کوونکي داسي ده لکه دالله ﷻ په لاره کي جهادکوونکي غالبًا دایې هم وفرمایل هغه شخص دهغه چا په رکم ثواب ترلاسه کوي چه دشپي عبادت کوي اودورځي روژه نیسي دابن ماجه حدیث ده چه دکونډي، اومسکین پالونکي سړي دفي سبیل الله مجاهد په رکم ده دهغه چاپه رکم ده چه دشپي عبادت کوي اودورځي روژه نیسي دسلفودیو ﷺ بزرګ څخه روایت ده چه زه دژوند په اول وخت کي شرابي اوبدکاره وم مایوه

ورځ یو یتیم ولیدي ډیر بنه سلوک مي ورسره وکړ بلکل لکه پلار چه یې له خپل زوي سره کوي بلکه ترهغه هم بنه سلوک کله چه زه بیده سوم نو خوب مي ولیدي چه دجهنم ملائکي په ډیر قهر سره ماراکشوي اودوږخ ته مي وړي په دي وخت کي هغه یتیم هلک راغي اوورته ویې ویل داسړي پریږدئ ترڅو دده په اړه له الله ﷻ سره خبري وکم مګر هغو انکار وکړ په دي وخت کي اواز وسو داپریږدئ مادغه سړي پریتیم باندي درحم له وجه معاف کړ زه له خوبه راویښ سوم له هغه وخته له یتیمانو سره بنه کوم دساداتو په یوو ماړه کورکي سیداني اوسیدلي دالله ﷻ کره داسي وه چه دهغو پلار وفات سو دهغه واړه ماشومان دفقر اولوږي ښکارسول تردی چه هغو دشرم په وجه خپل وطن پریښووي له وطن څخه ووتل یووران ویجاړ مسجد کي یې واړول دهغومور هغه هلته کښینول په خپله په دودی پسي ووته هغه دیوښار دامیر وکورته ورغله چه ډیربنه مسلمان وو هغه ته یې خپل تول سرګزشت بیان کړ مګر هغه ونه منل ودیته یې داسي وویل یوداسي شاهد راوله چه ستاددي بیان تصدیق وکي زه به ستا مددوکم هغه ښځه په دي پسي دباندي ووتله چه زه مسافره ستالپاره شاهد له کومه راولم بیادیومجوسي کره ولاړه هغه ته یې خپله ټوله واقعه بیان کړه مجوسي دهغي خبره ومنله اویوښځه یې ولیږلي چه دهغي ماشومان دلته راولي مجوسي دهغي په خدمت اواحترام کي هیڅ قسم قصوراوکمي ونکړه کله چه نیمه شپه تیره سوه نومسلمان امیر خوب ولیدي چه قیامت قائم سوي ده اومحمد ﷺ په خپل سرباندي لواء الحمد ترلي ده اودیوعظیم الشان محل خواته ولاړده هغه لږ څه ورورانډي سو اوله محمد ﷺ څخه یې پوښتنه وکړه دامحل دچاده؟ رسول ﷺ وویل دیومسلمان سړي لپاره ده مسلمان امیر وویل زه دالله ﷻ یومنونکي مسلمان یم محمد ﷺ ورته وویل دخپل دعوي لپاره شاهد راوله چه ته رښتیامنونکي مسلمان یې هغه ډیر پریشان سومحمد ﷺ ورته دهغه سیدي ښځي خبره وکړه چه ده شاهد څني غوښتي وو مسلمان امیر چه دمحمد ﷺ داخبره واوریده نودخوبه راویښ سواوډیر غمګین وو هغه دهغه ښځي اوماشومانو په طلب پسي ووائ تردي چه دمجوسي کورته ورسیدي هغه ته یې وویل چه دغه سیده ښځه اوماشومان یې ماته راکه خومجوسي انکار څني وکړ اوویې ویل چه ماددوي په وجه ډیر زیات برکتونه لیدلي دي مسلمان امیرورته وویل له ماڅخه زر دیناره واخله اودوي ماته وسپاره لیکن هغه انکار وکړبیادمسلمان امیر په زړه کي دمجوسي دتنګولو خیال راغي مجوسي دهغه په بدنیت پوه سو ویې ویل په چاپسي چه راغلي یې زه ترتادهغه زیات حقداریم اوتاچه په خوب کي کم محل لیدلي ده هغه زمالپاره

جورسوي ده ته په خپله مسلماني فخر كوي په خداي قسم چه زه اوزما دكور خلك ترهغونه يو بيده سوي ترڅوچه مور توللو ددغي سيدي په لاس موايمان نه وي راوړي ماهم ستاپه ركم په خوب كي د محمد ﷺ زيارت كړي ده او هغه پوښتنه راڅخه وكړه چه سيده او دهغي ماشومان له تاسره دي؟ ماوويل هو يارسول الله ﷺ هغه رسول الله ﷺ راته وويل دامحل ستااوستاد نورو كورنولپاره ده مسلمان امير چه داخبري واوريدي په ډير غم اوخفگان واپس سو .

## اته شپيتم باب دحرام مال دخوړلو بدي

الهي فرمان ده چه : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ سورة البقرة آية ١٨٨ ژباړه : اي مؤمنانو ! تاسي يو دبل مال په ناحقه سره مه خورئ ددي آيت په معني كي اختلاف ده څكه ددي څخه سود، قمار، غصب، غلا، خيانت، ددرواغو شاهدي، اوددرواغوپه قسمونوله يوچاڅخه مال ترلاسه كول مراددي دحضرت ابن عباس ﷺ قول ده چه ددي څخه مراد هغه شيان دي چه انسان يې په ناحقه طريقه سره ترلاسه كي چه كله داآيت نازل سو نوخلكو ديوا وبل خوراك، اوچنباك بند كړل بيوروسته دسورة داآيت نازل سو ستاسي لپاره په دي كي هيڅ باك نسته چه تاسي له خپل كورڅخه اودخپلو والدينوله كورونوڅخه خوراك اوچنباك وكړئ څينو ويلي دي چه له دي څخه مرادغلطه بيعه ده دابن مسعود ﷺ په قول داآيت له محكمانوڅخه ده چه ترقيامته پوري به يې حكم باقي وي ددي څخه دامراددي چه په ناروا طريقه سره خوراك كول هرهغه شي ته شامل دي چه په غلطه طريقه سره حاصل سي لكه غصب، ظلم، خيانت، غلا، داكه اوداسي نور ياپه قمارسره ترلاسه سي ياپه مكر اوفريب سره دچاڅخه واخستل سي لكه ناروا خريد اوفروخت اوزماددي قول په تائيد كي دڅينو علماؤقول داهم ده چه داآيت دانسان دخپل مال په ناجائزه طريقه سره دخرڅ كولو پرممانعت هم دلالت كوي اودنورو دمال په ناجائزه طريقه سره لاس ته راوړلوپرممانعت باندي هم الهي فرمان ده مگر داچه دتجارت مال وي په دي كي استثناء منقطع ده يعني تاسي دنجات په ذريعه مال اخستي سئ څكه چه تجارت دهغه جنس څخه نه ده چه ممانعت ورڅخه سوي ده ددغه آيت بل دول معني كول نه ده صحيح ددي آيت اطلاق دنورو دلائلو په رڼا كي په قرض اوهبه باندي هم كيږي دالهي فرمان(عن تراض منكم)څخه مراددادي چه په رضااوجائزه طريقه سره وي دخوړو خصوصي ذكردمقيد كولو لپاره نه بلكه ددي لپاره ده چه په عامه توگه خواړه ورڅخه مقصوددي دابالكل داسي ده لكه چه په دي اړه زيات آيتونه اوحديثونه نقل سوي دي : ان الذين يأكلون اموال اليتمى په دي اړه زيات آيتونه

رحديثونه نقل سوي دي چه يو څو موږ په دې دول ځني بيانوو په مسلم شريف اوپه نورو
کتابو کي دحضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت ده چه محمد ﷺ وفرمايل الله ﷻ پاک ده
رپاک شيان قبلوي هغه مؤمنانوته هغه حکم ورکړي ده کم چه يې رسولانوته ورکړي ده
نکه دالله ﷻ فرمان چه ده ﴿يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا﴾ سورة المؤمنون آية (٥١) ژباړه: اي
رسولانو له پاکو شيانو څخه وخورئ اونيک عمل وکړئ په بل آيت شريف کي دي چه: ﴿يَا أَيُّهَا
الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ﴾ سورة البقرة آية (١٧٢). ژباړه: اي مؤمنانو زموږ له ورکړسوي
رزق څخه پاک شيان وخورئ بيا رسول ﷺ ديو داسي سړي يادونه وکړه چه داوږده سفر
څخه وروسته بېر ويښتان او دګرو هلي مخ سره راځي بيا اسمان ته دواړه لاسونه پورته کوي
وو يې اي الله ﷻ! حال دا چه دهغه خوراک، څښاک، لباس، ټول حرام وي په دي صورت
کي به الله ﷻ دهغه دعا څنګه قبوله کي طبراني په حسن سند سره روايت کړي ده چه دحلال
رزق ټول پرهرمسلمان باندي واجب ده دترمذي، اوحاکم حديث ده هرچاچه حلال رزق
وخواړي بيا يې دسنت په مطابق عمل وکړ خلک دهغه له شرڅخه محفوظ سول هغه به جنت
ته ځي اصحاب کرامو ﷺ عرض وکړ اوويې ويل يارسول الله ﷺ داکارونه خونن ستا په
امت کي ديردي هغه ﷺ وفرمايل له ماوروسته به هم څه وخت داسي وي احمد اونورو په
حسن سند سره روايت کړي ده چه کله په تاکي څلور شيان پيداسي نو ددنيايوه کوتاهي تاته
ت وان نه سي رسولاي دامانت ساتل، رښتياويل، ښه خلق او حلال رزق، دطبراني حديث ده
چه دهغه چاڼپاره زيري ده چه کسب يې حلال باطن يې صحيح ظاهر يې عزت منداوخلک
يې له شره څخه محفوظ وي دهغه چاڼپاره زيري ده چه دعلم سره يې عمل وکړ زيات مال يې
دالله ﷻ په لارکي خرڅ کړ اودبي ځايه خبرو څخه يې پرهيز وکړ په طبراني کي دي چه
محمد ﷺ وفرمايل اي سعده ستادعا به قبليږي په هغه لوي ذات مي قسم چه
زماروح دهغه په واک کي ده کله چه ديوو سړي په نس کي دحرامو يوه ګوله وي دهغه په
وجه دهغه څلويښت ورځي عبادت نه قبليږي کم سړي چه دحرام مال په خوراک سره خپله
غوښه زياتوي دجهنم اور دير ورته نژدي وي احمد دحضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت کړي
ده چه هغه ﷺ وفرمايل چاچه په لس روفئ جامي واخستلي په هغه کي يو درهم دحراموو وي
ترڅوپوري چه دغه جامي دده په بدن کي وي الله ﷻ دده عبادت نه قبلوي بيا هغه په خپلو
غوږو کي دواړي ګوته دننه کړي اوويې ويل که ماله محمد ﷺ څخه داخبري نه واي
اوريدلاي نوزمادغه دواړه غوږونه دي کانه سي دبيهقي روايت ده هرچاچه دغلامال

واخستي په دي پوهيدي چه دادغلا مال ده هغه هم په دي گناه کي برابر شريک ده احمد په جيد سند سره حديث روايت کړي ده چه محمد ﷺ وفرمايل په هغه ذات مي قسم ده چه زما روح دهغه په لاس کي ده له تاسو څخه چه کم سړي رسۍ پراوړو واچوي غره ته ولاړسي هلته لرگي راجمع کي راپه شايې کي خرڅولوته يې راوړي هغه خرڅ کي دهغو په پيسو غذا وخوري دا دهغه څخه بهتره ده چه په نس کي يې حرامه غذا اچولي وي ابن خزيمة او ابن حبان په خپل صحيح او حاکم په خپل کتاب کي نقل کړي ده چه هرچا دحرامو مال جمع کي بيايې غلام په ازاد کړ يايې صله رحمي په وکړه دا دهغه لپاره دثواب پرځاي دعذاب او گناه باعث گرځي داحمد اونورو روايت ده چه الله ﷻ ستاسي ترمينځ رزق تقسيم کړي ده همداسي يې عادتونه هم تقسيم کړي دي الله ﷻ هرانسان ته که هغه ښه گڼي که بد دنياورکوي خودين هغه چاته ورکوي چه دين خوښوي اوچاته چه الله ﷻ دين ورکي هغه خپل محبوب گرځوي په خداي قسم چه يوبنده ترهغو نه سي مؤمن کيداي ترڅوچه دهغه ژبي اوزړه اسلام نه وي راوړي دهغه له ژبي اوزړه څخه خلگ په امن کي نه وي ترهغه وخته يوبنده مؤمن نسي جوړيداي ترڅوچه دهغه همسايه دهغه دکيني اوظلم څخه محفوظ نه وي بنده چه کم حرام مال جمع کوي له هغه څخه خيرات اوصدقه نه قبليږي اونه دالله ﷻ په لاره کي دهغه په مصرف کولو سره دهغه په مال کي برکت راځي اوکم مال چه هغه په ځان پسي پريږدي هغه دهغه لپاره دجهنم سامان جوړيږي بيشکه الله ﷻ بدي په بدي سره نه ختموي بلکه بدي په نيکي سره ختموي بيشکه چه په خبيث شي خبيث نه ختميږي ترمذي شريف په حسن سند سره روايت کړي ده چه له محمد ﷺ څخه دهغو شيانو په باره کي پوښتنه وسوه چه دهغو په وجه اکثر خلگ جهنم ته ځي رسول ﷺ وفرمايل خوله، او شرمگاه(عورت) دهغو شيانو په اړه پوښتنه وسوه چه دهغه په وجه دير خلگ جنت ته ځي رسل ﷺ وفرمايل له الله ﷻ څخه بيره، ښه خوي، ترمذي شريف په صحيح سند سره داروايت کړي ده چه بنده د قيامت په ورځ ترهغو پوري نه سي ښوريداي ترڅو چه له هغه څخه دڅلوروشيانو پوښتنه ونه سي هغه څلور شيان دادي ،عمر دي په څه کي تيرکړ؟خپله ځواني دي په څه کي مصرف کړه ؟مال دي څنگه حاصل کړ اوچيري دي مصرف کړ ؟ په خپل علم سره دي څومره عمل وکړ ؟دبيهقي حديث ده چه دنيا سرسبز او خوږه ده هرچاچه له دي څخه په حلاله طريقه مال وگټي هغه يې په صحيح توگه خرڅ کړ الله ﷻ ثواب ورکوي اوپه جنت کي يې داخلوي چاچه په ناجائزه طريقه سره مال وگټي لوپه ناجائزه طريقه يې خرڅ کړ الله ﷻ هغه په جهنم کي اچوي دهغه خلگو لپاره جهنم ده چه دمال په محبت کي

الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ یاد شخه وباسي الله ﷻ فرمایي: كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَاهُمْ سَعِيرًا سورة الإسراء (بني إسرائيل .) ژباړه: کله چه هغه په ارامیدو راسي موږ دهغو سوخت نور هم زیاتوو ابن حبان په خپل صحیح کي روایت کړي ده چه کمه غوښه اووینه له حرام مال څخه پیداسي پرهغه جنت حرام ده او هغه دجهنم لپاره مستحقه ده دترمذي روایت ده چه کمه غوښه په حرام مال سره پیداکیږي دهغه لپاره اور زیات مناسب ده په یوو روایت کي دي چه کومه غوښه په ناجائزه طریقه سره ترلاسه سوي وي دمال په وجه تغزیه سي دهغه لپاره اور زیات مناسب ده یوبل روایت ده چه په حسن سندسره نقل سوي ده چه هغه جسم وجنت ته نه ځي چه په حرام مال سره تغزیه سوي وي.

## نه شپیتم باب دسودخوري ممانعت

دسود خوري دممانعت په اره کئ آیتونه نازل سوي دي او زیات احادیث هم رانقل سوي دي لکه دبخاري اوابو داؤد په حدیث کي چه دي چه محمد ﷺ پرجسم باندي نقش جوړونکي اونقش اچونکي سود اخستونکي اوسود ورکوونکي باندي لعنت کړي ده دسپي خرڅولو اوبد کاریو څخه یې منع کړي اوپرتصویر جوړونکي یې لعنت ویلي ده احمد، ابویعلي، صحیح ابن خزیمة، اوصحیح ابن حبان، له حضرت ابن مسعود ؓ څخه روایت ده چه محمد ﷺ فرمایلي دي سود اخستونکي اوسود ورکوونکي اوپه هغه باندي شاهدي ورکوونکي ددي پرلیکوونکي باندي پرجسم دګل نقش کوونکي اونقش اچوونکي چه دخپل ښایست لپاره داسي کوي له صدقي څخه انکار کوونکي صحرایي چه داسلام راوړلو څخه وروسته بیرته مرتد سي تولو ته دمحمد ﷺ په ژبه لعنت ویل سوي ده حاکم په صحیح سند سره روایت کړي ده چه محمد ﷺ فرمایل څلور کسان داسي دي چه پرهغو الله ﷻ لازم کړي دي چه وجنت ته به یې نه داخلوي اونه به دجنت له نعمتونو څخه خوند واخلي شرابي، سودخور، په ناحقه سره دیتیم مال خوړونکي، اودمور پلار نافرمانه اولاد دحاکم روایت ده چه دسود (٧٧) دروازي دي ترهغوټولو کمه دروازه داده لکه څوک چه له خپلی مورسره نکاح وکي طبراني په کبیرکي دحضرت عبدالله بن سلام ؓ څخه روایت کړي ده چه رسول الله ﷺ فرمایلي دي هغه درهم چه انسان یې په سود سره اخلي دالله ﷻ په نزدد (٣٣) زناوو څخه هم بدده ددي روایت په سند کي انقطاع ده اوابن ابي الدنیااوبغوي دغه حدیث موقوفًا روایت کړي ده اوهمدا صحیح ده موقوف حدیث هم دمرفوع حدیث په حکم کي ده دحضرت عبدالله ؓ قول ده چه دسود (٧٧) ګناهونه دي

ترټولو کوچنی یې داسلام په حالت کې دخپلې مورسره دزنا کولو په برابر ده اودسود دیوو درهم ګناه د(۳۰)واره زنا څخه بدتر ده هغه داهم وویل چه الله ﷻ دقیامت په ورځ هرنیک وبدشي ته ددریدو حکم کوي ټول شیان ودریږي مګر سود خواره داسي ودریږي لکه شیطان چه هغه لیونیان کړي وي احمد په جید سند سره دحضرت کعب احبار ؓ څخه روایت کړي ده چه زه دیوو درهم سود څخه (۳۳)واره دخپلې مورسره زناه کول په ګناه کي کم ګڼه کله چه زه سود واخلم نو الله ﷻ پوهیږي چه زه څه وخورم احمد په صحیح سند سره وطبراني په خپل صحیح کي داحدیث روایت کړي ده چه محمد ﷺ وفرمایل دپوهي وعلم باوجود سود خوړل تر(۳۰)واره زناکولو بدتردي دیربدده اوډټولو څخه لوی سود دمسلمان دمال څخه اخیستل دي طبراني په اوسط اوصغیر کي روایت کړي ده چه محمد ﷺ فرمایل هرچاچه په ناجائزه توګه دکم ظالم ددي لپاره کومک وکړ چه دبل چه مال په زور لاندي کي داسي سړي الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ دهغه دذمه داري څخه بیزاره ده چاچه دسود یو درهم وخوړهغه له(۳۳)واره زنا سره برابر ده دچابدن چه دحرام مال په خوراک سره تغذیه سو هغه دجهنم زیات مستحق ده دبیهقي روایت ده چه دسود اویا دروازي دي دهغه له ټولو څخه کوچنی ګناه داسلام په حالت کي دمور سره دزناکولو په برابردي دسود یودرهم د(۵۳)واره زنا کولو څخه زیات بدده ابن ماجه اوبیهقي دابي معشر څخه هغه دابو سعیدالمقبري څخه اوهغه له ابوهریرة ؓ څخه روایت کړي ده چه محمد ﷺ وفرمایل په سود کي اویاګناهونه دي دټولو څخه کوچني ګناه یې داده لکه یوسړي چه له خپلې مورسره نکاح وکي.

## دزنا اوسود عام کیدل الهي عذاب ته دعوت ورکوي

حاکم په صحیح سند سره روایت کړي ده چه محمد ﷺ دمیوو دپخیدو څخه مخکي خرڅول منع کړي دي اوفرمایلي یې دي چه کله په کم ښارکي زنا اوسود زیات سي ګواکي هغه په خپله دالله ﷻ عذاب ته دعوت ورکوي ابویعلي په جیدسند سره دابن مسعود ؓ څخه روایت کړي ده چه دیوقوم سود خوري اوزنا هلته ښکاره کیږي چه هغه الهي عذاب دخپل ځان لپاره حلال وګرځوي یعني کم قوم چه دزنا اوسود خوري په ګنا ککړ سي ګواکي هغوي الهي عذاب ته دعوت ورکړ احمد داحدیث شریف نقل کړي ده چه په کم قوم کي سود خوري رواج سي هغه په قحط سالي کي اخته کیږي اوپه کم قوم کي چه زنا زیاته سي الله ﷻ هغه په بیره اوعام قحطي کي اچوي اګر که باران وربادي کیږي احمد، ابن ماجه، اواصبهاني داحدیث هم نقل کړي ده چه محمد ﷺ وفرمایل کله چه

مادمعراج سیل وکړ اوزه اووم اسمان ته ورسیدم مالوړ وکتل هلته مي دبرق ګړزهاریځ
ږیهاریځ ولیدي بیامي داسي خلک ولیدل چه ګیډي یې دسرایونوپه اندازه وي له
رباندي څخه دهغو په ګیډوکي ماران ښکاریدل ماپوښتنه وکړه اي جبرائیل ﷺ داڅوک
دي؟ هغه جواب راکړ چه دوي سود خواره دي اصبهاني دحضرت ابو سعیدخدري
ﷺ څخه روایت کړي ده چه محمد ﷺ فرمایل کله چه زه معراج ته وخیژول سوم مادډنیا
په اسمان کي داسي خلک ولیدل چه نسونه یې دغټو ټانکیو په رکم وه نسونه یې لاندي
ځړیده دفرعون دپیروانو په لاره کي پراته وو هغه به سهار اومابنام دجهنم په خواکي
دریدل دعایې کولي چه اي الله ﷻ قیامت قائم نه کي ماپوښتنه وکړه اي جبرائیله داخلک
څوک دي ؟ هغه راته وویل داستا دامت سود خواره دي دوي داسي درېږي لکه شیطان چه
لیونیان کړي وي داصبهاني قول ده چه دفرعون ال اولښکر چه سهار اومابنام جهنم ته
کښېږي هغه ترپښولاندي کوي اومیده کوي یې طبراني په صحیح سند سره روایت کړي ده
چه دقیامت څخه مخکي زنا، سود، اوشراب، عام کیږي طبراني دقاسم بن عبدالله
الوراق ﷺ څخه روایت کړي ده چه ماحضرت عبدالله بن ابي اوفي ﷺ دصرافانو په بازار
کي ولیدي(هلته دسود کاروبار کیدي)هغه ﷺ ددغه بازار وخلکو ته وویل اي دصرافه
خلکو تاسوته دي خوشخبري وي هغو ورته وویل الله ﷻ دي تاته دجنت خوشخبري درکي
اي ابو محمدا تاسي موږ ته دڅښي زیري راکوئ ؟ هغه ﷺ ورته وویل
مادمحمد ﷺ څخه دصرافیانوپه باره کي اوریدلي دي چه هغوته دجهنم زیري ورکه
دطبراني حدیث ده چه خپل ځان له هغو ګناهونو څخه وساته چه ګناه یې نه بخښل کیږي
خیانت داسي یوه ګناه ده چه څوک په کم شي کي خیانت کوي الله ﷻ دقیامت په ورځ هغه
دهغه مال سره یوځاي حاضروي سود خور سړي دقیامت په ورځ دلیونانو په رکم پاڅول
کیږي بیاهغه داآیت شریف ووایه کم سړي چه سود خوري هغه دقیامت په ورځ داسي
پاڅول کیږي لکه شیطان چه لیوني کړي وي دابن ماجه اوحاکم حدیث ده چه محمد
ﷺ فرمایلي دي هرڅوک چه خپل مال په سود سره زیاتوي بالآخر هغه دفقر اوتنګدستي
سره مخامخ کیږي حاکم په صحیح سند سره روایت کړي ده چه دسود مال که هرڅومره ډیر
سي بالآخر په قلت سره ختمیږي ابو داؤد اوابن ماجة دحسن ﷺ څخه هغه دحضرت
ابوهریره ﷺ څخه روایت کړي ده چه محمد ﷺ فرمایلي دي په خلکو باندي داسي وخت
راځي چه داسي څوک به پکښي نه وي چه سود نه خوري څوک چه سود نه خوري دسود ګرد
به هغه ته خامخا رسیږي عبدالله بن احمد په زوائدالمسند کي داحدیث نقل کړي ده چه

قسم ده په هغه لوي ذات چه دهغه په اختيار کي زمانفس ده زما دامت خلک به په دي کي شپه تيروي عيش اوعشرت به کوي په لهو اولعب کي به مشغول سي کله چه سهار سي نو دالله ﷻ دحرام کرده شيانو دحلالولو له ښځو څخه دسندرو اوريدلو، شراب څښلو، سود خوړلو، اودوريښمينو جامو داغوستلوپه سبب به خنزيران اوبيزوګيان سي داحمد اوبيهقي حديث ده چه محمد ﷺ فرمايل ددي امت يوګروپ به په خوراک، څښاک، ولهو لعب کي شپي تيری کي کله چه سهارسي نودهغوي شکلونه به مسخ سوي وي هغه به بيزوګيان اوخنزيران جوړسوي وي په محکه کي به ښخ سي پرهغوبه کاڼي ودرول سي تردي چه خلک به ووايي فلانکي کور اوفلاني خلک په محکه کي ښخ سول پرهغو به دکاڼو باران وسي لکه دلوط ﷺ پرقوم چه دکاڼو باران سوي وو دهغوي په قبايل اودهغوي په کورونوکي به دابلا ابتلاوي چه هغه به شراب خوري وريښمن لباس به اغوندي دغزلو اوموسيقي محفلونه به جوړوي سود به خوري اوقطع رحمي به کوي.

## اويايم باب حقوق العباد

پرهر انسان لازم ده چه کله له بل مسلمان سره مخ سي سلام دي وراچوي کله چه دعوت ورکي قبول دي کي کله چه (پرنجي) وکي هغه دي جواب ورکي کله چه مريض سي پوښتنه دي ورباندي وکي کله چه مرسي جنازي ته دي ورسي کله چه دکمي خبري قسم ورکړسي قسم دي ورته پوره کي کله چه دنصيحت کولو غوښتنه څني وکي نونصيحت دي ورته وکي دهغه په غيابت کي دي دهغه حفاظت وکي يعني غيبت دي نه کوي دهغه لپاره دي هغه څه خوښوي څه چه دځان لپاره خوښوي اوکم شي چه ځان ته بد ګڼي هغه ته دي هم بد وګڼي داټول احکام په احاديثوکي راغلي دی لکه حضرت انس ﷺ دمحمد ﷺ څخه روايت کوي چه هغه ﷺ فرمايل پرتادمسلمانانو څلورحقونه دي په هغو کي دنيک سړي مرسته وکه دمشر لپاره مغفرت وغواړه دمره سوي سړي لپاره دعا وغواړه اوتوبه کوونکي خلکو سره مينه وکه حضرت ابن عباس ﷺ ددغه الهي فرمان(رحماء بينهم هغه په خپلو کي رحم کونکي دي )په تفسير کي فرمايي چه دهغوي نيکان خلک بدو خلکو ته اوبدان بيا دنيکو خلکو لپاره دعا کوي کله چه کم بدکارد محمد ﷺ دامتي نيک سړي وويني نووايي اي الله ﷻ تاچه له ده سره کمه نيکي اوښيګڼه کړي ده برکت پکښي واچوه ثابت قدم يې وساته اوموږ دهغه له برکتونو څخه برخمن که اوکله چه کم نيک سړي بدکار وويني نووايي چه اي الله ﷻ ده ته هدايت وکي توبه يې قبوله کي خطاګاني يې ورمعاف کي ديوو مسلمان پربل مسلمان داحق هم ده چه کم ښه شي دځان لپاره خوښوي دبل مسلمان

ورور لپاره دی هم خوښوي اوکم شي چه دخپل ځان لپاره بدګڼي دبل مسلمان ورور لپاره
دې هم بدګڼي حضرت نعمان بن بشير ﷺ وايې چه ماله نبي کريم ﷺ څخه دااوريدلي دي
چه په خپلوکې يو دبل سره مينه او شفقت کوئ دمسلمانانو مثال ديوو بدن په رکم ده کله چه
دبدن کوم اندام په تکليف کې وي تول بدن دهغه په احساس اودرد کې اخته وي حضرت
ابوموسی اشعري ﷺ د محمد ﷺ څخه روايت کوي چه محمد ﷺ وفرمايل يو مسلمان
دبل مسلمان لپاره د ديوال په شان ده چه يوه حصه يې بلې حصې ته قوت ورکوي دمسلمان
نه حقوقو څخه يو حق دا هم ده چه هغه په خپله ژبه اوبل کوم عمل سره مسلمان ته تکليف ونه
رسوي نبوي ارشاد ده چه مسلمان هغه ده چه دهغه دلاس اوژبې دشرڅخه نور مسلمانان
محفوظ وي محمد ﷺ په يو اوږد حديث کې فرمايلي دي: چه افضل مسلمان هغه ده چه
دهغه دژبې اولاس څخه بل مسلمان محفوظ وي محمد ﷺ وفرمايل تاسې پوهيږئ چه
مسلمانان څوک دي؟ اصحابو ﷺ عرض وکړ چه الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ ښه پوهيږي
رسول ﷺ وفرمايل مسلمان هغه ده چه دهغه له ژبې اولاس څخه بل مسلمان محفوظ وي
اصحابو ﷺ عرض وکړ مؤمن څوک ده؟ رسول ﷺ وفرمايل چاچه له خپل طرف څخه نور
مسلمانان اودهغوي مال اواولادبې غمه کړل پوښتنه وسوه مهاجر څوک دي؟ ويې
فرمايل مهاجر هغه څوک دي چه بديې پريښوول اوځان يې ورڅخه وساتي يو سړي
عرض وکړ يارسول الله ﷺ اسلام څه شي ده؟ رسول ﷺ وفرمايل چه ته الله ﷻ دزړه له
کومي ومنې اوچه ستا دژبې اولاس څخه بل مسلمان محفوظ سي دمجاهد ﷺ قول ده چه
په جهنميانو باندي خارښت مسلط کيږي چه دتيزئ سره دهغوي غوښې له منځه وړي
اوهډوکي يې ښکاره کوي په دي وخت کې به يو اواز ورته وسي چه اي فلانه ايادا خارښت
تاته تکليف درکوي؟ هغه به ووايې هواواز به ورته وسي چه داستالپاره هغه بدله ده چه
مسلمانانوته دې تکليفونه رسول نبوي فرمان ده چه ماپه جنت کې داسې يوسړي وليدي
چه په دنياکې يې يوه داسې درخته پرې کړې وه چه مسلمانانوته يې تکليف رساوه حضرت
ابوهريرة ﷺ عرض وکړ يارسول الله ﷺ ماته داسې يوعمل وښيه چه زه ګټه ورڅخه
پورته کم رسول ﷺ ورته وفرمايل دمسلمانانو له لارې څخه دتکليف شي ليرې که
الله ﷻ هغه ته دهغه په بدله کې نيکې ليکي اوچاته چه الله ﷻ نيکي وليکي دهغه لپاره
جنت واجبيږي نبوي فرمان ده چه ديوو مسلمان لپاره دانه ده مناسب چه دبل مسلمان په
طرف داسې اشاره وکي چه هغه يې نه خوښوي نبوي حديث ده چه هيڅ يوومسلمان ته
داجائز نه ده چه بل مسلمان ويروي همدارنګه وي فرمايل الله ﷻ دانه خوښوي چه مؤمن

ته تکلیف ورکړ سي دربیع بن خیثم رحمه الله قول ده چه دخلګو دوه دولونه دي که ستامخاطب مؤمن وي نوهغه ته تکلیف مه رسوه او که جاهل وي نودهغه په جهالت کي مه نوبرهٔ ودیوبنده پرمسلمان داحق هم ده چه د هر مسلمان سره خاکساري وکي اوله تکبر څخه ځان وساتي ځکه چه الله ﷻ تکبر کونکي نه خوښوي نبوي ارشادده چه الله ﷻ ماته وحي وکړه چه تاسي تواضع وکئ یوپربل باندي فخر اوتکبر مه کوئ که بل څوک له تاسي سره تکبر کوي نوصبر پروکئ لکه الله ﷻ چه خپل نبي ﷺ ته فرمایي : خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ آیة(۱۹۹)سورة الاعراف. **ژباړه**:عفوه غوره کئ اودنیکي حکم وکئ دجهلو څخه مخ وګرځوئ دحضرت ابن ابي اوفي رضي الله عنه څخه روایت ده چه نبي کریم ﷺ به دهر مسلمان سره تواضع کول اود کونډو یتیمانو سره به تلي حاجتونه به یې ورپوره کول په دي کي به یې هیڅ قسم شرم نه محسوس کاوه اودتکبر څخه به یې ځان ساتي سیده غواړي. په حقوق العبادکي داخبره هم شامله ده چه دخلګو خبري یواوبل ته مه رسوئ ځکه چه نبوي ارشادده چه چغلخور جنت ته نه ځي دخلیل بن احمد رحمه الله قول ده چه کم سړي تاته دبل چاچغلي کوي هغه ستاچغلي هم بل چاته کوي څوک چه دبل چاخبري تاته کوي ستاخبري هم بل چاته کوي دمسلمان یوبل حق داهم ده چه دقهر اودرد په حالت کي له چه سره تردرو ورځو زیات اړیکي مه قطع کوه دحضرت ابوایوب انصاري رضي الله عنه څخه روایت ده چه نبي کریم ﷺ وفرمایل دهیڅ مسلمان لپاره داجائز نه ده چه له خپل مسلمان ورور سره تردرو ورځو زیات قطع تعلق وکي دواړه یودبل سره مخامخ سي اومخونه سره وګرځوي له دغو څخه هغه شخص بهترده چه په سلام اچولوکي سبقت وکي نبوي فرمان ده چه کم سړي خپل مسلمان ورور دهغه دګناه له وجه پرېښوي الله ﷻ دقیامت په ورځ هغه یواځي پرېږدي له حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روایت ده چه نبي کریم ﷺ دخپل ځان په خاطر کله هم له چا څخه انتقام نه ده اخستي خوچه کله به دحدودالله خبره وه نودالله ﷻ درضاپه خاطر به یې بدل استي دحضرت ابن عباس رضي الله عنه قول ده چه کم سړي دچاغلطي معاف کي الله ﷻ دهغه په بدل کي دده عزت زیاتوي یعني کم سړي چه دچاله غلطي څخه تیرېږي الله ﷻ دهغه عزت اومرتبه پورته کوي چه په صدقه اوخیرات سره مال نه کمیږي په عفوه اوګذشت سره الله ﷻ دانسان عزت زیاتوي اوکم سړي چه دالله ﷻ درضالپاره عاجزي کوي الله ﷻ لوړه مرتبه ورکوي.

# يواويايم باب دنفساني خواهشاتو بدي اودزهد صفت

الله ﷻ فرمايي: أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ وَأَضَلَّهُ اللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ سورة الجاثية آية(٢٣). ژباړه: اياتاهغه نه دي ليدلي چه خپل خواهش يې معبود ګرځولي ده او الله ﷻ هغه له علم سره ګمراه کړي دي دحضرت ابن عباس رضي الله عنه قول ده چه له دي څخه مراد هغه کافر ده چه دالله ﷻ له طرف څخه ورکول سوي دليل اوهدايت څخه پرته يې خپل خواهشات دين ګرځولي وي ددي مطلب داده چه دنفساني خواهشاتو پيروي کوي اودهر داسي کارکولو لپاره چمتو وي چه کم طرف ته دهغه خواهش اشاره کوي اود الله ﷻ دهدايت په مطابق عمل نه کوي ګواکي هغه دخپلو خواهشاتوبندګي او عبادت کوي الهي فرمان ده: وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ سورة المائدة آية(٤٨) دهغو دهوا او خواهشاتو پيروي مه کوئ يوبل الهي ارشادده چه دخواهشاتو پيروي مه کوه داتا دالله ﷻ له لاري څخه ليري کوي ځکه محمد ﷺ په دغه الفاظو سره دالله ﷻ څخه دعاغوښتله: اللهم اني اعوذبک من هوي مطاع وشح متبع .اي الله ﷻ زه له تاڅخه پناه غواړم دهغه خواهش څخه چه اطاعت يې کيږي اودهغه بخل څخه چه اتباع يې کيږي محمد ﷺ فرمايلي دي دري خبري دانسان لپاره مهلک دي اطاعت کرده خواهش، اتباع کرده بخل، اوخپل ځان ډير غټ ګڼل داځکه مهلک دي چه دهري ګناه باعث نفساني خواهشات دي اوهمدغه خواهش انسان جهنم ته رسوي ديوعارف قول ده چه کله ستاپه وړاندي دوي خبري راسي اوته په پوه سي چه له دي څخه کوم يوستالپاره ښه ده؟ ته ورته وګوره چه له دغو دواړو څخه کم يوستا دخواهش مطابق ده کم يوچه نژدي وي هغه پريږده هغه بل ترسره که همدغي نقطي ته په اشاره سره امام شافعي رحمه الله فرمايي:

اذاحال امرک في معنيين «ولم تدر حيث الخطاء والصواب

فخالف هواک فان الهوي «يقود النفوس الي مايعاب

ژباړه: کله چه ستاکار ددوو خبرو ترمينځ حائل وي اوته دهغه په ښه اوبو پوه نسي نوددي خبري په مطابق کار وکه چه ستادخواهش مخالف وي ځکه چه خواهشات انسان له بدو کارو طرف ته روانوي دحضرت عباس رضي الله عنه قول ده چه کله ته په دوو سوچو اوفکروکي راګير سي کم يوسوچ چه ستا زيات خوښ وي هغه پريږده اوکم يوچه دي نه وي خوښ په هغه باندي عمل وکه په دي سره به ستاکار په اساني سره وسي اوچاته به محتاج نه يې دحضرت عمر رضي الله عنه قول ده چه تاسي خپل نفسونه کنترول کئ ځکه چه داتاسي دبدي طرف ته روان وي حق ترخه اوګران دي ليکن باطل اسان اوتباه کوونکي دي دتوبي ترعلاج دابنه

د دې چه انسان گناهونه پرېږدي ډيرو سترګو دشهوت تخم کرلي ده او يوي لحظي لذت او ږد غور کړي ده حضرت نعمان خپل زوي ته وويل اي زويه زه دټولو څخه مخکي تاستا دنفس څخه بيروم ځکه چه هرنفس خواهشات اوارزوګاني لري که ته هغه پوره کوي نو هغه خپل خواهشات نورهم زياتوي له تاڅخه دټولو خواهشاتو دپوره کولو غوښتنه کوي شهوت په سينه کي داسي پټ شي ده لکه چه اور په کاڼي کي پټ ده که يو کاڼي په بل کاڼي باندي ومښي سي له هغو څخه اور راوزي که نه وهل سي نو نه راوزي ديو شاعر قول ده چه :

اذا ما اجبت النفس في كل دعوة »« دعتك الي الامر القبيح المحرم

**ژباړه**: کله چه تادنفس هراواز ته لبيک ووايه هغه تادمنهياتو پرطرف رابولي يو بل شاعر وايي:

اذا انت لم تعصي الهوي قادك الهوي »« الي كل مافيه عليك مقال

**ژباړه**: کله چه ته دنفساني خواهشاتو مخالفت نه کوي تاته دهرهغه کارلپاره حکم کوي چه ستالپاره دشرم باعث وي يو بل شاعر وايي:

واعلم بانك لن تسود ولن تري »« طرق الرشاد اذا اتبعت هواكا

**ژباړه**: که تادخپلو خواهشاتو پيروي وکړه نو نه سمه لارپيدا کولاي سي او نه وسرداري ته رسيدلاي سي يو بل شاعر وايي:

اذا شئت اتيان المحامد كلها »« ونيل الذي ترجوه من رحمة الرب

فخالف هوي النفس المسيئة انه »« لاعدي واردي من هوي الحب

هما سببا حتف الهوي غيدان في »« هوي الحب مهما عف بعدا عن الذنب

وجل المعاصي هوي النفس فاعتمد »« خلاف الذي تهواه ان كنت ذالبا

**ژباړه**: کله چه ته دټولو حميده اوصافو حصول اودالله ﷻ په رحمت سره خپل مرادونه ترلاسه کول غواړي نودټولو بدو نفساني خواهشاتو مخالفت وکه ځکه چه داترعشق هم زيات دښمن اوهلاکونکي ده هغه دواړه دخواهشاتو دوڅلو سببونه دي البته که عاشق پاک وي نوله گناه څخه خلاص پاته کيږي دنفساني خواهشاتو دپوره کيدو هيله پرېږده که ته عقلمندېې نو هغه کار وکه چه ستا دنفس له خواهشاتو څخه مخالف وي يو بل شاعر وايي:

اذا العقل مكسوف بطرع هوي »« وعقل عاصي الهوي يزداد تنويرا

**ژباړه**: دخواهشاتو په پيروي کي دعقل نور پټيږي اودخواهشاتو دممانعت کوونکو د عقل نورانيت زياتيږي دنبي کريم ﷺ فرمان ده چه الله ﷻ عقل پيدا کړ او ورته ويې فرمايل مخامخ راسه هغه مخامخ سو بيا يې ورته وفرمايل وروسته سه هغه وروسته سو الله ﷻ

ورته وفرمايل په خپل عزت او جلال مې قسم زه تا خپل خوښ مخلوق ته ورکوم بيايې مټ پيدا کړ او دمخ ته راتلو حکم يې ورته وکړ هغه مخ ته راغي بيايې ورته وفرمايل ليرې سه هغه ليرې سو الله ﷻ ورته وفرمايل زما دې په خپل عزت او جلال قسم وي چه زه به تا په خپل بدترين مخلوق کې ايږدم داد ترمذي روايت ده يو چا ښو مره ښه شعر ويلې ده :

وقد اصاب رأيه عين الصواب »« من استعار عقله في كل باب

وقد رأي ان الهوي مهما يجب »« يدعو الي سوء العواقب والعقاب

ژباړه: دهغه شخص رأيه چه په هره خبره کې دعقل سره مشوره کوي صواب ته رسيږي او هغه وليدل چه کله هم دخواهشاتو پيروي وکړه سي هغه سړي په عذاب او انجام کې اچوي يو بل شاعر وايي :

اذا شئت ان تحظي وان تبلغ المني »« فلا تسعد النفس المطيعة للهوي

وخالف بها عمر ملتظي شهراتها »« واياک ان تحفل بمن ضل او غوي

ودعها وما تدعوا اليه فانها »« لامارة بالسوء من هم او نوي

لعلک ان تنجو من النار انها »« لقاطعة الامعاء نزاعة الشوي

ژباړه: کله چه ته غواړې چه خپلو اميدونو ته ورسيږې نو دنفس دخواهشاتو د پيروي څخه ځې ساته او دهغه خواهشات مه پوره کوه دګمراهانو او باغيانو بنايست مه جوړوه نفس او دهغه خواهشات پرېږده ځکه چه هر څوک چه ددې په طرف قدم ايږدي نو دبدبوي حکم به ورته کيږي شايد چه ته په دې توګه دجهنم څخه خلاصون پيدا کې چه دانسان کولمې پرې کوي او پوست ور څخه باسي دهوښيارانو قول ده چه خواهش يوبده سوارلۍ ده چه تا دمصيبتونو په تياره کې دننه کوي او يو خراب ځرځاي دې چه تا دغمونو وارث ګرځوي ځکه خبر دار اوسه چه کله هم دنفس دخواهش په بديو سپور نه سې چه دګناهونو په کنده کې دې وانه چوي يو داناته چا وويل که تا واده کړې واي نو ښه به واي د رته هغه جواب ورکړ که ما طلاق ورکولاي سواي نو خپل نفس ته به مې طلاق ورکړې واي او دا شعر يې ووايه :

تجرد من الدنيا فانک انما »« تسلطت الي الدنيا وانت مجرد

ژباړه: ددنيا څخه ځان ليرې که ځکه چه ته دنياته يوازې ليږل سوې يې دنيا خوب او آخرت بيداري ده او ددې درمياني فاصله مرګ ده موږ په سرګردان او پريشان خوب کې يو يو چا چه ددغې دنيا دخواهشاتو پيروي وکړه هغه ظلم وکړ او چا چه اوږد اميد وساتې هغه انتهاء ته ونه رسيدې او نه دکم ليدونکې لپاره انتهاء سته يعني داوږده اميد هيڅ انتهاء

نسته نبوي ارشاد ده چه ستاسي بهتره عمل پرهيز گاري ده اوپرهيز گاري داعمالو سردار ده پرهيز گارسه چه ترټولو خلګو زيات عبادت ګذار سي قناعت وکه چه ترټولو خلګو زيات شکر ګذار سي نبوي فرمان ده چه په چاکي پرهيز ګاري نه وي نوالله ﷻ دهغه دهيڅ عمل پروانه کوي دحضرت ابراهيم ادهم رحمه الله بيان ده چه دزهد دري مرتبې دي يو فرض زهد ده ددي څخه مطلب هغه زهدده چه دالله ﷻ دحرام کړه شيانو څخه ځان وساتي .دوهم دسلامتي زهدده هغه دمشتبه شيانو پرېښوول دي .دريم زهد دفضيلت حاصلولو لپاره ده اوهغه دالله ﷻ دحلالو شيانو پرېښوول په شان هم ده دادزهد لوړه مرتبه ده دابن مبارک رضي الله عنه قول ده چه زهد دزهد پټولو نوم ده کله چه زاهد دخلګوڅخه ليري اوسي نودهغه طلب وکه اوکله چه زاهد دخلګوپه طلب پسي سرګردان وي له هغه څخه ځان کوښه وساته په دي اړه چاڅومره ښه شعر ويلي دي،

| | |
|---|---|
| ان التورع عند هذا الدرهم | اني وجدت فلاتظن غيره |
| فاعلم بان تقاک تقوي المسلم | فاذا قدرت عليه ثم ترکته |

**ژباړه:** ما هغه راز پيداکړي ده چه له هغه څخه بغير نورهيڅ نسته چه پرهيز ګاري ددنيا ودولت دپرېښوولو نوم ده کله چه ته دولت پيداکي اوبيا ايږدي نوپوه سه چه ستا تقوي د سي ده ديومسلمان تقوي زهد ديته نه وايي چه له تاسره مال اودولت نه وي ودمجبوريت په وجه ځان ليري څني ساتي بلکه زاهد هغه ته وايي چه ټول مال اودنيا ورسره وي مګر خپل ځان ورڅخه ګوښه کي اوشا ورواړوي لکه ابو تمام چه وايي اچه سړي زهد خپل نه کي اوپر دنيالاس راوګرځوي نوپوه سه چه هغه سړي زاهد نه ده هسي درواغ وايي دځينو حکماوو قول ده چه داڅه وجه ده چه موږ دنيانه سو پرېښوولي حال داچه ددنياعمر په شمير اولږ ده فائدي يي لږ اميدونه يي دوکي اوفريب دي که راځي نوهم له غمونوسره راځي اوچه ځي نوهم له غمونو سره راځي يوشاعر وايي، ددنيا دطالب لپاره هلاکت ده دنيا بقا نه لري ګردش يي هسي خوب اوخيال ده ددي صفايي خړ ددي ناروغي، خوندونه يي شرمندګي، اوپيداکول يي دنه پيداکولو سره برابر دي دنيادار که څه هم دشداد دنعمتونو په اندازه نعمتونه پيداکي بيابه هم ددي له مشکلاتو څخه خلاص نه سي له دنياڅخه اعراض وکه ددي بنايست اوښکلا عزت مه ګڼه ځکه چه ددي نعمتونه داسي دي چه پکښي عتاب اوملامتي وي دهغه دائمي انعاماتو دکورلپاره عمل وکه چه کله هم نه ختميږي اودمرګ اوسپين ږير توب بيره نسته کي ديحيی بن معاذ رضي الله عنه يودعقل

څخه ډک قول ده چه دنیاته دعبرت په نظر وګوره هغه په خپله خوښه پرېږده دهغې دحصول لپاره صرف دمجبوریت په حالت کې کوشش کوه اوآخرت په پوره توجه سره وغواړه.

## دواویایم باب جنت اودجنتیانو مرتبې

ددې څخه مخکې چه دکم کور دغم اوکړاو حال تاسې ولیدې ددې کور په مقابل کې یوبل کورهم سته اول کورته دجهنم نوم ورکول سوی ده دبل کورنوم جنت ده دکوم سړي څخه چه داکورپاته سي نوبل کورته ځي بل کور به یاجنت وي یادوږخ څکه په کار ده چه ددوږخ څخه دنجات پیداکولو لپاره په خپلو زړونوکي غور اوفکر وکي دالله ﷻ درحمتونو امیدونه وساتي چه هغه موږ هم دجنت مستحق ګرځوي لکه له خپلوصالیحوبندګانو سره چه یې وعده فرمایلې ده دجنتیانو پرمخونو به دالله ﷻ د ورکړسوو نعمتونوخوشحالي اوتازګي وي مهرسوي طهور شراب به یې په لاسوکي وي دسرو یاقوتو پرمنبرو به ناست وي پرسریه یې له سپینو ملغلرو څخه جوړسوي سایوانونه ولاړوي لاندي به شین وربښمین فرش غوړېدلي وي دشاتو اوشرابو دویالو غاړي ته به یې تکیه وهلي وي اوناست به وي حوري اوغلمان به پر راګر ځیدلي وي دلوء لوء اومرجان تاج به دهغو پرسر وي دیاقوتو څخه په جوړو محلونوکي به هغه وسېږي جنتیان به دامن په مقام کي وي دچینو دنهرونو اوباغونو په منځ کي به ناست وي دخپل کریم رب ﷻ دیدار به کوي دهغوله مخوڅخه به دالله ﷻ نعمتونه له ورایه ځلیږي هغه به دالله ﷻ معزز بندګان وي دوي به په دي ښکلي جنت کي تول عمر اوسیږي نه به کم غم وي اونه دمرګ له تکلیف څخه بیره دجنت خوږه غذابه خوري خپله تنده به په شیدو، شرابو، شاتو، اودچینو په صفااوبو سره ختموي دجنت وابه به زعفران وي دکافور په غنډیوکي به وریاندي دګلونو دعطر باران کیږي دسپینو زرو په پیالوکي به چه په ملغلروکي پټي وي په یاقوتو اومرجانو ښایسته سوي وي اوبه به کي راوړل کیږي په څینو پیالوکي به دسلسبیل په یخو اوخوږو اوبو کي مهر سوي شراب یوځاي سوي وي پیالي به دومره صفاوي چه اوبه به ددباندي خواڅخه کي معلومیږي داپیالي به دداسي خادمانو په لاس کي وي چه دهغودمخونو ښایست به ډیر زیات وي تعجب ده دهغه چالپاره چه پرجنت اودجنت پرنعمتونو ایمان هم لري مګر بیاهم له داسي کورسره زړه لګوي چه بالآخر ورانیدونکي ده عیش یې ختمیدونکي ده په خداي قسم که په جنت کي یوازي دمرګ څخه هم بي خوفي واي نودانسان به دلویږي تندي اونورو تولو حوادثو څخه بي فکره فاته سوي واي که په جنت کي نورنعمتونه هم نه واي بیاهم جنت ددي وړ وو چه دهغه لپاره دنیاترک سي اوپرهغه داسي شیانوته ترجیح ورنه کړه سي چه

ختميدونكي اونه فاته كيدونكي دي دحضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت ده چه محمد ﷺ وفرمايل منادي به اواز وكي اي دجنت اوسيدونكوتاسي به دتل لپاره جوړاوسيږئ هيڅ كله به ناروغه نه سئ دتل لپاره به ژوندي ياست كله به هم مړه نه سئ هميشه به ځوانان اوسيږئ كله به هم بوداگان نه سئ تاسي به هميشه په عزت اواكرام كې ياست كله به هم نه نااميده كيږئ دا الهي فرمان دی :

وَنُودُوا أَن تِلْكُمُ الْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ آيه() سورة الاعراف. اواز ورته كيږي چه داجنت دی دخپلو اعمالو په وجه يې وارثان سوي ياست كه تاسي دجنت له اوصافو څخه خبريدل غواړئ نودقرآن كريم تلاوت وكړئ ځكه چه دالله ﷻ تربيان عمده بل بيان نشته او دالله ﷻ فرمان :وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ سورة الرحمن آيه() ترآخره آيته پوري ووايه سورة واقعه اونور سورتونه ووايه په هغوكي دجنت د نعمتونو اوصاف موجود دي كه ته غواړي دجنت په اړه په احاديثوكي معلومات ترلاسه كړي ترټولو مخكې دجنتونو تعداد زده كه محمد ﷺ دالله ﷻ دفرمان : وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ سورة الرحمن آيه() . په تفسيركي فرمايلي دي چه دوه جنتونه دسپينو زرو دي اودوه دسرو زرو دهغوټول ظروف اوشيان دسرو زرو دي اوپه جنت عدن كي دخلكو اوالهي ديدار ترمينځ صرف درب كبرياء پرده وي پاته سوي دجنت دروازې هغه خوبې شماره دي ځكه چه دگناهونو داقسامو په ركم ددوږخ گني دروازې دي همداسي دعبادت دمختلفو اقسامو په مطابق به دجنت جلا جلا دروازې وي له حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت ده چه محمد ﷺ وفرمايل چاچه دخپل مال څخه دالله ﷻ په لاره كې مصرف وكړ هغه به دجنت له ټولو دروازو څخه راوبلل سي دجنت اته دروازې دي كم سړي چه لمونځ گذاره وي هغه دلمانځه له دروازې څخه بلل كيږي روژه داره دروژې له دروازې څخه صدقه وركوونكي دصدقې له دروازې څخه اومجاهد دجهاد له دروازې څخه رابلل كيږي حضرت ابوبكرصديق ﷺ عرض وكړ يارسول الله ﷺ په خداي قسم چه په الله ﷻ هيڅ گرانه نه ده چه بنده له كمې دروازې څخه رابولې ايا په مخلوق كې به داسي څوك هم وي چه له ټولو دروازو څخه راوبلل سي رسول ﷺ وفرمايل هو زه اميدلرم چه ته به له هغو څخه يې حضرت عاصم بن ضمرة ﷺ دحضرت علي كرم الله وجهه څخه روايت كړي ده چه هغه دجنت ډيره زياته يادونه وكړه خوزماله يادڅخه ووتلې بيايې وويل : وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَى جَهَنَّمَ زُمَرًا كوم خلك چه له خپل الله ﷻ څخه ويريږي هغه دجنت په طرف دلې دلې بوول كيږي كله چه هغه دجنت له دروازو څخه يوې دروازې ته ورسيږي

داسي يوه درخته به ووينى چه ترهغې لاندي به داوبو دوي چيني رواني وي هغه به دحكم
په مطابق يوې چيني ته ولاړسي اوبه به وڅښي له اوبو څښلو سره سم به دهغو له بدن څخه
ټول درد اوتكليف ختم سي بيابلې چيني ته ځي هلته طهارت حاصلوي له دي وروسته به پر
هغو دالله ﷻ دنعمتونو تازګي ښكاره كيږي له دي وروسته به كله هم دهغو وريښتان نه
پيريږي نه دهغو پر سر درد راځي لكه پرسر چه يې غوړي كاركړي وي بياهغه د جنت
دروازي ته رسيږي دجنت پيره دار ورته وايي پرتاسي دي سلامتي وي تاسي خوشحاله
سئ څكه په دي كي دهميشه اوسيدو لپاره داخل سئ څنګه چه دوي په جنت كي داخل سي
نوولدان به پرراچاپيره سي اوورته وبه وايي چه تاته دي زيري وي الله ﷻ ستالپاره فلانكي
فلانكي عزت تياركړي ده بيابه دولدان څخه يوتن د جنتي ښځو له جملي څخه يوې حورې
ته ولاړسي اوورته وبه وايي فلانكي سړي چه په دنياكي په فلاني نامه سره ياديدي دلته
راغلي ده حورې به ووايي اياتاهغه ليدلي ده؟ هغه به ووايي هو ماليدلي ده هغه به هم په
ماپسي راروان وي هغه به له ديري خوشحالي څخه ددروازي په دهليز كي په شوق سره
ودريږي په جنت كي مختلفي درجي اومرتبې دي كه ته غواړي چه دجنت اعلي درجه
حاصله كي نوكوشش وكه چه بل څوك په عبادت كي ترتاله مخه نسي الله ﷻ هم په خپل
اطاعت كي دمقابلي اويودبل سره دسبقت كولو حكم كړي ده دالله ﷻ ارشاد ده ، سَابِقُوا إِلَىٰ
مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ دخپل رب ﷻ دبخښني طرف ته سبقت وكړئ . وَفِي ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ .
په دي په كارده چه رغبت كوونكي رغبت وكي دحيراتيا خبره خودا ده چه كله ستا دوست
ياهمسايه له تاڅخه په مال دولت اوياكور جوړولو كي سبقت وكي نوتاته ډير افسوس
راځي ستازړه تنګيږي اوپه زړه كي دي حسد پيداكيږي مګر افسوس چه تاكله هم دجنت
دترلاسه كولو لپاره فكر ونه كړ دجنت دحاصلولو لپاره خپل ټول اعمال صالح كه ته به په
جنت كي هغه خلك ووينى چه ترتايې په عبادت كي سبقت كړي وو په داسي ځايونو كي به
اوسيږي چه ټوله دنياهم نه سي ورسره برابريدلاي دحضرت ابوسعيد الخدري رضی الله عنه څخه
روايت ده چه نبي كريم ﷺ وفرمايل بلاشبه جنتيان په پورته اولوړو ځايونو كي داسي
اوسيدونكي وي لكه تاسي چه دمشرق يادمغرب په كنارو كي ډيرلاندي ځليدونكي
ستوري وينئ دابه دجنتيانو ترمينځ ددرجو دپورته والي له وجه وي اصحابو
كرامو رضی الله عنهم عرض وكړ يارسول الله ﷺ اياد انبياوو لپاره به هم مقامونه وي چه هلته
نورخلك نه وررسيږي ؟رسول الله ﷺ وفرمايل هو قسم ده په هغه ذات چه زماروح دهغه په
قبضه كي ده داسي خلك به وي چه پرالله ﷻ يې ايمان راوړي وي اودرسولانو تصديق يې

کړي وي هغه ﷺ وفرمايل دلوړو درجو خلک به له لاندي څخه تاسي ته داسي معلوميږي نکه تاسي چه دمشرق يامغرب څخه ښکاره کيدونکي ستوري وينئ اوحضرت ابوبکر ؓ او عمر ؓ دهم هغو جنتيانو دجملي څخه ده چه دواړه ښه دي حضرت جابر ؓ وايي چه محمد ﷺ موږ ته وفرمايل چه ايازه تاسوته دجنت دبالاخو په اړه څه ونه وايم ؟ موږ عرض وکړ ترتادي زموږ مور اوپلار قربان وي ولي نه يارسول الله ﷺ ضرور يې راته وکه رسول ﷺ وفرمايل په جنت کي دملغلرو په رکم بالاخاني دي دننه حصه يې له دباندي څخه معلوميږي په هغوکي داسي نعمتونه ، لذتونه،اوخوشحالي دي چه ستړګو نه دي ليدني اونه دچاغوږو اوريدلي دي اونه دچا په زړو کي دهغو خيال اوتصورپيداسوي ده ماعرض وکړ يارسول الله ﷺ دابالاخاني به دچالپاره وي ؟رسول ﷺ وفرمايل دهغه چالپاره چه داسلام نشر اواشاعت کوي خلکو ته ډوډۍ ورکوي هروخت روژي نيسي دشپې چه خلک ويده وي هغه لمونځ کوي ماعرض وکړ يارسول الله ﷺ څوک ددغو اعمالو دپوره کولو طاقت لري ؟ رسول ﷺ وفرمايل زماامتي ددي طاقت لري زه تاته ددي تفصيل درکوم کم سړي چه له خپل مسلمان ورور سره يوځاي سو اوسلام يې وروا چاوه ګواکي هغه اسلام خپور کړ چاچه خپل اهل اوعيال ته په مړه ګيډه ډوډۍ ورکړه هغه ګواکي ډوډۍ خيرات کړه چاچه دروژي پوره مياشت اودهري مياشتي دري دري روژي ونيولي ګواکي هغه ټول عمر روژه ونيوله کوم سړي چه دماخستن لمونځ وکړ اوبيده سو دسهار لمونځ يې په جمع سره اداکړ ګواکي هغه ټوله شپه عبادت وکړ اوخلک يعني يهود اونصري ويده پراته وو درسول ﷺ څخه د(مساكن طيبة في جنت عدن)دتفسير په اړه پوښتنه وسوه رسول ﷺ وفرمايل هغه به دملغلرو محلونه وي په هرمحل کي به دسرو ياقوتو اويا کورونه وي په هرکور کي به دزمرودو اوياکورونه وي په هرکورکي به اوياتختونه وي پرهرتخت باندي به اويا سترخوانونه وي پرهر سترخوان به دهغه ښځه حورعين وي پرسترخوان به اوياقسمه خوراکونه وي په هرکورکي به اوياخادمان وي مؤمنان به هرسهار پرټولو سترخوانو باندي يوځاي ډوډۍ خوري .

## دري اويايم باب صبر ، رضا، اوقناعت

درضافضيلت په قرآن سره ثابت ده لکه دالله ﷻ ارشاد چه ده :﴿رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ﴾ ژباړه :الله ﷻ له هغو څخه راضي سو هغه له الله ﷻ څخه راضي سول همدا ارشاد ده :﴿هَلْ جَزَاءُ الإِحْسَانِ إِلاَّ الإِحْسَانُ﴾ سورة الرحمٰن آيه(٦٠) ژباړه :داحسان بدله احسان ده داحسان منتهي

ده چه الله ﷻ له خپل بنده څخه راضي سي او دا مقام بنده ته هلته ترلاسه کيږي چه بند الله ﷻ په رضا راضي سي همدا راز الهي ارشاد دی،

وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنّٰتِ عَدْنٍ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ اَكْبَرُ سورة التوبة آية(٧٢) . ژباړه: د عدن په باغونو کې ښکلي او سپيڅلي ځايونه دي او د الله ﷻ له طرفه ډېره لويه رضامندي وي الله ﷻ په دي آيت کې رضا د جنت عدن لوړه ياده کړي ده لکه چه هر لمونځ ذکر ته توفيق ورکړي د الله ﷻ ارشاد دی: إِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ وَلَذِكْرُ اللّٰهِ اَكْبَرُ سورة العنكبوت آية (٤٥)

ژباړه: بيشکه چه لمونځ د بې حيايي او نامعقولو خبرو څخه منع کوي د الله ﷻ ياد ډېر لوی شي ده څنګه چه له لمانځه څخه د الله ﷻ شان ډېر لوړ دی همدا سې له جنت څخه د الله ﷻ رضا اعلی او ارفع ده لکه په حديث شريف کې چه دي چه الله ﷻ پر مؤمنانو باندې چه تجلي کوي او فرمايي چه له ما څخه و غواړئ مؤمن به و وايي اې الله ﷻ موږ له تا څخه صرف ستا رضا غواړو ګواکې د فضيلت د کمال د پيدا کيدو باوجود بيا هم د الله ﷻ رضا غوښتي حقيقت دا ده چه د الهي ديدار څخه لوړ بل شي نسته مګر د ديدار پروخت د الهي رضا خواهش کول په دې وجه وي چه همدغه د دائمي ديدار سبب ده ګواکې کله چه مؤمنانو ډېري لوړي مرتبې او درجې پيدا کړي د ديدار خوند يې واخستې هغه د نورو سوالونو او غوښتنو پر ځاې دائمي ديدار وغوښتي په دي پوه سول چه الهي رضا په دائمي توګه د حجابونو د پورته کيدو سبب ده الهي فرمان دی، وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ ژباړه: له موږ سره طرفه جنتيانو ته دري تحفي ورکول کيږي چه مخکې به له هغو سره نه وي د الله ﷻ ل ده: هيڅوک نه پوهيږي چه د هغه لپاره د سترګو کم يخوالي پټ ساتلي وو دوهم دا چه هغوي د الله ﷻ فرمان ته د هغو د رب د لوري سلام کيږي چه د هغه ترهغه بلې تحفې به زيات وي لک د الله ﷻ ارشاد چه ده سَلٰمٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ سورة يٰس آية(٥٨) ژباړه: د رحيم رب ﷻ له طرف هغوي ته سلام ويل کيږي دريم دا چه الله ﷻ فرمايي چه زه له تاسو څخه راضي يم دا خبر ل سلام او له هغه بلې تحفې څخه هم لويه ده الهي ارشاد دی،

وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ اَكْبَرُ سورة آية(٧٢) ژباړه: د الله ﷻ له طرفه هغه ډېره لويه رضا ده يعني د هغه نعمتونو څخه هم افضل د[illegible] چه د بنده د رضا د لت[illegible] الله ﷻ مقدسه رضا ده نبي ﷺ څخه [illegible] ده لکه ل [illegible]

څوک یاست؟ هغوورته وویل مؤمنان رسول ﷺ وفرمایل ستاسي دایمان څه نښه ده هغو
وویل چه موږ پرمصائبو صبر کوو په پراخي کي دالله ﷻ شکراداکوو اودالله ﷻ په قضا
رضا کیږو رسول ﷺ وفرمایل په خداي قسم چه تاسي مؤمنان یاست نبوي فرمان ده چه
علماء اوفقهاء رحمهم الله دخپل فقهي په وجه دیته نژدي سول چه نبیان سي په حدیث شریف کي
دي چه دهغه چاپاره زیري ده چه داسلام هدایت یې په نصیب سي اوهغه په خپل معمولي
رزق باندي راضي سو نبوي ارشادده چه کم سړي دالله ﷻ څخه په خپل معمولي رزق
باندي راضي سو هغه په ازمیښت کي اچوي که صبر وکي نو الله ﷻ هغه خوښوي اوکه هغه
په ازمیښت راضي سي نو الله ﷻ هغه په خپلو خاصوبندګانو کي شاملوي نبوي ارشادده
چه کله دقیامت ورځ راسي نو الله ﷻ زما دامت یوي ډلي ته وزري ورکوي هغه سیده جنت
ته ځي دجنت له نعمتونو څخه خوند اخلي اوچیري چه تلل غواړي نوهلته ځي ملائکي له
هغو څخه پوښتنه کوي ایاتاسي حساب ورکړي دی؟ هغه به ورته ووایي موږ خوحساب نه
دی لیدلي ملائکي پوښتنه کوي ایاتاسي پرپل صراط تیرسوي یاست هغه به ووایي موږ
خوپل صراط نه دی لیدلي ملائکي پوښتنه کوي ایاتاسي جهنم نه دی لیدلي؟ هغه به ووایي
موږ هیڅ نه دي لیدلي بیابه ملائکي پوښتنه وکي دچاامت یاست هغه به ووایي موږ
دمحمد ﷺ امتیان یو ملائکي به ووایي موږ تاسوته دالله ﷻ قسم درکوو او پوښتنه در
څخه کوو چه تاسي په دنیاکي څه عملونه کول؟ هغه به ووایي په موږ کي دوه عادتونه وو
چه موږ یې دغي مرتبې ته ورسولو اودالله ﷻ فضل اورحم پرموږ وسو ملائکي به ووایي
هغه کم کم عادتونه وو هغه به ووایي کله چه به موږ یوازي وو ګناه به موو کړه موږ ته به شرم
راتلي ښکاره ګناه خوپریږده هغه خوموبالکل نه ده کړي او موږ دالله ﷻ په معمولي رزق
رضاسوي وو ملائکي چه دهغوخبري واوري نوورته وبه وایي ستاسو لپاره خو بیاهم دغه
بدله په کاروه محمد ﷺ وفرمایل اي فقراوو که چیري تاسي دزړه دکومي دالله ﷻ په
ورکړه راضي سئ نودخپل فقر ثواب به پیدا کړئ که نو نه یې سئ پیداکولاي د موسي
ﷺ په کیسوکي راځي چه بني اسرائیلو هغه ﷺ ته وویل چه ته له الله ﷻ څخه زموږ لپاره
دداسي کم عمل پوښتنه وکه چه دهغه په وجه له موږ څخه راضي سي موسي ﷺ الله ﷻ ته
عرض وکړ چه اي الله ﷻ تاخو دهغوي عرض واوریدي چه هغو څه ویل؟ الله ﷻ وفرمایل
اي موسي هغوته ووایه چه هغه له ما څخه راضي سي یعني زماپه ورکړه که لږ وي که ډیر
راضي سي زه به له هغو څخه راضي سم په قرآن کریم کي الله ﷻ له(۹۰) څخه په زیاتو
ځایو کي دصبر یادونه کړي ده او اکثر درجي او فائدي یې صبر ته منسوبې کړي دي هغه یې

دصبر میوې ګڼلې دي دصابرانو لپاره يې داسې انعامات مقرر کړي دي چه دبل چالپاره
يې نه دي مقرر کړي دي لکه الهي ارشاد ده، أُولَـٰئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَـٰئِكَ هُمُ
الْمُهْتَدُونَ سورة البقرة آية(١٥٧). ژباړه: پرهغو خلکو دهغودرب له طرفه درود اورحمت ده اوهغه
کسان هدايت پيدا کونکي دي څکه ثابته سوه چه هدايت، رحمت، اوصلوات دري سره
يوازي د صابرينو لپاره مخصوص دي نبوي فرمان ده چه صبر نيم ايمان ده
رسول ﷺ فرمايې چه لږ شي چه تاسي يې دپاخه صبراوپوخ يقين سره حاصل کړئ کم سري
چه ددغه څخه حصه ورکړل سي که له هغه څخه دشپې عبادت اودورځې نفلي روژه پاته
سي نوهيڅ پروا نه لري داخبره دي ښکاره وي چه دلته له عبادت اوروژې څخه مرادنفلي
عبادت اوروژې دي نه فرضي اوپه معمولي رزق باندي ستاسي قناعت اوصبرکول ماته
تردي خبري زيات خوښ دي چه له تاسي څخه هريودتولو اوپوره اعمالو سره راسي ليکن
زه پردي بيرېږم چه له ما څخه وروسته به دنياتاسي ته خلاصه سي پس تاسو به يوبل ښه ونه
ګڼئ اوپه دي سبب به ملائکي تاسي هم ښه ونه ګڼي چاچه صبر وکړ اودثواب اميد يې وکړ
هغه پوره ثواب حاصل کړ بياهغه داآيت شريف ووايه: مَا عِندَكُمْ يَنفَدُ وَمَا عِندَ اللَّهِ بَاقٍ
وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِينَ صَبَرُوا أَجْرَهُم سورة النحل آية(٩٦). ژباړه: څه چه له تاسو سره دي هغه ختميدونکي
دي اوڅه چه له الله ﷻ سره دي هغه باقي پاته کيدونکي دي صبر کوونکو ته موږ اجر
ورکوو له حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت ده چه دنبي کريم ﷺ څخه دايمان په اړه پوښتنه
وسوه رسول ﷺ وفرمايل ايمان دصبر اوسخاوت نوم ده اوويې فرمايل چه صبر دجنت
دخزانو څخه يوه خزانه ده يووخت دهغه ﷺ څخه پوښتنه وسوه چه ايمان څشي
ده؟رسول ﷺ وفرمايل صبراودمحمد ﷺ داخبره دهغې خبري په رکم ده چه
محمد ﷺ فرمايلي دي چه حج پرعرفات دريدل دي يعني وقوف عرفه دحج مهم رکن ده
روايت ده چه الله ﷻ داوٗد عليه السلام ته وحي وکړه چه خپل اخلاق زمااخلاقو په رکم جوړ که
زماله اخلاقو څخه يوداهم ده چه زه صبور يم عطار رحمه الله دابن عباس رضي الله عنه څخه روايت کړي ده
چه کله محمد ﷺ انصاروته تشريف راووړ نوويې فرمايل اياتاسي مؤمنان ياست؟ هغه
چپ سول عمر رضي الله عنه وفرمايل هو يارسول الله ﷺ!رسول ﷺ وفرمايل ستاسي د ايمان نښه
څشي ده هغه رضي الله عنه عرض وکړ موږ دمال په وسعت کي دالله ﷻ شکر ادا کوو اوپه مصائبو
کي صبر کوو اوپه الهي قضا راضي يو رسول ﷺ چه دا واوريدل نوويې فرمايل دکعبې په
رب قسم چه تاسي مؤمنان ياست نبوي ارشادده چه ستاسي ترخوښو شيانو ستاسي

رب ﷻ دیر ښه ده حضرت عیسی ﷺ و فرمایل چه تاسي تر هغه د خپلي خوښي شیان نه سئ ترلاسه کولي ترڅو چه مو پر خپلو ناخوښو شیانو صبر نه وي کړي همدارازیې وفرمایل که صبر انسان واي نو نهایت مهربان به واي الله ﷻ صبر کوونکي خلک خوښوي اوس په آخیره کي دوه احادیث دقناعت په اړه وړاندي کیږي محمد ﷺ فرمایلي دي چه هرچا قناعت وکړ هغه معزز سو اوچاچه لالچ وکړ هغه ذلیل سو همدارازهغه ﷺ فرمایلي دي چه قناعت یوه داسي خزانه ده چه کله هم نه فناه کیږي په دي موضوع مخکي هم څه ناڅه تیرسول رجوع ورته وکئ.

## څلور اویایم باب دتوکل فضیلت

الهي ارشاد ده : إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ سورۃ آل عمران آیۃ(۱۵۹) . **ژباړه**: بېشکه الله ﷻ توکل کونکي خوښوي ددي څخه به بل لوي مقام دچاوي چه توکل کوونکي د الله ﷻ د محبت څخه برخورداره وي نوله کم سړي سره چه دالله ﷻ مینه وي هغه کامیاب ده ځکه چه محبوب ته نه عذاب ورکول کیږي اونه شړل کیږي نه ترټل کیږي په احادیثو کي هم دتوکل فضیلت بیان سوي ده دحضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت ده چه محمد ﷺ وفرمایل ماتول امتونه په مکه مکرمه کي دحج په موقع کي دجمع کیدو په ځاي کي ولیدل اوخپل امت مي هم ولیدي هغو هره لوړه او ژوره نیولي وه زه دهغو زیات تعداد اوشکلونو حیران کړم ماته وویل سول ایاته خوشحال اوراضي یې ماوویل هو بیایې راته وویل له هغو سره(۷۰۰۰۰)کسان جنت ته ځي دمحمد ﷺ څخه پوښتنه وسوه دغه خلک به څوک وي چه بلاحسابه جنت ته ځي؟ رسول ﷺ وفرمایل هغه څوک چه خپل وجودته داغونه ورکوي بد فالي اونیک فالي نه کوي په پټه دچاخبري نه اوري اوپرخپل رب ﷻ توکل کوي حضرت عکاشه ﷺ ودریدي اوعرض یې وکړ اي دالله ﷻ نبي ﷺ ادعاوکه چه الله ﷻ ماله هغو څخه حساب کي رسول ﷺ وفرمایل اي الله ﷺ عکاشه په هغو کي حساب که بیایوبل صحابي ودریدي اوعرض یې وکړ اي دالله ﷻ نبي ﷺ زما لپاره هم دعاوکه چه زه هم دهغو په جمله کي راسم هغه ﷺ وفرمایل عکاشه ترتامخته سو دمحمد ﷺ فرمان ده که تاسي په صحیح معني سره توکل کړي واي الله ﷻ به تاسوته دمرغانو په رکم رزق درکړي واي چه سهار وږي تږي الوزي او ماښام په ماړه نس راځي نبوي ارشادده چه هرڅوک خپلي اړیکي یوازي له الله ﷻ سره ټینګي کي الله ﷻ په هرمشکل کي ورته کافي کیږي اوله داسي لاروڅخه رزق ورکوي چه دهغه په خوب اوخیال کي هم نه وي اوکم سړي چه پردنیاتوکل کوي الله ﷻ هغه دنیاته سپاري نبوي ارشادده چه کم سړي داغواړي چه دټولو

خلګو څخه زیات مالدار سي هغه ته په کارده چه پرموجوده رزق باندي داعتماد پرځاي په هغه رزق اعتماد وکي چه له الله ﷻ سره ده روایت ده چه کله به دمحمد ﷺ کورنۍ وږي وه نومحمد ﷺ به ورته فرمایل چه پرلمانځه ودرېږۍ زمارب ﷻ ماته داحکم کړي ده :

وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا (طه آیة ۱۳۲) ژباړه :نبوي ارشادده چه هرچاشور ماشور وکړ اوجسم ته یې داغ ورکړ هغه توکل ونه کړ روایت ده ده چه حضرت ابراهیم ﷺ اورته اچول کېدي جبرائیل امین ابراهیم ﷺ ته وویل ایاماته ستاکم حاجت سته؟ هغه وویل تاته هیڅ حاجت نلرم ابراهیم ﷺ خپل عهد پوره کوي چه په اورکي دلویدو څخه نیول کېدي اوهغه ویلي وه چه ماته زمارب ﷻ کافي ده هغه ښه کار جوړونکي ده اوالله ﷻ دهغه په خبره داآیت نازل کړ: وابراهیم الذي اوفي .ابراهیم ﷺ خپل عهد پوره کړ الله ﷻ داوٗد ﷺ ته وحي وکړه چه اي داوٗده زماهر بنده چه زمالمنه ونیسي اودنورو خلګو لمنه پرېږدي که پرهغه دآسمان اومځکي په اندازه تکالیف راسي نوزه یې تول لیري کوم اودنجات لاره ورته برابروم حضرت سعیدبن جبیر ﷺ وایې چه زه لړم وخوړم ماته زمامور قسم راکړ چه ددم لپاره چاته ولاړسم دم کوونکي زماهغه لاس ونیوي چه پرهغه لاس لړم نه وم خوړلي اوداآیت شریف یې ووایه، وتوکل علي الحي الذي لایموت .په هغه ژوندي ذات توکل وکه چه نه مري بیایې راته وویل چه ددي آیت داوریدو څخه وروسته هیچاته دامناسب نه ده چه دالله ﷻ څخه بغیردبل چاپناه وغواړي یوعالم ته په خوب کي وویل سوه چه هرچاپه الله ﷻ اعتماد وکړ هغه خپل رزق راتول کړدځینو علماؤ قول ده چه دمقررسوي رزق حصول ده تادفرض سوو اعمالو څخه غافل نه کي ځکه چه په دي ترتیب سره ستاآخرت خرابیږي اوتاته هم هغه رزق رسیږي چه درته مقررسوي ده دیحیی بن معاذ ﷺ قول ده چه دطلب اولتي څخه پرته انسان ته رزق راتلل په دي خبره دلالت کوي چه رزق ته دبنده دلتي حکم ورکول سویده ابراهیم بن ادهم ﷺ وایې چه مادیوو راهب څخه پوښتنه وکړه ته دکم ځاي څخه خوراک ترلاسه کوي؟ هغه راته وویل ماته پته نسته دالله ﷻ څخه پوښتنه وکه چه هغه یې ماته له کم ځاي څخه راکوي جناب هرم بن حیان حضرت اویس قرني ﷺ ته وویل چه تاسي ماچیري لیږۍ هغه دشام پرطرف اشاره وکړه هرم وویل هلته به زما ګذاره څنګه وي؟ اویس قرني ورته وویل هغه زړه دي هلاک سي چه په الله ﷻ اعتماد نلري اوپه شک کي پروت وي داسي زړونو ته نصیحت هیڅ ګټه نه رسوي دیوبزرګ وینااده چه دکله

څخه زه په دي خبره رضاسوي يم چه زمادټولو کارو جوړونکي اوحل کوونکي الله ﷻ دا
ماته دکاميابۍ لاره حاصله سوي ده .

## پنځه اويايم باب دمسجد فضيلت

الهي فرمان دی، إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ سورة التوبة آيه(١٨) . ژباړه:
دالله ﷻ مسجدونه صرف هغه خلګ ابادوي چه په الله ﷻ اودآخرت په ورځ ايمان لري
نبوي حديث دی چه هرچا دالله ﷻ درضاپه خاطر مسجد جوړکړ اګرکه هغه دزرکي
داوسيدو دځاي په اندازه وي الله ﷻ دهغه لپاره په جنت کي کور جوړوي نبوي حديث دی
نه تاسي څخه مخکي چه کم سړي له مسجدسره مينه لري الله ﷻ له هغه سره مينه کوي
نبوي حديث ده چه کله مسجدته ننوزئ نوترکښينستو مخکي دوه رکعته لمونځ کوئ نبوي
ارشادده چه دمسجدپه څنګ کي داوسيدونکي سړي لمونځ دمسجد څخه بغير نه دی جائز
نبوي ارشادده چه له تاسي څخه بغير کم سړي چه ترڅوپوري دلمانځه پرځاي ناست وي
ملائکي هغه ته دمغفرت دعاوي کوي او وايي چه اي الله ﷻ پرده سلامتي نازله که اي
الله ﷻ رحم ورباندي وکه اي الله ﷻ دده ګناهونه معاف که دادعاګاني ترهغه وخته پوري
جاري وي ترڅوچه هغه له بل چاسره خبري نه وي کړي ياله مسجد څخه ونه وزي نبوي
ارشادده چه په آخره زمانه کي به زماپه امتيانو کي داسي خلګ وي چه مسجدونوته به
راځي دنياوي خبري به پکښي کوي ددنيادمحبت کيسي به کوي له هغو سره مينه مه کوئ
الله ﷻ ته دهغو هيڅ ضرورت نسته نبوي فرمان ده چه دالله ﷻ داارشادپه ځيني الهامي
کتابوکي موجودده چه پرمځکه مسجدونه زماکورونه دي اودهغو په ابادي اوتعميرکي
برخه اخيستونکي زما زيارت کوونکي دي زيري دي وي زمادهغه بنده لپاره چه په خپل
کورکي دطهارت اواودس څخه وروسته زماکورته زمادزيارت لپاره راځي پرماحق ده چه
زه راغلي ظائر ته عزت اووقار ورکم دمحمد ﷺ ارشادده چه ترڅوپوري داسي يوسړي
وينئ چه هغه مسجد ته دورتلو عادي وي دهغه پرايمان شاهدي ورکئ دجناب سعيد بن
مسيب رضي الله عنه قول ده چه کم سړي چه په مسجد کي کښيني ګواکي هغه دالله ﷻ په مجلس کي
کښينستي ځکه هغه ته په کارده چه دنيکي څخه بغيربله خبره ونه کي په يوو حديث شريف
کي داهم راغلي دي چه په مسجدکي دنياوي خبري کول نيکئ داسي ختموي لکه حيوان
چه وابنه خوري دحضرت انس بن مالک رضي الله عنه قول ده چه کم سړي په مسجدکي څراغ بل کي
ترڅو پوري چه دڅراغ رڼاوي دعرش حاملين اوټولي ملائکي دهغه لپاره دمغفرت دعا
کوي علي کرم الله وجهه فرمايلي دي چه کله سړي مړکيږي دهغه دلمونځ ځاي اودآسمان

هغه ځاې چه دهغه نيکي خبرې پرهغه ژاړي بيا هغه دا آيت ووايه پرهغه نه ځمکه اونه
سمان وژړل اونه مهلت ورکړ سو يعني کله چه داسي يوڅوک مرسي چه دلمانځه
کولو ځاې نلري دحضرت ابن عباس رضي الله عنه قول ده چه دلمونځ ګذار سړي پرمرګ څلويښت
ورځي ځمکه ژاړي حضرت عطاء الخراساني رحمه الله وايي چه بنده کله دځمکي پرکم ځاې
سجده لګوي هغه ځاې دقيامت په ورځ دهغه پرعمل شاهدي ورکوي اودهغه دمرګيدو په
وخت هغه ځاې ژاړي دحضرت انس بن مالک رضي الله عنه قول ده چه دځمکي پرکمه حصه باندي
لمونځ کيږي يادالله جل جلاله ذکر ورباندي کيږي دغه حصه دځمکي پرنورو حصو باندي فخر
کوي اوله سرڅخه ترلاندي اوومي ځمکي پوري مسرت اوخوشحالي محسوسوي کله چه
يوبنده په کمه ورځ لمونځ کوي هغه ځمکه فخر باندي کوي داهم ويل سوي دي هره دله چه
دځمکي پرکمه حصه قيام وکي دځمکي هغه ټوټه پرهغه سلامتي وايي اويالعنت
پرکوي .

## شپږ اويايم باب داصحاب کرامو رضي الله عنهم دریاضت فضیلت

داخبره په ذهن کي محکمه ونيسه چه الله جل جلاله کله دخپل بنده خير غواړي هغه بنده په
خپلو عيبونو نظر اچوي دچاچه بصيرت کامل سي له هغه څخه هيڅ دول ګناه نه پټيږي چه
څنګه په خپل عيب پوه سي علاج يې ورته اسان وي ليکن اکثر جاهلان دخپلو عيبونو څخه
ناخبره وي دنورو کوچنۍ ګناه خويني مګر خپل لوي ګناهونه نه سي ليدلاي کم سړي چه
په خپلو عيبونو خبريدل غواړي دهغه لپاره څلورطريقي دي،
**اوله طريقه**،ديوداسي کامل شيخ صحبت دي خپل کي چه له خپلو عيبو څخه خبر وي
اوديټونفساني خواهشاتو دخباثت څخه کماحقه خبرداره وي هغه دخپل نفس حاکم
وګرځي په عباداتو کي دهغه هدايات ومني .**دوهمه طريقه**،دداسي دوست په مجلس کي
کښينه چه ريښتيني دبصيرت خاوند اوبيداره وي هغه دي دخپل نفس محافظ وګرځوي
ترڅو دادوست دهغه په افعالو اوحوالو باندي نظر واچوي په هغه کي چه کم ظاهري
اوباطني عيبونه ويني دهغه څخه يې خبر کي دعقلمندو اولويو علماور همداطريقه وه
حضرت عمر رضي الله عنه به فرمايل چه الله جل جلاله دي په هغه ځوان رحم وکي چه زما دعيبونو څخه
ماخبر کي هغه رضي الله عنه به دحضرت سلمان رضي الله عنه څخه دخپلو عيبونو په باره کي پوښتنه کوله کله
چه به يې هغه رضي الله عنه وليدي نوپوښتنه به يې ورڅخه کوله چه تاپه ماکي کم عيبونه ليدلي دي
چه ستانه خوښيږي؟ حضرت سلمان رضي الله عنه معذرت وغوښتي مګرعمر رضي الله عنه چه دير زيات
اصرار وکړ هغه رضي الله عنه ورته وويل ماته معلومه سوه چه ته پريوو سترخوان باندي دوه کټغه

جمع کوي اوستا دشپې لباسونه دوه دي عمر ﷺ وويل ایاتا ددي څخه بغير بل عيب هم
ليدلي ده ؟ هغه ﷺ وويل ياعمر ﷺ وويل مادغه کارونه پرېښوول حضرت حذيفه ﷺ به
فرمايل چه تاسي ماته روایاست چه په ماکې دمنافقت کمې علامې خو نه ښکاري هغه سره
له دې چه ددېرې غټې مرتبې خاوند وو بیاهم دخپل نفس داصلاح اوسرزنش څخه غافل وو
حضرت حذيفه ﷺ دمنافقينو په باره کې دنبي کريم ﷺ راز دار صحابي وو په چاکې چه
زيات عقل وي هغه له تکبر څخه ځان ساتي اودخپل نفس دسرزنش څخه نه غافلېږي له
داسې سړي سره دوستي مه کوه چه دچشم پوشي څخه کاراخلي اوتاته ستاعيبونه نه وايې
په تياره کې دي ساتي له هغه سړي سره هم دوستي مه کوه چه حاسد اومطلب پرست وي
هسې نه چه ستانيکياني هم تاته دعيب په شکل دربنکاره کې دداسې چشم پوشي کوونکو
سره نيکي مه کوه چه ستابديو ته نيکي وايې کله چه حضرت داؤد طايې دخلکو څخه
گوښه نشين سو يوچاپوښتنه ځني وکړه ولې دې له خلکو سره ناسته ولاړه پرېښووه؟ هغه
ﷺ وويل دداسې خلکو سره به څنګه اړيکي وساتم چه له ماڅخه زماعيبونه پټوي
ديندارو خلکوبه هميشه داخواهش کاوه چه خلک هغه له خپلو عيبونوڅخه خبر کې
خوزموږ حالت داده چه څوک موږ ته نصيحت کوي موږ ته زموږ عيبونه ښکاره کوي موږ
هغه خپل لوي دښمن گڼو دغه کار دانسان ايمان کمزوري کوي ځکه بدي خبري دمار او
لړم په رکم سړي خوري که څوک موږ ته داووايې چه ستاپه کالو کې لړم ده موږ دهغه
احسان منو اوشکريه يې اداکوو دلړم دمړکولو اوله هغه څخه دځان ساتلو کوشش کووحال
داچه دهغه تکليف صرف بدن محسوسوي اوتردوو ورځو زيات دهغه تکليف نه سي پاته
کيداي ليکن دبدو خصلتونو تکليف دزړه په تل کې پاته کيږي که هميشه پاته نه سي بياهم
تر زرو کالو پورې وي خودهغه په سزاکې تکليف محسوسوو دوهمه خبره داده چه موږ
ددې پرځای چه دناصح نصيحت واورو اودخپل ځان داصلاح فکر وکو برعکس له هغه
سره دښمني کوو اوورته وايو چه ته پخپله ښه سړي نه يې فلاني فلاني کارونه دي کړي دي
دهغه سره ددښمني جذبه موږ دهغه په نيکوخبرو دفائدې اخستلو څخه منع کوي اوزموږ
زړونه زموږ دگناهونو له وجه ترکاڼي هم سخت سوي ده ددې ټولو اصلي بيخ زموږ دايمان
کمزوري ده .**دريمه طريقه**،له خپلو دښمنانو څخه خپل عيبونه واوري ځکه چه دهرچا
دښمن د هغه عيبونه ښکاره کوي عقلمند انسان دخپل دښمن له خولې څخه دعيبو په
اوريدو سره دهغه چشم پوشي کوونکي دوست څخه زياته گټه ترلاسه کولاي سي چه دهغه
تعريف اوتوصيف کوي اوعيبونه يې پټوي خوافسوس داده چه دانسان طبيعت د خپل

دښمن خبره دروغ او د حسد څخه د که بولي ليکن هوښياران د دښمن د خبرو څخه هم درس اخلي او د خپلو عيبونو اصلاح کوي. **څلورمه طريقه**: له خلکو سره ناسته ولاړه وکه د کومو خلکو افعال چه خوښ يې سي هغه دي په خپل ځان کي پيدا کي او کم افعال چه بد ورته معلومېږي په هغه کي دي فکر وکي چه داسي خونه دي چه هغه ته خپل عيبونه د نورو په هينداره کي ښکاره کيږي؟ ځکه چه يو مؤمن د بل مؤمن لپاره د هينداري په رکم ده ځکه دي د نورو په هينداره کي ده خپل عيب وګوري له حضرت عيسى ﷺ څخه پوښتنه وسوه چه تاسو ته چا ادب دروښووئ هغه ﷺ وفرمايل ما ته چا ادب نه ده ښوولي بلکه ما د جاهل جاهليت بد ګڼلي او د هغه څخه مي ځان ساتلي ده کم سړي چه حاذق طبيب پيدا کي پر هغه لازم ده چه له هغه سره کښيني ځکه دا هغه شخصيت ده چه هغه له ناروغيو څخه نجات ورکوي او هغه يې له هلاکوونکي څخه خلاصوي چه د هلاکت پر طرف يې روان کړي ده که دي داسي حاذق طبيب پيدا کړ نو بيا هم پر تا لازم ده چه ستا ايمان او قلبي تصديق ختم نه سي يا د مر هغه شخص تقليد وکي چه د تقليد وړوي ځکه چه د علم په رکم د ايمان هم درجي دي او علم تر ايمان وروسته حاصليږي لکه د الله ﷻ امر چه ده:

يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ سورة المجادلة آية (١١). **ژباړه**: الله ﷻ هغو خلکو ته لوړي مرتبي ورکوي چه ايمان يې راوړي وي او چا ته چه علم ورکول سوي ده هغو ته درجي ورکول کيږي او چا ته چه علم ورکول سوي ده هغو ته درجي ورکول کيږي ځکه کم سړي چه په دي حقيقت پوه سو چه د نفساني خواهشاتو مخالفت د الله ﷻ په طرف د تللو سيده لاره ده هغه د ايماندارو څخه ده کله چه کم سړي د شيطان د هغو مددګارانو څخه خبرېږي چه مور يې مخکي يادونه وکړه هغه له هغو خلکو څخه ده چه الله ﷻ علم ورکړي ده او د نېکني وعده يې ورسره کړي ده او کم سړي چه د دغه امورو په نظر کي نيولو سره د دين حقيقت پيژني او د ايمان پوخوالي غواړي د هغه مرتبه لوړه ده د الهي فرمان ده چه: وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى سورة النازعات آية (٤٠/٤١). **ژباړه**: او چا چه خپل نفس له خواهشاتو څخه وساتي بيشکه جنت د هغه ځاي ده همدا رنګه ارشاد ده: أُولَئِكَ الَّذِينَ امْتَحَنَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَى سورة الحجرات آية (٣). **ژباړه**: دا هم هغه کسان دي چه الله ﷻ د دوي زړونه د تقوي لپاره خاص کړي دي ويل کيږي چه د دي مطلب دا ده چه الله ﷻ د هغوي د زړونو څخه د خواهشاتو مينه سلب کړي ده نبوي ارشاد ده چه مؤمن په پنځو مصائبو کي راګير وي مؤمن د هغه سره حسد کوي او منافق عداوت ورسره کوي کافر د هغه د وژلو

کوشش کوي شیطان دهغه دګمراه کولو کوشش کوي نفس له هغه سره جنګ کوي ځکه معلومه سوه چه نفس جنګ کوونکي دښمن ده مقابله ورسره ضروري ده روایت ده چه الله جل جلاله داؤد علیه السلام ته وحي وکړه چه اي داؤده خپله هم اودوستان دي هم دخواهشاتو له پیروي څخه ویروه ځکه چه زړه په دنیاوي خواهشاتو کي دوب وي اودهغه عقل له ماڅخه لیري کیږي حضرت عیسی علیه السلام وفرمایل دهغه چاپاره زیري ده چه دآخرت دهغه نعمتونو په خاطر چه له سترګو څخه یې پټ دي دظاهري شیانو خواهشات پرېښوول محمد ﷺ هغو مجاهدینو ته چه دجهاد څخه راغلي وه په خیرراغلاست وویل اوورته ویې فرمایل چه تاسي نه جهاد اصغر څخه دجهاد اکبر په لورراغلاست عرض وسو یا رسول الله ﷺ جهاد اکبر څشي ده؟ رسول ﷺ وفرمایل له خپل نفس سره جهاد نبوي فرمان ده چه مجاهد هغه څوک ده چه د الله جل جلاله په عبادت کي دخپل نفس مقابله کوي دسفیان ثوري رحمه الله قول ده چه ما دنفس څخه زیات مشکل دبل شي علاج نه ده کړي کله مي فائده اوکله مي نقصان پکښي لیدلي ده دجناب حسن رضي الله عنه قول ده چه نفس ترسرکښ حیوان هم ترلوته زیات ضرورت لري دیحیی بن معاذ رضي الله عنه قول ده چه دنفس مقابله درياضت په توره سره وکه درياضت څلور قسمونه دي اول لږ خوراک دوهم لږ خوب دریم صرف دضرورت په وخت کي خبري کول څلورم دټولو خلګو تکلیف زغمل په لږ خوراک سره شهوات مړه کیږي په لږ خوب سره ارادي پاکیږي په لږوخبروسره سلامتي حاصلیږي اودخلګودتکلیف په زغملوسره انسان لوړو مرتبو ته رسیږي هغه رضي الله عنه وویل دانسان دري دښمنان دي دنیا، شیطان، اونفس دنیاپرېږده ځان محفوظه ځني وساته دشیطان مخالفت وکه اوخواهشات ترک که په دي سره به له شرڅخه محفوظ سي دیو حکیم قول ده چه پرکم سړي باندي دهغه نفس غالب سي هغه دشهواتو په محبت کي راګیرېږي دخواهشاتو په زندان کي قیدي کیږي دهغه واګي دهغه دخواهشاتو په اختیار کي وي چیري چه یې وغواړي روانوي یې اوزړه یې دټولو دیني فوائدو اوخوندونو څخه محروم کوي حضرت جعفر حمیدي وایي چه ماعلماء اوحکماء په دي خبره متفق لیدلي دي چه ددنیاوي نعمتونو دپرېښوولو څخه بغیراخروي نعمتونه نه سي ترلاسه کیداي دحضرت ابویحیی الوراق وینا ده چه کم سړي دخپل اعضاوو خواهش پوره کي ګواکي هغه په زړه کي دپښیماني تخم وکاري دحضرت وهیب بن الورد رحمه الله قول ده چه کم یوشي له قوت لایموت څخه زیات وي هغه شهوت ده اوچاچه دنیاوي خواهشات خوښ کړل هغه درسوایي لپاره اماده سو .

لمه ،کله چه د مصر دباچا عزیز ښځي زلیخا یوسف ﷺ د مصر دباچا په شکل ولیدي هغه رخت زلیخا پریوو لوړ ځاي ناسته وه یوسف ﷺ تقریبًا د دوو لسو زرو حکومتي خلګو سره دهغه ځاي څخه تیریدي هغې وویل پاک دي هغه ذات چه دګناهونو په سبب غلامان پ چهان کوي او دغه دمفسدینو جزاء ده صبر اوتقوي له غلامانو څخه باچهان جوړ کړي دي دحضرت جنید رحمه الله قول ده چه یوه شپه له خوبه راویښ سوم پرعبادت ودریدم خوپه عبادت کي خوند نه وو اراده مي وکړه چه بیرته بیده سم لیکن خوب راڅخه وتښتیدي زه کښینستم خو بیاهم اطمینان اوسکون رانه غي دباندي ووتم په لاره کي مي یو سړي رلیدي په کمبله کي پیچلي پروت ده کله چه هغه زماد قدمو اواز واوریدي راته ویې ویل ي ابوالقاسمه زماخواته راسه ماورته وویل دڅه دعوت څخه بغیر درسم هغه وویل هو ماالله ﷻ ته سوال کړي وو چه ستاپه زړه کي زما لپاره تحریک پیداکي ماوویل لله ﷻ همداسي وکړل ووایه ستاڅه حاجت ده ؟هغه راته وویل دنفس ناروغي لپاره څه علاج ده؟ ماورته وویل که چه ته دخپل نفس خواهشات پریږدي هغه له خپل ځان سره وویل وادي وریده له دي څخه مخکي هم ماتاته اووه واره داخبر کړي وه لیکن تادجنید څخه بغیر دبل چاله خبري څخه انکار کاوه اوس خودي واوریده کنه چه جنید څه وویل بیاله دي ځاي څخه ولاړي یوچاد حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله څخه پوښتنه وکړه چه زه کله خبري رکړم؟ هغه راته وویل کله چه ته دچپ پاته کیدو خواهش ولري هغه پوښتنه وکړه کله چپ سم؟ هغه رحمه الله ورته وویل کله چه ستاپه زړه کي دخبروکولو خواهش وي دحضرت علي کرم الله وجهه قول ده هرڅوک چه دجنت شوق لري هغه دي له دنیاوي خواهشاتو څخه ځان لیري کي.

## اووه اویایم باب دایمان تعریف اودمنافقت بدي

پوه سئ چه ایمان دالله ﷻ دوحدانیت تصدیق اودرسولانودراوړي احکاموتائید اوتصدیق اوداعمالو دمجموعي نوم ده الهي فرمان ده،

اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوْا وَجَاهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ (سورة الحجرات آیه ١٥). ژباړه ،ایماندار خلګ هغه دي چه په الله ﷻ اودهغه پرړسول ﷺ ایمان راوړي بیا یې شک ونه کي دالله ﷻ په لاره کي له خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد وکي داخلګ رېښتیني دي په بل آیت شریف کي ارشادده ،وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالْكِتٰبِ وَالنَّبِيّٖنَ (سورة البقرة آیه ١٧٧). ژباړه ،لیکن نیکي دهغو

لپاره ده چه پر الله ﷻ ، دقیامت پرورځ ، پرملائکو ، او کتابونو باندي یې ایمان راوړي وي الله ﷻ دکامل ایمان لپاره شل صفات ښوولي دي لکه عهد پوره کول پرمصائبو صبر کول ، اوداسي نور په یوبل روایت کي دي چه الله ﷻ له تاسو څخه هغه څوک پورته کوي چه ایمان یې راوړي وي په یوبل آیت کي الهي ارشاد ده چه له تاسو څخه هغه خلک برابرنه دي چاچه دمکي دفتحې څخه مخکي خپل مال خرڅ کړاوجهاد یې وکړنبوي فرمان ده چه ایمان لڅ ده لباس یې تقوي ده ارشادیې وفرمایه چه دایمان اویادرجي دي کمه درجه یې دلاري څخه د تکلیف رسونکي شي لیري کول دي همدغه حدیث په دي خبره دلالت کوي چه کامل ایمان دعمل سره مشروط ده ایمان دنفاق اوپټ شرک سره یوځاي نه سي پاته کیداي ځکه پکارده چه ددي څخه په کلکه پرهیز وکول سي دنبي کریم ﷺ ارشادده چه داڅلور خویونه چه په چاکي موجودوي هغه خالص منافق ده اګرکه لمونځ کوي ، روژه نیسي ، ځان ته مؤمن وایي کله چه خبره کوي درواغ وایي کله چه جنګ کوي چتیات وایي چه وعده وکي مخالفت یې کوي چه امنت ورته کښیښوول سي خیانت پکښي کوي په څینو روایاتو کي دي چه کله معاهده وکي نوماتوي یې دحضرت ابو سعید خدري ؓ څخه روایت ده چه زړونه څلور قسمه وي یو هغه زړه چه له دنیا وي خواهشاتو څخه پاک وي په داسي زړه کي دمعرفت چراغ بل وي دغه دمؤمن زړه ده دوهم هغه زړه چه ایمان اونفاق دواړه کي وي په داسي زړه کي ایمان دشنه بوټي په رکم وي چه په صفااوبوسره غټیږي نفاق هغه ته دزخم په رکم ده چه ګذک اوګنده وینه سره زیاتیږي له هغوڅخه چه کم یوغالب سي هغه پرزړه حکمراني کوي نبوي ارشادده چه زمادامت اکثره منافقان قاریان دي په یوو حدیث کي دي چه زماپه امت کي شرک دصفاپرغره دتلونکي میږي څخه هم پټ ده حضرت حذیفه ؓ به فرمایل چه دمحمد ﷺ په زمانه کي به سړي په داسي خبره منافق کیدي چه ترمرګه پوري به منافق وو اوزه له تاسو څخه روزانه داسي خبري اورم دځینو علماؤ قول ده چه هغه سړي نفاق ته دیرنژدي سوي ده چه خپل ځان له نفاق څخه لیري لیري ګڼي حضرت حذیفه ؓ به فرمایل چه نن دمحمد ﷺ ترزمانه زیات منافقان دي هغه وخت به یې خپل منافقت پټ ساتي اوا وس یې ښکاره کوي همدغه پټ نیفاق دکامل اورښتیني ایمان ضد ده څوک چه له دي څخه بیره کوي هغه ځان څني لیري کوي هغه څوک ورته نژدي کیږي چه خپل ځان له دي څخه محفوظ ګڼي حضرت حسن ؓ ته چا وویل چه خلک وایي نورنفاق ختم سوي ده هغه ؓ په جواب کي ورته وویل که منافقان مړه سي نوته به په لاره کي وبریږي یعني یوازي به سي څوک به داسي پاته نه سي چه منافق به نه وي که رمنافقان صنف پیداسي

نومور به په مځکه کي تګ راتګ نه سو کولای یعني دهغو دکثرت له وجه به په لارو کي تګ راتګ سخت سي حضرت ابن عمر ؓ یو سړي ولیدی چه په حجاج پسي یې بدي ردي ویلي هغه ؓ وفرمایل که حجاج ژوندي وای تابه داسي خبري کړي و هغه وویل نه! هغه ؓ ورته وویل موږ همدغه شي ته دمحمد ﷺ په زمانه کي منافقت وایه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چه په دنیا کي کم سړي دوي ژبي درلودي په قیامت کي به هم دوي ژبي ولري بدترین سړي هغه ده چه دوه مخونه ولري یوه ته په یو مخ ورځي بل ته په بل مخ ورځي یعني منافقت کوي دحسن ؒ قول ده چه دنفاق په وجه زړه او ژبه خپل په مینځ کي سره مختلف کیږي دپټ او ظاهر ترمینځ اختلاف وي په تلو راتلو کي فرق وي ددا خلیدو لاره یوه او دوتو لاره بله وي یوچا حضرت حذیفه ؓ ته وویل چه زه له نفاث څخه یریږم هغه ؓ وفرمایل که ته منافق وای نوله نفاق څخه به نه یریدای ځکه چه منافق له نفاق څخه بي پرواه وي جناب ابن ابي ملیکة ؓ فرمایي چه ما (۱۴۰) او په بل روایت کي (۱۵۰) اصحاب کرام ؓ لیدلي دي چه ټول دمنافقت څخه یریدل روایت ده چه نبي کریم ﷺ دا اصحابو دیوي دلي سره ناست وو اصحابو ؓ دیوو سړي یادونه وکړه دهغه یې دیر زیات صفت وکړ ټول اصحاب ناست وو هغه راغي دهغه له مخ څخه داودا سه د اوبو څاڅکي تویدل څپلي یې په لاس کي نیولي وي دوریځو ترمینځ یې دسجدي نښي معلومي وي اصحاب کرامو ؓ وویل داهم هغه سړی ده چه موږ دهغه صفت وکړ محمد ﷺ وویل ماته دده په مخ کي دشیطان اثر معلومیږي هغه سړي راغي له صحابه وو ؓ سره کښیناستي او محمد ﷺ ته یې سلام وکړ محمد ﷺ هغه ته وویل زه تاته په الله ﷻ قسم درکوم ته ووایه چه کله تا داخلک ولیدل ستا په زړه کي دا خیال نه راغي چه تر پردوي بهتر یې؟ هغه وویل یا رسول الله ﷺ بالکل هم داسي ده بیا رسول ﷺ په خپله دعا کي وفرمایل اي الله ﷻ زه له تا څخه دهرهغه خبري چه زه په پوهیږم او که نه په پوهیږم مغفرت غوارم عرض وسو یا رسول الله ﷺ تاسي هم یېره لرئ رسول ﷺ وفرمایل زه به څنګه بي یېري یاته سم حال دا چه دمخلوق زړونه دالله ﷻ په دوو ګوتوکي دي هري خواته چه وغواړي اړوي یې دالله ﷻ ارشاد مبارک ده «وَبَدَا لَهُم مِّنَ اللَّهِ مَا لَمْ يَكُونُوا يَحْتَسِبُونَ» (زمر آیه ۴۷) «او دوی ته» دالله ﷻ له طرفه هغه شیان ښکاره کیږي چه ګمان یې هم نه کاوه ددي آیت په تفسیر کي ویل سوي دي چه هغو داسي اعمال کړي وه چه په خپل ګمان یې هغه نیکي ګڼل لیکن دهغوي دا عملونه دګناهونو په تاله کي پریوتل حضرت سري سقطي ؒ وایي که کم انسان یو داسي باغ ته ولاړسي چه هرقسم درختي پکښي وي پر درختو هرقسم مرغان ناست وي مرغان

دهغه په لیدوسره تول په یوه ژبه ورته روایې اې دالله ﷻ ولې پرتادې سلام وې دهغه زړه ددغې خبرې په اوریدو سره مطمئن سې گواکې هغه ددغو مرغانو اسیر ده دسلیمان الدارانی قول ده چه زمانه یوروباچا سره جنگ وسو هغه ماته داسې خبره وکړه چه زه په هغه خبره غصه سوم ماوغوښتل چه هغه ورتم له مرگ څخه خونه بیریدم مگر له دې څخه مې بیره پیداسوه چه زما دقتل په وخت کې دخلگوپه مخ کې داخبره تیره نه سې چه ما څنگه ښه کار کړي ده ځکه مادهغه درتللو اراده ترک کړه داهغه نفاق ده چه دایمان اصل ته نه بلکه دهغه دصفایي کمال اوصدق په خلاف ده دنفاق دوه قسمونه دي یو هغه چه سړي له دین څخه باسي په کفر کې یې داخلوي په هغه خلگو کې یې شاملوي چه دهمیشه لپاره په جهنم کې وسیږي دوهم قسم هغه ده چه دڅه وخت لپاره سړي جهنم ته نیږي یایې لوړي مرتبې کموي هغه دصدیقانو دلوړ مقام څخه راغورځوي .

## اته اویایم باب دغیبت، اوچغلخوري بدي

په قرآن کریم کې الله ﷻ دغیبت سخته غندنه کړې ده اوغیبت کوونکې یې دمردارو غوښو دخوړونکي سره مشابه کړي ده لکه الله ﷻ چه فرمایي: وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ سورة الحجرات آية (۱۲).

ژباړه: تاسې په خپل مینځ کې یودبل غیبت مه کوئ ایاله تاسو څخه څوک دا خوښوي چه دخپل مړ ورور غوښې وخوري هغه تاسي بدګڼئ نبوي ارشادده چه پرهر مسلمان دبل مسلمان وینه، مال، اوعزت حرام دي غیبت عزت خوري اوالله ﷻ هغه له مال اووینې سره یوځاي یادکړي ده نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چه یودبل سره حسد مه کوئ بغض مه کوئ دوکه مه ورکوئ په شاپسې غیبت مه کوئ دبل غیبت مه کوئ اې دالله ﷻ بندگانو! په خپل مابین کې ورونه ورونه گرځئ دحضرت جابر ﷺ اوابوسعید ﷺ څخه روایت ده چه نبي کریم ﷺ وفرمایل له غیبت څخه خانونه وساتئ ځکه چه غیبت ترزنا هم بدتر ده ځکه چه سړي زنا کوي اوبیاتوبه کوي الله ﷻ یې توبه قبلوي لیکن دغیبت کوونکي توبه ترهغه نه قبلیږي ترڅوچه هغه سړي معافي ورته ونه کې هغه غیبت چه یې ورپسې کړي ده له حضرت انس ﷺ څخه روایت ده چه نبي کریم ﷺ وفرمایل دمعراج په شپه زه پریوداسې قوم تیرسوم چه دمخانو غوښې یې په نوکانو پرې کولې ماپوښتنه وکړه چه اې جبرائیل ﷺ دا څوک دي ؟ هغه راته وویل داهغه خلگ دي چه په دنیاکې یې په خلگو پسې غیبتونه کول اودهغو عزت یې تریخنولاندي کاوه له حضرت سلیمان بن جابر ﷺ څخه روایت ده چه مادنبي کریم ﷺ په خدمت کې عرض وکړ چه اې دالله ﷻ رسوله ماته دنیکي داسې کار وښیه چه گټه ورڅخه واخلم هغه راته وفرمایل دنیکي یوکارهم کوچنی

مه کیږه اګرکه دخپلو چنبلو لپاره اوبه په دولچه کې واچوې له حضرت براء بن عازب (رضي الله عنه) څخه روایت ده چه نبي کریم ﷺ موږ ته خطاب وکړ په کورکي ناستو ښځوهم د محمد ﷺ خطاب واوریدي محمد ﷺ وفرمایل اې هغه خلکو اچه په ژبه مو ایمان راوړي ده مګر په زړو کې ایمان نه لرئ دمسلمانانو غیبت مه کوئ اودهغو په رسوایې پسې مه ګرځئ هرڅوک چه دخپل وروردرسوایې په طلب کې سي الله ﷻ د هغه درسوایې په طلب کې وي الله ﷻ چه دچادرسوایې په طلب کې سي هغه په خپل کورکې بې عزته اورسوا کوي روایت ده چه الله ﷻ موسی (عليه السلام) ته وحې وکړه چه کم سړي چه له غیبت څخه دتوبه کولو وروسته مړسي هغه به وروسته سړی وي چه په جنت کې به داخل سي اوکوم سړي چه دغیبت په حالت کې مړسي هغه به مخکښې سړی وي چه جهنم ته به داخل سي له حضرت انس (رضي الله عنه) څخه روایت ده چه نبي کریم ﷺ یوه ورځ خلکوته وفرمایل چه روژه ونیسئ اوحکم یې ورته وکړ چه زمادااجازې بغیر دې روژه نه ماتوي چه مابنام سو خلک راروان سول هرسړي به محمد ﷺ ته عرض کاوه چه مادورځې روژه نیولې وه ماته دماتولو اجازه راکه محمد ﷺ به هغه ته دماتولو اجازه ورکوله خلک به راتلل اودماتولو اجازه به یې غوښته یوسړي راغې عرض یې وکړ یارسول الله ﷺ زما د کور دوو ښځو هم روژې نیولې دي اجازه وکه چه هغه هم روژه ماته کې هغه ستا وحضورته له راتلو څخه شرمیږي محمد ﷺ مخ ورځخه وګرځاوه بیایې عرض وکړ محمد ﷺ بیامخ وګرځا وه هغه بیاعرض وکړ محمد ﷺ ورته وفرمایل هغو روژه نه ده نیولې هغه شخص څنګه روژه داره کیداې سي چه ټوله ورځ یې دخلکو دغوښوپه خوراک کې تیره کړې وي ته ولاړسه اوورته ووایه چه تاسې خپله روژه تۍ کئ هغه سړي ښځوته ورغی اودمحمد ﷺ خبرې یې ورته وکړې هغو قې وکړ دهرې یوې له خولې څخه دوینو ټوټې وغورځیدلې هغه سړي دمحمد ﷺ په خدمت کې حاضرسو ټوله قصه یې ورته بیان کړه محمد ﷺ ورته وفرمایل په الله ﷻ قسم که دهغوې په نس کې داپاته سوې واې اوربه سوځلې واې دیوبل روایت الفاظ داسې دي چه کله محمد ﷺ مخ ځنې واړاوه لږ وخت بعد بیاحاضرسو اوعرض یې وکړ چه هغه دواړې مرګ ته نژدې سوې دي محمد ﷺ ورته وفرمایل هغه زماخواته راولیږه هغه چه راغلې ورته ویې ویل چه په دې پیالوکې چې ووهئ یوې ښځې چه قې وواهه دکذک، وینې، اوبوې داره موادوڅخه یې ډکه کړه بیامحمد ﷺ دوهمې ښځې ته دقې کولو وفرمایل هغې هم دغسې قې وکو محمد ﷺ وفرمایل دغه دواړې دالله ﷻ په رزق سره لیونې دي اودالله ﷻ په حرامه سره یې ماته کړه ددغو دواړو څخه یوه دبل څنګ ته کښیناسته دواړو په شریکه دخلکوغوښې غوښې خوړلې یعنې غیبت به یې کاوه له حضرت انس (رضي الله عنه) څخه روایت ده چه محمد ﷺ موږته یوخطاب وکړ اوپه هغه کې یې دسودبدۍ اوقباحتونه بیان کړل اوویې ویل

دسود يودرهم د(۳۳)واره زناكولو بدترده دټولوڅخه لوي سود دمسلمانانوپرعزت ږاکه اچول دي . **چغلخوري**:دادير بد صفت ده الهي فرمان ده چه غيبت کوونکي له خلګو سره چغلي کوونکي ده بيايې وفرمايل متکبر له دي وروسته بدنصيب دعبدالله بن مبارکؒ قول ده چه (زنيم) داسي ولد الزناته ويل کيږي چه خبري پټي نه ساتي هغه دي ته اشاره وکړه چه کم سړي خبره نه سي ساتلي اوچغلخوري کوي دهغه دافعل پردي خبره دلالت کوي چه هغه ولد الزنا ده ځکه چه له الهي فرمان څخه هم داطرف ته اشاره کيږي دزنيم څخه مراد ددرواغونسبت اومدعي ده الهي فرمان ده :وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ . هلاکت ده دهرغيبت کوونکي لپاره ديوتشريح په مطابق دهمزه معني چغلخورسوي ده الهي فرمان ده چه خاشاک پورته کوونکي ده وايې چه دلته له خاشاک څخه مراد چغلي ده ځکه چه هغه خبري پورته کوي اوچغلي کوي په يوبل ځاي کي الهي ارشاد ده هغه دواړو ښځو دهغه خيانت وکړ اوهغوداللهﷻ په طرف دهغو دواړو کفايت ونه کړ وايې چه په دي آيت کي ددوو ښځو يادونه سوي ده يودحضرت لوطؑ ښځه چه خپل قوم يې دحضرت لوطؑ له ميلمنوڅخه خبرکړ بل دنوحؑ ښځه چه خپل خاوند ته يې ليوني ويلي وو نبوي حديث ده چه چغلخور جنت ته نه ځي په بل حديث کي دي چه قتات جنت ته نه ځي قتات چغلخورته ويل کيږدتولو څخه زيات اللهﷻ ته محبوب خلک هغه دي چه په دنياکي اوسيږي دټولو څخه بدتر خلک هغه دي چه چغلي کوي په خپلو مينځو کي جنګ کوي دنيکانو لغزش غواړي دنبي کريمﷺ فرمان ده چه ايازه تاسي ته دبدتر خلګوپه باره کي څه ونه وايم؟ اصحابوؓ عرض وکړ ضرور راته ووايه يارسول اللهﷺ هغه وفرمايل هغه چغلخوري کوونکي چه ددوستانو په مينځ کي فساد پيداکوي اوپرصاليحو خلګو ددرواغو تهمت لګوي يعني بد ترخلک هم دغه دي له حضرت ابوذرؓ څخه روايت ده چه محمدﷺ وفرمايل کم سړي چه پربل مسلمان ددرواغو شاهدي اداکوي هغه خپله خپل ځاي په جهنم کي جوړوي داهم ويل سوي دي چه په قبر کي دريمه حصه عذاب دچغلخوري په وجه ورکول کيږي دحضرت ابن عمرؓ څخه روايت ده چه محمدﷺ وفرمايل کله چه اللهﷻ جنت تيارکړ هغه ته يې حکم وکړ چه له ماسره خبري وکه جنت وويل ښوک چه په ماکي داخل سو هغه نيک بخت سو اللهﷻ وفرمايل زمادي په خپل عزت اوجلال قسم وي چه زه به اته قسمه خلک په تاکي داخل نه کم عادي شرابي، زاني، چغلخور،بي غيرت، رذيل، ترښځوکي، قطع رحمي کوونکي اوهغه شخص چه داوايې چه زماله اللهﷻ سره وعده ده چه فلان فلان بدکارنه کوم مګر بياخپله وعده پوره نه کي. **قصه**:دحضرت کعب

الاحبارﷺ څخه روايت ده چه يووخت بني اسرائيل په قحطي کي اخته سول موسيﷺ
ځوځوواره دباران دعاوکړه مګر باران ونه سوموسيﷺ ته الله ﷻ وحي وکړه چه زه
ستاوستا دملګرو دعاځنګه قبوله کم حال داچه په تاسوکي عادي چغلخوريان موجوددي
موسيﷺ عرض وکړ ياالله ﷻ ماته هغه چغلخورراوښيه ترڅوچه زه هغه له خپلي ډلي څخه
وباسم الله ﷻ ورته وويل زه په خپله خلک دچغلخوري څخه منع کوم زه نوولي چغلخوري وکم ؟
ځکه هغوټولو توبه وکړه باران وسو روايت ده چه يوسړي(۷۰۰)فرسخه اوږد سفر وکړ ديوهوښيار
سړي په مجلس کي حاضرسو هغه ته يې وويل ډير اوږد سفر مي کړي ده له تاڅخه داوو
خبروپوښتني ته راغلي يم الله ﷻ تاسوته علم درکړي ده ماته ووايه چه دآسمان څخه درونډ شي
څشي ده؟ ترمځکه پراخ شي څشي ده؟ترکاڼي سخت شي څشي ده؟تراور زيات ګرم شي څشي
ده؟ترزمهريرزيات يخ شي څشي ده ؟ ترسمندرزيات بي نيازه څشي ده ؟تريتيم زيات خوارشي
څشي ده ؟جوابونه :هغه ورته وويل په پاک دامن تهمت لګول ترآسمان هم زيات درونددي .حق
ترمځکه زيات پراخ ده .قناعت پسند زړه ترسمندر زيات بي نيازه ده .حرص اوحسدتراور زيات
ګرم ده .ديوعزيز سره کار چه هغه پوره نه کي ترزمهرير زيات يخ ده. دکافر زړه ترډبره زيات سخت
ده .چغلخور چه کله دهغه کردار ښکاره سي تريتيم زيات خوار اوذليل ده .په دي اړه يوشاعر
ځومره ښه شعر ويلي ده :

من نم في الناس لم تؤمن عقاربه »» علي الصديق ولم تؤمن افاعيه

كالسيل بالليل لايدري به احد »» من اين جاء ولامن اين يأتيه

الويل للعهد كيف ينقضه »» والويل للود منه كيف ينفيه

ژباړه:کم چغلخور چه په خلګوکي چغلخوري کوي دهغه دوستان هم دهغه دمارانو
اولړمانوڅخه بي خوفه مه ګڼه يعني هغه دخپلو دوستانو چغلخوري هم کوي دشپي
دسيلاب په رکم چه هيڅوک نه په پوهيږي چه دکم ځاي څخه راغي اوکم ځاي ته
رسيدلي دي دهغه دعهد لپاره هلاکت ده هغه داځنګه پوره کوي دهغه ددوستي لپاره
هلاکت ده هغه داځنګه پوره کوي اودهغه ددوستي لپاره هلاکت ده څنګه ددي نفي کوي
بل شاعر وايي :

يسعي اليك كما يسعي اليك فلا »» تأمن غوائل ذي وجهين كياد

ژباړه:هغه چغلخورڅنګه چه ستا حمايت کوي همداسي ستا بدياني هم بيانوي ددوو
مخونو والا دفريب څخه مه غافله کيږه .

## نه اویایم باب دشیطان عداوت

محمد ﷺ ارشاد وفرمایه چه په زړه کې ددنه کیدو دوه ځایونه دي یو دملائکو ددننه کیدو ده چه سړي نیکې ته هڅوي اودحق دتصدیق لپاره ترغیب ورکوي ځکه کم سړي چه په زړه کې داخبره محسوسه کې هغه دي دالله ﷻ رحمت وګڼي اودهغه ﷻ تعریف اوتوصیف دي وکي دوهم دشیطان ددننه کیدو ځاې ده چه فتنې اوفساد ته میلان پیداکوي اودحق څخه منع کوي کم سړي چه په زړه کې داخبره محسوسه کې هغه دي دالله ﷻ څخه درټل سوي شیطان دشرارتونو څخه پناه وغواړي بیا رسول ﷺ داآیت تلاوت کړ:

الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِالْفَحْشَاءِ سورة البقرة آية(٢٦٨).

ژباړه: شیطان تاسوته دفقر وعده درکوي اودبدو کارو دکولو حکم کوي دحسن بصري ؒ قول ده چه دوه فکرونه دانسان په زړه کې ګرځي راګرځي یو دحق فکر وي اوبل ددښمن فکروي الله ﷻ دي پرهغه چارحم وکي چه دخپلوعزائمو قصد کوي کم کارچه هغه ته دالله ﷻ له طرف څخه په نظرراسي هغه کوي اوکم کارچه ددښمن له طرفه ښکاره سي هغه پریږدي جابر بن عبیدة العدوي وایې چه ماعلاء بن زیاد ته دخپل زړه دوسوسوشکایت وکړ هغه راته وویل دزړه مثال دهغه کورپه رکم ده چه غل ورته راسي که څه پیداکي دهغه دوړلو لپاره فکر کوي اوکه څه پیدانه کي نودغسې وزي یعني کم زړه چه دخواهشاتو څخه خالي وي په هغه کې شیطان نه داخلیږي ځکه الهي فرمان ده: إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ سورة الحجر آية(٤٢). ژباړه: یېشکه زماپربندګانو ستاهیڅ غلبه نسته ځکه هرهغه انسان چه دخواهشاتو پیروي کوي هغه دالله ﷻ نه بلکه دشهوت بنده وي ځکه الله ﷻ پرهغه شیطان مسلط کوي الهي ارشادده أَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ سورة الفرقان آية(٤٣).

ژباړه: ایاتاهغه نه ولیدي چه خپل خواهش یې معبود نیولي ده په دي آیت کې دي طرف ته اشاره ده چه دچامعبود دهغه خواهش وي هغه دالله ﷻ بنده نه ده ځکه خو حضرت عمروبن العاص ؓ نبي ﷺ ته شکایت وکړ چه یارسول الله ﷺ شیطان زمااوزما دلمانځه اوقرائت ترمینځ حائل کیږي رسول ﷺ ورته وویل داخترب شیطان ده کله چه دهغه وسوسه په زړه کې محسوسه کي نودالله ﷻ څخه پناه وغواړه دري واره چپه طرف ته ناړي توف که دي وایې کله چه ماهمداسي وکړل الله ﷻ له ماڅخه وسوسه لري کړه په حدیث شریف کې دي چه په اوداسه کې دنقصان پیداکولو لپاره یوشیطان ده نوم یې ولهان ده

دالله ﷻ په رحم سره دهغه څخه دخلاصيدو سوال وکه دزړه څخه شيطاني وسوسه په هغه صورت کي ليري کيداي سي چه انسان دهغو وسوسو په خلاف په خبروکي غور وکي يعني دالله ﷻ وکي دالله ﷻ په ذکر سره زړه ته اطمينان حاصليږي شيطان نه سي کولاي چه دهغه په زړه کي وسوسه واچوي چونکه دهرشي علاج دهغه په ضد سره کيږي پوه سئ چه دټولو شيطاني وسوسو ضد الهي ذکر ده هرڅوک چه له شيطان څخه خلاصيدل غواړي هغه دي لاحول ولاقوة الابالله العلي العظيم ووايي دشيطان له وسوسو څخه هغه خلک خلاصيداي سي چه متقي وي اودهغه په رګ رګ کي الهي ذکر ځاي نيولي وي شيطان په داسي خلکو باندي په ناخبري کي ناڅاپه حمله کوي لکه الهي ارشادچه ده ﴿إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِّنَ الشَّيْطَانِ تَذَكَّرُوا فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ﴾ سورة الاعراف آية (٢٠١) ژباړه: بيشکه هغه کسان چه پرهيزګاران دي کله چه هغو ته دشيطان له طرفه وسوسه پيداسي هغه ذکر کوي بيا ناڅاپه هغه هرڅه ويني مجاهد رحمه الله د ﴿مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ﴾ په تفسير کي ليکي چه هغه پرزړه باندي خپاره وي کله چه انسان دالله ﷻ ذکر کوي هغه ليري کيږي اوکله چه انسان له ذکر څخه غافل سي بيرته پرزړه تسلط پيداکوي دالهي ذکر اودشيطان دوسوسي مقابله داسي ده لکه رڼا اوتوره شپه الهي ارشاد ده چه ﴿اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ فَأَنسَاهُمْ ذِكْرَ اللَّهِ﴾ سورة المجادلة آية (١٩). ژباړه: پرهغوي شيطان غالب سو هغه يې دالله ﷻ له ياد څخه غافل کړل له حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت ده چه نبي کريم ﷺ وفرمايل شيطان دانسان په زړه کي مورچه نيولي ناست ده کله چه انسان دالله ﷻ ذکر کوي هغه تښتي کله چه دالهي ذکر څخه غافل سي نوشيطان دهغه پرزړه حمله کوي ابن وضاح رحمه الله يو حديث روايت کړي ده په هغه کي ويل سوي دي چه کله انسان دڅلويښتو کالو عمرته ورسيږي اوتوبه ونه کي شيطان دهغه پرمخ لاس ګرځوي اووايي زمادي پرخپل پلار قسم وي چه داهغه مخ ده چه کله هم کاميابي نه سي ليدلاي کله چه انساني خواهشات اوشهوات د انسان دغوښي اووينې څخه جلاکيږي دغسي دشيطان سلطنت هم پرانساني زړه باندي محيط وي دانسان په وينه اوغوښه کي جاري اوساري وي لکه دنبي کريم ﷺ حديث شريف چه ده شيطان دانسان په وجود کي دوينې په رګم ګردش کوي لهذا دهغه لاري په لوږه سره بندي کړئ رسول ﷺ دلوږي يادونه څکه وکړه چه لوږه شهوت ختموي دشيطاني لاري هم په شهواتو کي دي نبوي حديث ده چه شيطان دانسان په لاروکي کښيني دهغه داسلام په لاره کي کښيني اوورته ويې ويل ته اسلام قبلوي دخپل پلار اونيکه دين پريږدي مګر هغه

دشیطان خبره ونه منله اسلام یې راوړ بیا د هجرت په لاره کې کښېنستې اوورته وېې ویل
ایا ته جهاد کول غواړې حال دا چه په دې کې مال او ځان ضائع کیږي کله چه ته جنګ ته ځې
مړ به سې ستا له ښځې سره به نور خلګ واده وکې ستا مال به په خپل مابین کې تقسیم کې
مګر دالله ﷻ دغه بنده دشیطان دخبرو له منلو څخه انکار وکې په جهاد کې شریک سو
محمد ﷺ وفرمایل چا چه داسې کردار اداکړ بیا هغه وفات سو الله ﷻ دا واجب بولې چه
هغه په جنت کې داخل کې.

## اتیایم باب محبت او دنفس محاسبه

دحضرت سفیان ﷺ قول ده چه محبت د محمد ﷺ اتباع ته ویل کیږي دیوبل بزرګ قول ده
چه محبت د دائمي ذکر نوم ده یوبل قول ده چه محبت خپل محبوب ته پرخپل ځان ترجیح
ورکولو ته ویل کیږي او دځینو قول ده چه محبت داده چه په دنیا کې وسیدل بد وګڼل سي
پورتنې ټول اقوال دمحبت دثمراتو په طرف اشاره کوي دمطلق محبت په باره کې چا بحث
نه ده کړې ځینو ویلې دي چه محبت دمحبوب دهغو کمالاتو نوم ده چه دهغه دادراک څخه
زړونه مجبور اودویلو څخه یې ژبې بندې دي دحضرت جنید ﷺ قول ده چه الله ﷻ
ددنیا سره تعلق لرونکو باندې محبت حرام کړی ده اوویې فرمایل هر محبت دکم عوض په
بدل کې وي کله چه عوض ختم سي محبت په خپله زائلیږي دحضرت ذوالنون قول ده چه
هغه شخص ته چه دالله ﷻ سره دخپلې مینې اظهار وکې ووایه چه دبل چا په مخکې دذلیل
کیدو څخه ځان وساته حضرت شبلي ﷺ ته وویل سول چه موږ ته دعارف اومحبت
تعریف وکه هغه وویل که عارف خبره کوي نو هلاکیږي او محب که چپ پاته سي هم هغه
هلاکیږي هغه دا اشعار وویل:

| |
|---|
| یا ایها السید الکریم «» حبک بین الحشاء مقیم |
| یا رافع النوم عن جفوني «» انت بما مر بي علیم |

ژباړه: اې مهربان سرداره ستا دزړه محبت زما دزړه په تل کې اوسیږي اوزما د سترګو
څخه دخوب تښتوونکې پر ما چه څه تیر سول په هغه ښه پوهیږي دیوبل شاعر قول ده:

| |
|---|
| عجبت لمن یقول ذکرت الفي «» وهل انسي فاذکر ما نسیت |
| اموت اذا ذکرتک ثم احیا «» ولولا حسن حسن ظني ما حییت |
| فاحیي بالمني واموت شوقا «» فکم احیي علیک وکم اموت |
| شربت الحب کأس بعد کأس «» فما نفذ الشراب وما رویت |

فليت خياله نصب لعيني »« فان قصرت في نظري عيبت

ژباړه: زه په دي خبره تعجب کوم چه ماته وايي تازما محبت ياد کړي ده اياماد هغه محبت نه يادده ايستلي ده چه يادي يې کم؟ کله چه زه تايادوم مرکيږم بياژوندي کيږم که زما حسن ظن نه واي نوزه به کله هم ژوندي نه واي پاته سوي زه په مرګ کي ژوندي کيږم اومر کيږم دمحبت په يووجام پسي بل جام وڅښي نه دشرابو محبت کم سو او نه زه موړ سوم کشکي ددي خيال زماهدف واي کله چه هغه زماله سترګو څخه ليري ووزي نوزه ورپسي ړوند کيږم حضرت رابعه العويه يوه ورځ وويل څوک ده چه موړ ته دخپل محبوب پته وښيي دهغي خادمي وويل زموږ محبوب خو له موږ سره ده ليکن دنيا موږ له هغه څخه جلاکړي يو دابن الجلاء څخه روايت ده چه الله حضرت عيسى ته وحي وکړه چه کله زه دبنده زړه ددنيااوآخرت دمحبت څخه خالي ووينم دهغه زړه دخپل محبت څخه ډکوم اوپه خپل حفاظت کي يې اخلم وايي چه شمعون يوه ورځ دمحبت په اړه خبري اتري وکړي دهغه په مخ کي يومرغه راکښته سو خپله مشوکه يې پرمځکه ووهله تردي چه وينې ورڅخه وبهيدي اومړه سوه حضرت ابراهيم ادهم وويل اي الله ته پوهيږي چه جنت ستا دهغو انعاماتو په مقابله کي چه تاپه ماکي وديعت کړي ده زماپه نزد دغوماشي دوزر اهميت نه لري تازه په خپل محبت سره سرفرازه کړي يم اوپه خپل عظمت کي دي دغور اوفکر کولو لپاره فراغت راکړي ده دسري سقطي قول ده چه هرچا له الله سره محبت وکړ هغه ويدان سول اوچاچه له دنياسره محبت وکړ هغه بې ابرو سو احمق سري سهار او ماښام په رسوايي کي تيروي اوعقلمند په خپلو عيبونوپسي ګرځي.

**دنفس محاسبه:** الله په قرآن کريم کي دنفس سره دمحاسبي حکم کړي ده: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ (سورة الحشر آية ١٨) **ژباړه:** اي ايماندارو! د الله څخه وبيريږئ او هرنفس دي داوګوري چه هغه دسبا لپاره څه ليږلي دي؟ په دي آيت شريف کي دي طرف ته اشاره سوي ده چه انسان د خپلو تيرو اعمالو محاسبه وکي څکه حضرت عمر وفرمايل ددي مخکي چه له تا سره محاسبه وسي په خپله له خپل ځان سره محاسبه وکه له دي څخه مخکي چه ستا سي اعمال وتلل سي تاسي په خپله خپل اعمال وتلئ په حديث شريف کي دي چه يوو سړي محمد ته عرض وکړ چه ماته نصيحت وکه هغه ورته وفرمايل ايا ته دنصيحت لپاره راغلي يې؟ هغه وويل هو محمد وفرمايل کله چه دکم کار اراده وکي دهغه په انجام غور وکه که دهغه انجام ښه

وي نو يې وکه او که يې انجام بد وي نو مه يې کوه په حديث کې دي چه عقلمند سړي ته د مناسب ده چه په څلورو ساعتونو کې يو ساعت د خپل نفس د محاسبې لپاره ولګوي الهي فرمان ده ﴿وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ (سورة النور آية ۳۱) ژباړه: توبه وکړئ د الله ﷻ په طرف کامله توبه اې مؤمنانو ترڅو چه تاسې کاميابې حاصله کړئ توبه داسې فعل ده چه د ګناه څخه وروسته سړي ته شرمندګي، خجالت او ندامت راولي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چه زه په ورځ کې سل واره توبه کوم او د الله ﷻ څخه مغفرت غواړم کله چه به شپه تياره سوه حضرت عمر رضي الله عنه به خپلې پښې په غمچينه سره وهلې او خپل نفس ته به يې ويل تا نن کوم عمل کړي دی؟ د ميمون بن مهران رضي الله عنه قول دی چه سړی تر هغه وخته پورې متقي نه سي کېدای ترڅو چه د کار څخه وروسته د خپلو شريکانو تر محاسبې سخته محاسبه ونه کي د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چه ابوبکر صديق رضي الله عنه د وصال په وخت کې وويل ما ته په خلکو کې تر حضرت عمر رضي الله عنه بل زيات محبوب نسته بيا يې پوښتنه را څخه وکړه چه ما څه وويل؟ ما د هغه خبره تکرار کړه هغه رضي الله عنه وويل زما په نظر د عمر رضي الله عنه څخه بل څوک زيات عزت مند نسته ګواکې هغه خبره وکړه او غور يې ورباندې وکړ هغه يې په بله جمله بدله کړه د حضرت طلحه رضي الله عنه څخه منقول دی چه کله د باغ مرغانو د لمانځه څخه توجه واړوله هغه د دغه کوتاهې په بدل کې انتهايې په پښېمانې حالت کې هغه ټول باغ د الله ﷻ په لاره کې وقف کړ د حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه په حديث کې دي چه هغه د لرګيو پلنده پر اوږو پورته کړې وه خلکو ورته وويل اې ابو يوسفه! ستا په کور کې خو لرګي موجود دي ستا غلام هم د دې کار لپاره خلاص وو تا ولې دا کار وکړ؟ هغه په جواب کې وويل ما د خپل نفس امتحان اخيستی چه د دغه کار ونه خوبه بد نه ګڼي د حسن رحمه الله قول دی چه مؤمن د خپل نفس حاکم دی او د هغه محاسبه کوي د هغو خلکو حساب د قيامت په ورځ اسان وي چه په دنياکې د خپل نفس محاسبه کوي او د هغو خلکو محاسبه ډېره سخته وي چه په دنياکې د خپل نفس د محاسبې څخه غافل وي بيا يې د محاسبې په تفسير کې وويل چه ناڅاپه مؤمن يو شی ښخوي او د هغه په ليدو سره وايې چه په خدای چه ته زما ډېر خوښ يې ته زما ضرورت يې ليکن افسوس چه زما او ستا ترمينځ حساب حائل دی دا د عمل څخه مخکې د حساب مثال دی کله چه د مؤمن څخه کومه خطا وسي نو د خپل ځان سره وايې چه ستا له دې څخه څه مطلب وو؟ په خدای چه زه د دې لپاره عذر نه وړاندې کوم او په خدای قسم که الله ﷻ ونه غواړي آينده به کله هم داسې کار ونه کم د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه روايت دی چه يوه ورځ زه او عمر رضي الله عنه د واړه د مدينې څخه

باندي ووتلوتردي چه وديوال ته ورسيدي ماواوريدل چه هغه ﷺ وويل زمااودهغه ترمينځ همدغه يو ديوال حائل وو واه واه عمر بن الخطاب امير المؤمنين دها اي نفسه په خداي قسم دالله ﷻ څخه وېرېږه کنه نوهغه ﷻ به تاته سخت عذاب درکي حسن ﷺ د ﴿وَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلنَّفۡسِ ٱللَّوَّامَةِ﴾ په تفسيرکي وايي چه کله دمؤمن څخه غلطي کيږي هغه دخپل نفس تعاقب کوي چه ستاله دي کارڅخه څه اراده وه ستا زماخوراک اوڅښاک کي څه منشأ وه مگر بدکار سړي گام پرگام مخکي ځي اودخپلوگناهونو محاسبه نه کوي دجناب ابراهيم التيمي قول ده چه ماخپل نفس ته دجنت مثال داسي پيش کړ دجنت څخه ميوه خوړل دنهرونو څخه اوبه څښل دحورو اوپاکو ښځو سره دناستي ولاړي تفصيل مي بيان کړ بيامي خپل نفس ته دجهنم تفصيل بيان کړ يعني دجهنم تکليف په جهنم کي ددوږخيانو زوږ اوگذک خوړل ددوږخ درانه زنځيرونه اوطوقونه اوداسي نور عذابونه مي بيان کړل اوورته ومي ويل تاته ددغو دواړو څخه کم يوخوښ ده؟ نفس وويل زمااراده داده چه په دنياکي نيک عملونه وکم ماورته وويل في الحال تاته مهلک درکول سوي ده لهذا ښه عملونه وکه مالک بن دينار ﷺ وايي چه ماحجاج دخطاب په حالت کي وليدي هغه وويل الله ﷻ دي پرهغه بنده رحم وکي چه خپل حساب يې بل چاته ترتللو مخکي وکړ اودخپل نفس محاسبه يې په خپله وکره الله ﷻ دي پرهغه بنده رحم وکي چه خپله رسئ يې ونيوله اونکريې وکرچه زه داکار ولي وکم؟الله ﷻ دي پرهغه بنده رحم وکي چه دخپلو اعمالو ميزان يې وليدي هغه لگياوو همدغسي خبري يې کولي تردي چه ماته ژړا راغله ليکن دحجاج پرمظالمو اوپرنيکو اوصالحو خلکو باندي دهغه تيريو اوناروا هغه ته دخپل نفس سره دمحاسبي موقع ورنه کره داحمد بن قيس ﷺ دملگري روايت ده چه زه دهغه سره اوسيدم دهغه دشپي عبادت به په عمومي توگه پردعاگانو مشتمل وو اوهغه شمع ته راتلي دهغه گرمي ته به يې خپله گوته ونيوله تردي چه داور اثربه يې محسوس کړ بيابه يې خپل نفس ته وويل اي حنيفه! ته په فلاني فلاني ورځ داسي کارونوته چاتيارکري وي ته په فلانکي ورځ کم شي داسي بد عمل کولوته مجبور کري وي ؟

## يواتيايم باب دحق اوباطل گډول

حضرت معقل بن يسار ﷺ روايت کوي چه نبي کريم ﷺ فرمايل پر خلکو به داسي زمانه راته سي چه دخلکو په زړونوکي به قرآن کريم دبدن دجامو په رکم زوړ سوي وي که له هغو څخه کم سړي نيکي وکي نووايي چه داله ماڅخه قبليږي اوکه بدي وکي نووايي چه داراته بخښل کيږي نبي کريم ﷺ فرمايل هغه به دالله ﷻ د بيري پرځاي په زړه کي طمع

لري ځکه چه هغه به د قرآن کريم دهغوتنبيهاتو څخه چه پکښي خلک دعذابو څخه بيرو
سوي دي بالکل خبر نه وي دهمدغو عادتونو او د دي په رکم دنورو قبيحو عادتونو له وج
الله ﷻ دنصاراوو په متعلق په دي الفاظو خبر داري ورکړي ده، فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْ
وَرِثُوا الْكِتَابَ يَأْخُذُونَ عَرَضَ هَذَا الْأَدْنَى وَيَقُولُونَ سَيُغْفَرُ لَنَا دهغوي پرځاي دهغ
بدجاي نشين کښينستل چه دکتاب وارثان سول هغه ناقص يعني حرام اسباب اخل
اووايي چه ژر ده چه موږ به وبخښل سو د دي آيت تفسير داده چه دهغو علماء دالهي کتاب
وارثان سول مګر هغو ددنياوي خواهشاتو څخه بنايسته مال ګټل شروع کړل ديته يې ون
کتل چه داورته حلال دي اوکه حرام اودايي وويل چه الله ﷻ موږ بخښي حال داچه الهي
فرمان ده دهغه شخص لپاره چه دالله ﷻ په حضورکي ددريدو څخه وبيريدي دوه جنتونه
دي ويې فرمايل جنت دهغه چالپاره ده چه زما په حضورکي ددريدو څخه وبيريدي اوزما
دتهديد څخه يې وهم وکړ په قرآن کريم کي داول څخه ترآخره پوري خلک بيرول سوي دي
څوک چه په دي آيتونو کي غور اوفکر وکي دهغه غم اووهم زياتيږي مګر تاسي خلک
وينئ چه دغه آيتونه په منډه منډه وايي دحروفو مخارج نه اداکوي په زير اوزور کي
ګډوډي کوي مګر په معناوو کي يې غور اوفکر نه کوي اونه ورباندي په عمل کولو کي
کوشش کوي ايا په دنياکي تردي بله لويه دوکه سته چه خلک ترنيکيو ګناهونه زيات کوي
مګر ددي باوجود دمعافي اوبخښني اميد لري ايادادهغو دجهالت آخري حد نه ده؟ هغه
څوک چه دحلال او حرامو څخه يې يو ځوروئ دالله ﷻ په لاره کي ورکړي اوبياوايي چه
الله ﷻ به ماته يو په لسه اجراکي ددغسي سړي مثال داسي ده لکه يو سړي دترازو په يو
پله کي لس روپۍ اوپه بله پله کي زر روپۍ ايږدي اوداتوقع کوي چه دلسو روفو تله درنه
سي اودزرو روپو تله به سپکه سي تاسي به ډير خلک داسي ليدلي وي چه هغه دافکر لري
چه نيکياني ترګناهونوډيري دي داسي سړي په اصل کي دخپل نفس محاسبه نه کوي
اوخپلو ګناهونو ته ګوري که کمه نيکي کوي پرهغه اعتماد کوي اوشماري يې دداسي
سړي مثال داسي ده چه په ژبه استغفار کوي يا په ورځ کي سل واره دالله ﷻ تسبيح وايي
خونور دبل چاغيبت کوي دهغو عزتونه ترپښولاندي کوي اوټوله ورځ بي شميره داسي
خبري کوي چه دالله ﷻ دناراضګئ سبب ګرځي ليکن دهغه په فکر دهغه سل تسبيحات
ورته زيات ښکاره کي اوسل واره استغفار ورته پوره نيکي ښکاره کي ليکن دټولي ورځي
دلغوياتو څخه غافل پاته کيږي چه دنيکي څخه يې يو په زر زيات کړي دي ملائکو هغه
ليکلي دي او الله ﷻ هم دهري بدي خبري لپاره دعذاب وعده کړي ده دغه سړي دتسبيح

اوتهليل پرفضائلو خو غور كوي مگر دالله ﷻ دهغو وعيدونوڅخه سترګي پټوي چه دغيبت كوونكو درواغجنو، چغلي كوونكو، اولغو ويونكو، په باره كي نازل سوي دي؟ په ژبه يوڅه وايي اوپه زړه كي بل څه لري ددي څخه بغير ډيري خبري داسي دي چه پري ټيرل كيږي دنياخوهسي تشه دركه ده بايد ځان ورڅخه وساتل سي په خداي قسم كه محافظي ملائكي دهغه عبث اوفضولو خبرو اجرت غوښتي واي چه دهغه د تسبيحاتو څخه زيات ده هغه به خپله ژبه بنده كړي واي داسي مهمي خبري به يې هم نه كولاي چه دهغه په ضروورياتو كي شامل دي هره خبره به يې په حساب سره كولاي اودخپلو تسبيحاتو سره به يې موازنه كولاي چه هسي نه چه زما دخبرواجرت زما دتسبيحاتو څخه زيات نه سي: نسوس خبره داده چه انسان دي دكتابت داجرت دزياتوالي له وجه خودي دخپل نفس محاسبه وكي اوپه خبروكي دي زيات احتياط وكي مگر دجنت الفردوس څخه دمحرومي ودهغه دنعمتونو زوال ته هيڅ اهميت ورنه كي حقيقت داده چه داشي دهر انسان لپاره لوي مصيبت ده چه دغور اوفكر كولو عادي وي الله ﷻ دخپل طرف څخه موږ ته داسي كارپارلي ده كه موږ دهغه څخه انكار وكو نودنافرمانو كافرانو ددلي څخه ګرځو اوكه دهغه تصديق وكو مگر عمل په ونه كو نوبيا هم موږ په ليونيانو كي حسابيږو ځكه چه زموږ اعمال هغسي نه دي څنګه چه يې كيدل په كار دي اودقرآن كريم داحكامو تصديق كوي.

## دواتيايم باب دجماعت دلمانځه فضيلت

(٣٧) نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چه يوازي لمونځ كولو څخه دجماعت دلمانځه كولو درجي ثواب ده دحضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت ده چه محمد ﷺ په جمع كي ځوكسان ونه ليدل اوويې فرمايل ماراراده وكړه چه زه يوو سړي ته دجماعت دامانت داداكولو حكم وركم اوزه په هغو خلكو پسې ولاړسم چه دجماعت څخه پاته دي هغه اودهغو كورونه وسوځم په بل روايت كي دي چه بيازه دهغه خلكو كورونه دلرګيو دتولو سره يوځاي دسوځلو حكم وركم چه دجماعت لمانځه ته نه راځي كه له هغو څخه چاته دامعلومه واي چه دجماعت په لمانځه كي دشريكيدو په نتيجه كي ورته غټ هډوكي يادحيوان دوه لاسونه وركول كيږي نوخامخا به جماعت ته راغلي واي دحضرت عثمان رضي الله عنه څخه روايت ده چه كم سړي دماخستن په جمع كي شريک سي ګواكي هغه نيمه شپه په عبادت كي تيره كړه اوڅوک چه دسهار دلمانځه په جمع كي شريک سي ګواكي هغه ټول عمر په عبادت كي تيركړ دنبي كريم ﷺ ارشادده چاچه لمونځ له جماعت سره اداكړ ګواكي هغه خپله سينه دعبادت څخه ډكه كړه د حضرت سعد بن المسيب رحمه الله قول ده چه زه متواتر دشلو كالو

شخه دهغه رخته شخه په مسجد کې موجود اوسم چه کله مؤذن اذان کوي محمد بن واسع ﷫ وايي چه زه په دنيا کې د درو شيانو خواهش لرم يو داسې ورور چه کله زه کوږ سم يا ماسيده کې دکوشش شخه بغير لږ رزق چه پوهنته يې ونه سي اوپه جماعت سره لمونځ کې غلطياني زمالپاره معاف سې اوفضيلت يې راته راکړ سې حضرت ابو عبيده بن الجراح ﷜ يو رخت دخلګو امامت وکړ کله چه دلمانځه شخه فارغ سول دشيطان په اړه يې وويل هغه زه خطا ايستلم تردې چه ماخپل ځان هم ترنورو افضل وګاڼي دنن شخه وروسته امانت نه کوم دحسن ﷫ قول ده چه په داسې سړي پسې لمونځ مه کوه چه دعلماو مجلس ته نه ځي دنخعي ﷫ قول ده چه کم بې علمه سړي دخلګو امامت کوي هغه دهغه چاپه رکم ده چه په سمندر کې اوبه اندازه کوي اودهغه په زياتوالي نه پوهيږي دحاتم ﷫ قول ده چه له ما شخه دجمع يولمونځ پاته سو صرف ابواسحاق دتعزيت لپاره راته راغي که زمازوي وفات سوي واي نوترلسو خلګو به زيات خلګ تعزيت ته راغلي واي شکه خلګ ددين نقصان تردنياوي نقصان ديز کم اوحقير ګڼي دحضرت ابن عباس ﷜ قول ده چه کم سړي اذان واوريدي اودهغه جواب يې ورنه کړ دهغه لپاره دابهتر ده چه په غوږو کې دويلې سوي سرپو اوبه واچوي روايت ده چه حضرت ميمون بن مهران مسجد ته راغي خلګو ورته وويل چه لمونځ خوسوي ده هغه چه داواوريدل اناالله وانااليه راجعون يې وويل ياپې داخبره وکړه چه دجمع دلمانځه فضيلت ماته دعراق ترحکومت زيات خوښ ده .

## دجمعي سره دځلوېښتو لمنځو فضيلت

نبوي حديث ده چه هرچا مسلسل ځلوېښت ورځي تول لمنځونه په جمع اداکړل اوتکبير تحريمه نه سو ځيني پاته الله ﷻ دهغه لپاره دوه برائتونه ليکي يو دمنافقت شخه برائت اوبل دجهنم شخه برائت داهم ويل سوي دي چه کله دقيامت ورځ راسي نودقبرو شخه دځليدونکو ستورو په رکم پاځيږي ملائکې ورته وايي چه تاسې په دنيا کې څه اعمال کړي ؤه ؟ هغه به جواب ورکې چه کله به موږ اذان واوريدي داوداسه لپاره به ودريدو اونور کارونه به مو پريښول بيابه يوه داسې ډله راسي چه مخونه به يې دسپوږمۍ په رکم وي هغه به دملائکو ترپوښتنه له مخه ووايي چه موږ به تروخت له مخه اودسونه کول بيابه يوه داسې ډله راسي چه مخونه به يې دلمر په رکم ځليږي هغه به ووايي چه موږ اذان په مسجد کې اوريدي يعني داذان له مخه به مسجد ته تلو روايت ده چه سلف صالحينو دتکبير اولي په فوت کيدو تردرو ورځوپوري دځان تعزيت کاوه .

# دري اتيايم باب دتهجد دلمانځه فضيلت

قرآن كريم په ګڼو آيتونو كي دتهجد دلمانځه فضيلت ثابت ده الهي ارشادده :
إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنَىٰ مِن ثُلُثَيِ اللَّيْلِ سورة المزمل آية (۲۰) ژباړه: بيشكه ستا رب پوهيږي چه ته
شپي په دريمه حصه كي دريږي . إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْئًا وَأَقْوَمُ قِيلًا سورة المزمل
(۶) ژباړه: په تحقيق سره دشپي پاڅيدل دنفس دپايمالولو لپاره سخت كارده .
تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ سورة السجدة آية (۱۶) ژباړه: دهغو اړخونه له بسترو څخه ليري
وي . أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ اللَّيْلِ سورة الزمر آية (۹) ژباړه: هغه څوك چه دشپي په وخت كي د الله جل جلاله
بندګي كوي . وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَامًا سورة الفرقان آية (۶۴) ژباړه: هغه خلګ چه خپل رب
ته شپه په سجدو اوقيام كي تيروي . يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ سورة البقرة
آية (۱۵۳) ژباړه: اي مؤمنانو په صبر اولمونځ سره مرسته و غواړئ په احاديثو كي هم ددغه
لمانځه فضيلت بيان سوي ده نبوي حديث ده كله چه له تاسو څخه څوك بيده سي شيطان
دهغه په بستره كي دري غوټي اچوي په يوه غوټه كي هغه وايي چه شپه لا اوږده ده لږ نورهم
بيده سه كه انسان راويښ سي اودالله جل جلاله ذكر وكي يوه غوټه يې خلاصيږي كله چه اودس
كوي دوهمه غوټه يې هم خلاصيږي كله چه لمونځ كوي دريمه غوټه يې هم خلاصيږي
انسان په داسي حال كي سهار كي چه خوشحال اوتر وتازه وي كنه نوست اوبدمزاجه
راپورته كيږي په حديث شريف كي دي چه د شيطان سره دپزي دوه دځتلو ، اودسپري كولو
شين دي چه كله هغه دكم انسان په پزه كي دادوا واچوي هغه بدبويه كيږي كله چه هغه په
كم انسان يوشي وڅټي هغه بد زبانه كيږي اوكله چه پركم انسان دوا شيندي هغه تر سهاره
پوري بيده وي اوخوب كوي په حديث شريف كي دي چه دمحمد صلى الله عليه وسلم په خدمت كي
ديوداسي سړي يادونه وسوه چه ترسهاره پوري بيده وي رسول صلى الله عليه وسلم و فرمايل داداسي
شخص ده چه په غوږوكي يې شيطان بولي كړي دي دنبي كريم صلى الله عليه وسلم ارشادده چه دبنده لپاره
په نيمه شپه كي دهغه دوه ركعته لمونځ تر دنيا اوددنياترټولوشيانو بهتر ده كه زماپرامت
ګرانه نه واي ما به دغه دوه ركعته لمونځ پرهغو فرض كړي واي په صحيح بخاري كي له
حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت ده چه نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل په شپه كي يوداسي ساعت ده
چه كله په هغه كي بنده دالله جل جلاله څخه سوال وكي الله جل جلاله يې قبلوي او وركوي يې په يوه
روايت كي دي چه هغه ددنيا اوآخرت هرسوال وكي الله جل جلاله يې قبلوي اوداساعت هره شپه
وي دحضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه څخه روايت ده چه نبي كريم صلى الله عليه وسلم دشپي لمانځه ته

ودريدي چه ښـي يې وپرسيدلي هغه ﷺته وويل اياالله ﷻ ستاټول مخکني او وروستني ټول خلاف اولي خبري نه دي معاف کړي ؟ هغه ﷺ وفرمايل ايازه دالله ﷻ له شکر کوونکو بنده ګانو څخه نه سم ؟ له دي حديث شريف څخه دامطلب را وزي چه نه دي څخه دهغه ﷺ مراددنورو انعاماتو غوښتنه ده ځکه چه شکر د نعمتونو دزياتوالي سبب ګرځي لکه دالله ﷻ ارشاد چه ده: لئن شکرتم لازيدنکم. که تاسي شکر وکړ نوزه به نور هم زيات کم نبي کريم ﷺ ابو هريره ﷺته وفرمايل چه اياته داخوښوي چه پرتاباندي ستا په ژوندمرګ قبر اوپه حشر کي دالله ﷻ رحمت نازل سي ګله چه دشپي لږ حصه پاته وي دالله ﷻ درضا دحصول لپاره ولاړسه عبادت وکه اي ابو هريره دکور په کنجانو کي لمونځ اوعبادت کوه ستاکور به له آسمان څخه داسي ځليدونکي ښکاري لکه دمځکي خلګوته چه دآسمان ستوري ښکاري نبوي حديث ده چه پرتاسو لازم ده چه دشپي عبادت وکړ ځکه چه دادتيرو نيکو خلګو طريقه ده بيشکه دشپي قيام اولمونځ دالله ﷻ دقرب سبب ګرځي دګناهونو لپاره کفاره دناروغيو ختموونکي اودګناهونوڅخه منع کوونکي ده دنبي کريم ﷺارشادده چه کم سړي دشپې په لمونځ کولو عادي وي مګر يوه شپه هغه بيده پاته سي دده په عملنامه کي دهغي شپي دلمانځه ثواب ليکل کيږي حضرت ابوذر ﷺته محمد ﷺ وفرمايل اي ابوذره کله چه ته دسفر اراده کوي دلاري توښه برابروي؟ هغه وويل هو يارسول الله ﷺ رسول ﷺ وفرمايل دقيامت اوږد سفربه څنګه کوي ؟ اي ابوذره زه تاته داسي شي دروښيم چه دقيامت په ورځ تاته ګټه وکي ؟ ابوذر ﷺ ورته وويل ضرور يې راته وښيه رسول ﷺ ورته وفرمايل دقيامت لپاره په سخته ګرمي کي روژه ونيسه دقبر دوحشت دليري کولو لپاره دشپي په تياره کي دوه رکعته نفل لمونځ وکه دقيامت دمهمو امورودحجت لپاره حج وکه مسکين ته صدقه ورکه ياحقه خبره وکه اودبدي خبري څخه ځان وساته روايت ده چه دنبي کريم ﷺ په زمانه کي يو سړي وو کله چه به دوي بيده سول هغه به پرلمانځه ودريدي دقرآن کريم تلاوت به يې کاوه اوويل به يې اي دجهنم خالقه ماله جهنم څخه وساته دمحمد ﷺ په حضور کي ددي سړي يادونه وسوه رسول ﷺ وفرمايل کله چه هغه په داسي حالت کي وي ماته خبرراکړ محمد ﷺ هغه خواته راغي دهغه عبادت او دعاګاني يې واوريدي کله چه سهار سو محمد ﷺ هغه ته وفرمايل اي فلانه تاولي له الله ﷻ څخه دجنت سوال ونه کړ؟ هغه وويل يارسول الله ﷺ زه له الله ﷻ څخه څنګه دجنت سوال وکم تراوسه خوزمااعمال ددي وړنه دي ګرځيدلي چه دجنت غوښتنه په وکم دغه خبري لانه وي ختمي سوي چه جبرائيل امين راغي

عرض یه وکړ چي یارسول الله ﷺ فلاني سړي ته ووایه چي الله ﷻ هغه جنتي کی ودجهنم څخه یه محفوظ کړ روایت سوی ده چي جبرائیل امین سید البشر ﷺ ته عرض وکړ چي ابن عمر ښه سړی ده کاشکي هغه دشپي عبادت کولای سید البشرمحمد ﷺ ابن عمر رضی الله عنه ته د دي خبري اطلاع ورکړه د دي څخه وروسته هره شپه ابن عمر رضی الله عنه دالله ﷻ عبادت کاوی دحضرت نافعه رحمه الله قول دی چي هغه به دشپي عبادت کاوی اوماته به یه ویل چي وګوره سهارسوی خونه ده ؟ مابه ورته وویل چي سهارسوی لانه دی هغه به بیایه عبدت باندي شروع وکړه مشغول به سو بیابه یه راته وویل چي ای نافعه وګوره سهارخونه ده؟ مابه ورته وویل سهارسوی ده دهغه وروسته به کښېنستی استغفاربه یه وکاوی ترداسي وخته چي دسهار روښنائی به رابنکاره سوه دحضرت علی رضی الله عنه څخه روایت دی چي حضرت یحیی ﷺ یوه شپه په ماړه نس باندي داوربشو ډوډی وخوړه دشپي هغه ویده سو ترسهاره پوري دی ویده پاته سوی وو خپل هغه معلوم و ظایف څني پاته وو الله ﷻ ورته وحي وکړه چي ای یحیی ایاتازما دطرف څخه دتیارسوي کورڅخه ښه کوراوزما دطرفه دتیارسوي همسایه څخه ښه همسایه پیداکړی ده؟ زمادي په خپل جلال سره قسم وي که تاجنت الفردوس لیدلی وای دهغه په شوق کي به ستا وازګي ویلي سوي وای روح به دي وتلی و ای دسترګو څخه به دي زوی وتلي وای محمد ﷺ ته عرض وسو چي یا رسول الله فلانی سړی دشپي لمونځ کوي اوچي کله سهارسي غلاکوي محمد ﷺ ورته وفرمایل دیرژر به دهغه نیک عمل هغه دبدوکارونو څخه منعه کړي بیایه وفرمیل الله ﷻ دي پرهغه بنده باندي رحم وکړي چي دشپي عبادت یه وکړ اوبیایه خپلي ته دپورته کیدلو امروکړ هغي هم دده سره یوځای عبادت وکړ اوکه ښځي انکاروکړ ده دهغي پرمخ باندي اوبه وپاشلي الله ﷻ دي پرهغي ښځي باندي رحم وکړي چي دشپي پورته سي اوعبادت وکړي بیاخپل خاوندراوینښ کړي اوهغه ورسره په عبادت کي مشغول سو دایو صحیح نبوي حدیث ده چي څوک دشپي خپله بیدارسو اوخپله ښځه یه هم بیداره کړه بیادواړو دوه دوه رکعته لمنځونه وکړل الله ﷻ دوی په ذاکرینو ښځواوسړوکي نوشته کوي نبوي حدیث دی چي ترفرضو وروسته ترټول افضل اوبهتر دشپي لمونځ کول دي دحضرت عمر رضی الله عنه څخه روایت سوی ده چي محمد ﷺ وفرمایل څوک چي دخپلو وظایفو اوعباداتو لپاره کمه شپه رایدارنه سي اوهغه دغه خپل عبادت دسهار اودماشپین ترمابین اداکړ نودهغه شخص دپاره دمکملي شپي عبادت اودهغه اجر لیکل کیږي روایت سوی ده چي امام بخاري رحمه الله به زیات وختونه داشعرونه ویل ؛

اغتنم فی الفراغ فضل رکوع　　فعسی ان یکون موتک بغتة

کم صحیح رایت من غیر سقم　　خرجت نفسه الصحیحة فلتة

دفراغت په وختونو کې سجده رکوع غنيمت وبوله دانژدې ده چې مرګ ناڅاپه حمله دربانديې وکړي مازيات داسې تندرست جوړ انسانان ليدلي دی هيڅ ناروغي به يې نه درلوده ناڅاپه دهغوی اروحونه والووتل اوهغوی مړه سول.

## ۸۴ باب عذاب دبدو علماؤ

په دې ځای کې دبدوعلماؤ څخه هغه علماء مراد دي چې هغه دعلم په ذريعه باندې د دنيا دنعمتونو دپيدااوګټلو اراده لري هغه دنيائي منزلت اورتبه غواړي د دنيادارو په رقم باندې دنيابرابرول غواړي ددواړو جهانو دسردارمحمد ﷺ فرمان داسې دی چې دقيامت په ورځ باندې هغه سخت ترين عذاب وهغه عالم ته ورکول کيږي چې هغه دخپل علم څخه فائده نه وي اخستې دانبوي ارشاد مبارک دی چې يوسړ ی ترهغه وخته عالم نه سي کيدلای ترڅوچې هغه دخپل علم په مطابق باندې عمل ونکې نبوي حديث مبارک دی چې علم پردوه ډوله دی يوهغه زباني علم دی اوبل چې هغه په خلګو کې دالله ﷻ صحبت دی اوبل قلبي علم دی چې هغه وخلګوته فائده رسوي نبوي حديث مبارک دی چې په اخرالزمان کې به جاهلان عبادتونه کوي اوفاسقان به عالمان وي حديث مبارک کې راځي چې په علماؤباندی دتفاخر اوفخر کولو دکم عقل سره دبحث اومباحثې کولو او دخلګو وخپل ځان ته ومتوجه کولو په خاطرباندې علم مه زده کوئ هرشخص چې دهمدې غرض په خاطرباندې علم حاصله وي هغه به جهنم ته ځي سيدالانبياء محمد ﷺ هرڅوک چې دخپل ځان دپاره دعلم حصول کوي او نورچاته فائده نه رسوي الله ﷻ وهغه ته دقيامت په ورځ باندې داور قاعده وراچوي همدارنګه سيدالانبياء محمد ﷺ فرمايلي دي زه پرتاسو باندې ديرزيات وهم لرم ډيروېرېږم سوال وسو چې هغه خلک څوک دي ده مبارک وفرمايل هغه ګمراه کونکي امامان دي دهرشخص چې علم زياتيږي او هدايت يې نه ورسره زياتيږي الله ﷻ دهغه څخه ليري کيږي حضرت عمر ؓ وفرمايل زه په دې امت کې ترټولو دهغه منافق عالم څخه وهم لرم خلګو سوال وکړ چې منافق عالم څنګه وي؟ ده مبارک ورته وويل چې د ده به ژبه عالمانه وي اوعمل به يې جاهلانه وي د حسن ؓ قول دی چې دهغه خلګو په رقم باندې مه کيږئ چې دعلماؤ علم او د حکيمانو دانشمندانو حکيمانه قولونه خوسره جمع کوي ليکن عمل يې دهغه کم عقلو په رنګ وي يوه سړي وابوهريرة ؓ ته وويل چې زه علم زده کول غواړم خود دې څخه وهم لرم چې زما څخه ضائع نه شي ده مبارک ورته وويل

چي دعلم پرېښوول لويه ضياع ده دابراهيم بن عيينه رحمه الله څخه سوال وسو چي په خلکو کي شرمندګي حاصلونکی شخص کوم يو دی؟ ده رحمه الله جواب ورکړ چي په دنياکي د داسي چاسره نيکي کونکی سړی چي دنعمت دکفران سره عادي وي اودمرګ پروخت باندي ګنهګارعالم. دخليل بن احمد قول دی چي خلک پرڅلورقسمه دي يو هغه دي چي پوهيږي اوپه دي باندي هم پوهيږي چي هغه عالم دی دهغه اتباع وکړه اودويم هغه دي علم لري لکن هغه ته دانه وي معلومه چي علم لري هغه ويده دی هغه راويښ که دريم هغه ده چي نه پوهيږي اوهغه فکرکوي چي په هيڅ باندي نه پوهيږي رهنمائي غواړي دهغه دپاره رهنمايي وکړي څلورم هغه دي چي نه پوهيږي لکن فکرکوي چي هغه په ډيرڅه باندي پوهيږي هغه جاهل دی دهغه څخه ليري ؤسه. سفيان ثوري رحمه الله قول کړی دی چي علم په عمل سره خبري کوي که انسان عمل وکړي ډيربنه اوکه عمل ونکړي نوعلم ورڅخه ليري کيږي دابن مبارک رحمه الله قول دی چي ترکومه وخته انسان دعلم په طلب کي وي هغه عالم وي اوکله چي دی خپل ځان عالم وشميري په دي وخت کي دی دجهالت په تاريکيو کي دوبيږي. دفضيل بن عيان رحمه الله قول دی چي پردرو کسانو باندي زمارحم راځي يعني درحم وړ دي يوهغه قومي مشر چي ذليل سي اوبل دقوم غني چي محتاج شي اوهغه عالم چي د دنياداری څخه فارغ نسي. دحسن رحمه الله قول دی چي دعلماؤ عذاب دهغوی دزړه مرګ دی اوهغه دزړه مرګ داخرت په بدل کي د دنياترلاسه کول دي په دي باره باندي شاعر له همدي مقام سره په څه اندازه موافق شعرويلی دی:

عجبت لمبتاع الضلالة بالهدى
ومن يشتري دنياه بالدين اعجب
واعجب من هذين من باع دينه
بدنيا سواه فهو من ذين اعجب

زه پردي باندي تعجب کوم چي څوک دهدايت په عوض کي ضلالت اخلي او ددين په بدله کي دنيا اخلي هغه له دي څخه هم دزيادت تعجب وړ خبره ده اودريمه ترد دي هم زياته دتعجب وړخبره همداده چي يوشخص ديوغلط دين په بدله کي خپل هغه اصلي اوصحيح حق دين بدلوي اوخرڅوي يه دسيد البشر ﷺ حديث مبارک ده چي عالم ته په جهنم کي دارنګه سخت عذاب ورکول کيږي چي دهغه دشدت اوسختی دوجي دی

پرجهنمیانو باندي دوره خوري گرزي اوراګرزي دهمدي څخه دسيدالبشر ﷺ هغه عالم مراد دی چي هغه فاجر اوفاسق وي.

**دبي عمله عالم انجام اواخر:** دحضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه څخه روايت سوی دی چي ماد سيدالبشر ﷺ څخه واوريدل ده مبارک وفرمايل چي دقيامت په ورځ باندي به يوعالم راوستل سي په جهنم کي به واچول سي دهغه عالم کولمي به ووزي په هغه وتلو کولمو سره به په جهنم کي داسي روان وي دمثال په طور لکه خرچي په تانګه پسي روان وي جهنميان چي ورته وګوري اودی په دي حالت کي ووينې بيادهغه دعمل په باره باندي سوال وکړي هغه په جواب کي ورته ووايي چي ماونورو خلګوته په نيکي سره حکم کاوی خوماخپله عمل نه درباندي کاوی اللهم احفظنا

خلک به مي دبدی څخه منعه کول خوزه پخپله نه ورڅخه منعه کيدلم وعالم ته دوچنده عذاب ورکول کيږي دليل هم داده چي هغه دعلم باوجود هم منکرات کوي اوپه ناروا کارونو باندي بخت وي په علم باندي عمل نه کوي په دي باره باندي الهي فرمان هم داسي دی ﴿إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ﴾ بيشکه منافقان دجهنم په هغه لاندي طبقه کي دي داځکه چي دعلم باوجود دوی دمحمد ﷺ دنبوت اورسالت څخه منکرين دي الله يهوديان په همدي وجه باندي ترنصاراوو بدوشميرل چي دوی پوهان وو دهغه معرفت اوپوهی باوجود يه دسيدالبشر محمد ﷺ څخه انکاروکړ لکه چي په دي باره باندي يوالهي فرمان داسي دی ﴿يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ﴾ يهوديان سيدالبشر محمد ﷺ داسي پيژني لکه هغوی چي هغه خپل اولادونه پيژندل ﴿فَلَمَّا جَاءَهُمْ مَا عَرَفُوا كَفَرُوا بِهِ فَلَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الْكَافِرِينَ﴾ **ژباړه:** کله چي وهغوی ته هغه څه راغله چي پيژندل يه نويي پرهغه باندي کفروکړ نووروسته پر کافرانو باندي دالله جل جلاله لعنت دی الله جل جلاله دبلعم بن باعورا په قصه کي داسي فرمايلي دي ﴿وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِي آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا فَانسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ فَكَانَ مِنَ الْغَاوِينَ﴾ **ژباړه:** اوهغو خلګوته دهغه چاقصه بيان که چي موږ ورته خپلي نښي ورکړي وي نوهغه د دين څخه ووتی اوشيطان ملعون هغه په ځان پسي کړ اوهغه دګمراهانو څخه وګرزيدی اودا ارشاد مبارک يه هم فرمايلی دی ﴿مَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِن تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَث﴾ ژباړه: نودهغوی مثال دسپي په رقم ده که پرهغه باندي بوج واچوي ژبه راوباسي اوکه يه همداسي ايله کړي نوهم دی ژبه راباسي دفاسق اوفاجرعالم انجام هم دارنګه دی

ځکه چي وبلعم ته دکتاب علم ورکول سوی وو لکن خودي دنفساني خواهشاتو په مقتضی باندي ولاړی له هغدي وجي وهغه ته دسپي مثال ورکړل سو.حضرت عیسی علی نبیناو عليه السلام فرمایلي دي چي دبدو علماؤ مثال دهغه غره په رقم ده چي هغه دویالي په مخکي لویدلی وي نه پخپله اوبه‌ي اونه واوبوته لاره ورکوي چي په هغه اوبوباندي نورفصلونه کښتونه اوبه شي.

## ۸۵:باب دښو اوخوندورو اخلاقو په فضیلت کي

الله جل جلاله دهغه خپل حبیب ﷺ په تعریف کي داسي فرمایلي دي ﴿وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾ **ژباړه**:بیشکه ته دلویو اخلاقو خاوندیي دحضرت عائشي صدیقه رضي الله عنها څخه روایت سوی ده چي خلق دسیدالبشرمحمد ﷺ قران عظیم الشان وو یو شخص د محمد ﷺ دحسن خلق سوال وکړ وهغه ته سیدالبشر ﷺ دا ایت کریمه ووایو ﴿خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ﴾ **ژباړه**:عفوه خپله کړه دنیکی حکم کوه اودجاهلانو څخه اعراض وکړه. بیا سیدالبشر ﷺ وفرمایل حسن خلق دادي چي ته دهغواشخاصوسره اړیکه زیاته اومحکمه ولري چي هغوی ستاڅخه خپله اړیکه اومحبت شکولی وي هغه خلگوته ورکړه وکړی چي هغوی تاته نه وي کړي اوڅوک چي پرتاباندي ظلم اوزیاتی کوي ته وهغه ته معافي کوه محمد ﷺ وفرمایل چي زه د دي دپاره رالیږل سوی یم چي زه هغه غوره اوخوندور اخلاق مکمل کړم او ویه ویل چي دقیامت پهٔ ورځ باندي به داعمالو په تله کي ترټولو دروند شی دالله جل جلاله څخه وهم ویره وي اوهم غوره اخلاق دي یوشخص دسیدالانبیاء محمد ﷺ څخه سوال وکړ چي یارسول الله دین څه شی دی؟ سیدالبشر ﷺ په جواب کي ورته وویل چي ښه اخلاق بیاهغه شخص دسیدالبشر ﷺ وهغه راسته طرف ته راغی ورته ویه ویل چي دین څه شی دی؟ سیدالبشر ﷺ په جواب کي ورته وویل ښه اخلاق بیاهغه سړی دسید البشر ﷺ وچپه طرف ته راغی بیایه ورته هغه خبره مکرره کړه سیدالبشر ﷺ بیاهم هغه رنگه جواب ورکړ بیادشادطرف څخه راغی هغه رنگه پوښتنه یه وکړه هم سیدالبشر ﷺ هغه په جواب کي ورته وفرمایل (اماتفقه هوان لاتغضب) دسیدالبشر ﷺ څخه پوښتنه وسوه چي جنابه نحوست څه شی دی؟ هغه مبارک په جواب کي ورته وویل چي بد خلقي.یوه شخص سیدالبشرمحمد ﷺ ته عرض وکړ چي ته ماته وصیت وکړه سید الانبیاء محمد ﷺ ورته په جواب کي وویل چي په هرځای کي چي ته زندگي کوي دالله جل جلاله څخه وهم او ویره کوه هغه شخص عرض وکړ چي نورزیات اومزیدتوصیه هم راته وکړه ده

مبارک ورته وویل چي تربدې. وروسته نیکي کوه چي هغه دي بدي ختمه کي هغه عرض وکړ چي نورنصیحت اوتوصیه راته وکړه ده مبارک ورته وویل چي دالله ﷻ دمخلوق سره ښه اخلاق کوه دمحمد ﷺ څخه پوښتنه وشوه چي کوم یوعمل افضل اوبهتردی؟ ده مبارک په جواب کي ورته وویل چي ښه اخلاق دایو دسیدالبشر ﷺ دهغه نبوي اوامرو څخه دی چي الله ﷻ دکوم بنده پیدایش اوخلق ښه گرزولي وي هغه په جهنم کي الله ﷻ نه اچوي.دحضرت فضیل رضي الله عنه څخه روایت ده چي سیدالبشرمحمد ﷺ ته عرض وکړل سو چي فلانۍ ښځه دشپي عبادت اود ورځي روژه نیسي خو په زیاته اندازه باندي بداخلاقه ده وخپلوهمنشینانو اوهمسایه گانو ته په ژبه باندي زیات ضررونه رسوي سیدالبشر ﷺ وفرمایل چي په هغي کي هیڅ خیرنسته هغه جهنمي ده.دحضرت ابوالدرداء رضي الله عنه څخه روایت ده چي مادسیدالبشر ﷺ څخه اوریدلي دي چي ترهرڅه مخته داعمالو په ترازو کي سخاوت اوښه اخلاق اچول کیږي کله چي الله ﷻ ایمان پیداکړ هغه عرض وکړ ای الله ﷻ ته وماته قوت راکړه نوالله ﷻ وهغه ته په ښه خلق اوسخاوت سره قوت ورکړ اوکله چي الله ﷻ کفرپیداکړهغه هم عرض وکړ چي وماته قوت راکړه الله ﷻ وهغه ته دبخل اوبداخلاقۍ قوت ورکړ.

دسیدالبشر ﷺ حدیث مبارک دی چي الله ﷻ دا دین دخپل ځان دپاره پیداکړی دی ستاسو دا دین دسخاوت اوښواخلاقو څخه بغیر صحت نلري خبروسئ خپل مبارک دین په همدي دواړو شیانو باندي ښائسته کړئ دایو نبوي امردی چي ښه خلق دالله ﷻ یو عظیم ترین مخلوق دی وسیدالبشر ﷺ ته عرض وشو چي دکم مؤمن ایمان افضل دی؟ هغه مبارک ورته وفرمایل چي ښه اخلاق ترټولو افضل دي.

دجناب سیدالانبیاء ارشاد مبارک دی چي بیشکه تاسو په مال اودولت سره دخلکو مرسته نه سی کولای نوودهغوی سره په پراخ تندي اوښو ښائسته اخلاقو باندي مرسته وکړی .سیدالبشر ﷺ فرمایي: چي بداخلاقي ایمان داسي ضائع کوي لکه چي شهد او سرکه یودبله سره خلط کي سرکه شهد خرابوي .دحضرت جریربن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی چي سیدالبشر ﷺ وفرمایل بیشکه ته داسي ځوان یي چي الله ﷻ ستاخلقت ښه کړی دی له همدي وجي ته خپل اخلاق غوره اوخوندور وگرزوه .دحضرت براء بن عازب رضي الله عنه څخه روایت سوی ده چي دالله ﷻ په مخلوق کي سیدالبشر ﷺ ترټولو ښائسته او دښواخلاقو لرونکی وو .دحضرت ابوسعید خدری رضي الله عنه څخه روایت دی چي سیدالبشر ﷺ په خپله دعاکي داسي طلب کاوی ای الله ﷻ څنګه چي تازماتخلیق غوره گرزولی دی همدارنګه

خلق هم غوره وګرزوه. دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دی چي سید البشر ﷺ به زیات وختونه دا دعاکوله: اللهم اني اسئلک الصحة والعافية وحسن الخلق ای الله ﷻ ستا څخه دصحت اوسلامتی او دحسن خلق سوال کوم. دحضرت ابی هریرة ﷺ څخه روایت سوی دی چي نبی ﷺ وفرمایل چي دانسان شرافت دهغه دین دی دهغه نیکي دهغه ښه خلق او دهغه مروت دهغه عقل دی.

دحضرت اسامه بن زید ﷺ څخه روایت دی چي زه داعرابیانو په مجلس کي حاضرسوم چي دوی دسیدالبشر ﷺ څخه پوښتنه کوله چي انسان ته په هغه ورکول سویو ښوشیانو کي کوم شی ترټولو بهتردی؟ ده مبارک په جواب کي ورته وویل چي ښه خلق سیدالانبیاء ﷺ ارشاد مبارک دي چي وماته دقیامت په ورځ ترټولو محبوب اوخوښ هغه څوک دی چي هغه په تاسو کي دښو اخلاقو خاوندوي.

دحضرت عباس ﷺ څخه روایت سوی دی چي محمد ﷺ وفرمایل چي درې خویونه داسي دي چي په چاکي درې سره اویایو دهغوی څخه پیدااوموجودسي دهغه هیڅ عمل په شمرکي مه راوله (۱) پرهیزګاري چي دالله ﷻ دنافرمانی څخه منعه کوي (۲) حلم چي دهغه په ذریعه سره دکم عقل شخص مخ نیوی کیږي (۳) ښه ژوند چي په دي سره متصف ژوند تیروي سیدالبشر ﷺ چي به کله ولمانځه ته شروع کوله په اولین حالت کي به یه دا دعاکوله چي یاالله ﷻ ماته غوره اخلاق راکړه ستاڅخه بغیربل داسي څوک نسته ته معطي يي اودحسن خلق هدایت تنها ستاکارده اوماته دبداخلاقی څخه ساتنه راکړه ودبدخلقی څخه نجات ورکونکی هم ته يي زه بل څوک نلرم دسیدالبشر ﷺ څخه سوال وسو چي دانسان ښایست اوزینت په څه کي ده؟ ده مبارک په جواب کي ورته وفرمایل چي په خبروکي نرمي کول اوپراخ تندی خندا کونکي خوله کوم سړی چي دخلګو سره احسان کوي ښه اخلاق ورسره کوي هغه انسان دخلګو زیات خوښ وي اوخلګ دهغه اوصاف بیانوي.

## ۸۶: باب دمفسرینو اقوال په خندا، ژړا، زاری کي

بعضي مفسرین علیهم الرحمة واي چي د دي اية کریمه () دنازلیدلو وروسته محمد ﷺ کله هم نه دي خندلي بلکه ده مبارک به تبسم باندي خندل په یوه روایت کي داسي هم راغلي دي چي د دي اية کریمه ترنازلیدلو وروسته سیدالبشرمحمد ﷺ چاپه خنداباندي بلکل نه دئ لیدلی ترداسي وخته چي دی مبارک د دنیاڅخه رخصت او وفات سو په دي باره باندي دابن عمر ﷺ روایت ده چي یوه ورځ سید البشر ﷺ دمسجد څخه دباندي طرف ته

ولاړی په دي وخت کي گوري چي يوڅه خلک په خنداخندباندي خبري کوي سيد البشر ﷺ دهغوی وخنگ ته ودريدی سلام يه ورباندي واچاوی داسي يه ورته وويل چي هغه د دنيادخوندونو اوشوقونو ختمونکی (مرگ) ستاسوپه مخ کي دی اوتاسو خاندی يوه ورځ سيدالانبياء ﷺ پريوه داسي ډله باندي تيريدی هغوی خنداوي کولي سيد البشر ﷺ وهغوته وفرمايل چي قسم په الله ﷻ که تاسو په هغه څه باندي پوهيدلای کوم چي زه ورباندي عالم يم تاسوبه ژړا زياته اوخندابه موبالکل کمه کوله

حضرت موسی ﷺ چي کله د حضرت خضر ﷺ څخه جلا کېدی نو يې و خضر ﷺ ته وويل يو څه نصيحت راته وکړه، هغه ورته وويل چي: ای موسی!د هيچا په مخ کي جنگ نه کول، بې له ضرورته يو ځای ته نه تلل، د يوې تعجبي خبري ماسوا هيڅکله نه خندل، پر خطا کوونکي باندي د هغه پر خطا پيغور نه ورکول که نه نو هغه به پر تا باندي د خطا طعن ووايي دسيدالبشر ﷺ حديث مبارک دی چي دقران کريم اوظيفه زياته کوئ اوژړاکوئ که ژړادرته رانشي نوبيادژړا په رقم باندي خپل ځان جوړکړه محمد ﷺ فرمايلي دي چي زياته خندازړه مړکوي کوم شخص چي په ځواني کي خاندي نوپه سپين ږيرتوب کي ژاړي څوک چي دمالداری په وخت کي خاندي هغه به بيادغربت په وخت کي وژاړي کوم څوک چي په ژوند کي خاندي هغه به په مرگ کي وژاړي.

حسن بصري ﷫ دالله ﷻ دهمدي اية کريمه: فَلْيَضْحَكُوا قَلِيلًا وَلْيَبْكُوا كَثِيرًا په تفسير کي داسي وايي چي په دنياکي لږخانده که نه نو په اخرت کي به زيات وژاړي اودابه ستا داعمالو جزاء وي.حضرت حسن بصري ﷫، به ويل چي پرېزوره خندا کوونکي باندي تعجب دی ځکه چي د ده و شا ته دوږخ دی، خوشحالي کوونکي باندي هم تعجب دی ځکه چي د ده وشا ته مرگ دی، يو وخت يې يو ځوان پر خندا کولو باندي وليدی ورته ويې فرمايل چي: بچيه! ته چي پر پل صراط باندي تيرېږي ايا تا ته دا معلومه ده چي په جنت کي به دا خليږي که په دوږخ کي؟ هغه وويل نه يم خبر، حسن بصري ﷫، ورته و فرمايل چي په دې نه يې خبر نوبيا خاندې څنگه؟ تردې وروسته يې هيڅکله هغه هلک پر خندا نه دی ليدلی. حضرت ابن عباس ﷛ ويلي دي چي کوم سړی په خنداباندي گناه کوي هغه به په ژړاباندی وجهنم ته ځي الله ﷻ دگناه کونکي صفت کړی دی لکه چي فرمايي: وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ جناب اوزاعی ﷫ د دي اية مَالِ هَذَا الْكِتَابِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً إِلَّا أَحْصَاهَا په تشريح کي داسي فرمايي دکوچني خبري څخه مراد تبسم دی اود لويي خبري

څخه مراد په قهقهه سره خنداده دسيدالبشر ﷺ ارشاد مبارک دی چي دقيامت په ورځ باندي به تولي ستركي ژاړي لكن دري ستركي به نه ژاړي يوهغه چي دالله ﷻ دوهم څخه په ژړلي وي اودالله ﷻ دهغه ممنوع سويو شيانو څخه په ځان منعه كړی وي اوهغه چي الله ﷻ په لاره كي بيداره سوي وي . روايت دی دي چي دري شيان زړه سختوي: (۱) پربې تعجبه خبري خندل(۲) بې له لوږي خوراک كول (۳) بې له ضرورته خبري كول.

**لباس جامه:** سيدالبشر ﷺ به لنګ، ځادر، چپنه، اوداسي نور لباس اغوستی دسيد البشر ﷺ سپين لباس ديرزيات خوښ وو ديروخت به يه سپين لباس اغوستی شين لباس هم دسيدالانبياء محمد ﷺ خوښ وو اودابه يه فرمايل چي همدا سپين لباس وخپلو ژوندو ته هم اغوندئ اوتاسو ومړيو ته كفن هم له همدي سپيني جامي څخه وركوئ دسيدالبشر ﷺ وريښمينه چپنه وه دچپني شين رنګ دسيد البشر ﷺ سره ښه ښكاريدی دسيدالبشر ﷺ ټول لباس جامه به تربجلكو لوړه وه اولنګ به يه ترنيمي پوندی پورته وو دسيدالبشر ﷺ سره يوه توره كمبله ورسره وه هغه يه ويو چاته بخښش كړه حضرت ام سلمة رضي الله عنها عرض وكړ چي ياسيدالبشر ﷺ زمامور او پلار دي ترتاقربان سي هغه توره كمبله دي څه كړه ؟ دكونينو سردارمحمد ﷺ ورته په جواب كي وويل هغه مي ويوچاته ورواغوستله دي مباركي ورته وويل چي يارسول الله ما ستا پرنازک اوسپين بدن باندي بل داسي ښوشی نه وو ليدلی .

سيدالبشر ﷺ به هروخت لباس دراسته طرف څخه اغوستی اوداغوستلو په وخت كي به يه دا دعاكوله ﴿الحمدلله الذی كساني مااواري به عورتي واتجمل به في الناس﴾ حمد دي وي هغه الله ﷻ لره چي وماته يه لباس راكی چي ورباندي خپل بدن پوټوم او خلكو ته په زينت سره ورځم اوسيدالبشر ﷺ به هميشه لباس دچپ طرف څخه ايستی كله چي به يه نويه جامي واغوستلي هغه زړي جامي به يه ومسكينانو ته وركړي اودابه يه فرمايل چي كوم مسلمان چي ومسكين ته دالله ﷻ درضادپاره خپلي زړي جامې وركړي هغه دهمدي عمل دوجي څخه په دنيااواخرت دواړو كي په امان باندي كيدلای سي په پناه اوپه رحمت كي به وي دسيدالبشر ﷺ يوه چپنه وه پرهغي باندي به يه ارام كاوی هغه به يه لاندی وتنګاچي ته اواره كړه اودی مبارک به پرېغل باندي پرويده كيدی اللهم صلي علی محمدوعلی اله واصحابه اجمعين.

## ۸۷باب په بیان دقران کریم کي.

دسيد الانبياء ﷺ ارشاد مبارک دی چي هرچا دقران کريم تلاوت وکړ اوبيايه همدا فکر وکړ چي وچاته هم تردي ښه شي ورکړل سوی دی هغه شخص دالله ﷻ عظمت اولوی والی کم وبالی دسيد البشر ﷺ حديث مبارک دی چي دالله ﷻ سره ترقران کريم بل لوړ دمرتبی اوعظمت والاشی اوبل شفاعت کونکی نسته په يوبل حديث شريف کي راغلي دي چي زمادامت دپاره بهترين اوخوندور عبادت دقران عظيم الشان تلاوت دی يوبل هم داسي ارشادسته چي په تاسو کي هغه شخص ديرښه دی چي قران کريم پخپله هم وايي اوبل چاته يه هم وربنيي سيد الانبياء محمد ﷺ داسي فرمايلي دي چي وزړونو ته زنګ داسي لګيږي لکه واوسپيني ته چي زنګ لګيږي په دي وخت کي پوښتنه وسوه چي دازنګ دانسان دزړه څخه په څه رنګه طريقه باندي ليري کيږي ؟ ده مبارک وفرمايل چي په دوو شيانو دقران کريم په تلاوت باندي او دمرګ په يادولو باندي ليري کيږي.

دفضيل بن عياض رحمه الله څخه روايت سوی ده چي دقران کريم علم لرونکي اشخاص داسلام دبيرغ پورته کونکي دي ځکه نودهغوی سره مناسب نه ده چي په لهو اولعب کي دمصروفو اشخاصوسره ځانونه مصروف کړي ځکه دا دقران کريم دتعظيم په خلاف دي سيد البشر ﷺ وفرمايل هرڅوک چي سهار په وخت کي دسورة حشر اخري ايتونه ووايي تلاوت يه کړي په دي ورځ کي داشخص مړسي داشخص دشهيدانو په ليست کي نوشته کيږي اوپرهغه باندي دشهيدانو مهرهم لګول کيږي اوکوم شخص چي يه دشپې په شروع کي تلاوت کړي بياپه همدي شپه باندي وفات شي پرهغه باندي هم دشهيدانومهرتاپه لګول کيږي.

**علم، او د علماؤ فضيلتونه**:په دي راتلونکي بحث کي زيات احاديث نقل سوي دي چي سيد البشر ﷺ فرمايي الله ﷻ چي وکوم شخص ته دنيکی اراده وکړي وهغه ته الله ﷻ د دين پوهه ورکړي او وهغه ته دسيده لاري هدايت ورنصيب کړي اوهمدارنګه ارشاد مبارک دی چي علماء دانبياؤ عليهم السلام وارثان دي اوداظاهره خبره ده چي ترانبياؤ عليهم السلام پورته لوړه دچا درجه هم نسته نو دانبياؤ عليهم السلام ترووارث هم دبل وارث درجه نه ده زياته اونه لوړه ده دايونبوي پيغام دی چي په ټولوکي افضل اوبهترهغه مومن عالم دی چي کله ده ته رجوع وکړل سي فائده ګټه ورته ورسوي اوکله چي ورڅخه بي نيازي وکړه سي نوهغه هم بي نيازه شي نبوي حديث دی چي دنبوت ومرتبي ته ترټولو زيات نږدي خلک هغه ديني علماء اومجاهدين دي ځکه چي هغوی درسولانو

پیغامونه وخلکوته رسوي اومجاهدین له دي وجي څخه چي دوی دالله ﷻ د دین دقیام
دپاره جهادکوي نبوي ارشاد دی چي دیوي قبیلې دخلکو ترمرګ دیوو عالم مرګ ګران
دی ارشاد مبارک دی چي دقیامت په ورځ به دعلماؤ دقلمان مشوانیو سیاهیاني به
دشهیدانو دوینو سره اندازه اوتول کیږي دسیدالبشر ﷺ ارشاد مبارک دی چي عالم کله
هم په علم باندي نه مړیږي ترداسي وخته چي وجنت ته داخل سي اودافرمان یې صادرکړ
چي زمادامت هلاکت به د دوو شیانو څخه وي هغه دوه لکه دعلم پرېښوول او دمال جمع
کول په یوبل داسي ارشاد کي راغلي دي چي یا د دین عالم جوړسه اویامتعلم جوړسه
اویاعلمي بحث کونکی جوړسه اویادعلم سره محبت کونکی جوړسه ولاتکن خامسا یعني
پنځم مه جوړیږه یعني پنځم چي دعلم سره بغض کونکی سي نوکه داسي سي نوهلاک سه
یعني هلاک به سي په بل ځای کي محمد ﷺ فرمایلي دي چي تکبر دعلم دپاره لوی
مصیبت دی دحکماؤ قول دی چي هغه سړی چي دسرداری اود مشرتابه دترلاسه
کولو دپاره علم زده کوي هغه دتوفیق اوهغه درعیت داری صفتونه دلاسه ورکوي داباندي
عمده دلیل یوالهي ارشاد دی ﴿سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ﴾ ژباړه:
دیر ژر دخپلو ایتونو څخه داسي خلک راوړوم چي هغه په دنیاکي تکبرکوي متکبرین وي
دحضرت امام شافعي رحمه الله قول دی چي هرچا دقران کریم علم زده کړ دهغه قیمت لوړ سو
اوچاچي دفقه علم زده کړ دهغه قدر زیات سو اوچاچي دحدیث علم زده کړ دهغوی دلیل
قوي سو اوچاچي حساب زده کړ دهغه عقل پوخ سو اوڅوک چي نادري خبرې زده کړي
دهغه طبیعت نرم سو اوچاچي دخپل ځان عزت ونکړ وهغه ته دهغه علم هیڅ فائده نکوي
دحضرت حسن بن علي رضي الله عنه څخه روایت دی چي کوم شخص دعلماؤ په مجلس کي زیات
ناسته ولاړه کوي دهغه دژبي بندیدل لیري کیږي اودهغه ذهني پریشانیاني هم بالکل
ختمیږي اوهرڅه چي هغه شخص ترلاسه کوي هغه یې سبب دخوشنودی اوخوشحالی
جوړیږي دهغه علم به دهغه دپاره مفید اود ګټي وړ وي دایو نبوي حدیث دی چي الله ﷻ
کوم یوبنده ردوي دهغه څخه علم سلب اولیري کړي په یوبل حدیث مبارک کي راغلي چي
ترجهالت لوړ اوعالي بل فقرنسته.

## (٨٨) باب دزکوة اود لمانځه فضائل

په دي باندي باید اګاه سو بنه تره په ذهین دول باندي باید ځان ورباندي پوه کړو چي
الله ﷻ زکات داسلام دپاره یوبنیادي شی ګرزولی دی اودلمانځه سره یې هم زکوت په یوو
محل کي ذکرکړی دی لکه چي رب العلمین ﷻ فرمایي ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ﴾ ایه

نمبر(۵۵) سورة النور.**ژباړه**:لمونځ قائم کړئ او زکوة ورکړئ دسید البشرﷺ ارشاد مبارک دی چي داسلام پنځه بنیادونه دي دالله ﷻ په وحدانیت اودسیدالبشرﷺ پر رسالت شاهدي اولمونځ کول زکوة ورکول درمضان شریف روژه نیول، دزاد اوراحله باوجود دبیت الله شریفي حج کول کم اشخاص چي لمونځ نکوي اوزکوة نه ورکوي الله ﷻ دهغوی دپاره وسخت عذاب وعید وعده کړي ده لکه چي فرمائي ﴿فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ﴾ وروسته هلاکت دی دهغه خلکو دپاره چي لمونځونه کوي اودخپلو لمنځو نوځخه ناخبره وي په دي باره باندي وړاندي هم مکمل بحث تیرسوی ده دزکوة دنه.ورکونکي په باره باندي الله ﷻ فرمایي: ﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ﴾ ژباړه: اوکوم اشخاص چي سره اوسپین زر جمع کوي اود الله ﷻ په لاره کي يه نه خرڅوي نو وهغوته د دردناک عذاب زیری ورکړه په بیان سوي ایة مبارک کي دالله ﷻ په لاره کي دخرڅ کولوڅخه مراد زکوة دی چي زکوة ورکړي.

## دصدقه لائق کسان څوک دي؟

کله چي صدقه ورکول کیږي په دي وخت کي دي غریبان اوداسي نور نیکان فقیران معلوم کړل سي چي هغوی د دنیاسره اړیکه اوتعلق پریکړی وي تول تعلق يه داخرت سره وي ځکه وداسي فقیرانو ته صدقه ورکول مال ګي زیادت راولي مال زیاتوي په دي باره باندي نبوي حدیث مبارک دی چي وپرهیزګارانو باندي خواړه خورئ سیدالانبیاءﷺ داخبره په دي باره باندي وکړه چي په دي باندي دهغه پرهیزګار پرهیزګاري نوره هم زیادت کوي زیاتیږي اودارنګه هغه هم دهغه په عبادت اوریاضت کي شتمولیت پیداکولای سي د یو عالم قول دی چي دصدقي ورکولو په وخت کي صوفیانو اوفقیرانو ته ترجیح ورکوله یوچا ودي عالم ته وویل چي تول فقیران دي یادکړي واي دابه ښه نه وای؟ عالم ورته وویل چي داسي نه ده داصوفیان اودافقیران داسي اشخاص دي چي تولو توجو يه والله ﷻ ته ده یعني دالله ﷻ پرطرف باندي د دوی توجو ده نورڅه نلري کله چي دوی دلوږي سره مخامخ سي نو ددوی قوة اوهمت مخ پر کمیدلو باندي وي ماته دامهمه ده چي د هغوی هغه همت پیاوړی سي اوهغه تکلیف د دوی څخه لیري سي او ددوی توجوه د الله ﷻ پرطرف باندي ور اړول ترزرو فقیرانو لاهم زیات ثواب لري یعني ترهغو فقیرانو زیات ده چي دهغوی توجوه د دنیاپرطرف باندي وي اودوی د دنیاسره مینه لري اود اخرت غمونه يه په

خيال اوتصور كي نه وي داخبره يوچا وجنيد ﷺ ته وكړه هغه هم داخبره خوښه كړه اوداسي
يه وويل چي داسړى دالله ﷻ ولي دى څه وخت وروسته يوچا دجنيد ﷺ څخه سوال وكړ
چي دهغه سړي حالت زيات خراب دى د دوكان وپريښو ولو ته اراده اوقصد لري جنيد ﷺ
دهغه ته مال وروليږى اودايه ورته وويل چي دوكان مه پريږده دوكان ستاسو دپاره تاوان
نري دهمدي سړي څخه چي به دوكاندار اوفقراؤ شى اخستى دهغوى څخه به يه قيمت نه
اخستى بى حسابه مفت به يه داشيان وركول. حضرت ابن مبارك ﷫ به خپل صدقات
اوهديې خاص وعلماؤ ته وركولي يوچاورته وويل چي كه تاسوهغه خپل صدقات عام
كړى وهرچاته يه وركوي هغه طريقه به ښه نه وي ده ﷫ ورته وويل چي زه دنبوت دمرتبې
څخه را لاندي بيادعلماؤ ترمرتبي فوق اولوړه مرتبه اومنزلت نه وينم كه بالفرض دعلماؤ
فكرونه اوچرتونه د دنياني مشغلې دپاره اړ كړل سي دوى دنياطلب سي نوبه په دي وخت
كي بيا ددوى په هغه علمي مشغله كي نقصان اوتاوان موجودسي دوى سي په بل څه
باندي مشغول وي نوبيا دتعليم اوتعلم هغه كماحقه اوظيفه نه سي اداكولاى نوله همدي
وجي څخه دهغوى دپاره دعلم دحصول او دلازياتوالي لارې اسانه اومهياكول افضل اوښه
تره بهتركاردى داهم پكاردى چي صدقات اوهديې خيراتونه وخپلو خپلوانو ته وركړل
سي ترنورو پردو بايد وخپلوانو ته ترجيح وركول سي په دي كي دوه شيان سوو هم صدقه
اوهم حوصله رحمي سوه داهم معلومه ده چي دصله رحمي مرتبه ډيره فوق اوعالي ده
اجرونه يه بالكل زيات دي اوبل ضروري كارهمداده چي انسان په پټه توګه باندي
بايدصدقه وركړي دهمدي مطلب دپاره چي دريا دهغه منفور لعنت څخه يه الله ﷻ خلاص
كړي اوبل به داهم وي چي هغه دخلكو په مخ كي هغه اخستونكى شخص به دذلت اود
رسوائي څخه په امن سي دسيدالبشر ﷺ حديث مبارك دى چي دالله ﷻ قهر اوغضب په
خفيه اوپټه صدقه باندي ختميږي اودقيامت په ورځ باندي دعرش ترسايه لاندي
دريدونكى ده خوكه بالفرض په ښكاره وركولو كي مصلحت وي مشكل پكي نه وي
دنورو اشخاصو دپاره هم دترغيب اولامحبت كولو اوپرصدقه باندي د دلاوره كولو يوه
لاره وي بيا كه ښكاره وركړل سي هيڅ مشكل نه ده خوپه دي شرط چيَ په دي كي به دريا
اواحسان اچولو نيت بلكل نه وي لكه چي په دي باره باندي دالله ﷻ امرصادرسويده ﴿يَا
أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُم بِالْمَنِّ وَالْأَذَىٰ﴾ اية نمبر (۲۳۶) ژباړه خپلي صدقې په احسان
اوريا سره مه باطلوى په ګناهونو كي لويه ګناه دصدقې وركول اوبيا ورباندي احسان كول
دي له همدي وجي څخه به پټه صدقه وركولو باندي خوښي سوي ده او ودي پټ وركولو

ته ترجیح ورکړه سوي ده اوداهم په زیادت تاکید سره ده چي هغه خپله نیکي دی بالکل هیره اودمابینه یوسي اظهاردي بالکل دهغه نیکی ویوچاته هم نه کوي اوهغه شخص چي ورسره نیکي ووشي بایدچي هغه دهغه نیکي کونکي شکریه اداکړي لکه چي په حدیث مبارک کي راځي :(من لم یشکرالناس لم یشکرالله) **ژباړه**:څوک چي دخلګو یعني دالله ﷻ دمخلوق شکریه نه کړي ادا نو هغه دالله ﷻ شکریه هم نه اداکوي په دي باره باندي یوچا دهغه مقام سره موافق یوشعرویلی ده :

یدالمعروف غنم حیث کانت تحملها کفورا اوشکورا

قضاشکر الشکورلهاجزاء وعندالله ما کفرالکفور

دنیکی اوصدقې لاس چي هرځای وي هغه غنیمت دی که څه هم شاکربنده فائده ورځخه واخلي اوکه هغه دنعمتونو کفران کونکی بنده ورځخه فائده واخلي بل دشکر ګذار په شکر کښلو کي جزاء ده اودالله ﷻ په نزد باندي دکافر بدل کفربلل سوی ده .

## (۸۹) باب دمور اوپلار دحقوقو بیان

داځان ته معلومه کړئ او ذهن خپله مفکوره ورسره په ښه انداز باندي اشناکړئ چي دعزیزانو اوخپلوانو پرحقوقو باندي تاکیداوټنګارسوی دی اوپه دي کي دخصوصیت ماده همداده چي د ذوی الارحامو یادونه هم ځانګړي ده دسیدالبشر ﷺ حدیث مبارک دی چي یوزوی هم دخپل پلار حقوق نه سي اداکولای ترڅوچي هغه خپل پلار دغلامی په حالت کي وویني اوبیایه هغه په خپلو روپو باندي واخلي دهغه وروسته یه ازادکړي.ارشاد نبوي دی چي دخپل پلار اومور سره نیکي کول داپه ثوابونو اوفضیلتونو کي ترجهاد لمونځ روژې صدقات حج وعمره اوترنورو داسي فضائلو هم زیات کاردی دمحمد ﷺ ارشاد مبارک دی چي کوم شخص په داسي حالت کي سهار کړي چي دده څخه مور اوپلار راضي اوخوشحاله وي دهغه نیک بخت انسان دپاره دجنت دروازې خلاصې دي اوڅوک چي پرځان باندي په ذکر سوي حالت کي ماښام کړي هم وهغه ته دجنت دروازې خلاصیږي او دچاچي دمور اوپلار څخه یوژوندی وي نووهغه ته دجنت یوه دروازه خلاصه وي که څه هم مور اوپلار ورسره زیاتی وکړي که څه هم مور اوپلار ورسره زیاتی وکړي که څه هم مور اوپلار ورسره زیاتی وکړي اوڅوک چي په داسي حالت کي شپه تیره اویاپرځان باندي سهارکړي چي مور اوپلار ورڅخه خفه اوناراضه وي دهغه شخص

دپاره دجهنم دروازې خلاصې دي او که دهغوی والدینو څخه یو ژوندی وي بیا یوه دروازه ورته خلاصه ده که څه هم مور اوپلار ورسره زیاتی وکړي که څه هم مور اوپلار ورسره زیاتی وکړي که څه هم مور اوپلار ورسره زیاتی وکړي. دسید البشر ﷺ حدیث دی چې دجنت خوشبوئي دپنځه سوه کالو (۵۰۰) مسافت څخه محسوس سیږي لکن دمور اوپلار هغه نافرمان اولاد اوهغه قطعه رحمي کونکی شخص دا دجنت خوشبوئی نه سي محسوسولای حدیث نبوي دی چې دمور او ورور اوخور سره احسان وکړئ له همدې څخه وروسته له نورو قریبانو سره درجه پردرجه باندې احسانونه اونیکی وکړئ.روایت دی چې الله ﷻ موسی ﷺ ته داسې وفرمایل چې ای موسی ﷺ څوک چې دمور اوپلارسره ښه سلوک اوفرمانبرداري وکړي اوزمانافرماني وکړي زه هغه په نیکي کي لیکم اوڅوک چې دمور اوپلانافرماني کوي امریه نه مني اوزمافرمانبرداري کوي زه هغه په نافرمانو کي حسابم روایت سوی دی چې کله حضرت یعقوب ﷺ دحضرت یوسف ﷺ وطرف ته ورغی حضرت یوسف ﷺ د خپل پلار داستقبالیې په خاطرباندي ولاړنه سو نه ودریدی الله ﷻ په دي وخت کي ویوسف ﷺ ته وحی وکړه چې ایاته وخپل پلار ته دریدل زیات گران بولې ؟ په خپل لوی اوجلالیت باندې دې زماقسم وي چې زه به ستا په نسل کي هیڅ نبي هم پیدانکړم .حدیث مبارک دی چې کله کوم شخص دمور اوپلار دطرف څخه صدقه کوي دهغه مور اوپلار ته دهغه اجر رسیږي او ده ته هم دهغه برابر ثواب رسیږي په دي کي هیڅ کمبود هم نه راځي.دحضرت مالک بن ربیعهؓ څخه روایت دی چې موږ دسیدالبشر ﷺ په طرف کی ناست وو چې دبنوسلیم دقبیلې څخه یوسړی راغی عرض یې وکړ چې یارسول الله ﷺ داسې یوه نیکي سته چې دمور اوپلار دمرگ څخه بعد یې ورسره وکړم ؟ سیدالبشر ﷺ ورته وفرمایل چې هو دمور اوپلار دپاره دعاکوه دالله ﷻ دطرف څخه مغفرت ورته غواړه دهغوی وعدې پوره کړه دهغوی دانديوالانو دوستانو سره ښه سلوک او احترام کوه او د هغوی دخپلوانو سره صله رحمي کوه حدیث مبارک دی چې ترټولو لویه نیکي داده چې انسان دخپل پلار دوفات څخه وروسته دهغه د دوستانو سره ښه گذاره کوي سیدالبشر ﷺ فرمایي چې دخپلې مورسره دزوی نیکي دوه چنده ثواب اواجر لري یوبل ارشاد مبارک دی چې دمور دعا ژر قبلیږي په دي باره باندې پوښتنه وسوه چې یارسول الله ﷺ دهمدې علت څه دی؟ ده مبارک ورته وفرمایل چې مور ترپلار زیاته مهربانه وي او درحم دعاهیڅ وخت هم نه ضائع کیږي یوسړي دسیدالانبیاء محمد ﷺ څخه سوال وکړ چې زه دچاسره نیکي وکړم؟ ده مبارک په جواب کي ورته وویل

چي ته دخپلو والدينو سره نيکي وکړه هغه بياعرض وکړ چي يارسول الله زمامور اوپلار خونسته سيدالبشر ﷺ ورته وفرمايل چي دخپل اولادسره څنګه چي پرتاباندي د مور اوپلار حق سته همدارنګه داولاد حق هم پرتاباندي سته دسيدالبشر ﷺ ارشادمبارک دی چي الله ﷻ دي پرهغه پلار باندي رحم وکړي چي هغه دخپل زوی سره په نيک کار کي تعاون اوکومک وکړي يعني هغه اولاد په ونيکي لاري ته امرکړ سيدالبشر ﷺ فرمايلي دي چي وخپلو اولادونو ته يومساوي برابر تحفې ورکوئ داهم ويل سوي دي چي ستازوی ستا دپاره يوګل تازه بوی والادی تراوو (۷) کالوپوري هغه ستا خادم دی دهغه خرڅبرئي کش کړه دهمدي څخه ورروسته هغه ستا پاشريک دی اوياد ښمن دی .دماشوم عقيقه دي داوومي ورځي څخه وکړل سي اوپه همدي ورځ باندي دي ورباندي نوم هم کيښودل سي په همدي ورځ دي دهغه ورښتان هم وخريل سي کله چي هغه ماشم دشپږو اوياوو کالو سو مور اوپلار دي ورته ادب ورښيي اوکله چي هغه ماشوم دنه (۹) کالو په عمرسو بيادي نو بستره ورته جداکړي اوکله چي دی د ديارلسو (۱۳) کالوسو پرلمانځه باندي دي ووهي اوکله چي دی دشپاړسو (۱۶)کالو سو واده دي ورته وکړي بياسيدالبشر ﷺ دانس لاس ونيوی اوداسي يه وفرمايل ماوتاته ادب درونبووی اوتعليم مي هم درته درکړاو واده مي هم درته وکړ زه ستا دپاره دالله ﷻ څخه د دنيادافتونو څخه خلاصون او داخرت دتکاليف څخه هم نجات درته غواړم دسيدالبشر ﷺ ارشادنبوي دی چي داولاد حق پرپلار باندي همدارنګه دی چي وهغه ته ښه ادب ورزده کړي او ورباندي ښه نوم کيږدي په يوبل نبوي ارشاد کي داسي راغلي دي چي هلک اونجلۍ باندي دي عقيقه وسي په اوومه ورځ باندي دي يوحيوان حلال کړل سي هغه به عقيقه سي اودماشوم سرهم بايد وخريل سي يوسړي دعبدالله بن مبارک په وړاندي دخپل زوی زيات شکايت کاوی ده مبارک ورته وويل چي تاخو خپل زوی ته ښيرانه ده کړي هغه ورته وويل چي ولي نه کړي مي ده ده په جواب کي ورته وويل چي دا خودي بالکل هلاک کړی دی اولاد ته ښيراکول دا داولاد دپاره بالکليه هلاکت دی اولادته دي څوک ښرانه کوي .اقرع بن حابس رضی الله عنه يو وخت سيدالبشر ﷺ وليدی چي هغه خپل لمسي پر سر باندي مچ کړ اقرع بن حابس رضی الله عنه ورته وويل چي زمالس بچيان دي تروسه مي يوهم نه دی مچ کړی سيدالبشر ﷺ ورته وويل بيشکه څوک چي رحم نلري ترحم نکوي پرهغه باندي هم ترحم نکيږي.دبي بي عائشه رضی الله عنها څخه روايت دی چي سيد البشر ﷺ يو وخت وماته وويل چي داسامه مخ ور پريمنځه ماپه يو کراهتي حالت سره دهغه مخ پريولل شروع کړل دی مبارک راغی زمالاس باندي يه لاس

کیښود اوداسامه مخ یه پخپله ور پریوتلی بیا یه دهغه وروسته پرمخ باندي مخ کړ. حضرت
حسن﷢ په کوچنیوالي کي دمسجد ته راغی سیدالبشر ﷺ پرممبر باندي ناست وو
سیدالبشر ﷺ دممبر څخه را کښته سو حسن﷢ یه په غیږ کي واخست اودا ایة کریمه یه
ووایه [إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ] حضرت عبدالله بن شداد څخه روایت دی چي
سیدالبشر ﷺ خلکوته لمونځ ورکاوی دسجدي په حالت کي وو اتفاقا امام حسین﷢
راغی دسیدالبشر ﷺ په څټ کي کښینستی ده مبارک سجده اوږده کړه خلکوته دا واهمه
پیداسوه چي یو کار پیښ سوی دی کله چي سیدالبشر ﷺ لمونځ خلاص کړ صحابه کرامو
سوال وکړ چي یارسول الله تاسجده زیاته اوږده کړه موږ په دې فکر کي سوو چي یومشکل
به پیښ سوی وي ده مبارک ورته وویل چي زمالمسی زماپه څټ کي ناست وو ماصبروکړ
چي دی هغه خپل حاجت پوره کړي په دې کي زیاتي فائدي دي یوه همداده چي کله
یوانسان په سجده کي وي وهغه ته دالله ﷻ قرب نزدیکت حاصل وي دا بیان سوی حدیث
دهغو حدیثونو څخه دی چي په دې کي داولادسره ښه سلوک اونرمي کول له همدي حدیث
څخه معلومیږي اوداحدیث دامت دپاره پرتعلیم باندي هم شمولیت لري دسیدالبشر ﷺ
ارشاد مبارک دی چي داولاد خوشبويي دجنت خوشبويي ده. یزید دحضرت معاویه﷢
زوی داسي ویناکوي چي زه خپل پلار واحنف بن قیس ته ولیږلم چي زه دا اطلاع ورکم چي
تا زما پلار غواړي کله چي هغه راغی نوزما پلار ورته وویل چي ای ابوبحره داولا یعني
زامنو لونو په باره باندي ستاکمه اندازه ده څه خیال لري؟ هغه په جواب کي ورته وویل چي
ای امیرالمؤمنینه ! دا زمودبشرتوتي او دزړونو میوې او دملاتیران مودي موږ
یادهغوی دپاره مځکه اواسمان یو د دوی په سبب باندي موږ ویولوړ ځای ته رسیږو که
چیري دوی یو څه وغواړي وریه کړه اوکه چیري دوی خفه وي نو خوشحالي ورسره وکړه
خوشحال یه کړه دهغوی سره داسي سلوک مه کوه چي ته دهغوی دپاره یوزیات دروندبار
اومشکل جوړسي چي دوی ستاپه زندګي اوحیات کي لاداسي تنګ سي چي دیرتنګ سي
ستا دمرګ په تمنابه سي معاویه﷢ چي داحنف بن قیس﷢ بیان واوریدی نویه وویل
چي قسم په الله ﷻ ای احنف بن قیس! کله چي ته راغلي زه پریزید باندي زیات په غصه وم
کله چي احنف ولاړی معاویه﷢ دیزید څخه راضي سو په دې کي یه دوه زره درهمه او دوه
سوه جوړه جامې یه هم ورکړي دهمدي ورکړل سویوجامو اودراهمو څخه نصفه یزید
واحنف بن قیس ته ولیږلي او دده یه شکریه هم اداکړه.

## (۹۰) باب دګاونډیتوب او اسلامي ورور والی بیان

ګاونډیتوب داسلامي ورور ګلوی دلاري څخه زیات حق لري له همدې وجې څخه هر مسلمان دګاونډیتوب څخه ور وهاخواته نورحق هم لري لکه چي سید الانبیاء محمد ﷺ فرمایلي دي چي ګاونډی په دري قسمه دی یعني همسایه دري حقوق لري،(۱) ګاونډی یوحق لري(۲) ګاونډی دوه حقوق لري(۳) ګاونډی دري حقوق لري دهغه ګاونډي همسایه چي دري حقونه دي هغه خپل قریب همسایه دی دهغه یو حق دقرابت بل دهمسایه توب بل حق یه داسلام دی اوهغه ګاونډی همسایه چي دهغه دوه حقونه وي هغه مسلمان همسایه دی دهغه نو یوحق داسلام اوبل دهمسایه توب حق دی اوهغه ګاونډی چي دهغه یوحق دی هغه مشرک ګاونډی همسایه دی چي دهغه داسلام اوقرابت حق نسته خاص هغه دهمسایه توب حق یه دی سیدالبشر ﷺ فرمایلي دي چي تاسو دهمسایه سره ډیرښه سلوک کوئ په دي وخت کي نوبیاته صحیح اوسالم مسلمان بلل کیږي سیدالانبیاء محمد ﷺ فرمایي چي جبرائیل ﷺ به همیشه وماته دهمسایه دحق په باره باندي ډیرې زدیات سره توصیه کوله زه په دي فکر کي سوم چي زرده همسایه به وارث جوړسي سیدالبشر ﷺ فرمایلي دي کوم څوک چي پرالله ﷻ اود اخرت پرورځ باندي ایمان لري هغه دي دخپل همسایه سره زیات اوښه انداز باندي سلوک کوي اوداسي یه هم وفرمایل چي یوبنده ترداسي وخته پوري کامل مسلمان نه سي کیدلای ترڅوچي د ده هغه همسایه دده دشر ارت څخه خلاص نه وي په یوو بل حدیث شریف کي راغلي دي چي دقیامت په ورځ باندي به دوه جنګ کونکي اول وار هغه دوه همسایه ګان وي سید البشر ﷺ داسي هم ویلي دي چي که چیري تا دهمسایه سپی ووا هه ګواکي تاوهغه همسایه ته تاوان اونقصان ورساوی .روایت سوی دی چي یوسړي وحضرت ابن مسعود ﷺ ته دخپل یوو همسایه دلاسه شکایت وکړه او وهغه ته یه وویل چي زمایوهمسایه وماته تکلیف رارسوي بکنځاوي راته کوي زماپرحق باندي تجاوز کوي حضرت ابن مسعود ﷺ ورته وویل چي هغه که ستا په باره باندي دالله ﷻ نافرماني کوي ته ولاړسه دهغه په خاطرباندي دالله ﷻ اطاعت وکړه .

دحضرت فضیل ﷺ څخه روایت ده چي سید البشرمحمد ﷺ ته عرض وکړل سو چي فلانۍ ښځه دشپي عبادت اود ورځي روژه نیسي خو په زیاته اندازه باندي بد اخلاقه ده و خپلوهمنشینانو اوهمسایه ګانو ته په ژبه باندي زیات ضررونه رسوي سید البشر ﷺ وفرمایل چي په هغي کي هیڅ خیرنسته هغه جهنمي ده.یوسړي د سید البشر ﷺ په حضور

کي دخپل همسايه څخه شکايت وکړ چي داهمسايه زماسره ښه سلوک نه کوي سيدالبشر ﷺ ورته وويل چي صبرتر هرڅه ښه ده صبروکړه خوهغه سړی دويم اودريم وار بيا د ده په خدمت کي حاضرسو دهغه همسايه څخه په شکايت باندي وو څلورم وار چي هغه سړی ورته راغی سيدالبشر ﷺ ورته وويل چي خپل سامان دي په لاره کي وغورزوه راوي روايت کوي چي ده هغه خپل سامان په لاره کي وغورزاوی خلک به تيريدل اوراتيريدل له ده څخه به يه سوال وکړ چي داسامان دي ولي په لاره کي غورزولی دی ده په جواب کي ورته ويل چي داهمسايه مي په تکليف کوي تنګه وي مي هغه هرڅوک چي به راتيريدل داخبره به يه کوله چي لعنت دي وي پرداسي همسايه باندي چي بل همسايه تنګوي هغه د ده همسايه چي دا دخلګو خبري اوريدلي نوده ته راغی دايه ورته وويل چي خپل سامان دي کورته يوسه زمادي په الله ﷻ باندي قسم وي له دي څخه وروسته زه ستاسره هيڅ بده معامله اوبده ګذاره نکوم.دزهری ﷺ څخه يوروايت دی چي يوسړی وسيدالبشر ﷺ ته راغی اوشکايت يه دخپل همسايه څخه ورته وکړ چي همسايه مي زيات تنګوي سيدالبشر ﷺ ورته وويل چي دمسجدپه دروازه کي اعلان وکړه.څلويښت کورونه په ګاونديتوب همسايه توب کي سره شرکت لرونکي دي زهري داسي وايي چي څلويښت يوو اوبل طرف ته اوڅلويښت شااومخ طرف ته وتولوطرفونوته يه اشاره وکړه. **نيک فالي اوبدفالي**: دسيدالبشر ﷺ حديث مبارک دی چي په ښځه کوراوپه اس کي نيک فالي اوهم بدفالي وي په ښځه کي نيک فالي داده چي مهريه يوه اندازه لږوي اونکاح يه اسانه وي اخلاق يه برابروي اوبدفالي يه زيات مهر او سخته نکاح اوبداخلاق زشت خويه وي دايه بدفالي ده اودکور برکت بياهم داده چي هغه پراخ وي اوهمسايه ګان يه دهغه حسينو اخلاقو خاوندان وي اودکور بدفالي ياداده چي کورتنګ وي اوهمسايه ګان يه داخلاقو دطرف څخه پاته وي بداخلاق يه وي او داس ښه والی دادی چي هغه دخپل خاوند فرمانبرداروي اوښه عادت ولري بدفالي يه بياداده چي دخپل خاوند اطاعت نه کوي اوهغه خاوند وسپريدلو ته نه پريږدي اوبل مهمه خبره همداده چي دهمسايه ګاوندي حق تنها داهم نه ده چي ضرر نه ورته رسوي بلکه داده چي په يومشکل وخت اوياد غم په حالت کي به ورسره همکاري اوملګرتياکوي اوهغه شيان به هم دده څخه ليري کوي چي هغه وهمسايه ته ضرر رسوي د دي څخه بغير نور حقوق هم همسايه لري ښه اخلاق به ورسره کوي او دخوشنودی خوشحالي هغه کاردي ورته برابرکي چي هغه همسايه ورباندي خوشحاله وي روايت سوی ده چي دقيامت په ورځ باندي يوفقير خپل

هغه دنیادار مالدار همسایه به ترلاس ونیسي والهي حضورته به یه راولي ورته وبه وایي چي ای الله ﷻ ته دده څخه سوال وکړه ده دکوم مطلب دپاره زما څخه هرڅه بند کړي وو اوده خپله دروازه ولي زما پرمخ باندي ترلي اوبنده کړي وه. ابن المقفع رحمه الله ته یو چاوویل چي ستاګاوندی دخپلي قرضداری دوجي څخه خپل سرای خرڅوي په همدي وخت کي ابن المقفع رحمه الله د ده دسرای د دیوال وسایي ته ناست وو کله چي په دهغه چا دخولي څخه داخبره واوریدله دایه وویل چي که بالفرض هغه خپل سرای دغربت اوقرضداری په خاطرباندي خرڅ کي نوګواکي زه دهغوخلکو څخه یم چي دده د دیوال دسایي مي هیڅ احترام ونه کړ ابن المقفع رحمه الله روپۍ ور واستولي داسي یه ورته وویل چي زه اوته همسایه ګان یو خپل کورمه خرڅوه داروپۍ دروا خله. یوداسي شخص وو چي هغه په خپل کورکي دموږکانو دزیادت څخه شکایت وکړ بل یوو ورته وویل چي په کورکي دهمدي موږکانو دورک والي دپاره پیشي وساته هغه یه ورکوي هغه په جواب کي ورته وویل چي زه خوبه پیشو وساتم لکن زمادکور موږکان به دپیشو دوهم څخه وهغه بل کورته ولاړسي هغه زماهمسایه به دغه زما دورغلیو موږکانو څخه په ازارسي زه چي داعمل وکړم نوبه زه دهغو خلکو دجملي څخه شمارکړسم چي هغه دځان دپاره څه نه خوښوي اودبل مسلمان ورور دپاره یه خوښوي .دهمسایه دحقوقو څخه یوحق داهم دی چي دی کله ستاسره ملاقی سي اوته ورته اسلام علیکم ورحمت الله ووایي زیاتي او اوږدي خبري مه ورسره کوه چي هغه باندي دی په ازار کیږي زیات شیان مه ورڅخه غواړه کله چي ستاګاوندی مریض شي پوښتنه یه کوه او دمصیبت په وخت کي چي ستاپه توان اوطاقت کي وي هیڅ هم مه ځني منعه کوه اوکله چي غمجن سي ورته تسلیت بیانوه کله چي هغه مړکیږي ته ورسره پاته سه تسل ورکوه دخوشحالی په وخت کي دي وهغه ته دهغه خوشحالی مبارکي ورکړي دهغه څخه چي کومي تعداوي سوي وي دهغه دي معافي ورته کوي دلوړ چت څخه دي دهمسایه وکورته نه ګوري اوهغه همسایه که چیري تیران دده پربام یاچت باندي بوول هغه دي نه منع کوي دهغه دسرای پرغولي دي ګندګي مرداري نه اچوي دهمسایه دکورلاره دي نه ورته تنګوي هغه چي کورته کوم شی وړي وهغه ته دي نه ګوري دهغه عیبونه دي پټ کړي کله چي هغه دده همسایه په کورکي نه وي دهغه دکور دي داسي خیال وساتي لکه چي دی دخپل کور خیال ساتي دهغه دغیبت څخه دي اجتناب وکړي نه دی اوري اودهغه سره دي زیات دمصیبت په وخت کي کومک اومدد وکړي دهغه داولاد سره

دي په نرمه باندي خبري وكړي دهمسايه داولاد دي په دنيائي اودنيوي امورو كي لاربنوونه وكړي.
سيدالبشر ﷺ وفرمايل تاسو په دي باندي پوهيږی چي دهمسايه حقوق څه دي؟ كله چي هغه ستا څخه كومک وغواړي دمدهغه سره كومک وكړه اوكه هغه ستا څخه قرض وغواړي وهغه ته قرض وركړه كه چيرته هغه غريب نادار سي دهغه سره مرسته وكړه كه هغه مريض سي دهغه پوښتنه وكړه كه هغه مړسي ورسره په جنازه كي شركت وكړه كه خوشحالي ورته ورسيږي مباركي ورته ووايه اوكه په تكليف باندي اخته سي دصبر اوهوسايني تلقين وركړه دهغه ترکور خپل کور مه لوړه وه څكه چي هغه هوا دده دكور څخه بنده نه سي اوكه داكار په اجازه باندي وو بيالاباک نلري كله چي ته وكورته يوه اندازه ميوه راوړي دهغه دكورهم خيال وساته ميوه ورولېږه كه داسي نه سي كولای بيانو داميوه پټه خوره په دوی باندي يه مه وينه دخپلي كټوې په بوی او د ديگ بخار په اواز باندي همسايه ته ضرر مه وررسوه لكن داسي كوه چي يوه اندازه شوربا دهمسايه كره ورليږه دهغه وروسته سيدالبشر ﷺ بياوفرمايل چي تاسو پوهيږی دهمسايه څونه حق دی؟ په الله ﷻ دي زماقسم وي چي دهمسايه حقوق نه سي پوره كيدلای .دمجاهد رحمه الله قول دی چي زه دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما سره ناست وم دهغه يوغلام وو هغه دبزي څخه څرمن ايستله عبدالله رضي الله عنه ورته وويل چي ای غلامه ته چي دبزي څخه څرمن وباسي ترټول وراندي زموږ وهمسايه يهودي ته غوښه وركړه څو واره عبدالله صاحب داخبره ورته مكرره كړه غلام ورته وويل چي نوربه هم يوڅو واره لاتكراركه ده مبارک ورته وفرمايل چي موږ ته به محمد ﷺ هروخت دهمسايه دحقوقو بيانونه كول دهمسايه حق به يه راته بياناوی تر داسي وخته به يه راته بيان كاوی موږ ته به داواهمه اوسودا پيداسوه چي داهمسايه راسره په ميراث كي شريک نه سي. د هشام رضي الله عنه قول دی چي حسن رضي الله عنه داخبره هيڅ بده نه بلله چي دخپلي قرباني غوښه په يهودو انصارا وو باندي وخوري.ابوذر رضي الله عنه وايي چي وماته د دارينو سردار سيدالانبياء محمد ﷺ داسي توصيه كړي ده چي كله ته كټو پخه كړي زياتي اوبه پكي اچوه هغه شوربا پرخپلو همسايه ګانو باندي تقسيمه وه.

## (۹۱) باب دشراب خواره عذابونه

هغه ايتونه چي الله ﷻ دشرابو دحرمت په باره باندي نازل كړيدي دهغوي له جملي څخه هغه اولين ايت كريمه په لاندي دول دی (يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا) ژباړه: ستا څخه دشرابو اوقمار په باره باندي سوال كيږي ته

ورته ووايه چي په دي دوارو کي لويه ګناه ده اوپه ظاهر باندي ورپکښي ګټي دي دهمدي اية کريمه په اوريدلوسره بعضي کسانو دشرابو چښل بندکړل اوبعضي اشخاص لاپه همدي کارباندي بوخت وو ترداسي وخته چي يوشرابي ورووسته دشرابو ترچښلو پرلمانځه باندي ودريدی دهغه شرابي دخولي څخه نامناسب الفاظ ووتل دهمدي څخه ورووسته الله ﷻ دا اية کريمه نازل کړ. (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنتُمْ سُكَارَى) سورة النساء اية نمبر(۴۲) **ژباړه**: ای مومنانو تاسو ولمانځه ته مه نزدي کيږي په داسي حال کي چي تاسو نشه ياست اودنشي په حالت کي ياست دهمدي اية کريمه ترنزول وروسته څه خلکو شراب پريښوول اوبعضو لاشراب چښل ترداسي وخته چي حضرت عمر ﷺ يو وخت شراب وچښل او دأوښ لری يه پورته کړ هغه لری يه دعبدالرحمن بن عوف پرسرباندي وواهه اودهغه سريه ورمات کړ دهغه ورووسته کښينستی دبدر پرمقتولينو باندي يه ژړا شروع کړه زيات يه وژړل بيا چي کله وسيدالبشر ﷺ ته دهمدي خبري خبر اواطلاع ورسيده نو د درد اوغصه په حالت کي دباندي را ووتی څه چي دده په هغه مبارک لاس کي وو په هغه باندي يه حضرت عمر ﷺ وواهی حضرت عمر ﷺ ورته وويل چي زه په دی سره دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ دقهر اوغصي څخه پناه غوارم دهمدي څخه الله ﷻ همدا اية کريمه نازل کړ (إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ) **ژباړه**: يشکه شيطان غواري چي ستاسو تر مابين دشراب اوقمار په وجه باندي بغض اوعداوت پيداکري حضرت عمر ﷺ چي دا اية کريمه واوريدی نويه داسي وويل چي موږ بندسوو موږ بند سوو د شرابو په باره کي متفق عليه حديث هم موجود دی لکه چي سيد البشر ﷺ فرمايي عادي شرابخور به جنت ته نه ځي سيدالبشر ﷺ فرمايلي دي چي د بتانو دعبادت څخه ترمنعه کيدلو ورووسته الله ﷻ ترهرڅه مخته دشرابو دچښلو او په خلکو کي دلعنت ويلو څخه ممانعت راکړی دی سيدالبشر ﷺ فرمايي چي کومه يوه ډله چي په دنياکي پرکوم يونشه کونکي شي باندي سره راجمعه سوي وي الله ﷻ دقيامت په ورځ باندي هغوی په جهنم کي سره راجمعه کوي دوی به په خپل مابين کي يوهغه بل ملامت بولي يوبه و هغه بل ته وايي چي ای فلانی په الله ﷻ دي وتاته دماڅخه زياته اوبتره سزا در کري زه خوتا ودي مقام ته ورسولم يوسړی به وهغه بل ته داسي وائي سيد البشر ﷺ فرمايلي دي چاچي په دنياکی شراب وچښل الله ﷻ په هغه باندي دقيامت په ورځ باندي دمارانو زهرچښي دهغه زهرو ترچښلو مخته به دهغه دمخ غوښه توی سي اوکله چي هغه وچښي

توبه یه دبدن څرمن اوغوښه فی الحال سره جداسي تولبه به توی سي په دي باندي به وشرابیانو ته منزا او تکلیف ورکول کیږي.

**دشراب څواره سره شریکان:** شراب چښونکی اوشراب خرڅونکی او اخستونکی اوهغه شراب جوړونکی اوهغه دشرابو نقلونکی ذیوه محل څخه وبل محل ته دا ټول په ګناه کي سره مساوي اویو حال دي الله ﷻ د دوی لمنځونه. روژې، حجونه هیڅ عبادت یه نه قبلوي ترڅو چي دوی توبه ګارنه سي که چیري دوی دتوبي څخه بغیر مړه سول الله ﷻ دوی ته د دشرابو دهرغوړپ په بدله کي دجهنم تکلیف ورکوي تاسو یاد ولرئ چي هره نشه حرامه اوهرقسم شراب حرام دی دابن ابی الدنیا رحمه الله څخه نقل سوي دي چي زما دیوداسي شخص سره ملاقات وسو چي هغه په نشه کي مست وو ترداسي حده نشه وو چي پرخپلو لاسونو باندي به یه متیازي کولي ده به داودس کونکي په رقم باندي په خپلو متیازو باندي لاسونه پریولل داسي الفاظ به یه ویل چي (الحمدلله الذي جعل الاسلام نورا والماء طهورا) ژباړه: دهغه ذات اقدس دپاره ثناء ده چي اسلام یه نورګرزولی دی اواوبه یه پاکي ګرزولي دي په هغه زمانه او عصر دجاهلیت کي عباس بن مرداس ته وویل سول چي ته ولې شراب نه چښې په دي سره به ستاعقل تیزسي هغه جواب ورکړ چي زه په خپلو لاسونو باندي جهالت وخپل نس ته نسم اچولای اونه داخوښوم چي سهار دخپل قوم په مخ کي دسردارپه توګه باندي زندګي وکړم او مابښام ته دکم عقل په توګه باندي مشهورسم بیهقي دحضرت عمر رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چي محمد ﷺ وفرمایل دشرابو څخه ځان وګورئ ستاسو څخه مخته یو عابد شخص وو چي دی به دخلقو څخه تنها اوسیدی په دي وخت کي یوي ښځي وغوښتل چي هغه ګمراه کړئ خپل یو خادم یه وهغه ته ورولیږی هغه یه وځان ته راوغوښتی هغه ته یه وویل چي موږ تادیوشاهدی دپاره غواړو عابد دهغي کره ورغلی دهري دروازې څخه چي به دی دننه کیدی هغه دروازه به یوي ښځي بندوله تردي پوري چي د ښځو وهغه مجموعي ته ورسیدی دهمدغي بد کرداري ښځي سره یو هلک اویودشرابو لوښی ورسره وو هغي ورته وویل چي ماته دشاهدي دپاره نه یي راغوښتی بلکه ته ما دهمدي کار دپاره راغوښتی یي چي دا هلک مړکړي او زماسره جماع وکړي که ته دا دواړه کارونه نه سي کولای نو بیا دا دشرابو جام نوش کړه که چیري ته انکار وکړي زه به ناري کړم شوربه جوړکم تابه رسوا کړم عابد مجبورسو وشراب چښلو ته یه غاړه کیښوده عابد چي کله یوه پیاله دشرابو نوش کړه بله یه هم راطلب کړه په همدي ترتیب باندي یه څوپیالي شراب نوش کړل ترداسي وخته پوري چي سخت نشه سو اودښځي سره یه زناوکړه اوهغه

ملک یه هم په قتل باندي ورساوی نوله همدي وجي څخه تاسو دشرابو حخه ځان وګوری عقل اونقل دواړه پردي باندي دي چي دهمیش دپاره دشرابو چنبل اوایمان دا دواړه په یوو محل کي ممکن نه دي نه سره یوځای کیږي لازمي داده چي تاسو دشراب خوړلوڅخه ځان وګوری.

**هاروت اوماروت اودهغوی حکایت** احمد اوحبان په خپلوصحیحینوکي دحضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت کوي هغه وایي چي ماد سید البشر ﷺ څخه اوریدلي دي چي کله ادم ابوالبشر ﷺ ومځکي ته راکښته سو ملائکه وو وویل چي ای الله ﷻ ته داسي څوک په مځکه کي دخلیفه په ډوګه باندي انتخابوي چي هغه فساد کوي او وینې تویه وي اوموږ ستا حمد اوتسبیحات وایو اوستا پاکي بیانوو نوداممعلومه ده چي موږ دهمدي رتبي ومنصب په اوله درجه سره قابلیت لرو الله ﷻ ورته په جواب کي داسي وویل چي په دي کي شک نسته چي زه په دي باندي پوهیږم په هغه څه چي زه پوهیږم تاسو په هغه باندي علم نلری هغوی عرض ورته وکړچي یاالله ﷻ موږ په عبادت کي تربنې ادم ستازیات عبادت کوو الله ﷻ ورته وفرمایل چي ستاسو دجملي څخه دی دوې ملائکه وې راسي موږ به داخبره معلومه کړو چي څنګه عبادت کوی دوی عرض وکړ چي هاروت اوماروت دواړه حاضردي الله ﷻ هغه دواړه مځکي ته ولیږل اوهغه زهره ستوری الله ﷻ دهغوی په مځکي دیوي ښائسته ښځي په شکل باندي برابرکړ دهغې په رقم باندي حاضرشو دوی دواړو دهغې سره دملګرتیامطالبه وکړه لکن هغې ورڅخه انکار وکړ داسي یه وویل چي په الله ﷻ باندي قسم زه ترهغه وخته ستاسو سره ملګرتیانه کوم ترڅوچي تاسو دشرک کلمه نه وي ویلي دوی ورته وویل چي په هغه رب باندي قسم دی چي موږ تروُسه هم په الله ﷻ پوري شریک نه ده نیولی په دي سره هیڅ قول نه سوکولای الله ﷻ هیڅ شریک نلري واحدلایزال ذات دی په دي وخت کي هغه ښځه د دوی دطرف څخه روانه سوه دهغه ځای څخه ولاړه خوچي دویم وار ددوی وخواته راغله یوماشوم هم ورسره وو هغه یه په غیږکي وو دوی دهغې ښځي څخه بیاسوال وکړ هغې په جواب هم هغه رقم الفاظ ورته وویل چي تاسو داماشوم نه وي وژلی زه هیڅکله ستاسو سره نه یوځای کیږم دوی ورته وویل چي په الله ﷻ باندي قسم کوو چي موږ داکارهیڅ هم نه سوکولای بیاهغه ښائسته ښځه دشرابو دیوي پیالي سره ورته راغله هغوی په هغه ذکرسوي طورباندي بیامطالبه ځني وکړه هغې ورته په جواب کي وویل چي زه ستاسو داخبره ترهغه وخته نه سم منلای څوچي تاسوداشراب نه وي چښلي هغوی داخبره ومنله هغه شراب یه وچښل بیایه دنشې

په حالت کې دهغې ښاښتې ښځې سره زناهم وکړه دهغه وروسته يه هغه ماشوم هم قتل کړ
د دوی چې کله هغه شرابي نشه ختمه سوه هغې ښځې ورته وويل چې تاسو خوهغه ټول
کړونه وکړل کوم چې هغه ماستاسو څخه مطالبه درلوده اوحال داوو چې په اول کې تاسو
نه همدي څخه انکارکړی وو دهغه وروسته چې دوی داجنايات وکړل نو دوی ته دا اختيار
ورکړل سو چې تاسو په دنيااوکه دهمدي جنايت سزاپه اخرت کې غواړی دوی دواړه
دنيائي عذاب مختاراوخوښ کړ حضرت ام سلمه رضي الله عنها وايي چې زمالورناجوړه وه نو ماپه
پياله کې ورته نبيذ جوړکړل سيدالبشر ﷺ چې کله راغی اوهغه دنبيذو جوش يه وليدی
سيدالبشر ﷺ سوال وکړ چې داڅه شی دي ماپه جواب کې ورته وويل چې دا خوزمالور
مريضه ده دهغې دپاره دوا جوړوم سيدالبشر ﷺ راته وفرمايل چې الله ﷻ په حرامو
شيانو کې زما دامت دپاره شفانه ده ايښې اوداسي يوروايت هم راغلی دی چې کله الله ﷻ
شراب حرام کړل په هغوی کې چې کوم فائدې وې هغه يه هم بالکليه څنې ليرې کړې وُس
هغه قديمه شفاء هيڅ هم په شرابو کې نسته.

## (۹۲) باب دمعراج شريف بيان

بخاري دقتاده څخه اوقتاده دانس بن مالک ؓ څخه اوهغه دمالک بن صعصه څخه
روايت کړی دی چې سيدالبشر ﷺ وهغه ته دمعراج دشپې واقعه بيان کړه داسې يه ورته
وويل چې زه په حطيم کې وم اودايه هم ورته وويل چې زه په حجره کې پروت وم اوزما
وطرف ته يوڅوک راغی هغه دخپل ځان سره څه وويل هغه ما واوريدلي له همدي ځايه
ترهغه ځايه راوي داسې وايي چې ماد جارود رحمه الله څخه سوال وکړ چې له دي ځايه ترهغه
ځايه مطلب څه دی اوله دي څخه څه شی مراد دی؟ هغه راته وويل چې دحلقوم څخه
بياترنامه پورې بيادوی زمازړه واستی اوپه دي وخت کې يه دسرو زرو لګن راوړ چې هغه
دايمان څخه ډک وو دهغه وروسته يه زمازړه پريولی دهغه څخه وروسته يه دايمان اويقين
څخه ډک کړ بيرته يه په سينه کې راکښېښووی په دي وخت کې يه يوسپين حيوان راته
راوستی چې هغه ترخره غټ اوتر غاتر کوچنی وو جارود دحضرت انس ؓ څخه سوال
وکړ چې ای ابوالحمزه ايابراق وو؟ انس ؓ په جواب کې ورته وويل هغه پ خپل قدم
دسترګو دنظرپه هغه اخري اندازه باندي ښووی زه پرهغه باندي کښېنستم جبرائيل عليه السلام
روان کړم ترداسي وخته چې ددنياواسمان ته ورسيدوجبرائيل عليه السلام دهغه دروازه ور
وټکوله له ده څخه سوال وسو چې ته څوک يې؟ ده په جواب کې ورته وويل چې زه جبرائيل
يم بياسوال څنې وسو چې ستاسره بل څوک دی؟ ده په جواب کې ورته وويل چې زماسره

محمد ﷺ دی بیایه پوښتنه څني وکړه چي هغه غوښتل سوی دی؟جبرائیل ؑ ورته
وویل چي هو هغه غوښتل سوی دی بیایه ورته وویل چي مرحباپه خیرراغلی دهغه راتګ
دي مبارک سه دروازه خلاصه سوه زه چي کله داخل سوم ومي کتل هلته ادم ؑ موجود وو
په دي وخت کي جبرائیل ؑ راته وویل چي داستاپلار ادم ؑ دی سلام ورته وکړه
نوځکه ماسلام ورته وکړ هغه ادم ؑ دسلام جواب راکړ اوراته ویه ویل صالح زوی
اوصالح نبي ته دي ښه راغلی وي مرحبابیا جبرائیل ؑ زماسره لوړ ولاړی د دویم اسمان
دروازې ته ورسیدلو جبرائیل ؑ هغه دروازه ورووټکوله ده څخه سوال وسو چي څوک
یي؟ ده په جواب کي ورته وویل چي جبرائیل ؑ یم پوښتنه څني وسوه چي ستاسره څوک
دی ده ورته وویل چي زماسره محمد ﷺ دی بیاپوښتنه وسوه چي دی راطلب سوی دي؟
جبرائیل ؑ ورته وویل چي هودی راغوښتل سوی دی دروازه راخلاصه سه مرحبا اوښه
راغلاست راته وویل سول مبارکي یه راکړه زه چي داخل سوم هلته مي عیسی ؑ ولیدی
اویحیی ؑ هم هلته وو دوی دواړه یودبل سره دخالازامن دي جبرائیل ؑ راته وویل
چي داعیسی ؑ او یحیی ؑ دي دوي دواړو باندي سلام واچوه ماورباندي سلام
واچوی هغوی زمادسلام جواب وکړ اودایه راته وویل چي صالح وروراو وصالح نبي ته
دي ښه راغلی وي دهغه وروسته جبرائیل امین زه ودریم اسمان ته بوتلم دهغه دریم اسمان
دروازه یه ور وټکوله دهغه طرف څخه داسوال وسو چي څوک یي؟ ده مبارک ورته وویل
چي زه جبرائیل یم بیاپوښتنه وسوه چي ستاسره څوک دی؟ دده ورته وویل چي زماسره
محمد ﷺ دی بیاپوښتنه وسوه چي هغه راغوښتل سوی دی؟ ده په جواب کي ورته وویل
چي هو هغه راطلب سوی دی په دي وخت کي دروازه راته خلاصه سوه مرحبااوښه راغلی
یه راته وویل مبارکي یه راکړه زه چي داخل سوم په دي دریم اسمان کي یوسف ؑ وو
جبرائیل ؑ راته وویل چي دا یوسف ؑ دی سلام ورباندي ووایه ماپرهغه باندي سلام
واچاوی هغه زما دسلام جواب راکړ اودایه راته وویل چي صالح نبي او صالح وروورته دي
ښه راغلاست وي دهغه و روسته زه جبرائیل ؑ وهغه بالاڅلورم اسمان ته بوتلم دهغه
اسمان دروازه یه وروټکوله دهغي خواڅخه ورته وویل سوو چي څوک یي؟ ده په جواب
کي ورته وویل چي زه جبرائیل یم بیاسوال وسو چي ستاسره څوک دی؟ ده ورته وویلو چي
زماسره محمد ﷺ دی بیاورته وویل سوو چي دی راغوښتل سوی دی؟ ده مبارک ورته
وویل چي هو دی راغوښتل سوی دي دهغه وروسته دروازه راخلاصه سوه مرحبااوښه
راغلی راته وویل سوو دورتللو مبارکي راکړل سوه زه چي داخل سوم هلته مي ولیدل چي

ادریس ﷺ ناست وو جبرائیل ﷺ راته وویل چي دا ادریس ﷺ دی سلام وربانديِ واچوه ما وهغه ته سلام ور واچاوی هغه زما دسلام جواب راکړ اوراته ویه ویل چي صالح نبي اوصالح وروو ته دي هرکلی اوښه راغلی وي دهغه وروسته زه جبرائیل ﷺ وشپږم اسمان ته پورته کړم دهغه اسمان دروازه یه وروټکوله دهغي خوا څخه ورته وویل سوو چي څوک یي؟ ده په جواب کي ورته وویل چي زه جبرائیل یم دهغه وروسته دملګري سوال څني وسو ده ورته وویل چي زماسره ملګری محمد ﷺ دی بیاورته وویل سوو چي هغه راغوښتل سوی دی؟ ده په جواب کي ورته وویل چي هوهغه راغوښتل سوی دی په دي وخت کي هغه دروازه راته خلاصه سوه اودهغه ورتګ مبارکي راکړل سوه ښه راغلی اوهرکلی یه راته وایه زه چي داخل سوم په دي اسمان کي مي موسی ﷺ ولیدی جبرائیل ﷺ راته وویل چي داموسی ﷺ دی دي ته سلام ور واچوه ماوهغه ته سلام ور واچاوی هغه زما دسلام جواب راکړ اودایه راته وویل چي ښه راغلی دي وي وصالح ورور او وصالح نبي ته موږ چي کله دموسی ﷺ څخه روانیدلو له همدي ځای څخه تللو ده وژړل په ژړا سو له ده مبارک څخه پوښتنه وسوه چي ستا دژړا سبب څه دی ولي ژاړي؟ ده په جواب کي وویل چي پردي باندي ژاړم چي زماڅخه وروسته یو ځوان مبعوث اونبي سوی دی د ده امتیان به زماتردي زیات وجنت ته ځي یاجبرائیل امین زه و اووم اسمان ته بوتلم هلته هم داسي سوال اوجواب وسو خوچي کله هغه دروازه خلاصه سوه زه داخل سوم هلته می ابراهیم ﷺ ولیدی جبرائیل ﷺ راته وویل چي داستاپلار ابراهیم ﷺ دی سلام ور واچوه ماوهغه ته سلام ور واچاوی هغه زما دسلام جواب راکي اوراته ویه ویل چي صالح نبي او صالح زوی ته دي ښه راغلاست اوهرکلی وي۔

## صدرة المنتهی

دهغه وروسته جبرائیل ﷺ زه وصدرة المنتهی ته بوتلم هلته په صدرة المنتهی کي یو ځای وو چي هغه دهجر په نامه باندي وو دهغه ځای داسي میوي وي چي حجم یه دمنګیانو په رقم باندي وو هلته څلور ویالي وي دوې ښکاره اودوې پټې وې ما دجبرائیل ﷺ څخه سوال وکړ چي دا څنګه څلور ویالي دي ده په جواب کي راته وویل چي هغه پټې دوې ویالي دجنت ویالي دي او هغه ښکاره دوې چي دي هغه فرات اونیل دي بیادهغه وروسته بیت المعمور راته ښکاره سو چي هره ورځ وریکي اویازره ملائکه وي داخلیږي یا وماته یودشرابو اوبل دشیدو لوښی راکړل سو ماپه هغو دوو کي شیدي مختاره کړي جبرائیل ﷺ راته وویل چي دا فطرت دی ته اوستا امت به وربانديِ قائم وُسی له دي څخه

وروسته روزانه پرمابانديپنځوست لمنځونه فرض کړل سوو زه چې دهغه حکم څخه را
روان سوم حکم څو دپنځوستو لمنځو وسو په دي لاره کي مي موسی ﷺ وليدی هغه راته
وويل چي وتاته کوم حکم وسو ماورته وويل چي وماته دپنځوستو لمنځو حکم
وسوموسی ﷺ راته وويل چي ستامت روزانه پنځوست لمنځونه نسي کولای ماترتا
مخته امتيان ازمايلي دي اوما دبني اسرائيلوسره پردي باندي زيات روش کړی دی ته
بيرته وخپل رب ﷻ ته ورسه او دخپل امت دپاره يوه اندازه تخفيف وغواړه زه بيرته ولاړم
خوپه دوه واره تللو کي راته لس (۱۰) لمنځونه معاف سول بياموسی ﷺ ته راغلم هغه ته
مي وويل هغه راته وويل چي داکار ستا پرامت باندي دروندده دخپل رب ﷻ څخه نور
سهولت وغواړه بياولاړم بيالس لمنځونه راته معاف سول څوچي هرڅو واره ولاړم لمنځونه
معافيدل ترڅو چي پرپنځه لمنځونوباندي ودريدل زه چي کله موسی ﷺ ته راغلم هغه
مبارک راته وويل چي وتاته مکوم حکم سوی دي ماورته وويل چي ماته دپنځولمنځونو
حکم سوی دی موسی ﷺ بياراته وويل چي ولاړسه دخپل رب ﷻ څخه نورتخفيف هم
وغواړه ستاامتيان په شبانروز کي پنځه لمنځونه نسي کولای نورسهولت وغواړه
سيدالبشر ﷺ فرمايي چي ما موسی ﷺ ته وويل چي ماڅو څو واره دخپل رب ﷻ څخه
دتخفيف اوسهولت مطالبه وکړه نور ماته شرم راځي له دي وجي زه دالله ﷻ په حکم باندي
راضي يم اوهم مي دغه الهي حکم قبول دی سيدالبشر ﷺ فرمايي چي کله زه روان سوم يو
اواز راته وسو چي ماخپل حکم جاري کړ پرخپلو بندګانو باندي مي سهولت وکړ.

## (۹۳) باب دجمعي دورځي بيان اودهغي فضيلت

دامعلومه سوي ده چي دجمعي ورځ يوه لويه اوعظيمه باشرفه ورځ ده الله ﷻ په دي سره
واسلام ته عظمت اوقدر ورکړی دی اودا ورځ يې دااسلام دپاره خاصه کړي ده په دي کي
دالله ﷻ فرمان دی چي ﴿إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ﴾ ژباړه:
کله چي دجمعي مبارکي ورځ دلمانځه دپاره اذان وکړل سي په دي وخت کي دالله ﷻ د ذکر
پرطرف باندي روان سئ هغه بيع اوشرا اخستل اورانيول پرېږدی دهمدي اية کريمه څخه
معلومه سوه چي الله ﷻ دجمعي دلمانځه پروخت باندي دنيايي کارونه حرام بللي دي
اوهرهغه کار چي دجمعي دلمانځه دپاره مانع کيږي هغه ممنوع دی.دسيدالانبياء ﷺ
څخه يو روايت سوی دی چي الله ﷻ پر تاسو باندي زما په امت کي په همدي ورځ باندي
پرتاسو باندي دجمعي لمونځ فرض کړی دی په يوبل روايت کي راغلي دي چي که يوڅوک
بغير ديوه عذر څخه دجمعي دورځي دري لمنځونه پرېږدي الله ﷻ دهغه شخص پرزړه

باندي مهرلګوي او يوروايت په داسي الفاظوباندی مشتمل دی چي هغه شخص واسلام ته شا ور وګرزوله .يوسړی څو واره دحضرت ابن عباس ﷺ پرطرف باندي راغی دیوه داسي شخص په باره باندی په سوال ځني وکړ چي هغه وفات سوی وو هغه داسي شخص وو چي دجمعي په لمانځه اوداسي نوررولمنځونو کی په شرکت نه کاوی دی سړي ته ابن عباس ﷺ وويل چي هغه په جهنم کي دی هغه شخص مکمل يوه مياشت همداسوال کاوی دوه مبارک به وهغه ته دا جواب ورکاوی چي هغه په جهنم کي دی په يوه حديث مبارک کي راغلی دي چي واهل کتابوته دجمعي مبارکی ورځ ورکړل سوي وه لکن هغوی په دي باره باندي اختلاف وکړ له همدي وجي څخه له هغوی څخه دا ورځ بيرته واخستل سوه دهغه وروسته الله ﷻ موږ ته دهمدي ورځي هدايت وکړ دايه موږ ته رامعرفي کړه او دا ورځ يه دهمدي امت دپاره مؤخره کړه اود ايه ورته داخترورځ وګرزوله له همدي وجي څخه داخلک ترټولو خلګو وړاندی والی اوسبقت لرونکي دي او اهل کتا ب د دوی تابعين دي.دحضرت انس ﷺ څخه روايت سوی دی چي سيدالبشر ﷺ وفرمايل چي يو وخت زما وطرف ته جبرائيل ﷺ راغی دهغه سره سپينه هنداره وه وماته يه وويل چي دا جمعه ده الله ﷻ يه پرتاباندي فرضه وي ترهغه وخته چي ستا اپياستا دراتلونکو خلګو دپاره اخترسي ما دجبرائيل ﷺ څخه سوال وکړ چي په دي کي څه برکت سته؟ جبرائيل ﷺ راته وويل چي په دي ورځ کي يو بهترين ساعت سته چي هرشخص په دي ساعت کي يو نيک حاجت والله ﷻ ته پيش کړي که هغه شی دهغه په مقدر کي وي هغه الله ﷻ ورته ورکوي اوکه دهغه په مقدر کي هغه شی نه وي نو الله ﷻ ترهغه ښه شی ورته ذخيره کوي اوياڅوک چي په دی ورځ کي ديومصيبت څخه امان اوپناه وغواړي چي دهغه مقدر ګرزيدلی وي نو الله ﷻ تردي يوبل لوی مصيبت د ده څخه منعه کوي اوبل دا ورځ دټولو ورځو سرداره هم ده اوموږ په اخرت کي يوه بله ورځ هم غواړو ماورته وويل چي هغه ولي؟ جبرائيل ﷺ راته وويل چي ستاپه جنت کي يوه داسي شيله جوړه سوي ده چي هغه سپينه ده او هغه دمشکو بوی لري اوکله چي دجمعي مبارکی ورځ راسي الله ﷻ دعليين څخه پرکرسي باندی جلال فرمايي تردي چي ټول دهغه په هغه بلاکيف ديدار باندي مشرف سي سيدالبشر ﷺ فرمايلي دي چي ترټولو ښه ورځ چي په هغي کي لمر راخيږي هغه ورځ دجمعي مبارکي ده په همدي ورځ باندی ادم ﷺ پيدا سوی دی په دي ورځ باندی جنت ته داخل سوی دی په دي ورځ باندي دجنت څخه خارج سوی دی په همدي ورځ باندی دهغه توبه قبوله سوي ده په همدي ورځ باندي وفات سوی دی په همدي ورځ باندي به دقيامت

قیام هم وي او دهغې نوم دالله ﷻ په نزد باندي یوم المزید دی داسمان په ملائکه ور کی دهمدي ورځې نوم همداده اوهمدا په جنت کي دالله ﷻ د دیدار ورځ هم ده دجمعې مبارکې په ورځ باندي دجهنم څخه ازادي هم پیداکیږي په یوه حدیث مبارک کي راغلي دي چي الله ﷻ دهري جمعي په ورځ باندی شپږلکه انسانان دجهنم څخه ازاده وي دحضرت انس ؓ څخه روایت دی چي سیدالبشر ﷺ وفرمایل چي کله تاجمعه مبارکه سالمه کړه نو ګواکي تاتولې ورځې سالمې کړي سیدالبشر ﷺ وفرمایل چي جهنم هره ورځ دغرمي په وخت کي ګرمیږي له همدي وجي څخه په دي وخت کي لمونځ هم مکروه دی لکن دجمعي مبارکي په ورځ باندي داقیدنسته ځکه چي دجمعي ورځ ټوله لمونځ لمونځ دی اوپه دي ورځ کي جهنم هم نه ګرمیږي دحضرت کعب ؓ څخه روایت دی چي الله ﷻ ومکي مکرمي ته پرټولو ښارونو باندي فضیلت اوبهتري ورکړي ده اوپه شپوکي یه په ټولو کي ولیلة القدر ته فضیلت ورکړی دی اوپه ورځو کي یه ترټولو وجمعي مبارکي ته فضیلت ورکړی دی داسي روایت سوی دی چي دجمعي مبارکي په ورځ باندي دمځکي حشرات مرغان ټول یودبل سره ملاقات کوي اوداسي وایي چي په دي ورځ کي سلامتیاوي سیدالبشر ﷺ فرمایلي دي چي هرڅوک دجمعي په ورځ اویادجمعي په شپه باندي وفات سي الله ﷻ وهغه شخص ته دسلوشهیدانو ثواب او اجر ورکوي اوهغه دعالم برزخ قبر دعذاب څخه یه ساتي حفاظت ورکوي.

## (۹۴)باب پر خاوند باندي دښځي حقوق اودهغوی بیان

پرخاوندباندي دښځي حقوق زیات دي دهغوی څخه یوحق داهم دی چي خاوندبه دخپلي ښځي سره ښه رویه اوښه سلو ک کوي هغه کمزوري ده په هغه وجه باندي به ورسره دمهرباني سلوک کوي دهغې غم اوتکلیف به لیري کي الله ﷻ دهغې حقوق داسي یو عظیم امربللی دی هغه الله ﷻ فرمایي (وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا) ژباړه: او کله چي مونږ ستاسو څخه سخت میثاق یعني وعده واخستله سیدالانبیاء ﷺ دمرګ په حالت کي توصیه وکړه چي تاسو دکومو ښځو مالکان سوي یاست هغوی ته تاسو تکلیف مه ورکوئ دښځو په باره باندي دالله ﷻ څخه ویریږئ وهم وکړئ هغه ستاسو په لاسونو کي قیدیانې بندي دي یعني داسي قیدپاته دي چي تاسوهغوی دالله ﷻ دامانت په توګه باندي اخستي دي اودالله ﷻ په امر اوحکم سره هغه ستاسو دپاره حلالې سوي دي.

سیدالبشر ﷺ فرمایلي دي چي هرڅوک چي دخپلي ښځي په هغه بدوخویونوباندي والله ﷻ ته صبروکړي الله ﷻ وهغه ته دحضرت ایوب ؑ دصبرسره برابر اجر اوثواب

ورکوي او هغه ښځي چي د خاوند پر بد خويي باندي والله ﷻ ته صبر وکړي الله ﷻ هغوی ته د فرعون د ښځي بي بي اسيې رضي الله عنها د صبر په رقم باندي اجر او ثواب ورکوي د خپلي ښځي سره ښه سلوک او ښه رويه دا نه ده چي د هغي څخه تکليف ليري کړي بلکه د هغي څخه د هر هغه شي ليري کول دي چي هغي ته به د تکليف د رسيدلو امکان وي د ښځي سره د سلوک په مسئله کي بايد د نبي ﷺ ټول کردار او عمل په نظر کي ونيسي او د سيد البشر ﷺ د دستور مطابق د ښځو سره خپلي زندګۍ ته ادامه ورکوي.

په يو وخت کي د حضرت عمر رضي الله عنه ښځي د هغه سره خبره ونه منله عمر رضي الله عنه ورته وويل چي ی مينځي ته زما په مخکي دلائل وايي او ژبه ښوروي؟ هغي په جواب کي ورته وويل چي ياته د سيد البشر ﷺ ښځو ته نه ګوري چي هغوی هم د سيد الانبياء محمد ﷺ سره تکرار ودليل وائي حال دا ده چي هغه تر تا زيات لوړ او د عالي منزلت خاوند دی حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل چي حفصه رضي الله عنها تباه او د هلاکت کندي ته ورشيوه سوه که هغي د سيد البشر ﷺ خبره نه ومنله د هغه وروسته دی وحفصي رضي الله عنها ته راغلی داسي يې ورته وويل چي د حضرت ابوبکر رضي الله عنه دلور سره په سيالي باندي کار مکوه دليل هم داده چي هغه د سيد البشر ﷺ زياته محبوبه ده او د سيد البشر ﷺ د خبري د نه منلو څخه په زياته ويرو له نصيحتونه يې ورته وکول يو وخت د بي بي عائشه رضي الله عنها او د سيد البشر ﷺ تر مابين يوه اندازه خبره وسوه تر داسي چي ابوبکر رضي الله عنه راغی او هغه يې په مابين کي ثالث کړ سيد البشر ﷺ وعائشي رضي الله عنها ته وويل چي اول خبره ته ودي صديق اکبر رضي الله عنه ته کوي که يې زه ورته وکړم؟ هغي مبارکي ورته وويل چي اول خبره ته ورته وکړه خو دا درته وايم چي صحيح او حقه خبره ورته وکړه ابوبکر صديق رضي الله عنه چي د عائشي رضي الله عنها دا خبره واوريدله چي دا وسيد البشر ﷺ ته داسي خبره کوي د ډير قهر او غصه څخه يې عائشه رضي الله عنها يوه داسي چاپلاخه ووهله چي د هغي مبارکي ترخوله ويني رواني سوي او دا يې هم ورته وويل چي ای د خپل ځان دښمني ای سيد البشر ﷺ ناحقه او نالائقه خبره کوي؟ عائشي رضي الله عنها د سيد البشر ﷺ تر شا خپل ځان د پلار څخه پټ کړ خلاصه سوه سيد البشر ﷺ وحضرت صديق رضي الله عنه ته وويل چي ته خو زموږ ثالث وي لکن داسي ثالث هم نه وي چي ته داسي کردار اداکړي سيد البشر ﷺ و عائشي رضي الله عنها ته وويل چه زه ستا خوشحالي او هغه طبيعت خرابي پيژنم عائشي رضي الله عنها عرض وکړ چي هغه څنګه؟ سيد البشر ﷺ و رته وويل چي هغه داسي ده چي کله ته زما څخه ناراضه يې په هغه وخت کي ته داسي وايې چي په رب د ابراهيم عليه السلام مي دي قسم وي او چې کله زما څخه خوشحاله يې بيا داسي وايې چي په رب د محمد ﷺ مي دي قسم وي هغه

مبارکي ورته وويل چي اى دالله ﷺ حقانه رسوله ته بالکل په دي کي صادق يي لکن هغه زه فقط ستانوم نه واخلم روايت سوى دى چي په اسلام کي اولينه مينه دسيدالبشرمحمد ﷺ اودبي بي عائشي رضي الله عنها وه سيدالبشر ﷺ به وعائشي رضي الله عنها ته فرمايل چي زه ستا دپاره داسي يم لکه ابوذرعه دام زرعي دپاره لکن زه تاته طلاق نه درکوم سيدالبشر ﷺ وخپلو ښځوته داهم وفرمايل چي وماته دعائشي رضي الله عنها په باره باندي دتکليف اوزحمت خبري مه کوئ په رب العلمين ﷺ باندي قسم چي پرماباندي دهغي دبستري څخه بغير په نورو کي وحي نه نازليږي.

حضرت انس رضي الله عنه روايت کوي چي سيدالبشر ﷺ پرښځو اوماشومانو باندي زيات مهربان اورحم کونکى وو سيدالبشر ﷺ به دخپلو ښځوسره زياتي ټوقي اومسخري هم کولي ښه تفريح يه ورسره کوله ترداسي اندازي چي سيدالبشر ﷺ دعائشي رضي الله عنها سره منډي (تاخته) هم کړي ده مقابله به يه سره کوله کله به سيدالبشر ﷺ مخته وو اوکله به عائشه رضي الله عنها مخته وه اودابه يه فرمايل چي دا دهغه ورځي بدله ده په يو حديث پاک کي راځي چي سيدالبشر ﷺ به ترټولو خلکو زيات دخپلو ښځو امهات المؤمنينوسره ټوقي اوټقالي مسخري کولي بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي چي مايو وخت دحبشو اونورو خلکو اوازونه واوريدل دوى دعاشورا په ورځ باندي لوبي کولي سيدالبشر ﷺ ماته وويل چي اى عائشي رضي الله عنها اياته دهغوى دلوبو اوبازيو ليدل غواړي؟ ماپه جواب کي ورته وويل چي هو سيدالبشر ﷺ هغوى ته يوشخص واستاوى کله چي هغوى راغلل حاضرسول سيدالبشر ﷺ د دوو دروازو ترمابين ودريدى خپل مبارک لاس يه پردروازه باندي کښينوول ماخپله زنه دسيدالبشر ﷺ پرلاسونوباندي کښينووله دهغوى دلوبو سيل مي وکړ سيدالبشر ﷺ به ماته داسي ويل چي بس ده ماورته ويل چي لږصبرلاوکړه ده مبارک درې څلور واره زماڅخه داسوال وکړ چي عائشي نوربس ده مابه ورته ويل چي ته څه صبرلاوکړه بيايه راته وويل چي عائشي رضي الله عنها نوربس کړه ماورته وويل چي صحيح ده سيدالبشر ﷺ فرمايلي دي په سړو کى هغه څوک دکامل ايمان خاوندى چي دهغه اخلاق ښه وي اوپرخپلو ښځوباندى زيات مهربان وي دسيدالبشر ﷺ ارشادمبارک دى چي په تاسوکي هغه شخص بهتردى چي هغه دخپلو ښځوسره ښه سلوک کونکى وي اوزه دخپلو ښځوسره ترتاسوزيات يم په ښه ګذاره کي.

حضرت عمر ﷺ فرمايلي دي چي دزياتي غصي اوقهر په حالت کي هم بايدسي سړی د خپلي کوروالاسره داسي وي لکه دکوچني سره چي هغه څه وغواړي دکوچني په رقم باندی دي د دي هغه خواهش پوره کړل سي .

دلقمان حکيم ويناده چي هوښيار شخص ته پکارده چي دی دخپلي کورنۍ او أوسيدونکو سره دکوچنيانو په رقم باندي سلوک اوگذاره وکړي اود هغه دباندي خلگوسره يا دځوانانو په رقم باندي وي سيدالبشر ﷺ يو وخت وجابر ﷺ ته وفرمايل چي تانکاح دچاسره کړي ده هغه ورته وويل چي مادثيبي سره نکاح کړي ده ده مبارک ورته وويل چي تابه نکاح دبکري سره کوله هغي به ستاسره لوبي اوبازی کولای تابه دهغي سر ه خاوندته داهم په کاردی چي په خپل اخلاق اونرمي کي داسي مخته حرکت ونکړي چي بيادښځي هغه اخلاقي حالت خراب سي اودهغي دزړه څخه دخاوندهيبت او هغه دده واهمه د دی دزړه څخه ووزي بلکي دی دي دخپلي کوروالاسره داسي معتدل حالت باندي گذاره کوي هيبت اوپردي باندي يوه اندازه واهمه دي بالکل نه ختموي خاص خاص يا په همدي عصرحاضرکي چي همداشرالقرون دی خاوند دي دخپلي ښځي هغه تامناسبه اوناوړه خبره نه اوري وبدو افعالو اوکارونوته دي نه ايله کوي بلکه که يه په يو وخت کي دشريعت اوميراني دحالت اوگذاري څخه په بل طرف باندی ووينی سرزنش اوزجر دي ورکړي وهغه شرعي اوصحي لاري ته دي راواړوي سړي ته داهم نه ده په کار چي دښځي هغه نفساني خواهشات يه دجهنم وکندي ته ورشيوه کړي دښځو مخالفت دي کوي دليل هم داده چي دهغوی په مخالفت کي برکتونه دي داهم ويل سوي دي چي (شاورواهن وخالفواهن) تاسودوی سره مشوره کوئ او له دوی څخه مخالفت کوئ سيدالبشر ﷺ فرمايلي دي چي دښځي غلام مرېی هلاک سو داخبره سيدالبشر ﷺ په دي وجه باندي کړي ده چي هرهغه شخص چيْ دښځي دنفسي خواهشاتو په پوره کولو باندي اخته وي هغه دهغي ښځي غلام سوحال دا چي الله ﷻ سړی دښځي مالک گرزولی دی لکن هغه خپله ښځه خپل خاوندکړه دايه خاوندسو داکار ده برعکس او دالهي فيصلي خلاف ورزي يه وکړه دشيطان سره يه همراهي اومتابعت خوښ کړسړي بايد چي متبوع وي اوتابع بايدنه وي چي داسي رقم سي اودښځي وهاغه جائزو اوناجائزو خبروتهولوته سرښوروي هره خبره ورسره قبلوي ځکه رب العلمين ﷻ دنارينه وو په باره باندي فرمايلي دي(الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ) چي سړي پرښځو باندي قوام دي يعني نارينه پرښځوباندي حاکمان حکمرانان دي وخاوندانو ته دسردار نوم ورکول سوی دی لکه چي پردي خبره باندي اية کريمه شاهد دی(وَأَلْفَيَا سَيِّدَهَا

﴿لَدَى الْبَابِ﴾ دوی دواړه دهغې سردار دروازې ته نژدې وليدل نوکله چې سردار دخپلې ماينې تابع سي اودايه متبوع سي دی داسې سو چې دنعمت کفران يې وکړ دښځې نفس هم ستا دنفس په رقم باندې دی که چيره هغه يوه اندازه سست ايله کړې هم ډيرزيات سرکش اوبې لارې کونکی به سي اوکه يې بالکل سست ايله کړې بيانو په مکمله توګه باندې ستا دلاسه څخه وزې په اختيارکې دې هم نه راځې دامام شافعي رحمه الله قول دی چې درې شيان داسې دي چې که يې قدر وکړې هغه تاته ذلت درکوي اوکه يې ته اهانت وکړې هغه ستاعزت کوي هغه درې لکه ښځه، خادم، اس، د دې څخه دهغه امام شافعي رحمه الله مطلب داوو چې که تادهغوی سره تنها نرمي وکړه سختي دې بالکل ورسره ونه کړه اوتا دمهربانۍ په استرکې سرزنش ورسره ګډنه کړ ته به دنقصان اوتاوان خاونديې.

نوټ: دنارينه دپاره دمردانګۍ هم دا تقاضاده چې دخپلې کوروالاسره به داسې چلندکوي چې نه بار بار ترټل اونه بار بار نازول وي په معتدل حالت کې به ګذاره وي نوبه دمرد خپله وظيفه اودزنانه خپله اوظيفه وي نارينه دی دزنانه کارنکوي اونه دې زنانه دنارينه کارکوي.

## (۹۵) باب پر ښځه باندې دخاوندحقوق

ښځه دخاوند مطيع وي دليل هم دادی چې نکاح يو ډول داطاعت دی اوپرښځه باندې لازمې ده چې دابه په هرکارکې دخاونداطاعت کوي شرط يې همداده چې دخاوندمطالبه به دشريعت دچوکاټ څخه دباندې نه وي په شريعت کې دننه دې ته مکلفيت متوجه ده پرښځه باندې چې دميړه په څه اندازه باندې حقوق دي په هغه باره باندې ډيرزيات احاديث نقل سوي دي دسيدالبشر ﷺ چې کوم ارشادمبارک دی چې که يوه ښځه په داسې حال کې وفات سي چې خاونديې له دې څخه خوشحاله وي هغه ښځه به وجنت ته ځي. **ښځه بايد دسړي اطاعت وکړي**: يوسړي په سفرباندې روان سو ښځه يې په لوړه بالاخانه کې وه وهغې ته يې ووېل چې له دې بالاخانې څخه مه شيوه کېږه اودښځې څخه يې دا وعده واخستله چې دلوړې کوټې څخه به ولاندې کوټې ته نه راشيوه کېږي د دې ښځې پلارپه دې لاندې کوټه کې وو مريض سو دې ښځې وسيدالبشر ﷺ ته حال وکړ چې ماته خپل خاونداجازه هم نه راکوي اوپلار مې په لاندې کوټه کې مريض ده زه څنګه وکړم سيدالبشر ﷺ ورته ووېل چې ته دخپل خاونداطاعت وکړه دخپل پلار خدمت پرېږده دهغه وروسته هغه دښځې پلار وفات سو دې سيدالبشر ﷺ ته سړی وليږی هغه بيا ورته ووېل چې دخپل خاونداطاعت وکړه دهغه وروسته يې پلار دفن کړسو سيدالبشر ﷺ وښځې ته

رویل چي ته دخپل خاونداتباع وکړه کله چي هغه دفن سو سيدالبشر ﷺ وهغې ښځي ته اطلاع ورکړه چي ستادهغه خاوند داتباع په خاطرباندي الله ﷻ ستا دپلار هغه ټول تقصيرات ګناهونه ورمعاف کړل سيدالبشر ﷺ ارشادمبارک دی چي هغه ښځه چي پنځه وخته خپل لمونځ په ښه طريقه سره اداکړي اودرمضان روزه يه ونيوله او دخپل ځان عصمت يه وکړ حفاظت يه وکړ دخپل خاونديه مکمل اطاعت اواتباع وکړه هغه ښځه دخپل رب ﷻ په جنت کي داخله سوه دسيدالبشر ﷺ په حضورکي دښځويادااوري وسوه سيدالبشر ﷺ وفرمايل چي حامله، ماشوم پالونکي، اوپيداکونکي پرخپلو اولادونو باندي رحم کونکي ښځه که دخپل خاوندفرمان او امر پرځای کړي نوپه هغوی کي چي کومه يوه لمونځ ګذاره وي هغه به جنت ته ځي دسيدالبشر ﷺ ارشادمبارک دی چي زه ولاړم ماجهنم وليدی په هغه کي ډيري ښځي وی دښځو څخه بعضو عرض وکړ چي يارسول الله ﷺ په څه وجه باندي سيدالبشر ﷺ وفرمايل چي يوه وجه داده چي ښځي لعنت کونکي دي اوبل ښځي دخاوند اطاعت نه کوي دهغه فرمانبرداري يه نه وي په يوبل حديث کي راغلي دي چي دی مبارک وايي چي ماوجنت ته وکتل په هغه کي ډيري په کم انداز باندي وي ماسوال وکړ چي ښځي چيري دي؟ جبرائيل ﷺ راته وويل چي هغه دوو شيانو مصروفي کړي دي يودسرو زرو زعفرانويعني ګيڼو اوبل رنګينو جامو دبي بي عائشه ﵂ څخه روايت دی چي دسيدالبشر ﷺ په خدمت کي يوي ښځي عرض وکړ چي زه غوانه ښځه يم ته ماته روايه چي پرښځي باندي دخاوند څونه حقوق دي ؟ سيدالانبياء محمد ﷺ ورته وويل چي که بالفرض دغه دښځي خاوند دسرڅخه بياترپښو ټول ګذک سي اوښځه دهغه خپل خاوند څخه هغه ټول ګذک په خوله کړي نوبياهم دهغه خاوند حق نه سو اداهغې ښځي سوال وکړ چي ايا زه نو واده نه کوم سيدالبشر ﷺ ورته وويل چي ته واده وکړه په هغه کي ستا دپاره زيات خير دی دحضرت ابن عباس ﵁ څخه روايت دی چي دبنوخثعم يوه ښځه دسيد البشر ﷺ په خدمت کي حاضره سوه عرض يه ورته وکړ چي ماواده نه ده کړی واده کول غواړم ماته دخاوند حقوق راوښيه؟ سيدالبشر ﷺ ورته وويل چي پرښځه باندي دخاوند داسي حق دی چي کله خاوندله دي سره دکوروالي اراده وکړي که بالفرض ښځه هم پراوښ باندي سپره وي راکښته دي سي او دده هغه سوي خواهش دي ور پوره کړي دخاوند داجازي څخه بغير دهغه دمال څخه هيڅ هم نه سي ورکولای که يه دهغه داجازي څخه بغير يو څه ورکړل هغه ښځه په ګناه باندي اخته سوه او دهمدي صدقه اويادمال ورکړي ثواب ټول د دي دخاونددي ښځه دي دخاوند داجازي څخه بغير نفلي

روژه هم نه نیسي که یه چیري ونیسي نو هسي یه خپل ځان وژی تږی کړ نو ریه هیڅ ثواب یه نسته روژه یه نه قبلیږي او که دخاوند داجازې څخه بغیر دباندې و وتله ترهغو چي راځي او توبه یه نه وي کښلي ملائکه وي لعنت درباندې وائي .

**دسیدالبشر په قول دخاوند مرتبه**: سیدالبشر ﷺ فرمایلي دي چي که ماچیری ویوچاته دالله ﷻ څخه بغیر دسجدي کولوامر کولای نوبه مي وښځي ته امرپه سجده دخاوند سره کړی وای ځکه چي دخاوند حقوق پرښځه باندې بالکل زیات ده دسیدالبشر ﷺ فرمان دی چي ښځه هلته والله ﷻ ته نزدي کیدلای سي چي په کورکي دننه وي اودکورپه داخل کي لمونځ کوي هغه لمونځ یه دمسجد ترلمانځه زیات ده په ثواب کي اوپه خونه کي دننه لمونځ کول په سرای کي ترلمونځ کولو زیات ثواب لري ځکه سیدالبشر ﷺ فرمایلي دي چي ښځه سراسر لڅه ده کله چي دکور څخه خارجه سي شیطان علیه لعنة وهغي ته ګوري په یوه بل روایت کی یه داسي فرمایلي دي چي دښځي دپاره لس قسمه لوڅ والی دی کله چي هغه واده سي نوخاوند دهغي یودول لوڅ والی پوټوي اوکله چی هغه مره سي نو قبر دهغي تول لڅ والي وریټ کړي پرښځه باندې دخاوند ډیرزیات حقونه دي خوپه هغوی کي دوه ډیرزیات مهم اولازمي دي لکه دخپل ځان پرده اوحفاظت کول او دویم له حاجت څخه زیات شی نه غوښتل اودهغوی طلب نه کول اوخاوند د حرامي ګټي څخه ساتل په هغه مامضی زمانه کي دښځواعمال اوکردارهم په دادول وو چي کله به ددي خاوند دباندی په یو کار اوزندګي پسي تلی خپلي ښځي به ورته وویل چي حرام مال مه ګټه دهغه څخه زیات پرهیزوکړه ځکه چي زموږ سره دا برداشت سته چي په لوږه باندی ګذاره وکړو اودا برداشت توان راسره نسته چي په جهنم کي بیاسکونت کوو .

په تیره سویه زمانه کي دیوښځي سړی په سفرباندی ولاړی دهغه همسایه ګانو اوګاوندیانو داسفر دهغه دپاره خوښ نه کړ دهغه مسافرو ښځي ته یه وویل چي ته دهغه په سفرباندي ځنګه راضي اوخوشحاله سوي حال هم داده چي هغه ستاهیڅ غم نه ده کړي خرڅ اوخورکه دی یوشي درک نلري ښځي ورته په جواب کي وویل چي زه اوخاوندچي دکومه وخته سره یوځای سوي یو زه چي دی پیژنم هغه زیات خورک والادی رزق ورکونکی نه دی رازق مطلق خوتنها الله ﷻ دی که هغه خوراک کونکی شخص ولاړی الله دي مل سي لکن هغه رازق لایزال خوهمیشه قائم اونه تلونکی دی حاضر اوناظردی .

روایت سوی دی چي رابعه بنت اسماعیل رحمة الله تعالی علیها حضرت احمدابن ابی الحوا رحمه الله ته دواده پیغام ورولیږی لکن هغه دهغه خپل عبادت دادیګي په خاطرباندي

هغه دعوت قبول نکړ جواب يې ورته را ولیږی دايه وويل چې زه په عبادت باندې مشغول يم دهغه شغل په خاطرباندی زه دنکاح سره شوق نلرم رابعه ورته وويل چې ته زماسره په دې خاطرباندی نکاح نکوې چې زه بيا په تاباندې عبادت پرې نه ږدم بلکه زه به دا درته ووايم چې ماته دخپل هغه اولين خاوند دميراث څخه ډيرزيات مال اودنياپاته دې زه هم په دې فکرکې يم چې هغه مال زه ستا دعبادت په هغه نيکو ورځو کې مصرف کړم اوستا په سبب باندې ماته هم ستا هغه نيکان دوستان وروڼه رامعلوم سې چې زه دهغوی په هغه باديانته خدمت سره الهي لارې ته وصل شم په دې وخت کې احمد رحمه الله ورته وويل چې زه به دخپل شيخ مرشد څخه اجازه وغواړم هغه وخپل شيخ ابوسليمان دراني رحمه الله ته راغی داسې روايت سوی دی چې شيخ سليمان رحمه الله به خپل مريدان دواده کولو څخه منعه کول اودابه يې ورته ويل چې زموږ دملګرو څخه چې هرچا واده کړی دی هغه بدل سويدی يعنې حال يې له هغه زاړه حال څخه بدل وي کله چې د ده شيخ درابعه خبرې واوريدلې نويې ورسره دواده کولواجازه ورکړه په الله جل جلاله باندې قسم چې دا دالله جل جلاله ولي ده اوداخبره دصديقينودی صديقين داسې ويناکوي احمد رحمه الله وايي چې ما درابعه سره واده وکړ زموږ په کورکې خاص يوه دګچو يوه کونده وه چې هغه ددودی خوړلو څخه وروسته دلاس پريولو په وختکې ماته سوه اوبل اشنان وو چې دا هم ديوبوټي نوم دی دهغه څخه دصابون کاراخستل کيږي صفائي راولي چې په موجوده عصرکې ورته (خزله) ويل کيږي احمد رحمه الله وايي چې د دې څخه وروسته ما د دريو نوروښځوسره واده وکړ رابعه وماته ښه خوراک راکاوی اوښه خوشبوئي به يې راته رالګوله دابه يې راته ويل چې ښه په خوشحالي اوزيات قوت سره دخپلو ښځو وطرف ته ورځه په شام کې همدا رابعه داسې مشهوره وه لکه چې په بصره کې رابعه عدويه مشهوره وه پرښځه باندې داهم لازمه ده چې دخپل خاوند دمال مراعات اوخيال وساتي اوهغه ضايع اوبې ځايه خرڅ نکړي بلکه په ښه طريقه سره يې حفاظت وکړي دسيدالبشر صلی الله عليه وسلم حديث مبارک دی چې دښځې دپاره دابالکل حلال نه دی چې دخاوند داجازې څخه بغير دهغه دمال څخه خوراک اوڅښاک وکړي د ده دمال څخه خاص هغه شی خوړلای سي چې پرهغه باندې دخرابيدلو واهمه وي که چيرې ښځه دخاوند په اجازه سره څه وخوري بيا په ثواب کې دواړه سره برابريږي اوکه دهغه اجازه نه وي دا يوشی وخوري په دې وخت کې ښځه ګنهګاره ده اوخاوندته په ثواب رسيږي داولاد پرخپلو والدينومور اوپلار باندې داحق دی چې دخپلې لور ښه تربيه وکړي چې بياهغه دهغه خپل خاوندسره ښه سلوک اوښه اسلامي ګذاره وکړي اودخاوند دحقوقو په

پیرېندلو کي پوره ونډه ولري لکه چي يوروايت سوی دي چي اسماء بنت خارجة الفرازي دخپلي لور دواده په وخت کي وهغي ته وويل چي ؤس نور ستا دهمدي کورڅخه سفر دی ته تلونکي يي داسي يوو بسترته ځي چي دهغه سره تاهيڅ محبت اوالفت ترؤسه نه درلودی اونه دي ورسره کړی دی نوته دخپل خاونددپاره مځکه جوړه سه اوهغه به ستا دپاره اسمان جوړسي ته دهغه منځه جوړه سه هغه به ستاخادم جوړسي ته دهغه څخه ځان هيڅ مه ليري کوه که نه نوبيابه هغه تا دخپل ځان څخه ليري کړي بيابه دی هيره کړي که ته دهغه نژدي کول غواړي نوته ورنژدي سه که چيري هغه ستاڅخه ليري کيدل غواړي نوته هم ځني ليري سه دهغه دسترګو، غوږونو، اوديزي، مکمل حفاظت وکړه چي دی ستادهغه خوښ خوشبوئي څخه بغيرپه بله پسي طلب ګارنسي اودی بايد ستاڅخه دښي خبري بغير نور څه وانه وري دهيش دپاره دخپل خان ښه سينګار اوزينت ورته کوه چي د ده درسره محبت زيات سي.

## (۹۶) باب دجها دفضائلو بيان

الله ﷻ په دي راتلونکي ايه‌کريمه کي فرمايي: (إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ) اية نمبر سورة (۱۴) سورة الحجرات. **ژباړه**: بيشکه مومنان هغه اشخاص دي چي هغه پرالله ﷻ اودهغه پر رسول باندي ايمان راوړي اودخپلو مالونو اوځانونو سره دالله ﷻ په لاره کي جهادکوي همدا اشخاص صادقان دي دحضرت لقمان بن بشير رضي الله عنه څخه قول دی چي زه دسيدالبشر ﷺ ومبرته نژدي وم ديوسړي څخه مي داخبره واوريدله چي وماته داسلام څخه وروسته ديت الله شريفي دخدمت څخه بغير دبل يوداسي نيک عمل اميدنسته بل سړي بياوويل چي ستا دهمدي کارونو څخه جهادفی سبيل الله افضل دی په دي خبره باندي حضرت عمر رضي الله عنه دوی وترټل داسي قول يه وکړ چي تاسو دسيدالبشر ﷺ ومبرته نزدي داسي اوازونه مه پورته کوئ هغه دجمعي مبارکي ورځ وه کله چي ماهغه دجمعي مبارکي لمونځ وکړ زه دهغه وروسته دسيدالبشر ﷺ په خدمت کي حاضرشوم دهمدي خبري په باره مي سوال ځني وکړ يعني په هغه تير سوي اختلافي صورت کي مي دسيدالبشر ﷺ څخه پوښتنه وکړه نوپه همدي وخت کي دالله ﷻ دطرف څخه دا اية کريمه نازل شو (أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَوُونَ عِنْدَ اللَّهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ) اية نمبر(۱۸) سورة التوبه. **ژباړه**: اياوحاجيانو ته اوبه

ورکول اودمسجد حرام خدمت کول دهغه چا دعملونو په رقم دي چي هغه دالله ﷻ اود
اخرت په ورځ باندي ایمان لري اودالله ﷻ په لاره کي جهاد کوي داخلک دالله ﷻ په نزد
باندي سره برابر نه دي او الله ﷻ وظالم قوم ته هدایت نکوي. دحضرت عبدالله بن سلام
رضي الله عنه څخه روایت دی چي موږ یوڅو نفره یوځای ناست وو موږ سره وویل چي که موږ په دي
باندي پوهیدلای چي کم یوعمل بهتر او والله ﷻ ته ډیرخوښ اومحبوب دی موږ به هغه
اوس کړی وای موږ چي داخبره وکړه دا ایة کریمه نازل شو: ﴿سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي
الْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللَّهِ أَن تَقُولُوا مَا لَا
تَفْعَلُونَ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنْيَانٌ مَّرْصُوصٌ﴾ ایة نمبر ١/ ٢/ ٣/ صورة الصف.
**ژباړه:** څه چي په اسمانونو اوپه مځکو کي دي هغه ټول دالله ﷻ پاکي بیانوي اوهغه
غالب اود حکمت والادي ای مومنانو هغه خبره ولي کوی چي هغه نه کوي دالله ﷻ په نزد
باندي داخبره ډیره بده ده چي تاسو هغه څه وایاست چي کوی یه نه بیشکه الله ﷻ هغه
څوک خوښوي چي دهغه په لاره کی صفونه تړي اوجنګ کوي لکه مضبوط دیوال.
په یوو روایت کي راغلي دي چي سیدالبشر ﷺ ته یوه سړي وویل چي ای دالله ﷻ رسوله
وماته داسي یوعمل راوښیه چي هغه دجهاد سره برابروي سیدالبشر ﷺ ورته وویل چي زه
کوم داسي عمل نه وینم چي هغه دي دجهادسره برابر وي دهغه وروسته یه وفرمایل چي
ایاته دهمدي خبري قوة لري چي هروخت مجاهد وجهاد ته روان سي مسجدته ولاړ سي
هلته په عبادت کي مشغول سي بالکل وقفه هم پکي نه وکړي همیشه روژي نیسي اوهیڅ
وخت هم وقفه نه پکي کوي هغه ورته وویل چي یارسول الله څوک به همداسي توان
اوطاقت ولري؟ دابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چي دسیدالبشر ﷺ صحابي دیوداسي
دري څخه تیرسو چي هلته دخوږو اوبو چینې وي هغه ورته وویل چي زه دخلکو څخه لیري
دلته دالله ﷻ عبادت کوم دلته ؤسیږم لکن دسیدالبشر ﷺ داجازي څخه بغیر بالکل
داسي نکوم هغه دسیدالبشر ﷺ وطرف ته راغی عرض یه ورته وکړ چي ته ماته هلته د
ؤسیدلو اجازه راکړه سیدالبشر ﷺ ورته وویل چي داسي کار مه کوه څکه چي دالله ﷻ په
لاره کي جهاد وکړه کوم شخص چي دالله ﷻ په لاره کي جهاد کوي هغه په کورکي تر(٧٠)
کاله عبادت ترلمانځه هم بهتري لري ایاته داخبره نه خوښوي چي الله ﷻ تامعاف کړي
وجنت ته دي داخل کړي؟ دالله ﷻ په لاره کي جهاد وکړه کوم شخص چي داوښې دلوشلو
وخت په جهاد کي تیرکړي یعنی دهغه وخت په برابرباندي جهاد وکړي دهغه دپاره په الهي
دربارکي جنت واجبیږي کله چي سیدالبشر ﷺ وصحابي ته دهغه تنهائي اجازه ورنکړه

اوحال داچي دهغه دعبادت شوق هم مسلم وو دهغه ديانت اوپرهيزګاري بالکل دشک اودشبهه ځخه وتلي وه بلکه وهغه ته يه دجهادکولوزيات ترغيب ورکړ زموږ دپاره هم دجهادپربنودل بالکل مناسب نه دي چي زموږ نيکياني نسته اوګناهونه موزيات دي په حرامه اواشتباهي غذاباندي موږونديريدل دي په نيتونوکي موخرابياني موجودي دي دسيدالبشر ﷺ يوحديث مبارک دی چي دالله ﷻ په لاره کي دجهادکونکي مثال داسي ده لکه دروژه دار، اودهغه خشوع اوخضوع سره عبادت کونکی، قيام، رکوع، سجده کونکي په ډير بنه اهتمام سره دوی په مثال کي سره يودي اوپه دي باندی ترهرچا الله ﷻ بنه عالم دی چي څوک دالله ﷻ په لاره کي جهاد کوي دسيدالبشر ﷺ حديث مبارک دی چي څوک په دي لاره باندي راضي شي چي الله ﷻ زموږ رب، اوسيدالبشر ﷺ زموږ نبي، اواسلام زموږ دين دی دهغه لپاره جنت واجب سو دحضرت ابوسعيد خدری ﷺ داخبره خوښه سوه عرض يه وکړچي يارسول الله داخبره يو وار بياراته مکرره کړه هغه ورته مکرره کړه اوبيايه ورته وويل چي يوبل عمل هم دی چي الله ﷻ دهغه په سبب باندي دبنده سل درجي پورته کوي اوهره درجه په خپلو مابينونو کی داسمان اومځکي په اندازه باندی فاصله وي ابوسعيد ﷺ عرض وکړچي يارسول الله ﷺ هغه کوم عمل دی؟ ده مبارک ورته وويل چي هغه دالله ﷻ په لاره کي جهاد دی هغه ډيرغوره عمل دی.

## (۹۷) باب دشيطان د دوکي بيان

په يو وخت کی يوه شخص حسن ﷺ ته عرض وکړچي اياشيطان هم داسي ده چي خوب کوي؟ هغه ورته په جواب کي وويل داسي په خنداسو چي که هغه خوب کولای نوموږ خوبه يوه اندازه ارام سوي وای دهمدي قول ځخه دامعلوميږي چي دشيطان ملعون ځخه ځان خلاصيدل ډير ګران اوتکليفي کاردی خوبهر حال که څوک دهغه ځان ليري کول غواړي هغه خپلي لاري لري .دسيدالبشر ﷺ حديث مبارک دی چي مومن سړی شيطان داسي خواره وي لکه په يوه اوږده سفر کي چي اوښ خوارسي دحضرت ابن مسعود ﷺ ځخه روايت دی چي دمومن شيطان ډيرډنګروي .

دحضرت قيس بن الحجاج قول دی چي وماته زماشيطان وويل چي زه ستاپه وجود کي داخل سوم دأوښ په رقم باندی غټ وم او أوس دچوغکي په رقم باندي ډنګريم ماسوال ځني وکړ چي داولي؟ ده ملعون راته وويل چي تازه دالله ﷻ په ذکر سره ډنګرکړم له دي وجي نو دمتقي انسان دپاره دشيطان ملعون هغه ظاهري لاري بندول اودهغو لارو ځارل چي انسان چي هغه انسان پرداسي کارونو باندي امرکول دي چي هغه ګناهونه دي دومره

زيات مشکل نه دی دهغه دپاره هغه خفيه شيطاني لاري د انسان دخطائي سبب اوباعث گرزيدلي وي چي په زړه کي دهغه دروازې راخلاصيږي ځکه چي په زړه کي دشيطان لعين ډيرې لاري دي اودملائکه وو په زړه کي صرف اوخاص يوه لاره ده اودالاره هم په هغه نورو باندي يعني په هغوی کي مختلطه سويه ده او دبنده مثال هم په داسي دول باندي دی لکه چي يومسافر په يوداسي ځنګل کي ورک سي چي په هغه کي ډيرې لارې وي اوهغه دشپي تور ځادر پرهغه باندي تياره جوړه کړي وي دهغه سترګو څخه بغير چي هغه بصيرت لري اويادلمردرانګو څخه بغير لاره نسي پيداکولای په دي ځای کي دهغه بصيرت لرونکوسترګو څخه مراد هغه پاک زړه دی اودهغه ځليدونکي لمرڅخه مراد علم دی يعنی هغه مقدس باعمله علم چي هغه دکتاب الله اوسنت رسول الله څخه اخستل سوی وي دهغه په واسطه سره انسان دهغه تيارو لارو څخه په امن کيدلای سي محفوظ کيدلای سي که داسي نه وي نوخوشپه تاريکه ده اولاري هم زياتي دي.

دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه روايت دي چي سيدالبشر ﷺ يوه ورځ زموږ په مخامخ کي يوه کرښه وليکله اودايه هم وويل چي دا هغه الهي لاره ده بيايه دهغي کرښي په راسته اوچپه طرفوتو باندي ډيرې کرښې وايستلي اوداسي يه وويل چي دا هغه لاري دي چي پرهره يوه باندي شيطان ناست دی دالله ﷻ بنده ګان وخپل هغه ملعون طرف ته رابولي دهغه وروسته سيدالبشر ﷺ دا اية کريمه ووايه ﴿وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ﴾ ايةنمبر(١٥٢)سورةالانعام.

**ژباړه**: په تحقيق سره دا زما هغه سيده لاره ده دهمدي لاري اطاعت اوپيروي وکړي دنورو لارو پيروي مه کوئ ځکه هغه لاري تاسو دهمدي لارو څخه جلاکوي موږ دهمداسي واضحي اوروښانه لاري بيان کوو چي پرهغه باندي دتللو دپاره بعضي وختونه انسان مأمور کيږي اوهغه مثال هم دادی چي سيدالبشر ﷺ بيان کړی دی هغه داچي دبعضي رواياتو څخه معلوميږي چي په بني اسرائيلو کي دبرصيصاپه نامه راهب ؤهروخت به په عبادت کي مشغول ؤدومره مستجاب الدعوات ؤچي ديومريض لپاره به يې دعاوکړل نوهغه به جوړيدی ابليس خپل ملعونين سره راجمع کړل اوورته ويې ويل چي برصيصاپه تاسي کي کوم يوګمراه کولای شي ؟ يوه خبيث خپله ملاکښته کړل او ويې ويل چي داخدمت زه کوم که چيري ماونه کړای شوای نوبياچي هرڅه سزارا کوي رايې کړه ابليس هم دغه کار دهغه پرغاړه ورواچاوو نودی دبني اسرائيلوويو باچاته ورغي په هغه مجلس کي دباچايوه ډيره ښايسته اوخوبصورته لورهم ناسته وه شيطان پرهغې باندي داسي

اثرواچاوه چي هغه ليونی شوه څوورځي وروسته بيا ورته راغي اوويې ليدل چي پاچا
پريشانه ناست دي ورته ويې ويل چي ددې علاج يوځاي کيدای شي داوبرصيصا راهب ته
بوزه هغه ددې علاج کولاي شي پاچاپه خبره پوه شواوخپله لوريې وراهب ته بوتلل دهغه په
دعاسره انجلۍ جوړه شول يوڅو ورځي وروسته بيادغه مرض حمله ورباندي راغله
شيطان بياراغی ورته ويې ويل چي تاغلطي وکړل انجلي به دي يوڅوورځي دراهب سره
پرې ايښې وای پاچا خوارکي دوهم ځل بيابوتلل اوراهب ته يې خواست وکړ چي يوڅو
ورځي دغه زمالور دخپله ځانه سره پاته کړه راهب انکار وکړمګر دپاچا ددېر ټينګار
وروسته راهب په مات زړه سره دهغه خواست قبول کړ هغه ځچي انجلۍ يې دراهب سره
پريښوول پاچا اونورټول خلک ځني ولاړل راهب به دورځي په روژه اودشپي په لمانځه
مشغوله ځ مګرهغه شيطان هم په خزه کي ورته ناست وويوه ورځ دراهب په مخ کي
پرانجلۍ باندي دليونتوب دوره راغلل چي دهغه په وجه دهغې نجلۍ بدن ښکاره
شودراهب سترګي چي دهغې پربدن ولګيدلې په زړه کي يې ددغې نجلۍ محبت
کښېنستی داسي ښايسته بدن ده غريب هيڅکله نه وو ليدلي راهب برداشت ونه کړاي
شواوددې سره يې نامناسبه غلط حرکت وکړانجلۍ حامله شول اوس شيطان ته موقع
وربيداشول راهب ته راغی اوورته ويې ويل چي ای حضرت داتاڅه وکړل ته داستاشان ته
وګوره اوداسي غلط حرکت ته خيراوس خودي داکاروکړدحمل تر ښکاره کېدلوپوري دغه
نجلۍ پرېږده بياوګوره چي څه کيږي راهب په خپل زړه کي دېرناکامه تديرونه وکړل
خوکاميابي په نظررانه غلل دبدنامۍ له وجي څخه يې دمخ رنګ بدل شو .بياشيطان ورته
راغي اوورته ويې ويل چي خيرکوم څه چي وشول هغه خووشول اوس يورقم دبدنامۍ
څخه دساتلوتدبيروکړه زماخيال دادی چي انجلۍ مره کړه د دې ماسوا هيڅ صورت زماپه
پوهه کي نه راځي ددې قربيان چي دپاچاله خواراشي نوهغوي ته ووايه چي هغه خوجوړه
شوې وه تاسي وځنډېداست نواخيرهغه ولاړل اوکه چيري درته معلومه شي چي دوې ته
يوڅه خبرپه لاس ورغلي دي نوصاف ورته ووايه چي هغه خومړه شول دېرکوشش مي
وکړ مګرتاسي ته اطلاع نه شواي درکول کيدای مجبوره شوم هغه مي ښخه کړه راهب هم
داخبره ورسره خوښه کړه هغه ځچي انجلي يې مړه کړه اوبيايې ښخه کړل څه وخت چي
دپاچاله خواخلک راغلل نو دانجلۍ په باره کي يې پوښتنه ورڅخه وکړل چي صاحبه هغه
چيري ده اوناروغي يې څنګه شول ؟راهب په دېرمعصوميت سره ورته وويل آياانجلي
کورته نه ده دررسيدلي دهغې ناروغي ښه شول اوله دغه ځايه څخه ولاړل دغوخلکو دا

خیال وکړچي شاید له دې ځایه به دیو قریب کره تللې وي هغه ووچي دهغې دتلاش لپاره یې انسانان روان کړل په دې وخت کي دغو خلګوته شیطان راورسېدي پوښتنه یې وکړل چي څه خبره ده ولي فکرجن یاست؟هغوی ټوله واقعه ورته بیان کړل شیطان وویل چي تاسي ډېر ساده معلومیږي ځکه چي تاسي ددغه خبیث راهب په خبروباندي باور څنګه کوئ تاسي په ده باندي نه یاست خبردی زه ډېربنه پېژنم چي څومره خبیث دی ده خو دانجلۍ سره زناوکړل اوبیایې دبدنامۍ له کبله هغه مړه کړل دده خوکار دغه دی دغه راهب یوډېرغټ زناکاره اویوغټ قاتل دی ده نورهم داسي ډېرکارونه کړي دي که موچیري یقین نه کیږي نوولاړشي ویې ګوري هغه نجلي په فلاني ځای کي ښخه ده .

پاچاته چي دغه خبري راورسیدي نوخپله هلته ورغي اوهغه قبرچي شیطان ور ښوولي ووکښدي اوچي ویې لیدل ټول خلګ حیران شول چي انجلۍ یې رښتیامړه کړي اوبیایې ښخه کړي ده هغه وُچي یوغټ جماعت خلګ راجمع شول اودراهب پر خلاف یې هنګامه جوړه کړل پاچاراهب ګرفتاره کړاو د پانسۍ حکم یې ورکړکله چي یې په دارځړاوه هغه شیطان راورسېدا اوویې ویل چي ای حضرت څه حال دی داټوله سازش ماجوړکړي ووکه ته غواړي نوزه دي دپانسۍ څخه ساتلای شم ددغه هم یوچم زماسره شته زمایوه خبره ومنه نوبه دي زه له داره خلاص کم هغه داچي ماته سجده وکړه راهب وویل دپانسي په حالت کي خوزه سجده نشم کولای شیطان ورته وویل بس صرف ماته سرکښته که داهم کفایت کوي نوهغه وُچي راهب هم همداسي وکړل سربې ورته کښته کړ نوشیطان ډېرخوشحاله شواوورته ویې ویل چي صاحبه اوس نورزماستاسره هیڅ تعلق نشته بس اوس سیده جهنم ته خه زه درڅخه ولاړم داخبره یې وکړل اوځني رهي شو راهب پانسي کړل شو .

روایت سوی دی چي شیطان لعین دامام شافعي رحمه الله څخه سوال وکړ چي ته په هغه ذات کي څه وایې ستاپه دې باره باندي خیال څه ده چي هغه زه په خپله خوښه باندي پیداکړم اوبیاچي یه په څه رقم باندي وغوښتل هغه رقم هغه رنګه یه استعمال کړم اوله همدې څخه وروسته که هم وغواړي یابه مي وجنت ته داخل کړي اویابه مي ودوذخ ته داخل کړي سوال هم دادی چي هغه ذات په دې کی وُس عدل کونکی دی اوکه ظلم کونکی دی؟ امام شافعي رحمه الله په دې خبره کې فکر اوغور وکړ ده ته یه وویل چي ای شیطانه که ته هغه ستاپه خوښه باندي پیداکړی یې خوبیانوواقعي پرتاباندي ظلم سوی دی اوکه هغه ته په خپل منشأ سره پیداکړی یې بیانو دهغه په باره باندي هیڅ سوال اوپوښتنه نه سي کېدلای دهمدې جواب په اوریدلوسره شیطان په محوه کیدلوسره ولاړی تږدي چې هغه بالکل

ورک سو بيايه داسي وويل چي اې شافعي په الله ﷻ قسم چي په دي سوال سره ما اويازره عابدان دهغه عبوديت د دائري اودفترڅخه خارج کړي دي اودبي ديانتی پرلاره باندي مي روان کړي دي روايت سوی دی چي يووخت شيطان لعين دعيسی عليه السلام مخي ته راغی وهغه ته يه حکم وکړ چي کلمه طيبه ووايه حضرت عيسی عليه السلام ورته وويل چي داکلمه خوبالکل حقه ده لکن خوستاپه امرباندي به يه نه ووايم ځکه چي شيطان لعين کله دبديو په رقم باندي پرنيکي باندي هم حکم وکړي په همدي ترتيب باندي هغه عابدپرهيزګاره ديانت والا انسان په هلاکت اوداالله ﷻ دلاري څخه خارج کړي دهمدي ملعون دشر اوفريب څخه هغه شخص په امان کيدلای سي چي الله ﷻ يه وساتي الله ﷻ دي موږ دهمدي ملعون له شرانړو څخه په امن کړي اوموږ دي الله ﷻ پخپل فضل اوکرم سره حفاظت راکړي امين ثم امين.

## (۹۸) باب دسروز اوغناسماع جواز نلري

په دي باره باندي قاضي ابوالطيب الطبري رحمه الله دامام ابوحنيفه رحمه الله امام شافعي رحمه الله امام مالک رحمه الله سفيان ثوری رحمه الله اوداسي نوروديوي دلي علماؤ رحمهم الله څخه داسي لفظونه رانقل کړي دي چي هغه پردي باندي دلالت کوي چي ذکرسوي حضرات دسماع په نه جواز سره قول کوي اوبل امام شافعي رحمه الله په خپل کتاب اداب القضاء کي داسي ويلي دي چي غنايونامناسب اومکروه عمل دی يوداسي بي فائدي کاردی څوک چي په همدي کارکي مشغوله لري هغه يوفالتو اوبي فائدي شخص دی اوبل دهغه شاهدي هم نه صحيح کيږي قاضي ابوالطيب الطبري رحمه الله ويلي دي چي شوافع حضرات پرهمدي باندي قائلين دي چي غنی دپردی ښځي څخه اوريدل که څه هم هغه په پرده کي وي اويامخامخ ازاده وي اوکه مينځه وي ناجائزدی قاضي صاحب رحمه الله دامام شافعي رحمه الله داقول رانقل کړی دي چي که دمينځي مالک خلک دهمدي دپاره راجمع کړي وي چي دهغي څخه څه واوري هغه مالک جاهل دی دهغه شاهدي مردوده ده اوليکلي په دي چي امام شافعي رحمه الله د دوو لرګيوپه ذريعه باندي اواز ايستل هم ناجائزبولي مکروه ورته وائي اوداسي يه هم فرمايلي دي چي داکاربي دينه خلکو ايجادکړی دی دهمدي مطلب دپاره چي دخلکو توجوه دقران کريم دخواڅخه واړوي دامام شافعي رحمه الله قول دی چي په حديث مبارک کي دنهي دوارد کيدلو دوجي څخه دسرود په ټولو الوکي زه (نرد) بدبولم زه دشطرنج لوبه مکروه بولم زه هره لوبه مکروه بولم ځکه دا دهغه تقوا دارو اوباديانته خلکو کار نه دی .امام مالک رحمه الله دغنااوريدلو څخه سخته منعه کړي ده اودا دهغه مبارک قول دی دی

وايي چاچي مينځه واخستله او وهغه ته دامعلومه سوه چي دامينځه سندري وايي هغه بيرته دواپس کولو حق لري دابراهيم سعدڅخه بغير دمديني منوري دټولو خلکو همدامذهب دی او امام ابو حنيفه رحمه الله هم غناسندرې مکروه بللي دي او دهغوی اوريدل په ګناه بللي دي او هغه دکوفي دټولو علماؤلکه سفيان ثوري او شيخ حماد ابراهيم شعبي اوداسي دنورو رحمهم الله همدا مذهب وو دالوړ چي هرڅه مذاهب اودهغوی دلائل دي دا قاضي ابو الطيب رحمه الله نقل کړي دي.

**ؤس دسرود اوغنادسماع دلائل**: ؤس جناب ابوطالب مکي دسماع هغه د جواز دلائل ديوه جماعت څخه رانقل کړي دي اودهغوی داقول هم دی چي دصحابه کرامو څخه حضرت عبدالله بن جعفر، عبدالله بن زبير، مغيره بن شعبه، او دمعاويه رضي الله عنه څخه نقل سوي دي او ابو طالب مکي داهم ويلي دي چی په سلف صالحينو کي دصحابه کرامو اوتابعينو يوه لوی جماعت ودي ته ودي سماع ته مباح ويلي دي اوبيازموږ بهْ زمانه کی په مکه مکرمه کي به دکال په هغه بنو ورځو کي خلکو سرودونه اوريدل اودغوره ورځو څخه مراد هغه ورځي دي چي الله جل جلاله وخپلو بندګانو ته دعبادت اوذکر حکم ورکړی دی لکه دتشريق ورځي اوداسي نورې اوزموږ ترزماني پوري به په مدينه منوره کی هم سماع اوريدله کيدله موږ ابو مروان القاضي په داسي حال کي وليدی چي دهغه سره څو نجوني ورسره وي او وخلکوته يه سندري ويلي قاضي صاحب همدا نجوني دصوفيانو دپاره ساتلي وي اوداسي يه هم ويل چي دعقا رحمه الله سره دوي نجوني وي اودهغه وړور دهغوی څخه سماع کوله ابو طالب مکي رحمه الله داقول نقل کړی دی چي ابو الحسن بن سالم رحمه الله ته وويل سول چي ته دسماع څخه انکارکوي حال همداده چي جنيد سري سقطي اوذوالنون رحمهم الله سماع اوريده اوهغه وويل چي زه دسماع څخه انکار وکړم اوحال دادی چي ترمابهتره خلکو سماع کړي ده اوهم يه اجازه ورته کړي ده لکه چي حضرت عبدالله بن جعفر رضي الله عنه به سماع اوريده او هغه په سماع کي خاص لهو اولعب منعه کړي دي دحضرت يحيی بن معاذ رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وويل چي موږ درې شيان ورک کړي دي اوبيامو هغه نه دي ليدلي اوهرڅونه چي وخت تيريږي هغه نورهم ورکيږي ښائسته مخونه چي هغه پاکبازه وي. اوهغه رښتيا خبري چي ديانت پکښي وي او هغه بهترينه ورور ګلوي چي وفاپکښي وي په بعضي کتابونو کي مي بعينه همداخبره دحارث محاسبي څخه نقل ليدلي ده په هغه کي دهغه زهد اوپاکبازي اوپه ديني معاملاتو کي دجد اوجهد سره همدا ترلاسه کيږي چي هغه پخپله دسماع په جواز باندي قائل وو ابن مجاهد په دی باره دسماع باندي

تاکید کوي: دابن مجاهد طریقه اولاره همداوه چي هغه به د داسي دعوت اجابت نه کاوی چي په هغه کي به سماع نه وه اوبیادیوه څخه زیادت خلکو همداخبره بیان کړه چي مونږ ویوه د عوت ته ولاړسو هلته ابوالقاسم ابن بنت منیع ابوبکرابن داؤد اوابن مجاهد داټول موجودوو چي بیاد سماع محفل شروع سو ابن مجاهد ابن بنت منیع دی ته وهڅوی چي هغه دي ابن داؤدسماع اوریدوته امده کی ابن داؤد په دي باره باندی وویل چي داکار زماپلار مکروه بللی دی زه هم دهغه پلار په مذهب باندي یم ابوالقاسم ابن بنت منیع ورته وویل چي زمانیکه احمد ابن بنت منیع ماته داحمد بن صالح په باره باندی داسي ویلي دي چي دهغه پلار به دابن الخبازه قول اوریدی دهمدي خبري په اوریدلو سره ابن مجاهد وابن داؤد ته وویل چي ته ماپریږده اوته دهغه خپل نیکه خبره منه هغه عملي که ای ابوبکره ته ماته دومره ووایه چي که چاشعر ووایه ایاهغه په ناجائزکارباندي اخته سو؟ابن داؤد ورته وویل چي په هغه په ناجائزکارباندي نه ده اخته هغه ورته وویل چي که دشعرویونکي اواز ښائسته وي ایادهغه دپاره شعر ویل حرام دي ؟ هغه ورته وویل چي په ابن مجاهد وویل چي که هغه داسي شعروواییي چي هغه محدوده حروف مقصود اومقصود حروف محدود وواییي ایاداسي کول ده دپاره حرام دي؟ ابن داؤد وویل زه خودیوه شیطان په اختیار کي راوستل نه سم کولای نوبه د دوو شیطانانو مقابله زه څنګه وکړم.

**داولیاؤ دسرداراابن عقلاني نظریه:** حضرت ابوالحسن عقلاني رحمه الله چي دی د اولیاء کرامو سردار وو هغه هم سماع اوریدله اوهغه به دسماع په وخت کي په جذب او په شوق باندي راتلی هغه مبارک په دي باره باندي یوکتاب هم لیکلی دی چي هغه دسماع پرمنکرینو باندي ردونه کړي دي د ده څخه بغیر پوره یوې ډلې دمنکرینو پرخلاف باندي کتابونه لیکلي دي دمشائخو دمجموعی څخه یوه شیخ داسي روایت کړي دی چي ابوالعباس خضر علیه السلام ولیدی دهغه څخه یه سوال وکړچي چي دسماع په باره باندي ستا نظریه څه ده؟ خضر علیه السلام ورته وویل چي سماع صفا خوږ اوخوندلرونکی شی دی پردي باندی دعلماؤ څخه بغیر دبل هیچاقدمونه نه سي ټنګیدلای دممشاد دینواري رحمه الله څخه روایت سوی دی چي ماسید البشر ﷺ په خوب باندي ولیدی چي دهغه څخه مي سوال وکړچي ایاتاسو سماع خوښوی؟ سیدالبشر ﷺ په جواب کي راته وویل چي زه سماع هم اورم اویوه سماع هم بده نه بولم لکن خووهغوی ته ووایه چي دسماع ابتداء او انتهاپه قران کریم سره وکړي دطاهربن بلال همداني اوراق رحمه الله څخه نقل سوی دی چي زه دسمندر غاړي ته دجدی په یوجامع مسجد کي معتکف وم یوه ورځ مایوه داسي دله

ولیدله چي هغوی شعرونه ؤیل اونورو خلکو هغه شعرونه اوریدل زه په همدي خبره باندي ډیر سخت خفه سوم او په زړه کي می داهم وویل چي دا خو داسي اشخاص دي چي دالله ﷻ په کورکي هم شعرونه وائي دی وایي چي په همدغه شپه باندي ماسیدالبشر ﷺ په خوب باندي ولیدی په هغه ځای کي سیدالبشر ﷺ هم ناست وو اوابوبکرصدیق ﷛ هم ناست وو چي څه ابوبکرصدیق ﷛ ویل سیدالبشر ﷺ هغه اوریدل غوږیه ورته نیولی وو سیدالبشر ﷺ دوجدکونکوپه رقم باندي خپل لاسونه مبارکان پرهغه خپله سینه باندي ایښي وو ماهم په خپل زړه کي داخبره وکړه چي ستادپاره هم نه وه مناسبه چي تادهغه ډلي څخه بدوسوو اوهغوی چي دسماع محفل جوړکړی وو ستانفرت ځنی راغی سیدالبشر ﷺ زماوطرف ته متوجه سو اوراته ویل چي دا دحق سره حق دی اویادا چي دا دحق څخه حق دی زمادابه نه ده پیادچي ده مبارک په دي دوو الفاظوکي کوم یوراته ووایود حضرت جنیدبغدادي رحمه الله قول دی چي پردي ګروپ باندي په دریوځایونوکي رحمت اوریږي دخوړلو په وخت کي ځکه چي دلوږي څخه بغیر نور هیڅ هم نه خوري دخبروپه وخت کي ځکه چي هغه دصدیقانو دمقاماتوڅخه بغیرنوري خبري نه کوي اودسماع په وخت کي ځکه چي هغه یه په جذب اوپه زیات شوق سره اوري اوهم دحق شاهدي ورکوي.

حضرت ابن جریج دسماع اجازه ورکوله دهغه څخه سوال وکړل سو چي داکاربه دقیامت په ورځ باندي په نیکي کي حسابول کیږي اوکه به په بدي کي حسابیږي؟ هغه په جواب کي ورته وویل چي په دواړو کي نه حسابول کیږي ځکه چي دا دلغوي سره مشابه دی اوهم دا یوالهي فرمان دی چي ﴿لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ﴾ ایة نمبر(۸۸) سورة المائده موږ چي مخته څه بیان کړل دا دمختلفو اقوالویوه مجموعه وه کوم څوک چي دمقلدپه اندازه کي دحق طلب کوي نوهغه په دي قولونو کي تعارض ویني له همدي وجي څخه دحیراتیا سره مخامخ کیږي او یادخپل خواهش په مطابق باندي کم قول قبلوي خودا دواړه کارونه یوه اندازه غلط دي بلکه وهرچاته دالازمي ده چي حق په یوه صحیح طریقه سره معلوم کړي.

## (۹۹) باب دخواهشاتو او دبدعاتو بیان

دسیدالبشر ﷺ قول مبارک دی وایي چي تاسو خپل ځانونه دنووکارونو څخه وګورئ ځکه چي هرنوی کار بدعت دی اوهربدعت ګمراهي ده اوهره ګمراهي سبب د دخول في النار دی دسیدالبشر ﷺ ارشادمبارک دی هرچاچي زموږ په دین کي یونویه خبره پیداکړه هغه خبره مردوده ده . دسیدالبشر ﷺ یوبل ارشاد دی چي پرتاسو باندي لازمه ده چي

زمااوزمادخلفاء راشدينو دطريقي پيروي او اتباع وكړئ دحديثو مباركانو څخه داسي په ښكاره باندي معلوميږي چي هره خبره دكتاب الله اوسنت رسول اواجماع وقياس اوداثمه وو داقوالو څخه مخالفه وي هغه بدعت دی اودمنلوحق نلري دسيدالبشر ﷺ قول مبارک دی چي څوک عمده اوصحيح طريقي جاري كړي وهغه ته په دی وجه باندي اجر وركول كيږي اوترقيامته چي څوک دهمدي طريقي تلونكي وي وهغه ته به يه ثواب رسيږي اوچاچي غلطه طريقه ايجادكړه ترقيامته پوري چي څوکورباندي عمل كوی اوهرڅوک چي پردي لاره باندي پيروان وي دهغوی گناه به وده ته رسيږي حضرت قتاده رضي الله عنه دالله ﷻ همدا اية كريمه تلاوت كړ ﴿وَأَنَّ هَـٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ﴾ په همدي تفسيركي فرمايي چي پوه سه لاره يوه ده چي دهغي لاري اصل هدايت او ورباندي تلل دي اودا وسيله او ذريعه د دخول دجنت ده اوشيطان ډيرې لاري جوړي كړي دي چي دهغه اتباع كول گمراهي اوورباندي تلل يه سبب د دخول د دوذخ دی دحضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دي چي سيدالبشر ﷺ يوه ورځ زموږ په مخامخ كي يوه كرښه وليكله اودايه هم وويل چي دا هغه الهي لاره ده بيايه دهغي كرښي په راسته اوچپه طرفونو باندي ډيرې كرښې وايستلي اوداسي يه وويل چي دا هغه لاري دي چي پرهره يوه باندي شيطان ناست دی دالله ﷻ بنده گان وخپل هغه ملعون طرف ته رابولي بياسيدالبشر ﷺ دغه پورتني ايه كريمه ﴿وَأَنَّ هَـٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ﴾ ووايه او دحضرت ابن عباس رضي الله عنه يوقول دی چي دا د گمرا هی لاري دي دحضرت ابن عطيه رضي الله عنه قول دی چي سيدالبشر ﷺ چي دا نيكي ليكلي داد يهوديانو، مجوسيانو، نصرانيانو ،بدعتيانو، باطل پرستو، اونفس پرستولاري دي دسيدالبشر ﷺ حديث مبارک دی هرچاچي زمادهغه سنت طريقي څخه اعراض وكړ هغه زماد ډلي حخه نه دی دهرنبي قوم چي دخپل نبي په دين كي كوم بدعتونه اونوي شيان ايجادكړي دي دغومره دنبي سنت ورڅخه ضائع سوي دي دسيدالبشر ﷺ حديث مبارک دی چي ترټولو عمده خبري دالله ﷻ كتاب دی اوترټولو عمده هدايت دسيدالبشر ﷺ هدايت دی اوترټولوهغه بدترين كارونه چي په دين كي دي هغه بدعات دي اوهربدعت ضلالت دی هرضلالت سبب د دخول في النار دی زه پرتاسوباندي ستاسو پرشرمگاهو اوستاسو پرملاگانو اوپرهغه گمراه كونكو شيانوباندي شهوتونو اوخوا هشاتوباندي ويريږم تاسو دهرقسم بدعت څخه اجتناب وكړئ څكه هربدعت گمراهي ده دسيدالبشر ﷺ حديث دی چي الله ﷻ دهربدعتي څخه ترهغه وخته توبه پوټوي ترڅو چي هغه بدعت نه وي پريښې اودسيدالبشر ﷺ حديث مبارک دی چي الله ﷻ د هر بدعتي

روژه ، حج، عمره، زکوة، جهاد ، حیله او انصاف بلکه هیڅ هم نه قبلوي هغه داسلام څخه داسې وزي لکه چې داوړو څخه وریښته وزي زه تاسو پرهغه سپین اوښکاره دین باندي پرېږدم دهغه شپه او ورځ سره برابردي د دي څخه چې هرڅوک مخ واړوي هغه هلاکیږي دهر ژوندلپاره یوهمت وي اودهر همت لپاره یو سنت وي دچاهمت چې زمادسنت پرطرف باندي وي دهغه هدایت نصیب دی اودهغه چاهمت چې زما دلاري اوزما دطرف څخه بغیر وي زماسره نه وي هغه هلاکت پیداکړ هلاکیږي زه پرخپل امت باندی د دریوشیانو څخه زیات په واهمه کي یم دعالم خطا، نفساني خواهشات، ظالم بادشاه، زما دامت دپاره دا دري شیان زیات خطرناک دي.

**دلهو لعب دالاتو بدوالی:** په بخاري شریف کي روایت دی چې سیدالبشر ﷺ وفرمایل کم سري چې وخپل ملګري ته وویل چې راسه جواري وکړو وهغه ته په کارده چې دالله ﷻ په نامه باندي صدقه ورکړي دمسلم شریف، ابوداؤد، اوابن ماجه، حدیث دی چې روایت سوی دی چې سیدالبشر ﷺ وفرمایل څوک چې دنرد لوبه وکړي ګواکی هغه دخنزیر په وینو اوغوښوکي لاس دننه کړ داحمد او دنورو روایت دی چې د داسې شخص مثال چې دی دنرد لوبه وکړي اوبیاولمانځه ته ودریږي دهغه سړي په مثال دی لکه چې یوڅوک دګذک یاخنزیر په وینو باندی اودس کوي اوبیاولمانځه ته ځي یعني دهغه لمونځ نه قبلیږي دبیهقي په روایت کي راځي چې سیدالبشر ﷺ د داسې خلکو ترڅنګ تیریدی چې هغوی دنرد لوبه کوله سیدالبشر ﷺ ورته وویل چې زړونه غافل دي اولاسونه ګونګي دي اوژبي فضولي اوبي ځایه خبري کوي دیلمي روایت نقل کړی دی چې سیدالبشر ﷺ وفرمایل کله چې تاسو د داسې اشخاصو ترڅنګ تیرسی چې هغه دفال په غشو شطرنج نرد اودهغوی سره په مشابهو نورو شیانو باندي اخته وي چې هغه حرام بلل سوي دي سلام مه ورباندی اچوئ اوکه هغوی سلام درواچاوی تاسوهغوی ته دسلام جواب مه ورکوئ دسیدالبشر ﷺ فرمان دی چې دري شیان قماردي اول دشرط لوبي په کوچنیو کوچنیو غشو سره او قمارکول اوپه شپیلۍ وهلوسره کوتري الوزول حضرت علی ﷺ دداسې خلکو دڅنګ څخه تیرسو چې هغوی دشطرنج لوبه کوله ده مبارک ورته وویل چې داهغه صورتونه اوشکلونه دي چې تاسو ورته اعتکاف کوی ستاسودپاره په دی باندی دلاسونولګولوڅخه داکارښه دی چې سکروټي ترهغه په لاس کي ونیسی او و یه نه غورزوی ترڅوچې هغه مړي اوسړي سي بیایه ورته وفرمایل چې په الله ﷻ قسم تاسو دبل شي دپاره پیداسوي یاست دسیدالبشر ﷺ ارشاددی چې دشطرنج لوبي کونکي زیات

دروا غجـان وي دهغوی څخه يو وای ماوژلی دي اوبل وای ماوژلی دی اوحال دادی چي هغوی هيڅوک هم نه دی وژلی حضرت ابوموسی اشعري رضي الله عنه فرمائي صرف ګنهګار دشطرنج لوبه کوي داوينا په يادولرئ چي دموسيقي الات لکه سارنګی، طنبور، رباب، شپيلی، اوهرهغه ساز چي دسندرويونکي دسازسره هم اهنګ وي هغه مکروه دي اوداهغه سازونه دي چي په موسيقي کي دطرب کيفيت ظاهره کوي لکن په انفرادي ډول بندي له دوی څخه دساز کارنه اخستل کيږي لکه نرکل، چنګ، اوداسي نورالات دسندروسره يوځای د دغوالاتو اوريدل مکروه دي لکن دسندروڅخه بغير مکروه نه دي کوم ساذ چي جواز لري هغه دادی چي هغه دنغمي اودطرب لپاره نه وي بلکه هغه دخبرتيادپاره استعماليږي لکه سورنی ډول اويادنکاح داعلان دپاره درياوهل اوداسي نورکمشيان چی هغه داعلان دپاره وي.

## (١٠٠) باب درجب المرجب دمياشتي دفضايلو بيان

صيغوي تحقيق په داده چي رجب دترجيب څخه دی مشتق دی اومعنی دتعظيم وركوي ورجب ته اصب هم ويل كيږي ځكه چي په دي مياشت كي پرتوبه كونكو باندي دالله ﷻ رحمت نازليږي اودهغه نيک عمل كونكو عملونه قبليږي اودالله ﷻ نور ورباندي اوريږي اوپه بله معنی باندي اصب هم ورته ويل كيږي چي په دي كي جنګ اونور داسي غلط كارونه اوقتال هيڅ نه محسوسيږي اوبل يو داسي قول هم دی چي رجب دجنت ديوي ويالي نوم دی چي دهغي ويالي اوبه دشيدو څخه هم سپيني دي اوترشاتوزياتي خوږي دي تروارو ه زياتي يخي دي دهغي ويالي اوبه به هغه اشخاص چښي چي هغه درجب المرجب په مياست كي روژه ونيسي دسيدالبشر ﷺ حديث مبارک دی چي درجب مياشت دالله ﷻ مياست دی اودشعبان مياشت زمامياست ده اودرمضان المبارک مياست زمادامت مياست ده دا يوه دهغه رمز پيږندونكو خلګوويناده چي درجب دري حرفه دي هغه راء، جيم، اوباء، دي دراء څخه الهي رحمت مراددی او دجيم څخه دبنده جرم مراد دی او دباء څخه دالله ﷻ مهرباني مراد دی ګواكي الله ﷻ فرمايي چي زه خپل بنده ګان په خپل رحمت اومهرباني كي رانغاړم .دحضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت سوی دی چي سيدالبشر ﷺ وفرمايل چاچي درجب دمياستي د(٢٧) په ورځ باندي روژه ونيوله دهغه شخص دپاره دشپيته مياشتو ثوابونه ليكل كيږي داهغه اوله ورځ ده چي جبرائيل عليه السلام وسيدالبشر ﷺ ته الهي پيغام راوړی اوپه همدي مياست كي سيدالبشر ﷺ ومعراج ته ولاړی نبوي فرمان دی چي تاسوخبرؤسئ چي رجب دالله ﷻ هغه اهمه مياشت ده چاچي په رجب كي يوه ورځ

په ایمان او اوپه نیت دثواب باندي روژه ونیوله هغه شخص دالله ﷻ هغه لویه رضا دخپل
خان دپاره خپله کړه او واجب یه وګرزوله اودا هم ویل سوي دي چي الله ﷻ په ټولو میاشتو
کي وڅلورو میاشتو ته یوه اندازه ترجیح ورکړي ده او ښه تره یه ترنورو میاشتو ښکلا ورته
ورکړي ده چي هغه ذي القعده، ذي الحجة، محرم، رجب، څکه دایوالهي ارشاد دی چي
داڅلور میاستي دحرام میاشتي دي په هغه کي هغه دري پرله پسي او یوه تنها ده چي هغه
درجب المرجب میاست ده. **قصه**:په بیت المقدس کي یوه ښځه وه درجب په میاشت کي
په هره ورځ دوولس زره واره قل هو الله احد ویله په همدي میاست کي به یه کمزوری
لباس جامه اغوستله یو وخت هغه ناجوړه سوه هغي وخپل زوی ته وصیت وکړ چي هغه دي
د بزو په هغه اشنل شویو ازغنو څخه جوړسوي لباس کي دفن کړه شي هروخت چي هغه مړه
سوه هغي زوی هغه په ښه عمده او ښه کفن کي دفن کړه دشپي په وخت کی هغه خپله مور
ولیدله هغي ورته وویل چي زه ستاڅخه نه یم راضي څکه هغه ماچي کوم وصیت درته کړی
وو هغه دي بالکل عملي نه کړ هغه د وهم په حالت کي راپورته سواو دمور هغه جامي چي
دي په هغه سره توصیه کړي وه هغه یه هم راپورته کړي چي دمور په قبر کي یه ورسره دفن
کړي هغه ولاړی او دمور قبریه خلاص کړ خوحال داووچي په قبرکي دهغه مور نه وه هغه ډیر
حیران سو خوپه دي وخت کي وده ته یو اواز وسو چي ایاتاته دانه ده معلومه چي په رجب
کي هرچا زموږ اطاعت وکړ موږ هغه تنها نه پریږدو روایت سوی دي چي کله درجب
دمیاشتي دلومړي جمعي دریمه حصه تیره سي ټولې ملائکه وي درجب دمیاشتي دروژه
دارانو دپاره دمغفرت اوبخښني دعاوي کوي .حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي
سیدالبشر ﷺ فرمایلي دي چي څوک درجب په میاشت کي دري ورځې روژه ونیسي دهغه
شخص دپاره د(۹)کالودعبادت ثواب نوشته کیږي حضرت انس رضي الله عنه وویل چي زماهغه
دواړه غوږونه دي کانه سي که به داحدیث مادسیدالبشر ﷺ څخه نه وي اوریدلی .

**څلور شیان**: دحرام میاشتي څلور دي او افضلې ملائکې څلوردي په هغه نازل سویو
کتابونوکي هغه افضل کتابونه څلوردي، داودس اعضاء څلوردي، دتسبیحاتو هغه
افضلي کلمي څلوردي، یعني سبحان الله والحمدلله ولااله الاالله والله اکبر، دحساب هغه
مهم ارکان څلوردي، یګا،دهګا، صدګا، هزارګا، وختونه څلوردي ساعت ورځ میاست کال
څلوردي اودهغه کال موسمونه څلوردي، طبائع څلوردي، حرارت، برودت،رطوبت،
یبوست، دبدن حکمران څلوردي صفراء، سوداء، وینه، بلغم، خلفائي راشدین هم څلور
دي، حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه عمر رضي الله عنه عثمان رضي الله عنه علي رضي الله عنه دیلمی دحضرت

عائشي رضي الله عنها څخه روايت نقل کړی دی چې سيدالبشر ﷺ فرمايلي دي چې الله ﷻ په څلورو شپو کي دخيراودبرکت باران کوي دلوی اخترپه شپه، اودکوچني اخترپه شپه، دشعبان دمياشتي په (۱۵) تاريخ، درجب المرجب په اوله شپه، ديلمي دحضرت ابی امامه رضي الله عنه څخه روايت کوي چې سيدالبشر ﷺ وفرمايل چې پنځه شپې داسي دي چې په هغوی کی يوه دعاهم نه رديږي درجب المرجب اوله شپه، دشعبان دمياشتي پنځه لسمه شپه، دجمعي شپه، او د دوارو اخترانو شپې. په دي کي دعاقبليږي.

## (۱۰۱) دشعبان المعظم دمياشتي فضيلتونه

صيفوي تحقيق يه داده چې شعبان دشعب څخه مشتق ده معنايه ده دره اوناوه داپه دي وجه ورته ويل کيږي چې په دي مياشت کي عمومي برکات اوفيوضات نازليږي په همدي وجه بندي ورته شعبان ويل کيږي لکه څرنګه چې دره ياناوه دغره دخوا څخه را روانه وي همدارنګه په دي مياشت کي هم برکتونه اوفيوضات دناوي اويادرې په شکل باندي را نازليږي دحضرت ابوامامه باهلي رضي الله عنه څخه روايت دی چې سيدالبشر ﷺ به فرمايل چې هروخت دشعبان مياشت راورسيږي نوتاسو خپل جسمونه پاک وساتئ اوخپل نيتونه هم ښه ولرئ.

**دسيدالبشر محمد ﷺ عادات اوخويونه:** دحضرت عائشي رضي الله عنها څخه روا يت دی چې سيدالبشر ﷺ به روژې نيولي ترداسي حالت پوري چې زموږ به دا خيال سوچې سيدالبشر ﷺ به هيڅکله هم روژه نه کي ماته يا سيدالبشر ﷺ هغه روژه نيول پريښوول تر داسي وخته چې موږ به ويل چې نوربه سيدالبشر ﷺ روژه ونه نيسي هغه مبارک به دشعبان په مياست کي يازياتي روژې ونيولي دنسائي په يوه حديث کي دحضرت اسامه څخه روايت راغلي دي چې ماسيدالبشر ﷺ ته عرض وکړ چې ته دشعبان په مياشت کي ديري روژې نيسي سيدالبشر ﷺ راته وويل چې خلک درجب اودرمضان دهغه مايني ورځو څخه داسي غافل پاته کيږي اوحال داده چې داسي مياشتي دي چې په دی کي دالله ﷻ وحضور اقدس ته دبنده ګانو عملونه ورل کيږي له همدي وجي څخه زه همدا خبره خوښوم چې کله زما عملونه دالله ﷻ په هغه مقدس حضورکي وړاندي سي اوزما روژه وي اوپه صحيحينو کي دحضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی چې مادرمضان دمياشتي څخه بغيرپه نوررو مياشتو کي په بشپړه روزو نيولوکي نه ده ليدلی اودشعبان دمياشتي څخه بغيرمي په نوررو مياشتو کي په زياتو روژونيولو سره نه ده ليدلی په شعبان کي به ده زياتي

روژي نيولي په يوو بل روايت کي راغلي دي چي سيدالبشرﷺ به دشعبان دمياشتي روژي مکملي نيولي دمسلم په روايت کي بيا راغلي دي چي سيدالبشرﷺ به دشعبان يو څو ورځي پريښوولي او نورتوله مياشت به يه روژه نيوله روايت سوی دی چي داسماني ملائکه وو دپاره دوې شپې دخوشحالی او داخترد ي يوه هغه دشعبان دپنځلسم شپه او بله دليلة القدرشپه او دمؤمنانو اخترونو دکوچني اختر اودلوی اختر شپي دي دشعبان وپنځه لسمي ته دملائکه وو داختر شپه ويل کيږي علامه سبکی رحمه الله دهمدي قول په تفسيرکي فرمايلي دي چي دغه به ټول کال دګناهونو دپاره کفاره بلله کيږي يعني په دي شپوکي عبادت کول اودالله ﷻ ذکر کول دګناهونو دکفارې سبب ګرزي له همدي وجي څخه ودي شپي ته دکفاري شپه هم ويل کيږي او ودي شپي ته دژوند شپه هم ويله کيږي څکه منذري مرفوعًا داحديث رانقل کړی دی چي هرڅا داخترونو دواړي شپي او دشعبان پنځلسمه شپه دالله ﷻ په عبادت کي تيري کړي په داسي ورځ کي چي دټولو انسانانو زړونه مړه وي لکن دهمدي انسان زړه به ژوندی وي ودي شپيته دشفاعت شپه هم ويله سوي ده څکه چي په حديث شريف کي راغلي دي چي د دي مياشتي په دياړلسمه شپه باندي سيدالبشرﷺ دخپل امت دپاره دشفاعت غوښتنه وکړه الله ﷻ د دريمي حصي امت شفاعت قبول کړ بيا سيدالبشرﷺ دهمدي مياشتي په (۱۴) تاريخ باندي هم دخپل امت دپاره دشفاعت غوښتنه وکړه نوالله ﷻ څلور حصي دامت شفاعت قبول کړ بيا يه په پنځلسمه سيدالبشرﷺ دامت شفاعت شروع کړ الله ﷻ د ده مبارک دټول امت شفاعت قبول کړ لکن هغه څوک چي دالله ﷻ درحمت څخه داوښ په رقم باندي تښتيدلي وي اوهميشه ګناهونه کوي داسي شخص دشفاعت څخه محروم دی او ودي شپي ته دمغفرت شپه هم ويله کيږي دامام احمد رحمه الله څخه روايت دی چي سيدالبشرﷺ وفرمايل چي الله ﷻ دشعبان په پنځلسم شپه باندي پرخپلو بنده ګانو باندي ظهورکوي د دوو کسانو څخه بغير د دنيا ټول مسلمانانو ته عفوه کوي هغه يو مشرک اوبل کين کونکی سړی ودي شپيته دازادی شپه هم ويل کيږي لکه چي ابن اسحاق دحضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه نقل کړی دی چي سيد البشرﷺ دعائشي رضي الله عنها وکورته ديوشي دپاره وليږلم ماوعائشي رضي الله عنها ته عرض وکړ چي تاسو ماژر فارغه کړئ څکه چي ماسيدالبشرﷺ په داسي حالت کي پريښی دی چي هغه دشعبان دپنځه لسمي شپې په باره باندي خبري کولي عائشي رضي الله عنها راته وويل چي ای انسه ته کښينه زه به تاته دشعبان دپنځلسمي شپې په باره باندي خبري وکړم يوه شپه چي دسيدالبشرﷺ زماسره نوبت وو سيدالبشرﷺ زماکره راغی زماسره په بستره کي پريوتی

کله چي زه دشپي راويښه سوم دی مبارک په بستره کي نه وو ماپه زړه کی داوويل چي ممکن سيدالبشر ﷺ وخپلي مينځي قبطيي ته ورغلی وي دکوټي څخه دراوتلوپه وخت کي دمسجدسره دتيريدلو په دوران کي زماپښه دهغه سره ولگيدله سيدالبشر ﷺ راته وفرمايل چي زماجسم اوخيال تاته سجده وکړه اوزما زړه پرتاباندي ايمان راوړی اودازمالاس دي ماکله هم په دي لاس باندي خپل جسم نه دي گډکړی ای لويه رب ﷻ همداتنها ستاڅخه ديوعظيم اولوی کارامید اوطمعه کيدلای سي زماهغه لوی لوی گناهونه رامعاف کړي زمادغه مخ وتاته سجده وکړه چي تاپيداکړی وو په هغه کي دي غوږونه اوسترگي پيداکړي بياسيدالبشر ﷺ خپل سرمبارک پورته کړ داسي يه وفرمايل چي ای الله ﷻ وماته بيريدونکی زړه راکړه چي هغه دشرک څخه بري اوپاک وي کافر اوبدبخت نه وي هغه بيا وسجدي ته ولاړی مادا اوريدل سيدالبشر ﷺ په هغه وخت کي وفرمايل چي ای الله ﷻ زه ستا په رضاسره ستاناراضي څخه پناه غوارم ستادعفوي په ستادعذاب څخه اوستا په اميدباندي ستا گرفت څخه پناه غوارم زه ستاهغه مکمل تعريف نه سم کولای څنگه چي تاخپل تعريف کړی دی زه هغه څه وايم چي هغه ستابنده داؤد ﷺ ويلي دي زه خپل مخ دخپل اقادپاره په خاورو کي ککړوم اوزما اقا د دي لائق دی چي دهغه په حضورکي مخ په خاورو باندی ککړسي بياسيدالبشر ﷺ خپل سر راپورته کړ ماورته وويل چي زما مور اوپلار دي ترتاقربان سي تادلته تشريف راوړی دی اوزه هلته وم سيدالبشر ﷺ راته وويل چي ای حميراء اياته نه پوهيږي چي دشعبان پنځلسمه شپه ده په دي شپه کي الله ﷻ دبنوکلب درمو دوبښتانو په اندازه باندي وخلکو ته داور څخه ساتنه ورکوي لکن هغه شپږقسمه خلک له دي شپي څخه هم بي برخي دي شرابي، دمور اودپلار نافرمانه، عادي زاني، قاطع رحم، چنگ اورباب وهونکی، اوچغلخور، په يوه بل روايت کي درباب وهونکي پرځای باندي دمصور لفظ راغلی دی ، وديته دقسمت اودتقدير شپه هم ويله کيږي څکه چي دعطار بن يسار څخه روايت دی چي کله دشعبان پنځلسمه شپه راسي ملک الموت دهرهغه چانوم نوشته کوي چي د دي شعبان څخه ياتر راتلونکي شعبان پوري مرکيږي سري نهالان ژډي ودونه کوي کورونه جوړوي داسي نور د دنيادبقاوسائل اواسباب برابروي لکن دهغه نوم دمړو په ليست کي نوشته سوی وي خودی په دي باندي علم نلري اوملک الموت په دی انتظارکي وي چي وهغه ته کله دهغه دروح اخستلو اجازه کيږي څه وخت به دی دهغه روح واخلي.

## (۱۰۲)باب دروژي دمبارکي مياشتي فضيلتونه

دروژي په باره باندي دالله ﷻ فرمان دی چي ()ای مؤمنانو پرتاسو باندي روژي فرض کړل سوي دي لکه څنګه چي ستاسو څخه پرهغه مخکي خلګوباندي فرض کړل سوي وي دحضرت سعيدبن جبير رحمه الله قول دی چي زموږ څخه مخکي پرخلګو باندی دماختن څخه بياتردويمي ورځي پوري روژه وه اوداسلام په اول کي هم دارنګه وه دعلماء کرامو ديوي ډلي داسي قول دی چي په نصاراوو باندي هم روژه په داسي طريقه باندي فرض کړل سوي وه دروژي مياست به کله په ګرمي اوکله په يخ کي راتله چي دهغه په وجه باندی وهغوی ته دسفرکولو په وخت کي زيات مشکلات مخ ته راتلل بيادهغوی مشيران راجمع سول دافيصله يه وکړه چي روژي ديخ اوهغه دګرمي پرځاي په بل موسم کي ونيولي سي دوی ټولويه اتفاق سره هغه دپسرلي موسم او وخت متعين کړ اودهمدغي دوکي اوفريب دکفاري په خاطرباندی يه لس ورځي روژي نوري زياتي کړلي دوخت په تيريدلوسره يوه ورځ دهغوی بادشاه مريض شو هغه ځان باندي نذر وماني داسي نذر وو که هغه ښه سي نو به دی اوه(۷) روژي نوري زياته وي هغه جوړسو ديوي هفتي روژي يه نوري هم زياتي کړلي کله چي همدابادشاه وفات سوبل څوک دده پرځاي باندي بادشاه سو هغه بيا وخلګوته حکم صادرکړ چي تاسو مکملي پنځوست ورځي روژه ونيسی بيا وهغه ته دوه دحيواناتو مرګونه ورسيدل بادشاه ورته وويل چي خپلي روژي نوري هم زيادت کړئ هغوی لس ورځي نوري هم زيادت کړي الله ﷻ پرهر امت باندی روژي فرض کړي دي لکن هغوی ورڅخه اعراض کړی دی دامام بغوي رحمه الله قول دی چي رمضان دمياشتي نوم دی اوداهم دمضاء څخه مأخوذدی چي دهغه معنی دګرم کاڼي ده ځکه چي هغه دسختي ګرمي په موسم کي روژي نيولي عربانو چي کله دمياشتو نومونه جوړکړل په هغو ورځوکي دغه مياشت په اخري زياته ګرمي کي راغله له همدي وجي څخه پردي باندي درمضان نوم اينبودل سوی دی بعضي خلګ داسي وايي چي ودي مياشتي ته ځکه رمضان ويل کيږي چي دغه مقدسه مياست ګناهونه سوځي.**روژه اودهغي فرضيت**:روژه مبارکه دهجرت په دويم کال باندي فرض کړل سويده دا ددين يومهم رکن دی اومنکريه کافردی په احاديثوکي دهمدي مياشتي زيات فضائل راغلي دي يوحديث مبارک داسي ده چي سيدالبشر ﷺ وفرمايل چي درمضان المبارک اوله شپه راسي دجنت هغه ټولي دروازي خلاصي سي په ټول رمضان کي هغه خلاصي وي الله ﷻ واواز کونکو ته حکم وکړی چي تاسو اوازوکړي چي ای دنيکی طالبانو متوجه سئ او ای دګناه طالبانو ودريږئ ياهغه

اواز کوي څوک دمغفرت غوښتلووالاوي چې وهغوی ته مغفرت وسي څوک بیا دغوښتلووالاسته وهغوی ته ورکړه وسي څوک بیاتوبه کښونکي دي هغه ته توبه ووسي توبه یه قبوله سي ترسهاره پوري دا اواز کیږي او الله ﷻ دهرکوچني اختر په شپه باندي لس لکه داسي خلګوته معافي کوي چې پرهغوی باندي عذاب مقرروي دحضرت سلمان فارسي ﷛ څخه روایت دی چې سیدالبشر ﷺ موږ ته دشعبان په اخري ورځ باندی خطبه وویله داسي یه وفرمایل ای خلګو پرتاسو باندی یوه لویه میاست را روانه ده په هغه کي لیلة القدرسته اوهغه دزرو میاشتو څخه بهتره ده الله ﷻ دهمدي میاستي روژي فرض کړي او دشپي عبادت یه سنت ګرزولی دی کوم څوک چې په دي میاست کي په یوه اندازه نیکي سره قرب حاصله وي وهغه ته په نورو میاستو کي دفرض د اداکیدلو په اندازه باندي ثواب ورکول کیږي اوڅوک چې په دي میاشت کي یوفرض اداکړي هغه داسي ده لکه چې په نورومیاشتوکي اویافرضه اداکړي دا میاست دصبرمیاست ده اودامعلومه ده چې دصبربدله او اجر جنت دی دا ده وروركلوی اوهمدردی میاست ده دا داسي میاست دی چې په دي کي دمؤمن رزق پراخیږي کوم څوک چې په دي ورځ باندي وروژه دار ته روژه ماتی ورکړي هغه ته الله ﷻ دیوو غلام دازادولو ثواب ورکوي اودهغه ګناه بخښله کیږي موږ عرض ورته وکړ چې یارسول الله ﷺ زموږ څخه هرشخص د دي توان نلري چې وروژه دارته روژه ماتی ورکړي سیدالبشر ﷺ راته وفرمایل چې الله ﷻ دغه اجر وهغه چاته هم ورکوي چې وروژه دار ته داوبو اویاشیدو یو غوړپ ورکړي اویادخورما یوه دانه ورکړي اوکوم څوک چې روژه دارپه ماړه نس باندي موړکړي دا دهغه دګناهونو دپاره بخشش ګرزي اوهغه شخص الله ﷻ زما دحوض څخه داسي اوبه کوي چې دهغه څخه وروسته به بیا هیڅکله تږی نه سي او وهغه ته هم دروژه دار غوندي ثواب ورکول کیږي لیکن د روژه دار داجر څخه هیڅ شی هم نه کمیږي داهغه میاست ده چې په اول کي یه رحمت اوپه ماینی کی یه مغفرت اوپه اخرکي یه دجهنم څخه ازادي ده په دي کي څلور کارونه زیات وکړئ په دوو سره به دخپل رب ﷻ رضاترلاسه کړي اوپه دووکارونوکي تاسوته بي نیازي نسته هغه دوه کارونه چې وربانديِ خپل رب ﷻ راضي کیږي هغه دلااله الاالله شاهدي او استغفار ویل دي اوهغه دوه کارونه چې تاسوورڅخه نه سی خلاصیدلای هغه دخپل رب ﷻ څخه دجنت سوال کول دي اودجهنم څخه دپناه غوښتل دي هغه دفضائلوپه حدیثونو کي یوحدیث داهم دی چې سیدالبشر ﷺ وفرمایل چاچي دایمان اوثواب په خاطر باندي درمضان دمیاشتي روژي ونیولي دهغه اولین او اخرین ګناهونه بخښل کیږي

سيدالبشر ﷺ فرمايي چي الله ﷻ ويلي دي چي دانسان هرعمل دهغه دځان دپاره دی دروژي څخه بغير بيشکه روژه زما دپاره ده زه پخپله دهغه جزاورکوم اوتاته داسي عبادت کافي دی چي هغه الله ﷻ وخپل ذات ته منسوب کړی دی دروژه نيونکی دخولي بوی دمشکو څخه هم پورته ده سيدالبشر ﷺ فرمايلي دي چي درمضان په مياشت کي زما وامت ته پنځه شيان ورکول سوي دي چي له دوی څخه مخته په نورو امتونو کی هغه نه وو دروژه دار دخولي بوی الله ﷻ ته ترمشکو هم زيات بهتردی تر روژه ماته پوري ملائکه وي وهغه ته دمغفرت سوال کوي، په دی مياشت کي هغه سرکش شيطان په بنديخانه کي وي قيدوي الله ﷻ هره ورځ جنتونه ښائسته کوي اوداسي فرمان صادره وي چي ژر ده چي زمانيک بنده ګان به په دي کي داخل سي دهغوی څخه به ضررونه اوتکليفونه ليري کړل سي د همدی مياشتي په اخري شپه باندي روژه داران بخښل کيږي عرض وسو چي يارسول الله ﷺ چي ددي څخه مراد ليلة القدردی؟ سيدالبشر ﷺ ورته وفرمايل چي نه لکن هغه مزدوري کونکي دکارکولو څخه وروسته خپله مزدوري اخلي هغه ته الله ﷻ اجره ورکوي.

## (١٠٣) باب دليلة القدر فضيلتونه

په دي باره باندي دحضرت ابن عباس ﷺ روايت دی چي دسيدالبشر ﷺ په حضورکي دبني اسرائيلو ديوه سړي يادونه وسوه چي هغه زر مياشتي دالله ﷻ په لاره کي جهادکړی وو سيدالبشر ﷺ پرهغه باندي يوه اندازه تعجب وکړ دخپل امت دپاره يه د داسي نيکی تمناوکړه داسي يه وفرمايل چي ای ربه ﷻ تازما وامت ترټول امتونو کم عمر ورکړی دی اوپه اعمالوکي دي هم ترټولو امتونو کم کړی دي الله ﷻ دسيدالبشر ﷺ تردي تمناوروسته دليلة القدرشپه ورکړه چي هغه دزرو مياشتو ترعبادت کولوهم بهتره ده دليلة القدر شپه دهمدي امت دخصوصياتو څخه يوخصوصيت دی په يوه روايت کي راغلي دي چي ديوسړي نوم شمعون وو چي هغه پوره زر مياشتي د دښمنانو سره جهاد کړی وو اوکله هم دهغه داس ځين دخولوڅخه وچ نه ده پاته سوی الله ﷻ چي وهغه ته کوم قوة طاقت ورکړی وو دهغه په وجه باندي يه د دين دښمنان مغلوب کړي وو د دښمنانو زړونه تنګ سول په تکليف سول دوی دهغه وښځي ته قاصد ورولېږی اودايه ورته وويل چي که ته خپل خاوندبندی کړي اوبيايه زموږ په لاس باندی راکړي موږ به وتاته يولګن سره زر درکړو کله چي دهغي خاوندويده سو ښځي هغه خپل خاوند دخورما دپوستوکو څخه په هغه جوړه سوي رسۍ باندی وتاړی کله چي هغه راويښ سو خپل وجوديه سره وښوراوه هغه رسۍ توټي توټي سوه دی ورڅخه خلاص سو دښځي څخه يه سوال وکړ چي داتاڅه

چل وکړ؟ هغې ورته وویل چي ماستا دقوة اندازه لګوله کله چي وکافرانو ته دامعلومه سوه چي هغه رسی. هم پرېکړي دي بیاکافرانو داوسپیني یوپنډ زنځیر ور ولیږی کله چي دی ویده سو هغه ښځي په زنځیرباندي وتاړی لیکن بیایه هم هغه زنځیر داول په رقم باندي پرېکړ دهغه وروسته ابلیس ملعون ورته وویل چي ښځي ته وواياست چي هغه دخپل خاوند څخه سوال وکړي چي کوم یوشی دی چي دی په نسي پرېکولای ښځي په دهغه څخه سوال وکړ هغه ورته وویل چي زه خپل وریښتان نه سم پرېکولای دهغه وریښتان (١٨) برخي وو چي هغه پرمځکه باندي لګیدل کله چي هغه ویده سو دهغه په څلورو زلفوباندي په دهغه پښي ور وتړلي بیاهغه کافران راغلل هغه یه ژوندی ونیوی د دار په طرف باندي په روان کړ دهغه غوږونه اوشونډان یه ورپرېکړل په دي وخت کي ده دالله ﷻ څخه داسوال وکړ چي یاالله ﷻ دکفارو څخه دخلاصون لاره راته پیداکړه اوماته دهمدي قدرت راکړه الله ﷻ قوت ورکړ دعایه قبوله شوه پرکافرانو باندي د دارچت را ایله سو هغه ټول ترلاندي سول هغه چي ځان وښوراوی ټول وریښتان څني خلاص سول د دار ستنه یه وکښه د دار ترچت کفار لاندی سول مړه سول ده خلاصوالی پیداکړ دوی چي کله درسول الله ﷺ داخبري واوریدي هغه ته یه وویل چي یارسول الله ﷺ موږ هم دهغه په رقم باندي ثواب ترلاسه کولای سو سیدالبشر ﷺ ورته وویل چي دهمدي خبري علم وماته نسته بیادهغه وروسته سیدالبشر ﷺ وخپل رب ﷻ ته سوال وکړ هغه دوی ته همدغه دلیلة القدرشپه ورنصیب کړه دحضرت انس ﷜ څخه روایت دی چي سیدالبشر ﷺ وفرمایل کله چي دلیلة القدر شپه راسي جبرائیل ﷶ دملائکه وو دیوي ډلي سره نازلیږي پرهرهغه بنده باندي رحمتونه نازلوي اوهغه ته دمغفرت دعاکوي هغه څوک چي په ناسته اوپه ولاړه باندي دالله ﷻ ذکرکوي دلیلة القدر په شپه باندي بیحسابه رحمتونه نازلیږي حضرت ابوهریره ﷜ وایي چي په لیلة القدر کي بي حسابه ملائکه وي ومځکي ته راکښته کیږي داسمان دروازي ورته خلاصیږي لکه چي په حدیث مبارک کي راغلي دي کله چي ملائکه وي راکښته سي نو رڼاوي وځلیږي خلک په مختلفو درجو باندي فائزیږي بعضي خلک داسي وي چي داسمانونوملکوت ورته منکشف کیږي ملائکه وي دعبادت په حال کي ويني اوبعضي دقیام بعضي قعود په حالت کي بعضي په رکوع اوبعضي په سجده کي وي بعضي شکراداکوي اوبعضي ذکرکوي بعضي تسبیح اوتهلیل وائي بعضو خلکوته دجنت حالات منکشف کیږي دجنت ځایونه حورې اونهرونه درختې، اودجنت میوې ويني اودهغه عظیم عرش نندارہ کوي چي هغه دجنت چت دی انبیاء علیهم السلام اواولیاءکرام

شهداء او صديقين د ځايونو سيل او ننداره کوي بعضي داسي اشخاص هم شته چي دهغوی دسترګو څخه حجابونه ليري کيږي او دهغه ذات اقدس څخه بغير بل څوک نه ويني د حضرت عمر ﷺ څخه روايت سوی دی چي سيد البشر ﷺ و فرمايل چي کوم څوک دروژي دمياشتي د (٢٧) شپه ترسهاره روڼه کړي په عبادت کي يه تيره کړي هغه وماته دروژي ترټول عبادت بهتر دی حضرت فاطمةالزهرا ﷺ عرض وکړ چي کمزوري او ناوسه ښځه او سړی به څه کوي چي هغه نه دقيام قدرت لري اونه يه توان وي سيد البشر ﷺ ورته وفرمايل چي ايا هغوی تکيه نسي لګولای چي دغه شپه په ناسته باندي تيره کړي او دالله ﷻ څخه سوال وکړي دعا ځني وغواړي دحضرت عائشي ﷺ څخه روايت دی چي سيد البشر ﷺ وفرمايل چاچي دليلة القدر شپه په عبادت کي تيره کړ دوه رکعته لمونځ يه پکي وکړ دالله ﷻ څخه يه مغفرت وغوښتی الله ﷻ هغه شخص بخښي او رحم ورباندي کوي جبرائيل ﷺ ورباندي خپلي وزري سولوي چاسره چي جبرائيل ﷺ خپلي وزري وسولولي هغه به جنت ته ځي الله ﷻ دي زموږ اوستاسو نصيب کړي امين

## (١٠۴) باب دعيدالفطر دفضائلو بيان

دشوال دمياشتي اولي ورځي او د ذي الحجي دمياشتي ولسمي ورځي ته اختر ويل کيږي ودي دواړو ورځوته ځکه اختر ويل کيږي چي په دي ورځوکي خلګ دروژو او دحج څخه فارغ سوي وي اودسيدالبشر ﷺ واطاعت ته راګرزيدلي وي يعني هغوی دشوال شپږ روژي نيولي وي اودسيدالبشر ﷺ دزيارت کولودپاره يه تياری کړی وي اوياورته عيدځکه ويل کيږي چي دا ورځ هرکال کي په تکرار سره راځي اويايه دي خاطرباندي عيدورته ويل کيږي چي په دي کي الله ﷻ په تکرارسره خپل فضل اومهرباني کوي اويايه دی خاطرباندي چي په دي ورځوکي هغه خوشحالياني مکرري وي بهرحال خوپه دي ټولو معاني وو توجيهاتو کي دعيدهغه خپله معني پرته ده چي هغه ومکرر راګرزيدلو ته ويل کيږي.

**داختراوله ورځ**: سيدالبشر ﷺ دکوچني اختر لمونځ اول په دويم هجري کال کي اداکړ اوبيايه کله هم دالمونځ نه دی پريښی له همدي وجي څخه دالمونځ سنت مؤکد دی دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي تاسو وخپلو اخترونو ته په تکبيرونو سره ښائست زينت ورکوئ سيد البشر ﷺ فرمايي کوم څوک چي داخترپه ورځ باندي سل واره سبحان الله وبحمده ووايي او ومسلمانانو هغه وفات سويو ته يه همداثواب ور وبخښي دهرمسلمان په قبرکي زر(١٠٠٠) روڼاوي داخليږي اوکله چي هغه شخص وفات سي

الله ﷻ دهغه په قبر کي زر(۱۰۰۰) انواره ورداخلوي دوهب بن منبه ﷺ قول دی چي شیطان لعین په هراخترکي نوحه اوزاری کوي ټول شیطانان دهغه پرشاو خوابانـدی راټولیږي سوال ځني کوي چي ای زموږ باداره څه مشکل دی ته ولي داسي غمجن یي؟ هغه به په جواب کي ورته ووایي چي الله ﷻ په نن ورځ کي محمدي امت معاف کوي تاسو دوی په نفساني خواهشاتو اوخوندونو باندي مشغول کړئ دوهب بن منبه ﷺ څخه دا روایت هم سوی دی چي الله ﷻ دعیدالفطر په ورځ باندي جنت پیداکړ اوهغه دطوبی درخته په داخترپه ورځ باندي وکرله دجبرائیل ﷺ دپاره دوحي ورځ عیدالفطر وټاکل سوه اوهغه دفرعون د جادو ګرانو ساحرانو توبه هم دعیدالفطر په ورځ باندي قبوله سوه دسیدالبشر ﷺ ارشاد دی کوم چاچي داختر په ورځ باندي دثواب په خاطرباندي قیام وکړ دهغه زړه به په هغه ورځ باندي نه مرکیږي چي هغه ټول زړونه مړه کیږي دده زړه به ژوندی وي. **قصه**: حضرت عمر ﷺ خپل زوی مبارک ولیدی چي هغه داخترپه ورځ باندي زوړ قمیص اغوستی وو دحضرت عمر ﷺ دسترګو څخه اوښکې رواني سوي زوی ورته وویل ای والدګرامي ولي ژاړي ولي فریادکوي؟ ده مبارک په جواب کي ورته وویل چي زویه زه پردي باندي ویریږم چي که نن ورځ هلکان تاپه دي حالت کي ووینې زوړ اوشیري قمیص به دي اغوستی وي ستازړه به مات سي زوی مبارک یه ورته وویل چي زړه خوبه دهغه چا ماتیږي چي دهغه زړه دالله ﷻ درضاء څخه بي برخي وي اویایه دخپل پلار اومور امرنه وي منلی زه خو په دي امید باندي یم چي ستادرضاپه برکت باندي به الله ﷻ زما څخه هم راضي شي حضرت عمر ﷺ چي دخپل زوی داجواب واوریدی نویه دخوشحالۍ دوجي څخه ترسترګو اوښکي را رواني سوي خپل زوی مبارک یه ترغاړه ونیوی اودعایه ورته وکړه په دي باره باندي یوشاعر داسي له مقام سره مناسب شعر ویلی دی:

قالوا غدا العيد ماذا انت لابسه

فقلت خلعت ساق عبده الجرعا

فقروصبر ثوبان بينهما

قلب يرا ربه الاعياد والجمعا

العيدلي ماتم ان غبت ياملى

والعيدان كنت لي مرأى ومستمعا

هغوی سوال وکړ چي صبا اخترډی ته به څه اغوندي ماورته وویل چي داسي لباس به اغوندم چي بنده په کراره کراره باندي څه ورکړي فقر اوصبر دوه لباسونه دي اودهغوی ترمابین زړه دی چي دهغه مالک داخترونو او دجمعي په ورځ باندي ویني ای امیده هلته به زما اختروي چي ته زما څخه ورک سي اوکه چیري ته زماسترګو اوغوږونوته نژدي سي نوبیابه زماڅنګه اختروي.

داسي روایت هم سوی دی چي کله داختر مبارک سهارسي په دي وخت کي الله ﷻ ملائکه وي ومځکي ته راولېږي هغه په لارو اوپه کوڅوکي درېږي هغه په لوړ اوبلند اوازسره داسي ووائي چي ای دسیدالبشرمحمد ﷺ امته دخپل رب ﷻ وطرف ته راسئ هغه وتاسوته لوی اوعالي اجر درکوي ستاسو دپاره ډیر لوړ لوړ ګناهونه درمعافوي کله چي خلګ وعیدګاه ته راځي الله ﷻ وملائکه ووته فرمایي چي دمزدوری بدله اواجر څه دی؟ملائکه وي ورته وایي چي دهغه بدله داده چي پوره اومکمل اجر ورته ورکړل سي الله ﷻ فرمایي زه ستاسو په شاهدي سره خپله معافي اورضا دهغوی په مزدوري کي حسابوم الله ﷻ دي زموږ هم داسي حالت نصیب کړي امین یارب العالمین.

## (۱۰۵) باب دذي الحجي دلسم دفضیلتونو بیان

په دي باره باندي دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت سوی دی چي سیدالبشر ﷺ وفرمایل چي دنورو ورځوپه نسبت باندي دذی الحجي دلسوورځوعبادت داسي دی چي الله ﷻ ته ډیر زیات خوښ دی دي وخت کي صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض وکړ چي یارسول الله دالله ﷻ په لاره کي ترجهاد هم فضیلت لري؟ سیدالبشر ﷺ وفرمایل چي دالله ﷻ په لاره کي ترجهادهم لکن داچي انسان دالله ﷻ درضادپاره په خپل مال اوسرباندی ووتی اودواړه دالله ﷻ په لاره کي قرباني سول دحضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی چي سیدالبشر ﷺ وفرمایل چي والله ﷻ ته تردي ورځو نوري داسي افضلي اوبهتري ورځي نسته پوښتنه وسوه چي ایا دجهادورځي هم تردي ورځوزیاتي نه دي ؟ سیدالبشر ﷺ وفرمایل چي څوک دالله ﷻ په لاره کي خپل اسونه زخمیان کړي اودی خپله هم زخمي سي داورځي بهتري دي. دحضرت عائشي رضي الله عنها څخه روایت دی چي یوځوان چي دسیدالبشر ﷺ حدیثونه یه اوریدل کله چي د ذي الحجي داو ومي ورځي سپوږمۍ ښکاره سوه هغه روژه ونیوله کله چي وسیدالبشر ﷺ ته خبرورسیدی هغه یه راوغوښتی اوپوښتنه یه ځني وکړه چي ته څه شی ودي ته وهڅولي چي روژه ونیسي؟ هغه ورته وویل چي یارسول الله زمامور اوپلار دي ترتاقربان سي داد حج دقرباني ورځي دي شاید چي

الله ﷻ ماهم دهغوپه دعاګانو کي شامل کړي سيدالبشر ﷺ ورته وفرمايل چي ستا دهري ورځي دروژي ثواب دسلو غلامانو داجرسره برابردی ددوو زرو اښانو دصدقي سره برابر دی اودالله ﷻ په لاره کي د دوو زرو اسانو دورکولو سره برابردي.

دسيدالبشر ﷺ حديث مبارک دی چي دنهمي د ذي الحجي روژه د دووکالو دروژو سره برابري دي اوهغه دعاشورا دورځي روژه ديوه کال دعبادت سره برابره ده مفسرين حضرات دهمدي اية کريمه په تفسيرکي (وَوَاعَدْنَا مُوسَى ثَلَاثِينَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ) کي ليکلي دي چي د دغوشپوڅخه مراد دذي الحجي دمياشتي هغه اوليني لس شپي دي دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي الله ﷻ په دي ټولو ورځوکي څلور ورځی اوپه مياشتو کي څلور مياشتي اود ښځو څخه څلور ښځي خوښي کړي دي څلورکسان ترټولو مخته وجنت ته ځي اودڅلورو اشخاصودپاره جنت په انتظارکي دی په ورځو کي جمعه مبارکه اوله ورځ ده په دي کي داسي يوساعت راځي چي په دي کي انسان هرد دنيا اوداخرت سوال وکړي الله ﷻ يه قبلوي دويمه ورځ د ذي الحجي دنهم (عرفي) ورځ دی کله چي دعرفي ورځ وي الله ﷻ په ملائکه وو باندي فخرکوي اوداوايي چي ای ملائکه وو وګورئ زمابنده ګانوته چي دوی په ببرو سرونو باندي اوپه هغه ګردوهلوويښتانو باندي اوپه هغسي ځرمخونو باندي حاضردي تاسو شاهداني سئ چي ماهغوی معاف کړل دريم هغه دقرباني ورځ ده کله چي دقرباني ورځ وي اوبنده دقرباني په وجه باندي دالله ﷻ دقرب اونزديکت حاصلول غواړي نوکله چي دقرباني دحيوان څخه هغه اول څاڅکی وينه پرمځکه باندي ولويږي هغه دهري ګناه دپاره کفاره ګرزي څلورم دکوچني اخترورځ ده کله چي بنده دروژي دمياشتي روژي ونيسي اوداختر دلمانځه دپاره دباندي عيدګاه ته ولاړسي الله ﷻ وملائکه وو ته فرمايي چي هرمزدور دخپل کار اجر غواړي زمابنده ګانو پوره اومکمله مياست زمادپاره روژه نيولي ده اوس هغه اخترکوي خپله مزدوري غواړي زه تاسو شاهداني کوم چي ماهغوی ته معافي کړي ده او اواز کونکي اوازکوي چي ای دمحمد ﷺ امته تاسوولاړسي په داسي حال کي چي الله ﷻ ستاسو بدياني په نيکيانو باندي بدلي کړي.

اوڅلور هغه غوره مياشتي دي رجب المرجب، ذی القعده، ذی الحجه، محرم الحرام، اوهغه څلور مختاره ښځي بي بي مريم بنت عمران ﷺ، خديجه بنت خويلد ﷺ چي په ښځوکي يه ترټولومخته پرالله ﷻ اودهغه پررسول باندي ايمان راوړی دی دفرعون ښځه اسيه بنت مزاحم ﷺ اوهغه دجنت دښځو سرداره بي بي فاطمه بنت محمد ﷺ ﷺ .

**تر ټولو سبقت اوهغه وړاندي کونکي**: په هرقوم کي يو وړاندي کونکي وي په عربو کي سبقت کونکي زموږ سردار سيدالبشر ﷺ وو دفارس څخه حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه د روم څخه حضرت صهيب رضي الله عنه او د حبشي څخه حضرت بلال رضي الله عنه او هغه څلور اشخاص چي هغوی ته جنت په انتظار دی هغه حضرت علي بن ابی طالب رضي الله عنه حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه حضرت عماربن ياسر رضي الله عنه حضرت مقداد بن اسود رضي الله عنه دسيدالبشر ﷺ څخه روايت سوی دی چي څوک دذي الحجي په اتمه ورځ باندي روژه ونيوله الله ﷻ وهغه ته دحضرت ايوب عليه السلام په رقم باندي پرهغه مصيبتونو اوغمونو باندي دصبرپه اندازه باندي ثواب ورکوي اوڅوک چي دعرفي يعني دنهم په ورځ باندي روژه ونيوله الله ﷻ وهغه ته دعيسی عليه السلام په اندازه باندي ثواب ورکوي دسيدالبشر ﷺ څخه داهم روايت سوی دی چي کله ورځ دعرفي وي الله ﷻ خپل رحمت ته وساعت ورکوي په دي ورځ باندي زيات خلک داور څخه په امن کيږي کوم څوک چي دعرفي په ورځ باندي د دنيا اوداخرت حاجت وغواړي الله ﷻ هغه ته حاجت وربوره کوي دعرفي دورځي روژه دتيرکال اودراتلونکي کال دګناهونو دپاره کفاره کيږي دعاشورا ورځ تراخترونو وروسته وي څکه نو دهمدي ورځي روژه دېوو کال دګناهونو کفاره جوړيږي.

## (١٠٦) دعاشورا دورځي دفضيلت بيان

په دي باره باندي دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت سوی دی چي سيدالبشر ﷺ ومديني ته تشريف راوړی سيدالبشر ﷺ وليدل چي يهود دعاشوراپه ورځ باندي روژه نيسي سيدالبشر ﷺ دهغوی څخه سوال وکړ چي ولي تاسو په دي ورځ باندي روژه نيسی؟ دوي په جواب کي ورته وويل چي دا داسي ورځ ده چي په دي ورځ الله ﷻ موسی عليه السلام او بني سرائيلو ته پرفرعون باندي اودهغه پرقوم باندي غلبه ورکړي ده له دي وجي څخه نوموږ تعظيما دهمدي ورځي روژه نيسو سيدالبشر ﷺ وفرمايل چي موږ ستاسو په نسبت باندي وموسی عليه السلام ته زيات نژدي يو نوسيدالبشر ﷺ هم په دی ورځ باندي دروژي نيولو حکم صادر کړ.

د ذکرسوي ورځي څانګړتياوي: د ذکر سوي عاشوري دورځي سره ډيري خبري خاصي دي دهغوی څخه يوه خبره همداده چي په دي ورځ باندي دادم عليه السلام توبه قبوله سوي ده په همدي ورځ باندي پيداسوی ده اوپه همدي ورځ باندي وجنت ته داخل سوی، په همدي ورځ باندي عرش، کرسي، اسمان، مځکه، لمر، سپوږمی، ستوري، جنت، پيداسوي دي په همدي ورځ باندي ابراهيم عليه السلام پيداسوی دی اوپه همدي ورځ باندي په داور څخه امان

اونجات پيداکړی دی په هم دي ورځ باندي موسی ﷺ اودهغه قوم امت ته نجات حاصل سو فرعون دخپل قوم ادهغه لښکرسره په همدي ورځ په دریاب کي غرق شو، په همدي ورځ باندي حضرت عیسی ﷺ پيداسو په همدي ورځ باندي يه واسمان ته وخیزاوی په همدي ورځ باندي دنوح ﷺ کښتی وجودي پرغره باندي ودريدله په همدي ورځ باندي وسليمان ﷺ ته عظيم ملک اوهغه سلطنت ورکړل سو په همدي ورځ باندي حضرت یونس ﷺ دماهي دنس څخه را خارج سو په همدي ورځ باندي دحضرت يعقوب ﷺ نظربيرته راوگرزيدی په همدي ورځ باندي حضرت یوسف ﷺ دهغه ژور ځاه څخه را وايستل سو په همدي ورځ باندي دحضرت ايوب ﷺ څخه تکليف دفع سو اوداسمان څخه باران هم په همدي ورځ باندي وسو اودهمدغي ورځي روژه په امتونو کي مشهوره ده تردي چي داسي ويل سوي دي چي دهمدي ورځي روژه تر رمضان مخته فرض کړل سوي ده اوپيامنـــوخه شوه اوسيدالبشر ﷺ ترهجرت مخته دهمدي ورځي روژه نيوله کله چي دی مبارک ومديني منوري ته راغی دهمدي ورځي دلوي تاکيديه وکړ بالاخره يه داو فرمايل که زه ژوندی پاته سوم دمحرم نهم او لسم به هم روژه نيـــم لکن سيدالبشر ﷺ په همدي کال باندي وفات سو دهغه نهم څخه بغير يه دلـــم روژه نه ونيوله سيدالبشر ﷺ دنهم اولسم يوولسم محروم دروژي نيول ديرزيات خوښ کړي دي لکه چي داسي نبوي ارشادمبارک دی چي دهمدي ورځي څخه يوه ورځ مخته اويوه ورځ شاته روژه ونيسئ اوديهودو دطريقې څخه مخالفت وکړئ ځکه چي هغوی خاص يوه ورځ روژه نيوله بيهقي په شعب الايمان کي روايت نقل کړی دی چي دعاشورا په ورځ باندي پرخپل کور اولاد عيال باندي وسعت پراخي وکړئ الله ﷻ به ټول کال پرهغوی باندي پراخوالی راولي حاکم دهمدي ورځي وضاحت کړی دی چي په دي ورځ باندي دثواب په نيت باندي رانجه استعمالول بدعت دی ابن قيم جوزي ﷫ ويلي دي چي رانجه پوري کول اوداني نيني کول اوپرسرباندي تيل لګول اوپه دي ورځ باندي خوشبويي لګول بدعت دی اوپه دي باره باندي چي کوم حديثونه روايت سوي دي هغه درواغجنو دخپل ځان څخه جوړکړي دي هغه موضوعي دي دانبکاره خبره ده چي په دي ورځ باندي دامام حسين ﷜ اودهغه دکورنی سره کوم سلوک وسو نوهمدا دهمدي ورځي رفعت دی دالله ﷻ په نزد باندي دهمدي ورځي درجه اوداهل بيتو دمراتبودهمدي ورځي علاقه دهمدي پرعظمت اولوی والي باندي ښکاره او داسي واضح شاهدي ورکوي ځکه نوپه همدي ورځ باندي چي څوک دهغه دمصيبتونو ياداوري وکړي وهغه ته پکاردي چي ﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾ اية

نمبر(١٥٦)سورة البقره. څخه بغير نورڅه ونه وايي دليل همداده چې په دي كې دالله ﷻ متابعت اوموافقت دی لکه چې همدا اية كريمه دی ﴿أُولَـٰئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَـٰئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ﴾ اية نمبر(١٥٧) سورة البقره په خاص طورباندي بيا په همدي خبره باندي يوه اندازه خيال اوفكركول په كاردي هسي نه چې هغه دروافضو شعيه ګانو په هغه بدعاتو باندي ورداخل سي لكه چې هغوی ژړا اوفريادونه كوي اوبل ځانونه وهي د غمونو اظهاركوي داكار دمؤمنانو دحال اواخلاقوسره توافق نلري ځکه كه داكارونه ښه وای نوبه بيادهغوي پرنيكه چې دحسنينونيكه سيدالبشر ﷺ دی پرهغه باندي به خلفاء راشدينو صحابه كرامو ﷺ كړي وای لكن صحابه كرامو له همدي كارڅخه په كلكه باندي ځان ساتلی دی.

## دشيعه ګانو ماتم اوځان وهل

دنته سائل سوال كوي چې په دي (١٠) دمحرم باندي خلک ځانونه وهي اوغم كوي سينه وهل يه عادت وي نوحه نيسي اوپه دي ورځ باندي دحسين ﷺ هغه شهادت لمانځي هغه تيره سويه واقعه بيانوي اوپه بازارونوكي په دي نامه باندي جلوسونه باسي ځانونه وهي په شريعت غراء محمدي كي دهمدي ذكر سوي مسئلي حكم په كوم انداز باندي دی؟ جواب يه همداده چې دا ذكرسوي شيان ټول خرافات اوهغه بد بدعات دي اوداهم ټول باعث اوسبب دګناه دي په دي باره باندي دسيدالبشر ﷺ حديث مبارک رانقل كوو (وشر الامور محدثاتها وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ. وفي رواية النسائي وَكُلُّ ضَلَالَةٍ فِي النَّارِ) وفي رواية اخرى عن النبي ﷺ من احدث حدثا او اوى محدثا عليه لعنة الله والملائكة والناس اجمعين رواه الطبراني. داخومعلومه ده چې اسلام خو دصبر تلقين ورته كوي اوپرهغه باندي بيا دهغه اجر عظيم بشارت وركوي لكه په دي اية كريمه كي ﴿إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾ ؤس نو سينه وهل اويانوحه كول اوياغمجن ؤسيدل دابالكل حرام اوهغه ممنوع شيان دي كمافي مجمع البركات:

يكره للرجل تسويد الثياب وتخريقها للتعزية اماتسويد الخدود والايدي وشق الجيوب وخدش الوجوه ونشرالشعورونثر التراب على الرأس والضرب على الصدروالفخذ وايقادالنار على القبور فمن رسوم الجاهلية.

دارنګه په محرم كي دامام حسين ﷺ دشهادت واقعه بيانول دروافضو سره دمشابهت په وجه باندي هغه جوازنلري كمافي جامع الرموز: اذا اراد ذكر مقتل امام حسين ﷺ ينبغي

ان يذكر اولامقتل سالار الصحابة ﷺ لئلا يشابه الروافض كذافي العون علامه ابن حجر مكي هيثمي رحمه الله په صواعق مجرقه كي ليكلي دي(وإياه ثم اياه ان يشتغل في يوم عاشوراء ببدع الروافضة من الندب والنياحة الحزن اذليس ذالك من اخلاق المؤمنين والالكان يوم وفات سيدالبشر ﷺ اولى بذالك جلوس اپستل هم لكه چي په هغه خيرالقرون كي بنه نه بلل كيدل څكه داهم په دين كي يونوى كاردى اوناجائزدى قال رسول الله ﷺ عليكم بسنتي وسنتي خلفاء الراشدين اوامام مالک رحمه الله ويلي دي چي (لن يأتي اخرهذ والامة باهدى مماكان عليه اولها .په بل ځاى كي بيا داسي فرمايي: من احدث في هذه الامة شيئالم يكن عليه سلفها فقدزعم ان النبي ﷺ خان في الرسالة العياذ بالله) الاعتصام ج ۲. خلاصه دكلام همداده چي دابيان نوي كارونه ټول ټول بدعات دي داټول سبونه دي دپاره د دخول في النار دي په بل ځاى كي سيدالبشر ﷺ فرمايي چي (من رأى منكم منكرا فليغيره بيده فان لم يستطع فبلسانه فان لم يستطع فبقلبه وذالک اضعف الايمان رواه مسلم. **ژباړه**: كه څوک په تاسو كي يونار وا كار ووينې هغه دي په زوره منعه كړي كه يه همدطاقت نه درلودى په ژبه باندي دي منعه كړي اوكه يه داتوان هم نه رو هغه كمه اندازه دايمان هم داده چي په زړه كي دي هغه بدوايسوي. په محرم الحرام كي واده اوكوزده:سوال: بعضي اشخاص داسي خبري كوي چي په دي مياست كي داسي شيان لكه واده كوزده اوداسي نوري خوشحالي بنه نه دي په دى كي حقيقت په كوم اندازباندي ده ؟ جواب:دمحرم مياست مباركه اومقدسه مياست ده په دي كي هره نوعه خوشحالي كوزده كول او داسي واده كول داسي يوه اندازه نوري خوشحالي كول داپه زياته اندازه باندي دبركت مياست ده اودابه ټول بركت لرونكي شيان وي وهمدي مياشتي ته دغم اودماتم مياست ويل ګناه اود شيعه ګانو داثراتو څخه يو اثردى.

## (۱۰۷) په دي باب كي بيان دفقر اودميلمستيااودهغوى فضائل دي

دسيدالبشر ﷺ امردى چي دميلمنو دپاره تكليف مه كوئ كه نه نو هغه به دښمن وشميرى اوچ چي ميلمه دښمن وشميرى هغه شخص الله ﷻ دښمن وبالى اوچ چي الله ﷻ خپل دښمن وبالى الله ﷻ هم هغه په خپلو دښمنانو كي حسابي دسيدالبشر ﷺ حديث مبارک دى چي په هغه چاكي خير اوبركت نشته چي هغه دميلمه پالنه نه كوي يو وخت كى سيدالبشر ﷺ ديوچاكره ولاړى دهغه سري زياتي غواوي او اوښان يه هم درلودل لكن هغه شخص دسيدالبشر ﷺ هيڅ مهماني ونكره

دهغه وروسته سيدالبشر ﷺ ديوداسې ښخې دره ولاړې چې دهغې سره کوچنی ېسونه وېږي وې هغې دسيدالبشر ﷺ دپاره يوه بزه حلاله کړه دده د مبارک ميلمستيا په وکړه سيدالبشر ﷺ وفرمايل دوی دواړو ته وګوره اخلاق دالله ﷻ په لاس دي هرچاته يې په ورکوي دهغه ذات کاردی حضرت ابورافع ﷺ وايي چې دسيدالبشر ﷺ کره يوميلمه راغی ده مبارک وماته وويل چې ولاړسه دفلاني يهودي کره ولاړسه وهغه ته ووايه چې زما کره ميلمه راغلی دی ماته درجب ترمیاشتي پوري په قرض باندي اوړه راوليږه يهودي چې دسيدالبشر ﷺ داپیغام واوريدی داسي يې ووېيل چې په الله ﷻ باندي قسم چې زه وهغه ته هيڅ نه ورکوم لکن په هغه صورت کي چې څه ګروي راته کښېږدي ورکوم يې ما وسيدالبشر ﷺ ته دهغه يهودي خبره وکړه ده مبارک راته وويل چې په الله ﷻ قسم چې زه داسمانونو ود ځمکو امين يم که هغه وماته قرض راکړي وای ما به ضرور خامخا دهغه حق ادا کړي وای ته ولاړسه زما زغره په ګروي کي ورته کښېږده.

کله چې ابراهيم ﷺ د دوډی خوړلو اراده وکړه دوه يادري ميله به هغه تلی ددميلمانه غنب به يې کاوی دهغه مبارک لقب ابو الضيفان وو يعني پلار دميلمنو دهغه مبارک دهغه رښتيا اوصادقانه نيت په خاطرباندي هغه ضيافت جاري دی داسي شپه به نه وه چې دهغه سره به له درو ياترلسو پوري ميلمانه نه وو دهغه مبارک کوربه هيڅکله دميلمانه څخه نه خالي کيدی دسيدالبشر ﷺ څخه پوښتنه وسوه چې ايمان څشی دی؟ هغه مبارک په جواب کي ورته وويل چې وخلکوته دوډی ورکول او سلام اچول دسيدالبشر ﷺ څخه سوال وکړل سو چې حج مبرور څه شی دی؟ هغه جواب ورکړ چې وميلمنوته دوډی ورکول اوهم خوږي خبرې کول حضرت انس ﷺ به فرمايل چې په کوم کورکي ميلمه نه وي وهغه کورته ملائکه وي نه داخليږي له همدي مقام سره دميلمانه په باره باندي يوچاپه څه اندازه باندي موافق شعر ويلي دی:

| | |
|---|---|
| لـــــــــــم لااحـــــــــــبه الـــــــــــــضيف او | ارطـــــــــــاح مـــــــــن طـــــــــــرب اليـــــــــه |
| والـــــــــــــضيف يأكـــــــــــــل رزقـــــــــــــه | عنـــــــــــــدي ويـــــــــــــشكرلي اليـــــــــــه |

**ژباړه**: زه ميلمانه ولی نه کم خوښ او دهغوی په خوشحالي باندی ولي تسکين نه سي راته حاصل هغه زماسره خپل رزق خوري خو پرهغه باندي زماشکريه اداکوي په دی باره باندی يوبل شاعر وائي؛

اضـــــاحک ضـــــيفي قبـــــل انـــــزال رحلـــــه
ويخـــــصب عنـــــدي والمحـــــل جـــــديب
ومالخـــــصب للاضـــــياف فى کثـــــرة القـــــرى
ولکنماوجـــــه الکـــــريم خـــــصيب

زماميلمه دپسرلي څخه ترکښته کيدلو مخته ماخوشحاله وي او هغه دقحط سالی پرځای باندي ماته ابادي راولي په زياتره ميلمنوکي خوشحالي نه وي لکن هغه دکريم چهره په څه اندازه باندی شادانه او خوشحاله وي.

په کارهم دادي چې وپرهيزگارو خلکوته د ډوډۍ خوړلو دعوت ورکړل سي او فاسقان نه سي طلب دسيدالبشر ﷺ ارشاد مبارک دی کله چې وخلکو ته دډوډۍ خوړلو دعوت ورکوئ نيکان خلک دياده څخه مه باسئ نبوي حديث مبارک دی چې دنيکانو خلکو څخه بغير دبل چادوډۍ مه خورئ اود پرهيزگارانو څخه بغيربل چاته ډوډۍ مه ورکوئ په دعوت کي دمالدارانو پرځای باندي نيکان اوديانت والاخلک راوغواړئ دسيدالبشر ﷺ حديث مبارک دی چې هغه بدترينه وليمه ده چې دغريبانو پرځای باندي مالداران راغوښتل سوي وي اودارنګه ودعوت کونکي ته داهم په کاردی چې په مهماني کي هغه خپل خپلوان هم دياده نه وباسي ځکه دهغوی دنظره څخه غورزول يوه اندازه قطع دصله رحمي ده اوداهم په کاردي چې خپل دوستان هم را وغواړي اوبل دهغوی ترمابين بايد په ډوډۍ کي څه اندازه فرق نه وي ځکه چې د ډوډۍ په دي خاطرسره هغه فخر اولويي ده دسيدالبشر ﷺ دسنتو بايدپيروي وشي داسي شخص ته دعوت مه ورکوئ چې دهغه په وجه باندي تکليفونه زياتيږي دهغه شخص راتګ دنوروخلکو دخفګان سبب ګرزي بايدداسي شخص ته دعوت ورکړل سي چې هغه د ده دعوت قبلوي دسفيان ثوري رحمه الله قول دی هرڅوک چې ويوداسي چاته دعوت ورکړي چې نه يه خوښوي هغه ګنهګاريږي اوکه چيري مدعو دهغه دعوت قبول کړ هغه دوچنده ګناه ده ځکه چې دعوت کونکي دی دهغه باوجود راغوښتی دی چې نه يه خوښوي ومتقي سړي ته د ډوډۍ دعوت ورکول دهغه د ديانت سره تعاون دی اوبدکارسړي ته د ډوډۍ دعوت ورکول دهغه پربدکاري

باندي يوه اندازه اعانت دی وابن مبارک ته یوه خیاط وویل چي زه دبادشاهانو جامې
گنډم زما په باره کي ستاڅه خيال دی چي زه دظالمانو په تعاون کونکو کي حسابيږم؟ د
مبارک ورته وویل چي نه دظلم مددگار خوهغه شخص دی چي پرتاباندي ستنه اوتار
خرڅوي بهرحال توبه وکاږه.
د دعوت قبلول سنت مؤکده دي په ځینو وختونو کي واجب هم دي سید البشرﷺ فرمایلي
دي چي که څوک ما دسيرلي ويږي توتي غوښي ته را وبولي دعوت راکړي زه دهغه دعوت
قبلوم که څوک ماته دسيرلي هغه مخکي پښه په هدیه کي راکړي هم به زه هغه قبوله کړم.

## (۱۰۸) باب په بیان دجنازي اودقبر کي دی

څوک چي جنازه ويني دهغه دپاره يوه اندازه عبرت حاصليږي په دي کي دعقلانو خلکو دپاره
پند او نصيحت دی لکن غافل سړی هيڅ عبرت هم له دي څخه نه سي حاصلولای څکه زړه يې
همدارنگه غافل وي بلکه دهغه دزړه سختي لازياتوي هغه دافکر کوي چي زه دهميشه دپاره
دنورو جنازي وينم اوداسي فکرنه کوي چي زه هم يوه ورځ دهمدي ملگرو پرلارباندي تلونکی يم
هرچاته پکاردی چي کله دبل شخص جنازه ويني په خپل زړه کي دي ووايي چي صبا يابل صباته
به زما جنازه هم په دي رقم باندي تياريږي اودی به هم له همدي دنیاڅخه مسافرکيږي دحضرت
ابوهريرهؓ څخه روايت دی چي سيد البشرﷺ به کله دجنازي کټ وليدی داسي به يې فرمايل
چي سباته موږ هم درپسي روان يو مکحول الدمشقيؒ چي به کله دجنازي کټ وليدی دابه يې
ويل چي موږ هم ترمابنامه درپسي يو حضرت اسيد بن حضيرؓ وائي چي کله ماجنازه وليدله نو
زما په زړه کي به دهغه دانجام اوزما دسرنوشت په باره باندي خبري راتلي کله چي مالک بن
دينارؒ وفات سو دهغه وروردهغه دجنازي سره دژړا په حالت کي دباندي ووتی هغه وفرمايل
په الله ﷻ باندي قسم چي ترهغوی به زماسترگي يخي نه سي ترڅوچي وماته نسي معلومه چي
زماځای کوم دی ليکن په خپل ټول عمرکي به په دي خبره باندي پوه نسم اعمشؒ وائي چي کله
موږ دجنازي سره ولاړو ټول خلک به موغمگين ليدل اوپه دي باندي به نه پوهيدلو چي موږ وچاته
تعزيت ورکړو جناب ثابت البنانيؒ فرمايي چي کله به موږ دجنازي ولمانځه ته ولاړو هرسړی
به موليدی دهغه دسترگو څخه به اوښکي بهيدلي دسمال به يې ورته نيولی وو دايقيني ده چي هغه
خلک دمرگ څخه ډيرزيات په وهم کي وو ليکن دموجوده عصر اشخاص داسي نه دي روان دمړي
دجنازي سره وي خودوی خاندي اوداسي فضولي اوبې معنا خبري کوي دمړي دمال اوميراث په
باره باندي په خبروکي لگياوي يو څوک هم دخپلي جنازي اومرگ په باره باندي فکرنه کوي داسي
نه وايي چي يوه ورځ خوموږ هم پردي لاره باندي تلونکي يو دهمدي غفلت اصلي سبب هم داده
چي ددوی زړونه سخت دي اودوی نافرماني کوي موږ دالله ﷻ اودقيامت دورځي واهمه دلاسه
ورکړي ده هيڅ فروانکړو ابراهيم الزياتؒ داسي خلک وليدل چي هغوی پرمړي باندي درحم

اظهارکاوی ده مبارک ورته وویل که تاسو دمړي پرځای باندي پرخپل ځان باندي درحم اظهاروکړی دابه ستاسو دپاره به وه ځکه چي هغه نه درو وهم جنو او ډيره ونکو شيانو څخه خلاص شوی دی هغه دعزرائيل ﷺ مخ مبارک ليدلی دی دجانکندن دسختي حال يه تيرکړی دی اوداخري خاتمي دوهم څخه په امن سوی دی دابوعمربن علا قول دی چي زه دجريرسرد ناست وم هغه خپل کاتب ته يوشعروايه په دي وخت کي يوه جنازه راغله هغه داشعربند کړاووايه وويل چي په الله قسم چي زه داجنازو سپين ژيری کړی يم دهغه وروسته يه داشعروايه:

تــــــرد عنا الجنــــــــائز متــــــــبلات
ونهـــــــــــواحين تـــــــــــــذهب مـــــــــــدبرات
كروعـــــــــــةثلـــــــــةلمغـــــــــارذئـــــــــب
فلماغـــــــــاب ســـــــــادت راتعـــــــــت

**ژباړه**: جناري چي راشي موږ په وهم کي سو موږ بيروي اوکله چي زموږ څخه ولاړي سي نو موږ بيرته په لهواو لعب کي اخته يو دپسو درمي په شان باندي چي دليوانو په غارکي بيربږي اوکله چي نيوه غائب سي بيرته پسونه په څريدلو باندي شروع وکړي . دجنازي ادبونه: دجنازي دادبونو څخه تفکر . تنبيه . په تواضع سره دجنازي سره تلل دي لکه چي دفقهي په کتابونو کي د دي اداب اوطريقي بيان سوي دي دهغو ادابو څخه يو داهم دی چي انسان ورباندي بد ګمان و نه کړي که څه هم هغه فاسق وي دليل يه داده چي خاتمه نه ده معلومه دجناب عمر ﷺ څخه روايت سوی دی چي زمږ يو همسايه وفات سو چي هغه ډير يو بدعمله انسان وو ډير خلک دهغه په جنازه کي نه وو حاضر شوي زه دهغه په جنازه کي شريک سوم اوهغه ته مي دجنازي لمونځ ورکړ کله چي دی په قبرکي ايښودل کيدی مادهغه پرقبرباندي وويل چي ای دفلانکي پلاره الله ﷻ دي پرتاباندي رحم وکړي يقيناچي تاخپل ژوند په توحيد کي تيرکړی دی اوخپل مخ دي په سجدوسره ککړکی که خلکو تاته ګنهګار اوبدکار وويل زموږ څخه څوک داسي دي چي ګنهګار اوبدکار دي نه وي.

**يو دعبرت وړ عجيب حکايت**: يوسړی چي هغه هروخت په ګناهونو کي اخته وو هغه وفات سو دی . وبصري ته نژدي ؤسيدی کله چي هغه وفات سو نو دهغه ښځي داسي څوک نه کړپيدا چي دهغه جنازه پورته کړي ځکه چي دهغه همسايه ګان دهغه دزيادت ګناه په خاطرباندي له ده څخه ګوښه سوي وو د ده ښځي دومره مزدوران ونيول چي هغه يه دجنازي ترځايه يووړی لکن هيچاهم دهغه جنازه ونکړه هغه يه په صحراکي د دفنولو دپاره روان کړ ودغي علاقي ته نژدي په يوه دره کي يوزاهد سړی ؤسيدی کله چي دهغه جنازه وصحراء ته ورسيدله يوزاهديه وليدی چي دهغه دجنازي دورکولو دپاره هلته انتظاروو کله چي وخلکوته معلومه سوه چي فلانکی زاهد دهغه دجنازي لمونځ اداکوي دښار ټول

ډېک هغه و خلق او زاهد سره یه هلته دهغه دجنازي لمونځ داکړ خلک د ... دي معمن و ... بندي زيات حيران سول زاهد وويل چي وماته په خوب کي ويل سوي دي چي ملائکي ځای ته ولاړسه هلته به يوه جنازه ووينې او ورسره به هم يوه ښځه وي ته وهغه سړي ته دجنازي لمونځ ورکړه ځکه چي هغه مغفور اوبخښل سوي انسان دی خلګو چي زاهد داخبري واوريدي نورهم پسي حيران سول زاهد دهغه سړي دښځي څخه دهغه دحالاتو دمعلومولو طلب وکړ دهغي څخه يه درک معلوم کړ اوپه همدي ايره باندي يه غور اوفکر وکړ چي داپه کومه وجه باندي بخښل سوی دی ؟ ښځي ورته وويل چي دده ټوله ورځ په شرابخانه کي تيريدله اودی به ټوله ورځ په شرابو کي مست وورا عدورته وويل ياته دهغه ديو نيک عادت څخه هم حال لري ورباندي خبره يي؟ دي ورته وويل چي دري عادتونه يه پيرنم يوداچي کله به دی دسهار پروخت باندي پرهوښ باندي راغی خپلي جامي به يه بدلي کړي اودس به يه وکړ اولمونځ به يه په جماعت سره اداکړ بيابه بيرته وشرابخاني ته تلی هلته به دګناه په کارونو باندي بوخت وو دويم داچي دهغه په کورکي به هميشه دوه يتيمان ؤسيدل دهغوی سره به يه تراولادهم زيات شفقت کاوی اوروږسره به يه زيات محبت هم وو دريم داچي کله به دشپي په وخت کي دهغه دشرابو نشه دهغه دسرڅخه پورته سوه ده به ژړل اودابه يه ويل چي ای کريمه ربه ﷻ دجهنم کوم طرف به زما په دي خبيث اوناپاک بدن باندي ډک کړي زاهد چي داخبري واوريدي ولاړی دهغه دمغفرت راز ورته معلوم سو دحضرت ضحاک ﷺ څخه روايت سوی دی چي يوه سړي دمحمد ﷺ څخه سوال وکړ چي ترټولو لوی زاهد څوک دی؟ سيدالبشر ﷺ ورته وفرمايل چي هغه څوک ده چي قبر اودقبرمصيبتونه يه نه وي هيرکړي د دنياهغه دښايست سامان يه پريښی وي پرهغه فاني شيانو باندي يه وهغه باقي اشياؤ ته ترجيح ورکړي وي سباورځ يه هم په خپل ژوندکي هم حساب نکړ خپل ځان يه دقبرپه خلګوکي حساب کړ دحضرت علي ﷺ څخه چاسوال وکړ څه وجه ده چي تاسو قبرستان ته نژدي ؤسيږی؟ هغه ورته وفرمايل چي هغه ماديرښه همسايه ګان بللي دي ريښتيني همسايه ګان دي چي ژبي يه بندي دي اوسري ته اخرت وريادوي حضرت عثمان بن عفان ﷺ چي به کله دقبرترڅنګ ودريدی ژړل به يي ترداسي وخته چي ژيره مبارکه به يه لنده سوه دعثمان ﷺ څخه په دي باره باندي پوښتنه وسوه چي تاسو د جنت او د دوذخ خبري کوی نه ژاړی اودلته چي دقبر وڅنګ ته ودريږی ژاړی ؟ ده مبارک وفرمايل چي ما دسيدالبشر ﷺ څخه اوريدلي دي چي قبر داخرت دمنازلو څخه اول منزل دی که دقبرمالک په دي کي نجات ترلاسه نه کړي

نو هغه ورو ستـه منزلونه تردي هم سخت اوخطردي روايت سوی دی چي کله حضرت عمرو بن العاص ﷺ قبرستان ته ورسيدی دهغه خپلي سورلی څخه راشيوه سو دوه رکعته لمونځ به يه اداکړ بياوده مبارک ته وويل سول چي تاسي خو مخکي داسي نه کول ؟ هغه وفرمايل چي مادقبر خلک اودهغوی چهري يادي کړي چي زما اودهغوی ترمينځ حائل سوی وي نومادابـه وبلله چي دوه رکعته لمونځ وکړم اودرب ﷻ قرب نزديکت حاصل کړم حضرت مجاهد ﷫ فرمايي چي ترهرڅه مخته قبر دانسان سره داخبره کوي چي زه دچنجو، تنهائي، غربت، خواری، يوازي والي کورېم ماخوستا دپاره هم داشيان تيارکړي دي تازمادپاره څه راوړي دي څه دي راوړي دي اوکه دي نه دي راوړي حضرت ابوذر ﷺ وويل چي زما دفقرورځ به هغه وي چي زه په قبرکي کښيښوول سم اوهلته دوستان راڅخه ولاړسي.

## (۱۰۹) باب دجهنم دعذاب څخه وهم

دبخاري شريف حديث دی چي سيدالبشر ﷺ به دير وختونه دا دعاکوله (ربنا اٰتنا فی الدنيا حسنة وفی الاخرة حسنة وقنا عذاب النار) ای الله ﷻ موږته په دنيااو په اخرت کي نيکي راکړه اوموږ داور دعذاب څخه وساته دابوليلی ﷫ څخه روايت دی چي سيدالبشر ﷺ يوه ورځ خطبه ووبله داسي يه وفرمايل چي دوه لوی شيان جنت اودوذخ مه هيروئ بياسيدالبشر ﷺ په ژړاسو ترداسي وخته يه ژړل چي دږيري مبارکي دواړه طرفونه يه په اوښکوباندي لانده سول اودايه وويل چي که تاسو داخرت په باره کي په هغه څه پوهيدلای چي هغه زه پوهيږم تاسو به پرخاوره باندي غورزيدلي وای اوپورسرباندی به موخاوري شندلای طبراني په اوسط کي روايت کړی دی چي جبرائيل ﷺ په داسي وخت کي دسيدالبشر ﷺ وخواته راغی چي په دي وخت کي يو وخت هم نه وو راغلی محمد ﷺ دهغه دپاره ودريدی پوښتنه يه وکړه چي څه خبره ده زه ستاپه رنګ کي فرق وينم جبرائيل ﷺ ورته وويل چي زه ستاوڅنګ ته ځکه راغلی يم چي الله ﷻ دجهنم دلازيات ګرمولو حکم کړی دی سيدالبشر ﷺ ورته وويل چي ای جبرائيل ﷺ ماته دجهنم په باره باندي يو څه بيان وکړه جبرائيل ﷺ ورته وويل چي الله ﷻ حکم وکړ چي په جهنم کی دي ترزرو کلونو نور اوربل شي ترداسي وخته چي هغه تک سپين واوښتی بياحکم وسو چي زرکاله دي نوراورپکي بل سي تردي چي هغه تک سورسو اوبيا دزرو کلونو امروسو چي اوردي بل کړل سي چي هغه تک توررواوښتی اوس جهنم تک توردی او اورپکي ديوي شي دپاره هم نه مرکيږي په هغه ذات اقدس دي زماقسم وي چي ته يه په حقه سره مبعوث

کړی يي که جهنم دستني ادسوري په اندازه باندي خلاص کړل سي نو دهغه دګرمۍ څخه به د دنیاهغه ټول مخلوق مړسي په الله ﷻ مي دي قسم وي چي که د جهنم دساتونو ملائکه وو څخه یوه ملائکه دنیاته راسي نو د دنیاټول مخلوق به دهغي دبدبويي او بدشکل څخه چي هغه محسوس کړي مړه به سي په الله ﷻ قسم چي که دجهنم دزنجيرونو څخه یوه کړۍ د دنیاپرغرونو باندي کښیښوول سي هغه غرونه به ټول ویلي سي اوهغه کړۍ به لاندي ومځکي ته ورسيږي سید البشر ﷺ جبرائیل ﷺ ته وفرمایل چي نور زمادپاره هم دومره کافي دي زماځیګر نور مه ټوټې ټوټې کوه هسي نه چي له همدی تکلیف څخه مړسم سید البشر ﷺ چي وجبرائیل ﷺ ته وکتل دهغه مبارک دسترګوڅخه اوښکي رواني سوي سید البشر ﷺ دهغه څخه سوال وکړ چي ایاته هم ژاړي حال داده چي دالله ﷻ په نزدباندي ستالوی مقام دی جبرائیل ﷺ ورته وویل چي ولي به نه ژاړم حال داچي زه دژړاکولو ډیر زیات لایق یم هسي نه چي الله ﷻ ماهم په ازمویننه کي واچوي لکه چي ابلیس لعین یه په ازمویننه کي واچاوی خوار اوذلیل یه کړ هغه هم دملائکه وو د ډلي څخه وو زه پردي باندي ویریږم هسي نه چي دهاروت اوماروت په رقم مصائبو کي ماهم مبتلاکړي راوي وایي چي سید البشر ﷺ دجبرائیل ﷺ دهمدي خبروپه اوریدلوسره په ژړاسو جبرائیل ﷺ هم په ژړاسو دواړه په ژړاباندي اخته ووچي یو اواز ورته وسو چي ای جبرائیله اوای محمد ﷺ تاسو دواړه دجهنم داور څخه په امن یاست تاسو به دالله ﷻ دحکم نافرماني نه کوئ جبرائیل ﷺ دهمدي اواز په اوریدلو سره سم پرواز وکړ ولاړی سید البشر ﷺ دانصارو دیوي داسي ډلي څخه تیرسو چي هغوی به فضولي خبري کولي اوبي ځایه به یه خندل سید البشر ﷺ ورته وویل چي تاسوخاندی اوستاسو شاته جهنم دی که تاسو زما په رقم باندي پوهیدلای بیابه مو ژړازیاته اوخندابه موکمه وه خوراک اوڅښاک به مو پریښی وای وغرونو ته به ختلي وای هلته به مو دالله ﷻ عبادت کولای په همدي وخت کی اوزوسو چي ای محمده زمامخلوق مه نااميده کوه ماته زیری ورکونکی هستولی يي تکلیف اچونکی مي نه يي هستولی سید البشر ﷺ وفرمایل چي خپل اعمال اصلاح کړئ اوتاسو الهي نزدیکت ترلاسه کړئ روایت دی چي سید البشر ﷺ وجبرائیل ﷺ ته وویل چي څه وجه ده ما تروُسه میکائیل ﷺ په خنداباندی نه دی لیدلی جبرائیل ﷺ ورته وویل چي دکوم وخت څخه چي اورپیداسوی دی میکائیل ﷺ هم نه دي خندلي دابن ماجه اوحاکم حدیث دی چي ستاسو دغه اور دجهنم داور او ولسمه برخه ده که دا درحمت په اوبو باندي نه وای پریمنځل سوی تاسوبه بیافائده نه وای ځني اخستي او دا

اور هروخت والله ﷻ ته دعاکوي چي مادوباره وجهنم ته ونيژه بيهقي روايت کړی دی چي حضرت عمر ؓ دا اية کريمه ووايو ﴿كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا الْعَذَابَ﴾ ژباړه: کله چي دهغوی څرمن ويلي سي نو بياموږ ورته نوره څرمن ورکوو چي هغه دعذاب خوند واخلي وحضرت کعب ؓ ته يه وويل چي ماته ددی اية کريمه تفسير ووايه که تاربنتيا وويل نوزه به ستا تصديق کوم او که داسي نه نو به يه ردکم کعب ؓ ورته وويل چي دانسان څرمن به وسوځي په هغه وخت کي به بيرته جوړه سي يابه هره ورځ شپږزره واره نوي کيږي عمر ؓ ورته وويل چي ربنتيا تا حقيقت وويل بيهقي دهمدي اية په تفسير کي دحضرت حسن ؓ څخه قول نقل کړی دی چي هره ورځ به اويا زره واره دانسان څرمن سوځي اوهروار به دسره نويه کيږي دمسلم شريف په يوحديث کي راغلي دي چي په دنياکي ترټولو ډيرمالدارسړی به وجهنم ته راوستل سي وهغه ته به په جهنم کي يوه غوټه ورکړل سي اوپوښتنه به څني وسي چي ای انسانه تاکله هم عيش ليدلی دی اويا پرتاباندي کله هم عيش اود نعمتونو باران سوی دی؟ هغه به ورته ووايي چي نه هيڅ وخت مي هم عيش نه ده ليدلی بيابه هغه په دنياکي هغه ترټولوبرداشت کونکی و جهنم ته راوستل سي وهغه ته به دجنت چکر ورکړل سي اوپوښتنه به څني وسي چي ای انسانه تاکله هم تنګدستي اوتکليف ليدلی دی؟هغه به ورته ووايي چي نه مانه دی ليدلی او ورته وبه ويل سي چي نه په الله ﷻ باندي دي زما قسم وي که يووخت هم پرما باندي تنګدستي اوغربت هم راغلی وي هغه دجهنم وسيدونکی به ژاړي دابن ماجه روايت دی چي پرجهنميانو باندي به ژړامقرره سي هغوی به ترهغه وخته وژاړي ترڅو چي اوښکي يه ختمي سي بيابه دهغوی داښکوپرځای بانديويني را رواني سي ژاړي به بيابه يه په مخ کي شيلي پيداسي اودوند به جوړکړل سي که بالفرض کښتی پکښي روانه کړه مي هغه به پکښي وچليږي دابويعلی حديث دی چي ای خلکو وژاړئ که ژړا تاسوته نه درځي بيادژړا په شکل باندي ځانونه جوړکړئ ځکه چي په جهنم کي به دومره وژاړی چي پرمخ باندي به مواوښکي داسي بهيږي لکه ستاسو پرمخ باندي چي نهرونه وي بيابه ستاسو اوښکي ختمي سي اوويني به رواني سي سترګي به مو دزخمونو له وجي څخه په وينو باندي رنګ کړل سي.

## (۱۱۰) باب دميزان اوپل صراط په بيان کي

بوداؤد د حضرت حسن ﷺ وهغه دبي بي عائشي ﷺ څخه روايت کوي چي هغي وژړل محمد ﷺ ... څخه سوال وکړ چي اى عائشي ﷺ څه وجه ده ولي ژاړي؟ هغي په جواب کي ورته وويل چي ماته جهنم رايادسو ژړا راغله ايادقيامت په ورځ باندي دخپلي کورني سره مدد اوکومک کولای سم اوکه يه نسم کولای؟ سيدالبشر ﷺ ورته وويل چي په دروخايونو کي څوک دچاسره څه کومک نه سي کولای يو هغه داعمالو دتللو پروخت باندي ترهغه چي پوه سي چي داعمالو تله يه درنه ده که سپکه ده دويم داعمال نامو د الوتلو په وخت کي ترهغه چي عمل نامه يه په ښي طرف باندي راځي اوکه په چپ طرف باندي اوکه شاطرف ته اودريم هغه وخت چي پل صراط کيښوول سي تردي چي هغه په دي باندي پوه نسي چي پرتيريدلای سي اوکه نه. **پل صراط او ورسره نژدي سيدالبشر** ﷺ: په ترمذي شريف کي راغلي دي چي حضرت انس ﷺ وويل چي ماد سيدالبشر ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي ! اياتاسو به دقيامت په ورځ باندي زماسپارش وکړی که نه؟ ده په جواب کي راته وويل چي انشاألله ماورته وويل چي زه به نوتاسو چيري پيداکړم؟ده مبارک راته وويل چي دپل صراط سره ماورته عرض وکړ که چيري هلته نه وي ده راته وويل چي ده ميزان په څنګ کي مي پياغواړه ماورته عرض وکړ که چيري هلته هم نه وي بيادي چيري غواړم ده راته وويل چي بيامي دحوض کوثرپه څنګ کي غواړه زه دهمدي درو ځايونو څخه بغيرپه نورو ځايونو کي نه يم دحاکم روايت دی چي دقيامت په ورځ باندي ميزان ايښودل کيږي دومره به لوی وي چي اسمان اومځکه هم کي کيښودل سي هم به هغه دواړه کي ځای سي ملائکه وي عرض کوي چي ياالله ﷻ په دي کي دچاعملونه تلل کيږي الله ﷻ و... ايي چي دخپل مخلوق څخه چي زه وغواړم دهغه اعمال پکي تلم ملائکه ... سبحانك ماعبدناك حق عبادتك ته پاک يې موږ ستا په حقه باندي ... په کيښودل سي هغه به دچرې څخه هم زيات تيره وي ملائکه ... وي باندي به څوک تيريږي الله ﷻ به وفرمايي چي دخپل ... ملائکه وي به بياعرض وکړي چي سبحانك ماعبدناك ... باندي عبادت نه دی کړی.

... عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت سوی ... په ... باندي تيره وي

خلک به وربانديِ ښو ييږي هغه باندي به داور ازغي ايښودل کيږي هغه به په خلګوباندي
ننوزي ځوک چي ورباندي نه سي تللای هغه به لاندي پکي ولويږي بعضي خلک به
تيزتيريدونکي وي يعني بعضي به دبرق په شان باندي وي اوبعضي به دهوا په رقم باندي
تيريږي بعضي به پراسونو باندي سپاره وي يعني داسونو دسپروپه شان به ورباندي
تيريږي اوبعضي به دمنډه وهونکوپه رقم ورباندي تيريږي دهغه وروسته به هغه دکم
رفتارکونکي وي بيابه هغه دپياده تلونکي په رقم باندي وي په اخرکي به داسي ځوک وي
لکه چي هغه اور سوځلی وي اوهغه په زيات تکليف سره روان وي بيابه الله ﷻ هغه په
خپل فضل اوکرم سره په جنت کي داخل کړي هغه ته به وويل سي وغواړه ته څه غواړي هغه
به ورته ووائي چي ياالله ﷻ ته زماسره ټوقي کوي بيابه ورته وويل سي چي وغواړه ته څه
غواړي ترداسي وخته چي دهغه به هغه ټولي غوښتني پوره اومکملي سي الله ﷻ به ورته
ووايي ستالپاره هغه هم دي چي تاوغوښتل اودهغه سره برابرنور شيان هم دي چي هغه به
وتاته درکړل سي .دمسلم شريف روايت دی چي حضرت ام بشرانصاريه رضي الله عنها فرمايي چي
م دحضرت عائشي رضي الله عنها په کورکي دسيدالبشر ﷺ څخه داسي واوريدل چي انشاآلله
دهغو خلګو څخه چي تردرخته لاندي په بيعت کړی دي يوهم ودوذخ ته ولاړنسي حضرت
حفصي رضي الله عنها وويل چي هويارسول الله ﷺ محمد ﷺ وفرمايل (وان منكم الا واردها)
ستاسوڅخه به هريو پرپل صراط باندي تيريږي بياسيدالبشر ﷺ وفرمايل چي الله ﷻ
فرمائي: ﴿ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوا وَّنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا﴾ **ژباړه:** بيامونږ وهغو خلګوته
نجات ورکوو چي هغه پرهيزګاري کوي اوپريږدو هغه ظالمان پکي غورزولي.
داحمد ﷺ څخه روايت دی چي يوي دلي دوارد په معنی کي اختلاف کړی دی بعضو ويلي
دي چي په دي کي مومنان داخليږي اوبعضو ويلي دي چي ټول خلک پکي داخليږي
بيا نه ﷻ وهغو خلګو ته نجات ورکوي چي هغه پرهيزګاران دي بعضو خلګو دحضرت
جبريل ؑ څخه پوښتنه وکړه هغه ورته وويل چي ټول خلک به پرپل صراط باندي تيريږي
بيا به خپل هغه دواړه غوږونه ونيول ويه فرمايل چي دا دواړه دي کاڼه سي که به دا
م دمحمد ﷺ څخه نه وي اوريدلي او دورد څخه مراد دخول دی هرنيک اوبدسړی به په
دي کي داخليږي خوپرمؤمنانو باندي به دابراهيم ؑ په رقم باندي جهنم يخ اوسالم کړل
سي ترداسي اندازي به يخ کړل سي چي مؤمنان به ديخ څخه شکايت وکړي بياالله ﷻ
وهغو خلګو ته نجات ورکوي چي هغوی پرهيزګاري کړي وي لکن هغه ظالمان په جهنم
کي پريښودل کيږي دحاکم روايت دی چي خلک به وجهنم ته داخل کړل سي اوهغوی به

دخپلو عملونو په برکت باندي د دي څخه ووزي څوک به دبرق درڼاپه رقم باندي ووزي اوڅوک به دهوا په رقم باندي ووزي اوڅوک به داسي داس دسورلی په شان باندي ووزي اوڅوک به داوښ دسورلی په شان باندي تيريږي څوک به داسي وي لکه هغه منډه وهونکی انسان اوڅوک به داسي تيريږي لکه هغه پياده تلونکي سړی الله ﷻ دي موږ په هغه اولينه ډله کي حساب کړي امين امين امين .(حليم زابلو ال ستاسو ددعا په هيله).

## (۱۱۱) باب دسيدالبشر محمد ﷺ دوصال مبارک بيان

حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت ده دی مبارک وايي چه موږ دهغه خپلي مور بی بی عائشه ﷺ وکورته ورغلو موږ په داسي وخت کي داخل سوو چي په دی وخت کي دسيدالبشر ﷺ دجدائي اوفراق حالت رانږدي سوی وو سيدالبشر محمد ﷺ چه کله موږته وکتل ده مبارک سترګي داوښکو څخه ډکې شوي دهغه وروسته يه داسي وفرمايل چه ای صحابه کرامو زه وتاسوته زيری درکوم الله ﷻ تاسو پيداکړاست اويايه ژوند درکړ دهغه وروسته الله ﷻ تاسوته پناه درکړه اوستاسو يه مدد هم وکړ زه تاسوته دالله ﷻ دجانب څخه دويريدلو توصيه کوم بلاشبه اوشک زه دالله ﷻ دطرف څخه تاسوته ښکاره اوظاهر ويرونکی يم ؤس الهی فيصله ده چي مرګ را رسيدلی ده زه ؤس دالله ﷻ ، سدرة المنتهی، اوهغه ډکوجامونو پر طرف باندي روان يم نوتاسو پرخپلو ځانو اوپرهغه چاباندی چي هغه دما څخه وروسته ايمان راوړي او ايمان باندي مشرف شي سلام ووا ياست روايت سوی ده چي سيدالانبياء دوصال په وخت حالت کي و جبرائيل ﷺ ته وويل چي ای جبرائيله زماد رحلت څخه وروسته به زما دامت دپاره څوک وي الله ﷻ وجبرائيل ﷺ ته وويل چي زما وحبيب ته ووايه اوزيری ورکړه چي زه به يه دامت په باره کي خفه نکړم او دهمدي خبري زيری هم ورکړه چي کله خلک دمحشر په ورځ باندي پاڅول کيږي ترټولو اولين به هغه پاڅيږي هروخت چي ټول خلک راجمع سي په دي وخت کي به زماحبيب دهغوی سردار وي جنت به ترهغه وخته پرنورو امتونو باندي حرام وي ترهغه وخته چه دسيدالانبياء محمد ﷺ امت نه وي ور داخل سوی دهمدي بشارت زيري په اوريدلو سره سيدالانبياء محمد ﷺ وفرمايل چي ؤس زما سترګي يخي سوي ام المؤمنين عائشه صديقيه ﷺ وايي چي محمد ﷺ موږته حکم راکړ چي رماته داوو څهانو په اوبو سره غسل راکړئ موږ هم داسي وکړل ده مبارک ته مو غسل په اوبو داوو څهانو سره ورکړيه دي وخت کي سيدالبشر ﷺ ته راحت حاصل سو دهغه وروسته يه دباندي تشريف يووړی وصحابه کرامو ته يه دلمانځه امامت ورکړ دهغه وروسته يه داحد دشهيدانو دپاره دمغفرت بخښني دعاوکړه وانصارو ته يه توصيه وکړه داسی يه وفرمايل چه ای مهاجرينو تاسو زياتيږی اوانصار دهغي ورځي په رنګ باندي پرهغه اولين شکل

باندي پاته دي هغه نه دي زيات سوي د انصار زما سره راز دار دي و هغوی ته ما پناه ورکړي ده په همدي وجه باندي دهغوی دنيکو خلکو قدر او عزت وکړئ او هغه څوک چي يکي بد دي هغه معاف کړئ دهغه وروسته يه وفرمايل چه بيشکه ونده ته دالله ﷻ او دنيا د نزديکيدلو ترمينځ اختيار ورکړل سوی ده انسان هغه څه خوښ کړل چه هغه دالله ﷻ سره دی په دي وخت کي حضرت صديق اکبر رضي الله عنه زيات په فرياد سو په دي باندي پوه سو چي دسيد البشر ﷺ په وينا کي دبنده څخه مراد پخپله سيد البشر محمد ﷺ ده محمد ﷺ ورته وفرمايل چي ای ابوبکر صديقه ته خپله تسلي قائمه اودائمه ولره دابوبکر رضي الله عنه د دروازي څخه بغير هغه مسجد ته پر طرف باندي راخلاصيدونکي دروازي ټولي بندي کړئ دليل هم داده چي زه داسي بل څوک نه پيژنم چه تر ابوبکر صديق رضي الله عنه دي هغه وماته په دوستي کي زيات فضيلت او بهتري ولري دا دبي بي عائشي رضي الله عنها امرده چي دسيد البشر ﷺ وفات زما په کورکي زما دزړه او غاړي ترمابين سوی ده او الله ﷻ دمرګ په وخت کي زما اود ده دخولي ناړي سره يو ځای کړي په دي وخت کي زما کره زما ورور عبد الرحمن راغی چي دهغه په لاس کي مسواک وو سيد البشر ﷺ په دي وخت کي دمسواک پر طرف باندي وکتل زه په دي باندي پوه سوم چي دی مبارک مسواک غواړي ما هغه مسواک دعبد الرحمن څخه واخست او هغه مسواک مي دسيد البشر ﷺ په خوله مبارکه کي ورکړ لکن مسواک زيات سخت وو ما ورته عرض وکړ چي جنابه زه به دامسواک نرم کړم ده مبارک دسر په اشاره کولو سره راته وويل چي نرم يه که ما هغه مسواک نرم کړ دسيد البشر ﷺ په حضور کي داوبو يولوښی پروت وو سيد البشر ﷺ به په هغو اوبو کي لاس دننه کړ داسي به يه ويل چي لااله الاالله دمرګ دپاره سکرات دي دهغه وروسته يه بيالاسونه پورته کړل داسي يه وويل الرفيق الاعلی الرفيق الاعلی الرفيق الاعلی ما ورته عرض وکړ چي قسم په الله ﷻ تا مونږ ته هيڅ ترجيح نه ده راکړي.

**انصار او دهغوی غونډه:** حضرت سعيد بن عبدالله رضي الله عنه دخپل پلار څخه روايت کړی ده چي انصارو کله دامشاهده وکړه چي دسيد الانبياء ﷺ طبيعت مخ پر خرابيدو ده دوی دمسجد پر شاوخوا باندي راټول سول حضرت ابن عباس رضي الله عنه وسيد البشر ﷺ ته راغی دانصارو دارادو په باندي يه اطلاع ورکړه دهغه څخه وروسته حضرت فضل راغی دهغه څخه وروسته حضرت علي رضي الله عنه راغی هغه هم هغه خبره وکړه هغه چي سيد البشر ﷺ ته مخکي سوي وه سيد البشر ﷺ خپل لاس مبارک ورپه ګوته داسي يه وفرمايل چي زما دالاسونه تکيه کړئ هغوی دسيد البشر ﷺ لاسونه مبارک ونيول تکيه کړل سيد البشر ﷺ د دوی څخه سؤال وکړ چي تاسو څه ويل غواړی هغوی ورته ووييل چي مونږ سره داواهمه پيدا ده چي ته د دنيا څخه رخصت اخلي سيد البشر ﷺ ولاړ سو دحضرت علي رضي الله عنه او حضرت فضيل رضي الله عنه په مرسته باندي روان سو حضرت عباس رضي الله عنه دسيد البشر ﷺ څخه وړاندي روان وو سيد الانبياء خپل سر مبارک تړلی وو پښي مبارکي وړسي کشيدلي په داسي حال کي ومبرته ورسيدی دممبر په هغه اولينه ځينه کي کښيني خلک ورته

زا حاضرسول سیدالبشر ﷺ دحمد اوثناء څخه ورسته ورته وویل چي ای خلکو ماته اندازه لګیږي چي تاسو زما دوفات څخه په واهمه کي یاست ایاتاسو مرګ نه پیژنی؟ اوتاسو دخپل نبی ﷺ مرګ نه خوښوی ایامااوتاسوته خپل نفسونو دمرګ خبرنه ده درکړی اوهغه دمخکي لیږل سویو انبیاؤ علیهم السلام څخه کوم نبی ژوندی پاته دی چي زه هم دهمیش دپاره ژوندی پاته سم خبرؤسئ زه دهغه خپل خالق لایزال ﷻ سره ملاقي کیدونکی یم اوتاسو هم ورسره ملاقي کیږی زه وتاسو ته دهغه اولینو مهاجرینو سره دښه سلوک اوښي ګذاري توصیه کوم او ومهاجرینوته هم وصیت کوم چي په خپلو مابینو اوستاسو سره ښه اونیک سلوک وکړي دلیل هم هغه الهی فرمان دی چي قسم دی په زمانه په تحقیق سره انسان په نقصان کي دی لکن هغه خلک په نقصان کي نه دي چي هغوی ایمان راوړی وي تول اکساب کارونه دالله ﷻ په منشا سره کیږي داسي نه ده چي دیو کار تلوار یاتاخیر ته په خپل طبیعت سره وکړي ځکه الله ﷻ دیو شخص په تلوار سره تلوار نه کوي هرڅوک چي الله ﷻ غالب وبولي هغه غالب سو اوهرڅوک چي دالله ﷻ سره فریب اوچل وکړي هغه خپل ځان تاواني کړ دځان سره یه فریب اوچل وکړ ؤس تاسو ودي خبري ته نزدي سوي یاست چي که تاسو متصرفین وګرزول سی تاسو به په مځکه کي فساد اوقطع دحوصله رحمي وکړی.دسیدالبشر ﷺ توصیه دانصارو په باره: د دارینو رهنما اوسردار سید الانبیاء ﷺ دانصارو په باره باندي داسي وفرمایل: زه تاسوته دانصارو سره دښه سلوک اوښي ګذاري توصیه کوم دلیل هم داده چي داهغه خلک دي چي مدینه منوره یه دارالهجرت وګرزوله اوترتاسو په دمخه ایمان راوړ تاسو دوی سره زیات احسانونه کوئ دوی ستاسو سره خپلي میوي نیمی کړي اودوی ستاسو سره دومره احسان وکړ چي په خپلو کورونو کي یه ځایونه درکړل اوتاسوته یه پرخپل ځان باندي ترجیح درکړه اوحال هم داوو چي دوی پخپله تنګ لاسي اوغریبان وو خبرؤسئ کوم څوک چي د همدي خبري متصرف جوړسي چي د دوو ورونو ترمایین فیصله کن وي هغه ته پکاردی چي خپل ځان بي ترجیح کي خبرؤسئ زه ستاسو دپاره اول تلونکی یم تاسو به په ماپسي راتلونکي یاست زماسره به ملاقي کیږی راسره یوځای به یاست خبرؤسئ چي هغه ستاسو دګښته کیدلو ځای زماحوض کوثردی زماحوض دی تاسو ته معلوم وي هغه دصنعا دښآرونو ترمایین ده دفاصلي په برابردی په همدي کي دکوثر دویالي څخه په داسي اندازه باندي اوبه رواني دي چي په رنګ باندي ترشیدو سپیني دي اوپه نرم والي کي ترکوچو نرمي دي په شرین والي کي ترشاتو زیاتي شیریني دي هرڅوک چي دهمدي اوبو څخه چښل وکړي هغه په یو وخت کي هم نه تږی کیږي او کاني دهغه حوض دملغلرو څخه دي مځکه یه دمشکو ده څوک چي دبعثت په ورځ باندي دهمدي اوبو څخه محروم اوبي برخي سي هغه دهرقسم راحت څخه محروم دی خبرؤسئ هرڅوک چي غواړي صبا زما وطرف ته راسي هغه باندي لازمي ده چي دناروااوناجائز خبرو څخه ځان وساتي حضرت ابن عباس ﷺ عرض وکړ چي قریشوته هم توصیه وکړه سید البشر ﷺ وفرمایل

زه قريشوته داسي نصيحت كوم چي خلك د قريشو تابع دي د دوی هغه ښه اوبدکارونه پردوی باندي اثركوي دخلكو سره ښه كوئ گناهونه دمابين څخه ورئ قسمتونه بدلوئ كله چي خلك نيكان وي دهغوی حاكمان هم نيكان وي او كله چي خلك بدسي حاكمان اومشيران به هم ظالمان شي لكه چي په دي باره باندي الهي امرهم دی همدارنگه موږ بعضي دبعضو ظالمان ولي گرزوو دهغوی داعمالو په وجه باندي دحضرت ابن مسعود ﷜ څخه روايت سوی ده چي سيدالبشر ﷺ و ابوبكر ﷜ ته وويل چي ای ابوبكره ﷜ پوښتنه وكړه ابوبكر ﷜ ورته په جواب كي وويل چي ای دالله ﷻ نازوردار رسوله وخت كم ده هغه مبارك ﷺ ورته وويل هو وخت كم پاته ده ابوبكر صديق ﷜ ورته وويل ای دالله ﷻ رسوله څه چي دالله ﷻ سره دي هغه دي ستا مبارك وي افسوس ارمان چي موږ خپل څايونه پيږندلای سيدالانبياء ﷺ ورته وفرمايل د الله ﷻ پرطرف دسدرة المنتهى په طرف بياد جنت المأوی پرطرف باندي بياد فردوس اعلی پرطرف باندي دشراب طهور څخه دكې سوي پيالې اود رفيق اعلی مبارك په طرف باندي ژوند اودالهي حفظ په امان كي حضرت ابوبكرصديق ﷜ عرض وكړ چي يارسول الله ستا دغسل انتظام به څوک كوي؟ ده مبارك ورته وويل چي هغه څوک چي هغه وماته نزدي وي اوبيا وهغوی ته نزدي دهغه وروسته په وفرمايل چي وتاته دكومو كفرو څخه كفن دركړو؟ ده مبارك ورته وويل چي ديمني څادر اوسپين مصري څادر څخه زماكفن جوړكړئ دهغه وروسته ابوبكر ﷜ عرض وكړ ستا دجنازي لمونځ موږ څنگه وكړو دالته دی مبارك په ژړا سو محمد ﷺ هم وژړل دهغه وروسته په وفرمايل چي الله ﷻ دي تاوبخښي هروخت چي تاسو وماته غسل راكړی بياكفن راكړئ دهغه وروسته په همدي كوركي په خپل كټ باندي دقبر په څنگ كي ماكښيږدئ تاسو ديوڅه وخت دپاره راڅخه ووزئ ترټولو مخته پرماباندي الله ﷻ درود وائي دهغه وروسته ملائكه درود راباندي وائي يعني ملائكه وو ته د درود ويلو اجازه كيږي ترټولو مخته جبرائيل ﷺ درود راباندي وايي بياميكائيل ﷺ بيااسرافيل ﷺ بيا ديوي دلې سره پرماباندي عزرائيل ﷺ درود وائي دهغه وروسته ټولې ملائكې راځي دهغه وروسته بياتاسو دلې دلې راسئ پرماباندي درود ووايا ست فريادونه اوچيغې مه وهئ په همدي ترتيب باندي ماته ازار مه رسوئ دا پكار دی چي دټولو څخه وړاندي امام راسي اوزما داهل بيت يعني دكور خلك بيادي دهغوی خپلوان بيابڅې بياماشومان.

ابوبكرصديق ﷜ عرض وكړ چي تابه وقبرمبارك ته څوک كښته كوي؟ ده مبارك ورته وويل چي زماهغه زيات كورني نزديكان بيادهغوی هغه نزدي خپلوان دملائكه وو لويه دله به ماوقبرته شوه كوي چي څوک به هغوی نهويني خوهغوی به تاسو ويني دام المؤمنين بي بي عائشه ﷞ څخه روايت دی چي كومه دسيدالبشر ﷺ درحلت او د داغ ورځ وه په هغه ورځ باندي دورځي په اوله حصه كي خلكو دسيدالبشر ﷺ طبيعت سم وليدی صحابه كرام ﷡ د زيادت سرور او خوشحالي

په خاطرباندي دخپلو کورونو اوکارونو پرطرف باندي ولاړل سيدالبشر ﷺ تنها ومور ته پاته سو مور هم دير په زياته اندازه باندي خوشحاله سوو ناڅاپه ومور ته سيد البشر ﷺ وفرمايل چي تاسو دباندي ولاړي سئ په دي وختکي ملائکه وي د دننه راتللو اجازه غواړي زماڅخه بغير نوري ټولې دباندي ولاړي په همدي وخت کي دسيدالبشر ﷺ سرمبارک زماپه غيږکي وو په دي وخت کي سيدالبشر ﷺ راکښېنستی زه دخوني په يوکونج کي کښېنستم دي ملائکي دسيد الانبياء محمد ﷺ سره زيات وخت تيرکړ پټې خبري يه ورسره وکړي دهغه وروسته سيدالبشر ﷺ زه وروغوښتلم خپل سرمبارک يه زماپه غيږکي کښېښووی دهغه وروسته يه نوري بي بي ګاني هم راوغوښتلې په دي وخت کي ماعرض وکړ چي يارسول الله ماته حالت داسي ښکاريږي لکه داملائکه چي جبرائيل ﷺ نه وه ده مبارک راته وويل چي هو په دي کي ته بالکل صادقه يي دا ملک الموت عزرائيل ﷺ هغه ماته وويل چي زه الله ﷻ ستا دپاره راليږلی يم ماداغوښتل چي ستا داجازي څخه بغير داخل نسم الله ﷻ وماته همداسي امرکړی وو زه ستا داجازي بغير ستا روح نه قبض کوم نو ؤس ستاڅه خيال ده ماته څه حکم کوي؟ ماپه جواب کي ورته وويل چي يوه اندازه صبرکول پکاردي ترهغو چي جبرائيل ﷺ راځي داؤس دجبرائيل ﷺ دراتللو وخت دی حضرت عائشه ؓ وايي چي په همدي وخت کي جبرائيل ﷺ راغی حاضرسو مادهغه دقدمونو اواز معلوم کړ ومي پيژندی دکور انسانان دباندي ووتل په دي وخت کي جبرائيل ﷺ دننه داخل سو په دي وخت کي يه عرض وکړ چي يانبي الله ﷺ الله ﷻ پرتاباندي سلام کوي اوپوښتنه کوي چي ته خپل ځان څنګه محسوسوي اوحال دا ده چي هغه ستا داحوالو څخه ترهرچابنه خبردارده ليکن دالله ﷻ اراده داسي ده چي ستاتعظيم عزت اوهم وقار زيات کړي اوپرمخلوق باندي ستا دعزت اوعظمت وقار پايه تکميل سي په دي وخت کي سيدالبشر ﷺ وفرمايل چي زه پرخپل بدن باندي زيات درد اوتکليف محسوسوم جبرائيل ﷺ ورته وفرمايل چي ای سيدالانبياء تاته دي زيری وي الله ﷻ داسي فيصله کړي ده چي تاوهغو انعاماتو ته ورسوي چي هغه يه ستا دپاره تيار اومهياکړي دي سيدالبشر ﷺ وفرمايل چي ای جبرائيله ملک الموت زماڅخه اجازه وغوښتله چي هغه په اجازه باندي روح راڅخه قبض کړي جبرائيل ﷺ ورته وويل چي ستا رب ﷻ ستا د ديدار په انتظار دی په الله ﷻ قسم چي ملک الموت دهيچا څخه اجازه نه ده غوښتي اونه به دهمدي څخه وروسته دچاڅخه اجازه وغواړي په دي باندي خبرؤسه چي الله ﷻ ستاشرف اوعزت نورهم زيات کړ اوهغه رب ﷻ ستا وملاقات ته شوق مند ده محمد ﷺ وفرمايل چي زه به ترهغوسکون حاصل نه کړم ترهغه وخته چي وخپل رب ﷻ ته ولاړ نسم سيد البشر ﷺ وخپلو بي بي ګانو ته وويل چي راسئ او وبي بي فاطمي ؓ ته يه وويل چي ته زما وخواته نژدي راسه هغه مبارکه راغله پرخپل بابک مبارک باندي يه ځان وغورزاوی سيدالبشر ﷺ دهغې سره پټې خبري وکړي کله چي بي بي فاطمي ؓ خپل سرپورته کړ سترګي مبارکي يه داوښکو څخه ډکې وي

دزيات غم دلاسه په خبري نه سواى كولاى بيايه ورته وفرمايل خپل سرو ماته راڼژدي كه فاطمي رضي الله عنها خپل سرمبارک ده ته ورنژدي کړ بیاورڅخه ليري سوه په خنداسوه ويه خندل خوخبري يه نه سواى كولاى موږ بياوروسته دفاطمي رضي الله عنها څخه سوال وكړ چي داڅه كيفيت وو سيدالبشر ﷺ تاته سيدالبشر ﷺ څه وفرمايل چي يو وار دي وژړل اوبيادي وخندل هغي راته وويل چي سيدالبشر ﷺ وماته وويل چي زه د دنياڅخه تلونكى يم رحلت كوم اوبيايه راته وويل ماديروژړل اوبيايه راته وويل چي زماد كورنۍ په خلكوكي به اولينه ته يي چي زماسره به يوځاى كيږي ته به زماسره اوسيږي زه خوشحاله سوم خنداراغله بيا سيد البشر ﷺ دفاطمي رضي الله عنها دوه ماشومان راوغوښتل اوهغوى دواړه يه خپلې سيني ته راتينګ كړل بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي چي ياملک الموت راغی اجازه يه وغوښتله سيد البشر محمد ﷺ اجازه وركړه ملک الموت عرض وكړ زمادپاره څه حكم دی سيد البشر ﷺ ورته وويل اوس ماوخپل رب ﷻ ته بوزه ملک الموت ورته وويل چي ستا په اجازه سره به همداسي كيږي حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چي بيا جبرائيل عليه السلام راغی ويه ويل چي اسلام عليكم يارسول الله بيايه وفرمايل چي دا اخري پيغامونه وتو چي ومځكي ته وليږل سول دهمدي څخه وروسته دهميش دپاره دوحي سلسله قطعه سوه تردي وروسته به زماوهيچاته ضرورت نه وي له دي څخه وروسته به زه پرخپل ځاى باندي يم بل طرف ته به نه ځم بي بي عائشه رضي الله عنها فرمائي چي د همدي څخه وروسته زه وسيدالبشر ﷺ ته ولاړم سيدالبشر ﷺ خپل سر مبارک زما په سينه باندي كښيښو وى سريه ټينګ كړ داسي دبيهوښۍ غوندي حالت ورباندي راغی دتندي مبارک څخه يه خولي وبهيدلي داسي حالت وو چي ماهيڅ وخت هم دانسان پرتندي باندي داسي خوله نه ده ليدلی دهغي خولې څخه زياته خوشبويي تله كله چي هغه پرهوښ باندي راغی ماورته وويل چي زمامور اوپلار دي ترتا قربان سي ستادتندي مبارک څخه داخوله ولي روانه ده ؟ ده مبارک راته وفرمايل اى عائشي رضي الله عنها دمومن نفس په خوله كي وزي اودكافرروح دهغه د دواړو زامو څخه وزي لكه دخره دروح په رقم بيا موږ وبيريدلو اوخپلوانو ته مو حالونه وليږل هغه ترټولو چي مخته زموږ كره راغی هغه زماورور عبدالرحمن وو خوسيدالانبياء محمد ﷺ يه ژوندى نه وليدى يعني خلک لانه وورارسيدلي چي سيدالبشر ﷺ خپل روح مبارک وملک الموت ته حواله كړ الله ﷻ خلک ځكه منعه كړل چي په دي وخت كي جبرائيل عليه السلام اوميكائيل عليه السلام د محمد ﷺ سره وو اوسيدالانبياء ته يه اختيار وركاوى كله چي به سيدالانبياء ﷺ پرهوښ باندي راغی لمونځ لمونځ يه ياداوى اودابه يه فرمايل چي

تاسو به همیشه یو دهغه بل معاوین پاته کیږئ ګواکي محمد ﷺ چي د دنیا څخه رحلت کاوی همداوصیت یه وکړ چي لمونځ به نه پرېږدی دبي بي عائشه رضي الله عنها وینادہ چي سیدالبشر ﷺ د دو شنبي په ورځ باندي دغرمي پرهغه درمیانه وخت باندي وفات سودبي بي فاطمي رضي الله عنها قول دی چي د دوشنبي په ورځ باندي زه تنهاپه غم کي نه وم بلکه ټول امت دخپل حبیب دفراق په غم کي ډوب وو بي بي عائشه رضي الله عنها فرمایي کله چي سیدالبشر ﷺ د همدي فاني دنیا څخه رخصت سو زیات خلګ راغلل اولوړ لوړ اوازونه یه پورته کړل ملائکه ووسیدالبشر ﷺ په دوو ټوټو کي راونغښتی په دي وخت کي خلګو اختلاف وکړ چابه داسي ویل چي سیدالبشر ﷺ نه ده وفات سوی اوبعضي خلګ داسي ګونګ پاته ووو د یروخت وروسته به یه خبري وکړي بعضي ګډوډ سول اوبعضو عقلونه دلاسه ورکړل حضرت عمر رضي الله عنه دهغه خلګو دجملي څخه وو چي دسیدالبشر ﷺ دوفات څخه به یه انکار کاوی اوحضرت علي رضي الله عنه دهغو خلګو دجملي څخه وو چي هغه به چپ ناست وو اوحضرت عثمان رضي الله عنه دهغو خلګو دجملي څخه وو چي ګونګ پاته سوی ووپه مسلمانانو کي دهیڅا حالت هم داسي نه وو لکه ابوبکرصدیق رضي الله عنه اوحضرت عباس رضي الله عنه هغوی ته الله ﷻ قوت ورکړی وو اودخبروکولو قوة یه هم ورکړی وو خلګ دحضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه دخبرو څخه زیات په وهم کي وو ترداسي وخته چي حضرت عباس رضي الله عنه ورته راغی او ویه فرمایل چي قسم دی په هغه ذات باندي چي دهغه څخه بغیر بل معبود نسته بیشکه محمد ﷺ دمرګ خوند ذائقه نوش کړه له دار دفنا څخه یه ودار دبقاته انتقال وکړ هغه مبارک په خپل ژوند کي تاسوته فرمایلی وو چي ﴿إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ﴾ اية نمبر(۳۰) ﴿ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِندَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ﴾ اية نمبر(۳۱) سورة الزمر بیشکه ته هم مرکیدونکی یي او بیشکه دوی هم مرکیدونکي دي بیابه بیشکه تاسودقیامت په ورځ باندي دخپل رب ﷻ په حضورکي جنګ کوی ابوبکرصدیق رضي الله عنه ته چي کله دمحمد ﷺ دهغه مبارک وفات خبرراورسیدی په دي وخت کي دی مبارک دبنو حارث بن الخزرج کره وو دی مبارک راغی دسیدالانبیاء محمد ﷺ وطرف ته ودریدی د ده مبارک پرطرف باندي یه وکتل ورکښته سو رسول الله ﷺ مبارک یه پرهغه مبارک مخ باندي مچ کړ اوداسي یه وویل چي یارسول الله زما مور اوپلار دي ترتا قربان سي الله ﷻ وتاته دوه واره دمرګ خوند نوشول نه درکوي په الله ﷻ باندي قسم چي دالله ﷻ رسول مبارک رحلت له دي دنیا څخه وکړ بیا دی دخلګو وطرف ته راغی داسي یه ورته وویل چي ای خلګو کوم چاچي دمحمد ﷺ عبادت کاوی بیشکه محمد ﷺ رحلت وکړ وفات سو اوچاچي دالله ﷻ عبادت کاوي هغه حي لایموت

ده دایوالهي فرمان دی چې ﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ﴾ ژباړه: نه دی محمد ﷺ بلکه رسول دی په تحقیق سره ترده مخته زیات رسولان تیرسوي دي نوکه هغه وفات سي یاقتل کړل سي ایاتاسوبیرته ګرزی په خپلو پوندو باندي ګواکي خلګو ترهغي ورځي همدا ایة کریمه نه وو اوریدلی په یوه روایت کي راځي چي کله ابوبکرصدیق رضی الله عنه خبرسو هغه دمحمد ﷺ وکورته راغی پرسید الانبیاء محمد ﷺ باندي یه درود ووایو ده ابوبکرصدیق رضی الله عنه دسترګوڅخه اوبنکي رواني وي داسي فریاد اوژرایه کوله لکه یود ک منګی چي څوک خالي کوي لیکن دهمدي باوجود یه دصبر او ارام لمن پراخه کړي وه محمد ﷺ ته کښته سو دهغه مبارک دمخ څخه یه کفن پورته کړ پرتندي اومخ باندي یه مچ کړ دهغه مبارک پرمخ باندي یه لاس وګرزاوو اژرایه شروع کړه ابوبکرصدیق رضی الله عنه وویل چي زمامور اوپلار دي ترتاقربان سي تادژوند اومرګ په دواړو حالتونو کي پاک اوطاهریاست ستاپه تللو رحلت کولو کي یعنی په هغه سره وحي اودهغي سلسله بنده سوه چي داسلسله دنورو انبیاؤعلیهم السلام په وفات باندي نه وه ختمه سوي تاسو دهروصف څخه بالااودژړا فریادڅخه پاک یاست تاسو دتسلی سبب واست ستاوجود اوکرم دټولو دپاره عام دی که ستاکوچ اورحلت ستاپه خپل ایثارسره نه وای نوبه موږ مړه سوي وای اوکه چیري زموږ په ژړا باندي څه کیدلای موږ به دخپلو سترګواوبنکي وچي کړي وای په هرحال چي کوم شی موږ دخپل زړه څخه نه سوای لیري کولای هغه ستایاد اوستا غم دی ای الله ﷻ زموږ داپیغام خپل حبیب ته ورسوه ای محمد ﷺ ته خپل رب ﷻ زموږ شفاعت وکړه په خپل زړه مبارک کي زموږ خیال وساته که تا دسکون اسباب نه وای برابر کړي نوبه دوحشت او واهمي دکبله موږ یوهم دخپل ځای څخه نه وای ولاړسوي ای الله ﷻ ته خپل نبي ﷺ ته زموږ داجذبات ورسوه اودهغه فضل اوکرم زموږ سره شامل کړه الله ﷻ په خپل ذات کي زیات رحمن اورحیم دی زموږ اعمال چي دسیدالبشر ﷺ داقوالواوافعالوسره موافق وي الله ﷻ زیات غیرتمن اوقدردان ذات دی زموږ خطایاني اوتقصیرات راته معافوي موږته به الله ﷻ هغه شرف رانصیب کړي چي هغه په نبوي دربارکي دایمان سره د دخول سبب وي ځکه الله ﷻ اودهغه دربار دبندګانو دپاره هغه بهترین اوترهرڅه بنه دسوال محل اوهم دقبلیدلو دربارده .

والموض امورنا الی الله ان الله مع الصابرین

تمت بالخیر

## دمکاشفة القلوب دمضامینو فهرست


دکاتب لیکنه........................................(۳)
دامام غزالي رحمه الله لنډه پیژندنه........................(۴)
دامام غزالي رحمه الله تصنیفونه........................(۵)
باب اول دخوف یعني (واهمې) بیان........................(-)
باب دویم دالله جل جلاله څخه دیرې بیان........................(۷)
له الله جل جلاله څخه دحضرت عمر رضي الله عنه ویره........................(۹)
دریم باب دصبر اومرض بیان........................(۱۱)
څلورم باب ریاضت اونفساني خواهشات........................(۱۴)
دژوند په آخري شیبو کي صبر........................(۱۵)
باب پنځم دنفس غلبه اودشیطان دښمني........................(۱۷)
شپږم باب دغفلت بیان........................(۲۰)
ترټولو غمو لوي غم........................(=)
دالله جل جلاله عبادت اوکه دمخلوق عبادت........................(۲۲)
اووم باب فسق، نفاق، اودالله جل جلاله هیرول........................(۲۳)
اتم باب دتوبه بیان........................(۲۶)
دعتبه رضي الله عنه یوه عجیبه واقعه........................(۲۸)
نهم باب دمحبت په بیان کي........................(۲۹)
دسید البشر صلی الله علیه وسلم اعراض دهغه نه درود ویونکي څخه........................(۳۰)
(۱۰) باب دعشق او دمحبت په باره کي........................(۳۲)
دیو بخیل منافق قصه........................(۳۶)
(۱۱)باب دالله جل جلاله اطاعت، دالله جل جلاله محبت، اودهغه درسول صلی الله علیه وسلم سره محبت. (۳۷)
دالله جل جلاله یو لیوني عاشق........................(۳۸)
حضرت موسي علیه السلام ته دهغه ددوست فرمائش........................(۴۲)
دوولسم باب شیطان اودهغه عذاب........................(=)
شیطان اودده په اسمانو کي نوم........................(۴۴)
دادم علیه السلام پراولادباندي دشیطان لعین غلبه........................(۴۵)
(۱۳) باب دامانت په بحث کي........................(۴۶)
دقرض څخه بغیر دشهید هره گناه بخښل کیږي........................(۴۹)
(۱۴) باب په لمانځه کي خضوع او خشوع........................(۵۰)

دحضرت حاتم اصم رحمه الله لمونځ........................(۵۱)
په غلو کي هغه لوی غل وي چې نه ........................(۵۲)
پنځلسم باب امربالمعروف اونهي عن المنکر ........................(۵۳)
پرمځکه باندي ترشهیدانو لوړي مرتبې والامجاهدین........................(۵۵)
شپاړسم باب دشیطان عداوت........................(۵۷)
دشیطان دوسوسې انجام........................(-)
له امام شافعي رحمه الله سره دشیطان خبري........................(۵۸)
دانسان زړه یوه قلاده........................(-)
شیطان دنوح علیه السلام په کښتۍ کي........................(-)
حضرت صفوان بن سلیم رضي الله عنه ته دشیطان ملعون نصیحت........................(۵۹)
په دارالندوة کي قریشوته دشیطان مشوره........................(۶۱)
اوولسم باب امانت اوتوبه........................(۶۶)
دامانت په باره کي دنبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشادات........................(-)
دتوبې په باره کي نبوي ارشادات........................(۶۷)
دتوبې دروازه هیڅکله هم نه بندیږي........................(۶۸)
دتوبې په باره کي دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد........................(۶۹)
اتلسم باب درحم فضیلت........................(۷۲)
درحم په باره کي دنبي صلی الله علیه وسلم ارشادات........................(۷۳)
نولسم باب په لمانځه کي خضوع اوخشوع........................(۷۵)
دقیامت په ورځ دلمانځه پوښتنه........................(-)
په غلو کي لوی غل دلمانځه غل ده........................(-)
شلم باب دغیبت بیان........................(۷۸)
دغیبت بدبوې اوس ولي نه محسوسیږي؟........................(۸۰)
یوویشتم باب دزکات بیان........................(۸۱)
دوه ویشتم باب د «زنا» بیان........................(۸۳)
بنایسته هلک لویه فتنه ده........................(۸۴)
دلوط علیه السلام دقوم دیوه تاجر قصه........................(۸۵)
درویشتم باب دمور اوپلار حقوق اووصله رحمي........................(-)
دصله رحمي په باره کي څومبارک احادیث........................(۸۹)
څلورویشتم باب له مور، اوپلار، سره ښه سلوک........................(۹۱)

دري څوانان او نیک اعمال یې........................(۹۴)
پنځه ویشتم باب د زکات او بخل بیان........................(۹۵)
محمد ﷺ د پنځو خبرو څخه په الله ﷻ سره پناه غوښتې ده........................(-)
شپږ ویشتم باب او رد امید........................(۹۸)
د اصحابو کرامو ﷺ ارشادات........................(۹۹)
د حضرت عیسی ﷺ واقعه........................(۹۹)
اووه ویشتم باب عبادت، او د حرامو پرېښودل........................(۱۰۰)
د حضرت عبد الله بن مبارک ﷫ نصایح........................(۱۰۳)
سلیمان ﷺ ته د داؤد ﷺ نصیحتونه........................(۱۰۴)
اته ویشتم باب د مرګ یادول........................(۱۰۵)
د مرګ په یادولو سره د عیسی ﷺ حالت........................(۱۰۶)
نه ویشتم باب د آسمانونو ذکر او نور بحثونه........................(۱۰۹)
د آسمانونو مونه او رنګونه........................(۱۱۰)
اووه ستوري او د هر یوو ستوري آسمان........................(-)
دیرشم باب عرش، کرسي، مقربي ملائکي، رزق او توکل........................(۱۱۱)
د الله ﷻ د عرش ساخت........................(-)
د توکل حقیقت........................(۱۱۲)
حقیقي توکل څشي ده........................(-)
لاحول ولا قوة الا بالله یو قوت ده........................(۱۱۳)
یو دیرشم باب د دنیا پرې ښوول او د هغې بدی........................(-)
د دنیا د مذهب په اړه څو احادیث........................(۱۱۴)
د دنیا یو تمثیل........................(-)
د حضرت ادم ﷺ حیراني او سرګرداني........................(۱۱۶)
وانصارو ته د محمد ﷺ خطاب........................(۱۱۸)
بې قبره او بې کفنه لاشونه........................(-)
مسلمانانو ته د ابو الدرداء ﷺ خطاب........................(۱۱۹)
د عیسی ﷺ یو ناصحانه ارشاد........................(۱۲۰)
له دنیا سره مینه لویه ګناه ده........................(-)
دنیا ژور سمندر دی........................(۱۲۱)
کودري څنګه ترسرو زرو بنه کیدای سي........................(۱۲۲)

دنیاپه کم صورت کي مقابله کوي................................(۱۲۴)
ددنیا غم زیاتیږي خود آخرت غم کمیږي..............................(-)
له دنیاسره مینه کوونکي آخرت ته هیڅ ګټه نه ورکوي.......................(۱۲۶)
ددنیا پرېښوول او طلب.............................................(۱۲۷)
خپل وروړته دامام شافعي رحمه الله نصیحتونه..............................(-)
دودیرشم باب ددنیا دمذمت بیان.......................................(۱۲۸)
یوباچاته دیوزاهد وصیت.............................................(۱۲۹)
دحضرت حسن بصري رحمه الله ارشادات...................................(-)
ددنیاپه بدوالي کي یوبل حدیث شریف..................................(۱۳۰)
دحضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله خطبه.................................(۱۳۲)
درودیرشم باب دقناعت دفضیلت بیان....................................(-)
دانسان ګیډه یوازي دقبر خاوري دکولاي سي...............................(۱۳۳)
ددنیادیر طلب مه کوه................................................(-)
بهترین دولت.......................................................(۱۳۴)
دحضرت عمر رضي الله عنه ارشاد......................................(۱۳۶)
دحرص بدوالی......................................................(۱۳۷)
علم انسان له حرص اوله ګدایي څخه ساتي...............................(-)
څلوردیرشم باب دفقراوو دفضیلت بیان...................................(-)
الله جل جلاله دخپل محبوب بنده له زړه څخه ددنیا محبت باسي..............(۱۳۸)
دیندار ښکارنه سو خودنیادار ښه ښکارسو..................................(-)
ددنیا دنامراده بنده په قیامت کي عزت او احترام...........................(۱۴۰)
له فقراؤ سره دولت دی...............................................(-)
دجنت بادشاه........................................................(۱۴۱)
دحضرت فاطمي غربت.................................................(-)
دپیسوپرجمع کوونکي څلورمصیبتونه نازلیږي...............................(۱۴۲)
دحضرت سعید بن عمر رضي الله عنه ژړا او فریاد...........................(-)
حضرت سفیان ثوري رحمه الله له فقیرانو سره ډیره مینه درلوده................(-)
حضرت عائشي رضي الله عنها ته دمحمد صلی الله علیه وسلم وصیت.............(۱۴۳)

قناعت او الهي رضا ..................... (۱۴۴)
غنا څشی ده؟ ..................... (-)
پنځه دیرشم باب دالله ﷻ بغیر بل څوک خپل دوست نیول او دقیامت ورځ ... (۱۴۵)
دالله ﷻ بغیر بل څوک ولي ګرځول ..................... (۱۴۶)
شپږ دیرشم باب نفخ، صور، اجساد، حشر، او بعث بعد الموت ..................... (۱۴۷)
دقیامت په باره کي دمحمد ﷺ ارشادات ..................... (۱۴۸)
دقیامت دورځي حالتونه ..................... (۱۴۹)
دحشر میدان ..................... (-)
اووه دیرشم باب دمخلوق فیصلي ..................... (۱۵۰)
دمعافی انعام ..................... (۱۵۲)
اته دیرشم باب دمال او سامان بدوالي ..................... (-)
دالله ﷻ په لاره کي صدقه سوی مال پاته کیږي ..................... (۱۵۳)
ګنهکار دولت مند پرپل صراط نسي تیریدلای ..................... (۱۵۴)
دحضرت عمربن عبد العزیز رحمه الله دمرګ وخت ..................... (۱۵۵)
نه دیرشم باب داعمالو میزان او دجهنم اور ..................... (-)
دآخرت په یاد کي دحضرت عائشي رضي الله عنها ژړا ..................... (۱۵۶)
اصحابو رضي الله عنهم دقیامت له ییري څخه خدای پري اینبي وه ..................... (-)
دجهنم څو عذابونه ..................... (۱۵۷)
دریاکار عذابونه ..................... (۱۵۸)
دجنت درجې ..................... (-)
ددوږخ اور او دنیایي اور ..................... (۱۵۹)
ددوږخیان غذا ..................... (-)
دد[illegible] امیدونو ردېدل ..................... (۱۶۱)
[illegible] ربارکي دداؤد عليه السلام التجا ..................... (۱۶۳)
[illegible] ..................... (-)
[illegible] ..................... (۱۶۵)
[illegible] ..................... (۱۶۶)
[illegible] ..................... (۱۶۹)

دمحمد ﷺ شکر..........(۱۷۰)
دیوکانی ژړا او زاری..........(-)
دشکر دادا کولو طریقې..........(۱۷۱)
دبزرګانو دشکر اداء کولو طریقې..........(۱۷۲)
دوڅلویښتم باب دعجب او تکبر بدوالي..........(-)
ددرو کسانو لپاره دجهنم مخصوص عذاب..........(۱۷۳)
ډیر بدسړی..........(۱۷۴)
په ځواني باندي فخر مه کوئ..........(۱۷۶)
دروڅلویښتم باب دژوند په باره کي غور او فکر کول..........(۱۷۷)
دالله ﷻ په ذات کي دغور او فکر څخه مخالفت..........(۱۷۸)
خپلو حواریونو ته دعیسی علیه السلام جواب..........(۱۸۰)
څلورڅلویښتم باب دمرګ دسختي بیان..........(۱۸۲)
دمرګ دځینو تکلیفونو تفصیل..........(-)
دانبیاؤ مرګ ډیر اسان وي..........(۱۸۳)
دسرنه کوپړی سره دعیسی علیه السلام خبري..........(۱۸۴)
دمحافظو ملائکو لیدل..........(۱۸۵)
پنځه څلویښتم باب دقبر حالات او سوالونه..........(-)
اعمال هم له مړي څخه سوال کوي..........(۱۸۶)
دمسلمان دمرګ په وخت کي دملائکو راتلل..........(۱۸۷)
دکافر لپاره عذاب..........(۱۸۹)
شپږڅلویښتم باب علم الیقین، عین الیقین، او دقیامت دورځي سوالونه..... (۱۹۰)
دیقین په مرتبو کي فرق..........(-)
یخي اوبه هم نعمت دي..........(۱۹۱)
اووه څلویښتم باب دالله ﷻ دذکر فضیلت..........(۱۹۲)
الله ﷻ له ذکر څخه پرته بل نه عمل نشته..........(۱۹۳)
پرذکر کونکو دالله ﷻ رحمت..........(۱۹۵)
اته څلویښتم باب دلمانځه فضیلت..........(۱۹۶)
دلمانځه په تاکید کي نبوي ارشادات..........(-)

دلمانځه په هکله ددین دبزرګانو ارشادات.......................(۱۹۸)
نه څلویښتم باب دلمانځه پریښوونکي لپاره عذاب.......................(-)
دصحاح سته څخه څو احادیث.......................(-)
دقضائی لمانځه دپاره وعیدونه.......................(۲۰۲)
دمؤمن سرې لمونځ.......................(۲۰۴)
په لمانځه کې سستي کوونکو باندې مصائب.......................(۲۰۶)
قصدًا لمونځ پریښوونکي ترزناکارهم بدده.......................(۲۰۷)
پنځوستم باب دجهنم طبقې اوعذاب يې.......................(-)
دجهنم اور.......................(۲۰۸)
یوپنځوستم باب دجهنم عذاب.......................(۲۰۹)
دجب الحزن عذاب.......................(۲۱۰)
دجهنم بدبویه اوبه.......................(۲۱۲)
دوپنځوستم باب له ګناهونو څخه دیریدو فضیلت:.......................(۲۱۴)
عمر ﷺ اوله الله ﷻ څخه یې یره.......................(۲۱۵)
دجهنم له عذاب څخه محفوظې دوې سترګې.......................(۲۱۶)
دالله ﷻ له یرې څخه ژړاکونکې سړي له دوږخ څخه ازادده.......................(-)
سماک خپل نفس ملامت کړ.......................(-)
دروپنځوستم باب دتوبې فضیلت.......................(۲۱۸)
یوه خطا اومعافي.......................(۲۱۹)
حضرت معاذ ﷺ ته درسول ﷺ نصیحتونه.......................(۲۲۰)
دتوبه کونکي سړي ګناه دهرځای څخه محوه کیږي.......................(-)
دیوې زناکارې ښځې توبه.......................(۲۲۱)
قاتل دتوبې په اراده سره نجات پیداکړ.......................(۲۲۲)
څلورپنځوستم باب دظلم دممانعت بیان.......................(۲۲۴)
په یوې بوډۍ ښځې دظلم په وجه هلاکت.......................(۲۲۵)
پنځه پنځوستم باب پرتیمانو دظلم ممانعت.......................(۲۲۷)
په ناحقه دیتیمانو مال خوړل اودهغه بدله.......................(۲۲۸)
شپږپنځوستم باب دکبر مذمت.......................(۲۲۹)

داصحابو ﷺ ارشادات......................(۲۳۲)
اووه پنځوستم باب دخاکساري، اودصبر بیان......................(-)
دصبر فضیلتونه......................(۲۲۴)
اته پنځوستم باب ددنیا فریب......................(۲۳۵)
نه پنځوستم باب ددنیا بدي اوبیره......................(۲۳۸)
یوه عبرتناکه قصه......................(۲۳۹)
شپیتم باب دصدقي فضیلت......................(۲۴۳)
یوشپیتم باب دمسلمان حاجت پوره کول......................(۲۴۵)
دوشپیتم باب داوداسه فضیلتونه......................(۲۴۷)
دري شپیتم باب دلمانځه فضیلت......................(۲۴۹)
څلور شپیتم باب دقیامت افتونه......................(۲۵۳)
داسرافیل دصور حقیقت......................(-)
پنځه شپیتم باب جهنم اومیزان......................(۲۵۵)
شپږشپیتم باب کبر اوخودبیني......................(۲۵۷)
اووه شپیتم باب له یتیم سره بنه کول اوپرهغه له ظلم څخه ځان ساتل......................(۲۵۹)
اته شپیتم باب دحرام مال دخوړلو بدي......................(۲۶۲)
نه شپیتم باب دسود خوري ممانعت......................(۲۶۵)
دزنا اوسود عام کیدل الهي عذاب ته دعوت ورکوي......................(۲۶۶)
اویایم باب حقوق العباد......................(۲۶۸)
یواویایم باب دنفساني خواهشاتو بدي اودزهد صفت......................(۲۷۱)
دواویایم باب جنت اودجنتیانو مرتبې......................(۲۷۵)
دري اویایم باب صبر، رضا، اوقناعت......................(۲۷۸)
څلور اویایم باب دتوکل فضیلت......................(۲۸۲)
پنځه اویایم باب دمسجد فضیلت......................(۲۸۴)
شپږ اویایم باب داصحاب کرامو ﷺ دریاضت فضیلت......................(۲۸۵)
اووه اویایم باب دایمان تعریف اودمنافقت بدي......................(۲۸۹)
اته اویایم باب دغیبت، اوچغلخوري بدي......................(۲۹۲)
چغلخوري......................(۲۹۴)

نه اویایم باب دشیطان عداوت........................(۲۹۶)
اتیایم باب محبت او دنفس محاسبه........................(۲۹۸)
یو اتیایم باب دحق او باطل گډول........................(۳۰۱)
دو اتیایم باب دجماعت دلمانځه فضیلت........................(۳۰۳)
دجمعي سره دغلو ینتو لمنځو فضیلت........................(۳۰۴)
دري اتیایم باب دتهجد دلمانځه فضیلت........................(۳۰۵)
۸۴ باب عذاب دبدو علماؤ........................(۳۰۸)
دبی عمله عالم انجام او اخر........................(۳۱۰)
۸۵: باب دینو او خوندورو اخلاقو په فضیلت کي........................(۳۱۱)
۸۶: باب دمفسرینو اقوال په خندا، ژړا، زاری کي........................(۳۱۳)
لباس جامه........................(۳۱۵)
۸۷- باب په بیان دقران کریم کي........................(۳۱۶)
علم، او د علماؤ فضیلتونه........................(-)
(۸۸) باب دزکوة او د لمانځه فضائل........................(۳۱۷)
دصدقي لائق کسان څوک دي؟........................(۳۱۸)
(۸۹) باب دمور او پلار دحقوقو بیان........................(۳۲۰)
(۹۰) باب دګاوندیتوب او اسلامي ورور والی بیان........................(۳۲۴)
نیک فالي او بد فالي........................(۳۲۵)
(۹۱) باب دشراب خواره عذابونه........................(۳۲۷)
دشراب خواره سره شریکان........................(۳۲۹)
هاروت او ماروت او دهغوی حکایت........................(۳۳۰)
(۹۲) باب دمعراج شریف بیان........................(۳۳۱)
صدرة المنتهی........................(۳۳۳)
(۹۳) باب دجمعي دورځي بیان او دهغي فضیلت........................(۳۳۴)
(۹۴) باب پر خاوند باندي دښځي حقوق او دهغوی بیان........................(۳۳۶)
(۹۵) باب پر ښځه باندي دخاوند حقوق........................(۳۴۰)
باید دسري اطاعت وکړي........................(-)
دسید البشر په قول دخاوند مرتبه........................(۳۴۲)

(۹۶) باب د جها د فضائلو بیان............ (۳۴۴)
(۹۷) باب د شیطان د دوکي بیان..... ........... (۳۴۶)
(۹۸) باب د سرود او غنا سماع جواز نلري..... ........ (۳۵۰)
وُس د سرود او غنا د سماع دلائل....... ........ (۳۵۱)
(۹۹) باب د خواهشاتو او دبدعاتو بیان.............. ..... (۳۵۳)
دلهو او لعب دالاتو بدوالي........................ (۳۵۵)
(۱۰۰) باب د رجب المرجب دمیاشتي د فضایلو بیان....... ......... (۳۵۶)
څلورشیان.......... ......................... (۳۵۷)
(۱۰۱) د شعبان المعظم دمیاشتي فضیلتونه.. ............. (۳۵۸)
د سید البشر محمد ﷺ عادات او خویونه.................... (-)
(۱۰۲) باب د روژي د مبارکي میاشتي فضیلتونه............ .... (۳۶۱)
روژه او دهغي فرضیت.................... .......... (-)
(۱۰۳) باب د لیلة القدر فضیلتونه.......................... (۳۶۳)
(۱۰۴) باب د عید الفطر د فضائلو بیان................ ...... (۳۶۵)
(۱۰۵) باب د ذي الحجي دلسم د فضیلتونو بیان.............. ...... (۳۶۷)
ترټولو سیقت او هغه وړاندي کونکي.............................. (۳۶۹)
(۱۰۶) د عاشورا د ورځي د فضیلت بیان.................. ........ (-)
د شیعه ګانو ماتم او ځان وهل......... ................. (۳۷۱)
(۱۰۷) په دي باب کي بیان د فقر او د میلمستیا او دهغوی فضائل دي.. ..... (۳۷۲)
(۱۰۸) باب په بیان د جنازي او د قبر کي دی........... .......... (۳۷۵)
(۱۰۹) باب د جهنم د عذاب څخه وهم............................ (۳۷۸)
(۱۱۰) باب د میزان او پل صراط په بیان کي........................ (۳۸۱)
پل صراط او ورسره نژدي سید البشر ﷺ........... ......... (-)
د پل صراط د اینبودلو ځای................ ........ (-)
(۱۱۱) باب د سید البشر محمد ﷺ د وصال مبارک بیان............... (۳۸۳)
انصار او دهغوی غونډه.......... ...................... (۳۸۴)

د فهرست پای







مکتبه سلطانیه الهاشمیه
روډ. کوئټه 0321-8031735